د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

## د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه

مولوی سلطان عزیز عزیز عفی الله عنه

ناشر

دار الکنوز العلمیة

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱۴۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نیته د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱۴۲۶/۴/۱۲ هـ ق = ۱۳۸۴/۱/۳۱ هـ ش نیټه پای ته ورسیده.
- په ۱۴۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸۶/۱۰/۲۰ هـ ش نیته یې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه وربانديې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تيرې شوي، البته په دې حساب کې هره میاشت د دېرشو ورځو په لحاظ نیول شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني. تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ. ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.


## څلورم چاپ

## ۱۴۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش



## د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي



د اړیکو پتې:

۱) بریښنالیک: azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۶۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)



د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲۵۶۰۵۳۸)


Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner

# الأحزاب (۳۳)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ دا سورت د "الأحزاب" په نوم نومولی شوی دی چې همدغه کلمه د دې سورت په [۲۲] ایت کښې نازله شوې ده.
شاید چې دغه نوم په ورباندې د دې دپاره ایښودلی شوی وي، ترڅو د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان د الله ﷻ هغه بارز نصرت په اذهانو کښې وساتي او د همېشه دپاره ورته أمید وکړي، کوم چې په "الأحزاب" نومې غزا کښې د غازیانو په برخه شوی وه.
د دغې غزا ځینې مهم ټکي په دې سورت کښې نازل شوي دي، په دې غزا کښې مختلفو کفري ډلو سره لاس یو کړی وه، ترڅو د مؤمنانو بنیاد وباسي او د همېشه دپاره یې په دنیا کښې ختم کړي، خو الله ﷻ د پرښتو او باد په سبب د دغو ډلو مجموعه ناکامه کړه او د خجالت سره بېرته ستنه شوه، لکه چې تفصیل یې ـإن شاء الله ﷻـ راروان دی.
۲ـ دا سورت د مفسرینو کرامو په اجماع سره مدني سورت دی[۱] چې د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی.
۳ـ د دې سورت د ایتونو مجموعه درې اویا (۷۳) ایتونو ته رسېږي[۲].
۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر یو زر دوه سوه اتیا (۱۲۸۰) کلمو ته رسېږي، او د حرفونو شمېره یې پنځه زره اوه سوه نوي (۵۷۹۰) حرفونو ته پورته شوې ده[۳].
۵ـ د دې سورت عمده احکام په اعمالو پورې ارتباط لري لکه چې په مدني سورتونو کښې عمومًا همدا خاصیت دی چې د عملي احکامو بیان پکښې د عقیدوي احکامو د بیان څخه زیات وي.
۶ـ نو په همدې بنیاد د دې سورت (الأحزاب) مناسبت د وړاندېني سورت (السَّجْدَة) سره هم پوره واضحه شو، چې هغه مکي سورت وه او په عقایدو پورې یې زیات تماس نیولی وه او دا مدني سورت دی په اعمالو پورې زیات تماس نیسي، او دین خو د همدغو دوه وو برخو څخه تشکیل شوی دی، چې هلته یې یوه برخه مطرحه شوې ده او دلته یې بله برخه مطرحه کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا
(۱) وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا (۲) وَتَوَكَّلْ
عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا (۳) مَّا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ ۚ وَمَا جَعَلَ

(۱) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۴۵
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۵۰۵
(۳) تفسیر الخازن ج۵ ص۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَزْوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔى تُظَٰهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ أَبْنَآءَكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم
بِأَفْوَٰهِكُمْ ۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِى ٱلسَّبِيلَ ﴿٤﴾ ٱدْعُوهُمْ لِءَابَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ
ٱللَّهِ ۚ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ
فِيمَآ أَخْطَأْتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱] ای پیغمبره! د الله ﷻ څخه وډار شه (خپل ډار ته ادامه ورکړه)، او د کفارو او منافقانو اطاعت مه کوه (عدم اطاعت ته یې ادامه ورکړه).

یقینًا الله ﷻ پوه (او) د حکمت والا دی.

[۲] او (ای پیغمبره!) د هغه شي پیروي وکړه کوم چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه وحې کېږي، یقینًا الله ﷻ په هغو (اعمالو) باندې خبردار دی کوم چې تاسو یې (روزمره) عملي کوئ.

[۳] او (هم) په الله ﷻ توکل (او اعتماد) وکړه، او الله ﷻ د کارسازوونکي په حیث بس (او کافي) دی.

[۴] الله ﷻ د (یوه) سړي دپاره په (یوه) ګېډه (بدن) کښې دوه زړونه نه دي ګرځولي (پیدا کړي)، او (همدارنګه) الله ﷻ ستاسو هغه ماندینې ستاسو مورګانې نه دي ګرځولي د کومو څخه چې تاسو ظهار کوئ (او د خپلو مورګانو سره تشبیه ورکوئ)، او (هم) الله ﷻ (د زامنو په نامه سره) ستاسو بللي شوي (پردي زامن) ستاسو زامن نه دي ګرځولي (چې ستاسو د اصلي زامنو غوندې حیثیت ولري).

دغه (مذکورې درېواړه جملې فقط) ستاسو په خولو سره ستاسو خبرې دي (واقعیت ته تغیر نه شي ورکولی). او الله ﷻ حقه (رښتیا) خبره کوي، او همدی ﷻ (سمې) لارې ته لارښودانه کوي (نو نه څوک دوه زړونه لري، او نه په ظهار سره ماندینې مورګانې ګرځي او بالآخره نه په زوی نیولو سره پردی سړی زوی جوړېدلی شي).

[۵] (ای مؤمنانو!) تاسو هغوی (زامن بللی شوي کسان) خپلو پلرونو ته وروبلئ (همدوی ته یې منسوب کړئ)، دا (خپلو پلرونو ته وربلل) د الله ﷻ په نزد ښه انصافي خبره ده. نو که تاسو یې په پلرونو باندې علم نه لرئ (چې څوک-څوک دي) نو (هغوی خو) په دین کښې ستاسو ورونه او ستاسو محبوبان (دوستان) دي (نو د ورونو او دوستانو په نامه یې وبلئ).

او په تاسو باندې په هغو (غلطو) بللو کښې ګناه نشته چې تاسو پکښې خطأ (او سهوه) شئ (چې یا مو معلومات غلط وي او یا مو ژبه غلطه وچلېږي)، مګر په هغو (غلطو) بللو کښې (په تاسو باندې ګناه شته) چې ستاسو زړونو ورته قصد کړی وي (او په قصدي توګه یې په غلطې بلنې سره وبلئ)، او یقینًا الله ﷻ ښښونکی (او) مهربان دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او شان نزول

د وړاندېنۍ سورت په وروستني ایت کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې وه چې د کفارو د ناندریو څخه مخ واړوه او خپل نصرت ته منتظر اوسه. د دې سورت په ړومبیو ایتونو کښې په ذکره شوې توصیه باندې رڼا اچولې شوې ده، او څه وضاحت ورکړې شوی دی.

اما د شان نزول په باب یې مفسرینو کرامو متعدد روایات لیکلي دي(۱)، خو مونږ یوازې د یوه روایت په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

د احد د غزا څخه وروسته د مکې معظمې یوه مشرکه جرګه د ابو سفیان په مشرۍ د امان په اخستلو سره مدینې منورې ته تللې وه او هلته په عبد الله بن أُبي (رئیس المنافقین) باندې مېلمنه شوې وه. د جرګې موخه دا وه چې د نبي کریم ﷺ سره خپل مشکل د خبرو د لارې حل او فصل کړي.

جرګه د ځینو منافقانو په شمول د نبي کریم ﷺ حضور ته ورغله او یو وړاندیز یې وکړ چې مضمون یې دا دی:

الف: ته زمونږ د معبودانو بده مه وایه! او په دې اعتراف وکړه چې دوی شفاعت کولی شي او هم خپلو عابدینو ته ګټه رسولی شي.

ب: نو په مقابل کښې به مونږ تاسو پرېږدو چې یوازې د خپل رب ﷻ عبادت وکړئ، او شریک ورسره پکښې ونه دروئ.

ج: په اصطلاح ته به خپل کار کوې او مونږ به خپل کار کوو، ته پوهېږې او کار دې او مونږ پوهېږو او کار مو، یو به د بل په کړنلاره کښې مداخله نه کوو.

دغه وړاندیز سمدستي منافقانو تائید کړ، چې دا ډېره ښه او متوسطه د حل لاره ده. په تائید باندې علاوه منافقانو او یهودو وویلې چې که نبي کریم ﷺ دا وړاندیز ونه مني نو مونږ به یې تُرور کړو او ژوندی به یې پرېنږدو.

په دغه وړاندیز باندې نبي کریم ﷺ او صحابه کرام ﷺ ډېر خپه شوه حتی عمر ﷺ د ذکر شوې مشرکې جرګې د وژلو اجازه وغوښتله، خو نبي کریم ﷺ د امان د کبله د وژلو اجازه ورنه کړه.

لنډه دا چې د دغه کفري وړاندیز په رد کښې ځینې ذکر شوي ایتونه نازل شوه(۲) چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ د وړاندینیو توصیو په تعقیب څه نورې توصیې هم واوره او په کلکه ورباندې خپل عمل ته ادامه ورکړه، هغه دا چې:

الف: ته خو یوازې د الله ﷻ څخه ډارېږې، نو همدغه حال ته ادامه ورکړه او په همدغه ډار باندې

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۱۷۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۱۴؛ الدر المنثور ج۶ ص۵۶۰

(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۳۶؛ روح المعاني ج۲۱ ص۱۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او شان نزول

د وړاندېنې سورت په وروستنۍ ایت کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې وه چې د کفارو د ناندریو څخه مخ واړوه او خپل نصرت ته منتظر اوسه. د دې سورت په ړومبیو ایتونو کښې په ذکره شوې توصیه باندې رڼا اچولې شوې ده، او څه وضاحت ورکړی شوی دی.

اما د شان نزول په باب یې مفسرینو کرامو متعدد روایات لیکلي دي[1]، خو مونږ یوازې د یوه روایت په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

د احد د غزا څخه وروسته د مکې معظمې یوه مشرکه جرګه د ابو سفیان په مشرۍ د امان په اخستلو سره مدینې منورې ته تللې وه او هلته په عبد الله بن أُبي (رئیس المنافقین) باندې مېلمنه شوې وه. د جرګې موخه دا وه چې د نبي کریم ﷺ سره خپل مشکل د خبرو د لارې حل او فصل کړي.

جرګه د ځینو منافقانو په شمول د نبي کریم ﷺ حضور ته ورغله او یو وړاندیز یې وکړ چې مضمون یې دا دی:

الف: ته زمونږ د معبودانو بده مه وایه! او په دې اعتراف وکړه چې دوی شفاعت کولی شي او هم خپلو عابدینو ته ګټه رسولی شي.

ب: نو په مقابل کښې به مونږ تاسو پرېږدو چې یوازې د خپل رب ﷻ عبادت وکړئ، او شریک ورسره پکښې ونه دروئ.

ج: په اصطلاح ته به خپل کار کوې او مونږ به خپل کار کوو، ته پوهېږې او کار دې او مونږ پوهېږو او کار مو، یو به د بل په کړنلاره کښې مداخله نه کوو.

دغه وړاندیز سمدستي منافقانو تائید کړ، چې دا ډېره ښه او متوسطه د حل لاره ده. په تائید باندې علاوه منافقانو او یهودو وویلې چې که نبي کریم ﷺ دا وړاندیز ونه مني نو مونږ به یې تُرور کړو او ژوندی به یې پرېنږدو.

په دغه وړاندیز باندې نبي کریم ﷺ او صحابه کرام ﷺ ډېر خپه شوه حتی عمر ﷺ د ذکر شوې مشرکې جرګې د وژلو اجازه وغوښتله، خو نبي کریم ﷺ د امان د کبله د وژلو اجازه ورنه کړه.

لنډه دا چې د دغه کفري وړاندیز په رد کښې ځینې ذکر شوي ایتونه نازل شوه[2] چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ د وړاندېنیو توصیو په تعقیب څه نورې توصیې هم واوره او په کلکه ورباندې خپل عمل ته ادامه ورکړه، هغه دا چې:

الف: ته خو یوازې د الله ﷻ څخه ډارېږې، نو همدغه حال ته ادامه ورکړه او په همدغه ډار باندې

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۱۷۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۱۴؛ الدر المنثور ج۶ ص۵۶۰

(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۳۶؛ روح المعاني ج۲۱ ص۱۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلک اوسه (د ده ﷻ څخه په غیر بل د هیچا څخه مه ډارېږه چې تا به ترور کړي شي).

ب. همدارنګه یوازې د الله ﷻ اطاعت ته ادامه ورکړه او هیڅکله د کفارو او منافقانو اطاعت مه کوه او وړاندیز یې مه قبلوه.

یقیناً الله ﷻ ستا په ثبات او استقامت او ټولو کیفیاتو باندې پوه دی، خو د دې سره‌سره د حکمت څښتن هم دی. که د حکمت غوښتنه نه وی نو الله ﷻ به سمدستي د باطلو وړاندیز کوونکي هلاک کړي وی.

ج. ته د هیچا پروا مه کوه، په پوره متانت او اطمنان سره د هغه حکم پیروي کوه کوم چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه وحي کېږي او درښودل کېږي. یقیناً الله ﷻ په هغو ټولو کارونو باندې خبردار دي کوم چې تاسو یاست چې کوئ یې، او په هغو رواجونو باندې هم خبردار دی کوم چې په تاسو کښې د جاهلیت د زماني څخه پاتې دي.

د: د کفارو او منافقانو غابښ چیچې او اخطارونه تاته هیڅ ضرر نه شي رسولی، ته فقط او فقط په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړه او دا څکه چې الله ﷻ د کارساز په حیث بس او کافي دی. د هر چا دپاره چې الله ﷻ وکیل او کارساز وي هغه ته څوک ضرر نه شي رسولی او نه یې څوک کارونه ورانولی شي.

۳ـ ای پیغمبره! ستا په نسبت د کفارو کفري وړاندیزونه او غوښتنې بالکل د محال شي غوښتنې دي، دا څکه چې الله ﷻ ستا په شمول هیچا ته په یوه بدن کښې دوه زړونه نه دي ورکړي، او کوم مبارک یو زړه یې چې تاته درکړی دی، هغه خو د الله ﷻ په اطاعت باندې ډک دی، په هغه کښې خو د بل چا د اطاعت دپاره ځای پاتې نه دی.

هو! که کفار ستا په هکله خیال وکړي چې ته د دوه وو زړونو خاوند یې نو دا محض د خولې خبره ده، واقعیت ته هیڅکله تغیر نه شي ورکولی.

نو لکه څنګه چې ته د کفارو په خوله د دوه وو زړونو درلودونکی نه شې جوړېدلی او حقیقت وړباندې نه شي بدلېدلی، همدارنګه په هیڅ ځای کښې محض په خبره حقایق تغیر نه خوري. د ښه وضاحت دپاره لاندې صورتونه قرائت کړئ:

الف: الله ﷻ ستاسو هغه ماندینې ستاسو مورګانې نه دي ګرځولي د کومو سره چې تاسو ظهار وکړئ او محض په خولو هغوی ته د خپلو میندو نسبت وکړئ، نو په دغه صورت کښې هغوی ستاسو میندې نه ګرځي او په تاسو باندې په ابدي توګه نه حرامېږي.

ب: همدارنګه الله ﷻ ستاسو دپاره هغه کسان زامن نه دي ګرځولي کومو ته چې تاسو د خپلو زامنو لقب ورکړئ او په زوی توب سره یې ونیسئ؛ او دا څکه چې:

په دغو دواړو صورتونو کښې تاسو صرف د خولې خبره کړې ده چې حقیقت ته تغیر نه شي ورکولی، نو نه مو هغه مورګانې جوړېږي او نه مو دغه زامن ګرځي.

په همدې بنیاد باطل معبودان هم شفیعان نه شي جوړېدلی که څه هم بالفرض المحال نبي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کریم ﷺ د مشرکانو وړاندېز منظور کړي او هغو ته د شفیعانو لقب ورکړي. او دا ځکه چې هغوی په واقع او حقیقت کښې د شفاعت کولو توان نه لري، او په خبرو حقایق نه بدلېږي.

۳_ ای بندګانو! یوازې الله ﷻ حقه وینا کوي او همدی ﷻ تاسو ته په هره موضوع کښې د حقې لارې ښودانه کوي، په دې مقام کښې حقه لاره دا ده چې:

الف: په لومړي صورت کښې فقط کفاره ورکړئ او د خپلې هغې دروغینې خبرې تلافي وکړئ کومه چې ستاسو د خولو څخه وتلې ده.

ب: او په دوهم صورت کښې لاندې ارشادات عملي کړئ:

اول: د زامنو په نامه بلل شوي کسان د بلونکو په نامه نه بلکې د خپلو پلرونو په نامه دروبلئ چې: ای د فلانکي زویه!، همدغه ډول بلل د الله ﷻ په نزد انصافي خبره ده او د واقعیت سره برابره ده.

دوهم: که تاسو د هغوی پلرونه نه پېژانده چې څوک دي او څه نومونه لري، نو هغوی د "یَا أَخُونَا، یَا مَوْلَانَا، یَا مَوْلَی فُلَان" په کلماتو سره وبلئ چې: "ای زمونږ وروره!، ای زمونږ دوسته، ای د فلانکي مولی (ازاد کړی شویه)" او داسې نور. ځکه چې هغوی خو بل څوک نه دي فقط ستاسو ورونه او ستاسو دوستان دي او یا مو غلامان او ازاد کړی شوي دي.

دریم: هو! که په خطا او سهوې سره ورته په پخوانۍ لهجه اواز وکړئ او یا ستاسو معلومات غلط وي چې د هغوی دعوتي پلرونه درته حقیقي پلرونه برېښېدلي وي، نو د دې باک نشته، ځکه چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه خطا او سهوه عفوه کړی شوې ده.

مګر تاسو په هغه خطاب باندې نیول کېږئ کوم ته چې ستاسو زړونه قصد وکړي او په عمدي توګه ذکر شوي ارشاد د پښو لاندې کړئ (د جاهلیت رابلل بېرته راژوندي کړئ)، په دې صورت کښې باید مغفرت وغواړئ، ځکه چې الله ﷻ مغفرت کوونکی او د مهربانیو خاوند دی، نو لکه څنګه چې د خپلې مهربانۍ د مخې په سهوه او خطا سره نیول نه کوي، همدارنګه تاسو اُمید وکړئ چې په قصدي ګناه کښې به درته هم بښنه وکړي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ ﴾ کښې په ﴿ ٱتَّقِ ٱللَّهَ ﴾ سره نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی، حال دا چې نبي کریم ﷺ خو د متقیانو رئیس دی؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال دپاره مونږ د [البقرة:۱۴۷] ایت لاندې ښه مفصل جواب لیکلی دی، خو دلته ورباندې اضافه کوو چې: په ﴿ ٱتَّقِ ٱللَّهَ ﴾ سره په خطاب باندې د تقوی لوی شان ته اشاره ده، چې دا دومره عظیم الشان صفت دی حتی چې نبي کریم ﷺ هم ورباندې مکلف ګرځولی شوی دی.

## څوک دوه زړونه نه شي درلودی

۲_ په ﴿ مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِۦ ﴾ کښې د ځینو کسانو د خبرو رد نازل شوی دی، هغه دا چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: منافقانو به اتهام لګاوه چې نبي کريم ﷺ دوه زړونه لري، يو زړه يې زمونږ سره دی او بل زړه يې د خپلو صحابه وو کرامو سره دی[١].

ب: د قرآن کريم د نزول په زمانه کښې يوه سړي ـ چې "جميل بن معمر الفهري" نومېده ـ خپل خان ته د "ذُو الْقَلْبَيْن" (د دوه وو زړونو خاوند) لقب ورکړی وه، چې زه دوه زړونه لرم او په هر يوه زړه سره د محمد څخه ډېر هوښيار يم.

نوموړي د بدر په غزا کښې د مشرکانو په همکارۍ ګډون کړی وه، خو کله چې قريشي لښکر ماتې وخوړه نو نوموړې مکې معظمې ته په داسې حال خپل خان ورساوه چې يوه پڼه يې په لاس کښې نيولې وه او بله يې په پښه وه.

په همدغه حال کښې د ابو سفيان سره مخامخ شو او لاندې سوال جواب يې ورسره وکړ:

ابو سفيان: د قريشي لښکر څه حال وه؟

جميل: دغه لښکر ډېر زيات فاحش شکست وخوړ.

ابو سفيان: نو تا ولې يوه پڼه په لاس کښې نيولې ده او بله دې په پښه ده؟

جميل: دېته زما هيڅ فکر نه وه، زما ګومان وه چې دواړه پڼې مې په پښو دي[٢].

يوه پښتون شاعر ذکر شوی مضمون په خپلو اشعارو کښې[٣] په ډېر ښه توګه رانيولی دی چې:

واړه ته يې خندول که ژړول کړې :: زه پخپله نه خندا کړم نه ژړا کړم

زړه که يو دی ما خو تا لره درکړی :: مګر نورو لره نور زړونه پيدا کړم

## ظهار څه ته وايي؟

٣ـ په ﴿ وَمَا جَعَلَ أَزْوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔى تُظَٰهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمْ ﴾ کښې د ﴿ تُظَٰهِرُونَ ﴾ کلمه د "ظِهَار" څخه اشتقاقه شوې ده، "ظِهَار" ډېرې معناوې لري، يوه معنی يې د هغو کلماتو ويل دي په کومو باندې چې څوک خپله مانديه د ابدي محرمې ښځې سره مشابه کړي او مخاطبه يې کړي چې:

"أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي"[٤] يعنې ته په ماباندې داسې حرامه يې لکه څنګه چې په ماباندې د خپلې مور شا حرامه ده. يا په بل عبارت: ستا سره جنسي ارتباط نيول په ماباندې داسې حرام دي لکه څنګه چې راباندې د خپلې مور سره جنسي ارتباط نيول حرام دي.

په دې مقام کښې د مفسرينو په اتفاق همدغه معنی مراده ده او دا څکه چې د جاهليت په زمانه کښې رواج وه چې هر چا به د خپلې ماندينې سره ظهار وکړ او په ذکرو شوو کلمو سره به يې مخاطبه کړه نو هغه به ورباندې د مور غوندې په ابدي توګه حرامه ګڼله کېدله[٥].

(١) الدر المنثور ج٦ ص٥٦١
(٢) اسباب النزول للواحدي ص٢٣٦
(٣) د عبد الرحمن مومند ديوان ص٩٦
(٤) روح المعاني ج٢١ ص١٤٥
(٥) المحرر الوجيز ج١٣ ص٤٧؛ احكام القرآن للجصاص ج٣ ص٣٥٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ په دغه ارشاد سره د جاهلیت ذکر شوی رواج رد کړ، چې محض د خولې په وینا باندې ځوک مور نه شي جوړېدلی او نه محض د خولې په وینا باندې ځوک زوی جوړېدلی شي.

۴_ پاتې شوه دا خبره چې زمونږ په شریعت کښې ظهار کول څه حکم لري؟

نو د دې جواب دا دی چې الله ﷻ د آته ویشتمې (۲۸) سپارې په لومړني سورت (المُجادلة) کښې په همدې هکله ګټور ارشادات نازل کړي دي، الله ﷻ ته اُمید کوو چې توفیق راکړي او هلته مو ورسوي ترڅو پکښې د همده ﷻ په کومک د ضرورت په اندازه څېړنه وکړو.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وایي چې: د ﴿ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ ﴾ په ارتباط د وړاندېنیو توضیحاتو او تشریحاتو څخه د سړي ذهن ته ورځي چې د وخت خلکو د خپلو ماندینو سره ظهار کول او پردي (اَجنبي) سړي ته د خپل زوی لقب ورکول د حقیقت او واقعیت بدلون ګڼه، حال دا چې دغه ډول خیال خو ماشومان هم نه کوي. یا په بل عبارت: هیڅوک عقیده نه شي کولی چې د یوې ښځې زېږولی شوی ماشوم دې بله ښځه د دوهم ځل دپاره وزېږوي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا د ذکرې شوې جملې مضمون د وړاندېنیو عادتونو او رواجونو رد جوړېدلی شي، چې دغه ستاسو د خولو خبره ده، حقیقت ورباندې نه بدلېږي؟

مونږ وایو چې: د وخت خلکو خپلې ماندینې ته په ظهار سره د خپلې مور حقوق ورکول او بللی شوی زوی یې په حقوقو کښې د خپل زوی غونډې باله.

نو د دوی دغه کړنلاره داسې وګڼله شوه لکه چې دوی په خپلو خولو سره د حقیقت د بدلون دعوه کړې وي، دا ځکه چې دوی خو د شرعي حقوقو د ورکولو حق نه درلود، د شرعي حقوقو ورکړه (تحریم او تحلیل) خو یوازې الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ پورې اختصاص لري او بس.

## عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څه ویلي دي؟

۶_ په ﴿ ٱدْعُوهُمْ لِآبَآئِهِمْ ﴾ الآیة کښې ټول مؤمنان مکلف ګرځولې شوي دي چې په راتلونکې کښې پردي زامن په زوی توب سره مه نیسئ او کوم مو چې پخوا په زوی توب سره نیولي دي هغوی په خپلو محاورو او مجالسو کښې د خپلو نومونو څخه وشکوئ او خپلو پلرونو ته یې منسوب وګرځوئ ترڅو د جاهلیت د رسم او رواج جرړې او بنیاد وویستلی شي او نښې او آثار یې ورک شي.

د همدې کبله عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وایي چې: «مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ»[۱] یعنې مونږ نه وو چې د نبي کریم ﷺ ازاد کړی شوی (زید) په بل نامه وبولو، مګر د "زید بن محمد" په نامه مو باله، تر دې چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه هر چاته په کار دي چې خپل ځان د خپل پلار څخه په غیر بل چاته

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



منسوب نه کړي او دا ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيهِ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ»[۱] يعنې هر څوک چې د خپل پلار څخه په غير په بل چا دعوه وکړي چې دا مې پلار دی او په دې باندې پوه وي چې هغه يې پلار نه دی نو په دغه کس باندې جنت حرام دی.

## مولی څه معنی؟

۷_ په ﴿ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ ﴾ کښې د "مَوَالِي" کلمه د "وَلِيَ" _لکه "ضَرَبَ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د نژدېکت معنی ورکوي[۲]، برابره خبره ده چې دا نژدېکت د نسب يا مکان او هم يا د دين او نصرت او هم يا د صداقت او نورو صفاتو د کبله وي.

نو "مَولی" کلمه په متعددو معناوو کښې استعمالېږي لکه دوست او ناصر، او لکه تره او د تره زامن، او هم لکه د غلام ازادونکی او غلام ازاد کړی شوی او داسې نور[۳]. نو څه لرې نه ده چې د ذکرې شوې کلمې د استعمال په وخت کښې سړی همغه معنی مراده کړي کومه چې د مقام سره مناسبه وي.

دا هم څه لرې نه ده چې په ايت شريف کښې نازلې شوې دواړه کلمې ورته استعمال کړي لکه چې نبي کريم ﷺ يوه ورځې زيد بن حارثه ﵁ مخاطب کړ چې: «أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلَانَا»[۴] ای زيده! ته زمونږ ورور او زمونږ محبوب يې.

مونږ ځکه په دې حديث کښې ذکره شوې کلمه په "محبوب" سره ترجمه کړه چې په يوه بل اوږده حديث کښې نبي کريم ﷺ زيد ﵁ په «وَأَحَبُّ الْقَوْمِ إِلَيَّ»[۵] سره مخاطب کړی دی، يعنې ای زيده! ته ماته په قوم کښې ډېر محبوب او ګران يې.

## سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: ايا سړي ته جائزه ده چې د خپل زوی څخه په غير بل چاته د شفقت د کبله د زوی خطاب وکړي چې "ای زویه!"؟

مونږ وايو چې: په ايت شريف کښې د جاهليت د زمانې رواج رد شوی دی هغه دا چې: د خپل زوی څخه په غير بل څوک د خپل زوی په حيث ونيسي او د زوی توب په ټولو حقوقو ورته قائل شي[۶]. د مثال په توګه: چې د ښځې او لورانو حجاب يې د منځه لاړ شي او هم يې نکاح ورباندې حرامه وګڼله شي او بالآخره په ميراث کښې هم ورته په برخه قائل شي او داسې نور.

اما د شفقت د کبله فقط د زوی لقب ورکول څه باک نه لري.

د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۵۷
(۲) مفردات الراغب ص۵۷۰
(۳) لسان العرب ج۱۵ ص۴۰۸
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۵۲۸؛ مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۲۴۵
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۸۲
(۶) تفسير القاسمي ج۱۳ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: أنس ﷺ وايي چې ما ته يوه ورځې نبي كريم ﷺ وويلې چې: «يَا بُنَيَّ...»[۱] اى زوى گوتيه!
ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: مونږ (د عبد المطلب د اولادې كوچني ماشومان) نبي كريم ﷺ د مزدلفې څخه د جمرو د ويشتلو دپاره وړاندې راولېږلو «فَجَعَلَ يَلْطَخُ أَفْخَاذَنَا وَيَقُولُ أُبَيْنِيَّ لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ»[۲] نو شروع يې وكړه چې په خپل مبارک لاس باندې يې زمونږ ورنونه وهل او راته ويلې يې چې: اى زوى گيو! تر هغه وخته پورې جمره مه ولئ؛ ترڅو چې لمر راوخېژي.

## يوه ډېره ضروري خبره

۹_ په دې مقام كښې ډېره ضروري خبره دا ده چې: په ايت شريف كښې د دې كبله د زوى نيولو په ممنوعيت صراحت شوى دى چې د قرآن كريم د نزول په زمانه كښې د هلكانو په زوى توب سره نيول د جاهليت د كرغېړنو رواجونو څخه يو رواج پاتې وه، او خلک ورباندې اخته وه. كه نه نو د بېگانه انجلۍ په لورولۍ او يا په خورولۍ نيول، او يا بېگانه سړى په وروروړلى سره نيول هم د ايت شريف په استناد جواز نه لري، البته په دې شرط سره چې د قرابت په حقوقو ورته قائل شي.
نن ورځ[۳] هم ځينې خلک ذكر شوى جاهلي بدعت راژوندى كوي او وايي چې فلاني سړي فلانكۍ ښځې ته د ورورولۍ او خورولۍ لاس وركړى دى او يا يې په لورولۍ او پلارولۍ سره يو تربله لاس نيوى كړى دى، نو د ده او د هغې ترمنځ حجاب او پرده نشته، فإنا لله وإنا إليه راجعون.
بالآخره ځينې جهال او بدعتيان خيال كوي چې بېگانه غير محرم سړى د هغې ښځې دپاره محرم او پلار گرځي كومه يې چې د خپل ځان د نكاح وركولو دپاره وكيل وټاكي، حتى چې د نكاح پلارې لقب وركوي او د حجاب ايتونه ټول تر پښو لاندې كوي، ثم إنا لله وإنا إليه راجعون.
دغه جاهلان دې ته نه گوري چې نوموړي وكيل ته جائزه ده چې خپله موكله ښځه پخپله په نكاح واخلي البته په هغه تفصيل سره كوم چې د فقهې په كتابونو كښې ليكلى شوى دى، نو كه په وكيل گرځولو (په نكاح پلار جوړولو) باندې څوک رښتيا پلار جوړېدلى نو په كار وه چې نكاح يې ورته جائزه نه وى گڼلې شوې.

﴿ ٱلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ ۗ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفْعَلُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِكُم مَّعْرُوفًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ﴿٦﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّۦنَ مِيثَٰقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۰؛ سنن ابي داؤد ج۲ ص۳۲۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۲۱۷
(۳) ۱۱/ ۸/ ۱۴۲۱ هـ ق- ۱۷/ ۸/ ۱۳۷۹ هـ ش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غَلِيظًا ﴿٧﴾ لِّيَسْـَٔلَ ٱلصَّـٰدِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ۚ وَأَعَدَّ لِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٨﴾

[۶] نبي کريم ﷺ مؤمنانو ته (په ګټه او خير رسولو کښې) د دوی د خپلو نفسونو څخه ډېر نژدې (او بهتر) دی، او د نبي کريم ﷺ ماندينې (په تعظيم او توقير کښې) د دوی مورګانې دي.

او د قرابتونو خاوندان خينې يې خينو (نورو) ته (د وارثانو په حيث) د الله ﷻ په کتاب (او حکم) کښې د مؤمنانو څخه بهتر دي (چې په عقد موالات او ايماني دوستۍ سره يو تربله ميراث يوسي)، او (همدارنګه هغوی) د مهاجرينو څخه (بهتر دي، چې د هجرت په بنياد وارثان جوړ شي).

مګر (دا خبره ممنوعه نه ده) چې تاسو د خپلو دوستانو سره (په شريعت کښې) معروف فعل (او کومک) وکړئ (البته د وراثت په حيث نه بلکې د دوستۍ په حيث).

دغه (مذکور احکام) په لوح محفوظ (او قرآن کريم) کښې ليکلي شوي دي.

[۷] او (ای پيغمبره!) هغه وخت (ياد کړه) چې مونږ د ټولو پيغمبرانو څخه (عموماً) کلک عهد واخست (چې يو به د بل کومک کوئ او د الله ﷻ احکام به خلکو ته ابلاغوئ)، او (خاصتاً مو) ستا څخه او هم د نوح ﷺ او ابراهيم ﷺ او موسی ﷺ او عيسی بن مريم ﷺ څخه (هم کلک عهد واخست). او (يو ځل بيا هغه وخت ياد کړه چې) مونږ (ستاسو په شمول) د ټولو پيغمبرانو څخه محکم (او قوي) عهد واخست.

[۸] (البته عهد مو ترې) د دې دپاره (واخست) چې الله ﷻ (د قيامت په ورځ) د صادقانو څخه د دوی د صدق (او رښتياني عمل) پوښتنه وکړي (چې جنت يې ورته تيار کړی دی)، او (د کفارو څخه د کفر پوښتنه وکړي، چې) کفارو ته يې دردناک عذاب تيار کړی دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د جاهليت د زمانې بدعتي رواجونه رد شوي وه، او په دې ايتونو کښې په همدې ارتباط لاندې مطالب نازل شوي دي:

الف: د رواجونو په محوه کولو کښې د نبي کريم ﷺ احترام او اطاعت.

ب: د اسلامي مواخات (ورورولی) اختتام.

ج: ذکر شوي رواجونه د پخوانيو پيغمبرانو څخه نه دي پاتې شوي، بلکې بدعتونه دي.

د: د بدعتونو د مخنيوي په هکله د نبي کريم ﷺ سره په دعوت چلولو کښې ونډه اخستل.

نو حاصل يې داسې راځېږي چې ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ د الله ﷻ د پلوه ورته ابلاغ کړه چې:

الف: د الله ﷻ پيغمبر د مؤمنانو دپاره د هغوی د خانونو څخه ډېر بهتر او ډېر نژدې دی، کومه ګټه چې ورته د نبي کريم ﷺ د پلوه په دنيا او آخرت کښې رسېږي د هغې عشرُ عشير (د لسمي لسمه برخه) هم ورته د خپلو خانونو څخه نه شي رسېدلی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو مؤمنانو ته په کار دي چې خپلې نفسي غوښتنې د نبي کریم ﷺ د غوښتنو او ارشاداتو قرباني کړي، که څه هم د پخوانیو رواجونو تر پښو لاندې کول ورته درانه تمامېږي خو د نبي کریم ﷺ د هدایاتو په بنیاد ورته باید اسان شي.

ب. د شرعي حقوقو ورکړه (تحلیل او تحریم) د ربوبیت معنی لري او ربوبیت یوازې الله ﷻ پورې مختص او متوقف دی. بندګان نه شي کولی چې محض په خپلو خولو چاته د مورتوب یا زوی توب حقوق ورکړي.

ج. نو الله ﷻ مؤمنانو ته ابلاغوي چې د نبي کریم ﷺ بیبیانې د دوی دیني مورګانې دي. او په کار دي چې د خپلو نسبي مورګانو غوندې بلکې لا د هغوی څخه اضافه احترام یې وکړي، چې دیني احکام ترې په آینده کښې زده کړي کوم چې هغوی د نبي کریم ﷺ څخه مستقیماً زده کړي دي.

۲_ کومه ورورولي چې نبي کریم ﷺ د هجرت په لومړیو وختونو کښې د مهاجرینو او انصارو ترمنځ قائمه کړې وه، هغه تر همدې وخته پورې وه (دائمي نه وه)، د نن څخه وروسته په ذکره شوې ورورولۍ سره یو تربله میراث نه شي ورل کېدلی، او نه د عقد موالات په سبب میراث ورل کیدلی شي.

بلکې د قرابت خاوندان د الله ﷻ په حکم (د میراث په ورلو) کښې د مؤمنانو څخه بهتر دي چې د دین په سبب میراث یوسي، او هم د مهاجرینو څخه بهتر دي چې د هجرت په سبب د میراث مستحق جوړ شي.

هو! که تاسو یو تربله د میراث په حیث نه بلکې د دوستۍ په حیث څه نیکي او شرعي معروف کومکونه کوئ، نو په هغو کښې څه ممانعت نشته، او د منځه نه دي ورلی شوي.

ذکر شوی حکم په ذکر شوي تفصیل سره د الله ﷻ په کتاب (لوح محفوظ او هم په قرآن کریم) کښې لیکلی شوی دی، چې هغه موقت وه او دا ابدي دی.

۳_ یعنې ای پیغمبره! مونږ د تشریع (تحلیل او تحریم) حق هیچا ته نه دی ورکړی، د همدې کبله مو خلکو ته یو لک او څلېرشت زره ـزیات یا کمـ پیغمبران استولي دي او د دوی څخه مو کلک عهد اخستی وه چې هر یو به په خپله-خپله زمانه کښې زمونږ د پلوه لېږلي شوي شریعتونه خلکو ته ابلاغوي او یو تربله به نصرت او کومک کوي.

مونږ دغه کلک عهد ستا څخه هم اخستی دی او د نوح ؑ څخه هم او د ابراهیم ؑ څخه هم او د موسی ؑ څخه هم او د عیسی بن مریم ؑ څخه هم.

مونږ د دغو ټولو څخه د تشریع د ابلاغ په هکله ډېر غلیظ او پېړ عهد اخستی وه، نو د همدې کبله نه پخوانیو خلکو د تشریع حق درلود او نه ستا په زمانه کښې څوک د تشریع حق لري.

۴_ دا ټول د دې دپاره چې الله ﷻ د قیامت په ورځ د صادقانو څخه د رښتینتوب پوښتنه وکړي او د نعمتونو او درجاتو بهتره جزا ورکړي. او همدارنګه د کاذبانو (دروغژنانو) څخه د هغوی دروغ وپوښتي چې: تاسو ولې په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وه؟، او په پای کښې ورته سخته سزا ورکړي، او دا ځکه چې الله ﷻ د کفارو دپاره دردناک عذاب تیار کړی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ په ﴿ ٱلنَّبِىُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡ ﴾ كښې لاندې نكاتو ته توجه په كار ده:
الف: د همدې ايت شريف مضمون ته په بل ايت شريف كښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ ...بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴾ [التوبة:١٢٨] يعنې تاسو ته داسې پيغمبر درغلى دى چې په مؤمنانو باندې د ېر زړه سوزونكى او د ېر مهربان دى.
ب: نبي كريم ﷺ مؤمنانو بلكې ټولو خلكو ته د دوى د نفسونو څخه بهتر دى، چې د أور څخه نجات وركوي خو خلك پكښې په لوى لاس خپل ځانونه وراچوي.
د همدې كبله نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ أُمَّتِي كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَجَعَلَتْ الدَّوَابُّ وَالْفَرَاشُ يَقَعْنَ فِيهَا فَأَنَا آخُذُ بِحُجَزِكُمْ وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُونَ فِيهَا»[1] يعنې زما مثال او زما د امت مثال داسې دى لكه چې يوه سړي أور بل كړى وي نو په خمكه باندې خوځېدونكي او پتنګان شروع وكړي چې پ، دې اور كښې ځانونه وراچوي (خو ذكر شوى سړى يې مخه نيسي او د اور څخه يې بچ كوي)، نو زه ستاسو د ملاګانو څخه نيونكى يم (چې د أور څخه نجات دركړم) او تاسو پكښې ورداخلېږئ (او خپل ځانونه پكښې وراچوئ).
ج: د نبي كريم ﷺ سره محبت او مينه درلودل د ايمان نښه ده. نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ»[2] يعنې ستاسو يو كس به تر هغه د (كامل) ايمان خاوند جوړ نه شي ترڅو چې زه ورته د خپل پلار او خپل اولاد او بالآخره د ټولو خلكو څخه محبوب او ګران وګرځم.
د: د نبي كريم ﷺ سره د زيات محبت معيار دا دى چې يوه لور ته د شريعت حكم وي او بل لور ته د پلار يا ا ـ'د او هم يا د خلكو غوښتنې او نفسي خواهشات وي، خو سړى د شريعت په حكم باندې عمل وكړي، او د نورو ټولو غوښتنې تر پښو لاندې كړي.
ه: د رښتيني محبت يوه مثال ته نبي كريم ﷺ په خپل يوه اوږده حديث كښې اشاره كړې ده چې: «وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ»[3] يعنې د قيامت په ورځ به هغه سړى هم د الله ﷻ د رحمت تر سيوري لاندې وي كوم چې يوه باشرفه او د ښايست خاونده ښځه ترې د فحاشۍ غوښتنه وكړي خو نوموړى سړى ورته ووايي چې: زه د الله ﷻ څخه ډارېږم (زه ستا غوښتنه او د خپل نفس غوښتنه تر پښو لاندې كوم او د الله ﷻ حكم سره سم د بد كار څخه اجتناب كوم).
و: نبي كريم ﷺ د ذكر شوي ايت شريف په ارتباط په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَأَنَا أَوْلَى بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ»[4] يعنې هيڅ مومن نه دى مګر په داسې حال دى چې

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١١٥
(٢) صحيح البخاري ج١ ص٧
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٩١
(٤) صحيح البخاري ج١ ص٣٢٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زه ورته په دنیا او آخرت کښې (د هر شي څخه) بهتر يم (نو هر يوه ته په كار دي چې زما اتباع او پيروي وکړي او بس).

ز: نبي كريم ﷺ د همدغه ايت شريف په اړه فرمايلي دي چې: «أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ فَأَيُّمَا رَجُلٍ مَاتَ وَتَرَكَ دَيْنًا فَإِلَيَّ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ»[۱] يعني زه د هر مؤمن دپاره د خپل ځان څخه بهتر يم، نو هرڅوک چې مړ شي او په خپله غاړه باندې څه دَين (قرض) پرېږدي، نو قرضدار دې ماته راشي چې زه د مړي قرض ورکړم، او هرڅوک چې د خپله مرګه وروسته څه مال پرېږدي نو هغه د نوموړي د وارثانو د پاره دی (زه يې قرض خلاصوم او مال يې نه اخلم).

ح: په ايت شريف کښې د ﴿ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ کلمه نازله شوې ده چې د نارينه وو دپاره وضعه شوې ده مګر د تغليب په توګه دغه کلمه زنانه وو ايماندارو ته هم شامله ده، لکه چې د قرآن کريم په نورو ايتونو کښې د ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ کلمات زنانه وو ته هم د تغليب په توګه شموليت لري.

نو په همدې بنياد نبي كريم ﷺ د مؤمنانو (نارينه وو او زنانه وو) ټولو دپاره د دوی د نفسونو څخه بهتر دی، نه يوازې د نارينه وو دپاره.

## د مؤمنانو ميندې

۲ـ د ﴿وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ﴾ په اړوند لاندې مطالب ياد ساتل په كار دي:

الف: په دغې جمله کښې د [الأحزاب:۴] ايت مضمون تائيد شوی دی، چې د يوې ښځې په مور جوړېدلو کښې د خلکو خولې د اعتبار قابلې نه دي حتی د مؤمنانو د خولو وينا هم د اعتبار قابله نه ده. او د نبي كريم ﷺ بيبيانې څکه د مؤمنانو مورګانې ګرځېدلې دي چې الله ﷻ ورته د "أُمَّهَاتُ الْمُؤْمِنِين" لقب ورکړی دی.

ب: د علماوو کرامو په اجماع سره، په تعظيم او توقير کښې د نبي كريم ﷺ بيبيانې د مؤمنانو معنوي مورګانې دي[۲]، او په هر چا باندې يې احترام واجب دی چې نومونه يې په احترام سره واخلي او د دوی په هکله د توهين آميزه کلماتو د استعمال څخه ځان وساتي.

د همدغه تعظيم او توقير د کبله الله ﷻ په [الأحزاب:۵۳] ايت کښې د نبي كريم ﷺ د وفات څخه وروسته د هغوی د نکاح په تحريم باندې صراحت کړی دی.

ج: اما په متباقي حقوقو کښې هغوی د حقيقي مورګانو څخه فرق لري[۳]. د مثال په توګه:

اول: د هغوی د حجاب مراعات په ټولو مؤمنانو باندې واجب دی، که څه هم په مورګانو باندې د زامنو په هکله حجاب نشته.

دوهم: د هغوی مورولي د هغوی نورو خپلوانو ته سرايت نه کوي، په دې معنی چې د هغوی ورونه

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۱۴

(۲) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۱۲۳

(۳) تفسير ابن كثير ج۳ ص۴۶۸؛ روح المعاني ج۲۱ ص۱۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او خویندې د مؤمنانو ماماګان او تروروګانې نه ګرځي. نو عبد الرحمن بن أبي بکر رضي الله عنهما ته څوک د ماما، او أسماء بنت أبي بکر رضي الله عنهما ته د ترور (خاله) لقب نه شي ورکولی.

دریم: په ذکرې شوې مورولۍ باندې د میراث ورل اثبات نه شي موندلی.

د: مونږ د الله ﷻ په توفیق په وړاندېنۍ توضیح کښې لیکلي دي چې د تغلیب په توګه د ﴿بِالْمُؤْمِنِينَ﴾ په کلمه کښې ایمانداري زنانه هم شاملې دي.

څرنګه چې په ﴿أُمَّهَٰتُهُمْ﴾ کښې ضمیر همدغې کلمې (الْمُؤْمِنِين) ته راجع دی نو معلومه شوه چې د دغه لقب (أُمَّهَاتُ الْمُؤْمِنِين) معنی ایماندارو زنانه وو ته هم د تغلیب په توګه شمولیت لري، که څه هم خینو علماوو پکښې اختلاف کړی دی او د ایماندارو زنانه وو دپاره یې ورته د "أُمَّهَاتُ الْمُؤْمِنَات" لقب ځانګړی کړی دی.

ه: که څوک وایي چې د ذکر شوي عبارت غوښتنه دا ده چې نبي کریم ﷺ ته د "أَبُ الْمُؤْمِنِين" لقب ورکول هم جواز ولري، ایا دغه مفهوم اخستل تري جائز دي؟

مونږ وایو چې: په همدغې موضوع کښې علماء کرام دوه ډلې شوي دي[1].

اول: خینې وایي چې دغه ډول لقب ورکول نبي کریم ﷺ ته، جواز نه لري، لکه چې د [الأحزاب: ۴۰] ایت غوښتنه همدغه ده.

دوهم: خینې نور وایي چې دا لقب ورته جائز دی، لکه چې په دې مقام کښې یو قرائت داسې اورېدلی شوی دی چې: وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ وَهُوَ أَبٌ لَهُمْ "[2] یعنې بیبیانې یې د مؤمنانو مورګانې دي او پخپله نبي کریم ﷺ یې پلار دی.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ أُعَلِّمُكُمْ»[3] یعنې یقینًا زه ستاسو دپاره د پلار غوندې یم چې تاسو ته (د دین) ښودانه کوم (حتی چې اودس ماتې ته د کېناستلو طریقه هم درښایم).

## تبصره

و: نبي کریم ﷺ خو د مؤمنانو معنوي پلار دی بلکې هر یو پیغمبر د خپل‌خپل اِجابتي اُمت دپاره د پلار حیثیت درلود، خو مونږ ته داسې بهتره برېښي ـوالله ﷻ أعلمـ چې بدون د تشبیه څخه (لکه چې په وړاندې حدیث کښې پرې صراحت شوی دی) ورباندې د پلار اطلاق ونه کړی شي د مثال په توګه:

اول. داسې اطلاق دې وکړی شي چې نبي کریم ﷺ مؤمنانو ته د پلار په شان دی.

دوهم: داسې دې ونه ویلی شي چې نبي کریم ﷺ د مؤمنانو پلار دی

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۶۸
(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۲۲
(۳) [illegible] ۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو ډېر غټ دروغ

ز: د نبي کریم ﷺ ټولو بیبیانو ته الله ﷻ په خپل متواتر کلام (قرآن کریم) کښې د "أُمَّهَاتُ الْمُؤْمِنِينَ" لقب ورکړی دی، نو په دروغو سره یې ترې څوک بهرته نه شي اخستلی.

نو په همدې بنیاد د اهل التشیع هغه خبره بالکل غلطه او دروغ ده، کومه چې د هغوی د خولو څخه ځینو مفسرینو کرامو د رد کولو دپاره راحکایته کړې ده[۱] هغه دا چې:

علي رضي الله عنه د جمل په جنګ کښې بي بي عائشه (ام المؤمنین رضي الله عنها) د "أُمَّهَاتُ الْمُؤْمِنِينَ" د جملې څخه ویستلې ده، او د وکالت په توګه یې طلاق ورکړی دی.

اهل التشیع وایي چې نبي کریم ﷺ علي رضي الله عنه ته د خپلو بیبیانو د طلاقولو وکالت ورکړی وه چې ته کولی شې چې زما د مرګ څخه وروسته زما کومې بي بي ته زما په وکالت طلاق ورکړې.

حال دا چې عمار رضي الله عنه په یوه اوږده حدیث کښې ـ چې حکماً مرفوع دی ـ وایي چې: «إِنِّي لَأَعْلَمُ أَنَّهَا زَوْجَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ»[۲] یعني هرومرو زه پوهېږم چې عائشه رضي الله عنها د نبي کریم ﷺ زوجه (مېرمن) ده په دنیا او آخرت کښې.

ح: ذکره شوې خبره څکه دروغ او باطله ده چې د متواتر کلام (قرآن کریم) سره مناقضه ده، چې د همدې موضوع پورې اړوند څه وضاحت ـ إن شاء الله ـ د [الأحزاب: ۳۳، ۵۳] ایتونو لاندې راروان دی.

په دې باندې علاوه، که بالفرض المحال ذکر شوې خبرې څه حقیقت درلودی نو امیر المؤمنین (علي رضي الله عنه) به د جمل جنګ د اختتام څخه وروسته نوموړې آبی رضي الله عنها په احترام سره نه وی رخصته کړې، او د حقارت په نظر به یې ورته کتلي وی. حال دا چې د هغې رضي الله عنها د احترام او تعظیم دپاره یې د ډېرش تنه ښځې ورسره ولېږلې چې په احترامانه توګه یې مدینې منورې ته ورسوي[۳].

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ ﴾ کښې خو د توریث د اسبابو څخه د هغه مواخات (ورورولۍ) سببیت منسوخ ګرځېدلی دی کوم چې نبي کریم ﷺ د هجرت په ابتداء کښې د انصارو او مهاجرینو ترمنځ قائم کړی وه[۴]؛ نو په کار وه چې د ﴿ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ ﴾ په عوض "مِنَ الأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِينَ" نازل شوی وی. ترڅو یې په خپل صورتحال باندې په ښه وضاحت سره دلالت کړی وی؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی اعتراض به په هغه وخت کښې وارد شوی وی چې د ﴿ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۵۲
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۵۳۲
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۸۲
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۲۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ ﴾ مجموعه د ﴿ أَوْلَىٰ ﴾ دپاره مفضل عليه واقع شوې وی، خو دغسې نه ده، بلکې ذکرې شوې دواړه کلمې په انفرادي توګه ورته مفضل عليه دي.

يا په بل عبارت په ﴿ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ سره د عقد الموالات سببيت منسوخ شوی دی او په ﴿ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ ﴾ سره د توريث دپاره د هجرت سببيت منسوخ ګرځېدلی دی.

د همدې جواب د ښه وضاحت دپاره بايد د [النساء:۱۱، ۳۳] ايتونو وضاحتونو ته يو ځل مراجعه وکړی شي. چې هلته يې د الله ﷻ په توفيق ښه پوره شرحه تېره شوې ده.

## د پيغمبرانو ميثاق

۴_ په ﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمْ ﴾ کښې هغه کلک عهد ته اشاره شوې ده کوم چې د پيغمبرانو څخه اخستلی شوی وه. دغه عهد مونږ د الله ﷻ په توفيق د [آل عمران:۸۱] ايت لاندې څېړلی دی چې دا په دنيا کښې اخستلی شوی دی او که په عالم الذر کښې.

که څه هم هلته مونږ دې ته ترجيح ورکړې ده چې دا دنياوي عهد دی او د هر پيغمبر څخه د پيغمبر په حيث د را استولو په وخت کښې اخستلی شوی دی. لکه چې همدا د ځينو مفسرينو کرامو نظر دی(۱). خو دلته ورباندې دومره اضافه کوو چې که د ميثاق څخه ما يطلق عليه الميثاق اراده کړی شي او دواړو عهدونو ته شامل شي نو ښه خبره ده.

## أولو العزم پيغمبران څوک-څوک دي؟

۵_ په ذکر شوي ايت او په [الشورى:۱۳] ايت کښې الله ﷻ نبي کريم ﷺ په خطاب سره ياد کړی دی (دلته په ﴿ وَمِنكَ ﴾ سره او هلته په ﴿ إِلَيْكَ ﴾ سره) او نور څلور پيغمبران (نوح عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسى عليه السلام او عيسى عليه السلام) يې په نومونو سره ياد کړي دي، چې ټول پنځه تنه کېږي.

مفسرين کرام وايي(۲) چې دغه پنځه تنه د أولو العزم پيغمبرانو په لقب سره د نورو څخه ممتاز ګرځولی شوي دي، چې د کلک تصميم او قوي ارادې خاوندان وه.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ﴿١٠﴾ هُنَالِكَ ٱبْتُلِىَ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُواْ زِلْزَالًا شَدِيدًا ﴿١١﴾ ﴾

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۳ ص۴۶۹

(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۵۰۸، المحرر الوجيز ج۱۳ ص۵۲، الدر المنثور ج۶ ص۵۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په خپلو ځانونو باندې د الله ﷻ نعمت یاد کړئ، چې کله تاسو ته (کفري) لښکرې درغلې، نو مونږ ورباندې باد ور ولېږه (وچلاوه)، او (د پرښتو داسې لښکرې (مو هم ور واستولې) چې تاسو نه لیدلې.

او الله ﷻ په هغو (کارونو) باندې بینا دی کوم چې تاسو یې کوئ.

[۱۰] هغه وخت چې کفري لښکرې تاسو ته ستاسو دپاس طرفه او (هم) ستاسو څخه د لاندې طرفه درغلې (تاسو یې احاطه او محاصره کړئ) او چې کله سترګې (د زیاته ډاره د خپل استقامت څخه) کږې شوې او زړونه ستونو ته ورسېدل (نژدې وه چې د بدن څخه بهر ووځي)، او تاسو په الله ﷻ باندې ګومانونه کول (ډېر) ګومانونه.

[۱۱] په دغه ځای (یا دغه وخت) کښې ایمان راوړونکي امتحان کړی شوه او وجړقول شوه، سخت جړقول.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې مؤمنانو ته ابلاغ شوې وه چې د دوی دپاره نبي کریم ﷺ د دوی د خپلو ځانونو څخه غوره او بهتر دی، په دې ایتونو کښې د یو پلوه د نبي کریم ﷺ د بهترۍ یو مثال ښودلی شوی دی چې مؤمنان د همده ﷺ په برکت د قوي دښمن څخه بچ شوه او د نجات نعمت یې په برخه شو. او د بله پلوه د مؤمنانو د محبت یوه مثال ته هم اشاره شوې ده چې په ډېر سخت حالت کښې د نبي کریم ﷺ په اطاعت باندې کلک شوه او خپلې نفسي غوښتنې یې تر پښو لاندې کړې.

نو حاصل یې داسې راځېږي: ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی او د نبي کریم ﷺ محبت او اطاعت ورباندې فرض دی! تاسو د خندق د غزا وخت درېه زړه کړئ چې:

الف: په دغه وخت کښې الله ﷻ په تاسو باندې ډېر لوی عظیم الشان نعمت درپېرزو کړ، البته کله چې تاسو یو لوی کفري لښکر احاطه کړئ او خپل کور (مدینې منورې) ته درپسې درغی.

ب: خو په مقابل کښې مونږ په همدغه کفري لښکر باندې ډېر تېز باد وچلاوه او د پرښتو داسې لښکر مو ورواستاوه کوم چې تاسو په سترګو نه لیده (غیبي لښکر وه).

ج: الله ﷻ په هغو کارونو باندې بینا دی کوم چې تاسو یې عملي کوئ او ستاسو د لاسه پوره وې او توان مو ورته رسېږي، خو ذکر شوی کفري لښکر داسې لښکر وه چې تاسو د هغوی د مقابلې توان نه درلود.

۲ـ تاسو خو هغه وخت درېه زړه کړئ چې کله تاسو ته د احزابو لوی لښکر ستاسو دپاسه (د مشرق د طرفه) او هم ستاسو د لاندې (مغرب د طرفه) مدینې منورې ته درغی او تاسو یې محاصره کړئ، نو تاسو د ډېر سخت حالت سره مخامخ شوئ چې:

الف: په دغه وخت کښې مو سترګې د لیدلو څخه کږې شوې او د زیاته ډاره یې لیدل نه شو کولی، (ستاسو په اصطلاح په سترګو مو توره شپه جوړه شوې وه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: زړونه مو د ډېره خوفه د ګوګلونو څخه ستونو ته اوچت شوي وه، تابه ویل چې سات کړی، ته به د بدنونو څخه خارج شي.

ج: تاسو په همدغه حیرتناک حال کښې په الله ﷻ باندې ډول-ډول ګومانونه کول، او هرچا د خپل ایمان په معیار وضعه تحلیلوله، چې دغسې حالت رااروان دی او د هغسې حالت سره مخامخ کېدونکي یاستو او داسې نور.

۳ـ ای پیغمبره! په دغه وخت او په دغه ځای کښې هغه کسان ښه پوره امتحان کړی شوه او په سختو جړقولو سره وجړقول شوه کومو چې کلمه طیبه ویلې، او خپل خانونه یې په ایماندارانو کښې شمېرل، نو د هر چا د ایمان د قوت او ضعف اندازه د هغه د خبرو څخه څرګنده شوه.

## توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کښې چې کومې غزا ته اشاره ده هغه په لاندې دوه نومونو باندې یادېږي:

الف: یو نوم یې د "أحزابو غزا" ده، چې د عربو مختلفو قومونو ـ د یهودو په شمول ـ ټولو سره لاس یو کړی وه، او په اجتماعي توګه یې په مدینه منوره باندې حمله وکړه، ترڅو د مؤمنانو بنیاد وباسي او د دنیا مخ څخه یې بالکل محوه او نابود کړي.

ب: بل نوم یې د "خندق غزا" ده، چې نبي کریم ﷺ د سلمان الفارسي ﷺ په مشوره د مدینې منورې د هغو څنډو څخه د خندق کمربند تاو کړی وه د کومو د پلوه چې د کفري لښکرو د ورداخلېدلو امکان وه.

## د خندق یا د احزابو غزا

۲ـ د سیرت کتابونو[۱] او هم مفسرینو کرامو[۲] دغه غزا ډېره ښه تفصیلواره لیکلې ده، که د چا ښه زیات تفصیل ته شوق وي نو لطفًا هملته دې مراجعه وکړي، مونږ په همدې اړه د څو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو چې کتاب راڅخه اوږد نه شي، هغه دا:

الف: د دغې غزا دپاره یوه بله غزا سبب جوړه شوه کومې ته چې الله ﷻ د "الحَشْر" په سورت کښې اشاره کړې ده، چې د بني النضير غزا ده[۳].

او دا خکه چې کله نبي کریم ﷺ د یهودو درېوو قبیلو (بنو قینقاع، بنو نضیر، بنو قریظه وو) د جملې څخه د بنو نضیرو غزا په دې باندې ختمه کړه چې هغوی د مدینې منورې جلا وطني قبوله کړه، او په خیبر او نورو وطنونو کښې خواره واره شوه.

د بنو نضیرو د جلا وطنۍ څخه وروسته د اُحد غزا پېښه شوه چې مؤمنانو پکښې ماتې وخوړه او د دښمنانو حوصلې ورباندې پیاوړې شوې.

---

(۱) سیرت ابن هشام ج۳ ص۲۲۹

(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۵۱۳؛ تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۳۰؛ تفسیر الخازن ج۵ ص۸۹؛ تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۲۳۹؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۷۰؛ تفسیر المظهري ج۷ ص۳۸۹

(۳) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د همدې کبله د بنو نضیرو او نورو یهودانو مشرانو د قریشو په شمول په ټولو عربي قبائلو باندې وژړل چې زمونږ سره مله شئ؛ ترڅو په مدینه منوره باندې ښه قوي حمله وروړو او د نبي کریم ﷺ او د ملګرو یې بنیاد وباسو، نو ټولو قبائلو ورسره منښته وکړه او په سوق الجیشۍ باندې یې پیل وکړ.

## د دواړو لورو د لښکر شمېره

ب: په دې غزا کښې د کفري لښکر شمېره لسو زرو (۱۰۰۰۰) تنو ته رسېدله[۱] او ځینو لا دولس زره (۱۲۰۰۰) یا پنځلس زره (۱۵۰۰۰) تنه ښودلې ده[۲].

خو د مسلمانو مجاهدینو تعداد فقط درې زرو (۳۰۰۰) تنو ته پورته شوی وه، په دغه تعداد کښې منافقان هم شامل وه[۳].

## د خندق د غزا نېټه

ج: ځینو محدثینو کرامو[۴] د دې غزا د پېښېدلو نېټه د هجرت څلورم کال ښودلی دی، مګر د سیرت کتابونه[۵] په دې ټینګار کوي چې د هجرت په پنځم کال د شوال په میاشت کښې واقع شوې وه، چې د څه پلټنې څخه وروسته مونږ ته هم همدغه وروستنی قول صحیح وبرېښېد، والله ﷻ أعلم

## د خندق په باب معلومات

د: د خندق په باب لاندې معلومات ولولئ:

اول: د خندق د کنودلو مشوره نبي کریم ﷺ ته سلمان الفارسي ؓ ورکړې وه چې په دغه وخت کښې د غلامۍ څخه ازاد شوی وه[۶].

دغه مشوره د مؤمنانو دپاره په زیات خیر تمامه شوه او کفار ـ چې د دغه ډول کار سره نابلده او ناآشنا وه ـ د خندق په لیدلو سره هک پک پاتې شوه، او ونه توانېدل چې په مدینه منوره باندې په اجتماعي توګه هجوم وروړي.

دوهم: د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ الْجَنَّةَ تَشْتَاقُ إِلَى ثَلَاثَةٍ عَلِيٍّ وَعَمَّارٍ وَسَلْمَانَ»[۷] یعنې یقیناً جنت درې کسانو ته ډېر شوقمند دی چې ورداخل شي، یو علي ؓ او بل عمار ؓ او درېیم سلمان ؓ.

درېیم: که څه هم مونږ ته د خندق د پلنوالي (عرض) او ژوروالي (عمق) محدده اندازه د پلټنې څخه وروسته څرګنده نه شوه، خو شاید چې په دومره اندازه به پلن او ژور وه چې چا به ترې په اسانۍ

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۲۴۰
(۲) روح المعاني ج۲۱ ص۱۵۵
(۳) سیرت ابن هشام ج۳ ص۲۳۵
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۵۸۸
(۵) سیرت ابن هشام ج۳ ص۲۲۹
(۶) تفسیر المراغي ج۲۱ ص۱۳۷
(۷) جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره ټوپ نه شو وهلی او نه به ترې په اسانۍ سره څوک پورته راختلی شو.

اما د اوږدوالي اندازه يې داسې معلومېږي چې دولس زره (۱۲۰۰۰) ګزه وه، څکه چې د مجاهدينو تعداد درې زره کسان وه او نبي کريم ﷺ هرو لسو کسانو ته څلوېښت ګزه برخه ورکړې وه[۱]. نو د حساب قواعدو ته په کتلو سره سړی کولی شي چې ذکر شوی مقدار په دغه صورت سره وټاکي: ۳۰۰۰ ÷ ۱۰ = ۳۰۰ × ۴۰ = ۱۲۰۰۰.

څلورم: د خندق په کنودلو کښې پخپله نبي کريم ﷺ هم برخه اخستې ده، او مبارک بدن يې پکښې په خاورو ليت پيت ګرځېدلی وه.

البراء بن عازب ﷺ وايي چې: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَوْمَ الْأَحْزَابِ يَنْقُلُ التُّرَابَ وَقَدْ وَارَى التُّرَابُ بَيَاضَ بَطْنِهِ»[۲] يعنې د آحزابو د غزا په ورځ ما نبي کريم ﷺ وليد چې (د خندق د کنودلو) خاورې يې انتقالولې حال دا چې خاورو يې د مبارکې ګېډې سپينوالی پټ کړی وه (او خړ پړ يې ګرځولی وه).

پنځم: د خندق د کنودلو په وخت کښې نبي کريم ﷺ د عبد الله بن رواحه ﷺ لاندې اشعار لوستل چې[۳]:

اللَّهُمَّ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا :: وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا

فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا :: وَثَبِّتْ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا

إِنَّ الْأُولَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا :: وَإِنْ أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا

يعنې ای الله! که ستا فضل نه وی نو مونږ به نه هدايت موندلی وی او نه به مو صدقه ورکړې وی او نه به مو لمونځ کړی وی. نو ته په مونږ باندې ضرور سکينه او ډاډ رانښکته کړه، او که د دښمن سره ملاقي شو نو پښې مو کلکې کړه، چې ونه تښتو. يقيناً دغو کفارو بې شکه په مونږ باندې بغاوت کړی دی، او چې دوی د فتنې اراده لري نو مونږ منعه کوو (مونږ يې ورسره نه منو).

شپږم: د خندق د کنودلو په وخت کښې ځينې خوارق هم څرګند شوه ترڅو مؤمنان ډاډه شي، چې ځينو علماوو کرامو روايت کړي دي[۴]، مونږ دلته د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړه.

## مونږ لاشونه نه پلورو

ه: د خندق په غزا کښې د کفارو څخه درې کسان ووژل شوه هغه دا:

اول: عمرو بن عبدود، دا په هغه وخت کښې د علي ﷺ د پلوه ووژلی شو کله چې د کفارو په آسونو باندې څه سواره کسان د خندق د يوه تنګ ځای څخه تېر شوه او نوموړی عمرو د خپل آس څخه ښکته شو او د علي ﷺ سره يې مقابله پيل کړه، خو په نتيجه کښې يې خپل ځان د لاسه ورکړ (ووژل شو) او متباقي سواره بېرته وتښتېدل

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۵۱۲
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۹۸
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۵۸۹
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۵۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: منبه بن عثمان، چې په همدغه غزا کښې زخمي شوی وه او بیا په مکه معظمه کښې د همدغه زخم (ټپ) د کبله مړ شو.

درېم: نوفل بن المغیره، دغه نفر خندق ته ورښکته شوی وه چې مجاهدینو وربانديې د ډبرو باران جوړ کړ، نو غږ يې وکړ چې د دغه حال څخه راته په توره وژل بهتر دي، نو علي رضي الله عنه ورښکته شو او هملته يې وواژه، خو مړی يې په خندق کښې پاتې شو.

کفري لښکر د نبي کریم ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې لس زره به درکړو خو د نوفل لاش مونږ ته راکړه، نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «هُوَ لَكُمْ لا نَأْكُلُ ثَمَنَ الْمَوْتَى»[۱] یعنې دغه لاش دي بدون د پیسو ستاسو وي مونږ د مړو (د لاشونو) پیسې نه خورو (که څه هم پیسو ته ډېر اړ یاستو).

اما د مؤمنانو د غازیانو څخه شپږ کسان شهیدان شوي وه[۲]، شهید سعد بن معاذ رضي الله عنه هم په دغو شپږو تنو کښې شامل وه، چې د لاس په یوه رګ باندې ټپي شوی وه او څه وخت وروسته د همدغه ټپ د کبله شهید شو چې کله يې د بنو قریظه وو فیصله وکړه. چې څه ذکر يې ـان شاء الله ﷻـ وروسته د [الأحزاب: ۲۶] ایت لاندې راروان دی.

## کفري لښکر ناکام شو

و: د خندق غزا تقریباً یوه میاشت دوام وکړ چې یوه خوا او بله خوا د غشو اوکاڼو تبادله روانه وه خو د هجومي جنګ مخه خندق نیولې وه[۳]. په نتیجه کښې الله ﷻ کفري لښکر ناکام بېرته ستون کړ چې د شرمندګۍ څخه په غیر بل هیڅ شی لاس ته ورنغی.

الله ﷻ کفري لښکر ته په خپل قوت سره ماتې ورکړه هغه دا چې:

اول: الله ﷻ ورباندې باد وچلاوه چې اورونه يې ورته مړه کړه، د څارویو موږې يې ور وویستل او خېمې يې ورته چپه کړې او داسې نور.

همدغه باد ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې فرمايي: «نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ»[۴] یعنې ماته الله ﷻ په ښکیني باد سره نصرت راکړ او عادیان په پاسني (برو) باد باندې هلاک کړی شوي وه.

دوهم: الله ﷻ وربانديې د مؤمنانو د کومک دپاره د پرښتو غیبي لښکر ور ولېږه چې په زړونو کښې يې ورته رعب او ډار واچاوه او د غازیانو جمعیت يې ورته ډېر قوي ورڅرګند کړ او داسې نور.

په ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ﴾ کښې ذکرو شوو دواړو سببونو ته اشاره نازله شوې ده.

## یادونه

ز: د کفري لښکر د ماتې وخت نژدې وه چې نبي کریم ﷺ حذیفه رضي الله عنه د شپې په تیاره کښې د

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۵۶؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۵۱۳
(۲) روح المعاني ج۲۱ ص۱۷۵: تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۴۲
(۳) سیرت ابن هشام ج۳ ص۲۳۸
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۵۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معلوماتو د راوړلو دپاره د کفارو قرارګاه ته ورولېږه، چې په ډېره خارق العاده توګه هلته ورغی او په خارق العاده توګه ترې بېرته راستون شو، نو څرنګه چې دغه مزه ناکه قیصه ډېره اوږده ده مونږ یې دلته د رانقلولو څخه صرف نظر کوو هیله ده چې په دې هکله اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړی شي[۱].

## نبي کريم ﷺ څه وويل؟

ح: د غزا په ترڅ کښې چې کفري لښکر ناکامه بېرته ستون شو، نبي کريم ﷺ وويلې چې:

اول: «الْآنَ نَغْزُوهُمْ وَلَا يَغْزُونَنَا»[۲] يعنې اوس (د دې څخه وروسته) به مونږ کفارو پسې ورځو او غزا به ورسره کوو، او هغوی به مونږ پسې نه راځي چې غزا راسره وکړي (هغوی ته به الله ﷻ دومره توان ورنه کړي چې مونږ پسې د جنګ دپاره راشي او راپسې راوخوځېږي).

دوهم: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ أَعَزَّ جُنْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَغَلَبَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ فَلَا شَيْءَ بَعْدَهُ»[۳] يعنې: په حقه معبود نشته مګر الله ﷻ دی، همدی ﷻ يوازې په حقه مبعود دی او بس، همده ﷻ خپل لښکر (مؤمنانو) ته عزت ورکړ او خپل بنده ته يې نصرت ورکړ او په احزابو (کفري لښکرو) باندې يوازې غالب شو، نو د ده ﷻ څخه وروسته هيڅ شی نشته، همدی ازلي او ابدي دی او همېشه باقي دی.

## د زيغ او حنجرة معناوې

۳ـ په ﴿وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَٰرُ﴾ کښې د ﴿زَاغَتْ﴾ کلمه د "زَيْغ" ـ لکه "رَيْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "زَيْغ" دې ته وضعه شوی دی چې يو شی د خپل استقامت څخه کوم پلو ته کوږ شي او ميلان وکړي[۴]. يعنې هغه وخت چې د ډېر خوف د کبله سترګې د خپل حالت څخه واووښتې، چې تيغې ختلې وې او يا کلکې پلکې په ځای ولاړې وې او دښمن ته په ځير وې.

او په ﴿وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ﴾ کښې د "حَنَاجِر" کلمه د "حَنْجَرَة" جمعه ده، "حَنْجَرَة" د ستونې په هغه ځای دلالت کوي کوم چې د بېرون د پلوه اوچت دی، او د يوې غوټې په شکل برېښي[۵].

دغه دواړه جملې د خوف او ډار د شدت څخه کنايه دي، دغو دواړو جملو ته ورته جملې په پښتو ژبه کښې هم د ډار د شدت څخه د کنايې په توګه استعمالېږي، لکه چې وايو: له ډېره ډاره راباندې سترګې پټې شوې څه مې نه ليده، او هلته زه دومره وډار شوم چې نژدې راڅخه زړه وتلی وه، او داسې نور.

## ظن څه معنی؟

۴ـ په ﴿وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠﴾ کښې د "ظُنُون" کلمه د "ظَن" جمعه ده، "ظَن" خو اصلاً په غير

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۱۰۷ : تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۷۱
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۵۹۰
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۵۹۰
(۴) مفردات الراغب ص۲۲۳
(۵) لسان العرب ج۴ ص۲۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جازم اعتقاد کښې راجح طرف ته وضعه شوی دی خو کله-کله يې په علم باندې هم اطلاق کېږي چې جازم اعتقاد دی"[۱].

په دې مقام کښې مونږ ته بهتره برېښي چې د "ما يُطلق عليه الظن" (هر هغه شی د ظن اطلاق پرې کېږي) په لحاظ واخستلی شي ترڅو د منافقانو ګومانونو ته او د مؤمنانو پخو جازمو عقايدو (يولو) ته شامل شي.

پاتې شوه دا خبره چې دغه ګومانونه او علوم کوم-کوم وه چې په ذکره شوې ﴿ ٱلظُّنُونَا ﴾ کلمه کښې ورته اشاره شوې ده؟

نو د دې جواب دا دی چې الله ﷻ د منافقانو د ګومانونو يوه مثال ته په راتلونکي متصل ايت کښې اشاره کړې ده چې: ﴿ وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ ﴾ الآية، او د مؤمنانو د عقايدو يوه مثال ته په راتلونکي [الأحزاب:۲۲] ايت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ ﴾ الآية، اما متباقي ګومانونه او متباقي علوم الله ﷻ ته معلوم دي چې څه به وه.

## مؤمنان يعني څوک؟

۵_په ﴿ هُنَالِكَ ٱبْتُلِىَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ الآية کښې د ﴿ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې يوازې په مخلصو مؤمنانو پورې اختصاص نه لري بلکې دا کلمه هغو ټولو کسانو ته شامله ده کومو چې په طيبه کلمه باندې اعتراف او اقرار کاوه، برابره خبره ده چې منافقان وه او که مخلص مؤمنان وه.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه ذکرې شوې ابتلاء او ازمېښت يوازې د قوي دښمن سره د مخامخ کېدلو د کبله صورت نه وه نيولی بلکې په دغه وخت کښې نور مشکلات هم ډېر وه، لکه لوږه، زياته سړوبنه او داسې نور.

شايد چې د ابو طلحه ﷺ لاندې حديث به په همدغه وخت کښې تحقق موندلی وي چې وايي: مونږ نبي کريم ﷺ ته شکايت وکړ او د خپلو ګېډو څخه مو يوه-يوه ډبره ورته لوڅه کړه (چې د لوږې د کبله مو ورباندې تړلې وه) «فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ بَطْنِهِ عَنْ حَجَرَيْنِ»[۲] يعنې نو نبي کريم ﷺ د خپلې مبارکې ګېډې څخه جامه پورته کړه او دوه ډبرې يې راښکاره کړې.

او دا ځکه چې أنس ﷺ د خندق د کنودلو په اوږده حديث کښې وايي چې: «ثُمَّ قَامَ وَبَطْنُهُ مَعْصُوبٌ بِحَجَرٍ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا»[۳] يعنې په خندق کښې چې کلکه بکرينه ډبره راښکاره شوه نو نبي کريم په داسې حال کښې ورپورته شو چې په مبارکه ګېډه باندې يې ډبره تړلې شوې وه، نو کولنګ يې واخست او بکرينه ډبره يې ورباندې ووهله، نو داسې ميده-ميده شوه لکه ميده شګې، او مونږ درې ورځې تېرې کړې چې هيڅ څکه مو نه وه کړې.

---

(۱) القاموس المحيط ج۳ ص۱۳۰

(۲) شمائل الترمذي ص۲۵

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۵۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾
وَإِذْ قَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَٱرْجِعُوا۟ ۚ وَيَسْتَـْٔذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ ٱلنَّبِىَّ
يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِىَ بِعَوْرَةٍ ۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ
أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا۟ ٱلْفِتْنَةَ لَءَاتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا۟ بِهَآ إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ كَانُوا۟ عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن
قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلْأَدْبَٰرَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ ٱللَّهِ مَسْـُٔولًا ﴿١٥﴾ قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلْفِرَارُ إِن فَرَرْتُم
مِّنَ ٱلْمَوْتِ أَوِ ٱلْقَتْلِ وَإِذًا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ
إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوٓءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾ ﴾

[١٢] او هغه وخت (یاد کړه) چې منافقانو او هغو کسانو وویلې د کومو په زړونو کښې چې (د ضعف) مرض دی، چې مونږ سره الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ (د نصرت) وعده نه ده کړې مګر د غولولو وعده (چې هیڅ واقعیت نه شي موندلی).

[١٣] او هغه وخت (هم یاد کړه) چې د منافقانو څخه یوې ډلې وویلې چې: ای د یثرب (د مدینې منورې) اوسېدونکو! تاسو ته (دلته) د اوسېدانې ځای نشته (خپل خانونه مه وژنئ) نو تاسو بېرته (خپلو کورونو ته) ورو ګرځئ؛ (او هملته غلي کښنئ).

او (هغه وخت هم یاد کړه) چې د منافقانو یوې لویې ډلې د نبي کریم ﷺ څخه اجازه وغوښتله (او وېې ویلې چې: یقینًا زمونږ کورونه حفاظت ته ضرورت لري (په خطري ځایونو کښې پراته دي نو مونږ ته اجازه راکړه چې ورستانه شو).

حال دا چې د دوی کورونو حفاظت ته ضرورت نه درلود، (نو په اجازه غوښتلو سره) د دوی اراده نه وه مګر (د جنګ د میدان څخه) د تېښتېدلو.

[١٤] او که چرته (د دوی) کورونه (په داسې حال کښې د لښکرو دپاره) د ورننویستلو ځایونه ګرځولی شوي وی چې د مدینې د اطرافو څخه (وربانديې ورتوی شوي وی او) بیا ترې څه فتنه (او ورانکاري) غوښتله شوې وی، نو دوی به سمدستي هغه ورکړې وی (د هغوی اجابت به یې کړی وی) او ایسارتیا به یې پرې نه وی کړې مګر ډېر لږ وخت.

[١٥] او یقینًا همدوی وه چې پخوا یې الله ﷻ ته عهد ورکړی وه چې دوی به (جنګ ته) شاګانې نه وراړوي، او د الله ﷻ عهد غوښتلی شوی دی (ضرور یې پوښتنه کېږي).

[١٦] (ورته) ووایه چې: هیڅکله به تاسو ته تېښتېدل څه ګټه ونه رسوي که چرته تاسو د مرګ یا وژلو څخه وتېښتئ؛ او په دغه وخت کښې به (چې وتېښتئ) تاسو ته څه فائده درنه کړی شي مګر لږ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وخت (چې لیکلی شوی عمر مو پوره شي).

[۱۷] (ورته) ووایه چې: دا هغه څوک دی چې تاسو د الله ﷻ (د تصرف) څخه منعه کړي که الله ﷻ تاسو ته د بدۍ (د مشقت) اراده وکړي، او یا تاسو ته د رحمت (او مهربانۍ) اراده وکړي؟ (څوک یې مخه نیولی شي؟).

او (ای پیغمبره!) دوی به د خپلو ځانونو دپاره د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست مونده کړي او نه کومک کوونکی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د وروستني ایت مضمون په ابتلاء او ازمېښت باندې مشتمل وه، په دې ایتونو کښې د همدغه ازمېښت څه نتائجو ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د خندق د غزا د کلک امتحان د نتائجو څه مثالونه په خپل اُمت باندې قرائت کړه چې د قیامت تر ورځې پورې ترې عبرت واخلي، هغه دا:

۱ـ په دې امتحان کښې د هر چا د ایمان اندازه او کیفیت پوره په ډاګه شو او د منافقانو دروغژن ایمان څرګند شو، او دا څکه چې:

الف: ته هغه وخت وریه یاد کړه چې منافقانو په ډاګه وویلې چې: زمونږ سره الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر د نصرت وعده نه ده کړې مګر د غولونې دپاره، زمونږ نصرت او په دغه لوی لښکر باندې (چې شاوخوا سیمه یې محاصره کړې ده) غالب جوړېدل بالکل دروغ خبره ده، په نن سبا کښې به وګورئ چې د مسلمانانو بنیاد به وویستلی شي او د تل دپاره به د ځمکې د مخ څخه محوه او نابود شي.

ب: هغه وخت ورته هم یاد کړه چې د منافقانو ذکره شوې بدګوماني ځینو د کمزوري ایمان خاوندانو هم ورسره بدرګه کوله البته د کمزورۍ په تفاوت سره، چې چا به ورسره د بدګومانۍ لکۍ ډېره تاووله او ځینو کمه، او ځینو به اقلاً نه ردوله او په سکوت سره به یې اوربدله.

ج: او هغه وخت هم وریه زړه کړه چې د منافقانو څخه یوې ډلې نور مخاطب کړه او ورته یې وویلې چې: ای د مدینې منورې اوسېدونکو! تاسو ټول ښه پوه شئ چې نن ورځ ستاسو دپاره دلته د اوسېدانې او پاتې کېدلو هیڅ ځای نشته، مګر په دې شرط چې یا بېرته پخواني دین ته واوړئ او یا د احاطه کوونکي لښکر د مشرانو سره خپل ارتباط قائم کړئ او د خپلو ځانونو دپاره ترې امان واخلئ. نو هلئ ژر شئ په توندۍ سره د دغو کارونو څخه یو کار وکړئ (یا مرتد شئ او یا د جنګ د میدان څخه بېرته وګرځئ او د امان غوښتلو بندوبس وکړئ).

د. هغه وخت هم ورته یاد کړه چې د منافقانو څخه یوه ټولګي د نبي کریم ﷺ څخه اجازه غوښتله چې لطفًا اجازه راکړه چې بېرته کورونو ته ستانه شو او دا څکه چې زمونږ کورونه په امن ځایونو کښې نه دي پراته بلکې په خالي ځایونو کښې اباد دي، مونږ ډارېږو چې څوک به یې تالا والا کړي.

حال دا چې د دغو منافقانو ذکره شوې خبره محض پلمه وه او دوی غوښتل چې په همدې بهانه د جنګ د میدان څخه خپلې پښې سپکې کړي او وتښتي، که نه نو په دغه وخت کښې خو یوازې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دوی کورونه په خطره کښې واقع نه وه، بلکې د دغه ښار د ټولو مجاهدینو کورونه په خطر کښې وه، د همدې کبله ټول مجاهدین په سنګرونو کښې ناست وه چې د خطر مخنیوی وکړي، ایا نورو مجاهدینو کورونه نه درلوده؟

۲ـ ای پیغمبره! د دغو کسانو ذکره شوې خبره (چې مونږ ته د خپلو کورونو د حفاظت دپاره اجازه راکړه) د دوی د بې ایمانۍ او د ایمان د کمزورۍ څخه منشأ اخلي.

نو که بالفرض هغه کفري لښکرې (چې د مدینې منورې په شاوخواوو کښې پرتې وې) د دوی کورونو ته په داسې حال کښې ورداخلې شوې وی چې دوی پکښې ناست وی، او ترې غوښتې یې وی چې هلئ ژرشئ کفر او شرک ته راواوړئ، نو دوی به سمدستي ورستانه شوي وی او کفر به یې قبول کړی وی، بلکې دوی به ورته هیڅ ځنډ نه وی کړی مګر لږ وخت.

هو! که بالمقابل ذکر شوی حالت په مخلصو مؤمنانو باندې ورشي نو ترهغه به د کفري لښکرو سره وجنګېږي چې یا شهیدان شي او یا دښمن ته ماتې ورکړي، خو نه به کفر ته بېرته واوړي او نه به د کفارو غوښتنه قبوله کړي.

۳ـ ذکرو شوو کسانو ته په کار وه چې په بهانو انو سره یې د تېښتېدلو په غرض اجازه نه وی غوښتې، او دا ځکه چې دوی د الله ﷻ سره پخوا عهد کړی وه چې د جنګ په میدان کښې به کلک دریږي او شاګانې به نه وراړوي چې وتښتي.

بې شکه د الله ﷻ سره د عهد ماتول بې پوښتنې نه پاتې کېږي، نو ضرور به عهد ماتوونکي د سزا سره مخامخ شي.

۴ـ ای پیغمبره! ذکرو شوو کسانو ته ووایه چې:

الف: هیڅکله تاسو ته تېښتېدل څه ګټه نه شي رسولی، څه چې تاسو ته په ازل کښې لیکلی شوي وي هغه به ضرور دررسېږي، که په ازل کښې درته مرګ لیکلی شوی وي د مرګ څخه به په تېښتېدلو خلاص نه شئ، او که هلته تاسو ته وژل لیکل شوي وي نو د وژلو څخه به نجات مونده نه کړئ.

ب: په همدې بنیاد په دغه وخت کښې چې تاسو د جنګ میدان ته شا کړئ نو د ژوند څخه به هیڅ استفاده ونه کړئ مګر هغه لږ ګټه چې تاسو ته لیکل شوې وي.

۵ـ ای پیغمبره! دا هم ورته ووایه چې:

الف: که الله ﷻ اراده وکړي چې تاسو ته بدي او مشقت در ورسوي نو دا هغه کس څوک دی چې تاسو ته نجات درکړي او د مشقت څخه مو وساتي؟

ب: که الله ﷻ تاسو ته د رحمت او نعمت د درکولو اراده وکړي نو دا هغه کس څوک دی چې مخه یې ونیسي؟

ج: لنډه دا چې دوی بلکې ټول مخلوقات د خپلو ځانونو دپاره د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست موندلی شي او نه کومکي، چې په دوستۍ یا کومک سره ورته څه ګټه ورسولی شي. او یا ترې اقلاً د څه ضرر مخنیوی وکړی شي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ د ﴿ وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ ﴾ الآية په ارتباط د سړي په ذهن کښې دوه پوښتنې ګرځي:

الف: یوه دا چې: د ﴿ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ د کلماتو څخه څوک مراد دي؟

د دې پوښتنې په جواب کښې علماوو کرامو دوه قوله کړي دي چې[۱]:

اول: د دغو کلماتو څخه پخپله منافقان مطلب دي او په دوهم ځل ذکر کښې د منافقت تعریف ته اشاره ده، چې هغوی د عقیدوي مرض د کبله منافقان بلل کېږي.

دوهم: په دغه کلماتو کښې د کمزوري ایمان خاوندانو ته اشاره ده، لکه چې ځینې جدید الایمان خلک په عین وخت کښې په همدغه مرض (د عقیدې په ضعف) باندې اخته وه.

مونږ ته دوهم قول ترجیح لري چې په دې کښې تاسیس دی او د تاکید څخه تاسیس بهتر دی، نو داسې معلومېږي چې کفري خبره به اصلاً منافقانو کړې وي، او ضعیف العقیده خلکو به یې ورسره لکۍ تاوه کړې وي، او په "هو" یا خندا سره به یې بدرګه کړې وي، او یا به یې ورباندې سکوت کړی وي او رده کړې به یې نه وي.

ب: بله دا چې په ﴿ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ ﴾ کښې کومې وعدې ته اشاره ده، چې منافقانو ورته د دروغجنې وعدې لقب ورکاوه؟

مونږ وایو چې: د همدغې وعدې ذکر په قرآن کریم او احادیثو ـ دواړو ـ کښې صورت نیولی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ [الصافات:۱۷۳] یعنې او یقیناً زمونږ لښکر (مؤمنان) همدوی (په خپلو دښمنانو باندې) غلبه موندونکي دي.

دوهم: د یوه اوږده حدیث لنډ مضمون دی چې نبي کریم ﷺ د خندق د کنودلو په وخت کښې وفرمایل چې: «أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ الْيَمَنِ»[۲]، یعنې نبي کریم ﷺ هغه بکرینه غټه ډبره په خپل کولنګ سره په درېوو ګوزارونو سره میده-میده کړه کومه چې په خندق کښې راڅرګنده شوه او د ماتولو توان یې د چا سره نه وه، او هم یې صحابه وو کرامو ﷺ ته بشارت ورکړ چې ماته د شام او فارس او هم د یمن کونجیګانې راکړې شوې چې زما امت به ورباندې اسلامي حکومت وچلوي.

ته به وایې چې د شام او فارس او یمن حکومتونه د هغې زمانې کلکې ډبرې وې او نبي کریم ﷺ په کولنګ باندې میده-میده کړې.

همدارنګه نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې عدي بن حاطب ﷺ مخاطب کړی وه چې: «وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتُفْتَحَنَّ كُنُوزُ كِسْرَى»[۳] یعنې که ژوند (عمر) دې اوږد شو نو خامخا به وګورې چې

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۵۸

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۴۵؛ سنن النسائي ج۲ ص۶۴

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۵۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هرومرو ضرور به د کسری خزانې د مسلمانانو په لاس فتحه کړی شي.
که څه هم ذکره شوې خبره په اول وار یوازې مُعتِب بن قُشَیر منافق کړې وه خو څرنګه چې ټول منافقان ورباندې راضي وه او ټولو یې تصدیق کاوه نو ځکه په ایت شریف کښې یې ټول منافقان قائلان ګڼلی شوي دي[۱].
دوی به دا هم ویلې چې: مونږ ته د شام او فارس او هم د یمن د نیولو وعدې راکول کېږي حال دا چې زمونږ یو کس هم د ډاره اودس ماتولو ته نه شي کېناستلی چې وبه وژلی شي[۲].

## سوال جواب

۱ـ که څوک د ﴿وَإِذْ قَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ﴾ په ارتباط ووايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ سَمَّى الْمَدِينَةَ يَثْرِبَ فَلْيَسْتَغْفِرِ اللهَ ﷻ هِيَ طَابَةُ هِيَ طَابَةُ»[۳] یعني هرڅوک چې "المدينة" په "يَثْرِبَ" سره ونوموي نو هغه دې د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي، دا خو پاکيزه ده، دا خو پاکيزه ده.
نو پوښتنه دا ده چې: ايا ايت او حديث څه منافات نه لري؟
مونږ وايو: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو ذکر شوی حديث ضعيف ګڼلی دی[۴]، خو بهتره دا ده چې په جواب کښې وويلی شي چې:
الف: په حديث شريف کښې د «هِيَ طَابَةُ هِيَ طَابَةُ» جملو څخه څرګندېږي چې په "يَثْرِب" ويلو سره هغه څوک ګنهګارېږي (بايد مغفرت وغواړي) کوم چې ورباندې د دغه نامه اطلاق د وصفيت په لحاظ وکړي، دا ځکه چې د «يَثْرِبَ» کلمه په اصلي تورو کښې د "تَثْرِيب" د کلمې سره متحده ده، او "تَثْرِيب" خو د ملامته کولو او پيغور ورکولو معنی ورکوي[۵].
نو حاصل يې داسې راځېژي چې: مدينه منوره د ملامتيا او پيغور ځاى نه دى بلکې پاکيزه او سپېڅلی مقام دی چې په اوسېدانې سره يې هيڅچا ته د بدۍ ګوته نه نيوله کېږي.
ب: په ايت شريف کښې خو د منافقانو قول حکايت شوی دی، او اعتراض به په هغه وخت کښې واقعًا صورت نيولی وی چې د الله ﷻ د پلوه بدون د حکايته په همدغه نامه ياده شوې وی.
ج: څه لرې نه ده چې حديث شريف د هغه وخت څخه په وروسته وخت باندې محمول شي چې نبي کريم ﷺ ورباندې د "يَثْرِب" په عوض د "الْمَدِينَة" نوم کېښود. که نه نو په لومړيو وختونو کښې خو نبي کريم ﷺ هم په همدغه نامه (يَثْرِب) باندې ياده کړې ده لکه چې فرمايي: «رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أُهَاجِرُ مِنْ مَكَّةَ إِلَى أَرْضٍ بِهَا نَخْلٌ فَذَهَبَ وَهَلِي إِلَى أَنَّهَا الْيَمَامَةُ أَوِ الْهَجَرُ فَإِذَا هِيَ الْمَدِينَةُ يَثْرِبُ»[۶] يعني

(۱) تفسير ابي السعود ج۷ ص۹۴
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۵۱۴؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۵۲۷
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۰۹
(۴) تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۷۳
(۵) لسان العرب ج۱ ص۲۳۵
(۶) صحيح البخاري ج۱ ص۵۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ما په خوب کښې ولیده چې یقینًا زه د مکې معظمې څخه داسې ځمکې ته هجرت کوم په کومه کښې چې د کجورو ونې دي، نو زما خیال "الْيَمَامَة" یا "الْهَجَر" ته لاړ (چې دا به مې هجرتځای وي) خو ناڅاپه معلومه شوه چې په خوب کښې لیدلې ځمکه المدینه (یثرب) وه.

## عورة څه معنی؟

۳_ په ﴿ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ ﴾ کښې د ﴿ عَوْرَةٌ ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النور: ۳۰] ایت لاندې د مقام په لحاظ تعریفه کړې ده چې دا د انسان د هغه اندام څخه عبارت ده د کوم په لوڅولو باندې چې سړی شرمېږي او نه خوښوي چې څوک یې وګوري.

خو د دې مقام په لحاظ ورباندې اضافه کوو چې:

که څه هم دغه ﴿ عَوْرَةٌ ﴾ کلمه اصلاً مصدر ده مګر د مبالغې په توګه دلته په ﴿ بُيُوتَنَا ﴾ کښې په "بُيُوت" باندې حمله شوې ده، نو مفسرینو کرامو یې حاصل داسې اخستې دی[1] چې:

یقینًا زمونږ کورونه په خطرناک ځای کښې موقعیت لري، د دې خبرې ډار شته چې مونږ به دلته یاستو او هلته به مو په کورو باندې غلو او داړه مارانو چپاو وروړی وي او هرڅه به یې تالا والا کړې وي، چې دا کار مونږ نه خوښوو او ورباندې شرمېږو، نو اجازه راکړه چې مونږ د دغه شرم څخه خپل ځانونه بچ کړو او د کورونو حفاظت وکړو.

## څو نکات

۴_ په ﴿ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ﴾ الآیة کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ دُخِلَتْ ﴾ کښې مستتر ضمیر په وړاندېني ایت کښې د ﴿ يَثْرِبَ ﴾ کلمې ته راجع ګڼلی دی، مګر بهتره دا ده چې دا ضمیر په ﴿ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ ﴾ کښې د "بُيُوت" کلمې ته راجع شي، کومه چې د ﴿ يَثْرِبَ ﴾ د کلمې څخه ورته نژدې ده.

ب: که څه هم "دَخَلَ، يَدْخُلُ" لازم باب دی متعدي نه دی چې مجهوله ماضي ولري، خو په دې مقام کښې د "جَعَلَ" معنی ته متضمن دی نو ځکه ترې مجهوله ماضي "دُخِلَتْ" هم اشتقاقه شوې ده.

ج: په ایت شریف کښې ځکه صراحت نه دی شوی چې که بالفرض د منافقانو کورونه د هغه یا دغه لښکر دپاره د ورننویستلو ځای ګرځولی شوی وی نو د هغه اجابت به یې کړی وی، ترڅو په عموم باندې دلالت وکړي، چې منافقان به په ډېرې اسانۍ سره کفر ته راواوښتي وی که کوم لښکر ورباندې چپاو وروړی وی، برابره خبره ده چې محاصره کوونکی لښکر وی او یا بل کوم لښکر وی.

د: د ﴿ عَلَيْهِم ﴾ کلمه د دې دپاره نازله شوې ده ترڅو څرګنده شي چې د لښکر د ورننویستلو په فرضیه کښې دا هم شامله ده چې منافقان په خپلو کورونو کښې ناست وي او لښکر ورباندې د کومه طرفه حمله وروړې وی، حال دا چې دوی خپلو ځانونو ته د کورونو د ساتونکو لقب ورکړې وه

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۲۳۳؛ تفسیر الخازن ج۴ ص۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو د دې سره-سره د کورونو حفاظت به يې نه وی کړی بلکې فتنه به يې خپله کړې وي.

ه: په دې مقام کښې علماوو کرامو د "فِتْنَة" کلمه په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۱] لکه:

اول: چې منافقان صریح کفر ته وربللی شوي وی.

دوهم: چې دوی د مسلمانانو جنګ ته وردعوت کړی شوي وی چې: هلئ ژرشئ! تاسو د داخل څخه ورباندې جنګ پیل کړئ.

غالبه دا ده چې مفسرینو کرامو به د فتنې دپاره یو-یو مثال ښودلی وی او حصر به يې مراد نه وي، نو مطلب به دا وي چې که د منافقانو څخه هغوی هر ډول ورانکاري غوښتې وی، دوی به په لبیک ویلو سره وردانګلي وی.

نو د پاسنیو نکاتو په ملحوظ د ایت شریف مضمون داسې راخېژي چې:

منافقانو د جنګ د میدانه د تښتېدلو په غرض اجازه غوښتله چې مونږ د بې ایمانۍ یا د ایمان د کمزورۍ د کبله اجازه نه غواړو بلکې مطلب مو فقط د کورونو حفاظت دی.

خو که بالفرض د هغوی کورونه په داسې حال کښې د دښمن د ورننویستلو ځایونه ګرځولی شوي وی چې هغوی پکښې د حافظانو په حیث موجودیت درلودی، نو هم د خپلو کورونو حفاظت به يې نه وی کړی، او سمدستي به يې د دښمن هرې غوښتنې ته لبیک ویلی وی که څه هم غوښتنه کفر ته دعوت وی، یا د مسلمانانو په مقابل کښې وسلوال جنګ وی، او داسې نور.

نو په دغه وخت کښې به پوره څرګنده شوې وی چې د هغوی د کورونو حفاظت مطلب نه وه، بلکې د جنګ د میدانه يې تښتېدل مطلب وه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

**۵ـ** که څوک وایي چې په ﴿ وَلَقَدْ كَانُوا۟ عَـٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ ﴾ **الآیة** کښې کوم عهد ته اشاره ده؟ یا په بل عبارت: منافقانو یا ضعیف الایمانو مسلمانانو په کوم وخت کښې عهد کړی وه چې مونږ به د جنګ میدان ته شاګانې نه وراړوو؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو د دغه عهد د تعین دپاره متعدد صورتونه ښودلي دي، خو کوم صورت چې بهتر برېښي ـوالله ﷻ أعلمـ هغه دا دی چې: د خندق د غزا دپاره به هم نبي کریم ﷺ د غازیانو څخه عهد اخستی وي چې د جنګ د میدان څخه به نه تښتئ او مقاومت به کوئ.

لکه څنګه يې چې همدغسې عهد ترې د حدیبې په ورځ اخستی وه.

جابر ﷺ د حدیبې عهد ته په خپل یوه حدیث کښې اشاره کوي چې: «بَايَعْنَاهُ عَلَى أنْ لا نَفِرَّ»[۲] یعنې: مونږ د نبي کریم ﷺ سره د حدیبې په ورځ بیعت وکړ چې مونږ به نه تښتو او د دښمن په مقابل کښې به مقاومت کوو.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۱۳۶؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۲۸

(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۱۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو دغه د خندق د غزا عهد منافقانو مات کړ ـ لکه چې بحث پکښې روان دی ـ او مخلص مؤمنان وربانديې کلک ودرېده، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ﴾ [الأحزاب:۲۳] يعنې د مؤمنانو څخه داسې کسان دي کومو چې د (منافقانو په عکس) هغه عهد رښتيا کړ کوم چې دوی الله ﷻ ته ورکړی وه، چې مونږ به تېښته نه کوو.

## يادونه

۶ـ ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې په دغې غزا کښې اتيا (۸۰) تنه بدون د نبي کريم ﷺ د اجازې څخه د جنګ د ميدان څخه خپلو کورونو ته لاړه[1]، الله ﷻ پوهېږي چې څومره کسانو به په دروغينې بهانې سره اجازه ترلاسه کړې وي او څومره کسانو به په رښتياوو سره.

﴿ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَٱلْقَآئِلِينَ لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾ أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَٱلَّذِى يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِ ۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلْخَيْرِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا۟ فَأَحْبَطَ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُونَ ٱلْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا۟ ۖ وَإِن يَأْتِ ٱلْأَحْزَابُ يَوَدُّوا۟ لَوْ أَنَّهُم بَادُونَ فِى ٱلْأَعْرَابِ يَسْـَٔلُونَ عَنْ أَنۢبَآئِكُمْ ۖ وَلَوْ كَانُوا۟ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓا۟ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾ لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ ﴾

[۱۸] بې شکه الله ﷻ ستاسو (د جملې) څخه د خيريه کارونو په بندوونکو باندې پوهېږي، او په هغو ويونکو (باندې هم پوه دی کوم) چې خپلو ورونو ته وايي چې: مونږ ته راشئ (د جنګ د ميدان څخه راوتښتئ)، او (بالآخره په هغو کسانو باندې هم پوه دی کوم چې) جنګ ته نه ورځي مګر لږ وخت (چې د رياکارۍ مطلب يې پوره شي او بس).

[۱۹] په داسې حال کښې (هغوی د خيريه کارونو مخنيوی کوي) چې ستاسو (په ګټه) باندې ډېر سخت بخيلان دي (ډېر زيات وربانديې خپه کېږي).

نو کله چې (د) ډار (وخت) راشي نو ته هغوی ګورې چې تاته په داسې شان سره کتل کوي چې سترګې (د سترګو ګاتې) يې (په کولکونو کښې) د هغه چا غونډې اوړي را اوړي (چورلېږي) په کوم باندې چې د مرګ کېدلو د کبله بې هوشي وراچولی شوې وي (ورغلې وي).

---

(۱) البحر المحيط ج۸ ص۴۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو کله چې (د) ډار (وخت) لاړ شي (تېر شي بيا) تاسو ته په تېرو ژبو (او لوړ اواز) سره ضرر دررسوي، په داسې حال کښې چې دوی په غنيمتي مالونو باندې ډېر حارصان (او بخيلان) وي (چې يوازې همدوی يې ترلاسه کړي او بس).

(ای پيغمبره!) دغو کسانو (په واقع کښې) ايمان نه دی راوړی نو الله ﷻ د دوی (نېک) اعمال ضائع کړه (هيڅ اجر به ورباندې ورنه کړي)، او دا کار په الله ﷻ باندې اسان دی (دا خيال دې څوک نه کوي چې ظاهري ايمان به يې مخه ونيسي).

[۲۰] (د زياتې بې همتۍ د کبله) دغه کسان ګومان کوي چې (کفري) ډلې نه دي تللې (بېرته نه دي ستنې شوې).

او که (بالفرض دغه کفري) ډلې راشي (بېرته راتاوې شي) نو دوی (دغه کسان) به خوښوي چې کاشکې چې يقينًا دوی په بانډچيانو کښې د بيديا اوسېدونکي وی (او د يو بل څخه) يې ستاسو د خبرونو پوښتنې کولی. او که (بالفرض) چرته دوی په تاسو کښې (د ښار اوسېدونکي) وی نو جنګ به يې نه وی کړی مګر ډېر لږ وخت.

[۲۱] (ای مؤمنانو!) يقينًا تاسو ته د الله ﷻ په پيغمبر کښې غوره (او ښايسته) اقتداء پرته ده (نو استفاده ترې وکړئ، البته دا) د هغه چا دپاره کوم چې د الله ﷻ د لقاء (ديدار) او د وروستنۍ ورځې (د قيام) اميد لري او الله ﷻ ډېر يادوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې هم د وړاندېنيو ايتونو مضمون تعقيب شوی دی او د منافقانو څه نور بد عادتونه او خاصيتونه شرحه شوي دي. او هم پکښې مؤمنان هڅولی شوي دي چې د منافقانو دعوت او غوښتنې ته پښنو لاندې کړي او د نبي کريم ﷺ په اتباع او پيروۍ باندې دائم او قائم پاتې شي. نو حاصل يې داسې راځېژي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د منافقانو څه نور عادات هم قرائت کړه ترڅو ترې دوی د قيامت تر ورځې پورې د عبرت درس واخلي، هغه دا:

۱ـ ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ـبرابره خبره ده چې په اخلاص سره وي او که په منافقت سره ـ تاسو لاندې ټکو ته متوجه شئ:

الف: الله ﷻ ستاسو د جملې څخه په هغو کسانو باندې ښه پوه دی کوم چې د مؤمنانو پښنو ته تيرې وراچوي او د جهاد څخه يې را ايساروي، چې قرار په کورونو کښې کېنئ او د جنګ ميدان ته مه ورځئ؛

ب: او هغه خلک هم ورته ښه پوره معلوم او ښکاره دي کوم چې خپلو نسبي او ديني او هم مسلکي ورونو ته وايي چې مونږ ته راشئ او زمونږ غونډې په کورونو کښې ارام وکړئ او د نبي کريم ﷺ ملګرتيا ته مه ورځئ؛

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: بالآخره هغه کسان هم د الله ﷻ څخه پټ نه دي، کوم چې جنګ ته فقط او فقط د ریاکارۍ دپاره سرونه وربنکاره کوي چې خلک یې وګوري، او کله چې همدغه غرض په لږ وخت کښې لاس ته ورشي نو سمدستي بېرته کورونو ته ستنېږي او د جنګ د میدان څخه تښتي.

دغو درېواړو ډلو ذکره شوې تګلاره څکه خپله کړې ده چې دوی ستاسو په نصرت او برې باندې ډېر زیات بخل کوونکي دي او دوی نه غواړي چې تاسو د ښې ورځې خاوندان جوړ شئ، نو دوی چې هر څه کوي ودې کړي، یقیناً دوی ټول الله ﷻ ته په تفصیل سره معلوم دي نو هرې یوې ډلې او د ډلې هر یوه غړي ته به د هغه د حال سره موافقه سزا ورکړي.

۲_ اې پیغمبره! د ذکرو شوو کسانو بل خاصیت او عادت دا دی:

الف: کله چې وېره او ډار راشي نو د ډېر بې زړه توب د کبله ته هغوی ګورې چې تاته داسې کتل کوي لکه چې ارواګانې یې الوزي. یا په بل عبارت: د دوی سترګې په کولکونو کښې داسې اوړي او را اوړي، ته به وایې چې څنکدن یې دی او سات ګړی ته به ومري.

ب: خو کله چې ډار د منځه لاړ شي نو سمدستي د ذکرو شوو کسانو حال بدل شي، سمدستي تاسو ته خپلې تېرې ژبې در اُوږدې کړي او د غنیمت په مال کښې د هر چا څخه غټه ونډه غواړي. او دا څکه چې دوی په مال باندې ډېر زیات شومان دي او نه خوښوي چې د همدوی څخه په غیر نور څوک ترې استفاده وکړي، د دوی زړونه غواړي چې د ټول غنیمت څخه غېږه راتاوه کړي.

۳_ اې پیغمبره! دغو کسانو واقعي ایمان نه دی راوړی او محض په خولو طیبه کلمه وایي، نو الله ﷻ به د دغو کسانو هغه اعمال هم ضائع کړي کوم چې دوی یې د نېکو اعمالو په شکل ترسره کوي.

هو! که دغه کسان دې ته په تمه وي چې الله ﷻ به یې اعمال ضائع نه کړي، د ده ﷻ مهرباني زښته ډېره ده، نو دا تمه دې نه کوي، دا څکه چې دا کار الله ﷻ ته ګران نه دی او د مهربانۍ د لوېوالي سره څه منافات نه لري، چې د نېک عمل د قبول دپاره د ایمان موجودیت شرط دی او دا شرط په دوی کښې نشته.

۴_ د ذکرو شوو کسانو نور خاصیتونه دا دي:

الف: دوی د ډېر بې زړه توب د کبله اوس هم ګومان کوي چې کفري لښکرې بېرته نه دي ستنې شوې او ماتې یې نه ده خوړلې، د دوی خیال وه چې هغوی ته به هیڅوک ماتې ورنه کړی شي.

ب: او که بالفرض کفري لښکرې بېرته راشي او بیا په مدینه منوره باندې د یرغل اراده وکړي، نو دغه کسان به دا خوښه کړي چې کاشکې دوی د بانډچیانو سره په بېدیا کښې اوسېدلی او بالکل د ښاره وتلي وی، او بالآخره هملته په بېدیا کښې ستاسو د خبرونو څخه پوښتنه وکړي، چې د نابودۍ او محوې وخت وریاندې ورغلی دی او که ورنژدې شوی دی؟ او داسې نور.

ج: که بالفرض کفري لښکرې بېرته راستنې شي او ذکر شوي کسان ستاسو په منځکښې موجودیت ولري او بېدیا ته نه وي تښتېدلي، نو په دغه وخت کښې به هم په اخلاص سره جنګ ونه کړي بلکې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د رياكارۍ دپاره به پكښې د پخواني عادت په مطابق ډېر لږ وخت اشتراک وكړي او بس
۵_ اى مخلصو مؤمنانو! ستاسو دپاره د الله ﷻ د لېږلي شوي بنده (محمد ﷺ) په عالي شان كښې ډېره ښه او كټوره اقتداء نغښتې ده، نو په همدغې اقتداء باندې كلک شئ او د منافقانو د پېروۍ څخه ځانونه بچ وساتئ؛ خو په ياد ولرئ چې:
د پيغمبر ﷺ پيروي او هغه پسې اقتداء د هغو كسانو په نصيب كېږي او كټه ترې اخلي كوم چې:
الف: د الله ﷻ ملاقات (ديدار) ته په تمه وي.
ب: او د قيامت په قيام (په وروستنۍ ورځې) باندې عقيده درلودونكي وي.
ج: او بالآخره الله ﷻ ډېر يادوي او خپل اطمنان ورباندې حاصلوي.

## توضيحات

۱_ په ﴿ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ ﴾ كښې د "مُعَوِّقِيْنَ" كلمه د "تَعْوِيْق" څخه اشتقاقه شوې ده چې مجرد يې "عَوق" _لكه "قَوْل"_ دى، "عَوْق" د خير د كار څخه منعه كولو ته وضعه شوى دى[۱] په دې مقام كښې د خير كار د ايمان راوړلو او د مؤمنانو سره د كومک كولو څخه عبارت دى.
د همدې مضمون څخه الله ﷻ په [القلم: ۱۲] كښې په ﴿ مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ ﴾ سره تعبير كړى دى.
دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ مِنكُمْ ﴾ كښې ټول هغه كسان مخاطب دي كومو چې په ژبه باندې طيبه كلمه ويلې وه او د ايمان دعوه كوونكي وه[۲]، برابره خبره ده چې په دعوه كښې رښتيني وه لكه صحابه كرام ﷺ، او كه پكښې دروغژن وه لكه منافقان.
پاتې شود دا خبره چې دغه كسان څوک وه كومو ته چې په آيت شريف كښې اشاره شنوې ده؟ نو د دوى د تعين په هكله مفسرينو كرامو متعدد صورتونه ښودلي دي[۳]، كه څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وكړي، مونږ ته يې په تعين كښې څه خاصه كټه ونه بريښېدله، مونږ فقط همدومره ليكو:
هرڅوک چې وه خو په اول سر كښې يې منافقان واقع وه لكه معتب بن قشير، عبد الله بن أبي بن سلول او داسې نور. او د قيامت تر ورځې پورې دغسې كسان د الله ﷻ څخه نه شي پټېدلى، نو په خپل وخت كښې به موافقه سزا وركړي.

## شُح څه معنى؟

۲_ په ﴿ أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ﴾ او ﴿ أَشِحَّةً عَلَى ٱلْخَيْرِ ﴾ كښې د ﴿ أَشِحَّةً ﴾، ﴿ أَشِحَّةً ﴾ دواړه كلمې د "شُح" څخه اشتقاقې شوې دي، "شُح" هغه شديد بخل ته وايي د كوم سره چې حرص هم ملګرى وي[۴].

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۶۵
(۲) نظم الدرر ج۶ ص۸۶
(۳) روح المعاني ج۲۱ ص۱۶۳؛ زاد المسير ج۶ ص۱۸۸
(۴) لسان العرب ج۲ ص۴۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ»[۱] يعني او تاسو د کلک بخل څخه خپل ځانونه وساتئ ځکه چې همدغه شديد بخل هغه خلک هلاک کړي دي (د دوزخ کندي ته يې غورځولي دي) کوم چې ستاسو څخه وړاندې تېر شوي دي، او دا ځکه چې همدغه بخل هغوی د چلو وينو په تويولو باندې ور وځېژول، او هغوی د همدغه بخل د کبله محارم حلال وګڼل، او ناجائزه کارونو ته يې د جائزه کارونو لقب ورکړ.

نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځېژي چې: منافقان په تاسو باندې د هرې نفعې بخيلي کوي، او نه يې خوښېږي چې تاسو نصرت او خوشالي مونده کړئ دا د يو پلوه. او د بله پلوه همدغه کسان په غنيمتي مالونو باندې ډېر حارصان او بخيلان دي او نه غواړي چې تاسو ترې استفاده وکړئ. ته به وايې چې دغه غنيمت فقط او فقط همدوی ترلاسه کړی دی او بس.

## د سَلَق معنی

۳ـ په ﴿ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ ﴾ کښې د "سَلَقُوا" کلمه د "سَلْق" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاق شوې ده، که څه هم د "سلق" دپاره نورې معناوې هم شته خو يوه معنی يې په شدت سره اواز پورته کول دي[۲]. په همدغې معنی باندې په يوه حديث کښې هم استعمال شوی دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ حَلَقَ وَسَلَقَ وَخَرَقَ»[۳] يعني زه د هغه چا څخه بېزار يم کوم چې د مصيبت په وخت کښې خپل وېښتان وباسي او اواز أوچتوي (په لوړ اواز سره ژاړي) او خپلې جامې (ګرېوان) څيروي.

يعني ای مؤمنانو! د منافقانو خاصيت دا دی چې د جنګ په وخت کښې د بې زړه توب د کبله داسې بربښي لکه چې ساګانې يې ختمېږي او مري، خود غنيمت د وېش په وخت کښې په لوړ اواز سره غوښتنه کوي او تاسو ته په تېرو ژبو ضرر رسوي، چې هلئ زر شئ مونږ ته يې راکړئ، زمونږ څخه زيات مستحق بل هيڅوک نشته.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې الله ﷻ ته خو د هر کار اجراء کول اسان دي، نو د څه حکمت په بنياد يې په ﴿ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴾ کښې د منافقانو اعمالو ته اشاره وکړه چې د دغو حبطه کول (ضائع کول) په الله ﷻ باندې اسان دي او څه اشکال ورته نه لري؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: دا د دې دپاره ترڅو د منافقانو هغه تصور د منځه يوړل شي د کوم ظهور چې امکان درلود هغه دا چې دوی به ويلی چې الله ﷻ ډېر زيات مهربان دی، تمه شته

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۲۰
(۲) لسان العرب ج۱ ص۱۵۹
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې زمونږ دغه رياكارانه عمل به هم قبول کړي او اجرونه به راکړي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه دا هم څه لرې نه ده چې د ذکر شوي عبارت په نزول سره الله ﷻ خپل قهاريت ته اشاره کړې وي، چې د منافقانو د اعمالو په ضائع کولو سره الله ﷻ ته څه مشکل نه شي جوړېدلی او هیڅوک او هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا﴾ [الشمس: ۱۵] یعنې الله ﷻ ثموديان هلاک کړه او د عاقبت څخه يې (د انسانانو غوندې) نه ډارېده چې د دغه کار څخه به راته څه مشکل جوړ شي او د انتقام سره به یې مخامخ شم.

﴿وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُوا۟ هَـٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَـٰنًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَـٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِىَ ٱللَّهُ ٱلصَّـٰدِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٤﴾ وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا۟ خَيْرًا ۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلْقِتَالَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾﴾

[۲۲] او هر کله چې مؤمنانو (مختلفې کفري) ډلې ولیدلې نو (د منافقانو په عکس) دوی وویلې چې: دا هغه (نصرت) دی د کوم وعده چې زمونږ سره الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ کړې وه، او الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ رښتیا ویلي دي (زمونږ د نصرت وخت ډېر رانژدې دی). او دغو (لېدلو) ورته زيات نه کړ مګر ایمان او انقیاد (چې عقیدې یې لا کلکې شوې او غاړې ایښودل یې لا اضافه شوه).

[۲۳] د مؤمنانو د جملې څخه داسې سړي (نارينه) شته چې هغه خبره یې رښتیا کړه په کومه باندې چې هغوی د الله ﷻ سره عهد کړی وه (چې مونږ به په پوره مېړانه جنګېږو).

نو د همدوی څینې هغه څوک دي چې خپل نذر یې اداء کړ (شهادت یې په برخه شو او یا ورته مرګ ورسېد)، او څینې هغه څوک دي چې (د خپل عهد تکراري رښتیا کولو ته) منتظر دي، او دغو (مؤمنانو خپل عهد د منافقانو غوندې) تبدیل نه کړ، تبدیلول.

[۲۴] (مؤمنانو او منافقانو دواړو ډلو خپله-خپله کړنلاره) د دې دپاره (غوره کړه) ترڅو الله ﷻ صادقانو ته د خپل صدق (ربښتینتوب) جزا (اجر) ورکړي او (ترڅو) منافقانو ته عذاب ورکړي، (البته) په دې شرط چې (د تعذیب) اراده یې ورته وشي.

او (بالآخره) یا وربانديې په رحمت سره رجوع وکړي (توبه یې قبوله وګرځوي که دوی توبه تائب شي)، یقیناً الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۵] او الله ﷻ هغه کسان چې کفر يې غوره کړی وه، د خپلو غُصو سره په داسې حال کښې بېرته ستانه کړه چې هيڅ خير (او ګټه) يې مونده نه کړه.
او (په دې باندې علاوه) الله ﷻ مؤمنانو ته د جنګ (په لحاظ) کافي شو (د دوی جنګ کولو ته يې اړتيا پرېنښودله). او الله ﷻ زورور (او) د کلکې ارادې څښتن دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د خندق د غزا د وروستنۍ کړۍ بيان نازل شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! د منافقانو د حالاتو د بيان څخه وروسته اوس بالمقابل په خپل اُمت باندې د مخلصو مؤمنانو څه حالات قرائت کړه چې د خندق په غزا کښې ورباندې تېر شوه، هغه دا:

۱ـ کله چې مؤمنانو کفري لښکرې وليدې چې د مدينې منورې په شاوخوا کښې يې سنګر ونيوه او منطقه يې په محاصره کښې واخستله، نو د دوی حالات بالکل د منافقانو د حالاتو په ضد وګرځېدل چې:

الف: مؤمنانو سمدستي يقين او باور ځرګند کړ، چې الحمد لله ﷻ زمونږ د نصرت او فتحې وخت رانژدې شو، الله ﷻ او د ده ﷻ پيغمبر ﷺ مونږ ته په حقه د نصرت وعده راکړې ده، په دغې وعده کښې هيڅ دروغ او غولول نشته، دا وعده د واقع سره برابره او رښتيانۍ وعده ده.

ب: کفري لښکرو د مؤمنانو حوصله کمزورې نه کړه او بلکې ايمانونه او استقامتونه يې لا پياوړي شوه او انقيادونو يې تقويه ومونده.

۲ـ مؤمنانو په دغه سخت حالت کښې د الله ﷻ د وعدې تصديق وکړ او په خپلو هغو وعدو باندې هم کلک ودرېدل کومې چې دوی په همدې هکله د جنګ د پيل څخه وړاندې الله ﷻ او د ده ﷻ پيغمبر ﷺ ته ورکړې وې. نو:

الف: ځينو خپل نذر او عهد پوره او انجام کړ، چې يا شهيدان شوه او يا وفات شوه، او د خپل ژوند د وروستنۍ سلګۍ پورې يې خپل عهدونه وساتل.

ب: او ځينې نور منتظر دي چې خپل-خپل عهدونه په نورو غزاګانو کښې تکرارًا او بيا-بيا رښتيا کړي، ترڅو چې دوی هم خپل نذرونه اداء کړي او د شهادت يا د مرګ سره مخامخ شي.

ج: لنډه دا چې مؤمنانو په خپلو عهدونو کښې په هيڅ ډول سره بدلون واقع نه کړ، لکه څنګه چې منافقانو خپل عهد بدل کړ، او د جنګ د ميدان څخه په يوه بهانه او بله بهانه وتښتېدل.

۳ـ ای پيغمبره! مؤمنانو او منافقانو متقابلې کړنلارې ځکه غوره کړې چې:

الف: ترڅو الله ﷻ رښتينو مؤمنانو ته د خپل رښتينتوب اجرونه او ثوابونه ورکړي.

ب: او ترڅو د منافقانو د خط السير نتيجه دا وګرځي چې الله ﷻ يې معذب کړي البته کله يې چې اراده وشي، او يا ورباندې په رحمت سره رجوع وکړي او د توبې توفيق يې په نصيب کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یقیناً الله ﷻ هم ښښونکی دی چې چاته یې اراده وشي، او مهربان دی چې چاته یې اراده وشي، دا دواړه د الله ﷻ لازم صفات دي، خو دا ښېله خبره ده چې د خپل اقدس ذات سره یې فیصله کړې ده، چې کفارو او منافقانو ته مغفرت نه کوي او د أخروي مرحمت څخه یې محروم ګرځوي.

۴ـ د خندق د غزا نتیجه دا شوه چې:

الف: الله ﷻ په خپل فضل سره کفري لښکرې له غُصې ډکې بېرته ستنې کړې او په غیبي قوت سره یې ماتې ورکړه.

ب: کفري لښکرو ته هیڅ ګټه په لاس ورنغله، بې د دې چې د لښکر کشۍ د لګښتونو متحمل شوه او په تولو نړۍ کښې شرمنده او خجالت شوه.

ج: په دې غزا کښې مؤمنانو دې ته اړ نه شوه چې کفري لښکرو ته په جنګ سره ماتې ورکړي، بلکې یوازې الله ﷻ د ماتې ورکولو کافي شو، چې د پرښتو غیبي لښکرې یې ورباندې ورنازلې کړې او سوړ تېز باد یې ورباندې وچلاوه.

الله ﷻ د ډېر قوت خاوند دی چې هیڅوک یې مقابله نه شي کولی، او هم د کلکې ارادې څښتن دی چې هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ﴾ الایة کښې د الهي وعدې په ارتباط لړ وړاندې د [الأحزاب: ۱۲] ایت په توضیحاتو کښې څه شرحه تېره شوې ده ـوالحمد لله ﷻـ، چې د دې مقام د وضاحت دپاره یې یو ځل کتل ښه دي.

۲ـ د ﴿مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُواْ﴾ الآیة په ارتباط لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: زید بن ثابت ؓ وایي چې: د عثمان ؓ د خلافت په دوره کښې د قرآن کریم د صحائفو څخه د مصاحفو د ترتیبولو په هکله چې مونږ کوم وروستنی ایت ثبت کړ، هغه همدغه ایت شریف وه چې بحث پکښې روان دی[۱].

ب: که څوک وایي چې علماوو کرامو لیکلي دي[۲] چې ذکر شوی ایت شریف د أنس بن النضر ؓ په شان کښې نازل شوی دی کوم چې د خندق د غزا څخه وړاندې د احد په غزا کښې شهید شوی وه؛ نو ایا وروستنی ایت د وړاندېنۍ واقعې دپاره شان نزول جوړېدلی شي؟

مونږ وایو: څرنګه چې سلفو صالحینو په مصداق باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۳] نو دلته د شان نزول څخه مصداق مطلب دی او د مصداق دپاره خو د ایت شریف د نزول څخه وروستوالی ضرور نه وي، نو ذکره شوې قیصه د ایت شریف د شان نزول څخه ګڼله کېږي خو د مصداق په معنی.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۵

(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۳۷

(۳) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د أنس بن النضر رضي الله عنه د شهادت قیصه

ج: د أنس بن النضر رضي الله عنه د شهادت قیصه علماوو کرامو ښه مفصله لیکلې ده خو څرنګه چې په دې مقام کښې ورپورې ذکر شوي سوال جواب څه ارتباط لري نو مونږ یې په لاندې ټکو کښې په لنډیز باندې اکتفاء کوو[1]:

اول: أنس بن النضر رضي الله عنه په لومړنۍ غزا (بدر) کښې ګډون نه وه کړی، نو دغه (عدم اشتراک) ورباندې ډېر دروند تمام شوی وه.

دوهم: یوه ورځې یې ورباندې خپل تحسر څرګند کړ چې: که الله ﷻ ما د کفارو بلې غزا ته حاضر کړي (او تر هغې مې ژوندی پرېږدي) نو هرو مرو او ضرور به الله ﷻ وګوري چې زه څه کوم.

درېیم: نو کله چې د أُحُد د غزا وخت ورسید او نه مه ري رضي الله عنه پکښې اشتراک وکړ نو خپله ذکره شوې ژمنه یې پوره کړه.

څلورم: او آن تر هغه وخته پورې د ... جنګېده، ترڅو چې شهید شو.

پنځم: او څه د پاسه آتیا ټپونه یې اوخت کړ چې د تورو، غشو او د نېزو په ټپونو باندې مشتمل وه، او د کفارو د پلوه مثله شوی هم وه او نه پېرانده کېده چې دا د چا لاش دی.

شپږم: بالآخره خپلې خور یې د لاس د یوې ګوتې څخه وپېژاند چې دا د أنس بن النضر رضي الله عنه لاش دی.

### نَحب څه معنی؟

د: په ﴿ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ ﴾ کښې د "نَحۡب" کلمه د متعددو معناوو دپاره وضعه شوې ده[2].

لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: په خپل ځان باندې د یوه شي نذر ګرځول د "نَحۡب" په نامه یادېږي.

دوهم: "نَحۡب" د "مَوۡت" (مرګ) سره مرادف دی، او داسې نورې.

ځینو مفسرینو کرامو په ایت شریف کښې د مرادي معنی په تعین کښې ډېر اوږد بحث کړی دی[3] خو کومه معنی چې مونږ ته د مقام او د ایت شریف د جملاتو سره مناسبه برېښي هغه دا ده چې: دلته د "نَحۡب" کلمه په ذکرو شوو دواړو معناوو باندې دلالت کوي په دې دول سره چې: مرګ د هرچا دپاره حتمي او ضروري شی دی نو مجازاً داسې ګڼلی کېږي لکه چې هرچا په خپل ځان باندې نذر کړی وي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ټولو رښتینو مؤمنانو په خپلو عهدونو باندې وفاء وکړه، چې د همدوی د جملې څخه ځینې وفات یا شهیدان شوه، او خپل نذرونه یې اداء کړه، او ځینې نور لا ژوندي پاتې دي او دې ته منتظر دي چې بیا بیا په خپلو عهدونو باندې وفاء وکړي او په پای کښې خپل نذرونه اداء کړي، چې یا وفات شي او یا د شهادت په درجو نائل شي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۳؛ صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۹

(۲) لسان العرب ج۱ ص۷۵۰؛ نظم الدرر ج۶ ص۹۴

(۳) روح المعاني ج۲۱ ص۱۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

هـ: که څوک وايي چې: يوه ورځې نبي کريم ﷺ طلحه بن عبيد الله ﷺ ته اشاره وکړه او ويې وفرمايل چې: «هَذَا مِمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ»[۱] يعنې دغه صحابي ﷺ د هغې ډلې څخه دی کوم چې خپل نَحب (نَذر) يې اداء کړی دی. نو که د "نَحب" کلمه په مرګ سره تفسيره شي د حديث شريف مطلب به داسې راوځېږي چې دغه صحابي ﷺ مړ دی او ژوندی نه دی، حال دا چې دا مطلب صحت نه لري؟

مونږ وايو چې: طلحه بن عبيد الله ﷺ د أُحد په غزا کښې د ډېرو مهلکو ځايونو څخه ژوندی تېر شو حتى چې يو لاس يې هم په همدغې غزا کښې شل شوی وه، نو نبي کريم ﷺ داسې وګاڼه لکه چې نوموړی شهيد شوی وي او خپل نظر يې اداء کړی وي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث شريف کښې اشاره کړې ده چې: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى شَهِيدٍ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ»[۲] يعنې که څوک خوښوي چې داسې يو شهيد ته وګوري کوم چې د شهادت سره-سره د ځمکې په مخ ګرځي، نو هغه دې طلحه بن عبيد الله ﷺ ته وګوري (چې هم شهيد دی او هم ګرځي).

## يادونه

۳_ په ﴿لِّيَجْزِىَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدْقِهِمْ﴾ الآية کښې د "ل" توري په متعلق کښې ځينو مفسرينو کرامو متعدد صورتونه جائز ښودلي دي[۳]، کوم صورت چې مونږ ته په زړه پورې بر ېښي هغه دا دی چې: دغه "ل" د وړاندېنيو ايتونو مضمون پورې ارتباط نيسي چې د مؤمنانو او منافقانو _دواړو_ د حالاتو په بيان باندې مشتمل دی، ته به وايې چې داسې نازل شوی وي چې: "إِنَّمَا فَعَلَ الْفَرِيْقَانِ مَا فَعَلَا لِيَجْزِيَ اللهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ" الآية. يعنې يقيناً ذکرو شوو دواړو ډلو هغه څه وکړه کوم يې چې وکړه او وړاندې بيان شوه، ترڅو الله ﷻ صادقانو ته د خپل صدق جزا ورکړي او ترڅو الله ﷻ منافقان په خپل منافقت سره تعذيب کړي.

همدې مضمون ته وړاندې په [الأحزاب:۸] ايت کښې اشاره شوې وه چې الله ﷻ به د دواړو ډلو څخه پوښتنه وکړي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: نظر پاسنۍ شرحې ته ذکر شوی "ل" د مؤمنانو په هکله حقيقتاً د تعليل دپاره دی، چې د دوی غرض همدا وه چې په خپل صدق سره الهي جزا او اجرونه حاصل کړي، او همدا ورباندې باعث وه. اما د منافقانو خو د خپل منافقت څخه الهي تعذيب غرض نه وه مګر

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۵
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۵۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مجازاً داسې وګڼل شوه لکه چې د دوی همدغه الهي تعذيب حاصلول غرض وه، نو ځکه يې د زښتو ډېرو دلايلو او خوارقو سره-سره منافقت ته ادامه ورکړه.

• نو د دوی په هکله خو ذکر شوی "ل" حقیقتاً د عاقبت دپاره دی، چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [القصص:۸] ايت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده هغه دا چې: د عاقبت "ل" د هغه "ل" نوم دی کوم چې په داسې نتيجه باندې داخلېږي چې د فاعل غرض نه وي، او بدون د ارادې يې د هغه په فعل باندې ترتب موندلی وي.

نو پوښتنه دا ده چې: په ذکر شوي بيان سره يوه کلمه (ل) په حقيقي معنی او هم په مجازي معنی دواړو کښې په يوه حال او يوه ايت کښې استعماله شوه، چې دا ډول استعمال په عربيت کښې مقبول استعمال نه دی؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د "ل" کلمه د مجاز د عموم په توګه د "ما يطلق عليه التعليل" دپاره استعماله شوې ده چې حقيقي او مجازي دواړه معناوې پکښې شموليت لري، او دا ډول استعمال مقبول هم دی، او د قرآن کريم په نورو ايتونو کښې هم نظاير لري لکه چې يو نظير يې په [الحج:۱۸] ايت کښې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ علی ذلک.

﴿ وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مِن صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾ وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَٰرَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾ ﴾

[۲۶] او (الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې) د اهل الکتابو د جملې څخه يې هغه کسان هم د خپلو قوي (او دنګو) کلاګلانو څخه رابښکته کړه کومو چې د کفري لښکرو سره کومک کړی وه (د پيغمبر ﷺ سره معاهده يې ماته کړې وه، چې د بنو قريظه وو څخه عبارت دي)، او الله ﷻ د همدوی (يهودي ډلې) په زړونو کښې رعب واچاوه (چې د قوي کلاګلانو څخه رابښکته شوه).

(نو دغه دی چې) تاسو يې يوه ډله قتلوئ (اعداموئ) او (بله) ډله (ماشومان او زنانه) يې اسيران ګرځوئ.

[۲۷] او الله ﷻ تاسو ته د دوی زراعتي ځمکې او د دوی کورونه (تعميرات) او د دوی (منقولې) مالونه وريا درکړه. او (هم يې په خپل کامل علم کښې نورې) داسې ځمکې (هم وړيا درکړې) کومې چې (تر اوسه پورې) تاسو پای مال کړې نه دي (چې د قيامت تر ورځې پورې به وخت په وخت ظهور کوي).

او (دا ځکه چې) الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت څښتن دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د خندق د غزا بيان اختتام موندلی وه او په دې ايتونو کښې د بنو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قریظه وو د غزا بیان ته اشاره شوې ده کومه چې د هغې غزا په تعقیب پیوسته واقع شوې وه، نو بیان د وقوع مطابق صورت نیولی دی. د دې غزا څه وضاحت ـإن شاء الله ﷻـ په توضیحاتو کښې راروان دی، نو د ایتونو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! الله ﷻ یوازې کفري لښکرې نااُمیده او شرمنده په شا ونه تمبولې بلکې د هغوی په ملګرې قبیله (بنو قریظه وو) باندې یې هم خپل غضب ورنازل کړ چې څه تفصیل یې دا دی:

۱ـ کله چې کفري لښکرې بېرته ستنې شوې او خپله محاصره یې ماته کړه نو د اهل الکتابو څخه د هغوی ملګرې قبیلې (چې بنو قریظه نومېده) په خپلو قوي کلاګانو کښې مورچې ونیولې او د کلاګانو دروازې یې بندې کړې.

د دوی خیال وه چې د هیچا به ورباندې زور ونه رسېږي، خو الله ﷻ د همدغې قبیلې جنګیالان د مورچو څخه رابښکته کړه او د خپلو قوي قوي کلاګانو دروازې یې ورباندې پرانستلې.

۲ـ د دوی په زړونو کښې الله ﷻ رعب او ډار واچاوه او ونه توانېدل چې خپلې کلابندۍ ته ادامه ورکړي، نو ځکه یې خپلې سلاوې په ځمکه باندې کېښودې.

۳ـ نو ای مؤمنانو! د هغوی د رابښکته کېدلو څخه وروسته لاندې کارونو صورت ونیوه:

الف: یوه ډله تاسو ووژل او خپل زړونه مو ورباندې ساړه کړه، کومو چې سلاوې پورته کولی شوې، او بلوغ ته رسیدلي وه.

ب: او بله ډله چې سلاوې یې نه شوې پورته کولی او د زنانه وو او ماشومانو څخه عبارت وه، هغه مو اسیران کړه او په نتیجه کښې ستاسو دپاره وینځې او غلامان جوړ شوه.

ج: الله ﷻ د غنیمت په توګه د هغوی زراعتي ځمکې او اباد کورونه او هم د هغوی منقولي مالونه تاسو ته وړیا درېبرزو کړه.

د: په دې باندې علاوه الله ﷻ ځینې نورې ځمکې هم ستاسو په قبضه کښې درکوي چې تر اوسه پورې تاسو هغه نه دي تر پښو لاندې کړي، خو د ده ﷻ په علم کښې تاسو ته درکړی شوې دي، چې موقع په موقع به ورباندې تاسو خپله قبضه ټینګه کړئ. او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې قدرت لري او هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی.

## توضیحات

۱ـ د بنو قریظه وو غزا د خندق د غزا په اختتام کښې پېښه شوه، چې کله کفري لښکرو د شپې د پلوه ماتې وخوړه او بېرته ستنې شوې نو د همدغې شپې په سبا نبي کریم ﷺ او نور مجاهدین خپلو کورونو ته ستانه شوه، خو په عین ورځ کښې د ذکر شوې غزا اعلان وشو.

## د بنو قریظه وو د غزا په باب څه معلومات

۲ـ که څه هم د دغې غزا په ارتباط علماوو کرامو[1] زښت ډېر اوږده معلومات راغونډ کړي دي

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۵۲۱؛ تفسیر الخازن ج۵ ص۱۰۴؛ تفسیر المظهري ج۷ ص۳۱۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او بنه پوره تفصیل یې ورکړی دی. مګر مونږ فقط د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو هیله ده چې د زیاتو تفصیلاتو دپاره همغلته مراجعه وکړی شي:

الف د دې غزا د شروع کېدلو وجه دا وه، چې بني قریظه وو (د یهودانو قبیلې) خپل هغه عهد مات کړ کوم چې دوی د نبي کریم ﷺ سره کړی وه، چې دواړه جانبه به یو د بل په ضد کار نه کوي، او دښمن به یې نه تقویه کوي.

ب کله چې کفري لښکرو د مدینې منورې په شاوخوا کښې سنګرونه ونیول، نو د دغو لښکرو یو کس ـ چې "حیي بن اخطب" نومېده او د بنو نضیرو یهودانو څخه وه کوم چې لا وړاندې د مدینې منورې څخه شړلی شوي وه ـ بنو قریظه وو ته ورغی او د ډېر جر او بحث څخه وروسته یې دغه قبیله دې ته چمتو کړه چې خپل عهد مات کړي او په مؤمنانو باندې د کفري لښکرو په تائید د داخل څخه حمله وکړي

ج خو د الله ﷻ فضل وه چې د عامر د قبیلې یو سړی په اسلام باندې مشرف شو او خپل اسلام یې پټ وساته[۱]. دغه سړي ـ چې نعیم بن مسعود نومېده ـ نبي کریم ﷺ ته خپل اسلام ښکاره کړ او تري ویې غوښتل چې څه کار کول ورته وسپاري

د: نبي کریم ﷺ نوموړی مکلف کړ چې د کفري لښکرو او بنو قریظه وو هغه معاهده مختله (وړانه) کړي کومې چې د اسلام په ضد صورت نیولی دی.

دغه صحابي ﷺ ذکر شوی تکلیف ترسره کړ او پکښې کامیاب شو. نو د همدې کبله ذکري شوې قبیلې په جنګ باندې سمدستي پیل ونه کړ او ورته زړه نازړه وه.

هـ کله چې کفري لښکرې د الله ﷻ په فضل بېرته ستنې شوې او مجاهدین هم خپلو خپلو کورونو ته په کامیابه توګه بېرته ور وګرځېده، نو په عین وخت کښې جبرائیل ﷺ نبي کریم ﷺ ته الهي فرمان ابلاغ کړ او لاندې سوال جواب یې ورسره وکړ:

جبرائیل ﷺ: ای پیغمبره! تا خو وسله کېښودله او په الله ﷻ باندې سوګند دی چې مونږ (د پرښتو ټولګي) تر اوسه پورې نه ده ایښې. نو د دوی غزا ته ور ووځه

نبي کریم ﷺ: «فَإِلَى أَيْنَ؟» نو کوم ځای ته ورووځم

جبرائیل ﷺ: «هَا هُنَا» دغه ځای ته.

«وَأَشَارَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ» او د بنو قریظه وو کلو ته یې اشاره وکړه.

و «فَخَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ إِلَيْهِمْ»[۲] نو سمدستي نبي کریم ﷺ د دغې قبیلې غزا ته ووت. او اعلان یې وکړ چې «لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلَّا فِي بَنِي قُرَيْظَةَ»[۳] هیڅوک دې د مازدیګر لمونځ نه کوي مګر په بني قریظه قبیله کښې

---

(۱) سیرت ابن هشام ج ۳ ص ۲۴۷
(۲) صحیح البخاري ج ۲ ص ۵۹۰
(۳) صحیح البخاري ج ۲ ص ۵۹۱

Scanned by CamScanner

ز: صحابه کرام ﷺ د نبي کريم ﷺ په قيادت د دغې قبيلې څخه چاپير شوه او پنځه ويشت ورځې يا تقريباً يوه مياشت يې په خپله محاصره کښې وساتله.

ح: کله چې دغه قبيله په محاصره کښې تنګه شوه نو د نبي کريم څخه يې وغوښتل چې مونږ ته لُبابه بن المنذر ﷺ راولېږه ترڅو مونږ ورسره د خپلې تګلارې په هکله مشوره وکړو.

ط: لُبابه ﷺ هلته ورغی، نو هغوی ترې پوښتنه وکړه چې: که مونږ محمد (نبي کريم ﷺ) ته خپل ځانونه ورتسليم کړو نو زمونږ عاقبت به څنګه شي؟

لُبابه ﷺ خپل ستوني ته اشاره وکړه، يعنې ستاسو عاقبت او انجام به مرګ وي[۱].

ي: لُبابه ﷺ سمدستي په خپله غلطي باندې پوه شو چې د الله ﷻ د پيغمبر سره يې خيانت وکړ، نو بېرته ترې راستون شو او د جومات د ستنې پورې يې خپل ځان کلک وتاړه او ويې ويلې چې زه به خوراک او څښاک ونه کړم ترڅو چې زما توبه قبوله شي.

يا: دغه صحابي ﷺ د ستنې پورې شپږ يا اوه ورځې تړلی وه چې خپلې مانديني به دانسانی ضروریاتو او لمونځونو دپاره خلاصاوه او بيا به يې بېرته تاړه.

يب: بالآخره الله ﷻ د نوموړي صحابي ﷺ توبه قبوله کړه او نبي کريم ﷺ په خپل مبارک لاس باندې خلاص کړ.

د دغې عجيبې بنديخانې نښه اوس هم د منځه نه ده تللې او د نبوي ﷺ جومات په يوه ستنه باندې د لُبابه ﷺ نوم ليکلی شوی دی، ترڅو د قيامت تر ورځې پورې ترې خلک عبرت واخلي.

يج: بالآخره د بنو قريظه وو قبيله د خپلو قوي کلاګانو څخه رابنکته شوه او نبي کريم ﷺ ته يې خپل ځانونه تسليم کړه، چې ته زمونږ په هکله هره يوه فيصله اختياروې هغه زمونږ قبوله ده[۲].

يد: نو په دغه وخت کښې د آوس د قبيلې ځينې کسان نبي کريم ﷺ ته ورغله او عرض يې وکړ چې: ای د الله رسوله! دغه (بنو قريظه) پخوا زمونږ حليفان وه نو زمونږ په لحاظ ورسره داسې معامله وکړه لکه څنګه معامله دې چې د بنو قينقاع د قبيلې سره کړې وه، چې د وطنه يې وشړه، خو د قتل فيصلهورباندې مه کوه.

يه: نبي کريم ﷺ دوی مخاطب کړه چې: ايا تاسو په دې باندې خوښېږئ چې د دوی د فيصلې په هکله زه همدا ستاسو د قبيلې (آوس) څخه يوه سړي ته اختيار ورکړم چې هغه سړی سعد بن معاذ ﷺ نومېږي؟ نو دوی ټول په همدغې خبره باندې راضي شوه. نو نبي کريم وفرمايل چې: «فَذَاكَ إلى سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ»[۳] يعنې دا فيصله همدغه صحابي ﷺ ته وسپارله شوه.

يو: سعد بن معاذ ﷺ د خندق په غزا کښې زخمي شوی وه، کله چې نبي کريم ﷺ د فيصلې دپاره راوغوښت نو په خره باندې سور د فيصلې مجلس ته حاضر شو او د نبي کريم ﷺ ترڅنګ کېناست.

---

(۱) مسند أحمد بن حنبل ج۹ ص۴۷۳

(۲) سيرت ابن هشام ج۳ ص۲۵۷

(۳) تفسير الطبري ج۲۱ ص۱۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

یز که څوک وایي چې: تاسو وړاندې ولیکل چې بنو قریظه د نبي کریم ﷺ حکم ته تسلیم شوه او خپلې مضبوطې کلاګانې یې پرېښودلې او ترې رابښکته شوه حال دا چې کله سعد بن معاذ ؓ د فیصلې مجلس ته حاضر شو، نو نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: «هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ»(۱) یعنې دغه د بنو قریظه وو قبیله ستا په حکم باندې د خپلو مورچلونو څخه رابښکته شوې ده، نو ته وربانديې څه حکم کوې؟، بلکې په یوه اوږده حدیث کښې نبي کریم ﷺ په بل عبارت سره هم صراحت کړی دی چې: «انْزِلُوا عَلَى حُكْمِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ، فَنَزَلُوا»(۲) یعنې ای د بنو قریظه وو قبیلې! (که تاسو زما په حکمیت نه رابښکته کېږئ چې لُبابه ؓ ډار کړي یاست نو) د سعد بن معاذ ؓ په حکمیت رابښکته شئ (چې ستاسو د جهالیت د زمانې حلیف او دوست دی)، نو هغوی رابښکته شوه.

نو پوښتنه دا ده چې آیا ستاسو لیکنه د حدیث شریف منافي نه ده؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی منافات د دوه وو لارو څخه د یوې لارې په التزام سره د منځه تللی شي، هغه دا چې:

اول: چې بنو قریظه وو د خپلې فیصلې حکمیت سعد بن معاذ ؓ ته ورکړی وي، خو د هغه حکمیت داسې ګڼلی شوی وي لکه چې پخپله نبي کریم ﷺ حَکَم ګرځولی شوی وي. او دا ځکه چې د هغه حکمیت د نبي کریم ﷺ د منظورۍ څخه وروسته د اعتبار قابل ګرځېدلی وه.

دوهم: چې هغوی پخپله نبي کریم ﷺ ته د فیصلې حکمیت سپارلی وي، نو څرنګه چې نوموړي صحابي ؓ ته د نبي کریم ﷺ د پلوه د فیصلې وکالت ورکړی شوې وه نو داسې به ګڼلې شوې وي لکه چې هغه مستقیماً د هغوی د پلوه حَکَم ګرځولی شوی وي.

### تبصره

د احادیثو د صراحت څخه د لومړۍ حل لارې تائید معلومېږي لکه چې په اعتراض کښې ورته اشاره شوې ده، او د یوه وړاندیز څخه دوهمه حل لاره تائید استفاده کوي، لکه چې وړاندې په "یه" کښې شرحه شوې دی. او دا ځکه چې: که هغوی د سعد بن معاذ ؓ په حکمیت رابښکته شوي وی نو په کار وه چې دغه وړاندیز یې د نبي کریم ﷺ په عوض سعد بن معاذ ؓ ته کړی وی، چې فیصله یې په لاس کښې وه، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال وإلیه المرجع والمآل.

### د سعد بن معاذ ؓ فیصله

یح: کله چې سعد بن معاذ ؓ مطمئن شو چې د ده ؓ فیصله په ټولو نافذه ده حتی نبي کریم ﷺ هم ورته په درنه سترګه ګوري، نو وېې ویلې چې: زما فیصله دا ده چې د بنو قریظه وو بالغ نارینه

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۲۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دې ووژل شي، او متباقي ماشومان او زنانه دې غلامان او وينځې وګرځولی شي، او هم دې د دوی منقولي او غیر منقولي مالونه د مؤمنانو ترمنځ توزيع کړی شي.

يط: د سعد بن معاذ ﷺ فیصله عملي شوه، چې (۶۰۰) او لا زيات کسان ووژلی شوه او په هغو خندقونو کښې دفن کړی شوه کوم چې د همدوی دپاره کنودلی شوي وه[۱]. همدارنګه د (۷۵۰) کسانو په شاوخوا کښې ماشومان او زنانه غلامان او وينځې جوړ کړی شوه، چې د نجد په بازار کښې وپلورل شوه او په پیسو باندې یې د جهاد دپاره سلاوې وپېرودلې شوې[۲].

ک: د ذکرې شوې فیصلې په اورولو سره نبي کريم ﷺ سعد بن معاذ ﷺ مخاطب کړ چې: «قَضَيْتَ بِحُكْمِ اللهِ أَوْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ»[۳] يعنې تا خو د الله ﷻ او یا د حقيقي واكدار ﷻ په حکم سره حکم وکړ، يعنې همدا د هغو کسانو جزا ده ځوک چې په عين جنګ کښې خپل عهد مات کړي.

کا: په وژلو شوو کسانو کښې لاندې دوه تکي په پام کښې نیولی شوي وه:

اول: په زنانه وو کښې فقط يوه زنانه د قصاص په توګه ووژله شوه چې "بنانه" نومېده[۴]. او دا ځکه چې هغې يو صحابي د مېچنې په پله (غټه درغن) باندې وژلی وه چې خلاد بن سويد ﷺ نوميده، نورې زنانه يوه هم ونه وژله شوه.

دوهم: ماشومان هم ونه وژل شوه، صرف هغه کسان اعدام شوه چې بالغان وه او په غانو باندې يې وينښتان راټوکېدلي وه[۵] يا په بل عبارت چې د نامه ځخه لاندې يې وينښتان درلوده.

کب: د سعد بن معاذ ﷺ په ارتباط لاندې معلومات ولولئ:

اول: مونږ وړاندې ليکلي دي چې سعد بن معاذ ﷺ د خندق په غزا کښې ټپي شوی وه نو د ټپي کېدلو ځخه وروسته يې الله ﷻ ته سوال وکړ چې: «اللَّهُمَّ لَا تُمِتْنِي حَتَّى تُقِرَّ عَيْنِي مِنْ قُرَيْظَةَ»[۶] ای الله! ما تر هغه مه مړ کوه ترڅو چې زما سترګې په بنو قريظه وو باندې يخې شي (او هلاک يې وګورم).

دوهم: سعد بن معاذ ﷺ د فیصلې ځخه وروسته سوال وکړ چې: «فَإِنْ كَانَ بَقِيَ مِنْ حَرْبِ قُرَيْشٍ شَيْءٌ فَأَبْقِنِي لَهُ حَتَّى أُجَاهِدَهُمْ فِيكَ وَإِنْ كُنْتَ وَضَعْتَ الْحَرْبَ فَافْجُرْهَا وَاجْعَلْ مَوْتَتِي فِيهَا»[۷] يعنې ای الله! ته خو پوهېږې چې زه د هغه چا سره د جهاد کولو ډېر محبت لرم کوم چې ستا د پيغمبر تکذيب کوي، نو که (ستا په علم کښې) د قريشو د جنګ څه برخه پاتې وي، نو ما ورته ژوندی پاتې کړې ترڅو ستا په لاره کښې ورسره جهاد وکړم، او که چرته تا زمونږ او د هغوی ترمنځ جنګ ختم کړی وي چې بيا دوی په مونږ باندې حمله نه شي راوړلی، نو زما همدغه ټپ وشړوې او مرګ مې د

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۵۲۴
(۲) روح المعاني ج۲۱ ص۱۷۹
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۵۳۷، ج۲ ص۵۹۱
(۴) تفسير الخازن ج۵ ص۱۰۷؛ تفسير القرطبي ج۱۴ ص۱۴۳
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۱
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۷۲
(۷) صحيح البخاري ج۲ ص۵۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه تېر ځخه وګرځوې چې شهادت مې په برخه شي (د دغې لوړې درجې ځخه محروم نه شم).

نو الله ﷻ يې سوال قبول کړ، که څه هم زخم يې جوړېدو ته نژدې شوی وه خو الله ﷻ وشړاوه او وينې ترې جارې شوې چې په نتيجه کښې يې شهادت په نصيب شو، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

درېم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمَنِ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ»[۱] يعنې (د زياتې خوشالۍ ځخه) د ډېر مهربان الله ﷻ عرش عظيم ولړزېد البته د سعد بن معاذ ﷺ د مرګ د کبله.

څلورم: يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته د ورېښمو جامه سوغات ورکړی شو نو صحابه وو کرامو ﷺ تعجب کاوه چې دا څومره پسته مسته ده. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «أَتَعْجَبُونَ مِنْ هَذَا لَمَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ أَحْسَنُ مِنْ هَذَا»[۲] يعنې ايا تاسو د دغې ورېښمينې جامې د پوستوالي ځخه تعجب کوئ، حال دا چې ضرور په جنت کښې د سعد بن معاذ ﷺ دسمالونه د دغې جامې ځخه ډېر ښايسته (او پاسته) دي.

## صياصي څه معنی؟

۳ـ په ﴿مِن صَيَاصِيهِمْ﴾ کښې د "صَيَاصِي" کلمه د "صَيْصَة" جمعه ده[۳]، نو وروستنۍ "ي" يې په جمعه کښې زياته شوې ده. او يا د "صَيْصِيَة" جمعه ده[۴]. په هر تقدير صَيْصَة يا صَيْصِيَة هغه شي ته ويل کېږي په کوم باندې چې څوک د خپل ځان ځخه دفاع کوي، د همدې کبله د غوايه ښکرو ته ذکر شوی لقب ورکول کېږي چې د خپل ځان په دفاع کښې ترې کار اخلي او د اضرارو مخه ورباندې نيسي.

ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې سلفو صالحينو په کلکو او قوي کلاګانو سره تفسيره کړې ده[۵] چې بنو قريظه وو پکښې پنا اخستې وه او ډېر ورباندې نازېده چې مونږ ته هيڅوک څه زحمت نه شي ايجادولی، خو الله ﷻ ترې په ډېر لږ وخت کښې راښکته کړه او د مؤمنانو په لاس يې اعدام کړه.

## يو لوی بشارت

۴ـ په ﴿وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا﴾ کښې علماوو کرامو د "أَرْض" کلمه په متعددو ځمکو سره تفسيره کړې ده[۶] لکه د خيبر ځمکه او د مکې معظمې ځمکه او يا لکه د شام او فارس او نورې ځمکې، خو بهتره دا ده چې ذکره شوې کلمه په عموم سره پرېښودله شي ترڅو هغو ټولو ځمکو ته د بشارت په توګه اشاره شي کومې چې د قيامت تر ورځې پورې د مؤمنانو په لاس فتحه کېږي.

نو حاصل به يې داسې راوځېژي چې: الله ﷻ په خپل کامل علم کښې تاسو ته (د بنو قريظو وو په ځمکو باندې علاوه) نورې ځمکې هم درکړي دي په کومو باندې چې لا تر اوسه پورې تاسو قدمونه نه

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲۹۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۴
(۳) مفردات الراغب ص۲۹۹؛ لسان العرب ج۷ ص۵۲
(۴) القاموس المحيط ج۳ ص۸۷۵
(۵) تفسير ابن كثير ج۳ ص۴۷۸
(۶) تفسير القاسمي ج۱۳ ص۲۴۶؛ البحر المحيط ج۸ ص۴۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي ایښي چې د قیامت تر قیامه پورې به یې تاسو وخت په وخت فتحه کړئ، یا په بل عبارت ستاسو دین به په ټولو ادیانو هرومرو او ضرور غلبه مونده کړي او د دنیا سلطه به ستاسو لاس ته درشي لنډه دا چې په دې ایت شریف کښې هغه بشارت تصدیق شوی دی په کوم باندې چې نبي کریم ﷺ د خندق د کنودلو په وخت کښې مؤمنانو ته وعده او زیرې ورکړ، د کوم تفصیل چې د [الأحزاب:۱۲] ایت لاندې په اولنۍ توضیح کښې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَٰعَفْ لَهَا ٱلْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۸] ای پیغمبره! خپلو بیبیانو ته ووایه چې: که تاسو یاست چې نژدې (او حقیر) ژوند او د همدې ژوند ډول (او سنګار) غواړئ (خوښوئ)، نو راشئ چې (د طلاق) متعه درکړم او خوشې مو کړم ښایسته خوشې کول.

[۲۹] او که تاسو یاست چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ او (هم) وروستنی کور غواړئ (خوښوئ)، نو یقیناً الله ﷻ محسنو ښځو ته لوی اجر تیار کړی دی چې (محسنې ښځې) همدا ستاسو ځخه عبارت دي.

[۳۰] ای د پیغمبر ﷺ بیبیانو (ښځو)! که چرته ستاسو د جملې ځخه هره یوه په ځرګنده سخته بدي سره راتګ وکړي (هره یوه سخته بدي چې وي)، نو هغې ته به عذاب غبرګ کړی شي غبرګ کول (دوه چنده کول).

او دغه کار (د عذاب غبرګول) په الله ﷻ باندې اسان دي (دا خبره یې مخه نه شي نیولی چې تاسو د پیغمبر ﷺ بیبیانې یاست او الله ﷻ ډېر مهربان دی).

## ارتباط او شان نزول

۱ـ وړاندې په [الأحزاب:۶] ایت کښې الله ﷻ مؤمنانو ته توصیه کړې وه چې د نبي کریم ﷺ بیبیانې د دوی معنوي مورګانې دي، بیا د ځینو مناسباتو په لحاظ د خندق او د بنو قریظه ور غزاګانو بیان نازل شو. د دغو دواړو غزاګانو د بیان ځخه وروسته په دې ایتونو کښې د نبي کریم ﷺ بیبیانو ته د اشارې په توګه توصیه شوې ده. چې دوی هم باید د مور توب حیثیت وساتي او د خپلو معنوي اولادونو د تعلیم په غرض دیني احکام زده کړي چې عند الموقع یې ورته تعلیم کړي.

که بالفرض دوی د نورو ښځو عوندې د دنیا په ډول او سنګار مشغولې شي نو د دین د احکامو زده کړه به تری پاتې شي. او په راتلونکي کښې به د مورتوب حیثیت د لاسه ورکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایتونو کښې هغه تصور رد شوی دی کوم چې أمهات المؤمنین رضي الله عنهن ته د وړاندېنیو متصلو ایتونو په ارتباط پیدا شوی وه او د همدې ایتونو د نزول سبب ګرځېدلی وه. یا په بل عبارت: د همدغه تصور رد د ایتونو شان نزول دی چې محدثینو کرامو[1] په اوږدو احادیثو کښې روایت کړی دی خو موږ یې د لنډون په غرض د لاندې څو ټکو په ذکر اکتفاء کوو:

الف: یو خلې أمهات المؤمنین رضي الله عنهن د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې موږ ته څه مصارف راکړه، البته هغه مصارف چې پخوا یې نه غوښتي وه او نه ورته پخوا ورکړی شوي وه.

شاید چې دا تصور به د هغوی سره د دې کبله پیدا شوی وي چې د بنو قریظه وو منقولي او غیر منقولي مالونه په غازیانو ووېشل شوه او د هغه احتیاج مخه ونیوله شوه د کوم په سبب چې مهاجرین د انصارو دپاره د اوږو پېټی ګرځېدلی وه.

هغوی به د نورو غازیانو مېرمنې لېدلې وي چې په خوراک او څښاک او هم یې په لباس کښې د پخوا څخه بدلون صورت ونیوه، نو د هغوی زړونو به هم غوښتي وي چې په سیالی کښې ورسره برابرې شي، نو ځکه به یې نبي کریم ﷺ ته د وړاندیني مطلب وړاندیز کړی وي.

ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوي تصور وجه دا ښودلې ده[2] چې: د أمهات المؤمنین رضي الله عنهن خیال وه چې د بنو قریظه وو او نورو یهودانو د مالونو ذخائر به په نبي کریم ﷺ پورې اختصاص لري، نو ځکه یې ورته خپلې مطالبې وړاندې کړې. دا د یو پلوه، او د بله پلوه د هغوی رضي الله عنهن زړونو غوښتل چې د وخت د شاهي کورنیو د زنانه وو سره خپل ځانونه برابر کړي، لکه د کسرى او قیصر د شاهانو لورګاني او مېرمنې او داسې نورې.

په دې باندې علاوه ځینو نورو مفسرینو کرامو یې نورې وجې په ګوته کړې دي[3] خو څه لرې نه ده چې ټولې وجې د ایت شریف د نزول سبب ګرځېدلې وي، څه منافات سره نه لري، والله ﷻ أعلم.

ب: نبي کریم ﷺ د أمهات المؤمنین رضي الله عنهن په وړاندیز خپه شو، او سوګند یې یاد کړ چې تر یوې میاشتې پورې به د یوې أم المؤمنین کور ته هم ورنه شي، نو د همدې کبله یې په یوه کوټه کښې یوازې دېره ونیوله.

ج: أبو بکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه هر یوه، یو په بل پسې اجازه وغوښتله او د نبي کریم ﷺ په حضور مشرف شوه. نو د دې دپاره چې عمر رضي الله عنه د خپل ځان دپاره د خبرو زمینه برابره کړي او نبي کریم ﷺ په خبرو راولي د خپلې ماندینې قیصه یې ورته واوروله، چې فلانکی (د عمر ماندینه) زما څخه اضافه مصارف غوښتل نو څټ مې ورباندې ورتاو کړ او غلې مې کړه.

د: د دغې قیصې په اورېدلو سره نبي کریم ﷺ په خندا کښې وفرمایل چې: «هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۳۴؛ صحیح مسلم ج۱ ص۴۸۰؛ سنن النسائي ج۲ ص۱۰۶
(۲) البحر المحیط ج۸ ص۴۷۱
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۴ ص۱۶۲؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۵۲۵؛ روح المعاني ج۲۱ ص۱۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ»[۱] يعنې دوى (أمهات المؤمنين) لکه چې ته يې ګورې زما په شاوخوا کښې ناستې دي او د اضافه مصارفو غوښتنه کوي.

ه: سمدستي أبو بکر ﷺ د خپلې لور (عائشه رضي الله عنها) او عمر ﷺ د خپلې لور (حفصه رضي الله عنها) څخه اقرار واخست چې: «وَاللهِ لَا نَسْأَلُ رَسُولَ اللهِ ﷺ شَيْئًا أَبَدًا لَيْسَ عِنْدَهُ» يعنې په الله ﷻ دې زمونږ سوګند وي چې مونږ به د نبي کريم ﷺ څخه هيڅکله داسې شی ونه غواړو کوم چې د ده ﷺ په نزد موجوديت نه لري.

و: کله چې مياشت پوره شوه او د نبي کريم ﷺ د سوګند موده ختمه شوه، نو ذکر شوی د تخيير ايتونه نازل شوه.

ز: نو نبي کريم ﷺ په خپلو ټولو بيبيانو (أمهات المؤمنين) باندې ذکر شوي ايتونه جدا-جدا قرائت کړه او د ټولو څخه وړاندې يې أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها ته واورول. چې حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

اى پيغمبره! خپلې بيبيانې (أمهات المؤمنين) مخاطبې کړه او ورته ووايه چې:

۱_ که تاسو ياست چې نژدې او حقير ژوند خوښوئ او زړونه مو د همدې ژوند ډول او سنګار غواړي، ترڅو مو د نورو زنانه وو سره سيالي برابره شي، نو تاسو راشئ چې يو-يو جوړ جامه درکړم او د خپلې نکاح څخه مو خوشې کړم، ښايسته خوشې کول. يا په بل عبارت: چې شرعي طلاق درکړم او د بل مېړه دپاره مو مخه خلاصه کړم، په هر ځای کښې او هرڅوک چې ستاسو خوښ وي همغه په نکاح واخلئ ترڅو اضافه مصارف درکړي او د نورو زنانه وو سره مو سيالي برابره شي.

۲_ او که تاسو ياست چې د الله ﷻ رضا غواړئ او د الله ﷻ پيغمبر ﷺ مو خوښ وي او هم ستاسو په نظر کښې د وروستني کور ابادولو ځای نيولی وي، نو د نژدې او حقير ژوند سامانونه او مصارف مه غواړئ، او هغه نعمتونه په نظر کښې ونيسئ کوم چې په آخرت کښې د ايماندارانو دپاره تيار کړی شوي دي.

په دې باندې علاوه، يقينًا الله ﷻ ستاسو د جملې څخه د اخلاصمندو زنانه وو دپاره ډېر لوی اجر تيار کړی دی، چې دغه اخلاصمندې زنانه همدا ستاسو څخه عبارت دي او همدا تاسو ياست.

۳_ اى پيغمبره! خپلې بيبيانې (أمهات المؤمنين) مخاطبې کړه او د الله ﷻ د پلوه ورته ابلاغ کړه چې:

الف: اى د پيغمبر ﷺ بيبيانو! تاسو خپل شان وپېژنئ!، تاسو خو د بل چا مېرمنې نه ياست بلکې د الله ﷻ د پيغمبر ﷺ مېرمنې ياست. دغه افتخار او امتياز الله ﷻ يوازې ستاسو په برخه کړی دی نو تاسو د دې نعمت شکريه وکړئ او د الله ﷻ د پيغمبر ﷺ سره د شريعت په ابلاغ کښې همکاري وکړئ. ستاسو سره عادي زنانه سيالي نه شي کولی او نه ستاسو مراتبو ته رسېدلی شي، نو تاسو د هغوی

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۴۸۰

Scanned by CamScanner

سره په سیالي کولو باندې خپل عالي مراتب مه رابنکته کوئ، او د دنیا ډول او سینګار مه غواړئ.
ب: په یاد ولرئ چې ستاسو د جملې څخه هره یوه زنانه چې د خپل عالي شان څخه تجاوز وکړي او د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته د شریعت د چوکاټ څخه وتلې خبره واوروي او یا ترې څرګنده بې اطاعتي وکړي نو هغې ته به د الله ﷻ د پلوه غبرګ عذاب ورکړی شي، غبرګ عذاب. او دا ځکه چې ستاسو بې اطاعتي د نورو زنانه وو د بې اطاعتۍ غوندې نه ده، ستاسو په بې اطاعتۍ سره د عصیان او نافرمانۍ ډېره اېښودله کېږي، په تاسو پسې نورې ښځې اقتداء کوي.
ج: تاسو خیال مه کوئ چې ستاسو د بې اطاعتۍ غبرګه سزا به په الله ﷻ باندې درنه تمامه شي چې أم المؤمنین یاست، بلکې دغه ډول سزا په الله ﷻ باندې اسانه ده او هیڅ درنه ورباندې نه تمامېږي. لنډه دا چې تاسو ته په کار دي چې خپل عالي شان وپېژنئ او خپل عالي حیثیت وساتئ.

## توضیحات

۱_ په کوم وخت کښې چې ذکر شوي ایتونه نازل شوه او نبي کریم ﷺ أمهات المؤمنین رضي الله عنهن ته اختیار ورکړ چې ستاسو خوښه چې دنیا خوښوئ او که آخرت؛ نو په دغه وخت کښې نهه أمهات المؤمنین رضي الله عنهن ژوندۍ وې چې نومونه یې دا دي: ۱_ عائشه ۲_ حفصه ۳_ أم حبیبه ۴_ سَودة ۵_ أم سلمه ۶_ صفیه ۷_ میمونه ۸_ زینب بنت جحش ۹_ جویریه، رضي الله عنهن.[1]
۲_ أم المؤمنین عائشه رضي الله عنها وایي چې: د ټولو بیبیانو (أمهات المؤمنین) څخه وړاندې نبي کریم ﷺ ماته د تخییر حکم وړاندې کړ او ارشاد یې راته وکړ چې په جواب باندې تادې او عجله مه کوه، بلکې د خپل مور او پلار سره مشوره وکړه، بیا جواب راکړه. خو ما ورته وویلې چې: «فَفِي أَيِّ هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّي أُرِيدُ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ ثُمَّ فَعَلَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ ﷺ مِثْلَ مَا فَعَلْتُ»[2] یعنې نو د دغه په کومه برخه کښې زه د مور او پلار سره مشوره وکړم؟ زه (بدون د مشورې) الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ او هم وروستنی کور خوښوم او غواړم، او ستا فراق او جدایي نه خوښوم.
بیا د نبي کریم ﷺ نورو بیبیانو هم هغه څه وکړه کوم چې ما وکړه (ټولو زما غوندې خبره وکړه او نبي کریم ﷺ یې غوره کړ).

## فَاحِشَة څه معنی؟

۳_ په ﴿ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَـٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ کښې د "فَاحِشَة" کلمه هغه فعل یا قول ته ویل کېږي د کوم بدي او قبحه چې ډېره زیاته وي[3].
څرنګه چې په دې مقام کښې ورته د ﴿ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ کلمه صفت واقع شوې ده نو د معنی حاصل یې

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۸۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۵
(۳) مفردات الراغب ص۳۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې راځبرګي چې: ای د پیغمبر ﷺ مېرمنو! بالفرض که چرته ستاسو څخه کومه یوه بې ځرګنده سخته بدي وکړي نو هغه به په غبرګ عذاب باندې معذبه کړی شي.

دغه ځرګنده سخته بدي په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په نشوز او بدخلقۍ سره تفسیره کړې ده(۱)، یعنې که ستاسو څخه کومه یوه د نبي کریم ﷺ سره بدخویي وچلوي او ښه ګوزاره وزسره ونه کړي، نو هغه به په غبزګ عذاب سره معذبه شي.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې ځرګنده سخته بدي په عموم سره پرېښودله شي ترڅو ټولو جنایاتو ته شمولیت ولري، او دا ځکه چې د تخصیص دپاره هیڅ دلیل نشته. شاید چې رئیس المفسرین رضي الله عنه به یې محض یوه مثال ته اشاره کړې وي او حصر به یې مطلب نه وي، والله ﷻ أعلم.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه ﴿ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ ﴾ شرطیه جمله ده، چې د وقوع په امکان باندې دلالت نه کوي بلکې په محالاتو کښې هم استعمالېږي. د مثال په توګه: الله ﷻ نبي کریم ﷺ مخاطب کړی دی چې: ﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ [الزمر:٦٥] یعنې ای پیغمبره! که بالفرض المحال ته چرته د الله ﷻ سره په شریک باندې قائل شې نو هرومرو ضرور به دې عمل ضائع شي او هرومرو ضرور به ته د زیانکارانو څخه وګرځې.

نو لکه څنګه چې د نبي کریم ﷺ څخه د شرک او کفر واقع کېدل محال دي او په شرطیه جمله کښې یې ذکر ته اشاره شوې ده، همدارنګه د اُمهات المؤمنین څخه هم د ځینو ګناهونو واقع کېدل ممکن نه دي خو د شرطیه جملې په شکل ذکر شوي دي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې اُمهات المؤمنین رضي الله عنهن ته په ګناه سره غبرګ عذاب ټاکلی شوی دی او د نورو مؤمنانو د ګناه په څېر مثل په مثل نه دی؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال جواب دپاره علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي، کوم جواب چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې: د اُمهات المؤمنین رضي الله عنهن عصیان د اُمت د عاصیانو دپاره جرئت اضافه کوي. ته به وایې چې د هغوی دپاره د عصیان دبره ږدي، بلکې د مشرانو ګناهونه د همېشه دپاره د کشرانو د ګناه کولو سبب جوړېږي، چې ګناه ورته خفیفه په نظر وروځي

اللَّهُمَّ أَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَارْزُقْنَا اتِّبَاعَهُ وَأَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَارْزُقْنَا اجْتِنَابَهُ.

د یو ویشتمې سپارې ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په فضل او کرم ختم شو.

مونږ د الله ﷻ څخه لا زیات توفیق غواړو.

۲/رمضان المبارک/ ۱۴۲۱ ه ق = ۱۳۷۹/۹/۲ ه ش = ۲۰۰۰/۱۱/۲۸ م

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعْمَلْ صَٰلِحًا نُّؤْتِهَآ أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا
كَرِيمًا ﴿٣١﴾ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ ۚ إِنِ ٱتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِٱلْقَوْلِ
فَيَطْمَعَ ٱلَّذِى فِى قَلْبِهِۦ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٣٢﴾ وَقَرْنَ فِى بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ
تَبَرُّجَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ٱلْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعْنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ إِنَّمَا
يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجْسَ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾ وَٱذْكُرْنَ مَا
يُتْلَىٰ فِى بُيُوتِكُنَّ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱلْحِكْمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾ ﴾

[٣١] او ستاسو د جملې څخه چې هرڅوک د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ (حکم) ته تواضع وکړي او (هم) نیک عمل وکړي، نو مونږ به ورته خپل اجر دوه کرته ورکړو، او (همدارنګه) مونږ هغې ته (په جنت کښې) د کرامت څخه ډکه روزي تیاره کړې ده.

[٣٢] ای د پیغمبر ﷺ ښځو (بیبیانو)! ستاسو تولګی د ښځو د یوه تولګي غوندې هم نه دی، خو په دې شرط چې تاسو (د الله ﷻ څخه) وډارېږئ (ستاسو مراتب ډېر لوړ دي).

نو تاسو په خبرو کښې نرمي مه کوئ (که نه) نو هغه څوک به په تمه کښې پرېوځي د کوم په زړه کښې چې (د نفاق یا فجور) مرض وي. او تاسو (په شریعت کښې) معروفه خبره کوئ (او په زړه لهجه کړېږئ).

[٣٣] او تاسو په خپلو کورونو کښې قرار ونیسئ (بدون د حاجته بهر مه وځئ)، او (همدارنګه) تاسو د خپلو محاسنو ښکندوني مه کوئ (البته) د وړاندېني جاهلیت د ښکندونو غوندې (چې ښځو به خپل ډول او سنګار نارینه وو ته ښکاره کاوه).

او تاسو (د ټولو حقوقو سره خپل) لمونځونه ودروئ، او زکاتونه ورکړئ او د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ.

یقیناً الله ﷻ اراده لري (غواړي او خوښوي) ای د پیغمبر ﷺ د کور والاوو! چې ستاسو څخه (د هر ډول ګناه) پلیتي لرې کړي او چې تاسو (د ګناهونو څخه) پاکې وګرځوي پاکې ګرځول.

[٣٤] او تاسو هغه شی (په علم او عمل سره) یاد کړئ کوم چې ستاسو په کورونو کښې لوستلی کېږي، چې د الله ﷻ د ایتونو او (د نبي کریم ﷺ) د حکمتي کړو وړو (او احادیثو) څخه عبارت دی.

یقیناً الله ﷻ د (ډېرو) باریکو شیانو لیدونکی (او هم په هر شي باندې) خبردار دی (نو په هر شي کښې خاص د همده ﷻ څخه وډار شئ).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او أمهات المؤمنین رضي الله عنهن ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پکښې څه نور ارشادات هم نازل شوي دي چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپلو بيبيانو (أمهات المؤمنين رضي الله عنهن) باندې څه نور ارشادات هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱_ د الله ﷻ د پلوه هغوی ته ووايه چې: ستاسو څخه چې هره يوه بي بي (أم المؤمنين) خاص د الله ﷻ او د ده ﷺ پيغمبر ﷺ ته تواضع وکړي (او په احکامو يې تکبر ونه کړي) او په دې باندې علاوه نور صالح اعمال هم وکړي نو مونږ به هغې ته د هغې اجر او ثواب دوه کرته ورکړو، د هغې يو ځل نېک عمل به داسې وګڼو لکه چې هغې دوه ځله اجراء کړی وي.

او برسېره په دې هغې ته به په جنت کښې د کرامت او عزت څخه ډکه روزي ورکړو چې مونږ ورته هلته تياره کړې ده.

۲_ دا هم د الله ﷻ د پلوه ووايه چې: ای د پيغمبر ﷺ بيبيانو!:

الف: تاسو خپل حيثيت وپېژنئ، تاسو د بل چا نه بلکې د الله ﷻ د پيغمبر مېرمنې ياست، نو په دې شرط سره چې پرهېزګاري کوئ او د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ د بې اطاعتۍ څخه خپل ځانونه ساتئ، تاسو د نورو زنانه وو د يوې غونډې هم نه ياست، د هغوی يوه هم ستاسو درجې ته نه شي در اوچته کېدلی، بلکې تاسو په ټولو باندې د پاسه ياست.

ب: حتی تاسو د نورو ښځو دپاره د امامانو حيثيت لرئ، ستاسو کړه وړه هغوی د خپلو ځانونو دپاره د مثال په ډول ګرځوي.

نو تاسو چې کله د ضرورت په وخت کښې د بېګانه وو سره خبرې کوئ او يا هغوی ته څه دينې زده کړه کوئ نو خپلې خبرې په نرمۍ سره مه کوئ بلکې په زګه لهجه باندې مطالب اداء کوئ.

که نه نو ستاسو د پستو او نرمو خبرو څخه به هغو کسانو ته ستاسو په هکله څه ټمه پيدا شي د کومو په زړونو کښې چې د منافقت مرض وي، هغوی به په تاسو باندې د عادي او بدخاصيته ښځو خيال وکړي، او په همدې سبب به يې دنيا او آخرت دواړه برباد شي.

ج: په خبرو کښې هم تاسو هغه خبرې وکړئ کومې چې په شريعت کښې معروفې وي، بې هوده او بې مطلبه عبثيات مه واياست. يا په بل عبارت: داسې خبرې مه کوئ د کومو څخه چې د بد اخلاقۍ بوی پورته کېږي، او هم د مطلب د اداء کولو څخه علاوه بې ځايه خبره مه اوږدوئ.

د: ای د پيغمبر ﷺ بيبيانو! تاسو په خپلو کورونو کښې ارامې اوسېږئ او بې ضرورته بهر مه وځئ.

ه: تاسو په عمومي توګه د خپلو کورونو څخه بهر مه وځئ او خصوصاً په هغه ډول خو بالکل مه وځئ په کوم ډول باندې به چې پخوا د جاهليت د زمانې ښځې د خپلو کورونو څخه راوتلې، چې خپل ښايست او سنګار به يې پرديو نارينه وو ته ځرګنداوه.

و: تاسو په هر کار او هر يو قول کښې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر اطاعت کوئ او فرمانبرداری ته يې ادامه ورکړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: تاسو خپل لمونځونه ودروئ او خپل زکاتونه ورکړئ بلکې د خپلو اخلاقو او خويونو تزکيه وکړئ او لا ادامه ورکړئ.

ح: ای د پیغمبر ﷺ اهل بیته! الله ﷻ په دغو ارشاداتو سره غواړئ چې ستاسو څخه د ناپاکیو او ګناهونو مخنيوی وکړي او هم مغفرت درپېرزو کړي، يا په بل عبارت: الله ﷻ اراده کوي چې تاسو ظاهرًا او باطنًا پاکې کړي پاکول.

نو په همدې بنياد په الهي ارشاداتو کښې ستاسو دپاره دنياوي او أُخروي ګټې نغښتې دي.

ط: ای د پیغمبر اهل بیته! تاسو هغه شرعي احکام یاد او حفظ کړئ کوم چې ستاسو په کورونو کښې لوستل کېږي، برابره خبره ده چې تاسو يې پخپله لولئ او که د پيغمبر ﷺ او يا د جبرائيل امين ﷺ د پلوه لوستلی کېږي، چې دغه لوستلی شوی شی د الله ﷻ د ایتونو څخه او هم د نبي کریم ﷺ د احاديثو څخه عبارت دی.

دا د دې دپاره چې تاسو يې خپلو معنوي اولادونو (مؤمنانو) ته ورسوئ او د هغوی ورباندې عمل وکړي، او هم د دې دپاره چې تاسو د خپل مورتوب حق پوره أداء کړئ.

يقينًا الله ﷻ ډېر باريک ليدونکی دی، هيڅ شی ترې نه شي پټېدلی، او هم په هر شي باندې خبردار دی، د هيڅ شي څخه ناخبره نه دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ ﴾ کښې د ﴿ يَقْنُتْ ﴾ کلمه د "قُنُوت" څخه اشتقاقه شوې ده، "قُنُوت" دېته وايي چې: څوک په عاجزۍ او تواضع سره په دوامداره توګه اطاعت وکړي[1] خو دلته ترې يوازې عاجزي او تواضع مطلب ده، دا ځکه چې په اطاعت باندې په متصله جمله ﴿ وَتَعْمَلْ صَٰلِحًا ﴾ کښې صراحت شوی دی. يعنې: ستاسو هره يوه چې الله ﷻ او د ده ﷺ پيغمبر ته تواضع کوي او تکبر ورباندې نه کوي، او هم خپل صالح عمل (اطاعت) ته ادامه ورکوي، نو هغې ته به دوه کرته اجر ورکړی شي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې دلته د اجر په هکله د ﴿ مَرَّتَيْنِ ﴾ په عوض د "ضِعْفَيْنِ" کلمه نازله نه شوه لکه څنګه چې په وړاندېني متصل ایت کښې د عذاب په هکله همدغه د ﴿ ضِعْفَيْنِ ﴾ کلمه نازله شوې ده؟

مونږ وايو چې: دا د دې دپاره ـ والله ﷻ أعلم ـ ترڅو أُمهات المؤمنين رضي الله عنهن ته په نورو مؤمنانو باندې امتياز ورکړی شي، چې: الله ﷻ په يوه نېکۍ باندې هر مؤمن ته اقلاً لس چنده اجرونه ورکوي خو أُمهات المؤمنين رضي الله عنهن ته ورباندې لږ تر لږه دوه کرته اجر ورکوي چې شل نېکۍ کېږي، نو د مؤمنانو د اجرونو ورو کی عدد لس دی او د أُمهات المؤمنين د اجرونو ورو کی عدد شل (۲۰) دی.

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که بالفرض د ﴿مَرَّتَيْنِ﴾ په عوض "ضِعْفَيْنِ" نازل شوی وی ذکر شوی امتیاز به فوت شوی وی.

## د أَحَد کلمه عامه ده

۳ـ په ﴿لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ﴾ کښې د "أَحَدٍ" کلمه د مفرد او جمعې او هم د مذکر او مؤنث تولو دپاره استعمالیږي[۱]، چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د مؤنثې جمعې څخه عبارت ده نو د معنی حاصل یې داسې راځیږي چې:

ای بیبیانو! ستاسو ټولګی د نورو زنانه وو د یوه ټولګي غوندې هم نه دی بلکې هر یو ټولګی ستاسو څخه په رتبه کښې ښکته دی، نو تاسو د هغوی عادتونه مه خپلوئ که نه نو هغوی ته به په رتبه کښې وربنکته شی؛

## پوښتنې او جوابونه

۴ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د تشبیه حرف "ک" په مشبه باندې داخل کړی شوی دی، او لکه څنګه چې اصل دی په مشبَه بِهِ باندې نه دی داخل شوی چې داسې معنی یې ورکړې وی چې:

ای بیبیانو! د نورو ښځو یو ټولګی هم ستاسو د ټولګي غوندې نه دی.

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د أمهات المؤمنين رضي الله عنهن ترهیب مطلوب دی چې د نازل شوي عبارت څخه په ډېره ښه توګه څرګندیږي، لکه چې په درېمه توضیح کښې واضحه شوي دي، والحمد لله ﷻ.

او که د تشبیه توری "ک" په مُشبه بِهِ باندې داخل کړی شوی وی نو د نورو ښځو په ترغیب به یې دلالت کړی وی چې تاسو د أمهات المؤمنين رضي الله عنهن غوندې نه یاست هلئ ژر شئ هغوی ته خپل ځانونه په نېکو اعمالو او عاداتو سره ورنژدې کړي. حال دا چې دلته دا مطلوبه معنی نه ده.

ب: که څوک وایي چې: ایت شریف د أمهات المؤمنين رضي الله عنهن د ټولګي په فضیلت باندې دلالت کوي خو د هرې یوې اُم المؤمنين په فضیلت باندې صراحت نه دی شوی. نو د دې څه وجه ده؟

مونږ وایو چې: ایت شریف د هرې یوې په فضیلت باندې هم دلالت کوي او دا ځکه چې دغه فضیلت خو ټولو أمهات المؤمنين رضي الله عنهن ته د نبي کریم ﷺ د زوجیت د امله ورپه برخه شوی وه، چې په دغه نسبت باندې په إفراد او جمعیت کښې څه اثر نه پرېوځي.

ج: که څوک وایي چې: فاطمه الزهراء رضي الله عنها هم د زنانه وو د جملې څخه ده، نو ایا أمهات المؤمنين رضي الله عنهن د دې رضي الله عنها څخه هم بهترې دي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې نبي کریم ﷺ سره د زوجیت فضیلت مطرح دی چې په همدې

---

(۱) تفسير الكشاف ج۳ ص ۵۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حیثیت کښې أمهات المؤمنین رضي الله عنهن د دنیا د ټولو ښځو څخه بهترې دي، اما د فاطمة الزهراء رضي الله عنها فضیلت خو د نبي کریم ﷺ څخه د جزئیت په لحاظ سره دی نه د زوجیت په لحاظ، نو د جزئیت په لحاظ خو د دغې بي بي سره هېڅوک سیالي نه شي کولی.

## څو نکات

۵ـ په ﴿ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ ﴾ الآية کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د "قَرْنَ" کلمه په اصل کښې "اقْرَرْنَ" وه چې د "قَرار" څخه اشتقاقه شوې ده، او د "علم يعلم" د باب څخه د بې لامه امر د مؤنثې جمعې مخاطبه صیغه ده.

د تخفیف دپاره د لومړی "ر" حرکت "ق" ته نقل شوی دی او یوه "ر" حذف شوې ده، چې په مضاعفو کښې کله-کله یو توری حذف کېږي لکه چې په ﴿ فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴾ [الواقعة:٦٥] کښې د "ظَلْتُمْ" کلمه په اصل کښې "ظَلَلْتُمْ" وه چې یو "ل" ترې حذف شوی دی.

په دې باندې علاوه، وصلیه همزه هم پکښې حذفه شوه چې موجودیت ته یې څه حاجت پاتې نه شو، نو "قَرْنَ" ترې جوړ شو(١) لکه چې مونږ یې همداسې قرائت کوو. یعني ای د پیغمبر ﷺ بيبيانو! تاسو په خپلو کورونو کښې قرار ولرئ بې ضرورته بهر مه راوځئ.

## سوال جواب

ب: که څوک وایي: چې ایت شریف مطلق دی نو تاسو د "بې ضرورته" په قید باندې په څه دلیل مقید کړ، د همدغه اطلاق د کبله د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته أم المؤمنین سوده رضي الله عنها بالکل د خپل کور د دروازې څخه بهر نه شوه آن تر دې چې جنازه یې د کوره وویستله شوه او په هدیره کښې خاورو ته وسپارله شوه(٢)؟

مونږ وایو چې: په ذکر شوي قید باندې د اسلامي شریعت عمومات دلالت کوي حتی چې د ضرورت د کبله سرې ته د مردارې خوړل هم جائز ګرځولی شوي دي، د همدې کبله د راشده خلفاوو ﷺ په زمانه کښې أمهات المؤمنین رضي الله عنهن حج او عمرې ته د زیات مراقبت او حفاظت لاندې تلې راتلې او هیچا وربانديې اعتراض ونه کړ، ځکه چې دا یو شرعي ضرورت وه. ته به وایې چې په همدغه قید باندې د صحابه وو کرامو ﷺ سکوتي اجماع منعقده شوې ده.

په دې باندې علاوه په همدغه قید باندې په یوه حدیث شریف کښې صراحت شوی دی چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ خپلې بیبیانې مخاطبې کړې چې: «قَدْ أَذِنَ اللهُ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَوَائِجِكُنَّ»(٣) یعني الله ﷻ تاسو ته اجازه کړې ده چې تاسو د خپلو احتیاجاتو د پوره کولو دپاره د کوره بهر ووځئ.

---

(١) البحر المحيط ج٨ ص٤٧٦

(٢) تفسير القرطبي ج١٤ ص١٨١؛ الدر المنثور ج٦ ص٦٠٠

(٣) صحيح البخاري ج٢ ص٧٨٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاتې شوه د أُم المؤمنين سَوده رضي الله عنها خبره چې د کوره بالکل ونه وتله، نو دا کار د هغې د خپل خان دپاره اجتهاد وه، د همدې کبله یې په نورو بیبیانو باندې څه اثر ونه غورځاوه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

ج: که څوک وايي چې: نبي کريم په حجة الوداع کښې خپلې ټولې بيبيانې مخاطبې کړې وې چې: «هَذِهِ ثُمَّ ظُهُورَ الْحُصُرِ»[١] يعني دغه ستاسو حج دی بيا نو په تاسو باندې په پوزکیو کښناستل لازم دي، يا په بل عبارت: بيا تاسو د خپلو کورونو څخه بهر مه وځئ.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا دغه حديث شريف د أُم المؤمنين (سَودَة رضي الله عنها) نظر نه تائيدوي؟

مونږ وايو چې: د حديث شريف مطلب دا نه دی چې تاسو بيا د هيڅ ډول ضرورت دپاره هم د خپلوکورونو څخه بهر مه راوځئ، بلکې مطلب یې دا دی چې حج کول په ټول عمر کښې فقط يو ځل فرض دی کوم چې تاسو دغه دی اداء کړه، بيا په تاسو باندې د فرضي حج د اداء کولو دپاره بهر راوتل نشته. همدغه مطلب ترې نورو بيبيانو رضي الله عنهن بلکې ټولو صحابه وو کرامو ﷺ اخستې وه، لکه چې وړاندې تېر شو.

## آهل التشيع څه وايي؟

د: په دې مقام کښې اهل التشيع (رافضيان) په أُم المؤمنين (عائشې رضي الله عنها) باندې اعتراض کوي چې هغې په ذکر شوي ايت شريف باندې عمل ونه کړ او د خپله کوره د هغه جنګ دپاره ووتله کوم چې د علي ﷺ په مقابل کښې صورت نيولی وه، کوم چې په بصره کښې واقع شوی وه او تقريبًا اولس زره (١٧٠٠٠) کسان پکښې وژل شوي وه[٢].

د اهل التشـ ع د ذکر شوي اعتراض د رد او جوابولو دپاره ځينو مفسرينو کرامو[٣] ښه مشرح بيانات ليکلي دي خو مونږ ترې دلته فقط د لاندې يوويشتو ټکو په رانقلولو سره اکتفاء کوو:

اول: أُم المؤمنين (عائشة رضي الله عنها) د خپله کوره د جنګ دپاره نه وه وتلې بلکې د حج دپاره ترې وتلې وه، چې د أُمهات المؤمنين د جملې څخه دوه نورې مورګانې هم ورسره ملګرې وې چې يوه أُم سلمه رضي الله عنها او بله صفيه رضي الله عنها وه، کومې چې اهل التشيع ته ډېرې مقبولې دي.

دوهم: د هغې د کوره د وتلو څخه وروسته د عثمان ﷺ واقعه پېښه شوه چې د منافقانو د پلوه په شهادت ورسول شو.

دريم: کله چې عائشه رضي الله عنها ابې د واقعې څخه خبره شوه نو ډېره زياته خپه شوه او پوهه شوه چې اوس نو د مسلمانانو د بې اتفاقۍ او اختلاف کولو وخت راورسېد.

څلورم: په دې وخت کښې څو تنه صحابه کرام ﷺ د مدينې منورې څخه مکې معظمې ته په

---

(١) سنن ابي داود ج١ ص٢٤١؛ مسند احمد بن حنبل ج١٠ ص٢٢٩

(٢) تفسير نمونه، د اهل التشيع تاليف ج١٧ ص٣٠٢

(٣) روح المعاني ج٢٢ ص٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې حال کښې ورغله چې د عثمان ﷺ د قاتلانو څخه تښتېدلي وه او د مديني منورې تول جريانات يې ورته هو بهو بيان کړه، او بيا يې مشوره ورکړه چې:

پنځم: هيله ده چې ته بېرته مديني منورې ته سمدستي ستنه نه شې، چې د عثمان ﷺ قاتلان د علي ﷺ څخه راتاو دي او علي ﷺ يې د مقابلې توان نه لري، او هم هلته اوضاع ډېرې خرابې دي او اختلاف مخ په وړاندې روان دی.

شپږم: زمونږ مشوره دا ده چې ته د اوس دپاره بصرې ته تشريف يوسې ترڅو په مدينه منوره کښې وضعه ارامه شي او هم اُميد دی چې ستا په لحاظ به خلک د اختلاف او شقاق څخه لاس واخلي، او ته به د خپلمنځي اصلاح دپاره ډېره ښه ذريعه وګرځې.

اوم: لنډه دا چې ته زمونږ سره بصرې ته لاړه شه ترڅو د يو پلوه مسلمانان خورېدلو ته پرېنږدو او په علي ﷺ باندې يې راغونډ کړو او د بله پلوه د عثمان ﷺ د قاتلانو څخه کسات واخلو.

اتم: عائشې ابۍ رضي الله عنها د هغوی خبره ومنله او د اجتماعي خير او اصلاح دپاره بصرې ته په داسې حال کښې روانه شوه چې د اوسپنې په کوجاوه کښې په اوښ باندې سوره شوه، څرنګه چې اوښ ته په عربي کښې جمل وايي نو په نتيجه کښې راتلونکي جنګ د جمل په نامه سره شهرت وموند.

نهم: په شپه کښې کاروان يو ځای ته ورسېد چې هلته سپيو غپل، کله چې ابۍ رضي الله عنها د سپيو غپار واورېده نو پوښتنه يې وکړه چې د دې ځای نوم څه شی دی؟

جواب ورکړ شو چې د دې ځای نوم "الْحَوْأَب" دی.

لسم: د جواب په اورېدلو سره عائشې رضي الله عنها وويلې چې: زه د همدې ځای څخه بېرته ستنېږم او دا ځکه چې مونږ ته نبي کريم ﷺ فرمايلي وه چې: «أَيَّتُكُنَّ تَنْبَحُ عَلَيْهَا كِلَابُ الْحَوْأَبِ»[١] يعني ستاسو په کومې يوې باندې به د "الْحَوْأَب" سپي وغاپي، لکه چې نبي کريم ﷺ خوښ نه وه چې زمونږ کومه يوه د "الْحَوْأَب" په مقام باندې مرور او عبور وکړي.

يوولسم: خپل خوريي (د اسماء رضي الله عنها زوی) عبد الله بن الزبير ﷺ ورته وويلې چې: «بَلْ تَقْدَمِينَ فَيَرَاكِ الْمُسْلِمُونَ فَيُصْلِحُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ذَاتَ بَيْنِهِمْ»[٢] يعني ته بېرته مه ستنېږه وړاندې لاړه شه، اُميد دی چې الله ﷻ به ستا په ذريعه د مسلمانانو خپلمنځي اختلاف د منځه يوسي او تول به په علي ﷺ باندې متفق شي.

دولسم: مګر عائشه رضي الله عنها په خپل عزم باندې کلکه وه، آن تر دې چې اتيا کسانو شاهدي ورکړه چې دا ځای "الْحَوْأَب" نه نومېږي، نو د خپل عزم څخه صرف نظر شوه او د بصرې په لور يې خپل سفر ته ادامه ورکړه.

ديارلسم: په عين وخت کښې منافقانو علي ﷺ ته د عائشې رضي الله عنها (اُم المؤمنين) سفر غلط

(١) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۹۱
(٢) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسیر کړ، چې بصرې ته هغه د دې دپاره لاړه چې مقابله جبهه جوړه کړي او ستا د خلافت په ضد خنګ راپورته کړي.

څوارلسم: که څه هم په مدینه منوره کښې حسن ﷺ، حسین ﷺ، عبد الله بن جعفر ﷺ او عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما علي ﷺ ته مشوره ورکړه چې ته دلته په مدینه منوره کښې څه وخت څنډ وکړه ترڅو کیفیت ښه پوره څرګند شي چې ایا رښتیا أم المؤمنین عائشه رضي الله عنها ستا د مقابلې دپاره خلک راپورته کوي او که دا خبره دروغ ده مګر علي ﷺ د منافقانو د فشار د امله ذکره شوې مشوره ونه منله او د یوه ټولکي ملګرو سره ـ چې منافقان هم پکښې شامل وه ـ د بصرې په لور روان شو.

پنځلسم: هلته چې ورسېد نو "القعقاع ﷺ" یې أم المؤمنین رضي الله عنها ته ورواستاوه ترڅو ترې وپوښتي چې هغه دلته د څه د پاره راغلې ده؟ هغې جواب ورکړ چې: زه د دې دپاره راغلې یم چې د خلکو تر منځ اصلاح وکړم او بې اتفاقي او اختلاف د منځه یوسم.

شپاړسم: همدارنګه القعقاع ﷺ د أم المؤمنین رضي الله عنها د ملګرو مشرانو سره هم وکتل لکه طلحه ﷺ او نور، او لاندې سوال جواب یې ورسره وکړ:

القعقاع ﷺ: د اصلاح طریقه څه ده؟

طلحه ﷺ: د اصلاح طریقه دا ده چې د عثمان ﷺ قاتلان قصاص کړی شي، او انتقام ترې واخستلی شي.

القعقاع ﷺ: دا کار سمدستي ممکن نه دی، ترڅو چې مسلمانان په اتفاق نه شي او بې اتفاقي د منځه لاړه نه شي تاسو دا خبره پټه وساتئ.

طلحه ﷺ: مونږ ستا وړاندیز قبول کړ، د اوس دپاره مو د انتقام خبره پټه کړه.

اولسم: په ذکره شوې فیصله باندې امیر المؤمنین (علي ﷺ) هم ډېر خوشاله شو او د ټولو یقین راغی چې لانجه حل شوه، او په همدې بندوبس کښې وه چې مدینې منورې ته بېرته ستانه شي.

اتلسم: په همدې موضوع کښې طلحه ﷺ او څه نورو مشرانو د امیر المؤمنین (علي ﷺ) سره په داسې حال وکتل چې په مجلس کښې یې منافقانو ګډون درلود، نو د همدې کبله منافقان ډېر زیات وارخطا شوه چې مسلمانان متفق شوه او زمونږ هلې ځلې عبثې شوې.

نولسم: نو دوی (منافقانو) د دسیسې په توګه د أم المؤمنین رضي الله عنها په ملګرو باندې د شپې د مخې حمله وکړه ترڅو هغوی ګومان وکړي چې د امیر المؤمنین ﷺ غدر او ټګي مطلب ده او سوله یې مطلب نه ده، نو بالمقابل هغوی هم حمله وکړه او د سولې موضوع ـ چې تصویب ته نژدې شوې وه ـ د پښو لاندې شوه.

شلم: منافقان په خپل پلان کښې کامیاب شوه او دواړه جانبه په جنګ اخته شوه چې هر یوه جانب به په مقابل جانب باندې د غدر تور لګاوه، آن تر دې چې د دواړو جانبو څخه په زرګونو کسان ووژل شوه.

یوویشتم: د وړاندې وضاحت څخه څرګنده شوه چې عائشه رضي الله عنها د امیر المؤمنین (علي ﷺ)

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مقابلې دپاره جنګ ته د کوره نه وه وتلې، بلکې د حج د اداء کولو دپاره وتلې وه چې یو اسلامي عبادت دی، حتی ځینې علماء کرام وايي چې هغې رضي الله عنها په خپل ځان باندې حج نذر کړی وه او د همدغه نذري واجبي حج دپاره مکې معظمې ته وتلې وه[1]، او بیا د مکې معظمې څخه بصرې ته د مسلمانانو په منځکښې د اصلاح دپاره تللې وه، چې د مسلمانانو خپلمنځي اختلاف د منځه وړل د هر مسلمان فریضه ده.

## تبرج څه معنی؟

هـ: د ﴿ وَلَا تَبَرَّجْنَ ﴾ کلمه د "تَبَرُّج" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَبَرُّج" دېته وضعه شوی دی چې کومه ښځه خپل ډول او سنګار او خپل محاسن سړیو ته بربنډ کړي[2] ترڅو د هغوی توجه خپل ځان ته راواړوي.

## د الْجَاهِلِيَّة الأُولَى تفسير

و: د ﴿ ٱلْجَـٰهِلِيَّةِ ﴾ د کلمې معنی خو واضحه ده خو کله چې په ﴿ ٱلْأُولَىٰ ﴾ سره توصیفه شوې ده نو علماوو کرامو د همدغه توصیف په لحاظ په ګڼو تفسیرونو سره معنی کړې ده چې تقریبًا پنځلسو معناوو ته رسېږي[3]، کومه معنی چې مونږ ته غوره او په زړه پورې برېښي هغه دا ده چې:

دلته هغه "الأُولَى" مطلب نه دی د کوم په مقابل کښې چې د "الثانية" کلمه استعمالېږي بلکې په دې مقام کښې د "الْقَدِيْمَة" معنی ورکوي، چې مونږ یې په "وړاندېنې" سره ترجمه کوو.

پاتې شوه دا خبره چې وړاندېنې جاهلیت په کومه زمانه کښې تحقق موندلی وه چې زنانه پکښې په ډول-ډول بې حیا او بې شرمه کارونو باندې اخته وې او خپلو ځانونو ته په جذب او جلب باندې مبتلا وې؟ نو د دې جواب دا دی چې: مونږ دغې زمانې ته د کوم خاص وخته پورې تخصیص نه ورکوو، بلکې فقط همدومره لیکو چې د نبي کریم ﷺ د مبعوثیت څخه وړاندې د وړاندېنې جاهلیت زمانه وه، برابره خبره ده چې د مبعوثیت څخه ډېره وړاندې وه او که لږه[4].

په همدغه مطلب باندې لاندې احادیث هم دلالت کوي:

اول: په یوه اوږده حدیث کښې راغلي دي چې یوه ورځې ابو ذر ﷺ چا ته کنځل وکړه، نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ»[5] یعنې یقینًا ته یو سړی یې چې د جاهلیت د زمانې څه خوی درکښې پاتې دی.

دوهم: نبي کریم ﷺ د حجة الوداع په ورځ وویلې چې: «أَلَا وَإِنَّ كُلَّ دَمٍ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ»[6]

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۸۱

(۲) لسان العرب ج۲ ص۲۱۲

(۳) زاد المسیر ج۶ ص۱۹۷؛ تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۷۹

(۴) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۷۲

(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۹

(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني خبر اوسئ! هره وينه چې د جاهليت په زمانه کښې تويه شوې وي هغه وضعه کړی شوې ده، د هغې انتقام به څوک نه اخلي.

دریم: نبي کريم ﷺ په يوه بل اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَالنَّاسُ مَعَادِنُ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا»[١] يعني او خلک د معدنونو غوندې دي (ښه او بد پکښې شته او يو تربله تفاوت لري) نو د جاهليت د زمانې غوره کسان د اسلام په زمانه کښې هم غوره دي خو په دې شرط چې په خپل دين باندې په دقت سره پوه شي او د منحرفې لارې څخه اجتناب وکړي.

## دغه ارشاد عام دی

ز: دغه ارشاد ټولو مؤمنو زنانه وو ته د قيامت تر ورځې پورې شموليت لري[٢] کوم چې بايد بدون د ضرورته د کوره ونه وځي او خپل ډول او سنګار بېګانه وو نارينه وو ته بربنډ نه کړي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «خَيْرُ مَسَاجِدِ النِّسَاءِ قَعْرُ بُيُوتِهِنَّ»[٣] يعني د ښځو بهتر جومات د خپلو کورونو داخل دی (د دوی لمونځ همدلته ډېر غوره دی).

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا»[٤] يعني د ښځې لمونځ په خپله کوټه کښې بهتر دی د دې د لمانځه څخه چې په خپل کور (حويلی) کښې يې اداء کړي، او د دې هغه لمونځ چې د کوټې په دننه په بله کوټه (پسخانه) کښې يې اداء کړي د هغه لمانځه څخه افضل دی کوم چې په خپله کوټه کښې يې اداء کړي.

دریم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ»[٥] يعني ښځه عورت ده (بايد په پرده کښې ژوند وکړي) نو کله چې د کوره (د پردې څخه) ووځي شيطان يې د خپل نظر لاندې ساتي ترڅو وربانديې نارينه وو ته لغزش ورکړي او ترڅو دوی په نارينه وو وغولوي.

## اهل البيت څوک-څوک دي؟

ح: د ﴿أَهْلَ الْبَيْتِ﴾ کلمه په دې مقام کښې د حرف ندا (يا) په تقدير سره او يا د "أعني" په تقدير سره منصوبه ده[٦]، پاتې شوه دا خبره چې دلته د اهل البيت څخه څوک-څوک مراد دي، نو د دې جواب دا دی چې دلته د نبي کريم ﷺ بيبيانې (أُمهات المؤمنين رضي الله عنهن) مرادې دي او دا څکه چې:

اول: لکه چې وړاندې د [الأحزاب:٢٨] ايت لاندې مونږ د الله ﷻ په توفيق د احاديثو په رڼا کښې ليکلي دي چې دغه ايتونه د امهات المؤمنين رضي الله عنهن په شان کښې نازل شوي دي، او دا خو

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٤٩٦، ص٤٧٣
(٢) احكام القرآن للجصاص ج٣ ص ٣٦
(٣) مسند احمد بن حنبل ج ١٠ ص١٨٤
(٤) سنن ابي داود ج١ ص٨٤
(٥) جامع الترمذي ج١ ص٢٢٢
(٦) تفسير الكشاف ج٣ ص٥٣٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به بالکل د تعجب خبره وي چې ایتونه د همدوی په شان کښې نازل شوي وي خو پخپله دوی پکښې شاملې نه وي، لکه چې اهل التشیع همدغسې عجیب نظر لري[1].

دوهم: وړاندېنې او وروستنې احکام أمهات المؤمنین رضي الله عنهن پورې مستقیمًا تړاو لري، نو پوره واضحه ده چې په ﴿أَهْلَ ٱلْبَيْتِ﴾ کښې به هم په ندا سره د همدوی توجه جلبه شوې وي، هسې نه چې ندا علي ﷺ، فاطمې رضي الله عنها، حسن ﷺ او حسین ﷺ ته شوې وي او د ندا جواب (احکام) أمهات المؤمنین رضي الله عنهن ته متوجه وي، لکه څنګه چې اهل التشیع خیال کوي.

درېم: الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د مېرمنې (سارې رضي الله عنها) څخه په "أهل البیت" سره تعبیر کړی دی چې: ﴿أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَـٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ﴾ [هود:۷۳] یعنې پرښتو د ابراهیم ﷺ مېرمنې (سارې رضي الله عنها) ته وویلې چې: ایا ته د الله ﷻ د امر څخه تعجب کوې (چې ته به د اسحق ﷺ مور وګرځې)؟ ای د ابراهیم ﷺ د کور اهله! په تاسو باندې د الله ﷻ رحمت او د همده ﷻ برکتونه دي (نو تاسو تعجب مه کوئ اسحق ﷺ د همدغو برکتونو یو مثال دی).

نو ایا دا عجیبه نه ده چې بي بي ساره رضي الله عنها د ابرهیم ﷺ دپاره اهل البیت وګڼله شي، اما أمهات المؤمنین رضي الله عنهن د نبي کریم ﷺ دپاره اهل البیت ونه ګڼلی شي؟

څلورم: ډېره عجیبه خبره خو دا ده چې پخپله نبي کریم ﷺ أمهات المؤمنین ته د خپل اهل لقب ورکوي خو اهل التشیع ورباندې بخل کوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه احادیث ولولئ:

یو دا چې انس ﷺ په یوه ډېر اوږده حدیث کښې وايي چې نبي کریم ﷺ د أم المؤمنین (عائشې رضي الله عنها) حجرې ته ورغې او هغه یې مخاطبه کړه چې: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ وَرَحْمَةُ اللهِ»[2] یعنې په تاسو دې سلام وي ای اهل البیته! او د الله ﷻ رحمت هم.

بل دا چې نبي کریم ﷺ د "إفك" په اوږده واقعه کښې وویلې چې: «فَوَ اللهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِي إِلَّا خَيْرًا»[3] یعنې په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې زه په خپل اهل (عائشه رضي الله عنها) باندې علم نه لرم مګر د خیر.

پنځم: په همدې مضمون باندې چې أمهات المؤمنین رضي الله عنهن د نبي کریم ﷺ د اهل البیت څخه دي زښت ډېر احادیث روایت شوي دي، چې یوه غټه مجموعه یې ځینو مفسرینو کرامو راغونډه کړې ده[4] هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## سوال جواب

ط: که څوک وايي چې: که د اهل البیت څخه أمهات المؤمنین رضي الله عنهن مرادې وی نو په

---

(۱) تفسیر نمونه تالیف اهل التشیع ج۱۷ ص۲۹۴
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۷
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳۶۴
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ ﴾ كښې به د ﴿ عَنكُمۡ ﴾ په عوض "عَنْكُنّ" نازل شوی وی چې "كُنّ" د مونث جمعيت دپاره دی او د "كُمْ" ضمير په مذكر جمعيت باندې دلالت کوي؟

مونږ وايو چې: په ايت شريف کښې أمهات المؤمنين رضي الله عنهن په "كُمْ" سره د ﴿ أَهۡلَ ﴾ د لفظ په لحاظ مخاطبې کړی شوي دي، لکه څنګه چې په [هود:٧٣] ايت کښې يوازې ساره رضي الله عنها په همدغه لحاظ په "كُمْ" سره مخاطبه کړی شوې ده. او دا ځکه چې د "أَهْل" د کلمې په مونث او مذكر او هم واحد او ډېرو باندې اطلاق کېږي[١].

دا هم څه لرې نه ده چې د تذكير خطاب د تغليب په بنياد صورت نيولی وه لکه چې راتلونکې توضيح کښې يې -ان شاء الله ﷻ- شرحه راروانه ده، چې علي ؓ او حسين ؓ هم په اهل البيت کښې شامل دي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

ي: كه څوک وايي چې: د يوه حديث شريف مضمون دی چې كله ذكر شوی ايت شريف نازل شو نو نبي كريم ﷺ علي ؓ، فاطمې رضي الله عنها او حسن ؓ او حسين ؓ ته اشاره وکړه او ويې فرمايل چې: «اللَّهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِي فَأَذْهِبْ عَنْهُمْ الرِّجْسَ وَطَهِّرْهُمْ تَطْهِيرًا» يعني اې الله! دغه (څلور كسان) زما أهل البيت دي نو د دوی څخه پليتي محوه کړې او د (ګناهونو) څخه يې پاک وګرځوې پاک ګرځول.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا د ذكر شوي حديث شريف څخه د اهل التشيع د نظر تائيد نه معلومېږي چې أمهات المؤمنين په اهل البيت کښې شاملې نه دي؟

مونږ وايو چې: حديث په دې باندې دلالت کوي چې ذكر شوي څلور كسان اهل البيت دي اما په دې باندې دلالت نه کوي چې أمهات المؤمنين رضي الله عنهن ترې وتلي دي، د همدې کبله کله چې په عين وخت کښې أم سلمى (أم المؤمنين رضي الله عنها) وويلې چې: اې د الله رسوله! زه هم د دوی سره يم؟ نبي كريم ﷺ ورته جواب ورکړ چې: «أَنْتِ عَلَى مَكَانِكِ وَأَنْتِ عَلَى خَيْرٍ»[٢] يعني ته په خپل ځای يې او ته په خير سره يې. يا په بل عبارت: ته په اهل البيت کښې شامله يې او خير دې په برخه شوی دی، د دې خبرې څه اړتيا نشته چې ستا په هکله سوال وکړم.

نو زمونږ (اهل السنت والجماعت) عقيده دا ده چې أمهات المؤمنين رضي الله عنهن او ذكر شوي څلور كسان ؓ ټول په اهل البيت کښې شامل دي.

## د يوې غلطۍ د کبله بله غلطي

يا: اهل التشيع يوه غلطي دا وکړه چې أمهات المؤمنين رضي الله عنهن يې د اهل البيت د جملې څخه وويستلې نو دغه غلطي د بلې غلطۍ سبب شوه هغه دا چې اهل البيت (فقط څلور تنه رضوان الله عليهم) يې

(١) لسان العرب ج١١ ص٢٨
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٥٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د پیغمبرانو په شان د ګناهونو څخه معصومین وګڼل او تطهیر يې په عصمت سره تفسیر کړ.

نو که هغوی د ﴿ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ﴾ کلمه أمهات المؤمنين رضي الله عنهن ته شامله ګڼلې وی، نو بیا به ورته په عصمت باندې نه وی قائل شوي.

## یادونه

یب: که څوک د اهل البیت په هکله اضافه څېړنه غواړي نو هیله ده چې د اهل التشیع [١] او هم د اهل السنت والجماعت اوږدو کتابونو [٢] ته مراجعه وکړي چې دا موضوع پکښې نفیًا او اثباتًا ښه شرحه شوې ده.

﴿ إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾ ﴾

[٣٥] یقینًا غاړې ایښودونکي سړي او غاړې ایښودونکې ښځې، او یقین کوونکي سړي او یقین کوونکې ښځې، او تواضع کوونکي سړي او تواضع کوونکې ښځې، او رښتیا ویونکي سړي او رښتیا ویونکې ښځې، او صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې ښځې، او عاجزي کوونکي سړي او عاجزي کوونکې ښځې، او صدقه (خیرات) کوونکي سړي او صدقه کوونکې ښځې، او روژه نیوونکي سړي او روژه نیوونکې ښځې، او د خپلو عورتونو ساتونکي سړي او ساتونکې ښځې او (بالآخره) د الله ﷻ ډېر یادوونکي سړي او (ډېرې) یادوونکې ښځې، دوی (ټولو) ته الله ﷻ (د ګناهونو) مغفرت او ډېر لوی اجر تیار کړی دی.

## ارتباط او شان نزول

په وړاندېنیو ایتونو کښې هغو ارشاداتو ته اشاره شوې وه کومو چې أمهات المؤمنين او نورو اهل البیت پورې مستقیمًا تړاو درلود او نورو ته په اشاره باندې اکتفاء شوې وه، او په دې ایتونو کښې د امت ټول نارینه او ټول زنانه په مستقیمه توګه یاد کړی شوي دي او د مغفرت او لوی اجر وعده ورکړه شوې ده، الله ﷻ دې پکښې مونږ ته هم برخه راکړي.

اما د شان نزول په هکله يې متعدد واقعات روایت شوي دي [٣] خو مونږ فقط د لاندې یوه روایت په ذکر باندې اکتفاء کوو:

(١) تفسیر نمونه تالیف اهل التشیع ج١٧ ص٢٩٥
(٢) تفسیر القاسمي ج١٣ ص٢٤٩؛ المحرر الوجیز ج١٣ ص٧٣؛ روح المعاني ج٢٢ ص١٢؛ تفسیر المظهري ج٧ ص٣٤٠
(٣) زاد المسیر ج٦ ص١٩٩؛ اسباب النزول للواحدي ص٢٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته د "أم عمارة رضي الله عنها" په نامه یوه ښځه ورغله او عرض یې وکړ چې: ای د الله رسوله! زه (په قرآن کریم کښې) هیڅ شی نه ګورم مګر ټول سړیو لره دي، او زه ښځې نه ګورم چې په څه (وصف) سره یادې شوي وي نو ذکر شوی ایت نازل شو[1]، چې نارینه او زنانه یکښې څنګ په څنګ ذکر شوي دي.

## توضیحات

۱_ که څه هم د ځینو اختصاصي احکامو څخه په غیر اکثره اسلامي احکام په مذکرو صیغو سره بیانېږي، خو په ذکر شوي ایت کښې د لسو احکامو په ارتباط په موئنثو صیغو سره د زنانه وو ذکر هم وکړی شو، ترڅو زنانه پوه شي چې د نارینه وو ذکر د مثال په توګه او یا د تغلیب په ډول صورت نیسي، نه پکښې اختصاص مطلب دی او نه پکښې د زنانه وو د نېکو اعمالو بې قدرې مزاده ده.

۲_ د ﴿ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ ﴾ په ارتباط لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ قَالُوا وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ»[2] یعنې: د نورو خلکو څخه مفردینو سبقت او وړاندېوالی وکړ.

صحابه کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! مفردین څوک دي؟

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ: کوم نارینه چې الله ﷻ ډېر یادوي او کوم زنانه چې الله ﷻ ډېر یادوي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنِ اسْتَيْقَظَ مِنَ اللَّيْلِ وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّيَا رَكْعَتَيْنِ جَمِيعًا كُتِبَا مِنَ الذَّاكِرِينَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ»[3] یعنې هرڅوک چې د شپې د پلوه د خوبه راویښ شي او خپله مېرمنه هم راویښه کړي نو دواړه دوه رکعته لمونځ وکړي، دوی دواړه به د الله ﷻ په نزد د ډېرو یادوونکو نارینه وو او ډېرو یادوونکو زنانه وو څخه ولیکلی شي، کومو ته چې الله ﷻ د مغفرت او لوی اجر وعده ورکړې ده.

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۶
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۴۱
(۳) سنن ابي داود ج۱ ص۲۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿٣٧ مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۚ
وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ٣٨ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَـٰلَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ
أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ٣٩ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَـٰكِن رَّسُولَ
ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ٤٠﴾

[۳۶] او هیڅ مؤمن او هیڅ مؤمنې ته مناسبه (او جائزه) نه ده (البته) کله چې الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ یو کار فیصله کړي، چې دوی لره دې په خپل کار کښې (د هغه په خلاف) غوره کول وي (په دوی باندې فقط إطاعت واجب دی).

او هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ (د امر څخه) عصیان (او نافرماني) وکړي، نو یقینًا هغه لاره ورکه کړه څرګند ورکول.

[۳۷] او هغه وخت (درپه یاد کړه) چې تا هغه چاته وویلې په کوم باندې چې الله ﷻ اِنعام کړی وه (په قوي ایمان یې مشرف کړی وه) او تا همورباندې انعام کړی وه (چې حریت او ازادي دې ورکړې وه البته داسې) چې د خپل ځان سره خپله مېرمن ټینګه کړه (طلاق مه ورکوه) او د الله ﷻ څخه وډار شه.

(تا دا خبره) په داسې حال کښې (کوله) چې تا په خپل زړه کښې هغه کار پټ ساته د کوم چې الله ﷻ ښکاره کوونکی وه، او (په داسې حال کښې چې) ته د خلکو (د اعتراض) څخه ډارېدلې او الله ﷻ ډېر لایق (او مستحق) دی چې ته ورڅخه وډار شې.

نو کله چې زید ﷺ (منعم علیه شخص) د خپلې مېرمنې څخه خپل احتیاج پوره کړ (طلاق یې ورکړ او عدت یې تېر شو) نو همدغه (مېرمن) مونږ تاته په نکاح درکړه (او مونږ چې د کوم کار ښکاره کوونکي وه هغه مو ښکاره کړ).

(البته دا) د دې دپاره چې په مؤمنانو باندې د خپلو زامن بللو شوو د مېرمنو (په نکاح) کښې څه حرج (باک) پاتې نه شي، خو چې کله ترې زامن بلل شوي کسان خپل احتیاج پوره کړي (طلاق ورکړي او عدتونه یې تېر شي).

او د الله ﷻ (هر یو) کار کړی شوی دی (هیڅوک یې مخنیوی نه شي کولی).

[۳۸] په پیغمبر ﷺ باندې په هغه کار کښې هیڅ حرج (باک او اعتراض) نشته کوم چې ورته الله ﷻ تاکلی وي (که څه هم د خلکو خوښ نه وي).

(دا طریقه) الله ﷻ په هغو کسانو (پیغمبرانو) کښې جاري کړې ده، جاري کول، کوم چې وړاندې تېر شوي دي. او د الله ﷻ هر یو کار د قوي ازلي ارادې څخه منشا اخلي (چې هیڅوک یې مخه نه شي نیولی).

[۳۹] (پخواني پیغمبران) هغه کسان دي چې هغوی به د الله ﷻ پیغامونه په داسې حال کښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(خلکو ته) رسول چې د همده ﷻ څخه به ډارېدل او د هیچا څخه به نه ډارېدل مګر (یوازې) د الله ﷻ څخه (او بس).

او الله ﷻ د حساب کوونکي په حیث بس دی (هر چاته به مناسبه سزا یا جزا ورکړي).

[۴۰] (ای مؤمنانو!) محمد ﷺ ستاسو د بالغو نارینه وو څخه د یوه کس هم (حقیقي او شرعي) پلار نه دی (نو د زید ﷺ هم پلار نه دی)، مګر د الله ﷻ رسول او د ټولو پیغمبرانو وروستنی پیغمبر دی. او الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی (په هر مناسب کار باندې پوهېږي).

## ارتباطونه او شان نزول

۱ـ دا ایتونه د وړاندېنیو ایتونو سره زښت ډېر ارتباطونه لري خو لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: وړاندې په [الأحزاب:۴] ایت کښې الله ﷻ ارشاد فرمایلی وه چې د زوی په نامه سره بللی شوی کس حقیقي او شرعي زوی نه جوړېږي، په دې ایتونو کښې د هغه صحابي (زید ﷺ) قیصې ته اشاره شوې ده کوم چې نبي کریم ﷺ د خپل ځان دپاره په زویتوب سره نیولی وه خو حقیقي او شرعي زوی یې ونه ګرځېد.

ب: وړاندې اُمهات المؤمنین ته اختیار ورکړی شوی وه او دلته هغه حکم ته اشاره کېږي په کوم کښې چې څوک د اختیار او غوره کولو حق نه لري.

ج: په وړاندې متصل ایت کښې د مؤمنانو لسو صفاتو ته اشاره شوې وه او دلته یې د یوولسم صفت بیان نازل شوی دی چې دوی د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ د غوره کړی شوي کار په خلاف بل کار نه غوره کوي.

۲ـ اما د دغو ایتونو د اولني ایت په شان نزول کښې متعدد صورتونه روایت شوي دي[۱] او په نورو ایتونو کښې د همدغه ایت موضوع تعقیبه شوې ده، خو مونږ د دوه وو روایتونو په ذکر باندې اکتفاء کوو چې دواړه د زید بن حارثه ﷺ پورې ارتباط لري، هغه دا:

الف: یو ځل نبي کریم ﷺ خوښه او غوره کړه چې د خپل ازاد کړی شوي صحابي (زید ﷺ) دپاره خپله د ترور لور (زینب بنت جحش رضي الله عنها) په نکاح واخلي، خو دغه وړاندیز نه نوموړې زینب رضي الله عنها خوښ کړ او نه پرې د هغې ورور (عبد الله ﷺ) راضي شو، ځکه چې زید ﷺ د غلامۍ دوره تېره کړې وه او دوی خپل سیال نه ګاڼه. نو الله ﷻ ذکر شوی اولنی ایت شریف نازل کړ، چې په نتیجه کښې وربانډې خور او ورور دواړه راضي شوه.

ب: یوه ورځې یوې ښځې ـ چې اُم کلثوم نومېده ـ نبي کریم ﷺ ته خپل ځان وباښه، خو نبي کریم ﷺ اراده وکړه چې زید بن حارثه رضي الله عنها ته یې په نکاح کړي، خو دا کار نه د نوموړې ښځې خوښ شو او نه یې وربانډې ورور راضي شو، چې مونږ خو د نبي کریم ﷺ سره خپلوي غوښتله نه د یوه ازاد کړی شوي غلام سره.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۸۹؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۵۴۰؛ المحرر الوجیز ج۱۳ ص۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ذکر شوې ایت شریف نازل شو او دوی دواړه (خور او ورور) د زید بن حارثه ﷺ په نکاح باندې راضي شوه.

## تبصره

۳_ مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د ایت شریف دپاره به لومړنی ایت اصلي شان نزول وي چې د زینب رضي الله عنها نکاح وربانديې صورت ونيوه، خو بیا چې کله نوموړي صحابي ﷺ زینب رضي الله عنها ته طلاق ورکړ او هغه په اُمهات المؤمنین کښې شامله شوه نو بیا به دوهم روایت د زید ﷺ د بل واده په حيث صورت نيولی وي.

هو! دوهم روایت که څه هم اصلي شان نزول نه دی خو د ایت شریف دپاره مصداق دی، او سلفو صالحینو خو په مصداق باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه(۱).

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! په دې مقام کښې په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ د کاملو مؤمنانو د صفاتو څخه دا هم ده چې دوی په هغه کار کښې د خپلې خوښې څخه تېرېږي په کوم کښې چې د شریعت فیصله صادره شوې وي، نو د همدې کبله هیڅ مؤمن او هیڅ مؤمنې ته مناسب نه دي چې خپلې خوښې پسې وګرځي، البته په هغه کار کښې کوم چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ په فیصلې صورت نیولی وي.

دوی په دغسې کار کښې سمدستي د خپلو کارونو د خوښولو څخه تېرېږي او د نوموړي فیصلې پیروي کوي، او دا ځکه چې د خلاف په صورت کښې دوی عاصیان او خلافکاران ګرځي. او هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ څخه عصیان او نافرماني وکړي نو یقیناً هغه بې لارې شو او سمه لاره یې ورکه کړه، چې بې لارې کېدل یې پوره ځرګند دي او هیڅ شک پکښې نشته.

۲_ ای پیغمبره! ته هغه وخت هم دریه زړه کړه چې تا هغه کس ته وویلې په کوم باندې چې الله ﷻ په اسلام سره انعام کړی وه چې د کفر د تیارو څخه یې راویستلی او په اسلام یې مشرف کړی وه، او په کوم باندې چې تا هم احسان کړی وه چې د مریبتوب څخه دې ازاد کړی وه او حریت دې وربښلی وه. البته هغه وخت چې کله نوموړي تاته خپلې مېرمنې ته د طلاق ورکولو د ارادې اطلاع درکړه نو تا ورته وویلې چې: خپله ښځه په نکاح کښې وساته او طلاق مه ورکوه او د الله ﷻ څخه وډار شه.

۳_ ای پیغمبره! تا دغه خبره په داسې حال کښې کوله چې په زړه کښې دې هغه خبره پټه کړې وه د کومې چې الله ﷻ ښکاره کوونکی وه او تاته معلومه وه چې دغه خبره هرومرو تحقق موندونکې ده. تاته په کار وه چې د ذکرې اطلاع په وخت کښې تا په دغې اطلاع باندې زید بن حارثه ﷺ خبر کړی وی، نو په دې تقدیر به ستا باطن د ظاهر سره نه وی مخالف شوی وی.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تا خو ذکره شوې کړنلاره د دې کبله خوښه کړې وه چې ته د خلکو څخه ډارېدلې او د همدوی څخه دې حیا کوله حال دا چې الله ﷻ ډېر ښه مستحق دی چې ته ترې وډار شې او حیا ترې وکړې.

۴ـ نو بیا هغه وخت هم درپه زړه کړه چې کله زید (ذکر شوي منعم علیه) د خپلې میرمنې څخه خپل احتیاج پوره کړ او رابطه یې ورسره په طلاق او د عدت په تېرېدلو وشکوله، همدغه مېرمن مونږ تاته په نکاح باندې درکړه او هغه کار مو څرګند کړ، د کوم چې مونږ څرګندوونکي وو او کوم چې تا په خپل زړه کښې پټ ساتلی وه.

۵ـ ای پیغمبره! مونږ ذکر شوی کار د دې دپاره وکړ ترڅو په آینده کښې په مؤمنانو باندې څه تنګوالې صورت ونه نیسي او د حرج سره مخامخ نه شي، البته په دې کښې چې: څوک د هغه چا ښځه د طلاق او عدت څخه وروسته په نکاح واخلي کوم ته یې چې د خپل زوی لقب ورکړی وي حال دا چې په واقع کښې یې زوی نه وي.

ترڅو د جاهلیت دغه مزخرف رواج د هر چا څخه وړاندې همدا ستا په ذریعه د منځه لاړ شي، چې د قیامت تر ورځې پورې د ټولو مؤمنانو دپاره یو بنیاد کېښودلی شي او هیچاته په دغه کار کښې د ملامتیا ګوته ونه نیوله شي.

دا د الله ﷻ کار وه او د ده ﷻ چې هر کار ته اراده وشي هغه کړی شوی وي، د هغه مخنیوی هیڅوک او هیڅ شی نه شي کولی.

۶ـ باید ټول خلک په دې پوه شي چې د الله ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې د هغه کار په اجراء کولو کښې هیڅ حرج او تنګي نشته او نه ورته څوک د ملامتیا ګوته نیولی شي، کوم چې الله ﷻ یوازې د هغه دپاره فرض کړی او مقرر کړی وي، چې دا کار به ضرور کوي. یا په بل عبارت: د زینب رضي الله عنها په نکاح کولو کښې په نبي کریم ﷺ باندې هیڅوک د اعتراض کولو حق نه لري ځکه چې د الله ﷻ د پلوه ورباندې دغه نکاح فرض شوې وه او د فرض په اداء کولو کښې هیڅ اعتراض نشته.

د الله ﷻ د پلوه په پخوانیو پیغمبرانو کښې دا طریقه تېره شوې ده چې کله-کله د ځینو احکامو په هکله هغوی ته اختصاص ورکول کېده؛ او د الله ﷻ هر یو کار په دقیقه توګه ټاکلی شوی او مقرر کړی شوی دی چې هیڅوک تغیر نه شي ورکولی، او نه د منافقانو په اعتراضاتو باندې بدلون قبلوي.

۷ـ ای پیغمبره! پخواني پیغمبران هغه کسان وه چې په اختصاصي احکامو باندې به یې په څرګنده توګه عمل کاوه خو د دې سره-سره د الله ﷻ پیغامونه به یې خلکو ته رسول او د همده ﷻ څخه به ډارېدل. نو د الله ﷻ څخه په غیر به د هیچا څخه نه ډارېدل او په اختصاصي احکامو باندې به یې عمل کاوه.

نو تاته هم په کار دي چې په اختصاصي ارشاداتو باندې عمل وکړې او په هیڅ ډول سره د چا څخه ونه ډار شې، او دا ځکه چې الله ﷻ کافي دی چې ستا نصرت وکړي او د اعتراض کوونکو سره په خپل وخت محاسبه وکړي.

۸ـ ای خلکو! تاسو پوه شئ چې په محمد ﷺ باندې هیڅوک د زینب رضي الله عنها په نکاح کولو کښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د اعتراض حق نه لري او دا ځکه چې:

الف: نبي کريم ﷺ ستاسو څخه د هيڅ سړي پلار نه دی. يا په بل عبارت: د ده ﷺ زامن دومره وخت ژوندي نه دي پاتې شوي چې د مکلفيت وخت ته ورسېږي او د رجل (سړي) اطلاق ورباندې وشي لکه څنګه چې په زيد ﷺ باندې د رجل اطلاق کېږي.

ب: مګر نبي کريم ﷺ د الله ﷻ د پلوه د پيغمبر ﷺ په صفت استولی شوی دی، او د پيغمبر دا مکلفيت وي چې إلهي ارشادات خلکو ته ورسوي او په ډاګه ورباندې عمل وکړي، نو د بي بي زينب رضي الله عنها نکاح کول هم د ده ﷺ د مکلفيتونو څخه يو مکلفيت وه ترڅو د جاهليت د زمانې د بد عادت او رواج جرړې وباسي.

ج: که نبي کريم ﷺ د دغه بد رواج مخنيوی ونه کړي نو بل څوک دی چې مخه يې ونيسي؟ که بالفرض نبي کريم ﷺ وروستنی پيغمبر نه وی او بل پيغمبر هم د ده ﷺ په تعقيب راروان وی نو د دغه بد رواج مخنيوی به د هغه پورې تړل شوی وی. خو د ده ﷺ څخه وروسته بل پيغمبر نشته، نو که همدی ﷺ د بدو رواجونو مخنيوی ونه کړي نو د قيامت تر ورځې پورې به باقي پاتې شي.

د: لنډه دا چې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی، او هر کار په مناسب وخت کښې إجراء کوي، نو د ذکر شوي بد رواج د مخنيوي همدا وخت وه او بس.

## توضيحات

۱_ په ﴿ أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْخِيَرَةُ ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [القصص:۶۸] ايت لاندې ښه شرحه کړې ده چې دوه معناوې لري، چې يوه د إرادې سره مرادفه ده، او بله معنی يې ترجيح او تفضيل دی. خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې دغه کلمه مصدر ده او د اختيار (غوره کولو) معنی ورکوي. يعنې هيڅ مؤمن سړی او مؤمنې ښځې ته مناسب نه دي چې دوی خپلو غوښتنو ته د شريعت په غوښتنو باندې ترجيح ورکړي.

همدې مضمون ته الله ﷻ په [النساء:۶۵] ايت کښې اشاره کړې ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په ذکر شوي عبارت کښې د "هُمْ، هُمْ" دوه د جمعيت مذکر ضميرونه څه شي ته راجع دي؟

مونږ وايو چې: دغه دواړه ضميرونه د تغليب په ملحوظ "مُؤْمِن، مُؤْمِنَة" ته راجع دي. که څه هم دغه مرجع مثنی ده خو د نفي په سياق کښې واقع ده چې عموم يې ترې استفاده کړی دی او د عموم سره خو جمعيت ملګری وي، نو د ذکرو شوو دواړو ضميرونو سره يې تطابق حاصل شو.

## زيد بن حارثه ﷺ څوک وه؟

۳_ په ﴿ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ﴾ الآية کښې د "الَّذِي" د کلمې څخه زيد بن حارثه ﷺ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مراد دی[۱]، نو د دې دپاره چې د دې مقام مطالب ښه پوره واضحه شي، مونږ د نوموړي صحابي ﷺ څه لنډ سوانح ليکو هغه دا چې[۲]:

الف: د جاهليت په زمانه کښې يوې عربي قبيلې به بلې عربي قبيلې چپاو وروړی وه ـلکه چې په هغه وخت کښې همدا عادت وه ـ او د مغلوبې قبيلې څخه يې بنديان په ظلم سره بيولي وه، د دغو بنديانو د جملې څخه زيد بن حارثه ﷺ هم وه.

ب: غالبې قبيلې نوموړی زيد ﷺ، د عکاظ په بازار کښې د بي بي خديجه الکبری په وراره باندې د غلام په نامه خرڅ کړ، چې د خپلې ترور دپاره يې خريداري کړی وه، او عمر يې په دغه وخت کښې فقط اته کالو ته رسېده.

ج: کله چې نبي کريم ﷺ خديجه الکبری په نکاح کړه او د مؤمنانو دپاره مور وګرځېدله، هغې خپل غلام (زيد ﷺ) نبي کريم ﷺ ته وبانښه.

د: د زيد ﷺ خپلوان خبر شوه چې هغه په مکه معظمه کښې اوسېږي او د غلام په حيث هلته پلورل شوی دی، نو پلار او تره يې ورغله او د نبي کريم ﷺ سره يې لاندې سوال جواب وکړ:

پلار او تره: مونږ خبر شوي ياستو چې زيد ستا غلام دی، نو مونږ به فديه درکړو هيله ده هغه په مونږ باندې وسپارې چې د خپله ځانه سره يې بوځو.

نبي کريم ﷺ: زه ستاسو څخه فديه نه غواړم پرته د فديې اخستلو به يې درسره ولېږم، خو په دې شرط چې نوموړی ستاسو سره په تللو راضي وي.

پلار او تره: ډېره ښه ده د زيد څخه دې پوښتنه وکړی شي.

نبي کريم ﷺ: ای زيده! دغه دواړه کسان پېژنې؟

هغه جواب ورکړ چې: هو! دغه مې پلار دی او هغه مې تره دی.

بيا نبي کريم ﷺ نوموړی مخاطب کړ چې اوس نو ستا خوښه چې زما سره پاتې کېږې او که د خپل پلار او تره سره خپل وطن ته ځې. سمدستي زيد د نبي کريم ﷺ سره پاتې کېدل خوښ کړه، او ويې ويل چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! وَاللهِ لَا أَخْتَارُ عَلَيْكَ أَحَدًا»[۳] يعنې ای د الله ﷺ پيغمبره! په الله ﷺ مې دې سوګند وي چې زه به په تاباندې هيڅاته غوره والی نه ورکوم!

نبي کريم ﷺ: «أَشْهِدُوا أَنَّ زَيْدًا ابْنِي يَرِثُنِي وَأَرِثُهُ»[۴] يعنې ای خلکو! تاسو شاهدان اوسئ چې زيد زما زوی دی (ما په زوی توب سره ونيوه) چې زه به د ده څخه مېراث ورم او دی به زما څخه مېراث وړي (زما د پلوه ازاد او حُر دی).

نو پلار او تره يې ډېر خوشاله شوه او بېرته خپل وطن ته ستانه شوه.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۰۴؛ تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۰۵

(۲) الدر المنثور ج۶ ص: الإصابة في تميز الصحابة ج۱ ص۵٦۳

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۱

(۴) الإصابة في تميز الصحابة ج۱ ص۵٦۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: د همدغه وخت څخه وروسته به نوموړی د زید بن محمد په نامه بلل کېده، آن تر هغه وخت پورې چې [الأحزاب: ۵] ایت نازل شو نو بیا یې بېرته خپل اصلي پلار ته انتساب صورت ونیو، چې د زید بن حارثه په نامه یاد شو او بس.

و: په قرآن کریم کښې د بل یوه صحابي هم په صراحت نوم نه دی ذکر شوی، یوازې زید بن حارثه ﷺ دی چې په [الأحزاب: ۳۷] ایت کښې یې نوم نازل شوی او دا لوی افتخار یې په برخه شوی دی.
شاید چې دا ویاړ به د هغه ویاړ په بدل کښې ورکړی شوی وي کوم چې د نوموړي څخه واخستل شو او د "ابن محمد" نوم ترې ممنوع وګرځولی شو.

ز: کله چې زید ﷺ زلمی شو نو نبي کریم ﷺ ورته "أم أیمن رضي الله عنها" په نکاح کړه چې أسامه بن زید ﷺ د همدې بي بي زوی دی، او بیا یې ورته خپله د ترور لور (زینب رضي الله عنها) په نکاح کړه چې:

ح: په مدینه منوره کښې نبي کریم ﷺ د خپلې ترور لور (زینب رضي الله عنها) د نکاح غوښتنه وکړه، نو زینب بي بي او د دې کورنۍ ډېره خوشاله شوه چې دا مطالبه نبي کریم ﷺ د خپل خان دپاره کړې ده.
خو کله چې هغوی پوه شوه چې دغې مطالبې د زید بن حارثه ﷺ دپاره صورت نیولی دی نو پخپله زینب رضي الله عنها او ورور یې (عبدالله) د نوموړي د قبول څخه انکاري شوه، نو الله ﷻ ایت شریف نازل کړ چې: ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ ﴾ الآية، سمدستي دواړو دغه مطالبه قبوله کړه.

ي: د نکاح څخه وروسته د زید ﷺ او د زینب رضي الله عنها ګوزاره خرابه شوه او زید ﷺ یې د طلاق اراده وکړه، چې تفصیل یې په ایت شریف کښې نازل شوی دی.

یا: عائشې رضي الله عنها د زید بن حارثه ﷺ په هکله ویلي دي چې: «مَا بَعَثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ فِي جَيْشٍ قَطُّ إِلَّا أَمَّرَهُ عَلَيْهِمْ وَلَوْ بَقِيَ بَعْدَهُ اسْتَخْلَفَهُ»[1] یعني: نبي کریم ﷺ زید بن حارثه ﷺ (د غازیانو) په هیڅ لښکر کښې نه دی استولی مګر په لښکر باندې به یې د امیر په حیث استاوه، او که بالفرض نوموړی صحابي ﷺ د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته ژوندی پاتې وی نو هرومرو به یې خپل خلیفه ګرځولی وی.

یب: نوموړی صحابي ﷺ د موته په غزا کښې شهید شو[2]. إنا لله وإنا إليه راجعون.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونه

۴ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې په ﴿ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ ﴾ کښې د "ما" کلمه د څه شي څخه عبارت ده. یا په بل عبارت: هغه څه شی وه د کوم چې الله ﷻ څرګندوونکی وه او نبي کریم ﷺ په خپل مبارک زړه کښې پټ ساتلی وه؟

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج ۱ ص ۵۷

(۲) الإصابة في تمييز الصحابة ج ۱ ص ۵۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: نوموړې شی د بي بي زینب رضي الله عنها د نكاح خبر وه(۱) چې الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته وحې كړې وه چې دا كار كېدونكې او څرګندېدونكې دی ترڅو د جاهليت بد رواج د منځه يووړل شي. خو د دغې وحې سره-سره ـ كله چې زيد رضي الله عنه نبي كريم ﷺ ته د نوموړې زينب رضي الله عنها څخه شكايت وكړ چې زما اطاعت نه كوي او زه غواړم چې طلاق وركړم ـ نبي كريم ﷺ ورته وويلې چې: ﴿ أَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ ﴾ يعني خپلې مېرمن (زينب رضي الله عنها) ته طلاق مه وركوه (په خپله نكاح كښې يې بنده وساته) او د الله ﷻ څخه وډار شه.

ب: كه څوك وايي چې: ځينې مفسرين كرام وايي چې ذكر شوی پټ ساتلی شوی شی زينب رضي الله عنها ته د نبي كريم ﷺ د زړه ميلان وه(۲) چې په طبعي توګه يې صورت ونيوه البته كله چې دغه بي بي رضي الله عنها د ده ﷺ د نظر لاندې واقع شوه. نو پوښتنه دا ده چې تاسو دغه تفسير په څه دليل خوښ نه كړ؟

مونږ وايو چې: دغه تفسير مونږ د لاندې وجوهو د كبله خوښ نه كړ:

اول: دا تفسير د يو پلوه د نبي كريم ﷺ د عالي شان سره چندان تناسب نه لري، او د بله پلوه نه په كوم حديث باندې په اثبات رسېدلی دی او نه د ايتونو د اشاراتو څخه څرګندېږي.

په دې باندې علاوه عقل يې هم نه شي منلی او دا ځكه چې:

دوهم: ذكره شوې زينب رضي الله عنها د نبي كريم ﷺ د ترور لور وه او د همده ﷺ د نظر لاندې لويه شوې وه، كه بالفرض د ده ﷺ زړه ورته ميلان كولی نو په ډېرې اسانۍ سره يې ورته اخستې وه. حال دا چې نوموړې زينب رضي الله عنها او د هغې ورور (عبد الله رضي الله عنه) د نكاح د مطالبې په وخت كښې ډېر خوشاله شوه چې دغه مطالبه نبي كريم ﷺ د خپل ځان دپاره كړې ده. لكه چې پوره وضاحت يې د الله ﷻ په توفيق وړاندې په درېمه توضيح كښې تېر شو.

ج: كه څوک رايي: كوم تفسير چې تاسو غوره كړی دی، د هغه د ثبوت وجې كومې-كومې دي؟

مونږ وايو چې: زمونږ د غوره كړی شوي تفسير د اثبات د وجوهو څخه لاندې وجې ولولئ:

اول: د ﴿ وَتُخۡفِي فِي نَفۡسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبۡدِيهِ ﴾ د جملې څخه د اشارې په توګه معلومېږي چې الله ﷻ د هغه شي د څرګندولو وعده كړې وه كوم چې نبي كريم ﷺ په خپل مبارک زړه كښې ساتلی وه. خو الله ﷻ په خپله وعده وفاء وكړه او د ﴿ زَوَّجۡنَٰكَهَا ﴾ جمله يې نازله كړه او څرګنده يې كړه چې زينب په أمهات المؤمنين كښې شامله وګرځوله شوه.

كه بالفرض پټ ساتلی شوی شی د همدغې نكاح خبر نه وی نو الله ﷻ به په خپله وعده وفا نه وی كړې او كوم شی چې نبي كريم ﷺ پټ ساتلی وه هغه به الله ﷻ هم پټ ساتلی وی (او دا ځكه چې په دغه ارتباط خو الله ﷻ د هغې د نكاح څخه په غير بل شی نه دی څرګند كړی).

دوهم: په دې باندې علاوه ذكره شوې جمله په دې هم دلالت كوي چې د زينب رضي الله عنها د نكاح

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۵۵۴؛ تفسير القاسمي ج۱۳ ص۲۶۸
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۵۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عقد خو صرف زمونږ د پلوه صورت نیولی دی، تا خو څه اراده نه درلوده او نه دې ورته میلان کړی وه چې تا ته څه ملامته متوجه شوې وې.

دریم: د ﴿وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ﴾ جمله هم په همدې مطلب باندې دلالت کوي، او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ د نکاح په صورت کښې د منافقانو د پروپاګند څخه ډارېده، که بالفرض پټ ساتلی شوی شی د زړه میلان وی نو د خلکو (منافقانو) څخه به نه وی ډار شوی ځکه چې د زړه په میلان باندې خو د یو پلوه څوک خبرېږي نه، چې د پروپاګند زمینه ورته برابره شي، او د بله پلوه په دغه میلان باندې چاته د ملامتې ګوته نه نیوله کېږي چې هیڅوک د خپل زړه د تصوراتو ساحه نه شي محدودولی.

څلورم: بالآخره الله ﷻ د ذکر شوي عقد په سبب باندې صراحت کړی دی چې: ﴿لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ﴾ الآية. یعنې دغه کار ستا د قلبي میلان د کبله صورت نه دی نیولی بلکې په دغه کار (عقد) کښې د بد رواج مخنیوی او د مؤمنانو څخه د حرج پورته کول مطلب دي.

د: که څوک وايي چې: په دې مقام کښې نبي کریم ﷺ ته د عتاب آمیزه خطاب وجه څه ده؟ یا په بل عبارت: په دې مقام کښې د نبي کریم ﷺ څخه کوم نامناسب کار صورت نیولی وه؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو[1] د عتاب آمېزه خطاب وجه دا ښودلې ده چې نبي کریم ﷺ زید بن حارثه ﷺ ته په ﴿أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ﴾ سره مشوره ورکړه، مناسبه دا وه چې یا چپ پاتې شوی وی او یا یې ورته ویلی وی چې: "أنت وشانک" ته پوهېږې او کار دې.

مګر مونږ ته دغه مناسبه خبره په دې مقام کښې نامناسبه برېښي، دا ځکه چې په دې تقدیر خو هغه شی پټ پاتې شو کوم چې نبي کریم ﷺ په مبارک زړه کښې پټ ساتلی وه او الله ﷻ یې څرګندول او په ډاګه کړخول غوښتل چې په ﴿وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ﴾ کښې ورته اشاره شوې وه.

نو مونږ ته بهتره برېښي چې نبي کریم ﷺ ته مناسبه او بهتره دا وه چې په صراحت سره یې زید بن حارثه ﷺ په وحي باندې خبر کړی وی چې الله ﷻ اراده کړې ده چې زینب رضي الله عنها په أمهات المؤمنین کښې شامله کړي او د جاهلیت رواج ورباندې د منځه یوسي.

همدا مطلب په راتلونکي ایت کښې د ﴿يُبَلِّغُونَ رِسَـٰلَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ﴾ د جملو څخه هم د اشارې په توګه څرګندېږي، یعنې پخوانیو پیغمبرانو د خلکو د ډاره وحې نه ده پټه کړې او وخت په وخت یې ابلاغ کړې ده، نو تا ولې ابلاغ نه کړه؟.

د همدې کبله أم المؤمنین عائشه رضي الله عنها وايي چې: «لَوْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاتِمًا شَيْئًا مِنَ الْوَحْيِ لَكَتَمَ هَذِهِ الْآيَةَ ﴿وَإِذْ تَقُولُ﴾ (الآية)»[2] یعنې که بالفرض نبي کریم ﷺ د وحې څخه د کوم شي پټوونکی وی نو هرومرو به یې همدغه ایت شریف پټ کړی وی (چې په ډېر شدید عتاب باندې مشتمل دی).

---

(١) روح المعاني ج٢٢ ص٢٤؛ تفسير الكشاف ج٣ ص٥٤١

(٢) صحيح البخاري ج٢ ص١١٠٣؛ جامع الترمذي ج٢ ص١٥٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: که څوک وايي چې: د څه حکمت په منظور د ﴿ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا ﴾ په جمله کښې د زيد ﷺ په نامه باندې صراحت وکړی شو؟ ايا دا به بهتره نه وه چې د ايت شريف په اول سر کښې ورباندې صراحت شوی وی او د ﴿ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ ﴾ په عوض "وَإِذْ تَقُولُ لِزَيْدٍ" نازل شوی وی؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: د ايت شريف په سر کښې زيد ﷺ څکه د نامه په عوض په موصول (الذي) سره ذکر شو ترڅو د عتاب شدت ته اشاره وکړی شي هغه دا چې: زيد بن حارثه ﷺ خو هغه سړی دی چې الله ﷻ پرې انعام کړی دی او قوي ايمان يې ورکړی دی او پخپله تا هم ورسره بنه غټې انعام کړی دی چې د مريتوب څخه دې ژغورلی دی، نو تاته مناسب وه چې په صراحت سره دې ورته وحې څرګنده کړې وی چې الله ﷻ خو دغسې اراده کړې ده ستا څنګه خوبنه ده؟

نو که تا د ابراهيم ﷺ طريقه خپله کړې وی او په وحې باندې دې صراحت کړی وی نو هرومرو به زيد بن حارثه ﷺ د اسماعيل ﷺ جواب خپل کړی وی چې: ﴿ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ﴾ [الصآفات:۱۰۲] يعنې هغه څه اجراء کړه په کوم باندې چې ته مامور ګرځېدلی يې.

نو کله چې نبي کريم ﷺ په خوله يوه خبره وکړه خو په زړه کښې يې بله خبره وه، نو دا کار يې خلاف الأولی او نه بهتر (غير مناسب) کار وه، چې نبي کريم ﷺ ورته په خپلو احاديثو کښې هم اشارې کړې دي، چې يو مثال يې د عبد الله بن سعد بن ابي السرح قيصه ده کومه چې د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۹۳] ايت لاندې تېره شوې ده، او بل مثال يې دا دی چې په يوه اوږده حديث کښې نبي کريم ﷺ يوه صحابي ته وويلې: «إِنَّهُ لَيْسَ لِنَبِيٍّ أَنْ يُومِضَ»[1] يعنې هيڅ پيغمبر ته دا خبره نشته (ورسره مناسبه نه ده) چې په پټه چاته نرۍ اشاره وکړي، چې هله ژرشه دا کار وکړه، او خپل ځان ورباندې ناکاره کړي چې ما هيڅ اشاره نه ده کړې.

خو په ياد ولرئ! چې نبي کريم ﷺ ته امر نه وه شوی چې د زينب رضي الله عنها نکاح خلکو ته ابلاغ کړه، که بالفرض امر ورته شوی وی نو په هيڅ صورت کښې به يې په زړه کښې نه وی ساتلی.

او دا هم په ياد ولرئ چې د نبي کريم ﷺ د عالي شان سره د ظاهر او د باطن عدم تطابق غير مناسب وه چې په باطن (ما في الضمير) باندې يې اظهار ونه کړ او ورباندې غلی شو. که بالفرض المحال د باطن (ما في الضمير) څخه يې انکار کړی وی او د هغه په خلاف يې څرګندونه کړې وی، نو په دې صورت کښې خو به د دروغو د عصيان مرتکب شوی وی. نو د ايت شريف مطلب دا دی چې تا خلاف الأولی کار وکړ، هسې نه چې تا عصيان وکړ.

و: که څوک وايي چې: ايا د پيغمبر ﷺ د عالي شان سره مناسبه وه چې د خلکو څخه وډار شي لکه چې په ﴿ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ ﴾ کښې ورته اشاره شوې وه؟

مونږ وايو چې:

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۳۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د بشریت په لحاظ سره د غیر الله څخه ډارېدل د نبوت د عصمت سره څه منافات نه لري، لکه چې موسی ﷺ د اژدها څخه ډار شوی وه [النمل: ۱۰].

دوهم: د نبي کریم ﷺ ډار په حقیقت کښې مؤمنانو ته راجع وه چې منافقان یې تېر نه باسي او کفر ته یې وانهړوي، چې که دا پیغمبر په حقه پیغمبر وی نو د خپل بلل شوي زوی طلاقه شوې ښځه به یې په نکاح سره نه وی اخستې.

د همدې جواب یو نظیر په یوه اوږده حدیث شریف کښې ډېر ښه تمثیل شوی دی چې مونږ یې په لاندې ډول راخلاصه کوو:

نبي کریم ﷺ په جومات کښې معتکف وه، او أم المؤمنين (صفیه رضي الله عنها) د زیارت دپاره ورغله. کله چې بېرته کورته ستنه شوه نو نبي کریم ﷺ ورسره د جومات تر دروازې پورې روان شو، ترڅو هغه په اطمنان سره خپل کور ته ورسېږي. په همدغه وخت کښې د انصارو څخه دوه سړي په لاره تېرېدل او په نبي کریم ﷺ باندې یې سلام واچاوه، نبي کریم ﷺ د "وعليكم السلام" د ویلو څخه وروسته دغه دواړه سړي ودرول او ورته یې وویلې چې: دغه ښځه بل څوک نه ده صفیه (أم المؤمنين) ده.

ذکر شوي دواړه سړي وارخطا شوه او د "الله أكبر" او "سُبْحَانَ الله" په کلماتو باندې یې اوازونه پورته کړه چې: ای د الله رسوله! په بل چا نه ایا په تا باندې به هم څوک اتهام ولګوي؟!

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْلُغُ مِنَ الْإِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا»[1] یعني د انسان د بدن څخه شیطان د وینې د رسېدلو ځای ته رسېږي (د وینې غوندې یې په بدن کښې ګرځي) او یقینًا زه وډار شوم چې ستاسو دواړو په زړونو کښې به څه شي (شبه) واچوي (او تاسو به دواړه کافر وګرځئ).

درېم: په دې مقام کښې د "تَخْشَى" کلمه د هغه "خَشْيَة" څخه اشتقاق شوې ده کوم چې د ډار په معنی نه بلکې د حیاء په معنی دی[2] یعني ایا تا ته د خلکو څخه حیاء او شرم درځي چې ووايي خپله طلاقه شوې اِنګور یې په نکاح واخستله. ته به وايې چې دا ایت د [الأحزاب: ۵۳] ایت یو نظیر دی.

ز: که څوک وايي چې: په [الأحزاب: ۵] ایت سره په ډاګه په اثبات ورسېده چې بللی شوی کس د هیچا زوی نه شي جوړېدلی، چې نهورباندې توارث مرتبېږي او نه ورباندې د نکاح تحریم ترتب موندلی شي، نو د څه حکمت په بنیاد دغه اِلهي قطعي فرمان د نبي کریم ﷺ په لاس باندې عملي کړی هم شو، او یوازې د ذکر شوي ایت په نزول باندې اکتفاء ونه کړی شوه؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ ته معلومه وه چې ذکر شوی جاهلي رواج د خلکو په زړونو کښې ژورې ريښې درلودې چې د محوه کولو دپاره یې ښه پوره قوت ته ضرورت وه، نو د همدې کبله الله ﷻ یوازې د قطعي ایت په نزول سره اکتفاء ونه کړه او نه یې د هغه تعمیل د امت نورو افرادو ته پرېښود،

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۲۷۲ او ج۲ ص۱۰۶۲
(۲) تفسير القاسمي ج۱۳ ص۲۶۵

Scanned by CamScanner

چې پخپله نبي كريم ﷺ يې د خلكو د اقتداء دپاره مكلف كړ چې ذكر شوی رواج په قول او عمل دواړو سره محوه او نابود كړي، والحمد لله ﷻ على ذلك.

ح: كه څوك وايي چې: په دې كښې څه حكمت وه چې بي بي زينب رضي الله عنها ته د هغې د عدت د تېرېدلو څخه وروسته نبي كريم ﷺ د هغې پخوانی مېړه (زيد بن حارثه ﷺ) د مركچي په حيث ورولېږه ترڅو د أمهات المؤمنين په ډله كښې شامله شي؟ «فَقَامَتْ إِلَى مَسْجِدِهَا وَنَزَلَ الْقُرْآنُ وَجَاءَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَدَخَلَ عَلَيْهَا بِغَيْرِ إِذْنٍ»[1] يعني نو هغه خپل جومات ته د استخارې د لمانځه دپاره پورته شوه[2] او د قرآن كريم دغه ايتونه نازل شوه په كومو كښې چې بحث روان دی، او بالآخره نبي كريم ﷺ د نوموړې بي بي كور ته بدون د اجازې څخه ورداخل شو (چې الله ﷻ ورته أم المؤمنين ګرځولې وه).

مونږ وايو ــ والله ﷻ أعلم ــ چې: شايد دغه ډول مركچي لېږلو به د لاندې حكمتونو په بنياد صورت نيولی وي:

اول: ترڅو د معاندينو د اعتراض مخه بنده كړي چې زيد ﷺ به د زينب رضي الله عنها په طلاقولو باندې مجبور كړی شوی وي، نو كله يې چې پخپله د هغې ريباري وكړه نو دا خيال څوك نه شي كولی.

دوهم: ترڅو د زيد ﷺ او زينب رضي الله عنها ترمنځ هغه زړه بداوی د منځه يووړلی شي كوم چې د دوی دواړو ترمنځ د طلاق سبب ګرځېدلی وه.

ط: كه څوك وايي چې: په ﴿ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا ﴾ كښې د ﴿ وَطَرًا ﴾ كلمه د څه شي دپاره وضعه شوې ده؟

مونږ وايو چې: دغه كلمه اصلاً د مهم حاجت او اړتيا دپاره وضعه شوې ده[3]، خو په دې مقام كښې د طلاق څخه كنايه ده[4] يعني كله چې زيد ﷺ د بي بي زينب رضي الله عنها څخه خپله اړتيا پوره كړه او اضافه يې ورته حاجت نه درلود، چې طلاق يې وركړ او عدت يې تېر شو.

ي: كه څوك وايي چې: الله ﷻ د بي بي زينب رضي الله عنها د تزويج نسبت په ﴿ زَوَّجْنَٰكَهَا ﴾ كښې خپل اقدس ځان ته كړی دی، نو دغه تزويج د بشري تزويجونو څخه څه فرق درلود؟

مونږ وايو چې: دغه تزويج لاندې فرقونه درلوده[5]:

اول: دلته ايجاب او قبول ته حاجت پاتې نه شو.

دوهم: دلته شاهدانو ته اړتيا نه وه.

دريم: دلته د مهر ټاكل صورت ونه نيوه

د همدې كبله به أم المؤمنين (زينب رضي الله عنها) په نورو أمهات المؤمنين باندې افتخار كاوه چې:

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۴۶۱
(۲) د استخارې په اړه لږ څه زيات بيان د [القصص:۶۸] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ
(۳) لسان العرب ج۵ ص۲۸۵، مفردات الراغب ص۵۶۳
(۴) روح المعاني ج۲۲ ص۲۵
(۵) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۱۹۳، تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۰۰

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



«زَوَّجَكُنَّ أَهَالِيكُنَّ وَزَوَّجَنِي اللهُ مِنْ فَوْقِ سَبْعِ سَمٰوَاتٍ»(۱) يعني تاسو خپلو اقاربو (وليانو) نبي كريم ﷺ ته په نكاح وركړې ياست، او زه د اووو اسمانونو دپاسه الله ﷻ په نكاح باندې وركړې يم.

يا: ايا د أم المؤمنين (زينب رضي الله عنها) وليمه د نورو أمهات المؤمنين په وليمو باندې دپاسه وه؟

مونږ وايو چې: هو! په همدې هكله انس ﷺ وايي چې: «مَا أَوْلَمَ النَّبِيُّ ﷺ عَلَى شَيْءٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ أَوْلَمَ بِشَاةٍ»(۲) يعني نبي كريم ﷺ د خپلو مېرمنو څخه په يوې باندې هم هومره وليمه نه ده كړې څومره يې چې د زينب رضي الله عنها په نكاح باندې كړې ده، چې د دغې بي بي په واده كښې يې په ګډه (پسه) سره وليمه وكړه (او خلكو ته يې غوښې او ډوډۍ وركړې، چې په نتيجه كښې د حجاب ايت هم نازل شو چې په [الأحزاب:۵۳] كښې ورته اشاره شوې ده).

## غوره تفسير

۵_ د ﴿ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴾ په تفسير كښې مفسرينو كرامو متعدد طرزونه اختيار كړي دي(۳) خو كوم تفسير چې مونږ ته غوره او د مقام سره ښه مناسب ښكاره شوى دى هغه په لاندې نكاتو ولاړ دى:

الف: د ﴿ أمر ﴾ كلمه د كار معنى وركوي چې په "أُمُور" سره جمعه كېږي.

ب: كه څه هم د "قَدَر" كلمه په ټاكلي كَم او كَيف سره د شيانو موجودولو دپاره وضعه شوې ده، خو دلته ترې د قضاء معنى مراده ده چې د الله ﷻ د ازلي ارادې او ازلي فيصلې څخه عبارت ده.

ج: د "قَدَر" كلمې سره د جَر توري (لكه "ب" يا "عَن") په لحاظ كښې شته.

د: د "مَقْدُور" كلمه د "قَدَر" دپاره تاكيد واقع شوې ده لكه څنګه چې د "ظِلّ" دپاره د "ظَلِيْل" كلمه په تاكيد باندې دلالت كوي.

نو د ذكرو شوو نكاتو په ملحوظ يې د معنى حاصل داسې راځېږي چې: د الله ﷻ هر يو كار د ازلي ارادې او ازلي فيصلې په اثر صورت نيسي، چې دا داسې كلكه فيصله ده چې هيڅوك يې د إجراء كولو په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلى او نه يې څوك مخه نيولى شي.

## څو مهم ټكي

۶_ په ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ ﴾ الآية كښې لاندې اتو مهمو ټكو ته توجه وكړئ:

الف: د "رِجَال" كلمه د "رَجُل" جمعه ده چې د بالغ نارينه دپاره وضعه شوې ده. او د "كُمْ" كلمې ته يې إضافت موندلى دى

ب: د "كُمْ" په كلمې سره ټول انسانان (نارينه او ښځينه) مخاطب كړى شوي دي.

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۰۴
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۷۷
(۳) روح المعاني ج۲۲ ص۲۷؛ المحرر الوجيز ج۱۳ ص۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل یې داسې راځېژي چې: ای انسانانو! محمد ﷺ ستاسو د نارینه وو بالغو اشخاصو څخه د یوه کس نارینه هم پلار نه دی، البته داسې پلار چې شرعي احکام ورباندې ترتب مونده کړي، او پوره واضحه ده چې زید بن حارثه ﷺ هم ستاسو د بالغو نارینه وو څخه یو کس دی.

یا په بل عبارت: محمد ﷺ هیڅ بالغ نارینه اولاد نه لري، نو دغه اعتراض ځومره بې ځایه دی چې محمد ﷺ خپله انګور (د زید بن حارثه ﷺ مطلقه) په نکاح کړه حال دا چې دا کار د ده ﷺ په خپل شریعت کښې جواز نه لري.

## د نبي کریم ﷺ اولادونه

ج: نبي کریم ﷺ د مسلمانانو د بالغو زنانه وو څخه د څلور تنو پلار وه چې څلور واړه د خدیجه الکبری رضي الله عنها څخه وې، چې نومونه یې دا دي: زینب، رُقیه، اُم کلثوم، فاطمه رضي الله عنهن.

یوازې فاطمه رضي الله عنها د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته وفاته شوه او نورې درېواړه د نبي کریم ﷺ په ژوند کښې وفاتې شوې وې.

همدارنګه نبي کریم ﷺ د بي بي خدیجه الکبری څخه درې زامن درلوده چې درېواړه په مکه معظمه کښې د ماشومتوب په حال کښې وفات شوي وه، چې نومونه یې دا دي: القاسم، الطیب، الطاهر. یو بل څلورم زوی یې په مدینه منوره کښې د اُم المؤمنین ماریه القبطیه رضي الله عنها څخه وه او ابراهیم نومېده، چې دا هم په ماشومتوب کښې وفات شوی دی[1].

## یادونه

د: عبد الله بن ابي اوفی ﷺ وایي چې ما د نبي کریم ﷺ د "إبراهيم" په نامه زوی لیدلی وه چې په ماشومتوب کښې وفات شو: «وَلَوْ قُضِيَ أَنْ يَكُونَ بَعْدَ مُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيٌّ لَعَاشَ ابْنُهُ وَلَكِنْ لا نَبِيَّ بَعْدَهُ»[2] یعنې که بالفرض د الله ﷻ په نزد فیصله وی چې د نبي کریم ﷺ وروسته دې بل پیغمبر وی نو زوی به یې ژوندی پاتې شوی وی، مګر د ده ﷺ څخه وروسته بل پیغمبر نشته نو زوی یې هم د ماشومتوب په حال کښې وفات شو.

## سوال جواب

هـ: که څوک وایي چې: د وراندېنې کلام څخه د کوم توهم د پیدا کېدلو امکان وه چې په ﴿وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ﴾ کښې یې د ﴿وَلَٰكِن﴾ په کلمې سره مخه ونیوله شوه؟

مونږ وایو چې: دغه کلمه ـ والله ﷻ أعلم ـ د دې دپاره نازله شوه چې څوک د پلارولی د سلب سره د توقیر او تعظیم سلب ضمیمه نه کړي. نو حاصل یې داسې کېږي چې: نبي کریم ﷺ خو د بالغو نارینه وو دپاره مطلقًا حقیقي او شرعي پلار نه دی مګر معنوي پلار خو دی چې د الله ﷻ د پلوه د

(۱) تفسير المراغي ج۲۲ ص۱۷؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۴۹۲؛ تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۴۱
(۲) سنن ابن ماجه ص۱۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغمبر په حیث رااستولی شوی دی او تعظیم او توقیر یې په ټول امت باندې واجب او لازم دی.

## خاتم څه معنی؟

و: په ﴿وَخَاتَمَ النَّبِيِّنَ﴾ کښې د "خَاتَم" کلمه هغې آلې ته وضعه شوې ده په کومه باندې چې مُهر وهلی کېږي[1]. یا په بل عبارت: دا هغه فلزي ګوته ده چې د غمي په ځای پکښې مُهر نقش شوی وي، او کله چې د مکتوب په آخر کښې ووهلی شي نو معنی یې دا وي چې دغه مکتوب په همدغه ځای ختم او تمام شو، د نور څه زیاتول پکښې امکان نه لري.

په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه "آخر" مراد دی. یعنې نبي کریم ﷺ د ټولو پیغمبرانو وروستنی پیغمبر دی چې د ده ﷺ څخه وروسته بل پیغمبر نشته.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث شریف کښې اشاره کړې ده چې: «إِنَّ مَثَلِي وَمَثَلَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بَيْتًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ بِهِ وَيَعْجَبُونَ لَهُ وَيَقُولُونَ هَلَّا وُضِعَتْ هَذِهِ اللَّبِنَةُ فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتِمُ النَّبِيِّينَ»[2] یعنې زما مثال او زما څخه وړاندې د تېرو شوو پیغمبرانو مثال داسې دی لکه چې یوه سړي یوه کوټه جوړه کړې وي او ښه ښایسته او ښه ډولې یې تیاره کړې وي مګر په یوه کُنج کښې یې د یوې خښتې ځای کنډو پاتې وي، نو خلک په دغې کوټې باندې ګرځي راګرځي او د ډول او سنګار څخه یې تعجب کوي، او وایي چې دغه خښته ولې په خپل ځای کښې نه ده ایښودله شوې، نو زه همدغه خښته یم چې د نبوت کوټه راباندې کامله شوه او زه وروستنی پیغمبر یم زما څخه وروسته بل پیغمبر نشته.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

ز: که څوک وايي: په شریعت کښې ثابته ده چې کله د قیامت ورځ نژدې شي نو عیسی ﷺ به د اسمانه راښکته شي، نو دا د نبي کریم ﷺ څخه وروسته بل پیغمبر نه دی؟

مونږ وایو: چې کله عیسی ﷺ د اسمانه راښکته شي نو په انجیل باندې به عمل نه کوي بلکې په قرآن باندې به عمل کوي، نو په هغه وخت کښې به عیسی ﷺ د نبي کریم ﷺ د خلیفه په توګه قرآني احکام اجراء کوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايلي دي چې کله عیسی ﷺ د اسمانه راښکته شي نو د سهار د لمانځه وخت به وي، نو عیسی ته به وویلی شي چې: وړاندې شه ای روح الله! لمونځ راکړه. عیسی ﷺ به جواب ورکړي چې: «لِيَتَقَدَّمْ إِمَامُكُمْ فَلْيُصَلِّ بِكُمْ. فَإِذَا صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ خَرَجُوا إِلَيْهِ»[3] یعنې ستاسو امام دې وړاندې شي او لمونځ دې درکړي، کله چې عیسی ﷺ د سهار لمونځ اداء کړي نو د دجال مقابلې ته به ورووځي.

---

(١) لسان العرب ج١٢ ص١٦٣
(٢) صحيح البخاري ج١ ص٥٠١
(٣) مسند احمد بن حنبل ج٥ ص١٥٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شايد چې د عيسى ﷺ د اولنې لمانځه په عدم امامت کښې به د خلکو په غوږ وهل مطلب وي چې محمدي ﷺ شريعت باقي دی او زه هم د همدغه شريعت اتباع کوم.

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْيَمَ فِيكُمْ وَإِمَامُكُمْ مِنْكُمْ»[۱] يعني ستاسو به څه حال وي کله چې عيسى بن مريم ﷺ په تاسو کښې د اسمانه په داسې حال کښې رابښکته شي چې په دغه وخت کښې ستاسو د لمانځه امام همدا ستاسو د جملې څخه وي.

ح: که څوک وايي چې: ايا د ختم النبوة په هکله نور احاديث روايت شوي دي؟

موږ وايو چې: په نبي کريم ﷺ باندې د نبوت ختم په قرآن کريم ﷺ باندې علاوه په زښتو ډېرو احاديثو سره هم په اثبات رسېدلی دی چې د معنوي تواتر معنى ورکوي، چې ځينو علماوو کرامو يې بنه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[۲] او ځينو نورو پکښې ښه تحقيق کړی دی[۳].

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا (٤١) وَسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا (٤٢) هُوَ ٱلَّذِي يُصَلِّي عَلَيۡكُمۡ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا (٤٣) تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ سَلَٰمٞۚ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا (٤٤) يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا (٤٥) وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا (٤٦) وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلٗا كَبِيرٗا (٤٧) وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا (٤٨) ﴾

[۴۱] ای هغو کسانو کومو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو الله ﷻ ياد کړئ ډېر يادول.

[۴۲] او (هم) الله ﷻ ته سبا او بېګا د پاکۍ نسبت کوئ (او لمونځونه ورته دروئ).

[۴۳] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په تاسو باندې رحمت (او مهرباني) کوي او د ده ﷻ پرښتې (درته مغفرت غواړي)، د دې دپاره چې تاسو (د کفر) د تيارو څخه (د اسلام) رڼا ته راوباسي (او هم مو ترې بچ وساتي)، او الله ﷻ په مؤمنانو باندې ډېر مهربان دی.

[۴۴] په کومه ورځ کښې چې مؤمنان د الله ﷻ سره ملاقي کېږي (او قيامت قائم شي نو د همده ﷻ د پلوه) د دوی تحفه (سوغات) د سلام کلمه ده (چې: السلام عليكم). او الله ﷻ ورته (په خپل نزد کښې) د کرامت والا اجر تيار کړی دی (چې د جنت د نعمتونو څخه عبارت دي):

[۴۵] ای پيغمبره! يقيناً موږ ته د شهادت ورکوونکي په حيث (خلکو ته) استولی يې، او د

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۹۰؛ صحيح مسلم ج۱ ص۵۷
(۲) تفسير ابن كثير ج۳ ص۴۹۳
(۳) تفهيم القرآن ج۵ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زيري وركوونكي په حيث (هم) او د ډاروونكي په حيث (هم).

[۴۶] او (هم مو خلكو ته) د الله ﷻ په توفيق (او تسهيل) الله ﷻ ته د بلونكي په حيث او د روښانه كوونكې ډيوې په حيث (استولى يې).

[۴۷] (نو ته د همدغو حيثياتو په مطابق خپلو إجراءاتو ته إدامه وركړه) او مؤمنانو ته زيرى وركړه چې يقيناً دوى لره د الله ﷻ د پلوه لوى فضل ټاكلى شوى دى.

[۴۸] او ته د كفارو او منافقانو اطاعت مه كوه (او وړانديزونه يې مه منه)، او د همدوى اذيتونه (پروپاگند) پرېږده (انتقام ترې مه اخله، او ناندرې، ورسره مه وهه)، او خاص په الله ﷻ باندې (خپل) توكل ته إدامه وركړه (كفار او منافقان ستا په كارونو كښې خنډ نه شي جوړېدلى).

او الله ﷻ د كارساز په حيث بس دى.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونو ځينې ارشادات مؤمنانو ته متوجه وه چې بايد د شرعي احكامو په مقابل كښې خپل نفسي خواهشات د پښو لاندې كړي، او په دې ايتونو كښې ورته هغه طريقه توصيه شوې ده په كومه باندې چې ايمان تقويه مومي او ذكر شوى خاصيت په زړونو كښې ژوندى ساتي، چې هغه د الله ﷻ د ذكر څخه عبارت ده.

او په ځينو نورو ارشاداتو باندې يې نبي كريم ﷺ مخاطب كړى شوي وه چې بايد د شريعت په ابلاغ او اظهار كښې خلاف الأولى (نه بهتره) طريقه غوره نه كړي. او په دې ايتونو كښې د نبي كريم ﷺ هغو صفاتو ته اشاره شوې ده كوم چې د همدغې طريقې د غوره كولو غوښتونكي دي.

نو د حاصل يې داسې راخېژي چې:

اى پيغمبره! د مؤمنانو او هم د خپل خان په ارتباط لاندې مطالب قرائت كړه:

۱ـ د الله ﷻ د پلوه مؤمنانو ته ورسوه چې: اى مؤمنانو! د دې دپاره چې ستاسو ايمان تقويه شي او خپل نفسونه د قابو لاندې راولئ چې د شرعي حكم په مقابل كښې د همېشه دپاره خواهشات د پښو لاندې كړى شئ، نو په لاندې ارشاداتو عمل وكړئ:

الف: تاسو په هر حال كښې الله ﷻ ډېر يادوئ چې زړونه مو د دوام په توگه اطمنان او ډاډ ولري.

ب: سبا او بېگا بلكې هر وخت الله ﷻ ته د پاكۍ او تنزيه نسبت كوئ ترڅو د شيطاني وسوسو او تشويشونو څخه بچ پاتې شئ:

ج: اى مؤمنانو! تاسو ښكه د تل دپاره د الله ﷻ ذكر او تسبيحات مه هېروئ چې:

اول: الله ﷻ هغه اقدس ذات دى چې په دوامداره توگه په تاسو باندې خپل رحمتونه درنازلوي او د نېكو اعمالو توفيق دركوي.

دوهم: د همده ﷻ پرښتې د همده ﷻ په إذن ستاسو دپاره مغفرت او د گناهونو عفوه غواړي.

درېيم: دا د دې دپاره چې الله ﷻ تاسو د گناهونو د تيارو څخه د مغفرت رڼا ته راوباسي لكه څنگه يې چې د كفر د تيارو څخه د ايمان رڼا ته راويستلي ياست او په ايمان يې مشرف كړخولي ياست.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څلورم: الله ﷻ په مؤمنانو باندې ډېر زيات مهربان دی، نو تاسو د دغې زياتې مهربانۍ شکريه وکړئ او د ايمان غوښتنو ته ادامه ورکړئ.

پنځم: په دې باندې علاوه کله چې مؤمنان د الله ﷻ سره ملاقي شي او جنت ته ننوځي، نو الله ﷻ به ورته د سلام سوغات ورکړي او په دائمي توګه به يې په سلامتيا باندې مطمئن وګرځوي. يا په بل عبارت: د ډېر مهربان الله ﷻ د پلوه به ورته د "السلام عليکم" کلمات واورولی شي.

شپږم: بالآخره الله ﷻ د مؤمنانو دپاره په خپل نزد کښې د کرامت او عزت څخه ډک اجرونه تيار کړي دي چې کم او کيف يې فقط ليدلو پورې اړه لري او بس.

۲ــ ای پيغمبره! ته د لاندې صفتونو درلودلو په حال کښې خلکو ته استولی شوی يې:

الف: چې ته به د قيامت په ورځ د خپل اُمت په مؤمنانو باندې د تزکيه کولو شهادت ورکړې، ترڅو دوی د نورو پيغمبرانو دپاره د شهادت ورکولو جوګه شي چې هغوی په رښتيا سره هر يوه خپل-خپل اُمت ته د الله ﷻ پيغامونه رسولي دي، او ترڅو د خپل اُمت په کفارو باندې شهادت اداء کړې چې: يقينًا تا ورته الهي ارشادات ابلاغ کړي وه خو دوی ترې انکاري شوي وه.

ب: چې ته مؤمنانو ته د الله ﷻ په رضامندۍ سره زيری ورکوونکی يې.

ج: چې ته کفارو ته د الله ﷻ په غضب او عذاب سره ډاروونکی يې.

د: چې ته خاص د الله ﷻ را نازل کړی شوي دين ته د همده ﷻ په حکم او توفيق سره دعوت چلوونکی يې.

ه: چې د ټولو دنيا دپاره د لمر غوندې ډېره لويه روښانه کوونکې ډيوه او رڼا يې.

و: ای پيغمبره! ته د ذکرو شوو صفاتو په مقتضی خپل عمل او اجراءاتو ته ادامه ورکړه او لاندې ارشادات هم په نظر کښې ونيسه:

اول: ته مؤمنانو ته زيری ورکړه چې: يقينًا دوی لره د الله ﷻ د پلوه ډېر لوی فضل او احسان ټاکلی شوی دی، چې توصيف يې د انسانانو په زړونو کښې نه ځايېږي.

دوهم: ته د کفارو او منافقانو وړانديز مه منه او عدم اطاعت ته يې ادامه ورکړه، د دوی وړانديز خو د کفر او ضلالت وړانديز دی او ته د ارشاد او هدايت دپاره استولی شوی يې او بس.

دريم: ته د دغو اسلام دښمنه ټولنو اذيتونه او په ژبو سره پروپاګندونه د پامه وغورځوه او هيڅ نظر ورته مه کوه، تاته هيڅ ضرر نه شي رسولی او د اسلام د ترقۍ مخه نه شي بندولی.

څلورم: ته فقط او فقط په الله ﷻ باندې توکل وکړه او د هيچا څخه مه ډارېږه، او دا ځکه چې الله ﷻ ستا کارساز دی، چې د همده ﷻ کارسازي ستا دپاره کفايت کوي، نو هيڅوک ستا کار نه شي ورانولی او نه دې د اجراءاتو په وړاندې خنډ واقع کېدلی شي.

## توضيحات

۱ــ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ په ارتباط ويلي دي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې هر يو عبادت چې الله ﷻ فرض کړی دی هغه يې محدود ګرځولی دی او اندازه يې ورته ټاکلې ده. او هم يې د عذر په حال کښې د هغه د ترک او نه عملي کولو اجازه کړې ده، خو يوازې هغه فريضه چې نه يې ورته اندازه ټاکلې ده او نه يې د معذرتونو په وخت کښې د هغې د نه اجراء کولو اجازه کړې ده، فقط ذکر دی او بس.

نو مؤمن ته په کار دي چې په هر حال الله ﷻ ياد کړي، که په وچه کښې وي او که په درياب کښې، په سفر کښې وي او که په کور کښې، د غناء حال وي او که د فقر، جوړ وي او که مريض، پټ وي او که ښکاره، شپه وي او که ورځ[۱] او داسې نور.

عائشه (أم المؤمنين) رضی الله عنها وايي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَذْكُرُ اللهَ ﷻ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ»[۲] يعني نبي کريم ﷺ وه چې په خپلو ټولو وختونو کښې به يې الله ﷻ ياداوه.

## صَلوة څه معنی؟

۲_ په ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَـٰٓئِكَتُهُۥ ﴾ کښې د ﴿ يُصَلِّى ﴾ کلمه اصلاً د هغه مصدر څخه اشتقاقه شوې ده د کوم څخه چې په: ﴿ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ﴾ [التوبة:۱۰۳] کښې د "صَلِّ" کلمې اصلا اشتقاق موندلی، کوم چې د "صَلّي" _لکه "ضَرْب"_ څخه عبارت دی.

څرنګه چې مونږ د الله ﷻ په توفيق دغه اشتقاق همدلته ښه پوره تحليل کړی دی نو دلته يې بيا تحليلولو ته څه اړتيا نه ګورو، صرف لاندې معلومات وربانديې وراضافه کوو:

الف: کله چې ذکر شوی مصدر (صَلّي) د تفعيل د باب لاندې واقع شي نو قانونًا بايد "تَصْلِيَة" _لکه "تَكْرِمَة"_ ولوستلی شي، خو په استعمال کښې د همدغه قانوني مصدر په عوض د "صَلوة" کلمه د اسم مصدر په حيث استعمالېږي[۳] چې په دغه وخت کښې متعددې معناوې درلودلی شي چې د ټولو په منځکښې څه شيان مشترک ګڼلی کېږي، لکه رحمت، حسن الثناء، دعاء، استغفار او داسې نور[۴].

ب: که څوک وايي چې: په دې مقام کښې د مفسرينو کرامو په نزد د "صَلوة" څخه د الله ﷻ په نسبت رحمت مطلب دی او د پرښتو په نسبت ترې استغفار مراد دی[۵]، نو په دې تقدير خو د يوه مشترک لفظ څخه په يوه حال او په يوه جمله کښې دوه معناوې مرادې کړی شوې، حال دا چې دغه ډول استعمال د عربيت په لحاظ مقبول استعمال نه دی؟

مونږ وايو چې: د "صَلوة" د کلمې څخه د "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الصَّلوة" (هر هغه شی چې د صلوة اطلاق پرې کېږي) په ملحوظ ذکرې شوې دوه معناوې لا څه چې ډېرې متعددې معناوې مراد ګرځېدلی شي.

---

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۶۱۹
(۲) سنن ابی داود ج۱ ص۴
(۳) لسان العرب ج۱۴ ص۴۶۶
(۴) القاموس المحيط ج۲ ص۸۴۷؛ صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۷
(۵) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۱۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې مونږ د همدغې شاملې معنی څخه په "درود" سره تعبیر کوو.

د مشترک دا دول استعمال د عربیت په لحاظ مقبول دی چې د مشترک د عموم او یا د مجاز د عموم په نامه یادیږي.

ذکر شوی جواب باید هېر نه کړی شي او په راتلونکي [الأحزاب:۴۳] ایت کښې هم باید په نظر کښې وساتلی شي.

## تحية څه معنی؟

۳ـ په ﴿ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ ﴾ کښې د "تحيَّة" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:۸۶] ایت لاندې ښه پوره تحلیله کړې ده خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې مطالب ورزیاتوو.

الف. دغه کلمه د "تَفْعِيْل" د باب څخه د "حَيٌّ" دپاره مصدر ده چې په شریعت کښې د "السَّلامُ عَلَيْكُمْ" سره مرادفه ده[۱].

ب: دغه کلمه په ایت شریف کښې خپل مفعول (مؤمنانو) ته مضافه ده او فاعل (د السلام علیکم ویونکی) یې محذوف دی، چې مفسرینو کرامو یې په تعین کښې متعدد اقوال کړي دي[۲] لکه:

اول: د مرګ په وخت کښې به ورته ملائک د "السلام علیکم" په ویلو د سلامتۍ زیری ورکړي.

دوهم: کله چې دوی د قبرونو څخه راپورته کېږي نو پرښتې به ورته د سلامتیا زیری ورکړي.

دریم: د جنت په داخل کښې به ورته پرښتې بشارت ورکړي او سلامونه به ورباندې اچوي.

څلورم: د جنت په داخل کښې به مؤمنان یو په بل باندې د "السلام علیکم" کلمه وايي.

پنځم: د "السلام علیکم" کلمه به په جنت کښې د الله ﷻ د پلوه مؤمنانو ته سوغات ورکولی کېږي.

په دې مقام کښې مونږ ته پنځم قول بهتر برېښي، چې ظاهراً د ﴿ يَلْقَوْنَهُ ﴾ بارز ضمیر الله ﷻ ته راجع دی.

## د نبي کريم ﷺ شهادت

۴ـ د قیامت په ورځ د نبي کریم ﷺ د شهادت په هکله مونږ د الله ﷻ په مرسته د [النساء:۴۱] ایت لاندې څه بیان لیکلی دی، خو په دې مقام کښې ورباندې د لاندې حدیث ذکر وراضافه کوو:

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې د قیامت په ورځ به د نوح ﷺ قوم انکار وکړي چې مونږ ته هیڅ پیغمبر نه دی راغلی، حال دا چې نوح ﷺ به د تبلیغ دعوه کوي چې: ای ربه! ما خپل قوم ته ستا ارشادات رسولي دي، نو الله ﷻ به نوح ﷺ ته پوښتنه راجع کړي چې «مَنْ يَشْهَدُ لَكَ» ستا دپاره به څوک شهادت ورکړي؟ نوح ﷺ بهووایي چې: «مُحَمَّدٌ ﷺ وَأُمَّتُهُ» ای ربه! زما شاهدان محمد ﷺ او د ده امت دی، بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فَتَشْهَدُ أَنَّهُ قَدْ بَلَّغَ»[۳] نو مونږ به

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۲۱۶

(۲) تفسیر البغوی ج۳ ص۵۳۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۹۶

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شاهدي ورکړو چې یې شکه نوح ﷺ خپل أمت ته الهي ارشادات رسولي وه.

## یادونه

۵_ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو(۱) دا خبره ښه پوره څېړلې ده چې: ايا نبي کريم ﷺ ته د خپل أمت په اعمالو باندې اطلاع ورکوله کېږي او که څنګه؟

نو که څوک هلته یو ځل مراجعه وکړي شايد چې په ګټه به ورته تمامه شي.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذْنِهِۦ ﴾ کښې د ﴿ بِإِذْنِهِۦ ﴾ د کلمې څخه د دعوت چلولو اباحت معلومېږي، حال دا چې د دعوت چلول خو په نبي کريم ﷺ باندې فرض وه؟

مونږ وايو چې: دلته د "إذن" څخه اسانول او توفيق ورکول مطلب دي(۲). يعني اى پيغمبره! مونږ ته په خپل نصرت او کومک سره د داعي إلى الله په صفت استولى يې، چې دا کار مو تاته اسان کړى دى که نه نو دا ډېره درنه دنده ده.

## یو نحوي تحليل

۷_ په ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کښې د "بَشِّرْ" جمله د خپلو معطوفاتو سره په هغې مقدرې انشائيه جملې باندې عطفه ده کومه چې د وړاندېنې کلام څخه د اشارې په توګه څرګندېږي، چې مونږ ترې په "فَدُمْ كَمَا أَرْسَلْنَاكَ" سره تعبير کولى شو. يعني اى پيغمبره! مونږ چې ته په کومو صفاتو باندې موصوف ګرځولى يې د هغو صفاتو په مطابق خپلې کړنلارې ته ادامه ورکړه، او هم مومنانو ته بشارت ورکړه... آن تر آخره پورې.

## یوه خاطره

۸_ په دې مقام کښې مونږ ته یوه خاطره ذهن ته راځي او الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې صحت به لري او که نه که صحت لري نو د الله ﷻ د پلوه به وي که نه نو نفسي او شيطاني به وي، هغه دا چې:

شايد چې دلته به الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ د دې کبله په عالي صفاتو باندې ستايلى وي چې:

الف: ترڅو د هغو عتاب آميزه کلماتو عوض وګرځي په کومو باندې چې په [الأحزاب:۳۷] کښې د الله ﷻ د پلوه مخاطب ګرځولى شوى وه چې: ﴿ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ﴾.

ب: ترڅو نبي کريم ﷺ ته ډاډ او تسلي ورکړه شي چې تاته د خلاف الأولى په ارتکاب سره څکه عتاب آميزه خطاب متوجه کړى شو چې ستا شان ډېر عالي دى او د دغو صفاتو درلودونکى يې، که بالفرض تا دغه صفات نه درلودى، نو د خلاف الأولى (نه بهتر) کار په کولو به درته ملامتي نه وى متوجه شوي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۴۵

(۲) تفسير الكشاف ج۳ ص۵۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ
فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴿٤٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ
عَلَيۡكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ
وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَۗ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ
عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٠﴾ تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن
تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا
يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا
حَلِيمٗا ﴿٥١﴾ لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ
حُسۡنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا ﴿٥٢﴾ ﴾

[۴۹] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو مؤمنې ښځې په نکاح کړې (او) بیا تاسو هغوی د دې څخه وړاندې طلاقې کړې چې مسه یې کړئ (چې جنسي ارتباط ورسره ونیسئ او یا ورسره صحیحه خلوت وکړئ)، نو ستاسو دپاره په هغوی باندې هیڅ عدت (شمېرل) نشته چې تاسو به هغه شمېرئ.

نو تاسو هغوی ته متعه (یو جوړ جامه) ورکړئ او خوشې یې کړئ، ښه (او ښایسته) خوشې کول (چې بدون د اذیته یې رخصتي کړئ).

[۵۰] ای پیغمبره! یقیناً مونږ تاته ستا هغه میرمنې حلالې کړې دي کومو ته چې تا د هغوی مهرونه ورکړي دي (نو په تاباندې هیڅوک اعتراض نه شي کولی)، او هغه وینځې (مو هم درته حلالې کړې دي) چې ستا ښی لاس یې مالک ګرځېدلی دی (چې دا وینځې) د هغو ښځو څخه (عبارت دي کومې) چې الله ﷻ په تاباندې (د کفارو څخه) درتاوې کړې دي (او د غنیمت په حیث یې ستا په لاس کښې غورځولې دي).

او (تاته مو) ستا د تره لورانې او ستا د عمه ګانو لورانې او ستا د ماما لورانې او ستا د توریو لورانې (البته) هغه چې ستا سره یې (د مکې څخه مدینې ته) هجرت کړی وي (حلالې کړې دي).

Scanned by CamScanner

او (هم مو تاته) مؤمنه ښځه (بدون د مهره حلاله گرځولې ده، البته) په دې شرط سره چې هغه پيغمبر ﷺ ته خپل ځان هبه کړي (چې زه ستا څخه مهر نه غواړم. دغه مو حلاله گرځولې ده خو) که چرته پيغمبر ﷺ اراده درلوده چې په نکاح باندې يې واخلي (يعني د دغسې ښځې په نکاح اخستل څه لازم کار نه دی)

(ای پيغمبره!) ذکر شوې ښځې مو) خاص (او سوچه) ستا د پاره بدون د مؤمنانو څخه (حلالې گرځولې دي. اما د مؤمنانو په هکله) يقيناً مونږ په هغو (احکامو) باندې پوهېږو کوم چې ورباندې مونږ د دوی د مېرمنو او هغو وينځو په هکله فرض کړي دي چې د دوی ښې لاسونه يې مالکان شوي دي (نو هغوی ته د هغوی سره مناسب احکام ورنازلوو).

(ای پيغمبره! مونږ) د دې دپاره (تاته ذکرې شوې زنانه حلالې وگرځولې) چې په تاباندې (د شريعت په ابلاغ او دعوتي چارو کښې) څه حرج (تنگي) پرېنووځي (او د مشکل سره مخامخ نه شې).

او الله ﷻ ښنونکی (او) مهربان دی (که اعتراض کوونکی توبه تائب شي نو الله ﷻ به د پخوانيو گناهونو څخه ورتېر شي).

[۵۱] (ای پيغمبره! په مېرمنو کښې په تاباندې د نوبت مراعات هم لازم نه دی نو) ته د دغو ښځو (خپلو مېرمنو) څخه هغه مېرمن وروسته کولی شې کومې ته چې ستا اراده وشي (چې د نوبت څخه يې وروسته کړې)، او ته هغه مېرمن خپل ځان ته درنژدې کولی شې کومې ته چې ستا اراده وشي (چې درنژدې يې کړې او په خپل څنگ کښې ځای ورکړې). او هغه مېرمن چې ته (خپل ځان ته بېرته) دروغواړې (البته چې دا) د هغې مېرمنې څخه عبارت ده کومه چې تا (د خپله خانه) جدا (او لرې) کړې وي، نو (په دې کښې هم) په تاباندې څه باک (او گناه) نشته.

(ای پيغمبره!) دغه (د نوبت عدم وجوب) دې ته ډېر نژدې دی چې ستا د مېرمنو سترگې يخې شي (خوشالې شي)، او غمژنې نه شي، او چې دوی ټولې په هغه څه باندې راضي شي کوم چې ته دوی ته ورکوې (لږ وي او که ډېر).

او الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي کوم چې ستاسو په زړونو کښې موجود دي (نو په دغې کړنلاره کښې د هغوی خوشالي او د دعوت چلولو دپاره ستا فراغت نغښتی دی). او الله ﷻ پوه (او) د حلم خاوند دی (د هغه چا په تعذيب عجله نه کوي کوم چې په تاباندې اعتراض کوي).

[۵۲] (ای پيغمبره!) د زنانه وو) د ذکرو شوو (گروپونو) د حلال گرځولو څخه وروسته (په غير تاته (نورې) ښځې (په نکاح اخستل) حلالې نه دي، او نه (درته دا کار حلال دی) چې په موجودو مېرمنو سره د ښځو څخه (نورې ښځې) تبديلې کړې (چې دوی ته طلاق ورکړې او هغوی په نکاح واخلې). که څه هم د هغوی حسن تا په تعجب کښې اچوي (ستا خوښې شي)، مگر (د موجودو وينځو څخه په غير درته) هغه وينځې (حلالې دي) د کومو چې ستا ښی لاس مالک وگرځي (په وينځو کښې په تاباندې هيڅ ډول بنديز نشته).

او الله ﷻ په هر شي باندې څارونکی دی (د هر چا د حال سره مناسب احکام نازلوي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

لکه څنګه چې په وړاندېنيو ايتونو کښې ځينې ارشادات مؤمنانو ته متوجه وه او ځينو نورو په نبي کريم ﷺ پورې ارتباط درلود، همدارنګه په دې ايتونو کښې هم ځينې ارشادات په مؤمنانو پورې مربوط دي او ځينې نور په نبي کريم ﷺ پورې اختصاص لري، چې حاصل يې داسې راځېږي.

اى پيغمبره! د مؤمنانو په هکله او هم د خپل ځان په ارتباط لاندې مطالب قرائت کړه.

۱ـ د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه چې: اى مؤمنانو!

الف: کله چې تاسو مؤمنې زنانه په نکاح واخلئ او بيا ورته د هغه څخه وړاندې طلاق ورکړئ چې تاسو ورته لاس ور وړئ او جنسي ارتباط ورسره ونيسئ، نو په دې صورت کښې په دغو طلاق کړى شوو ښځو باندې د عدت تېرول نشته.

دوى کولى شي چې سمدستي ستاسو د جملې څخه بل مسلمانان نارينه په نکاح واخلي، او همدارنګه په تاسو باندې نشته چې د هغوى د عدت شپې او ورځې وشمېرئ ترڅو هغوى ته د نورو مطلقو غوندې نفقه ورکړئ.

ب: هو! په ذکر شوي صورت کښې په تاسو باندې د هغوى دپاره د متعې ورکول واجب دي چې څه دنياوي سامان (لکه جامه او نور) ورکړئ، او په ښايسته خوشې کولو سره يې خوشې کړئ.

يا په بل عبارت: په تاسو لازمه ده چې په هغوى باندې بنديز ونه لګوئ، چې يا ورباندې جبراً عدت تېر کړئ او يا يې مخه ونيسئ او اجازه ورنه کړئ چې د بل چا سره نکاح وکړي.

۲ـ اى پيغمبره! د خپل ځان په ارتباط په نظر کښې ونيسه چې: مونږ تاته لاندې زنانه حلالې ګرځولې دي:

اول: هغه زنانه کومې چې في الحال ستا په نکاح کښې ستا سره موجودې دي، چې ځينو ته دې مهرونه ورکړي دي او ځينې هغه زنانه دي چې ستا ښى لاس يې مالک ګرځېدلى دى او الله ﷻ په تاباندې د کفارو څخه درتاوې کړې دي او ستا په ملکيت کښې يې شاملې ګرځولې دي، خو تا ځينې ازادې کړې او په نکاح سره دې د اُمهات المؤمنين په ډله کښې شاملې وګرځولې او ځينې لا تر اوسه پورې د وينځتوب په حالت پاتې دي.

دوهم: او هم هغه زنانه کومې چې ستا په پلارني نسب پورې تړاو لري لکه د کاکا لوڼانې او يا د پلارنيو تروريګانو لوڼانې، خو په دې شرط چې ستا غوندې د مکې معظمې څخه د مدينې منورې په هجرت برياله شوې وي.

درېيم: تاته د مور د نسب مربوطې زنانه هم مونږ حلالې ګرځولې دي، لکه ستا د ماما لوڼانې او يا د مورنى ترورګانو لوڼانې، خو په دوى کښې هم د هجرت شرط شته دى.

څلورم: هغه مؤمنه ښځه مو هم درته حلاله ګرځولې ده کومه چې خپل ځان بدون د مهره تاته په دې ملحوظ وبښي چې ته د الله ﷻ پيغمبر يې. نو که چرته د الله ﷻ پيغمبر د نومورې زنانه د نکاح کولو اراده وکړي نو د غه نکاح ورته بدون د مهره حلاله ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای پیغمبره! لنډه دا چې تاته مو اجازه درکړې ده چې په خپلو موجوده زوجاتو باندې نورې هم وراضافه کړې او د أمهات المؤمنين په ډله کښې يې شاملې کړې، خو خپل أمت ته زمونږ د پلوه ابلاغ کړه چې: ذکر شوی احلال او اجازه فقط په همدا تا پورې مختصه ده، او نورو مؤمنانو ته اجازه نشته چې په ذکر شوي احلال کښې خپل خانونه له تا سره شريک وګڼي، او د څلورو څخه اضافه ښځې په نکاح واخلي او يا يې بدون د مهره په نکاح کړي.

او دا ځکه چې: مونږ په خپل کامل علم سره په هغو احکامو باندې ښه پوهيږو کوم چې مونږ ستا څخه په غير په نورو مؤمنانو باندې فرض کړي دي، البته د دوی د ميرمنو او د وينځو په هکله. يا په بل عبارت: د حکمت په مقتضی مو ځينې احکام تا پورې مختص ګرځولي دي او نور مؤمنان مو درسره پکښې نه دي شريک کړي.

۴_ ای پيغمبره! ځينې احکام په تا پورې ځکه خاص کړی شوي دي ترڅو په تا باندې هيڅ تنګی رانه شي او په دعوتي أمورو کښې څه خنډ واقع نه شي.

هو! که په دغو اختصاصي احکامو کښې په تا باندې څوک اعتراض کوي نو الله ﷻ ښېونکی او مهربان دی او د توبې دروازه يې لا تر اوسه پورې نه ده بنده کړې، نو هغوی ته په کار دي چې په خپلو کړو وړو او اعتراضونو باندې توبه تائب شي.

۵_ ای پيغمبره! په تاپورې بل اختصاصي حکم دا دی چې په تا باندې د خپلو ميرمنو په هکله نوبت او وار واجب نه دی، چې تفصيل يې دا دی:

الف: ته کولی شې چې د خپلو ميرمنو د جملې څخه کومه يوه د نوبت څخه وروسته کړې او د وار څخه يې وباسې.

ب: دا هم تاته جائزه ده چې همغه ميرمن خپل خان ته درنژدې کړې کومې ته چې ستا اراده وشي

ج: همدارنګه ته کولی شې چې خپله هغه ميرمن بېرته خپل خان ته درنژدې کړې کومه چې تا د خپله خانه لرې کړې وي او د نوبت څخه دې ويستلې وي.

۶_ مونږ ځکه ستا د غاړې څخه د خپلو ميرمنو په ارتباط د نوبت مراعات ساقط کړ چې دغه کار لاندې ګټې لري:

الف: په دې تقدير نژدې ده چې ستا د ټولو ميرمنو سترګې يخې شي او خوشاله وګرځي چې په عدم نوبت کښې ټولې يو برابرې شوې.

ب: نژدې ده چې يوه په بله غمژنه نه شي او يوه د بلې سره سيالي ونه کړي.

ج: لرې نه ده چې ټولې د هغه څه په ورکړه باندې راضي شي _لږ وي او که ډېر_ کوم چې ستا د پلوه هغوی ته ورکول کيږي، او دا ځکه چې:

په تا باندې د خپلو ميرمنو ترمنځ د نوبت د مراعاتولو حق نشته او څه چې ستا د پلوه ورته ورکول کيږي هغه د حق اداء کول نه بلکې هغه يو احسان دی او بس.

۷_ ای پيغمبره! الله ﷻ په هغو ټولو شيانو باندې پوهيږي کوم چې ستاسو په زړونو کښې خطور

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوي او ګرځي راګرځي. نو:

الف: ستا زړه هم ورته معلوم دی چې په اُمهات المؤمنین کښې کومې یوې ته زیات میلان لري، او دا هم ورته څرګنده ده چې د نوبت سقوط ستا دپاره څومره زیات فراغت ښښي او د دعوت چلولو دپاره څومره ګټور واقع کېږي.

ب: د اُمهات المؤمنین زړونه هم ورته څرګند دي چې د نوبت سقوط د دوی د اطمنان دپاره څومره لوی سبب ګرځي.

ج: بالآخره: الله ﷻ ته هغه اعتراضات هم په ډاګه دي کوم چې د اُمهات المؤمنین د تعدد په هکله د ځینو خلکو په اذهانو کښې تاوېږي او یا یې پکښې په لوی لاس تاووي.

خو د دې سره-سره چې الله ﷻ پوه دی، د حلم خاوند هم دی، نو د دغو عنادي اعتراض کوونکو په تعذیب باندې عجله نه کوي چې د توبې فرصت ترې فوت شي.

۸_ ای پیغمبره! مونږ تاته د هغو ښځو په نکاح باندې اخستل حلال ګرځولي دي د کوموګروپونو ته چې وړاندې اشاره وشوه، خو په دې باندې علاوه لاندې ارشادات هم په نظر کښې ونیسه:

الف: تاته حلاله نه ده چې د ذکرو شوو ګروپونو څخه په غیر د نورو ګروپونو څخه ښځې په نکاح واخلې، یا په بل عبارت: ته نه شې کولی چې اعرابی یا اعجمی ښځه په اُمهات المؤمنین کښې شامله کړې.

ب: دا هم تاته جواز نه لري چې موجودو اُمهات المؤمنین ته طلاق ورکړې او په عوض کښې یې د ذکرو شوو حلالو ګروپونو څخه نورې ښځې اُمهات المؤمنین جوړې کړې.

لنډه دا چې ته د ذکرو شوو ګروپونو څخه د اُمهات المؤمنین عدد زیاتولی شې خو عوض کولی یې نه شې.

ج: اما د وینځو په هکله تاته جائزه ده چې نورې هم په خپل ملکیت کښې شاملې کړې.

۹_ او الله ﷻ په هر شي باندې څارونکی (او مراقبت کوونکی) دی، ستاسو ټول کړه وړه یې تر څارنې لاندې دي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ﴾ الآیة- په ارتباط د [البقرة:۲۲۷] ایت لاندې د عدتونو په هکله او د [البقرة:۲۳۶] ایت لاندې د متعې په هکله ښه پوره تفصیل تېر شوی دی ـوالحمد لله ﷻ علی ذلکـ، چې تکراري تفصیل ته یې څه اړتیا نه ګورو.

## نبي کریم ﷺ پورې څه اختصاصي احکام

۲_ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ ﴾ الآیة، او په ﴿ لَّا يَحِلُّ لَكَ ﴾ الآیة، دواړو ایتونو کښې هغو احکامو ته اشاره شوې ده کومو چې نبي کریم ﷺ پورې اختصاص درلود. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحې ته متوجه شئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## لومړی اختصاصي حکم

٣_ د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيْتَ أُجُورَهُنَّ ﴾ شرحه دا ده چې

الف: د [الأحزاب:٥٢] ایت په تفسیر کښې د ځینو مفسرینو کرامو[١] د بیان څخه معلومېږي چې د دغه ایت د نزول په وخت کښې د اُمهات المؤمنین د ټولګي څخه نهه تنه ژوندۍ وې. یعني ای پیغمبره! دغه تعداد مونږ تاته حلال ګرځولی دی، چې په همدا تاپوري اختصاص لري، اما ستا د اُمت دپاره في نفر د څلورو څخه اضافه په نکاح اخستل جواز نه لري.

ب: پنځو تنو ته نبي کریم ﷺ پخپله مهرونه ورکړي وه چې د هغوی نومونه دا دي: عائشه، حفصه، سودة، أم سلمه، میمونه رضي الله عنهن.

ج: یوې أم المؤمنین (أم حبیبې رضي الله عنها) ته خو النجاشي د حبشې پاچا مهر ورکړی وه، دغه کار نوموړي تبرعًا کړی وه، ته به وایې چې د نبي کریم ﷺ په وکالت یې دغه کار ته اقدام کړی وه.

د: څرنګه چې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته زینب بنت جحش رضي الله عنها په نکاح ورکړې وه نو د مهر ورکولو او اخستلو موضوع پکښې هیڅ مطرحه نه وه، لکه چې د [الأحزاب:٣٧] ایت لاندې یې څه بحث تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

هـ: صفیه رضي الله عنها د خیبر د غزا د بندیانو څخه وه، نبي کریم ﷺ ازاده کړه او د اُمهات المؤمنین په ټولګي کښې یې شامله کړه، چې همدغه ازادي یې د مهر قائم مقام وګرځول شوه[٢].

و: جویریه رضي الله عنها د بني مصطلق د غزا د بندیانو څخه وه او د ثابت بن قیس ﷺ په برخه کښې شامله ؤه، چې مکاتبه یې ګرځولې وه، نو نبي کریم ﷺ د مهر په عوض د هغې د کتابت قیمت اداء کړ او أم المؤمنین یې جوړه کړه.

## سوال جواب

ز: که څوک وایي چې: د نبي کریم ﷺ د بیبیانو مهرونه څومره-څومره وه؟

مونږ وایو چې: د اُمهات المؤمنین په مهرونو کښې لاندې دوه ډوله احادیث روایت شوي دي.

اول: د عائشې رضي الله عنها روایت دا دی چې د هغوی مهرونه پنځه سوه درهمو ته رسېده[٣].

دوهم: داسې روایت هم شته چې: «وَكَانَ مُهُورُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ أَرْبَعَ مِائَةِ دِرْهَمٍ»[٤] یعني او د نبي کریم ﷺ د بیبیانو مهرونه څلور سوه درهمه وه.

شاید چې د دواړو روایتونو مطلب به دا وي چې د اُمهات المؤمنین مهرونه د څلورو سوو درهمو څخه ښکته نه وه او د پنځو سوه درهمو څخه پورته نه وه.

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص٥٣٨

(٢) مسند احمد بن حنبل ج٤ ص٣٦٢

(٣) سنن النسائي ج٢ ص٨٦

(٤) مسند احمد بن حنبل ج١٠ ص٣٩٦



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يوازې د أم حبيبې رضي الله عنها مهر څلور سوه دينارو ته رسېده چې د النجاشي د پلوه ورته تبرعًا ورکړې شوی وه[١]، چې تقريبًا څلور زره درهمه ترې جوړېده.

## دوهم اختصاصي حکم

۴ـ دوهم اختصاصي حکم ته په ﴿ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ ﴾ کښې اشاره شوې ده چې وضاحت يې لاندې لوستلی شی:

الف: د ايت شريف د نزول په وخت کښې نبي کريم ﷺ دوه وينځې په خپل ملکيت کښې درلودې، يوه ريحانه رضي الله عنها نومېده، چې نبي کريم ﷺ د بني قريظه وو د بنديانو څخه په خپل ملکيت کښې پرېښې وه، او په ايمان باندې مشرفه شوې وه. او بله ماريه رضي الله عنها نومېده، چې د مصر پاچا ورته د سوغات په توګه استولې وه[٢]، دا هم په ايمان باندې مشرفه شوې وه او د نبي کريم ﷺ يو زوی (ابراهيم) د همدې څخه وه چې په ماشومتوب کښې وفات شو.

## سوال جواب

ب: که څوک وايي چې: په ماريه رضي الله عنها باندې خو د ﴿ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ ﴾ قيد نه صادقېږي او دا ځکه چې دا خو د مصر پاچا (مقوقس) د سوغات په توګه نبي کريم ﷺ ته لېږلې وه او د غزواتو د بنديانو څخه خو نه وه؟

مونږ وايو چې: علماء کرام وايي چې دغه قيد د احتراز دپاره نه دی چې د اخراج معنی ورکړي او اعتراض وارد شي[٣] بلکې دا قيد غالبي دی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

ج: که څوک وايي چې: د وينځو تحليل خو ټول أمت ته شامل دی، نو تاسو ورته ولې د اختصاصي حکم لقب ورکړ؟

مونږ وايو چې: د نبي کريم ﷺ په وينځو کښې اختصاص دا دی چې د ده ﷺ د وفات څخه وروسته بل چاته جواز نه لري چې جنسي استفاده ترې وکړي[۴]، ته به وايي چې د ايت شريف مضمون داسې وی چې: مونږ خاص تاته ستا وينځې ګرځولې دي.

## دريم اختصاصي حکم

۵ـ دريم اختصاصي حکم په ﴿ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّـٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَـٰلَـٰتِكَ ٱلَّـٰتِى هَاجَرْنَ مَعَكَ ﴾ کښې نازل شوی دی چې شرحه يې دا ده:

---

(١) تفسير ابن كثير ج٣ ص٤٩٩

(٢) الطبقات الكبرى لابن سعد ج٨ ص٢١٢

(٣) تفسير المظهري ج٧ ص٣٦٠

(۴) روح المعاني ج٢٢ ص٧٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. څرنګه چې په ایت شریف کښې د "عَمّ"، "خَال" کلمې مفردې نازلې شوې دي او "عمّات"، "خالات" کلمې جمعې نازلې شوې دي، نو علماوو کرامو پکښې متعدد وجوه او حکمتونه لیکلي دي[1]، نو څوک یې چې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي، مونږ ته بهتره وبرېښېدله چې الله ﷻ ته یې وسپارو.

ب. نصاراوو افراط کاوه او د اقاربو ښځه به یې هغه ښځه په نکاح اخستله چې اوه پلاره به ترې لرې وه، او یهودو تفریط کاوه حتی چې خپله وربره او خپله خورزه یې هم په نکاح اخستله[2]

زمونږ په شریعت کښې افراط او تفریط دواړه د پښو لاندې کړی شوه او سرې ته جائزه وګرځوله شوه چې د خپل کاکا او یا خپل ماما لورانې او یا د خپلو دواړو ډولو تروږګانو لورانې په نکاح واخلي.

مګر خاص نبي کریم ﷺ ته پکښې د اولیت او افضلیت په خاطر یو شرط اضافه شو چې باید د مکې معظمې ښځه یې مدینې منورې ته هجرت هم کړی وي، د همدې کبله د نبي کریم ﷺ د تره (أبو طالب) لور (أم هانئ) وایي چې: «فَلَمْ أَكُنْ أَحِلُّ لَهُ لِأَنِّي لَمْ أُهَاجِرْ كُنْتُ مِنَ الطُّلَقَاءِ»[3] یعني ماته نبي کریم ﷺ د نکاح دعوت راکړ خو ما خپل اعتذار وړاندې کړ او د نبي کریم ﷺ په نزد باندې مقبول وګرځېد، بیا الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او د تره د لور په نکاح کښې د هجرت شرط اضافه شو، نو زه ورته حلاله ونه ګرځېدلم ځکه چې ما هجرت نه وه کړی، زه د هغو خلکو د ډلې ښځه وم کوم چې نبي کریم ﷺ د مکې معظمې د فتحې په ورځ ازاد کړي وه.

## څلورم اختصاصي حکم

۶ـ څلورم اختصاصي حکم ته په ﴿وَٱمْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسْتَنكِحَهَا﴾ کښې اشاره شوې ده چې وضاحت یې دا دی:

الف. که څوک وایي چې: وړاندېنۍ او وروستنۍ جملې په خطاب سره نازلې شوې دي نو په دې کښې څه حکمت دی چې ﴿لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ﴾ په عوض "لَكَ إِنْ أَرَدْتَ" د خطاب په ضمائرو سره نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: په دغه ډول نزول سره د هغه عار مخه نیولې شوې ده کوم چې د خپل ځان هبه کوونکو ښځو ته متوجه کېده چې عائشې رضي الله عنها هم ورته په خپل یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «أَمَا تَسْتَحِي الْمَرْأَةُ أَنْ تَهَبَ نَفْسَهَا لِلرَّجُلِ»[4] یعني ایا ښځه نه شرمېږي چې خپل ځان سړي ته هبه کړي. د دغه پېغور مخه ځکه بنده شوه چې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ د "النَّبِيّ" په لقب سره ذکر کړ. ترڅو خلک په غوږ ووهي چې دغه ډول وړاندېز د یوې ایماندارې ښځې د پلوه بل چاته نه بلکې د الله ﷻ

---

(١) تفسير القاسمي ج١٣ ص٢٨٥؛ روح المعاني ج٢٢ ص٥٦
(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص٤٩٩
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٥٦
(٤) صحيح البخاري ج٢ ص٧٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغمبر نه د هغې د ایمان په قوت باندې دلالت کوي او د حیاء د کمزورۍ معنی نه ورکوي، که بالفرض دغه کار ورته د پیغمبر په صفت نه بلکې د یوه عادي سړي په صفت صورت نیولی وی نو د پیغور امکان به یې درلودلی وی.

نو که ذکر شوی اختصاصي حکم د ضمائرو په صورت کښې نازل شوی وی نو د نوموړې عار محتوی به نه وی شوی ځکه چې ضمائر یوازې په ذات باندې دلالت کوي او اوصاف ترې نه فهمېږي.

ب: دا حکم نبي کريم ﷺ پورې اختصاص لري چې بدون د مهره ښځه په نکاح واخلي. اما د أمت دپاره د مهر ورکول فرض دي لکه چې [النساء: ۲۴] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: پاتې شوه دا خبره چې ایا نبي کريم ﷺ داسې ښځه په نکاح باندې اخستې وه کومې چې ورته بدون د مهره خپل ځان ښېلی وي؟ نو په دې کښې اختلاف دی[1].

ځینې علماء کرام وایي چې دغه ډول ښځه نبي کريم ﷺ په نکاح سره نه ده اخستې، او ځینې وایي چې میمونه بنت الحارث رضي الله عنها د همدې قبیلې ښځه وه، والله ﷻ أعلم.

## یو نحوي تحلیل

۷ـ په ﴿ خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کښې د ﴿ خَالِصَةً ﴾ په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[2] خو کوم تحلیل چې مونږ ته په زړه پورې بربښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي[3]:

الف: د ﴿ خَالِصَةً ﴾ کلمه مصدر ده لکه څنګه چې د "عَافِية" کلمه مصدر ده.

ب: دغه کلمه په هغه مقدر فعل باندې منصوبه ګرځېدلې ده د کوم مضمون چې ذکرو شوو ځلورو واړو اختصاصي احکامو ته شامل دی.

څه لري نه دی چې مونږ ترې داسې تعبیر وکړو چې: "خَلَصَ لَكَ الإحْلال المَذْكُور خَالِصَةً" یعني ذکر شوي ځلور واړه اختصاصي احکام د خپلو قیوداتو په ملحوظ یوازې او سوچه په تا پورې اختصاص لري او نورو مؤمنانو ته پکښې اشتراک نشته.

ج: دا جمله ﴿ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِىٓ أَزْوَٰجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُمْ ﴾ معترضه جمله ده چې په ما بین د متعلَق ﴿ خَالِصَةً ﴾ او متعلِق ﴿ لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ﴾ کښې واقع شوې ده.

شاید چې د معترضې جملې په نازلولو کښې به دې ته اشاره وي چې ذکر شوي اختصاصي احکام یوازې او یوازې د نبي کريم ﷺ سره مناسب وه، او کومو احکامو چې د ده ﷺ د أمت سره تناسب درلود هغه مونږ په نورو ځایونو کښې ښه پوره مشرح نازل کړي دي.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۰۰. اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۵۷۱
(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۷۰
(۳) تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د اُمهات المؤمنین د تعدد حکمتونه

۸ـ مونږ چې د امهات المؤمنین رضي الله عنهن په تعدد کښې څه لیکو دا مو مطلب نه دی چې معاندینو او اسلام دښمنه ټولنو ته قناعت ورکړو او دا ځکه چې عنادیان په هیڅ دلیل باندې قناعت نه کوي حتی چې په څرګندو معجزاتو باندې د سحر او جادو نوم ږدي. او دا مو هم مطلب نه دی چې مؤمنان قانع کړو، ځکه چې مؤمنان کلک یقین او باور لري چې په دغه تعدد کښې بې شمېره الهي حکمتونه پټ دي، د الله ﷻ هر یو کار او هر یو حکم د حکمتونو په مقتضی صورت نیسي. همدې ټکي ته په ﴿ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِىٓ أَزْوَٰجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ ﴾ جمله کښې اشاره شوې ده. یعنې یقیناً مونږ په هغو ارشاداتو باندې پوهېږو کوم چې مونږ په مؤمنانو باندې د زوجاتو او وینځو په هکله فرض کړي دي کوم چې د دوی د حال سره ښه تناسب لري.

په دغې لیکنه کښې زمونږ مطلب فقط همدا دی چې د الله ﷻ د هغو نعمتونو څرګندونه وکړو کوم چې د اُمهات المؤمنین په تعدد کښې پټ دي، الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴾ [الضحى: ۱۱] یعنې او هر چې (نعمت دی) نو د خپل رب ﷻ په نعمت سره بیان کوه او خلکو ته یې څرګندونه کوه.

نو لیکو چې د اُمهات المؤمنین تعدد په شهوت رانۍ باندې ولاړ نه دی لکه چې عنادیان او کفار خیال کوي، بلکې دغه کار د جامعې د مصلحت په بنیاد صورت نیولی دی. نو د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکي د نظره تېر کړئ:

الف: نبي کریم ﷺ د خپل عمر تر پنځه ویشتو کالو پورې مجرد وه (واده یې نه درلود) او په ډېر عفت سره په جاهلي ټولنه کښې اوسېد، حتی چې معاندین هم ترې انکار نه شي کولی او نه وربانډې څه اعتراض کولی شي.

ب: د خپل عمر په پنځه ویشت کلنۍ کښې یې د یوې بوډۍ ښځې سره واده وکړ چې عمر یې څلوېښتو (۴۰) کالو ته رسېدلی او یا ترې اضافه وه، چې دوه کرته کونډه شوې وه او نبي کریم ﷺ یې د خپل ځان دپاره د درېم مېړه په حیث وټاکه، دغه بوډۍ "خدیجه" نومېده رضي الله عنها.

ج: نبي کریم ﷺ د اُم المؤمنین الخدیجه الکبرى رضي الله عنها سره د خپل عمر پنځه ویشت (۲۵) کاله تېر کړه، نو کله چې نوموړې رضي الله عنها د بعثت په لسم (۱۰) کال باندې وفاته شوه، نو نبي کریم ﷺ یوه بله زړه بوډۍ او کونډه په نکاح واخستله چې "سَودة" نومېده رضي الله عنها.

د: په همدغه کال کښې نبي کریم ﷺ یوه ورکۍ انجلۍ هم په نکاح واخستله چې "عائشة" رضي الله عنها نومېږي، ترڅو د همدې په ذریعه د خپل لومړي ملګري (أبو بکر رضي الله عنه) سره خپله علاقه ښه قوي کړي او د ملګرتیا سره خپلوي هم ضمیمه کړي، خو د دې واده وروسته په مدینه منوره کښې د هجرت په لومړي کال صورت ونیوه.

د همدغه غرض دپاره چې د دوستۍ سره خپلوي هم ضمیمه کړي، نبي کریم ﷺ خپله یوه لو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



علي ﷺ ته او دوه لوراني يې يوه د بلې پسې عثمان ﷺ ته په نكاح باندې وركړې.

هـ: همدارنګه نبي كريم ﷺ د خپل انديوال عمر ﷺ كونډه لور (حفصة رضي الله عنها) هم په نكاح واخستله ترڅو د دعوت د چلولو پرې بنه پياوړى كړي.

د دې مېړه (خُنيس ﷺ) د بدر په غزا كښې زخمي شوى وه چې څو مياشتې وروسته د همدغو زخمونو د كبله وفات شو فإنا لله وإنا إليه راجعون. دغې نكاح د هجرت په درېم كال صورت نيولى دى.

و: نبي كريم ﷺ د هجرت په څلورم كال أم سليمه رضي الله عنها هم په أُمهات المؤمنين كښې شامله كړه، د دې مېړه (ابو سلمه ﷺ) د أُحد په غزا كښې ټپي شوى وه، چې څو مياشتې وروسته د همدغو ټپونو له امله شهيد شو، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

دغې بي بي رضي الله عنها ماشومان هم درلوده چې د شهيد اولادونه وه او بې سرپرسته پاتې شوه، نبي كريم ﷺ يې كونډه مور (أُم سلمه رضي الله عنها) أُم المؤمنين وګرځوله او د هغې د ماشومانو حضانت (ساتنه) يې په غاړه واخستله.

ز: د هجرت په پنځم كال الله ﷻ زينب بنت جحش رضي الله عنها د أُمهات المؤمنين په ټولګي كښې شامله كړه، د جاهليت د زمانې بدعتي رواج يې ورباندې د منځه يووړ. يا په بل عبارت: د نومورې بي بي نكاح د تشريعي حكمت په بنياد صورت نيولى دى لكه چې پوره بيان يې د [الأحزاب:٣٧] ايت لاندې لږ وړاندې تېر شو، والحمد لله ﷻ.

ح: د هجرت په شپږم كال نبي كريم ﷺ جوريه رضي الله عنها هم په أُمهات المؤمنين كښې شامله كړه، دا د يهودانو څخه وه چې مېړه يې د بني المصطلق په غزا كښې ووژلى شو، او پخپله د بنديانو په جمله كښې شامله وه، نو نبي كريم ﷺ ورته ازادي وركړه او په نكاح باندې يې واخستله، د همدې نكاح په سبب د يهودانو د عداوت اور مخ په سړېدو شو.

ط: د هجرت د اوم كال په لومړۍ مياشت (محرم) كښې نبي كريم ﷺ د يهودانو څخه يوه بله ښځه هم أُم المؤمنين وګرځوله چې هغه رضي الله عنها "صفيه" نومېده، د دې مېړه هم د خيبر په غزا كښې ووژلى شو او پخپله په بنديانو كښې شامله وګرځېده نو نبي كريم ﷺ ازاده كړه او نكاح يې ورباندې وتړله.

د دې نكاح په سبب هم د يهودانو د عداوت د اور لمبې د سړېدلو خواته مائلې شوې، او څه كمزوري پكښې واقع شوه.

ي: د ابو سفيان يوه لور ـ چې په أُم حبيبې سره يې شهرت درلود ـ د خپل مېړه سره د مكې معظمې څخه حبشې ته په هجرت نائله شوې وه، خو هلته يې مېړه مرتد او بيا مړ شو.

دغه بي بي رضي الله عنها مكې معظمې ته بېرته نه شوه ستنبدلى چې هلته يې اقارب مشركان وه، او په حبشه كښې يې سرپرست نه درلود، نو هلته د بې وزلۍ په حال كښې بنده پاتې وه، د همدې كبله د هجرت په همدغه اوم كال كښې نبي كريم ﷺ نومورې په أُم المؤمنين سره ملقبه كړه. نو دغې نكاح د أُم حبيبې سره د خواخوږۍ په بنياد صورت ونيوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه د هغې د پلار (أبو سفيان) او د هغې د نورو اقاربو په عداوت هم پوره اثر ولوېد حتی چې بالآخره په اسلام باندې مشرف شوه او د "رضي الله عنهم" د ويلو لايق وګرځېدل.

یا: د هجرت د همدغه اوم کال تقریبًا په آخرنۍ میاشت (شوال) کښې نبي کريم ﷺ یوه بله بې وزله کونډه هم أم المؤمنين وګرځوله چې "ميمونه" نومېده رضي الله عنها.

دغه وروستنۍ ښځه وه چې د مؤمنانو د ژوندیو مورګانو شمېر ورباندې نهو تنو ته ورسېد، د دغې أبې څخه وروسته نبي کريم ﷺ بله ښځه د أمهات المؤمنين په ټولګي کښې شامله نه کړه.

## يادونه

٩_ که څوک غواړي چې د أمهات المؤمنين رضي الله عنهن مشرح سوانح او حالات ولولي، نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي مونږ د همدغو ځینو کتابونو[١] څخه هومره بیانات رانقل کړه د کومو سره چې د ایتونو تفسیر کلک تړاو درلود، د ښه وضاحت په غرض مونږ په همدغو بیاناتو باندې لاندې یوه تبصره لیکو:

## تبصره

١٠_ د ذکرو شوو کرښو څخه څرګنده شوه چې د أمهات المؤمنين تعدد د شهوترانۍ په اساس صورت نه دی نیولی لکه څنګه چې اسلام دښمنې ټولنې اتهام لګوي.

او دا څکه چې که بالفرض المحال د هغوی اتهام حقیقت درلودی نو ضرور به تعدد د هجرت څخه وړاندې تحقق موندلی وی. د نبي کريم ﷺ د ځوانۍ دوره خو هملته (په مکه معظمه کښې) تېره شوې وه، مدينې منورې ته خو د خپل عمر د درې پنځوسم کال څخه وروسته مهاجر وګرځېد.

همدارنګه که بالفرض المحال ذکر شوی اتهام څه حقیقت درلودی نو ضرور به تعدد د پېغلو په صورت کښې بروز کړی وی، نه د زړو بوډیو او کونډو رنډو په صورت کښې، حال دا چې نبي کريم ﷺ یوازې یوه بي بي (عائشة رضي الله عنها) پیغله په نکاح کړې وه او بس. او دا په داسې حال کښې چې نبي کريم ﷺ صحابه وو کرامو ﷺ ته د پیغلو په نکاح کولو باندې ترغیب ورکاوه، په همدې اړه په یوه اوږده حدیث کښې د جابر بن عبد الله ﷺ سره د نبي کريم ﷺ لاندې سوال جواب ولولئ:

نبي کريم ﷺ: «أَيْنَ تُرِيدُ؟» یعني چرته په چالاکۍ سره روان یې او په اوښ باندې سور څغلې؟

جابر ﷺ: ما یوه کونډه ښځه په نکاح اخستې ده، نو کور ته مې تادي ده.

نبي کريم ﷺ: «هَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ»[٢] یعني ولې دې پېغله په نکاح نه اخسته چې تا د هغې سره ساتېري کولی او هغې ستا سره ساتېري کولې.

جابر ﷺ: زما پلار شهید شوی دی، او ماته خورګانې یتیمانې پاتې دي، نو ما وغوښتل چې کونډه په نکاح کړم ترڅو زما د خویندو خدمت وکړي او د زنانه وو آداب ورزده کړي، دغه مطلب په

---

(١) الطبقات الكبرى لابن سعد ج٨ ص٥٢، ص٢٢١؛ المفصل في احكام المراة والبيت المسلم ج١١ ص٥١٠

(٢) صحيح البخاري ج١ ص٣١٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغله کښې په بهتر صورت سره نه ترلاسه کېږي.

د اُمهات المؤمنين تعدد په شهوت پرستۍ نه بلکې د نورو اسبابو په بنياد صورت نيولی دی کوم چې په مدينه منوره کښې متحقق شوي وه، هغه دا چې:

الف: په مکه معظمه کښې اکثره عقيدوي احکام نازلېده چې نارينه او زنانه پکښې يو برابر وه، اما په مدينه منوره کښې د عملي احکامو د نزول کثرت پيل شو، چې ځينو په زنانه وو پورې اختصاص درلود، لکه د حيض او نفاس او نورو شيانو احکام.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه نبي کريم ﷺ ډېر زيات حياناک وه د همدې کبله ابو سعيد الخدري ﵁ وايي چې: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺأَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا»[1] يعنې نبي کريم ﷺ د هغې پېغلې څخه سخت (زيات) حياناک وه کومه چې په خپله پرده کښې ناسته وي (او بهر ته نه وي وتلې). نو د همدې کبله نبي کريم ﷺ نه شو کولی چې د خپلو مېرمنو څخه په غير نورو ښځو ته ځينې احکام په صريحو الفاظو کښې ابلاغ کړي، نو د دغه ډول احکامو د ابلاغ دپاره د مېرمنو تعدد ضرور وه.

په دې اړه د يو حديث مضمون ولولئ چې د نبي کريم ﷺ سره يوې ښځې لاندې سوال جواب وکړ:

ښځه: ای د الله ﷻ پيغمبره! زه د حيض څخه د پاکېدلو په صورت کښې څنګه غسل وکړم؟.

نبي کريم ﷺ: په مشکو باندې يوه ککړه لته (کپړه) واخله او خپل ځان ورباندې پاک کړه.

ښځه: څنګه ورباندې خپل ځان پاک کړم؟.

نبي کريم ﷺ: خپل ځان ورباندې پاک کړه.

ښځه: څنګه؟.

نبي کريم ﷺ: سبحان الله خپل ځان ورباندې پاک کړه.

اُم المؤمنين عائشه ؓ وايي چې کله ښځه په خبره پوه نه شوه نو ما خپل ځان ته راکش کړه او ورته مې وويلې چې: «تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ»[2] يعنې داسې درته وايي چې په خوشبويه کپړه باندې هغه ځايونه وموږه چې د وينې اثرات پرې موجوديت لري (خپل غليظ عورت ورباندې پاک کړه).

ب: په مکه معظمه کښې وسلوال جهاد نه وه پيل شوی نو کونډو او يتيمانو هم موجوديت نه درلود چې خواخوږي ته يې اړتيا پېښه شوې وي.

وسلوال جهاد په مدينه منوره کښې پيل شو چې همله د اُم المؤمنين عائشې ؓ په واده سره جوخت د ذکرې شوې خواخوږۍ سلسله هم پيل شوه.

ج: د غزواتو د شروع سره سم دې ته هم اړتيا پېښه شوه چې نبي کريم ﷺ د ازواجو د تعدد سره د قبائلي دښمنيو او عداوتونو د اور لمبې مړې کړي، او هم پرې د خپلو انډيوالانو سره د انډيوالۍ اړيکې ټينګې او قوي کړي.

د: د نبي کريم ﷺ هر يو قول او فعل د شريعت څخه نمايندګي کوله، حال دا چې د کور په داخل

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۵۰۳

(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې کاروبار او کړه وړه يې د صحابه وو کرامو ﷺ څخه پټ وه، خو الله ﷻ د أمهات المؤمنين په تعدد سره پټ پرېښنبودل او مؤمنانو ته يې ورڅرګند کړه چې د قيامت تر ورځې پورې پرې عمل وکړي.

ه: لنډه دا چې أمهات المؤمنين د مؤمنانو دپاره د استاذانو حيثيت لري او په تعدد کښې يې ډېر لوی تعليمي حکمت پټ دی. شايد چې په همدې بنياد به هغوی د لاندې صفاتو درلودونکې ګرځولې شوې وي:

اول: په مدينه منوره کښې د أمهات المؤمنين څخه يوه هم الله ﷻ د اولادونو مور ونه ګرځوله ترڅو د شريعت په تعلم او تعليم کښې څه خنډ واقع نه شي. بلکې دلته د نبي کريم ﷺ فقط يو زوی وزېږېد، هغه هم د کومې أم المؤمنين څخه نه وه بلکې د يوې وينځې (ماريې قبطيې) څخه وه. لکه چې وړاندې د [الأحزاب: ۴۰] ايت په شپږمه توضيح کښې ورته اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

دوهم: د أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه په غير بله يوه هم د أمهات المؤمنين په ټولګې کښې د پېغلتوب په حال کښې نه ده شامله کړی شوې، او نه د دې غوندې بله يوه همدغسې کم عمره او په عقل پخه وه، بلکې ټولې د اولادونو د روزنې څخه فارغې او په تجربوي عقلونو باندې پخې وې (د شريعت د تعلم او تعليم دپاره مناسبې او مساعدې وې) رضوان الله ﷻ عليهن.

و: نو ذکرو شوو تشريحاتو ته په کتلو سره د ﴿لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞ﴾ د جملې مضمون داسې راښېژي چې: مونږ ځکه تاته تعدد حلال وګرځاوه ترڅو په تاباندې د شريعت په ابلاغ او د مؤمنانو سره په خواخوږۍ کښې تنګي صورت ونه نيسي، او ښه په کامله توګه وکړی شې چې د خپل أمت نارينه وو او زنانه وو ته احکام ورسوې او په احسنه طريقه ورته دعوت وچلوې.

## پنځم اختصاصي حکم

۱۱ـ که څه هم علماوو کرامو د ﴿تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ﴾ الآية، په متعددو معناوو باندې تفسير کړی دی[۱] مګر کوم تفسير چې د مفسرينو کرامو ترمنځ مشهور دی[۲] او مونږ ته په زړه پورې برېښي او د وړاندې بېرته سره ښه سمون خوري، هغه دا دی چې د "هُنَّ" ضمير أمهات المؤمنين ته راجع دی او په ايت شريف کښې پنځم اختصاصي حکم ته اشاره شوې ده، هغه دا چې:

الله ﷻ يوازې خپل پيغمبر مختار ګرځولی دی چې د خپلو بيبيانو ترمنځ د نوبت مراعات ساتي او که نه، خو د دې سره-سره نبي کريم ﷺ آن د مرګ تر وخته پورې ذکر شوی مراعات د نظره ونه غورځاوه، لکه چې څه شرحه يې د [النساء: ۱۲۹] ايت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

### دوه ډوله تفسير

۱۲ـ د ﴿لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ﴾ جمله علماوو کرامو په دوه ډوله تفسيره کړې ده، او د تعدد

---

(۱) زاد المسير ج۶ ص۲۰۹: تفسير القاسمي ج۱۳ ص۲۸۷
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۵۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وجې یې د "مِنْ بَعْدُ" د مقدر مضاف الیه څخه منشأ اخستې د؛ چې شرحه یې لاندې لوستلی شئ:

الف. ځینې علماء کرام وايي چې دلته مقدر مضاف إليه د "هؤلاء التِسْعْ" کلمات دي[١]، یعنې ای پیغمبره! تاته د دغو نهو بيبيانو څخه پرته ـ کومې چې فعلاً ستا په نکاح کښې موجودې دي ـ نورې هیڅ ښځې حلالې نه دي چې په نکاح باندې یې واخلې، لکه د کاکا او ماما لوڼانې او داسې نورې.

نو په دې تفسیر سره دغه ایت د وړاندېنې ایت دپاره ناسخ ګرځي، چې هلته ورته د نورو ښځو په نکاح اخستل جائز ګرځولی شوي وه او دلته ورته حرام وګرځولی شوه.

ب. ځینې نور وايي چې دلته مقدر مضاف الیه د "هؤلاءِ الأصْنافِ المَذْکُورَة" د کلماتو څخه عبارت دی[٢]، چې مونږ یې په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

اول: په ﴿إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَٰجَكَ﴾ الآية، کښې د هغو ښځو ډولونو ته اشاره شوې وه د کومو نکاح چې ورته حلاله ګرځولې شوې وه، مګر د ښځو څه نور ډولونه په سکوت کښې پرېښودلی شوي وه چې نکاح به یې ورته حلال وګرځولی شي او که نه، دغه ډولونه د اعرابیانو او غیر عربي ښځو څخه عبارت دي.

دوهم: په دغه ایت شریف کښې ـ چې د بحث لاندې دی ـ صراحت وکړی شو چې د ښځو هغه ډولونه کوم چې تر اوسه پورې په سکوت کښې پرېښودل شوي وه د هغو نکاح کول نبي کریم ﷺ ته حلال نه دي.

## تبصره

۱۳ـ مونږ ته دوهم تفسیر غوره برېښي، چې د یو پلوه دواړه ایتونه تقریباً څنګ په څنګ قرائت کېږي نو په یوه باندې د ناسخ نوم اېښودل او بل ته د منسوخ لقب ورکول بدون د قوي دلیل څخه صورت نه شي نیولی، او قوي دلیل دلته موجودیت نه لري لکه چې شیخ المفسرین العلامه الطبري علیه الرحمة ورباندې صراحت کړی دی.

او د بله پلوه په همدې تفسیر باندې د رئیس المفسرین ﷺ یو روایت هم دلالت کوي چې د ایت شریف په تفسیر کښې یې فرمایلي دي چې: «وَحَرَّمَ مَا سِوَى ذَٰلِكَ مِنْ أَصْنَافِ النِّسَاءِ»[٣] یعنې په دې ایت کښې په نبي کریم ﷺ باندې په صراحت سره الله ﷻ د زنانه وو د هغو ډولونو څخه په غیر د نورو په نکاح اخستل حرام وګرځول کوم چې په وړاندې ایت ﴿إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۱۴ـ که څوک وايي چې: عائشه رضي الله عنها فرمايي چې: «مَا مَاتَ رَسُولُ اللهِ ﷺ حَتَّى أُحِلَّ لَهُ النِّسَاءُ»[٤]

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص٥٣٨
(٢) تفسير الطبري ج١٢ ص٣٠؛ تفسير ابن كثير ج٣ ص٥٠٢
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٥٦
(٤) جامع الترمذي ج٢ ص١٥٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني نبي كريم ﷺ تر هغه وفات نه شو ترڅو چې ټولې ښځې ورته ـ د عربې او غير عربې په شمول ـ حلالې وګرځولې شوې. نو ايا دغه روايت ستاسو د غوره کړې شوي تفسير سره منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: دغه روايت د يو پلوه د اعتبار قابل نه دى چې ناسخ په کښې نه دى ښودلى شوى چې نبي كريم ﷺ ته په کوم ناسخ دليل سره ټولې ښځې حلالې ګرځولې شوې دي(۱)، او د بله پلوه که څه هم دغه روايت د ذکرو شوو دواړو تفسيرونو سره منافات لري مګر په عين حال کښې د اولني تفسير په نسبت دوهم تفسير ته ـ چې مونږ غوره کړې دې ـ ترجيح ورکوي چې منافات يې ورسره د هغه په نسبت کمزوى دى. ځکه چې: د اولني تفسير غوښتنه دا ده چې نبي كريم ﷺ ته لسمه ښځه أم المؤمنين جوړول جواز نه درلود ـ که څه هم د ذکرو شوو څلورو اصنافو څخه وي ـ حال دا چې د عائشې رضي الله عنها د حديث په بنياد يوه ښځه لا څه چې ډېرې ښځې يې أمهات المؤمنين ګرځولى شوې.

او د دوهم تفسير غوښتنه دا ده چې په نبي كريم ﷺ باندې د أمهات المؤمنين په تعداد کښې زيادت کول جائز وه خو په دې شرط چې د ذکرو شوو څلورو اصنافو څخه وي.

## شپږم اختصاصي حکم

۱۵ ـ په ﴿وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَٰجٍ﴾ الآية، کښې شپږم اختصاصي حکم ته اشاره شوې ده.

يعني اى پيغمبره! تا ته دا خبره حلاله نه ده چې خپلې موجوده نهه مېرمنې (أمهات المؤمنين) طلاقې کړې او په عوض او بدل کښې يې نورې ښځې أمهات المؤمنين وګرځوې، البته د هغو ګروپونو زنانه وو څخه کومو ته چې وړاندې په ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ﴾ الآية کښې اشاره شوې ده.

شايد چې د طلاق عدم تحليل به په حقيقت کښې د همدغو نهو بيبيانو دپاره د شکريې په توګه صورت نيولى وى کله چې هغوى په دنيا باندې آخرت غوره وګاڼه، چې پوره تفصيل يې د [الأحزاب:۲۸] ايت لاندې تېر شوى دى، والحمد لله ﷻ.

## ډېر اختصاصي احکام

۱۶ ـ که څوک غواړي چې هغه متعدد احکام د نظره تېر کړي کومو چې نبي كريم ﷺ پورې اختصاص درلود نو څينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي(۲)، چې د دغسې احکامو متعدد مثالونه يې راغونډ کړي دي، الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتَ ٱلنَّبِىِّ إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ
نَـٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَـٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَٱدْخُلُوا۟ فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَٱنتَشِرُوا۟ وَلَا مُسْتَـْٔنِسِينَ لِحَدِيثٍ ۚ
إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى ٱلنَّبِىَّ فَيَسْتَحْىِۦ مِنكُمْ ۖ وَٱللَّهُ لَا يَسْتَحْىِۦ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ وَإِذَا

(۱) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۶۹
(۲) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَٰعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا
كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا۟ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓا۟ أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًا إِنَّ
ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾ إِن تُبْدُوا۟ شَيْـًٔا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ
شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٥٤﴾ لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِىٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ
إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَ
إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

[۵۳] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د نبي کریم ﷺ کورونو ته مه ورداخلېږئ مګر په داسې حال کښې چې تاسو ته اجازه درکړی شي (او یا) طعام ته (وروبللی شئ. د بلنې په صورت کښې) په داسې حال (ورننوځئ) چې د طعام پخېدلو ته منتظر نه یاست.

(د طعام خوړلو دپاره اجازه هم مه غواړئ) مګر کله چې تاسو (طعام ته) وروبللی شوئ نو (هلته) ورداخل شئ، نو کله مو چې طعام وخوړ نو (سمدستي) خواره شي. او (همدارنګه د دعوت په صورت کښې) په داسې حال (ورداخل شئ) چې د خبرو دپاره مینه کوونکي (او مجالس جوړوونکي) نه یاست (چې پلتې ووهئ او کښنئ).

یقینًا دغه (ذکر شوي کارونه هر یو) نبي کریم ﷺ ته ضرر (تکلیف) رسوي، نو ستاسو څخه شرمېږي (حیا کوي چې په دې باره کښې درته څه ووایي)، او الله ﷻ د حق (د بیان) څخه شرم (څنګه چې ورسره مناسب وي) نه کوي.

او (ای مؤمنانو!) کله چې تاسو د اُمهات المؤمنین څخه (د نفعې اخستلو) کوم شي (یا کومه خبره) غواړئ نو د پردې تر شا یې ترې وغواړئ. دغه (ډول غوښتل) ستاسو د زړونو او د اُمهات المؤمنین د زړونو دپاره ښه پاک ساتونکی دی.

او تاسو ته (مناسبه او) جائزه نه ده چې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته (په شعوري یا لا شعوري توګه) ضرر (او زحمت) ورسوئ، او نه دا چې د پیغمبر ﷺ (د وفات) څخه وروسته د ده ﷺ بیبیانې (خپلې مورګانې) په نکاح واخلئ.

یقینًا دغه (هر یو کار ایذاء او نکاح) د الله ﷻ په نزد ډېر لوی (جنایت) دی. (نو ځانونه ترې وساتئ).

[۵۴] (ای مؤمنانو!) که چرته تاسو څه شی څرګند کړئ او یا یې (په زړونو کښې) پټ کړئ نو (په دواړو صورتونو کښې ورباندې الله ﷻ پوهېږي ځکه چې) یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

[۵۵] (ای پیغمبره!) په اُمهات المؤمنین باندې (د یوه شي د بې حجابه غوښتلو په هکله) په خپلو پلرونو کښې څه باک (او ګناه) نشته (چې د دغسې غوښتلو موقع ورکړي)، او نه (ورباندې) په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپلو زامنو کښې او نه په خپلو ورونو کښې او نه د خپلو ورونو په زامنو (وریرونو) کښې او نه د خپلو خویندو په زامنو (خوریونو) کښې او نه په خپلو (مسلمانانو) ښځو کښې او (بالآخره) نه په هغو وینځو کښې (که څه هم چې مسلمانانې نه وي) چې د دوی ښي لاسونه یې مالکان شوي وي (څه ګناه او باک شته چې د مخامخ غوښتلو موقع ورکړي).

او (ای بیبیانو!) تاسو د الله ﷻ څخه وډارې شئ (او د حجاب مراعات وکړئ ترڅو د قیامت تر ورځې پورې ټولې مسلمانانې ښځې تاسو پسې اقتداء وکړي او د حجاب مراعات وساتي. ځکه چې) یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې حاضر دی (چې هیڅ شی او هیڅ کار ترې نه شي پټېدلی)

## شان نزولونه او ارتباط

د ذکرو شوو ایتونو د اولني ایت د شان نزول په هکله متعدد واقعات روایت شوي دي[۱] څه لرې نه ده چې ټول پېښ شوي وي خو مونږ د لاندې څو روایتونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

۱ـ د انس ﷺ د اوړده حدیث مضمون دی چې کله الله ﷻ زینب رضي الله عنها په اُمهات المؤمنین کښې شامله کړه نو نبي کریم ﷺ په خپل کور کښې خلکو ته د ولیمې ډوډۍ ورکړه، خلک راتلل او د خوراک ښاک څخه وروسته بهرته وتل، خو دوه درې کسان ځای په ځای کېناستل او خپلو خبرو اترو ته یې ادامه ورکړه.

د نبي کریم ﷺ زړه غوښتل چې دغه ناسته ډله خپلې خبرې بس کړي او دلته پلتی ونه وهي، مګر د زیاتې حیاء دکبله یې ورته نه شو ویلی چې تاسو جنابان هم مهرباني وکړئ او بهر لاړ شئ. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او حجاب فرض شو[۲].

۲ـ عمر ﷺ وایي چې یوه ورځې ما نبي کریم ﷺ ته وړاندیز وکړ چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! لَوْ أَمَرْتَ نِسَاءَكَ أَنْ يَحْتَجِبْنَ فَإِنَّهُ يُكَلِّمُهُنَّ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ فَنَزَلَتْ»[۳] یعني ای د الله ﷻ پیغمبره! کاش چې ته خپلو مېرمنو ته امر وکړې چې دوی د خلکو څخه حجاب وکړي، دا ځکه چې یقیناً شان دا دی چې د دوی سره نېکوکار او بدکار (هر یو) خبرې کوي (چې دا کار په ماباندې ډېر دروند تمامېږي)، نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ.

۳ـ یوه ورځې یوه منافق وویلې: که نبي کریم ﷺ وفات شي نو زه به عائشه (اُم المؤمنین) په نکاح واخلم، نو الله ﷻ ذکر شوي ایت شریف نازل کړه[۴].

اما د وړاندېنیو ایتونو او د دې ایتونو ارتباط خو بالکل څرګند دی چې د هغو د مضامینو اکثریت په اُمهات المؤمنین پورې ارتباط درلود او د دې ایتونو مطالب هم په همدوی پورې مربوط دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

---

(۱) زاد المسير ج۶ ص۲۱۲؛ نظم الدرر ج۶ ص۱۲۷؛ المحرر الوجيز ج۱۳ ص۹۳

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۶

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۵۸؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۴۳

(۴) روح المعاني ج۱۲ ص۷۴؛ الدر المنثور ج۶ ص۶۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د خپلو مېرمنو او خپلو کورونو په ارتباط د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه چې:

۱_ ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په قوت د خپل پیغمبر ﷺ سره په ناسته ولاړه کښې لاندې آداب عملي کړئ:

الف: تاسو د نبي کریم ﷺ کورونو ته مه ورداخلېږئ مګر په اجازې سره. یا په بل عبارت: که تاسو پرته د دعوت څخه وغوښتل چې هلته ورداخل شئ نو لومړی ضرور اجازه واخلئ او بیا ورننوځئ.

ب: که تاسو خوراک او څښاک ته وردعوت شوئ نو بیا هم دعوت قبول کړئ خو په داسې وخت کښې هلته تشریف ورو‌ړئ چې د خوراک او څښاک وخت وي، هسې نه چې تاسو د وخت څخه وړاندې کورته ورشئ او د خوراک پخېدلو ته منتظر یاست.

ج: لنډه دا چې بدون د دعوته صرف د خوراک دپاره اجازه مه اخلئ، خو کله چې تاسو دعوت کړی شوئ نو ورداخل شئ او کله مو چې خوراک څښاک وکړ او ترې فارغ شوئ نو سمدستي ووځئ او خواره واره شئ.

د: همدارنګه تاسو ته جواز نه لري چې د خوراک او څښاک څخه وروسته پلتۍ ووهئ او خینې د خینو نورو د خبرو اورېدلو دپاره مجالس جوړ کړئ. که تاسو دا کار کوئ نو بهر لاړ شئ او هلته سره کېنئ او خبرې اترې وکړئ.

هـ: ای مؤمنانو! ستاسو ذکر شوي کارونه نبي کریم ﷺ ته په اذیت او ضرر باندې تمامېږي خو هغه ﷺ د ډېرې حیا څخه تاسو ته داسې نه شي ویلی چې: بې اجازې زما کورونو ته مه راننوځئ، یا بدون د دعوت او بلنې څخه صرف د طعام خوړلو دپاره اجازه مه غواړئ، یا د دعوت په صورت کښې د وخت څخه وړاندې مه راځئ، او همدارنګه د بلنې په صورت کښې د خوراک کولو څخه وروسته د کور په داخل کښې مجالس مه جوړوئ بلکې د دې کار دپاره بهر لاړ شئ.

و: الله ﷻ د حق د بیان څخه شرم (څنګه چې ورسره مناسب وي) نه کوي، نو د همدې کبله یې تاسو ته د ناستې ولاړې آداب درنازل کړه.

ز: ای مؤمنانو! کله چې تاسو د اُمهات المؤمنین څخه څه متاع غوښتله نو دغه کار د پردې څخه هغه خوا وکړئ او د پخوا په شان هغوی ته مخ په مخ (بې پردې) مه درېږئ.

ح: دغه ډول غوښتنه ستاسو د زړونو او د اُمهات المؤمنین د زړونو دپاره ښه پاک ساتونکې او پاکیزه ده. او همدارنګه دا د دې دپاره هم ګټوره ده چې د قیامت تر ورځې پورې مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې ستاسو څخه عبرت واخلي او ستاسو کړنلاره خپله کړي، نو د ډول- ډول اتهاماتو او اشتباهګانو مخه به ونیوله شي.

ط: ای مؤمنانو! د ذکرو شوو څو کارونو یادونه د مثال په توګه درنازله شوه نو په تاسو باندې لازمه او تاسو ته مناسبه ده چې په هیڅ ډول سره د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته اذیت ونه رسوئ.

ي: تاسو ته د همېشه دپاره دا هم جواز نه لري چې د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د ده ﷺ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مېرمنې (خپلې مورګانې) په نکاح کړئ.

یا: ای مؤمنانو! یقیناً نبي کریم ﷺ ته هر ډول اذیت رسول او هم د ده ﷺ بیبیانې د ده ﷺ د وفات څخه وروسته په نکاح سره اخستل د الله ﷻ په نزد ډېره لویه ګناه او ډېر لوی جنایت دی، نو خپل ځانونه ترې وساتئ:

یب: که تاسو نبي کریم ﷺ ته اذیت رسونه اویا یې د وفات څخه وروسته مېرمنې په نکاح اخستنه څرګنده کړئ او یا یې په زړونو کښې پټه وساتئ، نو په دواړو صورتونو کښې د الله ﷻ څخه نه پټېږي او دا ځکه چې یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی؛ نو تاسو ته په کار دي چې ذکر شوي هر ډول اذیت ته په خپلو زړونو کښې هم ځای ورنه کړئ.

۲ـ ای پیغمبره! لکه چې په مؤمنانو باندې لازمه ده چې ستا د کورونو آداب وساتي همدارنګه ستا په مېرمنو باندې هم واجبه ده چې د اجانبو څخه حجاب او پرده وکړي. هو! که دوی د خپلو ځینو اقاربو څخه پرده ونه کړي نو څه باک یې نشته، دغه ډول اقارب د لاندې کسانو څخه عبارت دي:

د دوی پلرونه او زامن، د دوی ورونه او وريرونه، د دوی خوریونه، او مسلماناني ښځې

او په دوی باندې د هغې کافرې ښځې څخه حجاب او پرده کول واجب نه دي د کومې چې د دوی نبي لاسونه مالکان ګرځېدلي وي.

۳ـ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه خپلو مېرمنو ته ابلاغ کړه چې:

الف: تاسو د الله ﷻ څخه وډارې شئ او په خپله پرده او حجاب باندې د نبي کریم ﷺ په غیاب او حضور دواړو حالاتو کښې کلکې اوسېږئ. او دا ځکه چې:

ب: یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې شاهد دی چې هیڅ شی ترې غائب نه شي جوړېدلی، نو که بالفرض تاسو د بندګانو څخه خپله بې حجابي پټه کړئ د الله ﷻ څخه یې په هیڅ حال نه شي پټولی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ ﴾ الآية کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: که څوک وايي چې په ﴿ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ ﴾ کښې د ﴿ يُؤۡذَنَ ﴾ کلمه په ﴿ إِلَىٰ ﴾ سره متعدي ګرځېدلې ده حال دا چې دغه کلمه په "في" سره متعدي ګرځي، لکه چې وايي: "أُذِنَ لِفُلَانٍ فِي كَذَا" فلانې ته په دغه کار کښې اجازه وکړی شوه. نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د ﴿ إِلَىٰ ﴾ په عوض د "في" توری نازل نه شو؟

مونږ وایو چې: دلته ﴿ يُؤۡذَنَ ﴾ کلمه د "دَعْوَة" معنی ته متضمنه ده[1] چې په "إِلَى" سره متعدي ګرځي، نو د همدغې تضمني معنی په ملحوظ د "إِلَى" توری نازل شوی دی، والله ﷻ أعلم. په همدي تضمین باندې په عین ایت کښې د ﴿ إِذَا دُعِيتُمۡ ﴾ کلمات هم دلالت کوي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ﴾ كلمات د ﴿لَا تَدْخُلُوا﴾ د فاعل څخه حال واقع شوي دي، او د ﴿غَيْرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ﴾ كلمات ترې دوهم مترادف حال دى[١].

ج: دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿إِنَىٰهُ﴾ كښې د "أَنَى" كلمه د "أَنَى يَأْنِي" ـلكه "رَمَى يَرْمِي"ـ دپاره مصدر ده چې د پوخوالي او وخت ته د رسېدلو معنى وركوي[٢].

نو په ذكرو شوو ملحوظاتو سره يې د معنى حاصل داسې راځېږي چې: اى مؤمنانو! تاسو د نبي كريم ﷺ كورونو ته په هيڅ حال كښې د هيڅ شي دپاره مه ورداخلېږئ مگر د اجازه دركولو او طعام ته د دعوت دركولو په حال كښې او په داسې حال كښې چې تاسو د طعام پخېدلو ته انتظار ويستونكي نه ياست، چې د وخت څخه وړاندې ورداخل شئ او د طعام د پخېدلو پورې په خبرو اترو سره خپل مجالس تاوده كړئ.

## د ايت شريف يو ارشاد

د: نظر ذكرې شوې شرحې ته د ايت شريف څخه د دې خبرې ارشاد هم معلومېږي چې بايد هيڅوك بدون د دعوت (بللو) څخه د نبي كريم ﷺ كورونو ته د خوراك او څښاك دپاره ورداخل نه شي، چې مطلب يې فقط خوراك او څښاك وي او بس كه څه هم اجازه واخلي[٣].

دغه ډول نابللي مېلمه ته په عربي لغت كښې د "ضَيْفَنْ" كلمه وضعه شوې ده چې د "ن" توری پكښې زائد دى او د "ضَيْف" په كلمې پورې پيوسته شوى دى.

د همدې كبله كله چې يوه ورځ نبي كريم ﷺ ته چا دعوت وركړى وه خو يوه نابللي سړي هم وريورې خپل ځان ضميمه كړ، كله چې د بلونكي د كور دروازې ته ورسېدل نو نبي كريم ﷺ بلونكى مخاطب كړ چې: «إِنَّ هَذَا اتَّبَعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَأْذَنَ لَهُ وَإِنْ شِئْتَ رَجَعَ» يعني دغه سړى زمونږ پسې بدون د دعوت څخه راروان دى، نو كه ستا خوښه وي اجازه به ورته وكړې (او په بللو شوو كسانو كښې به يې وشمېرې)، او كه ستا خوښه وي (چې اجازه ورته ونه كړې) نو بېرته به وگرځي.

بلونكي جواب وركړ چې: «لَا بَلْ آذَنُ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ!»[٤] دغسې نه ده (چې اجازه ورنه كړم) بلكې اى د الله ﷺ پيغمبره! زه ورته اجازه وركوم (او په بللو شوو كسانو كښې يې شمېرم).

په دې باندې علاوه د ايت شريف څخه دا هم فهمېږي چې تاسو د خپل كوم كار دپاره اجازه غوښتل د طعام د پخېدلو وخت ته مه ټالوئ[٥] ترڅو په يوه اجازه غوښتلو سره هم خپل كار ترسره كړئ او هم طعام نوش جان كړئ.

---

(١) تفسير المظهري ج٧ ص٣٧١
(٢) لسان العرب ج١٤ ص٤٨
(٣) تفسير القاسمي ج١٣ ص٢٩٢، تفسير ابي السعود ج٧ ص١١٢
(٤) صحيح مسلم ج٢ ص١٧٦
(٥) تفسير ابن كثير ج٣ ص٥٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

ه: که څوک وايي چې: د "لَكِن" کلمه خو د دې دپاره وضعه شوې ده چې هغه توهم ورباندې د منځه يووړل شي کوم چې د وړاندېني کلام څخه چاته ذهن ته ورځي؛ نو پوښتنه دا ده چې په ﴿ وَلَـٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا ﴾ کښې په دغې کلمې سره کوم توهم د منځه وړل شوی دی؟

مونږ وايو چې: څه لرې نه ده چې د ﴿ إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ ﴾ د کلماتو د ظاهر څخه چاته توهم پيدا شوی وی چې د نبي کريم ﷺ کورونو ته به صرف د طعام خوړلو دپاره اجازه غوښتل هم غير مناسب کار نه وي، نو په ذکرې شوې کلمې سره دغه توهم پورته کړی شو. يعنې تاسو د نبي کريم ﷺ کورونو ته د طعام خوړلو دپاره اجازه مه غواړئ.

هو! که تاسو طعام ته وروبللې شوئ نو په ټاکلي وخت ورداخل شئ او د طعام د نوش جان کولو څخه وروسته سمدستي ووځئ او په څمکه کښې خواره شئ.

## استيناس څه معنی؟

و: په ﴿ وَلَا مُسْتَـْٔنِسِينَ لِحَدِيثٍ ﴾ کښې د ﴿ مُسْتَـْٔنِسِينَ ﴾ کلمه د "استيناس" څخه اشتقاقه شوې ده چې د الله ﷻ په توفيق د [النور:٢٧] ايت لاندې پوره تحليله شوې ده، چې متعددې معناوې درلودلی شي؛ خو په دې مقام کښې د هغو متعددو معناوو څخه د ميلان (د محبت د اظهار) معنی په زړه پورې برېښي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه ذکره شوې کلمه په ﴿ غَيْرَ نَـٰظِرِينَ إِنَىٰهُ ﴾ باندې عطفه ده[1] چې د "غير" معنی پکښې په "لا" سره تاکيده شوې ده. يعنې ای مؤمنانو! تاسو د پيغمبر ﷺ کورونو ته د دعوت او اذن درکولو په صورت کښې په داسې حال کښې ورداخل شئ چې هلته د طعام څخه وړاندې انتظار کوونکي نه ياست او د طعام څخه وروسته هلته د محبت او مينې مجالس جوړونکي نه ياست چې پلتې ووهئ او په مرکو او قيصو باندې پيل وکړئ.

## متاع څه معنی؟

ز: په ﴿ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَـٰعًا ﴾ کښې د "مَتَاع" کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده د کوم څخه چې په کور کښې استفاده کېږي او يا ترې په بله کومه وجه څه ګټه اخستله کېږي[2]، مګر په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه هر هغه شی مراد دی د کوم څخه چې په دنيا او يا آخرت کښې ګټه پورته کولی شي[3] نو په همدې بنياد د شريعت احکام او د نبي کريم ﷺ احاديث د دغې کلمې لومړني مدلولات دي.

---

(١) المحرر الوجيز ج١٣ ص٩٤
(٢) مفردات الراغب ص٤٨١
(٣) تفسير القرطبي ج١٤ ص٢٢٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د حجاب معنی

ح: په ﴿ فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖۚ ﴾ کښې د "حِجَاب" کلمه د هغې شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې د دوه وو شیانو ترمنځ حائل (پرده) واقع کېږي[۱]، چې لاندې صورتونه درلودلی شي:

اول: چې پرده په دېوال غوندې شي سره صورت ونیسي حتی چې د شخص د لېدلو مانعه وي.

دوهم: چې په لوی پوړني یا څادر غوندې شي سره صورت ونیسي، چې فقط د څېرې د لېدلو مانعه وي خو د شخص د قد او قامت د لیدلو مانعه نه وي.

که څه هم په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د ذکرې شوې کلمې څخه اولنۍ معنی مراده کړې ده[۲]، مګر مونږ ته پکښې لاندې تفصیل بهتر برېښي:

په مؤمنانو باندې واجبه وه چې د یوه شي د غوښتنې په وخت د حجاب اولنۍ معنی مراعات کړي، او د پردې تر شاترې غوښتنه وکړي. اما په اُمهات المؤمنين باندې په اولنۍ معنی سره حجاب واجب نه وه بلکې په دوهمه معنی سره حجاب وربانديې فرض وه، لکه چې په راتلونکي [الأحزاب:۵۹] ایت کښې ورڅخه په جلابیب (لوی څادر) سره تعبیر شوی دی.

د همدې کبله د حجاب د فرضیت څخه وروسته اُمهات المؤمنين حجونو ته تللې دي او په غزواتو کښې یې ګډون کړی دی لکه چې څه مثالونو ته یې د [النور:۳۱] ایت لاندې اشاره شوې ده.

### عمر ﷺ دواړه ډوله حجاب خوښاوه

ط: عمر ﷺ د اُمهات المؤمنين دپاره دواړه ډوله حجاب خوښاوه، د همدې کبله یې د حجاب د نزول څخه وړاندې یو ځل اُم المؤمنين سوده رضي الله عنها ولیده چې د انساني حاجت د ترسره کولو دپاره بهر وتلې وه نو په نوموړې باندې یې اعتراض وکړ. کله چې دغه اعتراض د نبي کریم ﷺ حضور ته وړاندې کړی شو نو ویې فرمایل چې: «إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ»[۳] یعنې یقیناً شان دا دی چې بې شکه تاسو ته اجازه درکړه شوې ده چې د خپلو انساني احتیاجاتو د ترسره کولو دپاره د کوره بهر لاړې شئ؛

نو الله ﷻ د حجاب آیت نازل کړ او اُمهات المؤمنين وربانديې د حجاب بالابدان (چې په پوړني تقسیم کښې د حجاب دوهم ډول دی) په صورت کښې عمل وکړ.

بله ورځ د همدغه ایت د نزول څخه وروسته د عمر ﷺ د پلوه په سوده رضي الله عنها باندې ذکر شوی اعتراض تکرار شو، نو نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې بیا خپلې بیبیانې مخاطبې کړې چې: «إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ»[۴] یعنې یقیناً شان دا دی چې ماته د الله ﷻ د پلوه وحې وکړی

(۱) لسان العرب ج۱ ص۲۹۸
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۵۴۰
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۲۶، ج۲ ص۷۰۷
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوه چې بې شکه تاسو ته اجازه ده چې د خپلو احتیاجاتو د پوره کولو دپاره (په حجابونو کښې) د کوره ووځئ؛ یا په بل عبارت: په تاسو باندې حجاب بالابدان فرض دی او حجاب بالاشخاص (په پورتنې تقسیم کښې د حجاب اول صورت) درباندې فرض نه دی چې بالکل د کوره بهر ونه وځئ.

لنډه دا چې په اُمهات المؤمنین باندې که څه هم بالاشخاص حجاب کول فرض نه وه چې بالکل د کوره بهر ونه وځي مګر مستحب وه[1]، د همدې کبله د امهات المؤمنین د ډلې څخه دوه تنه (سوده او زینب بنت حجش رضي الله عنها) د حجاب بالاشخاص پابندې وې[2] حتی چې نه نفلي حج ته لاړې او نه عمرې ته، او نه د مرګ د وخته پورې د خپله کوره ووتلې.

## حجاب په ټولو فرض دی

ي: د ﴿ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې د حجاب فرضیت په اُمهات المؤمنین پورې اختصاص نه لري بلکې ټولې مؤمناني ښځې په حجاب کولو باندې مکلفې دي. او دا ځکه چې په دغې جمله کښې د حجاب د فرضیت وجې ته اشاره شوې ده، نو کله چې د حجاب مراعات د اُمهات المؤمنین او د دوی د معنوي زامنو (مؤمنانو) په نسبت د زړونو دپاره ښه پاکوونکي وګڼل شو، نو د پردیو ښځو او پردیو نارینه وو په نسبت خو ډېر زیات پاکوونکي او سپېڅلي ګڼل کېږي.

نو د قیامت تر ورځې پورې چې په هر ځای کښې د حجاب مراعات د پېښو لاندې کړی شي هلته د ډېر زیات خبث او ناپاکۍ د رامنځته کېدو وېره شته.

مؤمنانو ته په کار دي چې خپل خانونه ترې بچ وساتي او د حجاب مراعات نه زنانه د پامه وغورځوي او نه ورته د دوی نارینه او نه اسلامي حکومت اجازه ورکړي چې مراعات یې ونه کړي.

## د ایت د نزول نېټه

یا: په اُمهات المؤمنین باندې د حجاب کولو فرضیت د هجرت په پنځم کال د ذي العقدې په میاشت کښې صورت نیولی او ذکر شوې ایت پکښې نزول موندلی دی[3].

## سوال جواب

یب: که څوک وایي چې: په ﴿ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا۟ رَسُولَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ تُؤْذُوا۟ ﴾ کلمه د "إيذاء" څخه اشتقاقه شوې ده، او پوره واضحه ده چې "إيذاء" د هغه فعل یا قول څخه عبارت ده په کوم باندې چې سړی خپه کېږي، لکه بدون داجازې کور ته ورننوتل او داسې نور، نو پوښتنه دا ده چې د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د ده ﷺ "إيذاء" د څه شي څخه عبارت ده چې باید مؤمنان ترې د قیامت تر ورځې پورې خپل خانونه وساتي؟

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۷۵
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۲۲۹
(۳) الطبقات الکبری لابن سعد ج۸ ص۱۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د ذکرې شوې ايت په استناد د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته مؤمنان مکلف ګرځولی شوي دي چې د هغه قول يا فعل څخه خانونه بچ وساتي په کوم کښې چې د نبي کريم ﷺ او يا د اُمهات المؤمنين سپکاوی او توهين نغښتی وي، د همدې قبيلې څخه د اُمهات المؤمنين په تعدد باندې اعتراض کول هم ګڼل کېږي چې د کفر څخه نمايندګي کوي.

## يوه مسئله

يج: په ﴿ وَلَا أَن تَنكِحُوٓاْ أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًا ﴾ کښې د ټولو علماوو کرامو اجماع ده چې اُمهات المؤمنين په دنيا او آخرت کښې د نبي کريم ﷺ مېرمنې دي، او د ده ﷺ د وفات څخه وروسته په قطعې توګه د هغوی نکاح کول حرام دي[۱].

يا په بل عبارت: د هغوی ازدواج د نورو ښځو غوندې د نبي کريم ﷺ په وفات سره نه دی قطعه شوی، د همدې کبله په هغوی باندې د عدتونو تېرول هم واجب نه وه، بلکې د هغوی حال هغه ښځو ته ورته وه د کومو چې مېړونه چرته په سفر سره غائب ګرځېدلي وي[۲].

## څو ټکي

۲ـ په ﴿ لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِىٓ ءَابَآئِهِنَّ ﴾ الآية، کښې لاندې ټکو ته پام وکړئ:

الف: په دې ايت شريف کښې د [النور: ۳۱] ايت غوندې مضمون نازل شوی دی، نو څرنګه چې مونږ هلته د الله ﷻ په توفيق څه معلومات تفصيلوار ليکلي دي نو دلته د هغو بيا تفصيلي ليکلو ته څه اړتيا نه ګورو هغه دا چې:

اول: هلته د دې وجه ذکره شوې ده چې د تره او ماما نومونه په محارمو کښې نه دي نازل شوي حال دا چې دوی هم د محارمو څخه دي.

دوهم: په ايت شريف کښې محارم عام دي، هغو محارمو ته هم شامل دي کوم چې د رضاع (تي رودلو) په سبب محارم ګرځېدلي وي.

دريم: د ﴿ وَلَا نِسَآئِهِنَّ ﴾ څخه مسلمانانې ښځې مطلب دي.

څلورم: په ﴿ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ ﴾ کښې د ﴿ مَا مَلَكَتْ ﴾ څخه فقط وينځې مراد دي، چې کافرې وينځې ته هم شموليت لري.

ب: که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد په دې مقام کښې د هغو ټولو کسانو نومونه نازل نه شوه کوم چې هلته نازل شوي وه؟

مونږ وايو چې: دا ايت شريف د يوې پوښتنې په جواب کښې نازل شوی دی، هغه دا چې کله د اُمهات المؤمنين په هکله د حجاب ذکر شوی حکم نازل شو نو د هغوی اقارب او خپلوان نبي

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۵۰۶

(۲) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کریم ﷺ ته ورغله او پوښتنه یې وکړه چې: ای د الله رسوله! ایا مونږ هم (که څه غوښتل) نو د هغوی څخه یې د پردې تر شا وغواړو؟ نو الله ﷻ دغه ایت شریف نازل کړ[1] او د ښه اطمنان دپاره یې د سوال کوونکو په قرابتونو باندې صراحت وکړ، نو د همدې کبله د هغه ایت مضمون دلته هو بهو راحکایت نه شو او د لاندې کسانو د صراحتونو څخه ساکت پاتې شو چې:

اول: د نبي کریم ﷺ ذکر خو بالکل مطرح نه وه.

دوهم: د نبي کریم ﷺ پلار ژوندی نه وه، او نه یې کوم بالغ زوی ژوندی وه چې ذکر ته یې څه اړتیا پېښه شوې وی.

دریم: بالآخره ساده چوپړان او هم ماشومان په سوال کوونکو کښې شامل نه وه.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ فَقَدِ ٱحۡتَمَلُواْ بُهۡتَٰنًا وَإِثۡمًا مُّبِينًا ﴿٥٨﴾ ﴾

[۵۶] یقیناً الله ﷻ او د ده ﷻ پرښتې په پیغمبر ﷺ باندې درود استوي، (نو) ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو (هم) په پیغمبر ﷺ باندې درود واستوئ او (هم) ورباندې سلام وایاست سلام ویل (چې: "السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه" څخه عبارت دي).

[۵۷] بې شکه هغه کسان کوم چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ته ایذاء (ضرر) رسوي (نو) الله ﷻ هغوی په دنیا او اخرت کښې د خپل رحمت څخه لرې کړی دی او سپکوونکی عذاب یې ورته تیار کړی دی.

[۵۸] او هغه کسان کوم چې مؤمنانو سړیو او مؤمنانو ښځو ته د هغه (کار) څخه په غیر (د بل کار په اتهام سره) ضرر رسوي کوم چې دوی کسب کړی وي (چې دروغ ورپورې تړي) نو بې شکه هغوی لوی بهتان او څرګنده ګناه (په غاړو باندې) اخلي (هغوی د ډېر لوی جنایت دپاره متحمل کېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې مؤمنانو ته په کار دي چې نبي کریم ﷺ ته نه په ژوند کښې او نه د وفات څخه وروسته څه اذیت او ضرر ورسوي، په دې ایتونو کښې د یو پلوه د همدغه مضمون وجې ته اشاره شوې ده او د بله پلوه د هغو خلکو په هکله وعید نازل شوی دی کوم چې نبي کریم ﷺ او یا نورو مؤمنانو ته د ضرر او اذیت رسولو په تکل کښې وي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۵۷: تفسیر المراغي ج۲۲ ص۳۲: تفسیر ابي السعود ج۷ ص۱۱۳: البحر المحیط ج۸ ص۵۰۱: تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۲۳۱: تفسیر الخازن ج۵ ص۱۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په دې موقع کښې په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه چې:

۱ـ یقینًا الله ﷻ او د ده ﷻ پرښتې په نبي کریم ﷺ باندې درود استوي، نو ایا تاسو ته مناسبه ده چې تاسو ورته اذیت ورسوئ؟ نو په همدې بنیاد:

ای مؤمنانو! تاسو هم خپل پیغمبر ﷺ ته اذیت مه رسوئ او خپه کوئ يې مه، بلکې هم ورباندې درودونه واستوئ او هم ورباندې د "السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه" کلمات واستوئ.

۲ـ یقینًا هغه کسان چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ته اذیت او ضرر رسوي نو الله ﷻ هغوی په دنیا او آخرت کښې د خپل رحمت څخه لرې کړي دي، چې په دنیا کښې به د نېکیو توفیق مونده نه کړي او په آخرت کښې به د دردناک عذاب سره مخامخ شي، او په دې باندې علاوه الله ﷻ ورته هلته سپکوونکی عذاب تیار کړی دی چې توهین او تخجیل هم ورسره ملګری دی.

۳ـ ای پیغمبره! هغه کسان چې د پیغمبر ﷺ څخه په غیر نارینه مؤمنانو او مؤمنو ښځو ته ضرر رسوي او په داسې اقوالو او افعالو باندې يې متهموي کوم چې دوی نه وي کسب کړي او محض د اذیت دپاره يې ورپورې تړي، نو یقینًا دغه خلک د بهتان متحمل شوه او پوره څرګنده ګناه يې په غاړه واخستله، چې هرومرو او ضرور به يې د بدو عواقبو سره مخامخ شي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ﴾ الاية- د تفسیر دپاره لاندې نکاتو ته توجه وکړئ:

الف: د ﴿يُصَلُّونَ﴾، ﴿صَلُّوا﴾ دواړه کلمې د الله ﷻ په توفیق د [التوبة:۱۰۳] ایت لاندې د لغت د حیثه ښې پوره تحلیلي شوې دي، او په [الأحزاب:۴۳] ایت کښې ورباندې څه معلومات ورزیات شوي دي، چې تکراري تحلیلولو ته يې ارتیا نه ګورو.

ب: که څه هم مونږ د "صَلوة" او "سَلام" په هکله د [التوبة:۱۰۳] ایت لاندې څه شرعي احکام لیکلي دي ـوالحمد لله ﷻ، مګر ځینو مفسرینو کرامو[1] په همدې ارتباط په دې مقام کښې هم د شرعي نګاه څخه ښه پوره بحث لیکلی دی، که د چا زړه اوږد بحث غواړي نو هملته دې مراجعه وکړي، خو مونږ د لاندې څو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: په نبي کریم ﷺ باندې په ټول عمر کښې یو ځل درود ویل فرض دي، چې په ﴿صَلُّوا۟ عَلَيْهِ﴾ کښې ورباندې امر نازل شوی دی، او امر د تکرار غوښتونکی نه دی، او په یو ځل باندې علاوه د درود استول د مستحباتو او سنتو څخه دي، خو د علماوو کرامو اختلاف پکښې شته دی[2].

دوهم: کله چې په یوه مجلس کښې نبي کریم ﷺ یاد کړی شي نو په کار دي چې درود ورباندې واستولی شي او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْبَخِيلُ الَّذِي مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۷۹

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۲۳۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَيَّ»[۱] یعنې هغه څوک بخیل دی چې د ده په نزد زه یاد کړی شم او په ماباندې درود وانستوي.

دريم: په نبي کريم ﷺ باندې په لمانځه کښې درود استول د ابو حنيفه عليه الرحمة په نزد سنت او د خينو نورو امامانو عليهم الرحمة په نزد فرض دي[۲].

څلورم: ليکونکو ته په کار دي چې د نبي کريم ﷺ د نامه سره "صلى الله عليه وسلم" پوره وليکي او په "ص" يا بل څه سره يې اختصار نه کړي.

پنځم: هو! که بدون د ليکلو په ژبه باندې ذکره شوې جمله ولولي او په ليک کښې ورته اشاره وکړي نو باک يې نشته، خينو امامانو عليهم الرحمة د ليک سره په ژبه باندې د ذکرې شوې جملې په لوستلو سره اکتفاء کړې ده[۳].

شپږم: اکثره سلف صالحين عليهم الرحمة په دې خبره کلک دي چې د نبي کريم ﷺ د نامه سره دې يوازې په "صلى الله عليه" باندې اکتفاء ونه کړی شي، بلکې د "وسلم" کلمه دې هم ورسره پيوسته کړی شي، چې په ايت شريف کښې په دواړو (صلاة او سلام) باندې امر نازل شوی دی.

اوم: که څه هم په دې کښې څه روايت نشته چې د پرښتو د نامه سره بايد څه ډول جمله ضميمه کړی شي، خو ځرنګه چې الله ﷻ ورته په [فاطر:۱] ايت کښې د رسولانو لقب ورکړی دی نو په کار دي چې د دوی د نومونو سره هم د پيغمبرانو عليهم السلام غوندې ذکره شوې جمله ضميمه کړی شي او ـمثلاًـ وويل شي چې جبرائيل صلى الله عليه وسلم.

## سوال جواب

اتم: که څوک وايي چې: ايا جائزه ده چې څوک د نبي کريم ﷺ د نامه سره د "غفر الله له" جمله ضميمه کړي حال دا چې پيغمبران د ګناه څخه معصومان دي؟

مونږ وايو چې: که څه هم د مغفرت د غوښتلو سره د ګناه موجوديت ضرور نه دي، بلکې مغفرت کله- کله د درجو د لوړوالي دپاره غوښتل کېږي، د همدې مطلب دپاره د جنازې په لمانځه کښې د صغيرانو او ماشومانو دپاره هم د مغفرت غوښتل صورت نيسي؛ مګر د نبي کريم ﷺ د نامه سره د ذکرې شوې جملې ضميمه کول په کار نه دي چې د عدم معصوميت بوی ترې پورته کېږي او عوام په اشتباه کښې لوېږي[۴].

نهم: د هغو کسانو د نامه سره بايد د "رَضِيَ اللهُ عَنْهُ" جمله او يا د "صَلَّى اللهُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَسَلَّمَ" جمله پيوسته شي د کومو چې نبوت يقيني نه وي، لکه "لقمان رضي الله عنه" او نور.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

ج: که څوک وايي چې: الله ﷻ مونږ ته په ذکر شوي ايت شريف کښې خبر راکړ چې هغه ﷻ په خپل

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۴؛ مسند أحمد بن حنبل ج۱ ص۴۲۹
(۲) الفقه الإسلامي وادلته ج۱ ص۷۲۱
(۳) تفسير القاسمي ج۱۳ ص۳۰۳؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۰۶
(۴) روح المعاني ج۲۲ ص۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغمبر باندې درود استوي او رحمتونه ورباندې وروي، نو د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ په عین ایت کښې مؤمنان هم مکلف وګرځول چې تاسو هم ورباندې درود واستوئ او د رحمتونو د نزول غوښتنه ورته وکړئ؟

مونږ وایو چې: په دغه تکلیف سره د یو پلوه په مونږ باندې د نبي کریم ﷺ تعظیم او اجلال واجب وګرځولی شو او د بله پلوه راته ارشاد وشو چې اجرونه او ثوابونه تر لاسه کړي.

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا»[1] یعني نو یقینًا هرڅوک چې په ماباندې درود واستوي نو الله ﷻ به په هغه باندې لس څله خپل رحمت ورنازل کړي.

## سوال جواب

د: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په ﴿ صَلُّواْ عَلَيْهِ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ﴾ کښې د ﴿ صَلُّواْ ﴾ د کلمې سره د ﴿ وَسَلِّمُوا ﴾ کلمه ضمیمه نازله شوه، حال دا چې د ایت شریف په سر کښې د ﴿ يُصَلُّونَ ﴾ د کلمې سره د "يُسَلِّمُونَ" کلمه ضمیمه نه ده نازله شوې؟

مونږ وایو چې: په وړاندې وروسته ایتونو کښې بنیادمانو ته توصیه شوې ده چې په جدي توګه د نبي کریم ﷺ د ایذاء څخه ځان ساتنه وکړي، او همدغه مطلب د ﴿ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ﴾ په نزول سره تائید شوی دی، او پوره څرګنده ده چې ضرر رسول یوازې او یوازې د بنیادمانو څخه متصور وه نو د تاکید او تائید نزول هم یوازې د همدوی سره مناسب وه او بس.

## د تفسیري احادیثو مجموعه

ه: په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ـ جزاهم الله خیرا ـ د تفسیري احادیثو ښه غټه مجموعه راغونډه کړې ده چې ایت شریف پکښې د هر حیثه پوره تفسیر شوی دی[2]. خو د دې کتاب د اوږدېدو له امله مونږ د یوه حدیث په رانقلولو باندې اکتفاء کوو چې مضمون یې دا دی:

یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې: ای د الله رسوله! زمونږ خو په تا باندې د سلام دراستولو طریقه زده ده چې تا رابښودلې ده، مثلاً په لمانځه کښې وایو چې: "السَّلام عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" یعني ای پیغمبره! په تا باندې دې سلامتیا وي او د الله ﷻ رحمت هم او د ده ﷻ برکتونه؛ نو په تا باندې درود څنګه دروستوو؟ هیله ده چې دا هم مونږ ته رازده کړې.

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: ووایاست «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»[3].

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۱۶۶؛ جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۲؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۷۱
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۰۶؛ الدر المنثور ج۶ ص۶۴۶
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## إيذاء څه معنی؟

۲_ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُ ﴾ الآية کښې د ﴿ يُؤْذُونَ ﴾ کلمه د "إِيْذَاء" څخه اشتقاق شوې ده، "إِيْذَاء" دې ته وايي چې څوک يوه ژوندي شي ته يو ډول ضرر ورسوي، برابره خبره ده چې دنياوي وي او که اُخروي، او برابره ده چې مالي وي او که ځاني او يا نور[1].

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د نبي کريم ﷺ په نسبت خو د ايت شريف مصداق ځرګند دی چې منافقانو به د اُمهات المؤمنين په تعدد باندې اعتراض کاوه او لا لګيا دي کوي يې او داسې نور، نو پوښتنه دا ده چې د الله ﷻ په نسبت د ايت شريف مصداق څه شی جوړېدلی شي؟

مونږ وايو چې: د الله ﷻ په نسبت د ايت شريف مصداق په لاندې دوه وو معناوو باندې تفسير کېدلی شي:

الف: الله ﷻ ته د ولديت اثباتول د همده ﷻ د إيذاء څخه عبارت دی، او دا ځکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده قدسي حديث کښې د الله ﷻ څخه حکايت کړی دی چې: «وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ أَنْ يَقُولَ اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا وَأَنَا الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ أَلِدْ وَلَمْ أُولَدْ»[2] يعنې او ماته د بنده کنځل دا دي چې په ما پورې ولد راوتپي چې ما ولد نيولی دی، او شان دا دی چې زه هغه بې پروا اقدس ذات يم، چې نه مې څوک زېږولی دی، او نه د چا څخه زېږولی شوی يم، او نه مې چرته څوک سيال (ساری) شته.

ب: نبي کريم ﷺ ته ضرر رسول (إيذاء) الله ﷻ د ډېر تکريم او توقير په لحاظ داسې تعبير کړې ده لکه چې پخپله همده ﷻ ته إيذاء رسولې شوې وي.

يا په بل عبارت: لکه څنګه چې الله ﷻ د خپل پيغمبر ﷺ خوشالي او رضامندي خپله رضامندي بولي _لکه چې پوره بيان يې د [التوبة:۶۱] ايت لاندې تېر شوي دی والحمد الله ﷻ والمنة_ همدارنګه په دې ايت شريف کښې _چې بحث پکښې روان دی_ الله ﷻ د خپل پيغمبر ﷺ إيذاء د خپل اقدس ذات إيذاء بللې ده.

همدا مضمون په ډېرو احاديثو کښې منعکس شوی دی، لاندې دوه يې د مثال په توګه ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «...وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللهَ وَمَنْ آذَى اللهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ»[3] يعنې هرڅوک چې ماته ضرر ورسوي نو بې شکه هغه الله ﷻ ته ضرر ورساوه، او هرڅوک چې الله ﷻ ته ضرر ورسوي نو نژدې ده چې الله ﷻ يې (په عذاب سره) ونيسي.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده قدسي حديث کښې د يوه بنده سره داسې سوال جواب راحکايت کړی دی چې د قيامت په ورځ به صورت ونيسي:

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۱
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۴۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوښت خو تا رانه کړ.

الله ﷻ: ای زما بنده! ما ستا څخه طعام (خوراک) غوښتی وی نو ما به تاته څنګه

بنده: ای زما ربه! که (بالفرض المحال) تا زما څخه څه خوراک غوښتی وی نو ما به تاته څنګه

درکړی وی حال دا دی چې ته رب العالمین یې، چې د خوراک او څښاک څخه بې پروا او پاک یې؟

الله ﷻ: ای بنده! ایا ته په دې علم نه لرې چې یقیناً زما یوه بنده (چې فلانی نومېږي) ستا څخه

طعام (خوراک) وغوښت او تا ورته ورنه کړه. ای بنده! ایا ته نه پوهېږې چې که تا هغه ته طعام ورکړی

وی «لَوَجَدْتَ ذَٰلِكَ عِنْدِي»[۱] نو د هغه اجرونه او ثوابونه به دې (نن ورځ) زما په نزد موندلي وی.

## تبصره

۴_ ذکر شوي دواړه تفسیرونه په زړه پوري دي، خو د مقام په لحاظ سره مونږ ته دوهم تفسیر بهتر او غوره برېښي، والله ﷻ أعلم.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَـٰبِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٠﴾ مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا۟ أُخِذُوا۟ وَقُتِّلُوا۟ تَقْتِيلًا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٦٢﴾﴾

[۵۹] ای پیغمبره! ته خپلو مېرمنو او خپلو لورګانو او (هم) د مؤمنانو مېرمنو ته ووایه چې: دوی دې په خپلو (ټولو) ځانونو باندې د خپلو لویو ټکریو (څادرونو) څخه ورنژدې (ورخواره) کړي.

دغه (د ټول ځان پټول) نژدې دي چې دوی (ورباندې) وپېژاندلی شي (چې دوی اصیلې حیاناکې ښځې دي) نو دوی ته به (د فاسقانو د پلوه) اذیت نه وررسولی کېږي (او تمې به یې پرې شي).

او الله ﷻ ښښونکی (او) مهربان دی (که څوک په دغه حکم کښې قصور واقع کړي نو توبه تائب دې جوړ شي).

[۶۰] (ای پیغمبره!) سوګند دی که منافقان او هغه کسان د کومو په زړونو کښې چې (د فحاشۍ) مرض دی او (هم) په مدینه منوره کښې د بدو اوازو خوروونکي کسان (د خپلو کارونو څخه) منعه نه شي، نو هرومرو خامخا به مونږ تا په هغوی باندې ورسلېښت (مسلط) کړو (چې) بیا به په مدینه منوره کښې ستا سره ګاونډیتوب ونه کړي مګر لږ وخت.

[۶۱] په داسې حال کښې (به ستا ګاونډیتوب پرېږدي) چې دوی به ملعونان ګرځولي شوي دي (او د الله ﷻ د رحمت څخه به سات په سات لرې کېږي، حتی) په هر ځای کښې چې وموندلی شي نو

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نیولی کېږي به او په شدت سره به وژلی کېږي، په شدت سره وژل.

[۶۲] (دا طریقه) الله ﷻ په هغو کسانو کښې (جاري کړې ده) کوم چې (د دغو ورانکارانو څخه) وړاندې تېر شوي دي، طریقه جاري کول. او ته به هیڅکله د الله ﷻ (مقرري) طریقې لره بدلول مونده نه کړې (دا به تر قیامته پورې جاري وي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېني متصل ایت مضمون تعقیب شوی دی او د اذیت د مخنیوي دوه چارې ښودلې شوې دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د دې دپاره چې د اذیت رسوونکو د اذیت رسونې مخه ونیوله شي لاندې دوه چارې عملي کړه:

۱_ یوه چاره دا ده چې خپلو بیبیانو او خپلو لورګانو او هم د مؤمنانو مېرمنو ته د الله ﷻ د پلوه ابلاغ کړه چې:

الف: دوی دې په خپلو ځانونو باندې د خپلو لویو ټکریو (څادرونو) څه برخې ښکته ورواچوي او خپل مخونه او خپلې سینې دې ورباندې ښې پټې کړي، خو فقط دومره وتونه دې پرېږدي چې دوی ورباندې لاره ولیدلی شي او بس.

ب: د دوی خپل ځانونه دغه ډول اداره کول او په څادرونو کښې رانغښتل دېته نژدې دي چې دوی وپېژاندلی شي چې دوی بې باکه او بې حیاء ښځې نه دي.

لنډه دا چې په دې تقدیر به د منافقانو تمې پرې شي او د اذیت رسولو پلمې او بهانې به یې د منځه لاړې شي، نو دوی ته به اذیت نه رسولی کېږي او هیڅوک به ورباندې بدګوماني نه کوي، بلکې په دې تقدیر به هغوی د ډاره اذیت ته اقدام ونه کړی شي.

ج: هو! که ذکر شوي حکم کښې د دوی څخه څه قصور واقع شي نو د هغه دپاره دې مغفرت او بښنه وغواړي، څه لرې نه ده چې مغفرت ورته وکړی شي او دا ځکه چې الله ﷻ ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی.

۲_ د اذیت د مخنیوي بله چاره دا ده چې لاندې کسان د جنایتونو د ارتکاب څخه منعه کړه:

الف: منافقان د منافقت څخه منعه کړه، چې د خپلو عادتونو څخه لاس واخلي.

ب: هغه کسان د فسق او فجور څخه منعه کړه کوم چې د ایمان د کمزورۍ د کبله مؤمنانو ښځو ته اذیت او ضرر رسوي.

ج: بالآخره، په مدینه منوره کښې د دروغینو اوازو خوروونکي هم د دغه کار څخه منعه کړه، چې د مؤمنانو خوشالي په خطره کښې وانچوي.

۳_ ای پیغمبره! که ذکرو شوو درېواړو ډلو د خپلو بدو عادتونو څخه لاس وانخست او ستا ارشادات یې د پښو لاندې کړه، نو هرومرو او ضرور به مونږ په هغوی باندې تا او ستا ملګري (مؤمنان) ورمسلط کړو او ستاسو په لاس باندې به ورته ښه درنه سزا ورکړو. آن تر دې چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: تاسو به ذکر شوي کسان د مديني منورې څخه وشړئ چې ډېر ژر به ستاسو ګاونډيتوب پرېږدي او تاسو به يې د اذيتونو څخه بې غمه شئ.

ب: هغوی به ستاسو د مسلط ګرځولو څخه وروسته ډېر لږ وخت په مدينه منوره کښې تم شي، ترڅو خپل انتقالي سامان راغونډ کړي او خپلې سفري بستري وتړي، او يا ووژلی شي او دنيا پرېږدي. يا په بل عبارت: هغوی به ستاسو په مقابل کښې د خپلو ځانونو څخه هيڅ دفاع ونه کړی شي او بالکل به مقاومت دلاسه ورکړي.

ج: هغوی به ستاسې ګاونډيتوب په داسې حال کښې پرېږدي چې د هره طرفه به ورباندې لعنت ورېږي او د الله ﷻ د رحمت څخه به لرې کېږي، هغه دا چې: په هر ځای کښې چې هغوی وموندلی شي نو سمدستي به نيولی کېږي او هم به په کثرت سره وژلی کېږي، نو ځينې به يې اسيران وګرځولی شي او ځينې به ووژلی شي.

۴ـ ای پيغمبره! د فساقو او جنايتکارانو سره د الله ﷻ دغه کړنلاره په پخوانيو قومونو کښې تېره شوې ده او په همدغې کړنلاره باندې يې ورسره چال چلند کړی دی.

ته به هيڅکله د الله ﷻ د دغې کړنلارې بدلون مونده نه کړې بلکې د قيامت تر ورځې پورې به جريان ولري او نېکان به په بدانو باندې غلبه مومي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ﴾ الآية، کښې په هغه حکم باندې صراحت شوی دی کوم ته چې په [الأحزاب:۵۳] ايت کښې اشاره شوې وه، هغه دا چې: هلته أُمهات المؤمنين په حجاب باندې مکلفې ګرځولې شوې وې او نورو مؤمنانو ښځو ته د اشارې په توګه توصيه شوې وه چې په خپلو مورګانو پسې اقتداء وکړي او خپل ځانونه په حجاب باندې مکلف وبولي.

## د جلباب اغوستلو څرنګوالی

۲ـ په ﴿يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ﴾ کښې د ﴿يُدۡنِينَ﴾ کلمه د "اِدْنَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د نژدې کولو معنی ورکوي[۱]، کله چې د کومې ښځې مخ بربنډ شي نو په عربي ژبه کښې هغې ته داسې خطاب صورت نيسي چې: "أَدْنِيْ ثَوْبَكِ عَلَى وَجْهِكِ"[۲] يعنې خپله جامه دې په خپل مخ باندې ورنژدې کړه (ورباندې يې ورخوره کړه چې پټ شي).

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د "جَلَابِيب" کلمه د "جِلْبَاب" جمعه ده، "جِلْبَاب" د هغه لوی څادر دپاره وضعه شوې ده کوم چې د يوې زنانه د ټول بدن څخه راتاو کړی شي آن تردې چې اغوستې جامې يې هم ورباندې پټې کړی شي[۳]، لکه په افغانستان کښې بوقره (څادري) او نور ورته لباس.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۷۴

(۲) تفسير الكشاف ج۳ ص۵۶۰

(۳) روح المعاني ج۲۲ ص۱۸۸؛ لسان العرب ج۱ص۲۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "جَلْبَاب" اغوستلو څرنګوالی په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د "جَلْبَاب" اغوستلو په هکله ويلي دي چې: «أَمَرَ اللهُ نِسَاءَ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذَا خَرَجْنَ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ فِيْ حَاجَةٍ أَنْ يُغَطِّيْنَ وُجُوهَهُنَّ مِنْ فَوْقِ رُؤُسِهِنَّ بِالْجَلَابِيْبِ وَيُبْدِيْنَ عَيْنًا وَاحِدَةً»[1] يعنې الله ﷻ د مؤمنانو مېرمنو ته امر کړی دی چې کله هغوی د څه حاجت په هکله د خپلو کورونو څخه بهر وځي، چې خپل مخونه دې د سرونو دپاسه په جلبابونو سره پټ کړي او فقط يوه سترګه دې (د لارې د ليدلو دپاره) لوڅه کړي.

ب: أم سلمه رضي الله عنها (أم المؤمنين) وايي: چې کله ذکر شوی ايت شريف نازل شو، نو «خَرَجَ نِسَاءُ الْأَنْصَارِ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِنَّ الْغِرْبَانَ مِنَ الْأَكْسِيَةِ»[2] يعنې د انصارو زنانه په داسې حال سره د کورونو څخه راووتلې لکه چې په سرونو باندې يې کارغان ناست وي، چې د جامو څخه عبارت وه (په سرونو باندې يې جامې او څادرونه راخواره کړه).

ج: محمد بن سيرين عليه الرحمة وايي چې: ما د عبيدة السلماني عليه الرحمة څخه د همدغه ايت شريف په هکله پوښتنه وکړه نو هغه راته په عملي توګه په دې ډول شرحه کړ چې:

خپل لوی څادر يې واخست او خپل مخ او خپل سر يې ورباندې پټ کړه، بيا يې فقط يوه چپه سترګه لوڅه کړه[3] (چې لاره پرې وګوري).

## بيا هم د مخ پټول

۳_ که څه هم د اصيلو ښځو په هکله د مخ د پټولو څه دلايل د [النور:۳۱] ايت لاندې تېر شوي دي والحمد لله ﷻ، خو په دغه ايت شريف کښې -چې بحث پکښې روان دی- څه نورو دلايلو ته هم اشاره شوې ده. هغه دا:

الف: په ايت شريف کښې أمهات المؤمنين او نورې مؤمنې ښځې ټولې د جلباب په اغوستلو باندې مکلفې ګرځولې شوې دي.

څرنګه چې په أمهات المؤمنين باندې بالاتفاق د مخونو پټول واجب وه نو څرګنده شوه چې په نورو مؤمنانو ښځو باندې هم د مخونو پټول واجب دي. که بالفرض په دوی باندې واجب نه وی نو د هغوی سره به د جلباب اغوستلو په خطاب کښې نه وی جمعه شوې.

په دې باندې علاوه، دا هم څه لرې نه ده چې دلته د أمهات المؤمنين رضي الله عنهن ذکر د دې دپاره صورت نيولی وي ترڅو خلک پوه شي چې نورې مؤمنې ښځې د جلباب په اغوستلو کښې د هغوی څخه کمې نه دي.

که دا مطلب نه وی نو د هغوی رضي الله عنهن حجاب خو وړاندې نازل شوی وه، تکراري نزول به يې

(۱) تفسير الطبري ج۲۲ ص۴۶؛ الدر المنثور ج۶ ص۶۵۹
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۱۱
(۳) تفسير ابن کثير ج۳ ص۵۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صورت نه وی نیولی، والله ﷻ أعلم.

ب: د ﴿ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ﴾ څخه څرګندېږي چې په اصیله مؤمنه ښځه باندې د مخ پټول فرض دي، ترڅو وپېژاندله شي او د کم اصلې څخه جدا شي.

د همدې کبله کله چې عمر ﷺ یوه وینځه (کم اصله) ولیده چې په لوی څادر (جلباب) کښې یې خپل ځان رانغښتی وه نو هغه یې په دره ووهله او مخاطبه یې کړه چې: «يَا لُكَاعُ أَتَتَشَبَّهِيْنَ بِالْحَرَائِرِ أَلْقِي الْقِنَاعَ»[1] یعنې ای لوچکې! ایا ته خپل ځان د اصیلو غوندې جوړوې؟ دغه لوی څادر دې وغورځوه!.

نو که بالفرض په اصیلو مؤمنو ښځو باندې د مخونو پټول واجب نه وی نو دا به یې د پېژاندلو دپاره نښه او شعار نه وی ګرځولی شوی. د ایت شریف د نزول په وخت کښې د اصیلو ښځو شعار د مخ پټول وه او د کم اصلو (وینځو) شعار مخ لوڅی وه[2].

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې ځینو علماوو کرامو لیکلي دي[3] چې مؤمنو اصیلو ښځو ته څکه د مخونو پټول شعار ګرځولی شوی وه چې د هغو فساقو د بهانې بنیاد وویستلی شي کومو به چې اصلیو مؤمنو ښځو ته په دې بهانه اذیت رساوه، چې زما په ګومان دا کم اصله (وینځه) ده نو څکه مې لاس ورووړ او یا مې ورته هغه خبرې واورولې کومې چې فحاشۍ ته دعوت ورکوي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا فاسقان د وینځو په اذیت رسولو باندې معذور ګڼل کېدل؟ ایا هغوی ته د وینځو په هکله د اذیت رسولو اجازه ورکړه شوې وه؟

مونږ وایو چې: شریعت د جنایتونو مخه په لاندې دوه ډوله باندې نیسي:

الف: یو دا چې هغه اسباب او ذرائع د منځه وړي کوم چې د جنایتونو د ارتکاب دپاره لاره هواره وي. نو په دغه ډول سره که څه هم په کامله توګه د جنایتونو مخه نه نیوله کېږي مګر کمبود پکښې واقع کیږي.

ب: بل دا چې جنایتکاران په جنایتونو باندې مجازات کړی شي، او حدود او تعزیرات وربانديې تطبیق وموميي.

په دې مقام کښې د اصیلو مؤمنو ښځو حجابونه اغوستل د اول ډول څخه شمېرل کېږي چې وینځې ته شمولیت نه لري. او فاسقانو ته د مجازاتو ټاکل د دوهم ډول مخنیوي څخه ګڼل کېږي چې اصیل او کم اصل دواړه ډوله زنانه پکښې یو برابري دي.

دغه مجازات ته د مجموعې په متباقي ایتونو کښې اشاره شوې ده.

لنډه دا چې ذکر شوي اعتراض به په هغه وخت کښې صحت درلودلی وی چې فساقو ته په مطلق اذیتونو باندې مجازات نه وی نازل شوي، لکه چې په لاندې کرښو کښې به شرحه شي، ان شاء الله.

---

۱) تفسير البغوي ج۳ ص۵۴۴

۲) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۹۹

۳) البحر المحيط ج۸ ص۵۰۴؛ الطبقات الكبرى لابن سعد ج۸ ص۱۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ارجاف او اغراء معناوې

۵ـ په ﴿ لَئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ﴾ کښې د "مُرْجِفُون" کلمه د "اِرْجَاف" څخه اشتقاقه شوې ده، چې اصل مصدر یې "رَجْف" دی، د "رَجْف" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۷۸] ایت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده، چې سخت اضطراب او جړق دپاره وضعه شوې ده.

نود "اَلْمُرْجِفُونَ" کلمه د هغې ډلې معنی ورکوي کومو به چې په درغینو اوازو سره مؤمنان په اضطراب کښې غورځول او د سخت جړق سره به یې مخامخ کول، چې غازیانو ماتې وخوړه او فلانی قبیله په مدینه منوره باندې د حملې کولو نیت لري چې ډېر ژربه دغه ښار تالا ترغه کړي او داسې نور.

او د ﴿ لَنُغْرِيَنَّكَ ﴾ کلمې د "اِغْرَاء" څخه اشتقاق موندلی دی، مونږ ـ لله ﷻ الحمد والمنة ـ د "اِغْرَاء" کلمه د [المائدة:۷۸] ایت لاندې ښه پوره څېړلې ده چې د سریښولو او نښلولو معنی ورکوي.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ څخه جنایتکاران مسلمانان مراد اخستي دي او ﴿ وَٱلْمُرْجِفُونَ ﴾ کلمه یې په یهودانو سره تفسیره کړې ده[۱]. نو د ایت شریف د معنی حاصل یې داسې اخستی دی چې: ای پیغمبره! که منافقان او فاسقان او هم یهودان د خپلو کړو وړو څخه لاس وانخلي او خپله تګلاره بدله نه کړي نو مونږ به هرومرو تاته امر وکړو چې هم یې ووژنې او هم یې د وطنه وشړې.

مګر مونږ ته دا تفسیر په زړه پوری نه برېښي، ځکه چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې یهودانو په مدینه منوره کښې موجودیت نه درلود بلکې ټول په وژلو یا شړلو سره ختم شوي وه.

مونږ ته بهتره برېښي چې په ایت شریف کښې فقط منافقانو ته اخطار ورکړی شوی دی، چې د جنایتونو د کثرت د کبله یې په درېوو عناوینو باندې صراحت شوی دی، او دا ځکه چې منافقانو په هغه وخت کښې په منافقت باندې علاوه فسق او فجور ته هم بلې وهلې وې او ډاروونکې اوازې هم همدوی خورولې.

نو د معنی حاصل به یې په دې تقدیر داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! که منافقان خپل عادتونه پرېنږدي او خپله کړنلاره بدله نه کړي نو هرومرو ضرور به مونږ تا مکلف کړو چې وسلوال جهاد ورسره پیل کړې، نو په نتیجه کښې به دوی د یهودانو په شان ځوک ووژلی شي او ځوک به د مدینې منورې څخه وشړلی شي.

۶ـ پاتې شوه دا خبره چې منافقانو د ذکر شوي اخطار څخه وروسته کومه تګلاره غوره کړه، نو د دې جواب دا دی چې هغوی خپل خط السیر بدل کړ[۲]، د همدې کبله د دوی په هکله د قتال (جنګ)

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۳ ص۳۱۱؛ تفسير المراغي ج۲۲ ص۳۹
(۲) تفسير الطبري ج۲۲ ص۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فرمان نازل نه شو او یوازې د جهاد حکم نازل شو چې د وسلې پورته کولو څخه په غیر په نورو صورتونو کښې عملي شو، چې پوره شرحه او مثالونه يې د [التوبة: ۶۶_ ۷۳] ايتونو لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

## يادونه

۷_ د ﴿سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُ﴾ ايت د اعراب په لحاظ د [بني إسرائيل: ۷۷] ايت ته ورته دی، او د مضمون په لحاظ د [البقرة: ۲۵۱] ايت سره تړاو لري.

په دغو دوارو ايتونو کښې د الله ﷻ په توفيق څه اندازه څېړنه شوې ده، هيله ده چې يو ځل ورته مراجعه وکړی شي.

﴿يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِۚ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿٦٥﴾ يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ ﴿٦٦﴾ وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنٗا كَبِيرٗا ﴿٦٨﴾﴾

[۶۳] ستا څخه خلک د قيامت (د قيام) په هکله پوښتنه کوي (چې کله به صورت ونيسي؟).

ته (ورته په جواب کښې) ووايه چې: يقيناً د قيامت (د قيام) علم د الله ﷻ په نزد (محفوظ) دی (د ده ﷻ څخه په غير ورباندې هيڅوک علم نه لري).

(ای پيغمبره!) ته (د قيامت په قيام باندې) څه شي پوه کړې؟ (ته ورباندې هيڅ شي نه يې پوه کړی). شايد چې (يقيناً) د قيامت قيام نژدې دی (ډېر ژر به صورت ونيسي).

[۶۴] بې شکه الله ﷻ د خپل رحمت څخه کافران لرې کړي دي، او دوی ته يې سوزونکی دوزخ تيار کړی دی.

[۶۵] په داسې حال (به ورداخل شي) چې په دې کښې به په دوامداره توګه همېشه (اوسېدونکي) وي، چې نه به دوست مونده کړي او نه کومک کوونکی (چې د عذابه يې خلاص کړي).

[۶۶] (ته) هغه ورځ (ياده کړه) چې د دوزخيانو مخونه په اور کښې (د کباب غوندې) اړول کېږي رااړولی کېږي، دوی به (په دغه وخت کښې) وايي چې: ای کاش! چې مونږ د الله ﷻ اطاعت کړی وی او (هم) مو د پيغمبر ﷺ اطاعت کړی وی (نو اوس به په دغه عذاب باندې اخته نه وي).

[۶۷] او دوزخيان به (دا هم) وايي چې: ای زمونږ ربه! مونږ د خپلو سردارانو (آمرانو) او خپلو مشرانو اطاعت کړی وه، نو مونږ يې د سمې لارې څخه بې لارې کړو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۸] ای زمونږ ربه! دغو (ګمراه کوونکو) ته د عذاب څخه غبرګ (عذاب) ورکړه، او هم یې د خپل رحمت څخه لرې کړه لوی (او سخت) لرې کول.

## ارتباطونه

۱ـ د [الأحزاب: ۵۳] ایت څخه راپه دېخوا څو واره خلک منعه کړی شوي دي چې د نبي کریم ﷺ د اذیت څخه ډډه وکړي، بلکې تقریبًا دا سورت د اول سر څخه په همدې مطلب باندې مشتمل دی. په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته د اذیت رسولو یوه خاص مثال ته اشاره شوې ده، چې ظاهرًا اذیت نه برېښي خو باطنًا اذیت دی، چې هغه ترې د عناد او زوروللو په غرض د قیامت د قیام په هکله پوښتنه کول دي.

۲ـ د وړاندېني متصل ایت مضمون دا وه چې الله ﷻ د خپل جاري قانون د مخې په دنیا کښې د نېکانو په لاس د ورانکارانو او اذیت رسوونکو خلکو مخه نیسي، او په دې ایتونو کښې د قیامت د ورځې ذکر نازل شوی دی چې هر یو ورانکار ته به هلته د خپلو کړو وړو پوره سزا ورکړی شي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ خلک ستا څخه د قیامت د ورځې په هکله پوښتنه کوي چې دا به کله او څه وخت قائمه شي؟ او څومره وخت ورته پاتې دی؟ نو دغو خلکو ته جواب ورکړه چې:

الف: د قیامت د قیام علم یوازې او یوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري، دغه علم الله ﷻ فقط د خپل اقدس ذات سره ساتلی دی، زه یې د دې دپاره نه یم رالېږلی چې د قیامت د قیام وخت چاته وښایم، دغه کار نه زما د وسې پوره دی او نه زما دنده ده، زما وظیفه فقط د احکامو رسونه ده او بس.

نو که تاسو زما څخه پوښتنه کوئ نو د شریعت په احکامو کښې یې راڅخه وکړئ، نه د قیامت د قیام په هکله.

ب: ای پیغمبره! کله چې الله ﷻ اراده کړې ده چې ستا په شمول هیچا ته د قیامت د قیام علم ورنه کړي، نو هغه څه شی دی چې تاته په همدې ارتباط معلومات درکړي؟

یا په بل عبارت: ته به د قیامت د قیام علم د کومه کړې چې الله ﷻ دغه علم نه درکړی دی او نه به یې درکړي، او د ده ﷻ څخه په غیر دا علم د هیچا او هیڅ شي سره نشته.

ج: سوال کوونکو ته فقط همدومره ووایه چې یقینًا د دغې ورځې د قیام وخت رانژدې شوی دی، لږ وخت وروسته به صورت ونیسي او خلک به د قبرونو څخه راپورته شي.

۲ـ ای پیغمبره! د دغې ورځې د قیام په هکله نه بلکې د هغو حالاتو په هکله په خلکو باندې څه معلومات ولوله نوم به چې په همدغې ورځې کښې صورت ومومي. هغه دا چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یقیناً الله ﷻ په دنیا او آخرت کښې په کفارو باندې خپل لعنت ورښکته کوي او د خپل رحمت څخه يې لرې باسي. د همدې کبله یې د دوی دپاره په نوموړې ورځ کښې سوزونکی اور تیار کړی دی.

ب: دغه اور (دوزخ) داسې اور دی چې کفار به پکښې د تل دپاره پراته وي، چې هیڅکله به ترې بهر راونه وځي او نه به وربانديې سوړ شي، بلکې په دوامداره توګه به تېزېږي.

ج: په دغې ورځ کښې به کفار د خپلو ځانونو دپاره نه دوست مونده کړي چې په دوستۍ سره ورته څه ګټه ورسولی شي، او نه به مددګار په لاس ورشي چې په زور او قوت سره د الهي عذاب څخه نجات ورکړی شي.

۳_ ای پیغمبره! ته کفارو ته هغه وخت وریاد کړه او ورته متوجه یې کړه چې کله د دوی مخونه په اور کښې اړول کېږي او را اړولی کېږي او د هر طرفه وربانديې د دوزخ اور احاطه کړې وي، نو دوی به ووايي چې:

الف: ای کاش! چې مونږ په دنیا کښې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ اطاعت کړی وی، او ایمان مو وربانديې راوړی وی. د دغه اور څخه د نجات دپاره د ذکر شوي اطاعت څخه په غیر بله لاره نشته خو افسوس چې زمونږ څخه وخت په غفلت کښې تېر شوی دی.

ب: ای زمونږ ربه! مونږ د نجات لاره خطا کړه او د ذکر شوي اطاعت په عوض مو د خپلو آمرانو او حاکمانو اطاعت وکړ، او همدارنګه مونږ د خپلو دیني مشرانو او لویانو خبره ومنله، نو همدغو دواړو ډلو مونږ د سمې لارې څخه بې لارې کړو او په ګمراهۍ باندې يې اخته کړو، که دغو دواړو ډلو مونږ نه وی ګمراه کړي نو نن ورځ به مونږ په دغه مصیبت باندې اخته نه وی.

ج: نو ای ربه! دغه ګمراه کوونکو ډلو ته د عذاب څخه غبرګه برخه ورکړه. یا په بل عبارت: زمونږ د ګمراه کولو عذاب هم وربانديې ورواچوه چې زمونږ د کافر پاتې کېدلو اصلي محرکين همدوی وه. په دې باندې علاوه په خپل لوی لعنت او غضب باندې يې اخته کړه چې همدوی د کفر امامان او مخکښان دي.

## توضیحات

۱_ د هجرت څخه وړاندې به مشرکانو د استهزاء او پېچموزو په توګه د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه کوله چې قیامت به کله قائم شي؟، د دوی پوښتنې ته په مکي سورتونو کښې اشاره شوې ده، لکه چې یو مثال يې په [الأعراف:۱۸۷] ایت کښې تېر شوی دی.

د هجرت څخه وروسته به دغه پوښتنه یهودانو مطرحوله چې یا به يې ورته مستقیماً اقدام کاوه او یا به يې د خپلو لاسپوڅو (منافقانو) په ذریعه صورت ورکاوه.

څرنګه چې دا سورت (الأحزاب) مدني دی نو غالبه دا ده چې په ﴿ يَسْـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ﴾ کښې به د ﴿ ٱلنَّاسُ ﴾ کلمې څخه همدوی مطلب وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي

٢_ که څه هم د ﴿ لَعَلَّ ﴾ کلمه د تمې او أميد دپاره وضعه شوې ده، خو په کوم ځای کښې چې د الله ﷻ د پلوه استعمال شوې ده هلته په تحقيق او تثبيت باندې دلالت کوي[1].

نو په همدې بنياد په ﴿ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴾ کښې د ﴿ لَعَلَّ ﴾ کلمه د قيامت د ورځې په نژدېوالي باندې دلالت کوي، چې يقيناً نژدې راروانه ده.

همدا مطلب په ډېرو احاديثو کښې هم انخور شوی دی د ښه وضاحت دپاره لاندې مثال ولولئ:

نبي کريم ﷺ په يوه ډېر اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «أَلَا إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا فِيمَا مَضَى مِنْهَا إِلَّا كَمَا بَقِيَ مِنْ يَوْمِكُمْ هَذَا فِيمَا مَضَى مِنْهُ»[2] يعنې اګاه اوسئ، يقيناً شان دا دی چې د دنيا د ټول عمر څخه (د دې هغه عمر ته په نسبت سره کوم چې تېر شوی دی) نه دی پاتې مګر ډېر لږ. لکه څنګه چې د دغې ننۍ ورځې څخه نه ده پاتې مګر ډېر لږ، چې د لمر په ختلو سره پېل شوې وه او زياته برخه يې تېره شوې ده چې ساتګړی ته به د لمر په لوېدلو سره پای ته ورسيږي.

د دغه حديث ښه پوره شرحه د [الأنبياء:١] ايت لاندې ليکل شوې ده _والحمد لله ﷻ_، چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه بايد چې په ذکر شوي عبارت کښې هغه نحوي سوال جواب کټ مټ تطبيق کړی شي کوم چې د الله ﷻ په توفيق په ﴿ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ [الأعراف: ٥٦] ايت کښې تېر شوی دی، چې څه شرحه يې په دې مقام کښې هم ځينو مفسرينو کرامو[3] ليکلې ده، که د چا زړه يې لوستل غواړي نو هلته يا دلته دې مراجعه وکړي.

## کفري مشران يعنې څوک؟

٣_ په ﴿ وَقَالُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا ﴾ کښې ځينو مفسرينو کرامو د ﴿ سَادَتَنَا ﴾ کلمه په آمرانو (حاکمانو) او د "كُبَرَآءَنَا" کلمه په نورو ګمراه کوونکو مشرانو باندې تفسيره کړې ده[4]، او ځينو نورو د لومړنۍ کلمې څخه اشراف او د دوهمې کلمې څخه علماء مراد کړي دي[5].

په هر تقدير، د دغو بې لارې کوونکو کسانو څخه الله ﷻ په [التوبة:١٢] ايت کښې په ﴿ أَئِمَّةَ ٱلْكُفْرِ ﴾ (د کفر په امامانو) سره تعبير کړی دی.

## يادونه

٤_ الله ﷻ چې په ﴿ رَبَّنَآ ءَاتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ ٱلْعَذَابِ ﴾ کښې د دوزخيانو د خولو څخه کومه

---

(١) لسان العرب ج١١ ص٦٠٧؛ مفردات الراغب ص٤٧١
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٤٣
(٣) زاد المسير ج٦ ص٢١٧
(٤) روح المعاني ج٢٢ ص٩٣
(٥) تفسير ابن كثير ج٣ ص٥١٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوښتنه راحکایت کړې ده د هغې رد ته یې د [الأعراف:۳۸] ایت لاندې اشاره کړې ده، هیله ده چې د زیاتو معلوماتو دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ﴿٦٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ﴿٧٠﴾ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾ ﴾

[۶۹] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی! تاسو د هغو کسانو غوندې مه کېږئ کومو چې (په اتهاماتو سره) موسی ﷺ ته اذیت (ضرر) رسولی وه، نو الله ﷻ (په خارق العاده توګه) موسی ﷺ ته د هغو (اتهاماتو) څخه پاکي ورکړه په کومو باندې چې هغوی قول کاوه. او (دا څکه چې) موسی ﷺ د الله ﷻ په نزد مخور (او باعزته) وه.

[۷۰] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ او خبرې وکړئ حقې (او سمې) خبرې (اتهامات مه لګوئ او ناجائزې خبرې مه کوئ).

[۷۱] (که تاسو دغه ارشاد معمول وګرځاوه نو) الله ﷻ به تاسو ته ستاسو اعمال صالح کړي (او لا زیات توفیق به درکړي) او ګناهونه به مو درته وبښي.

او هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړي (او ارشادات یې عملي کړي) نو یقیناً هغه د کامیابۍ خاوند شو. ډېره لویه کامیابي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

مونږ د وړاندېنیو ایتونو په لومړنۍ توضیح کښې لیکلي دي چې نبي کریم ﷺ ته په مدینه منوره کښې د اذیت رسولو اصلي لمسوونکي یهودان وه چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه به یې دغه کار ته اقدام کاوه، په همدې ارتباط وړاندېني ایتونه نازل شوه.

په دې ایتونو کښې مؤمنانو ته توصیه شوې ده چې تاسو خپل ځانونه د یهودانو لاسپوڅي مه جوړوئ چې خپل پیغمبر ﷺ ته اذیت ورسوئ او په یوه وجه او بله وجه یې خپه کړئ.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته ډاډ او تسلي هم ورکړه شوې ده. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! ته د یهودانو په اذیتونو باندې مه متأثر کېږه چې درګرده په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه یې درته رسوي. د هغوی څخه ګیله په کار نه ده، هغوی د خپلې زمانې د پیغمبر (موسی ﷺ) په اذیت باندې صرفه نه ده کړې نو ستا په اذیت به څه صرفه وکړي.

یا په بل عبارت: د هغوی پلرونو موسی ﷺ ته اذیتونه رسول او اولادونه یې ستا په اذیتونو باندې اخته دي، لکه چې موسی ﷺ ورته نه وه بې حوصلې شوی، ته هم ورته مه بې حوصلې کېږه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په خپل اجابتي اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه چې:

۱ـ ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په مقتضی کلک ودرېږئ، او د منافقت څخه په جدي توګه خانونه بچ وساتئ، هسې نه چې د دین دښمنه خلکو په لمسون خپل پیغمبر ﷺ ته اذیت ورسوئ او په څه وجه یې خپه کړئ.

تاسو د یهودانو غوندې مه جوړېږئ چې خپل پیغمبر (موسی ﷺ) ته به یې په یوه او بله بهانه اذیت رساوه، او پروپاګند به یې ورپسې کاوه، خو په نتیجه کښې به الله ﷻ موسی ﷺ د پروپاګند څخه پاک وګرځاوه، او هغوی به یې د خجالت او شرمندګۍ سره مخامخ کړه او دا ځکه چې:

موسی ﷺ د نورو پیغمبرانو غوندې د الله ﷻ په نزد باعزته او مخور وه، چې د خلکو د توهین او تحقیر مخه یې ترې اړوله.

۲ـ نو ای مؤمنانو! ستاسو پیغمبر (محمد ﷺ) د الله ﷻ په نزد د موسی ﷺ څخه لا زیات مخور او باعزته دی، نو که تاسو یې اذیت ته اقدام وکړئ فقط خپل ځانونه به په دنیا او آخرت کښې خجالت او شرمنده کړئ، چې الله ﷻ به ورته ستاسو د اذیتونو څخه برائت ورکړي او تاسو به مختورن پاتې شئ.

نو تاسو ته توصیه کېږي چې د الله ﷻ څخه وډار شئ او سمې خبرې کوئ، او د شریعت د چوکاټ څخه بهر مه وځئ، خپلې خولې اداره کړئ او چټیات مه وایاست.

۳ـ که تاسو په دغې توصیې باندې عمل وکړئ او د شریعت احکام په خپلو ځانونو باندې تطبیق کړئ او بالآخره د خپل پیغمبر ﷺ توقیر او تعظیم وکړئ او د توهین څخه یې ځانونه وساتئ، نو:

الف: الله ﷻ به ستاسو اعمال صالح کړي او د لا زیاتې نېک عملۍ توفیق به درکړي (استقامت به درپه برخه کړي).

ب: ګناهونه به درته وبښي او د جنایتونو د چټلۍ څخه به مو پاک وګرځوي.

ج: لنډه دا چې: هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ، چې په اوامرو باندې یې عمل وکړي او د نواهیوو څخه یې اجتناب وکړي، نو یقینًا دغه کس په ډېرې لویې کامیابۍ سره کامیاب شو او ډېره زیاته او دائمي خوشالي یې په برخه شوه.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې موسی ﷺ ته یهودانو کوم کوم اذیتونه رسولي وه چې په ﴿ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: د دغو اذیتونو متعددو مثالونو ته ځینو مفسرینو کرامو اشاره کړې ده[۱]، خو مونږ دلته د لنډون په غرض د لاندې اذیتونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۳ ص۳۱۵؛ روح المعاني ج۲۲ ص۹۴؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۰۳؛ زاد المسیر ج۶ ص۲۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: بني اسرائیلو (یهودانو) موسی ﷺ ته د محالو (نا ممکنو) کارونو په غوښتنو سره اذیت رسولی وه، لکه:

اول: ﴿ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً ﴾ [النساء:١٥٣] یعني نو هغوی وویلې چې ای موسی! مونږ ته الله ﷻ په ډاګه راولید کړه.

دوهم: ﴿ قَالُوا۟ يَـٰمُوسَى ٱجْعَل لَّنَآ إِلَـٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ﴾ [الأعراف:١٣٨] یعني هغوی وویلې چې: ای موسی! مونږ ته هم داسې یو معبود (بوت) ودروه لکه چې دغه قوم لره معبودان (بوتان) دي.

ب: د یوه حدیث مضمون دی[١] چې هغوی په موسی ﷺ باندې تور لګاوه چې په بدن کښې څه مرض لري لکه پیس او نور، ځکه په څرګنده توګه غسل نه کوي؛ نو الله ﷻ ورته د یوې ډبرې په حرکت سره د ذکر شوي تور څخه نجات ورکړ او ترې پاک یې کړ.

دغه حدیث مونږ د [الأعراف:١٥٤] ایت لاندې ښه په تفصیل سره لیکلی دی.

ج: قارون یوې کچنۍ ښځې ته رشوت ورکړی وه چې موسی ﷺ د خپل ځان سره تور شوی معرفي کړي[٢]. دغه قیصه هم مونږ د [القصص:٨١] ایت لاندې ښه تفصیلواره لیکلې ده، والحمد لله ﷻ.

## نبي کريم ﷺ ته د اذیت رسونې مثالونه

٢ـ نبي کریم ﷺ ته د کفارو او منافقانو په سلسله زښت ډېر اذیتونه رسولي شوي دي او لا د قیامت تر ورځې پورې ورته رسولی کېږئ چې لړۍ یې نه ده قطعه شوې. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ د إفک په واقعه کښې وزوزولی شو چې بشپړ بیان یې د النور په سورت کښې تېر شوی دی.

ب: د أمهات المؤمنین په ډله کښې د زینب رضي الله عنها په شاملولو سره د اذیتونو سره مخامخ کړی شو چې په تفصیل باندې یې همدا سورت (الأحزاب) مشتمل دی.

ج: د غیر عادل لقب ورپورې تپلی شوی دی، لکه چې په لاندې یوه حدیث کښې ورته اشاره شوې ده.

د: یو ځل نبي کریم ﷺ د غنیمت مالونه ووېشل خو یوه سړي اعتراض وکړ چې په دغه وېش کښې عدالت نه دی شوی، او یا دا چې د الله ﷻ رضا پکښې په پام کښې نه ده نیولې شوې. خو کله چې نبي کریم ﷺ خبر کړی شو نو ویې فرمایل چې: «فَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ يَعْدِلِ اللهُ وَرَسُولُهُ رَحِمَ اللهُ مُوسَى قَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ»[٣] یعني نو کله چې الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر عدل ونه کړي نو هغه به څوک وي چې عدل وکړي؟، الله ﷻ دې په موسی ﷺ باندې رحم وکړي هغه ته د دغه اذیت څخه ډېر اذیت ور رسولی شوی وه خو هغه ﷺ پرې صبر وکړ (نو زه هم صبر کوم).

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٢٦٦؛ صحيح البخاري ج١ ص٤٨٣

(٢) الدر المنثور ج٦ ص٤٣٦

(٣) صحيح البخاري ج١ ص٤٤٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸. د نن ورځې[۱] څخه تقريباً پنځه ورځې وړاندې د پاکستان د پېښور په ښار کښې يوې ورځپاڼې د نبي كريم ﷺ په هکله ډېرې بې ادبه او غير مناسبې خبرې ليکلي وې. دغې بې ادبۍ د مؤمنانو غُصه په جوش راوستله او په مظاهرو او اعتصابونو باندې يې پيل وکړ، نو د نوموړې ورځپاڼې دفتر يې په اور باندې شنه لوخړه وګرځاوه، او په مليياردونو روپيو تاوان يې ورواړاوه، او هم يې د حکومتي مقاماتو څخه وغوښتل چې د ورځپاڼې چلوونکو ته د اعدام سزا ورکړي.

وبل کيږي چې د بې ادبه مضمون ليکونکی اصلاً يو يهودي دی، چې د وخت د منافقانو په لاس يې بې ادبه مضمون نشر کړ.

## سديد قول څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَقُولُواْ قَوْلاً سَدِيدًا ﴾ کښې "سديد قول" د حقې او صوابې خبرې څخه عبارت دی[۲] چې د شريعت په لحاظ. د هره طرفه د خلل او نقصان څخه بچ وي. يعنې تاسو د همېشه دپاره حقې ويناوې کوئ او د خللي او اذيت رسوونکو ويناوو څخه اجتناب وکړئ، چې دغه کار تاسو ته په دنيا او آخرت کښې په ګټه تماميږي.

﴿إِنَّا عَرَضۡنَا ٱلۡأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡجِبَالِ فَأَبَيۡنَ أَن يَحۡمِلۡنَهَا وَأَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمَۢا ﴿٧٣﴾﴾

[۷۲] يقيناً مونږ په اسمانونو او ځمکو او غرونو باندې خپل امانت (تکليفي احکام) وړاندې کړ نو هغو منعه وکړه چې التزام يې وکړي (او ترسره کول يې په غاړه واخلي)، او هغوی د امانت (د خيانت) څخه وډار شوه، خو انسان دا (امانت) په غاړه واخست (او د هغو د اداء کولو التزام يې وکړ).
يقيناً جنس انسان ډېر ظلم کوونکی (او) ډېر ناپوه دی (خپل ځان په مشکلاتو اخته کوي).

[۷۳] (د انسان د امانت د اداء کولو نتيجه دا کيږي) چې الله ﷻ به نارينه منافقانو او زنانه منافقانو او نارينه مشرکانو او زنانه مشرکانو ته عذاب ورکړي، او الله ﷻ به په نارينه مؤمنانو او زنانه مؤمنانو باندې (په رحمت سره) رجوع وکړي. او الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې په الهي اطاعت سره د ګناهونو مغفرت او لويه کاميابي

---

(۱) ۱۴۲۱/۱۱/۱۲ هـ ق- ۱۳۷۹/۱۱/۱۶ هـ ش- ۲۰۰۱/۲/۵ م

(۲) لسان العرب ج۳ ص ۲۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې آيتونو کښې همدغه ناکامي نتيجه ورکوي او ترلاسه کېږي او عصيان (بغاوت) يې د نيوني او ناکامی نتيجه ورکوي
مطلب تائيد شوی دی چې حاصل يې داسې راخېژي چې:
ای پيغمبره! که څه هم د الله ﷻ د تکليفي احکامو اداء کول د ډېرې لويې کاميابۍ او بريالیتوب سبب دي، مګر د عدم اداء کولو په صورت کښې د ډېرې غټې ناکامۍ او تعذيب سبب هم ګرځېدلی شي. د همدې کبله:

۱_ کله چې مونږ اسمانونه، ځمکې او غرونه مخاطب کړه چې تاسو ته اختيار دی چې زمونږ د تکليفي احکامو د اداء کولو التزام هم کوئ او که يوازې د تکويني احکامو په اداء کولو باندې بسوالی غوره کوئ. که تاسو ذکر شوي تکليفي احکام قبول کړه او د اداء کولو التزام مو خوښ کړ، نو د اطاعت په صورت کښې به ډېره غټه کاميابي ترلاسه کړئ او د عصيان په صورت کښې به د ډېرې لويې ناکامۍ او د غټ عذاب سره مخامخ شئ.

۲_ ذکرو شوو مخاطبينو د خپلو قوتونو سره-سره د تکليفي احکامو قبول ته غاړې کېښنودې او د الهي عذاب څخه وېدار شوه، چې د ناکامۍ په صورت کښې به ورسره لاس او ګرېوان شي، دوی د تکويني احکامو په التزام باندې کلک شوه چې که ثوابونه او کاميابۍ پکښې نشته نو د ناکامۍ او تعذيب خطر هم نه لري.

۳_ خو کله چې په ذکره شوې موضوع کښې انسان مختار وګرځولی شو او د اداء او عدم اداء دواړه اړخونه ورته د ثواب او عذاب په لحاظ شرحه کړی شوه نو انسان د خپلې کمزورې جوثې سره-سره د تکليفي احکامو د اداء کولو التزام وکړ او د ناکامۍ د احتمال څخه ونه ډار شو. او دا ځکه چې:
يقيناً انسان په خپل ځان باندې ډېر ظلم کوونکی او د کارونو په عواقبو باندې ډېر ناپوه دی. يا په بل عبارت: د ذکرو شوو احکامو په عواقبو باندې يې خپل ځان ناپوه او ناخبره واچاوه.

۴_ د همدغه التزام نتيجه دا شوه چې الله ﷻ منافقانو نارينه وو او منافقانو ښځو ته او هم مشرکانو نارينه وو او مشرکانو ښځو ته تعذيب ورکوي، چې د ذکر شوي التزام سره-سره الهي احکام د پښو لاندې کوي او په خپل لوظ باندې نه ودرېږي.
بالمقابل الله ﷻ په مؤمنانو نارينه وو او مؤمنانو زنانه وو باندې په رحمت سره رجوع کوي. که څه هم دوی لکه څنګه چې مناسب وي تکليفي احکام نه شي اجراء کولی مګر دوی د خپلو نيمګړتياوو تلافي او مخنيوی په توبو سره کوي او الله ﷻ يې توبه قبلوي، او دا ځکه چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

## توضيحات

۱_ علماوو کرامو د ذکرو شوو ايتونو په تفسير کښې متعددې طريقې غوره کړې دي[۱]. که

(۱) تفسير المظهري ج۷ ص۳۸۷؛ روح المعاني ج۲۲ ص۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځوک د اوږدو بياناتو د لوستلو تابيا لري نو هملته دې مراجعه وکړي، خو مونږ د لاندي درېوو تفسيرونو په ذکر باندې اکتفاء کوو.

## لومړی تفسير

٢ـ کوم تفسير ته چې مونږ د لومړي لقب ورکړ دا ځينو مفسرينو کرامو خوښ کړی دی[1]، چې په لاندي ټکو ولاړ دی:

الف: د الله ﷻ احکام په دوه ډوله دي، يو تکليفي دي او بل تکويني، تکويني هغه احکام دي کوم چې صرف د الله ﷻ په ارادې سره تحقق مومي او د مخلوق کسب ورسره څه ارتباط نه لري، د اسمانونو او ځمکو او هم د غرونو او نورو جماداتو پورې اړونده احکام د همدې قبيلې څخه دي.

تکليفي احکام د هغو احکامو نوم دی په کومو کښې چې د الله ﷻ په ارادې باندې علاوه د مخلوق کسب سره هم څه ناڅه تړاو لري، همدغو احکامو ته د "أمانة" لقب هم ورکولی کېږي، شايد چې دا لقب به ورته ځکه ورکړی شوی وي چې د دغو احکامو په هکله د قيامت په ورځ پوښتنه صورت نيسي لکه چې هر امانت په انجام کښې د پوښتني او کويګني مورد ګرځي او بندګان هم د خپل امانت پوښتنه کوي.

ب: د ﴿ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا ﴾ درېواړه کلمې په ترتيب سره د "إباء" (منعه کول) او "حَمل" (التزام کول) او "إشفاق" (ډارېدلو) څخه اشتقاقي شوي دي، او درېواړه په حقيقت باندې محمولې دي او څه مجاز او استعاره پکښې نشته.

## سوال جواب

ج: که ځوک وايي چې: ايا جمادات خبرې کولی شي؟ يا په بل عبارت: اسمانونه او ځمکې او هم غرونه خو جمادات دي نو ايا منعه کول او التزام او هم ډارېدل درېواړه په جماداتو کښې صورت نيولی شي چې نه اراده لري او نه عقل او نه پوهه؟

مونږ وايو چې: بې شکه جمادات ګونګيان دي خو نظر مونږ ته، اما نظر الله ﷻ ته د سوال جواب، خبرو اترو، تسبيحاتو او تحميداتو څخه ګونګيان نه دي.

د ښه وضاحت دپاره دغه ايت شريف ولولی: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ﴾ [بني اسرائيل: ٤٤] يعنې هيڅ شی نشته مګر هغه د الله ﷻ تسبيح وايي او حمد يې ورسره ضميمه کوي، مګر تاسو يې په تسبيح ويلو باندې نه پوهيږئ.

د دغه ايت شريف لاندې مونږ د الله ﷻ په توفيق په خپل ځای کښې په متعددو نصوصو سره په اثبات رسولې ده چې جمادات او حيوانات د الله ﷻ په نزد په دنيا کښې ګونګيان نه دي لکه چې دوی به په اخرت کښې هم ګونګوالی ونه لري.

---

(١) اضواء البيان ج٦ ص٦٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د. د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې الله ﷻ آدم ﷺ مخاطب کړ چې: ای آدمه! ما اسمانونو او ځمکو او غرونو ته خپل امانت (تکلیفي احکام) ور وړاندې کړه او هغو ته مو د التزام کولو او عدم التزام کولو اختیار ورکړ؛ خو د هغوی ورته تابیا رانه غله (وډار شوه) نو ایا ته د دغه امانت پورته کوونکی (التزام) کوونکی یې؟

نو آدم ﷺ خپل خان ښه پوه کړ چې د دغه امانت په ساتنه کښې ثواب دی او په ضائع کولو کښې یې عقاب دی، خو د دې سره-سره یې الله ﷻ ته عرض وکړ چې: «قَدْ حَمَلْتُهَا بِمَا فِيهَا»(۱) ما دغه امانت د هغه څه سره چې په دې امانت کښې دي پورته کړه (التزام مې وکړ او قبول مې کړه).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

ه: که څوک وايي چې: د ذکر شوي تفسیر په مقتضی باید په ﴿ وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْإِنسَٰنُ ﴾ د کلمې څخه "آدم ﷺ" مراد کړی شي، حال دا چې همدغه انسان په ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴾ کښې په ډېر ظالم او ډېر جاهل باندې ملقب شوی دی؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه لقبونه د آدم ﷺ د شان سره مناسب دي؟

مونږ وايو چې: د ﴿ إِنَّهُۥ ﴾ ضمیر د ﴿ ٱلْإِنسَٰنُ ﴾ کلمې ته د نوموړي مصداق په لحاظ راجع نه دی ترڅو سوال وارد شي، بلکې د مفهوم په لحاظ ورته راجع دی چې نور متعدد مصداقات درلودلی شي. په همدې مطلب باندې د ښه پوهېدو دپاره لاندې نکات په خیال کښې ولرئ:

اول: د همدې ډول استعمال دوه مثالونه په [الأعراف:۱۸۹] ایت او [الشعراء:۵۹] ایت کښې تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ، او دریم مثال یې په [فاطر:۱۱] ایت کښې راروان دی، ان شاء الله ﷻ.

دوهم: دا ډول استعمال د استخدام سره شباهت او ورته والی لري؛ د علم البدیع په اصطلاح کښې استخدام دې ته وايي چې د یوې کلمې څخه په صراحت سره یوه معنی مراده وي خو ضمیر ورته د بلې معنی په ملحوظ راجع کړی شي(۲).

دریم: عرب وايي چې "لِزَيْدٍ عَلَيَّ دِرْهَمٌ وَنِصْفُهُ" په ما باندې د زید یو درهم او د یو درهم نیمايي دی، چې یو نیم درهم جوړېږي.

په دغه مثال کښې د "نِصْفُهُ" ضمیر "دِرْهَمٌ" ته د مفهوم په لحاظ راجع دی که نه نو کلام به بالکل باطل او متناقض وګرځي، چې په ما باندې د زید یو درهم او د همدغه یوه درهم نیمايي دی.

څلورم: په همدغې مطلب باندې متصل ایت ﴿ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ﴾ الآیة هم دلالت کوي، او دا څکه چې که بالفرض د ﴿ إِنَّهُۥ ﴾ ضمیر د ﴿ ٱلْإِنسَٰنُ ﴾ کلمې ته د آدم ﷺ په لحاظ سره راجع وي نو دغه تعقیب به نه وی نازل شوی چې نه ورسره ارتباط لري او نه ورسره مناسب برېښي.

---

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۶۷۰

(۲) مختصر المعاني ص۳۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکرو شوو نکاتو په ملحوظ د ایت شریف مضمون داسې راڅرګندیږي کوم ته چې وړاندې د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده.

## دوهم تفسیر

۳ـ دوهم تفسیر چې ځینو علماوو کړامو خوښ کړی دی[۱] په لاندې ټکو کښې خلاصه کیږي:

الف: د ﴿ ٱلْأَمَانَةَ ﴾ د کلمې څخه د الله ﷻ احکام مطلب دي، برابره خبره ده چې تکویني وي او که تکلیفي.

ب: په "أَبَيْنَ" او "أَشْفَقْنَ مِنْهَا" کښې دواړه کلمې د "إِبَاء" او "إِشْفَاق" څخه په مجازي معنی سره اشتقاقي شوې دي چې دواړه د عدم قبول څخه او د عدم قبول د وجې څخه کنایې دي.

ج: په ﴿ أَن يَحْمِلْنَهَا ﴾ او ﴿ وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ﴾ کښې دواړو کلمو د هغه حمل څخه اشتقاق موندلی دی کوم چې د خیانت معنی ورکوي.

نو حاصل یې داسې راڅرګندیږي چې:

یقینًا مونږ اسمانونه او ځمکې او هم غرونه په خپل تکویني احکامو باندې توظیف کړه چې دغو تولو پکښې د خیانت څخه إباء وکړه او په پوره او کامله توګه یې اداء کړه او لا لګیا دي اداء کوي یې. خو مونږ په انسان باندې خپل تکلیفي احکام فرض وګرځول چې ده پکښې ناغیرې وکړه او خیانت ته یې پکښې بدې ووهلې، یا په بل عبارت: په خپله غاړه کښې یې واچول، چې د قیامت په ورځ به یې سزا وګوري.

که څه هم همدا مضمون په [الحج:۱۸] ایت کښې منعکس شوی دی او په حقانیت کښې یې څه شک نشته مګر د مقام په لحاظ او د لومړي تفسیر سره د پرتلې په لحاظ لاندې نیمګرتیاوې لري:

اول: د ﴿ ٱلْأَمَانَةَ ﴾ کلمه تکویني احکامو ته هم شامله ګڼله شوې ده، حال دا چې د دغو احکامو سره د امانت لقب مناسبت نه لري ځکه چې په تعقیب او نتیجه کښې د تکلیفي احکامو غوندې پوښتنه نه لري.

دوهم: "إِبَاء" او "إِشْفَاق" دواړه په مجازي معناوو کښې استعمال شوي دي، حال دا چې ترڅو پورې چې حقیقت متعذر نه وي ګرځېدلی په کار دي چې مجازي معنی مراده نه کړی شي، او دلته حقیقي معناوې متعذرې نه دي، لکه چې په لومړي تفسیر کښې واضحه شوې دي.

دریم: که څه هم په ځینو استعمالاتو کښې د "حَمَل" کلمه د "خیانت" په معنی کښې استعماله شوې ده[۲]، مګر متبادره نه ده، ګومان نه کوو چې په قرآن کریم کښې به په همدغې معنی سره په بل ایت کښې استعماله شوې وي.

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۶۴

(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۱۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دریم تفسیر

۴ـ په ایت شریف کښې ځینو علماوو دریم ډول تفسیر هم خوښ کړی دی[۱]، چې په لاندې بنیادونو باندې ولاړ دی:

الف: په دې ایت کښې یو فرضي مثال ته اشاره شوې ده، او د تکلیفي احکامو اهمیت پکښې ښودلی شوی دی او بس.

ب: نو په همدې بنیاد عرض (وړاندې کول) او منعه کول او هم التزام او ډاریدل ټول د مثال په توګه ذکر شوي دي، هسې نه چې د واقع بیان دی.

ج: ذکر شوي فرضي کارونه داسې ګڼل شوي دي لکه چې واقع شوي وي.

د: دا ډول استعمال په عربي کلام کښې ډېر پېښېږي مثلاً عرب وايي چې: "قَالَ الْجِدَارُ لِلْوَتَدْ لِمَ تَشُقُّنِيْ قَالَ سَلْ مَنْ يَدُقُّنِيْ" یعني دېوال موږي ته وویلې چې ما ولې شکوې؟ موږي جواب ورکړ چې دا پوښتنه د هغه چا څخه وکړه کوم چې ما ټکوهي.

هـ: بیا دغه فرضي مثال داسې ګڼل شوی دی، لکه چې واقع شوی وی او ایت شریف ترې حکایت کړی وي. یا په بل عبارت: الله ﷻ د تکلیفي احکامو اهمیت او التزام دومره عظیم او لوړ کار ښودلی دی چې اسمانونو، ځمکو او غرونو به يې هم تحمل نه وی کړی که بالفرض په دغو باندې ور وړاندې کړی شوي وی.

## یادونه

که څه هم ذکر شوی مضمون حق دی او په ځینو نورو ایتونو کښې ورته اشاره هم شوې، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ﴾ [الحشر: ۲۱] یعني او که بالفرض مونږ دغه قرآن کریم په غره باندې نازل کړی وی (او پوهه او عقل مو ورکړي وی) نو هرومرو به تا غر لیدلی وی چې د الله ﷻ د ډاره به پوټي-پوټي شوی وی، نو د کفارو زړونه د غرونو څخه هم کلک دي چې ایمان ورباندې نه راوړي او د اثر لاندې يې نه واقع کېږي.

مګر د دغه ایت شریف څخه ـچې بحث پکښې روان دیـ د ذکر شوي مضمون اخستل مونږ ته ډېر لرې برېښي او څه اړتیا هم ورته نشته چې په دغسې بعید تفسیر باندې تفسیر کړی شي.

## أَمَانَة د احادیثو په رڼا کښې

۵ـ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[۲] هغه زښت ډېر احادیث راغوند کړي دي کوم چې په ﴿ٱلْأَمَانَةَ﴾ پورې تړاو لري، الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي، مونږ فقط د لاندې یوه مثال په ذکر باندې اکتفاء کوو:

(۱) تفسیر البیضاوي في هذا المقام
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيكَ فَلَا عَلَيْكَ مَا فَاتَكَ مِنَ الدُّنْيَا حِفْظُ أَمَانَةٍ وَصِدْقُ حَدِيثٍ وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ وَعِفَّةٌ فِي طُعْمَةٍ»[۱] يعني اى مؤمنه! څلور څيزونه دي چې كله څلور واړه په تا كښې موجوديت ولري نو د هغو دنياوي كارونو هيڅ باك نشته كوم چې ستا څخه فوت شوي وي. يو د امانت ساتنه ده، بل په خبرو كښې صدق دی، دريم د نېک (بنايسته) خوی خپلول دي او څلورم په خوراک (رزق) كښې د حرامو څخه خپل ځان پاک ساتل دي.

يعنې كه تا دغه څلور واړه كارونه خپل كړه نو ستا دپاره دنيا متاع الغرور نه بلكې متاع البلاغ ده، چې آخرت ته به وربانديې ورسېږي.

د "الأحزاب" سورت ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو، د الله ﷻ څخه لا زيات توفيق او كومک غواړو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ التَّوَابِينَ وَمِنَ الَّذِينَ تَتُوبُ عَلَيْهِمْ بِالرَّحْمَةِ وَالتَّوْفِيقِ إِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ.

۱۴۲۱/۱۱/۱۵ هـ ق = ۱۳۷۹/۱۱/۱۹ هـ ش = ۲۰۰۱/۲/۸ م.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۹۲

Scanned by CamScanner

# سبأ (٣٤)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ دا سورت د قرآن کریم د نورو سورتونو څخه د "سبأ" په نامه سره بېل شوی دی، دغه کلمه د دې سورت په [۱۵] ایت کښې نازله شوې ده.

۲ـ د دې سورت د [۶] ایت ﴿ وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ ﴾، په مکیتوب کښې څه اختلاف شته مګر نور ټول سورت په اتفاق سره مکي دی او ټول ایتونه یې د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي[۱].

۳ـ د دې سورت د ایتونو شمېره فقط (۵۴) ته رسېږي[۲].

۴ـ او د کلماتو شمېر یې (۸۸۳) دی او د حروفو شمېر یې (۴۵۱۲) حرفونو ته پوره شوی دی[۳].

## د سورت محتویات .

۵ـ قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی او د ده ﷻ د کامل علم څخه نمایندګي کوي، نو هیڅوک نه شي کولی چې د یو سورت محتویات د انحصار او ضبط په توګه ولیکي. نو د همدې کبله مونږ د مثال په توګه د دې سورت د لاندې محتویاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: دلته الله ﷻ د پاکو صفاتو څخه په کامل علم باندې پوره رڼا اچولې شوې ده.

ب: د مرګ څخه وروسته د بیا ژوندي کولو په حقیقت باندې پکښې زیات زور اچولی شوی دی.

ج: د معاد او توحید په هکله د کفارو اعتراضات پکښې رد کړی شوي‌دي، او اشتباهګانو ته یې پکښې جوابونه ورکړی شوي دي.

د: د کفارو هغه شبهات هم پکښې پوره ته کړی شوي دي د کومو څخه چې هغوی د نبوت په هکله د خپلو کافر پاتې کېدلو دپاره د بهانو په حیث کار اخست.

## د دواړو سورتونو تناسب

۶ـ د دې سورت (سبأ) او د هغه سورت (الأحزاب) د تناسب یوه وجه دا ده چې هغه مدني سورت دی او د اعمالو په بیان باندې پکښې زیات زور اچول شوی دی، او دا مکي سورت دی چې اکثره موضوعات یې په عقیدې پورې تړاو لري.

او پوره واضحه ده چې کامل ایمان د عقیدې او عمل د دواړو د مجموعې څخه عبارت دی، چې هلته یې یوه برخه بیانه شوې وه او دلته یې بله برخه بیانېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلْآخِرَةِ ۚ وَهُوَ

(۱) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۵۸
(۲) الدر المنثور ج۶ ص۶۷۳
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ۝١ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا
يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلْغَفُورُ ۝٢ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَأْتِينَا ٱلسَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى
لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَآ
أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ۝٣ لِّيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟
ٱلصَّٰلِحَٰتِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ۝٤ وَٱلَّذِينَ سَعَوْ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ
أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ۝٥ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ټولې ستاينې هغه الله ﷻ لره دي چې خاص همده ﷻ ته هغه شيان دي کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه شيان هم (د همده ﷻ ملکيت دی) کوم چې په ځمکو کښې (موجود) دي، او (بالآخره) چې خاص همده ﷻ ته په آخرت کښې (هم) حمد (او ثناء) ده.

او همدا (اقدس ذات ﷻ) د حکمت څښتن (او په هر شي) خبردار دی.

[۲] همدی ﷻ په هغو شيانو باندې پوهېږي چې په ځمکو کښې ننوځي (او يا پکښې دننه پراته دي) او په هغو شيانو باندې (هم پوهېږي) چې د ځمکو څخه (بهر) راوځي او په هغو شيانو باندې هم کوم چې د اسمان څخه رانښکته کېږي او کوم چې پکښې پورته کېږي (هيڅ شی ترې پټ نه دی).

او همدی ﷻ ډېر مهربان (او) ډېر ښنونکی دی.

[۳] او هغه کسان وايي کومو چې کفر غوره کړی چې: مونږ ته به (د) قيامت (ورځ) رانه شي.

(ته ورته په رد کښې) ووايه چې: دغسي نه ده (لکه چې تاسو پرې قول کوئ) زه په خپل رب ﷻ باندې سوګند يادوم چې هرومرو (ضرور) به تاسو ته (د) قيامت (ورځ) درشي، (زه د خپل هغه رب ﷻ په نامه سوګند يادوم) چې په ټولو غيوبو باندې (د قيامت په شمول) پوهېدونکی دی.

زما د رب ﷻ (د علم) څخه د يوې ذرې په اندازه (شی) نه په اسمانونو کښې غائب کېدلی شي او نه په ځمکو کښې، او (په دې باندې علاوه) نه د يوې ذرې څخه وړوکی شی شته او نه (ترې) لوی مګر (ټول) په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کښې (ثبت) دي.

[۴] (د قيامت قيام) د دې کبله (ضرور راتلونکی دی) چې الله ﷻ هغه کسانو ته جزا ورکړي چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي.

(جزا يې دا ده چې): دغه کسان چې دي خاص همدوی لره (زما د رب ﷻ د پلوه) مغفرت او باکرامته روزي ده (ورته تياره کړې يې ده).

[۵] او (ترڅو) هغو کسانو ته (هم جزا ورکړي) چې زمونږ (د) ايتونو (په ابطال او مخنيوي) کښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په داسې حال کښې زیار وباسي (او هلې ځلې کوي) چې دوی (په خپل خیال) د الله ﷻ عاجز کړخوونکي دي (د ارادې مخه یې نیولی شي).

(د دغو کسانو جزا دا ده چې): دغه کسان چې دي خاص همدوی لره عذابردي چې د دردوونکې سزا څخه عبارت دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت (الأحزاب) د وروستني ایت مضمون دا وه چې: الله ﷻ به ضرور د خپل امانت (تکلیفي احکامو) پوښتنه او ګوېګنه کوي او په نتیجه کښې به خائنانو او وفادارانو ته سزا او جزا ورکوي. خو په دې خبره صراحت نه وه شوی چې دا کار به د قیامت په ورځ صورت نیسي.

د دې سورت (سبأ) په لومړنیو ایتونو کښې همدا مطلب په صراحت سره بیان شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته خپل اُمت ته ابلاغ کړه چې:

۱ـ یوازې الله ﷻ د ستاینې او توصیف لایق دی، چې د ټولو مخلوقاتو مالک او واکدار دی، څه چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي د هغو ټولو څرنګوالی د همده ﷻ په ارادې باندې څرخېږي او بس. نو:

الف: خاص همده ﷻ ته جنس حمد او ثناء ده چې اول کرت یې مخلوقاتو ته عموماً او انسان ته خصوصاً د موجودیت نعمت وربښلی دی، او په دې باندې علاوه همدغه انسان ته یې د امانت (تکلیفي احکامو) نعمت هم ورپېرزو کړی دی.

ب: خاص همده ﷻ ته جنس حمد او ثناء ده چې ټولو ساکښانو ته یې عموماً او انسان ته یې خصوصاً د دوهم ځل دپاره موجودیت ورکړی دی او په ارواګانو سره یې ژوندي کړي دي ، نو په دغه وخت کښې به د انسان څخه د خپل ورکړی شوي امانت غوښتنه او پوښتنه هم وکړي. دا ځکه چې:

ج: همدی ﷻ د حکمت څښتن دی او په هر شي باندې خبردار (خبر والا) دی، نو دغه محاسبه او پوښتنه به د حکمت په بنیاد صورت ونیسي، نه د خبر حاصلولو په بنیاد. او دا ځکه چې:

د: الله ﷻ په هر شي باندې علم لري چې هیڅ شی د ده ﷻ د علم څخه وتلی نه دی. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: الله ﷻ په هغو شیانو باندې پوهېږي کوم چې په ځمکه کښې ننوځي لکه حشرات او نور. او یا د ځمکې څخه بهر وځي لکه نباتات او نور.

دوهم: الله ﷻ ته هغه ټول شیان معلوم دي، کوم چې د اسمانه راښکته کېږي لکه باران او نور، او یا پکښې پورته کېږي لکه د انسانانو ارواګانې او نور.

یا په بل عبارت: هر شی چې وځي او ننوځي او هر شی چې ښکته پورته کېږي دا ټول الله ﷻ ته معلوم دي او دا ټول د همده ﷻ په کامل قدرت باندې څرخېږي، خو د دومره کامل علم او دومره

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کامل قدرت سره-سره ډېر مهربان او ډېر ببنونکی هم دی.

۲_ ای پیغمبره! د دې سره-سره چې الله ﷻ د قیامت په قیام باندې علم لري هغه کسان ترې انکاري دي کومو چې کفر غوره کړی دی، دوی وایي چې مونږ ته به د قیامت ورځ زانه شي او مونږ به د مرګ څخه وروسته د قبرونو څخه راپورته نه کړی شو.

نو ته د دغو کسانو د خبرې په رد کښې دوی ته ووایه چې:

الف: دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ، زه د خپل رب ﷻ په نامه سوګند یادوم چې هرو مرو او ضرور به قیامت قائم شي او تاسو به د مرګ څخه وروسته بېرته راژوندي کړی شئ.

ب: زه د خپل هغه رب ﷻ په نامه ستاسو د تسکین دپاره سوګند یادوم، کوم چې د پوره کامل علم درلودونکی دی حتی چې:

اول: د یوې ذرې په اندازه شی ترې نه په اسمانونو کښې پټېدلی شي او نه په ځمکو کښې. بلکې څه چې په دغو دواړو کښې سمدستي موجود دي او یا به پکښې وروسته موجودیت ومومي هغه ټول ورته ښه پوره معلوم دي.

دوهم: په دې باندې علاوه د یوې ذرې څخه نه وړوکی شی شته او نه غټ مګر هغه ټول په څرګند کتاب (لوح محفوظ) کښې ثبت دي او هیڅ شی بدون د ثبته پاتې نه دی.

نو ای کفارو! ایا تاسو د دغه کامل انضباط او کامل علم د خاوند (الله ﷻ) په مقابل کښې څرګندونه کوئ چې د قیامت ورځ به قائمه نه شي؟

۳_ دا هم ورته ووایه چې د قیامت قیام ځکه ضرور دي چې الله ﷻ دنیا عبثه نه ده پیدا کړې چې په پای کښې تصفیه او محاسبه ونه لري، نو دا دنیا به هرومرو یو وخت ورانېږي او تصفیه او محاسبه به صورت نیسي. ترڅو:

الف: الله ﷻ هغو کسانو ته نېکه جزا او آجر ورکړي کومو چې په دنیا کښې ایمان راوړی وي او نېک اعمال یې هم ورسره کړي وي.

د دوی نېکه جزا او اجر به دا وي چې همدغو کسانو لره د الله ﷻ په نزد مغفرت او د کرامته ډکه روزي ساتلې شوې ده، چې جنتونو ته به یې داخل کړي او خپل ابدي نعمتونه به وربېرزو کړي.

ب: بالمقابل هغو کسانو ته به الله ﷻ سزا ورکړي کوم چې د الله ﷻ د ایتونو په ردولو او ابطال کښې زیار باسي او په رنګارنګ پلمو سره یې د مخنیوی هڅې کوي.

همدغو کسانو لره د محاسبې په ورځ دردناک عذاب ټاکلی شوی دی چې د همېشه دپاره به پکښې معذب وګرځولی شي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ ﴾ الآیة کښې د ﴿ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ کلمات دغه نړدې ژوند ته اشاره ده او د ﴿ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ کلمات د راتلونکي ژوند څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبارت دي؛ نو حاصل يې داسې راځېږي:
هلته او دلته ټولې ستاينې په الله ﷻ پورې اختصاص لري، د الله ﷻ څخه په غير د نورو مخلوقاتو ستاينې هم په حقيقت کښې د همده ﷻ ستاينې دي چې فقط همده ﷻ د ستاينې وړ ګرځولي دي.

## په ياد ولرئ

۲_ په ياد ولرئ چې د الله ﷻ حمد او ثناء او تسبيحات او تنزيهات د مخلوقاتو د پلوه په لاندې دوه وو ډولونو سره صورت نيسي:
الف: د کفارو په شمول ټول مخلوقات پرته د ارادې د الله ﷻ په حمد او تسبيح باندې بوخت دي.
ب: اما د الله ﷻ بالاراده حمد او تسبيح ټول د ارادې خاوندان وايي خو فقط کفار ترې ډډه کوي او د خپلو باطلو معبودانو په ستاينه مشغول دي.

## ستاينه د تلذذ دپاره

۳_ الله ﷻ په متعددو ايتونو کښې د جنتيانو د خولو څخه خپل حمد او ثناء مونږ ته راحکايت کړې ده، د بېلګې په توګه: ﴿ وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ ﴾ [فاطر:۳۴] يعني او جنتيان به په جنت کښې وايي چې هغه الله ﷻ ته ټولې ستاينې دي چې زمونږ څخه يې غمونه لرې کړه او جنت ته يې داخل کړو.
د جنتيانو ستاينه د دنياوي ستاينې غوندې نه ده چې د عبادت او مکلفيت په بنياد ولاړه ده، بلکې د هغوی ستاينه د تلذذ او خوند اخستلو په توګه صورت نيسي[1].
همدا مطلب نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې ښه واضحه کړې دی چې فرمايلي يې دي: «يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ»[2] يعني جنتيانو ته به د الله ﷻ د پلوه تسبيح او تحميد د الهام په توګه داسې ښودل کېږي لکه چې تاسو ته تنفس د الهام په توګه ښودلی شوی دی، چې بې تکليفه په اسانۍ سره ساوې اخلئ او د عدم تنفس په صورت کښې تنګي حس کوئ.

## يادونه

۴_ د ﴿ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا ﴾ الآية، په څلورو جملو کښې چې کومو شيانو ته د "ما" په کلمو سره اشاره شوې ده د هغو په کميت او کيفيت باندې يوازې الله ﷻ پوهېږي او بس. خو مونږ يې فقط لاندې څو مثالونه ذکر کوو:
الف: کوم شيان چې په ځمکه کښې ننوځي او يا يې په داخل کښې پراته دي، لکه د باران څاڅکي او د سيندونو او ويالو اوبه، يا لکه معدنونه او دفن کړی شوي خزانې او بالآخره لکه حشرات او د مړو لاشونه.
ب: کوم چې د ځمکې څخه راوځي، لکه ونې او بوټي، چينې او کاريزونه، غلې دانې او ميوجات

---

[1] روح المعاني ج۲۲ ص۱۰۳
[2] صحيح مسلم ج۲ ص۳۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او بالآخره لکه حشرات چې په ځمکه کښې ننوځي او ترې راوځي.

ج: کوم شیان چې د اسمان څخه رابښکته کېږي لکه باراني اوبه او واورې، ږلۍ او تندرونه، د مخلوقاتو مقدرات او پرښتې او داسې نور.

د: او کوم چې اسمان ته خېژي لکه رابښکته شوې پرښتې، د نېکو بندګانو اعمال او ارواګانې او یا لکه لوګي او بخارات او داسې نور.

## درېګوني سوګندونه

۵ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس:۵۳] ایت لاندې په سوګندونو سره د شرعیاتو او معتقداتو د اثبات په هکله ښه ګټور معلومات لیکلي دي، په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

په ټول قرآن کریم کښې یوازې په درېوو ایتونو کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې ده چې خپل دعوتي کلام د سوګند په یادولو باندې موکد وګرځوي. هغه دا:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَيَسْتَنْبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ﴾ [یونس:۵۳] یعنې ای پیغمبره! ستا څخه پوښتنه کوي چې دا (قرآن کریم یا عذاب الخلد) حق دی؟ ته ورته ووایه چې هو! په خپل رب ﷻ مې سوګند دی چې دا حق دی (هېڅ شک پکښې نشته).

ب: بل همدغه ایت شریف دی چې بحث پکښې روان دی، په دې ایت شریف کښې د ابو سفیان سوګند رد شوی دی، هغه دا چې نومړي یوه ورځې د خپلو بوتانو په نومونو باندې سوګند یاد کړ ـ په دغه وخت کښې د "رضي الله عنه" لایق نه وه ګرځېدلی ـ او د مکې مشرکانو ته یې داډ ورکړ چې هیڅکله به قیامت قائم نه شي او نه به مونږ د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړی شو[1].

نو الله ﷻ خپل پیغمبر ته امر وکړ چې: ﴿ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ ﴾ یعنې ته ورته ووایه چې: دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ، زما دې په خپل رب ﷻ باندې سوګند وي چې تاسو به د قیامت د قیام سره مخامخ شئ او د قبرونو څخه به ژوندي راپورته شئ.

ج: ﴿ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ﴾ [التغابن:۷] یعنې کفار ګومان کوي چې دوی به مبعوث نه کړی شي، ته ورته ووایه چې: دغسې نه ده، زه په خپل رب ﷻ باندې سوګند یادوم چې تاسو به د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړی شئ او بیا به د خپلو کړو وړو څخه خبر کړی شئ (او د پوره سزا سره به مخامخ شئ).

## یو نحوي تحلیل

۶ـ علماوو کرامو د ﴿ وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِى كِتَـٰبٍ مُّبِينٍ ﴾ په اعراب کښې متعددې وجې لیکلي دي[2]، خو کومه وجه چې مونږ ته غوره څرګنده شوې ده هغه دا ده چې: د ﴿ وَلَآ

(۱) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۱۰۸

(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۷

Scanned by CamScanner

﴿أصغر﴾ کلمه د خپل معطوف او متعلق سره مبتدا ده او ﴿ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴾ يې خبر دی، په دغې جمله کښې د وړاندېنۍ جملې مضمون تاکيد شوی دی.

نو حاصل يې داسې راځېژي چې: د الله ﷻ د کامل علم څخه هيڅ شی نه شي پټېدلی خو په دې باندې علاوه هر شی په لوح محفوظ او ځرګند کتاب کښې ثبت کړی شوی هم دی، برابره خبره ده چې د ذرې څخه وړوکی وي او که غټ.

﴿وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلْحَقَّ وَيَهْدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ۝٦ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۝٧ أَفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةٌۢ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْأَٰخِرَةِ فِي ٱلْعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلْبَعِيدِ ۝٨ أَفَلَمْ يَرَوْاْ إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ ٱلْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ۝٩﴾

[۶] او هغه کسان کومو ته چې (راسخ) علم ورکړی شوی دی ګوري (او پوهېږي) چې يقيناً هغه کتاب کوم چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل کړی شوی دی همغه حق دی او د عزيز (او) حميد (الله ﷻ) لارې ته هدايت (او ښودانه) کوي.

[۷] او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی (خلکو ته) وايي چې:

ايا مونږ تاسو ته په يوه داسې سړي باندې دلالت وکړو کوم چې تاسو ته خبر درکوي چې کله تاسو په نهايت پوټی-پوټی کېدلو سره پوټی-پوټی کړی شئ؛ (او په ځمکو کښې تيت پرک کړی شئ؛ هم) يقيناً تاسو به (په دغه وخت کښې) هرومرو په نوي پيدايښت کښې ياست (ضرور به بېرته راژوندي کړی شئ).

[۸] ايا (نوموړی سړی) په الله ﷻ باندې دروغ تړي او يا ورپورې لېونتوب (نښتی) دی؟ (دغسې نه ده) بلکې هغه کسان کوم چې په آخرت باندې ايمان نه لري (او عقيده وربانديې نه خپلوي) په (اُخروي) عذاب او (د حقيقت څخه) په لرې ګمراهۍ کښې (واقع) دي، (څکه ذکر شوي ګمانونه کوي).

[۹] ايا نو (همدغه) کفار هغو شيانو ته نه ګوري کوم چې د دوی په وړاندې دي او کوم چې د دوی په وروسته دي چې د اسمان او ځمکې څخه عبارت دي، (ايا دوی نه پوهېږي چې) که زمونږ اراده وشي ځمکه به وربانديې خسف کړو (او پکښې ډوب به يې کړو) او يا به وربانديې د اسمان څخه ټوټې ور وغورځوو؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يقيناً په دغې (ذكره شوې خبره) كښې (الله ﷻ ته) د هر رجوع كوونكي بنده دپاره (ډېر لوی) قدرتي دليل (پروت) دی (نو په كار دي چې عبرتي درس ترې واخلي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو كښې د قيامت قيام په اثبات ورسولی شو او د كفارو معتقدات رد كړی شوه، په دې ايتونو كښې د يو پلوه د قيامت د قيام په وړاندې د خلكو غبرگون ته اشاره كېږي او د بله پلوه يې په اثبات باندې څه نور قدرتي دلايل هم اقامه شوي دي نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د قيامت د ورځې په اړوند لاندې مطالب په خپل اُمت باندې قرائت كړه:

١ ـ نظر د قيامت د ورځې دلايلو ته او نظر د همدې ورځې ضرورت ته، خلک په لاندې دوه وو گروپونو ويشلی شوي دي:

الف: څوک چې عناد نه دي نيولي او حقائقو پسې تاند وهي او هم ورته د الله ﷻ د پلوه پوهه وركړی شوې ده، هغوی لاندې حالات خپلوي:

اول: هغوی تا مخاطب گرځوي چې ای پيغمبره! كوم كتاب چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل كړی شوی دی، همدغه حق كتاب دی او څه چې پكښې نازل شوي دي همغه د واقع سره مطابق دي، مونږ يې په حقانيت باندې دومره كلكه عقيده لرو لكه چې په غوږولو سترگو باندې مو ليدلي وی، مونږ پكښې شک نه لرو او نه پكښې شک او شبه شته.

دوهم: همدغه تاته درنازل شوی كتاب د هغې لارې ښوونكی دی كومه چې د الله ﷻ لاره ده، الله ﷻ د كلكې ارادې او د عالي محامدو (صفاتو) درلودونكي دي، د دروغو او باطلو خبرو څخه پاک او منزه دی.

ب: بالمقابل عنادي كفار لاندې عكس العمل خپلوي چې:

اول: دوی په تعجب او تمسخر سره خلكو ته او نورو كفارو ته وايي چې:

ايا مونږ تاسو ته داسې سړي دريه گوته كړو كوم چې تاسو ته په نه كېدونكو كارونو باندې خبر دركوي؟ د مثال په توگه نوموړی وايي: كله چې تاسو مړه شئ او په خاورو كښې تيت پرک وگرځئ، نو تاسو به بېرته راژوندي كړی شئ او د حساب كتاب دپاره به ودرولی شئ:

پوره واضحه ده چې دغه خبره محاله او نه كېدونكي ده، په دې خبره باندې به هغه څوک قول كوي كوم چې دروغژن وي او يا په خپل سر كښې ماغزه نه لري او ليونی وي.

نو ای خلكو! مونږ ستاسو څخه پوښتنه كوو چې: ايا دغه سړی (محمد) په الله ﷻ باندې دروغ تړي او كه عصبي ناروغي لري او ليونی دی چې په بيا راژوندي كېدلو باندې عقيدې ته دعوت چلوي او په همدې باندې كلک دی؟ د دغو دواړو صورتونو څخه په يوه صورت كښې هم نوموړی د پېروی قابل نه دی نو تاسو ته په كار دي چې خپل پلرنی دين پرېنږدئ او په بعث بعد الموت باندې عقيده خپله نه كړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ دغسې ته ده لکه چې عنادي کفار ورباندې قول کوي بلکې محمد ﷺ نه په الله ﷻ باندې دروغ ترلي دي او نه لیونی دی، حقیقت دا دی چې هغوی د دې دپاره په آخرت (بعث بعد الموت) باندې عقیده نه لري چې ترڅو په خپل خیال د اُخروي عذابه بچ پاتې شي.
خو دغه خیال به یې هیڅکله واقعیت مونده نه کړي ځکه چې هغوی د حقیقت څخه په ډېرې لرې ګمراهۍ کښې واقع دي، نو هرو مرو به د عذاب سره مخامخ شي.
۳_ ای پیغمبره! ایا نو ذکر شوي کفار د قیامت څخه په انکار باندې کلک دي حال دا چې وړاندې ېبرته او لاندې باندې نه ګوري چې د اسمان او ځمکې ترمنځ محاصره دي او د هر طرفه یې ورباندې احاطه کړې ده.
نو که زمونږ اراده وشي په ځمکه کښې به یې د قارون غوندې خسف کړو او یا به ورباندې د اسمان څخه ټوټې وروغورزوو او لاندې به یې ترې میده-میده کړو. یا په بل عبارت: د نوموړو عنادي کفارو او د عذاب د نزول ترمنځ فقط همدا خبره حائله ده چې مونږ ورته اراده نه ده کړې که نه نو د دوی کره وره د عذاب د نزول غوښتونکې دي.
یقیناً په دغه بیان کښې د هر هغه بنده دپاره د الله ﷻ قدرت ډېره لویه نښه ده کوم چې الله ﷻ ته رجوع کوي او د دلیل په پلټنه پسې تاند وهي، نو په دغو عنادي کفارو باندې دې افسوس وي چې د حق پلټنه نه کوي، که نه همدغه یوه قدرتي نښه کافي وه چې د قیامت قیام یې محال نه وی ګڼلی او ایمان یې ورباندې راوړی وی.

## توضیحات

۱_ ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ﴾ کښې د موصول څخه د اهل الکتابو هغه علماء مراد کړي دي کوم چې په ایمان باندې مشرف شوي وه لکه عبد الله بن سلام ﷺ او نور[1]، نو په دې تقدیر باید دغه یو ایت په دې سورت کښې مدیني وګڼل شي.
خو مونږ ته بهتره برېښي چې د ذکر شوي موصول څخه به هغه ټول د علم خاوندان مطلب وي د کومو علم چې واقعي او رښتیانی وي، برابره ده چې پرېښتې وي او یا بنیادمان، لکه چې د [الرعد: ٤۳] ایت لاندې یې څه بحث تېر شوی دی.
نو په کار دي چې ذکر شوی ایت شریف هم د وړاندې ېبرته ایتونو غوندې مکي وګڼل شي چې د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی.

## یادونه

۲_ په ﴿ أَوۡ نُسۡقِطۡ عَلَيۡهِمۡ كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ کښې د ﴿ كِسَفٗا ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [بني اسرائیل: ۹۲] ایت لاندې ښه تحلیله کړې ده چې بیا تحلیلولو ته یې اړتیا نه ګورو.

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱٦ ص۱۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضْلًا ۖ يَـٰجِبَالُ أَوِّبِى مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ ۖ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلْحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ
ٱعْمَلْ سَـٰبِغَـٰتٍ وَقَدِّرْ فِى ٱلسَّرْدِ ۖ وَٱعْمَلُوا۟ صَـٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١﴾
وَلِسُلَيْمَـٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۖ وَأَسَلْنَا لَهُۥ عَيْنَ ٱلْقِطْرِ ۖ وَمِنَ ٱلْجِنِّ مَن
يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ وَمَن يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١٢﴾
يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَـٰرِيبَ وَتَمَـٰثِيلَ وَجِفَانٍ كَٱلْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَّاسِيَـٰتٍ ۚ ٱعْمَلُوٓا۟
ءَالَ دَاوُۥدَ شُكْرًا ۚ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ ﴿١٣﴾ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ
عَلَىٰ مَوْتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُۥ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا۟
يَعْلَمُونَ ٱلْغَيْبَ مَا لَبِثُوا۟ فِى ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿١٤﴾ ﴾

[١٠] او يقينًا مونږ د خپله جانبه داوُد ﷵ ته فضل (او نعمتونه) ورکړي وه (د مثال په توګه: مونږ غرونه مخاطب ګرځولي وه چې) اى غرونو! د داوُد ﷵ سره (تسبيحات) بدرګه کړئ.

او مرغان (مو هم ورته مسخر جوړ کړي وه چې تسبيحات ورسره زمزمه کړي)، او اوسپنه مو ورته (په ګوتو کښې) نرمه (او پسته) ګرځولې وه.

[١١] چې (اى داوُده!) ارتې (کاملې) زرغرې (ترې) جوړې کړه، او په اوبدلو کښې يې اندازه وکړه (د اندازې مراعات پکښې وکړه چې کړۍ يې په يوه سايز وي)، او تاسو (او ستا ټبر) صالح عمل وکړئ (او شکرګزاران جوړ شئ، او دا ځکه چې) يقينًا الله ﷻ په هغو (کارونو) بينا دى کوم چې تاسو يې عملي کوئ.

[١٢] او (همدارنګه مونږ) سليمان ﷵ ته باد (مسخر کړى وه چې) د دغه باد (د) سبايي (مزل) د يوې مياشتې (مسافه) وه، او (د) ښکا (مزل) يې هم د يوې مياشتې (مسافه) وه.

او مونږ ورته د جامدو ميسو (تانبې) معدن بهولى وه (او مائع مو ورته ګرځولى وه). او (هم مو ورته) د پېريانو ځنې هغه کسان (مسخر جوړ کړي وه) کومو به چې د ده ﷵ په وړاندې د همده ﷵ د رب ﷻ په إذن (أمر) سره (درانه) کارونه کول، او د دوى ځنې به چې هر چا زمونږ له امره کوږوالى (سرکشي) وکړه نو هغه ته به مو سوزونکى عذاب ورڅاکه (او پړې به مو اخته کاوه).

[١٣] سليمان ﷵ ته به دوى هغه (کارونه) کول د کومو به چې د سليمان ﷵ اراده وشوه چې (دا کارونه) د لوړو کلاګانو ځنې عبارت دي او هم (د سنګار دپاره) د مجسمو ځنې، او د داسې لګنونو (ښانکونو) ځنې کوم به چې د حوضونو غوندې وه، او (بالآخره) د داسې ديګونو ځنې چې ځاى په ځاى به ايښي وه (او د پېريانو ځنې په غير به چا حرکت نه شو ورکولى).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(مونږ سلیمان ﷺ مخاطب گرځولی وه چې) ای د داوُد ﷺ ټبره! تاسو د شکرگزارۍ دپاره (نېک) عملونه وکړئ.

او زما په بندگانو کښې شکرگزاران لږ دي (تاسو په همدغو لږو کښې خپل ځانونه شامل کړئ).

[۱۴] نو کله چې مونږ په سلیمان ﷺ باندې د مرگ فیصله وکړه نو د ده ﷺ په مرگ باندې دوی (بنیادمانو او پیریانو) ته هیڅ شي ښوونه (دلالت) ونه کړ مگر د ځمکې حشرې، چې د سلیمان ﷺ همسا یې خوړله (او په نتیجه کښې یې هغه ﷺ ته سقوط ورکړ).

نو کله چې سلیمان ﷺ (د ډېر وخت څخه وروسته) وغورځېد نو پیریان (د دوی حال خلکو ته) ځرگند شو چې که دوی په غیبو باندې پوهېدلی نو دوی به په سپکوونکي (سخت) عذاب کښې (تر یو کاله پورې) نه وی ټال شوي (د درنو کارونو څخه به یې د سلیمان ﷺ د مرگه سره سم خپلې اوږې سپکې کړې وی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېني متصل ایت کښې دې مضمون ته اشاره شوې وه چې اسمان او ځمکه د الله ﷻ د کامل قدرت لاندې دي او د همده ﷻ تکویني او امرو ته مسخر او تابع دي، په دې ایتونو کښې د همدغه مضمون د تائید دپاره د داوُد ﷺ او سلیمان ﷺ.یادونه شوې ده او د ذکر شوي تسخیر څو مثالونه پکښې ښودل شوي دي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په دې مقام کښې په خپل اُمت باندې د داوُد ﷺ او سلیمان ﷺ ځینې خوارق قرائت کړه ترڅو ورته جوته شي چې اسمان او ځمکه بلکې ټول مخلوقات د همده ﷻ ارادې ته مسخر (تابع) دي، او رنگول او بیا جوړول یې هم د همده ﷻ په تکویني اوامرو سره صورت نیسي او بس. هغه دا چې:

۱ـ یقیناً مونږ داوُد ﷺ ته د خپله جانبه فضل او څه خاص نعمتونه ورکړي وه، هسې نه چې زمونږ څخه یې غوښتي وه، د مثال په توگه:

الف: غرونو ته مو تکویني امر کړی وه چې کله داوُد ﷺ د الله ﷻ تسبیحات وایي او زبور تلاوت کوي نو تاسو هم ورسره تلاوت بدرگه کړئ او خپل اوازونه ورسره غبرگ وگرځوئ.

ب: مونږ مرغانو ته هم امر کړی وه چې د داوُد ﷺ سره تسبیحات او د زبور تلاوت بدرگه کړي.

ج: مونږ د داوُد ﷺ دپاره اوسپنه نرمه گرځولې وه، چې بدون د گرمولو او بدون د ځټک وهلو څخه به یې په خپلو گوتو باندې د موم او خټې غوندې اړولې او را اړولې شوه، او هرڅه به یې چې زړه غوښتل هغه به یې ترې په ډېرې اسانۍ سره جوړولی شوه.

د: مونږ داوُد ته ارشاد کړی وه او د زغرو زده کول مو ورښودلي وه چې:

اول: ای داوُده! ته د اوسپنې څخه داسې زغرې جوړې کړه چې پراخه وي او ټول بدن په اسانۍ سره پټولی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: ای داوده! ته د کړیو څخه زغرې جوړې کړه چې د اوبدلو په شکل یوه په بله کښې ننوځي او هم پکښې بنده شي. او د کړیو په تیارولو کښې د اندازې مراعات د نظره مه غورځوه چې ځینې نرۍ او ځینې پېړې جوړې کړې، بلکې ټولې په یوه اندازه تیارې کړه.

دریم: بالآخره داوُد ﷺ ته مو امر کړی وه چې ته او ستا اولاده، تاسو ټول صالحو اعمالو ته ادامه ورکړئ. یا په بل عبارت: تاسو د کسبي کارونو سره شرعي کارونه هم ضمیمه کړئ او د دنیا او آخرت دواړو کارونه مو په وړاندې بوځئ. او دا ځکه چې یقیناً زه په هغو ټولو کړو وړو باندې بینا یم کوم چې تاسو یې عملي کوئ او انجام ته یې رسوئ.

۲ـ همدارنګه مونږ سلیمان ﷺ ته هم د خپله جانبه بدون د هغه ﷺ د غوښتنې څه امتیازي نعمتونه او خوارق العاده شیان ورکړي وه. د مثال په توګه:

الف: سلیمان ﷺ ته مو باد مسخر کړی وه چې د ده ﷺ په امر به چلیده او تخت به یې ورته د یوه وطن څخه بل وطن ته انتقالاوه.

ب: دغه باد به د سبایې د پلوه د یوې میاشتې مزل واهه او د بېګاه د پلوه به هم د یوې میاشتې د لرې مزله په وهلو توانیده.

یا په بل عبارت: سلیمان ﷺ د سبا د پلوه او هم د بېګاه د پلوه د باد په ذریعه دومره اوږده مسافه پرې کوله که بالفرض د باد ذریعه نه وی نو په یوه-یوه میاشتې کښې به مطلوب ځای ته رسبدلی وی.

ج: مونږ سلیمان ﷺ ته د زېړو (تانبې) چینه بهولې وه چې د اوبو غوندې به بدون د ګرمولو څخه بهېدله او په هره یوه سانچه کښې به چې بهېدونکې تانبه واچوله شوه نو مطلوب سامان به ترې جوړېده.

د: مونږ سلیمان ﷺ ته د ډېرو قوي پیریانو څخه هم زښت ډېر تابع ګرځولي وه، چې د ده ﷺ په وړاندې به یې هغه کارونه ترسره کول کومو ته به چې د هغه ﷺ اراده وشوه، لکه تانبو ته سانچې جوړول او داسې نور.

هـ: سلیمان ﷺ ته د خپل رب ﷻ په امر سره قوي هیکلو پیریانو متابعت کاوه. یا په بل عبارت: هغوی ته مونږ امر کړی وه چې د سلیمان ﷺ تابعداري وکړي او هم مو هغوی ته اخطار ورکړی وه چې هرڅوک چې زمونږ د امر څخه کوږوالی وکړي او په تابعدارۍ کښې سستي او تنبلي وکړي نو هغه ته به مونږ سوزونکی عذاب وروڅکو او وړباندې به یې اخته کړو.

و: نو کوم کارونه چې هغوی د سلیمان ﷺ دپاره اجراء کول د هغو ځینې مثالونه دا دي:

اول: دغو پیریانو به د سلیمان ﷺ دپاره قوي او دنګې کلاګانې جوړولې چې د انسانانو د لاسه به د هغو جوړولو امکان نه وه.

دوهم: ډول-ډول تمثالونه او مجسمې به یې ورته د مختلفو موادو څخه تیارولې.

دریم: دومره لوی-لوی لګنونه او ښانکونه به یې ورته د تانبې او نورو موادو څخه جوړول چې کله

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به د اوبو څخه ډک کړی شوه نو تا به ویل چې دا لوی-لوی ډنډونه او تالاوونه دي.

څلورم: کوم دیګونه چې پیریانو د سلیمان ﷺ دپاره جوړول هغه دومره لوی لوی وه چې بنیادمانو د خپله ځایه حرکت نه شو ورکولی، نو ځای په ځای به یې قرار درلود او د پخلي دپاره به کارېدل، چې نغري به یې ورپورې نښتي وه.

۳_ ای پیغمبره! مونږ سلیمان ﷺ ته ډېر خوارق او نعمتونه ورکړي وه خو د دې سره- سره مو ورته امر کړی وه چې: ای د داوُد ﷺ اولادې! تاسو د شکرګزارۍ عمل کوئ نو لکه څنګه چې ستاسو پلار داوُد ﷺ د الله ﷻ شکرګزار بنده وه، تاسو هم د الله ﷻ شکرګزار بندګان شئ.

زما په بندګانو کښې شکرګزاران لږ کسان دي نو تاسو خپل ځانونه د همدغو لږو بندګانو څخه شمېر کړئ.

۴_ ای پیغمبره! لکه څنګه چې د سلیمان ﷺ ژوند خارق العاده وه همدارنګه د هغه ﷺ مرګ هم په خارق العاده توګه صورت ونیوه چې تر څه وخته پورې یې د خپل مرګ څخه وروسته هم په پېریانو باندې خپل حکم وچلاوه، چې تفصیل یې دا دی:

الف: کله چې مونږ په سلیمان ﷺ باندې د مرګ فیصله وکړه نو په داسې ډول موورباندې مرګ مسلط کړ چې ډېر قوي پیریان ورباندې خبر نه وه، نو سلیمان ﷺ په داسې حال وفات شو چې په خپله همسا باندې یې تکیه وهلې وه او په ولاړه ژوندی لیده کېده.

ب: پېریان په خپلو ورسپارلو شوو کارونو باندې د ده ﷺ د مرګ څخه ناخبره مشغول وه او په خیال کښې یې ورتله چې سلیمان ﷺ ژوندی دی او د دوی څارنه کوي.

خو په عین وخت کښې وَینو د سلیمان ﷺ همسا خوړله چې په نتیجه کښې ماته شوه او سلیمان ﷺ په ځمکه باندې راولوېد. نو د سلیمان ﷺ په مرګ باندې فقط وَینو پېریانو ته خبر ورکړ، که بالفرض هغو همسا نه وی خوړلې او نه وی ماته شوې نو پېریان به یې په مرګ باندې نه وی خبر شوي.

ج: په دغه وخت کښې د پېریانو حال ښه څرګند شو چې دوی په غیبو باندې نه پوهېږي، او دا ځکه چې که بالفرض دوی په غیبو باندې پوهېدلی نو د سلیمان ﷺ د وفات څخه وروسته او د همسا د سقوط څخه وړاندې به یې په سپکوونکي عذاب کښې درنګ نه وی کړی او د هغه ﷺ د مرګ سره سم به یې د درنو کارونو څخه خپلې اوږې خالي کړې وی او لاس به یې ترې اخستی وی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُدَ مِنَّا فَضْلًا ﴾ کښې علماوو کرامو د ﴿ فَضْلًا ﴾ کلمه په متعددو نعمتونو باندې تفسیره کړې ده چې تعداد یې تقریبا نهو ته رسېږي[1]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې په مطلق امتیازي نعمت باندې تفسیره کړی شي، نو په دې تقدیر به د

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۲۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اوسپنې نرموالی او د زغرو جوړول د مثال په توګه نازل شوي وي.

## یو نحوي تحلیل

٢_ په ﴿ يَـٰجِبَالُ أَوِّبِى مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ﴾ کښې د ﴿وَٱلطَّيْرَ﴾ کلمه مفسرينو کرامو د اعراب په حيث په ډېرو وجوهو سره تحليله کړې ده[١]، خو کوم تحليل چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې شرحه کېږي:

الف: د ﴿ يَـٰجِبَالُ أَوِّبِى مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ ﴾ کلمات د "سَخَّرْنَا" څخه کنايه دي، ته به وايې چې "سَخَّرْنَا مَعَهُ الْجِبَالَ" نازل شوی وی.

نو دغه جمله که څه هم په لفظ کښې انشائيه ده مګر په معنی کښې خبريه ده.

ب: د ﴿وَٱلطَّيْرَ﴾ کلمه د "سَخَّرْنَا" په تقدير سره منصوبه ده چې ظهور يې داسې جوړېږي: "وَسَخَّرْنَا مَعَهُ الطَّيْرَ".

علماوو کرامو همدارنګه جمله په ﴿ وَلِسُلَيْمَـٰنَ ٱلرِّيحَ ﴾ کښې هم مقدره ګڼلې ده[٢] چې ظهور يې داسې راځېږي: "وَسَخَّرْنَا لِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ".

ج: نو دغه خبريه جمله په وړاندېنۍ جملې باندې معطوفه ده چې په معنی کښې خبريه ده.

نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: مونږ داوُد ﷺ ته غرونه مسخر ګرځولي وه چې تسبيحات به يې ورسره بدرګه کول، او همدارنګه مو ورته مرغان هم تابع کړي وه چې خپل تسبيحات به يې د هغه ﷺ تسبيحاتو سره ضميمه کول.

مونږ څکه ذکر شوی تحليل غوره وګاڼه چې په همدې عبارت باندې په [ص:١٨، ١٩] ايتونو کښې صراحت نازل شوی دی.

## د زغرو نوی ساخت

٣_ د ﴿ أَنِ ٱعْمَلْ سَـٰبِغَـٰتٍ وَقَدِّرْ فِى ٱلسَّرْدِ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې داوُد ﷺ د زغرو د جوړولو مخترع نه وه بلکې دغه صنعت د نواقصو سره‌سره د وړاندې څخه رواج درلود. نواقص يې دا وه چې زغرې به د تختو په شکل جوړول کېدلې چې په ټول بدن باندې يې احاطه نه شوه کولی او د ډېر اندامونه به ترې بربنډ پاتې کېده، خصوصاً لاسونه او پښې خو وربانديې بالکل نه شوه پټېدلی.

همدې مطلب ته د الله ﷻ په توفيق د [الأنبياء: ٨٠] ايت لاندې اشاره شوې ده او په همدې مطلب باندې په ايت شريف کښې لاندې کلمې دلالت کوي:

الف: د ﴿ سَـٰبِغَـٰتٍ﴾ کلمه د "سِبَاغ" څخه اشتقاقه شوې ده، "سِبَاغ" ارتوالي او پراخوالي ته وضعه شوې دی[٣].

---

(١) روح المعاني ج٢٢ ص١١٤
(٢) تفسير الكشاف ج٣ ص٥٧١
(٣) مفردات الراغب ص٢٣٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ ٱلسَّرْدِ ﴾ کلمه د اوبدلو او ګنډلو معنی ورکوي لکه چې موچي پنې ګنډي[۱].
نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: مونږ داوُد ﷺ ته ارشاد وکړ چې د اوسپنې څخه د کړيو په شکل زغرې جوړې کړي او يوه کړۍ په بله کښې بنده کړي او همدارنګه د کړيو تناسب او توازن د پامه ونه غورځوي، نو د دغه ارشاد په بنياد به ارتې او پراخه زغرې جوړې کړې شي او د بدن ټول اندامونه به پرې پټېدلی شي.

## د ارشاد د تعميل يو مثال

۴_ په کوم ارشاد باندې چې الله ﷻ داوُد ﷺ مخاطب ګرځولی وه او مونږ ته يې په ﴿ وَٱعْمَلُواْ صَٰلِحًا ﴾ سره راحکايت کړې دي، د هغه د تعميل لاندې وضاحت ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ فَإِنَّهُ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا وَأَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ ﷻ صَلَاةُ دَاوُدَ كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيُصَلِّي ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ»[۲] يعني الله ﷻ ته د نفلي روژو محبوبه روژه د داوُد ﷺ روژه ده چې يقيناً هغه ﷺ به يوه ورځ روژه نيوه او بله ورځ به بوږه کېده (روژه به يې نه نيوله). همدارنګه الله ﷻ ته د نفلي لمونځ محبوب لمونځ د داوُد ﷺ لمونځ وه چې نيمه شپه به ويده کېده او دريمه برخه شپه به يې لمونځ کاوه او بيا به شپږمه برخه ويده کېده.

يا په بل عبارت: داوُد ﷺ ټوله شپه په شپږو برخو وېشلې وه چې نيمه شپه (درې برخې) به ويده کېده او يو ثلث (دوه برخې) به يې لمونځ کاوه او يو سدس (يوه برخه) به بيا ويده کېده، نو په هره شپه کښې به يې څلور برخې لمونځ کاوه او دوه برخې به ويده کېده.

ب: داوُد ﷺ د خپلو بيبيانو او خپلو اولادونو دپاره د عبادت کولو مهال وېش جوړ کړی وه او هر يوه ته يې بېل-بېل وختونه ټاکلي وه، نو په شپه او ورځ کښې به داسې وخت نه تېرېده چې د ده ﷺ د ټبر څخه به څوک په لمانځه باندې مشغول نه وه[۳].

## سليمان ﷺ ته د باد تسخير

۵_ په ﴿ وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ ﴾ کښې د باد تسخير ته اشاره ده چې مونږ د الله ﷻ په توفيق همدا موضوع د [الأنبياء: ۸۱] ايت لاندې څېړلې ده، په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو[۴] چې:
کله چې به د سليمان ﷺ خوښه شوه نو د سبا د پلوه به د خپلو ټولو لښکريانو سره د دمشق ښار څخه اصطخر ښار ته والوت، او هلته به يې د غرمې خوراک او څښاک وکړ، بيا به د اصطخر څخه د بېګا د پلوه د کابل ښار ته را الوت، او دلته به يې شپه تېره کړه. د ذکرو شوو دريوارو وطنونو (دمشق، اصطرخ، کابل) ترمنځ د يوې-يوې مياشتې فاصله ده، نو سليمان ﷺ به په حقيقت کښې

---

(۱) لسان العرب ج۸ ص۴۳۳
(۲) سنن ابن ماجه ص۱۲۳
(۳) الدر المنثور ج۶ ص۶۸۰
(۴) تفسير ابن کثير ج۳ ص۵۲۸، تفسير الطبري ج۲۲ ص۶۹، تفسير البغوي ج۳ ص۵۵۱، المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په یوه ورځ کښې د دوه وو میاشتو د مزله په اندازه مسافه طي کوله.

## عَيْنَ الْقِطْرِ څه معنی؟

٦_ د ﴿ وَأَسَلْنَا لَهُۥ عَيْنَ ٱلْقِطْرِ ﴾ د جملې تفسير د ځينو علماوو كرامو په نزد[١] په لاندې ټکو متکي دی:

الف: د "أَسَلْنَا" کلمه د "إِسَالَةٌ" _لکه "إِضَافَةٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې متعدي مصدر دی او د بهولو معنی ورکوي.

ب: د "عَيْن" کلمه دلته د چينې په معنی سره ده.

ج: د "قِطْر" کلمه د ذوب (ویلي) کړی شوو میسو (تانبې) دپاره وضعه شوې ده[٢].

د: ذکر شوې چينې د يمن په مملکت کښې موقعيت درلود[٣].

نو د معنی حاصل يې اسې راځېژي چې: مونږ سليمان ﷺ ته د يمن په مملکت کښې د ذوب (ويلې) کړی شوې تانبې چينه بهولې وه.

## سوال جواب

٧_ که څوک وايي چې: ذوب کړی شوي ميس (تانبه) خو بهېږي، بهول کېږي نه، او د "أَسَلْنَا" کلمه په بهولو باندې دلالت کوي نو په کار وه چې د دغې کلمې په عوض د "سَالَت" کلمه نازله شوې وی او دا ځکه چې چينه پخپله بهېږي او بهولو ته اړتيا نه لري، لکه څنګه چې په [الرعد:١٧] ايت کښې نازله شوې ده او د بهېدلو معنی ورکوي؛ نو د څه حکمت په بنياد دلته هم دغسې نازله نه کړی شوه؟

مونږ وايو چې. د همدغه اعتراض د قوت د کبله زمونږ په نزد دلته د "قِطْر" کلمه د ذوب کړی شوو ميسو په معنی نه بلکې د جامدو ميسو (تانبې) په معنی سره ده او د ﴿ عَيْن ﴾ کلمه د معدن څخه کنايه ده[٤]، نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېژي چې: مونږ سليمان ﷺ ته د جامدو ميسو (تانبې) معدن بهېدونکی (مائع معدن) ګرځولی وه، چې بدون د ګرمولو څخه په سانچو کښې د اچولو دپاره مساعد وه او ډول-ډول سامانونه به ترې تيارېدل.

لنډه دا چې داوُد ﷺ ته اوسپنه نرمه ګرځولې شوې وه او سليمان ﷺ ته ميس (تانبه) پاسته کړی شوې وه چې ګرمولو ته به يې اړتيا نه وه[٥]، خو دومره فرق وه چې اوسپنه به د داوُد ﷺ په ګوتو کښې نرمه وه او سليمان ﷺ ته د ميسو ټول معدن مائع ګرځولی شوی وه.

---

(١) تفسير الطبري ج٢٢ ص٦٩

(٢) لسان العرب ج٥ ص١١٥؛ القاموس المحيط ج٣ ص٦٤٣

(٣) المحرر الوجيز ج١٣ ص١١٥

(٤) تفسير القرطبي ج١٤ ص٢٧٠

(٥) زاد المسير ج٦ ص٢٢٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دواړه منافات نه لري

۸ـ په ﴿ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ کښې علماوو کرامو "عذاب السعير" په لاندې دوه وو معناوو تفسير کړی دی[۱]:

الف: الله ﷻ پیریانو ته اخطار ورکړی وه چې هرڅوک چې د سلیمان ﷺ د اطاعت څخه غاړه وغړوي او ناغېړي وکړي نو هغه ته به په آخرت کښې سوزوونکی عذاب وروڅکو او ورباندې به يې اخته کړو.

ب: الله ﷻ په پېريانو باندې يوه پرښته ټاکلې وه چې د اور متروکه به ورسره وه او هر پېرې به چې د سليمان ﷺ د اطاعت څخه غاړه وغړوله نو هغه به يې په همدغې اورينې متروکه باندې سماوه.

څرنګه چې دغه دواړه تفسيرونه سره يو تربله منافات نه لري نو بهتره ده چې يوې خواته هم تخصيص ورنه کړی شي.

## د پېريانو صنعت

۹ـ په ﴿ يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ ﴾ کښې اشاره ده چې پېريانو به سليمان ﷺ ته مختلفې چارې پرمخ بېولې، د مثال په توګه د دريابونو څخه به يې ورته جواهر راويستل چې په [الأنبياء:۸۲] ايت کښې ورته اشاره شوې ده؛ او په دې مقام کښې د هغوی د صنعت څه نور نومونه نازل شوي دي چې تفصيل يې لاندې لوستلی شئ:

الف: د "مَحَارِيبَ" کلمه د "مِحْرَاب" جمعه ده، مونږ د [مريم:۱۱] ايت لاندې د دغې کلمې دپاره متعددې معناوې ذکرې کړې دي، چې يوه معنی پکښې "دنګه او لوړه ماڼۍ" ده چې د لرې ځای څخه څرګندېږي؛ په دې مقام کښې علماوو کرامو په همدغې معنی سره اخستې ده[۲]. يعنې پېريانو د سليمان ﷺ دپاره لوړې لوړې او دنګې ماڼۍ او کلاګانې جوړولې چې د هغو جوړول به د بنيادم په توان کښې نه وه.

ب: د "تَمَاثِيل" کلمه د "تِمْثَال" جمعه ده، برابره خبره ده چې د "ت" توری يې زبر ولري، او يا زور[۳]؛ نو "تَمْثَال" د "ت" په زور سره د تفعيل د باب څخه د "مَثَّلَ" دپاره مصدر دی، او په زبر سره يې هغه صورت ته ويل کېږي چې د بل مخلوق په شکل جوړ کړی شي، برابره خبره ده چې بل مخلوق سالرونکی مخلوق وي او يا بې روحه وي.

په دې مقام کښې د ﴿ تَمَٰثِيلَ ﴾ کلمه د هغه "تِمْثَال" جمعه ده کوم چې د "ت" په زبر سره دی، پاتې شوه دا خبره چې دغه تماثيل او صورتونه به د کومو مخلوقاتو په شکلونو جوړول کېده؟. نو په دې کښې علماء کرام په لاندې دوه دوو ګروپونو وېشل شوي دي:

---

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۵۵۱
(۲) الدر المنثور ج۶ ص۶۷۹
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۶۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: ځینې وایي چې دا صورتونه د ژوندیو او سالرونکو مخلوقاتو په شکل نه وه، بلکې د بې روحه شیانو شکلونه او مجسمې وې چې د مختلفو فلزاتو، ډبرو او نورو شیانو څخه به د ډول او سنګار په غرض تراشل کېدل[۱]، اما د سا لرونکو مخلوقاتو صورتونه لکه چې زمونږ په شریعت کښې جواز نه لري همدارنګه یې په هغه شریعت کښې هم جواز نه درلود.

دوهم: ځینې علماء کرام وایي چې: ذکر شوي صورتونه د ژوندیو شیانو صورتونو ته هم شامل وه، که څه هم زمونږ په شریعت کښې د سا لرونکو شیانو صورتونه جواز نه لري، برابره خبره ده چې مجسمې وي او سوری لري، او یا نقوش وي چې سوری نه لري[۲]، مګر د هغه ﷺ په شریعت کښې یې جواز درلود[۳].

الله ﷻ دې ډېر ښه پوهېږي خو مونږ ته د اولنۍ ډلې علماوو کرامو قول بهتر برېښي چې دې کار به هلته هم جواز نه درلود، او زمونږ په شریعت کښې خو بالکل جواز نه لري برابره خبره ده چې د ژوندي مخلوق نقش وي او په کاغذ جوړ شوی وي او یا یې مجسمې وي، چې ځینو مفسرینو کرامو یې د تحریم په هکله زښت ډېر احادیث راغونډ کړي دي[۴] الله ﷻ دې اجر ورکړي، خو مونږ فقط د یوه حدیث په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

یوه ورځې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په یوه اوږه حدیث کښې یوه سړي ته ـ چې تصویرونه به یې جوړول ـ وویلې چې: «فَعَلَيْكَ بِهَذَا الشَّجَرِ وَكُلِّ شَيْءٍ لَيْسَ فِيهِ رُوحٌ»[۵] یعنې که ضرور د تصاویرو کارکوونکی یې او پرېښودونکی یې نه یې نو په تاباندې لازمه ده چې د دغو ونو او هغو شیانو تصویرونه جوړ کړې کوم چې روح نه لري او بې سا شیان دي.

ج: د "جِفَان" کلمه د "جَفْنَة" جمعه ده، "جَفْنَة" د "قُصْعَة" سره مرادفه ده او د هغې لویې کاسې یا لګن (ښانک) نوم دی کوم چې د لسو کسانو خوراک خایوي[۶]، خو څرنګه چې په دې مقام کښې ورسره د ﴿كَالْجَوَابِ﴾ کلمه نازله شوې ده نو دلته ترې ډېره لویه کاسه یا ډېر لوی لګن (ښانک) مراد دي. او دا څکه چې:

د: د "جَوَاب" کلمه په اصل کښې "جَوَابِيٌ" ـ لکه "نَوَاصِرُ" ـ وه چې د "جَابِيَةٌ" جمعه ده او د "جِبَايَةٌ" څخه یې اشتقاق موندلی دی، چې د راغونډولو معنی ورکوي[۷]، او د [القصص:57] ایت لاندې ښه شرحه شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې "جَابِيَةٌ" د اُوبو د حوض یو نوم دی، شاید چې دا نوم به ورته د دې کبله ایښودلی شوی وي چې حوض د اُوبو راغونډوونکی وي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱٤ ص۲۷۲؛ المحرر الوجیز ج۱۳ ص۱۱٦
(۲) روح المعاني ج۲۲ ص۱۱۹
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۷۲
(٤) تفهیم القرآن ج٤ ص۲۹۳
(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۲۹٦
(٦) تحفة الأحوذي شرح الترمذي ج۵ ص٤۷٤
(۷) مفردات الراغب ص۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: پېریانو به سلیمان ﷺ ته د فلزاتو څخه داسې کاسې او لگنونه (ښانکونه) جوړول چې په پراخوالي کښې به د اُوبو حوضونو (تالاوونو) ته ورته وه.

هـ: د "قُدُور" کلمه د "قِدْر" _لکه "عِلْم" _ جمعه ده، "قِدْر" د هغه دېگ دپاره نوم دی په کوم کښې چې غوښې پخولی کېږي؛ خو په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د ﴿ رَّاسِيَٰتٍ ﴾ په کلمې سره توصیفه شوې ده، چې په ډېر لویوالي باندې یې دلالت کوي. او دا ځکه چې:

و. د "رَاسِيَات" کلمه د "رَاسِيَة" جمعه ده او د "رَسَوَ، رَسُوُ" څخه یې اشتقاق موندلی دی چې د ثبوت معنی ورکوي[١].

یعنې پېریانو به سلیمان ﷺ ته د فلزاتو څخه داسې لوی پښې (نغري) لرونکي دیگونه جوړول چې په ځای په اینښي وه او د وړپورته کېدلو دپاره به یې د زینو څخه کار اخستل کېده[٢]. بلکې د پېریانو څخه په غیر به بل چا حرکت هم نه شو ورکولی.

## نحوي تحليل

١٠_ که څه هم علماوو کرامو د ﴿ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗا ﴾ په جمله کښې متعدد تحلیلونه کړي دي[٣]؛ خو مونږ د یوه تحلیل په ذکر باندې اکتفاء کوو چې په لاندې ټکو باندې ولاړ دی:

الف: د ﴿ ءَالَ دَاوُۥدَ ﴾ د کلماتو سره د "یا" توری مقدر دی او د سلیمان ﷺ په شمول د داؤد ﷺ ټوله اولاده ترې مراده ده.

ب: د ﴿ شُكۡرٗا ﴾ کلمه د ﴿ ٱعۡمَلُوٓاْ ﴾ دپاره مَفعُول لَهُ ده.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای د داوُد ﷺ اولادې! تاسو د خپل پلار په شان د شکرگزارۍ دپاره نېک عملي وکړئ او ناشکران مه جوړېږئ چې په ناشکرۍ کښې د نعمت زوال نغښتی دی.

## خارق العاده مرگ

١١_ په ﴿ فَلَمَّا قَضَيۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَوۡتَ ﴾ الآية، کښې د سلیمان ﷺ خارق العاده مرگ ته اشاره ده، د دغه خارق العاده مرگ قیصه خینو مفسرینو کرامو په تفصیل سره لیکلې ده[٤] خو د اسرائیلیاتو څخه خالي نه ده[٥]، د همدې کبله یې مونږ دلته په تفصیل سره نه رانقلوو او فقط د هغو ټکو په ذکر باندې یې اکتفاء کوو کوم چې د ایت شریف سره ډېر نژدې تړاو لري هغه دا:

الف: خینو مفسرینو کرامو ته بهتره بریښېدلې ده چې په ﴿ مَا دَلَّهُمۡ عَلَىٰ مَوۡتِهِۦٓ ﴾ کښې د "هُمْ" ضمیر پېریانو ته راجع شي[٦] مگر غوره دا ده چې ذکر شوی ضمیر د وخت ټولو خلکو ته راجع شي

---

(١) القاموس المحيط ج٢ ص٣٤٠
(٢) اللباب في علوم الكتاب ج١٦ ص١٩
(٣) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٤ ص٨٣
(٤) تفسير الطبري ج٢٢ ص٧٤؛ تفسير البغوي ج٣ ص٥٥٢؛ الدر المنثور ج٦ ص٦٨٢
(٥) تفسير ابن كثير ج٣ ص٥٣٠؛ تفسير القرطبي ج١٤ ص٢٧٨؛ المحرر الوجيز ج١٣ ص١٢٤
(٦) روح المعاني ج١٢ ص١٢١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برابره خبره ده چې پېريان وي او كه بنيادمان[١]، او دا خكه چې د سليمان ﷺ په مرګ باندې د هغه د راپرېوتو څخه وړاندې د پېريانو په شمول هيڅوک پوه نه وه، يوازې وينې ورباندې خلک خبر کړه چې د سليمان ﷺ همسا يې وخوړه او هغه ﷺ راپرېووت.

ب: د ﴿ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ ﴾ په ارتباط ټول مفسرين كرام متفق دي چې د ﴿ دَآبَّةُ ﴾ كلمې څخه هغه سپين رنګې حشره مراد ده كومه چې لرګي خوري، چې په پښتو ژبه كښې ورته "وِينَه" وايي او په عربي ژبه كښې په دوه وو نومونو باندې بلله كېږي چې يو د "أَرَضَة" كلمه ده ـ لكه "خَشَبَة" ـ، او بل د "سُرْقَة" كلمه ده ـ لكه "قُدْرَة" ـ[٢].

خو د ذكر شوي عبارت څخه د همدغه مطلب په راويستلو كښې دوی په لاندې ډول اختلاف لري:

اول: څينې وايي چې: د "أَرْض" كلمه په دې مقام كښې په متعارفه معنى سره نه ده چې په ځمكه ترې تعبير كوو، بلكې دلته دغه كلمه مصدر ده او د وينو د خوراک معنى وركوي[٣] لكه چې عرب وايي: "أَرَضَتِ الدَّابَّةُ الْخَشَبَةَ" يعنې وينې لرګي خوړلي وه؛ خو په دې معنى باندې په بل ايت كښې نه ده استعماله شوې.

په دې تقدير د "دَابَّة" كلمې خپل فعل ته اضافت موندلى دى لكه څنګه چې په "بَقَرَةُ الْحَرْث" كښې د "بَقَرَة" كلمه خپل فعل (حَرْث) ته مضافه شوې ده، يعنې د زراعت غوا.

دوهم: د "أَرْض" د كلمې څخه خپله متعارفه معنى (ځمكه) مراده ده خو ﴿ دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ ﴾ په دې مقام كښې د وينې معنى وركوي چې په متصله جمله ﴿ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ ﴾ كښې تفسيره شوې ده، او دا څكه كومه حشره چې لرګى (همسا) خوري هغه وينه نومېږي.

ج: د "مِنسَأَة" كلمه د آلې صيغه ده چې د "نَسْء" ـ لكه "ضَرْب" ـ څخه يې اشتقاق موندلى دى، "نَسْء" وروسته كولو معنى وركوي[٤] همسا ته څكه د "مِنْسَأَة" لقب وركړى شوى دى چې په دې سره ضررې شيان د خپله ځانه ېبرته كول كېږي او سپي ورباندې شړل كېږي.

د: په ﴿ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ٱلْغَيْبَ ﴾ كښې د ﴿ تَبَيَّنَتِ ﴾ كلمه د "تَبَيُّن" ـ لكه "تَكَرُّم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې په دې مقام كښې لاندې دوه معناوې درلودلى شي[٥].

اول: يوه د پوهېدلو معنى ده. يعنې نو كله چې سليمان ﷺ سقوط وكړ نو پېريان پوه شوه چې دوی په غيبو باندې علم نه لري، كه نه نو د سليمان ﷺ مرګ به ورته معلوم شوى وى او دَابَّةُ الْأَرْض (وينه) به يې ښوونكې نه وى جوړه شوې.

---

(١) نظم الدرر ج٦ ص١٦٦
(٢) لسان العرب ج٧ ص١١٣؛ روح المعاني ج٢٢ ص١٢١
(٣) تفسير الكشاف ج٣ ص٥٧٣
(٤) مفردات الراغب ص٥١١
(٥) اللباب في علوم الكتاب ج١٦ ص٣٤؛ تفسير ابي السعود ج٧ ص١٢٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې معنی په اختلو سره يوه پوښتنه راولاړيږي هغه دا چې: ايا تر دغه وخته پورې پېريان نه پوهېده چې دوی په غيبو باندې نه پوهېږي؟، يا په بل عبارت: ايا تر دې وخته پورې دوی په مرکب جهل سره جاهلان وه؟

خو دا پوښتنه په دوه وو جوابونو سره جوابېدلی شي:

يو دا چې: دلته د ﴿ٱلْجِنُّ﴾ څخه عوام پېريان مطلب دي. يعنې په دغه وخت کښې عوام پېريان پوه شوه چې د دوی خواص په دروغو د علم الغيب دعوه کوي.

بل دا چې: په دغې جمله کښې د ټولو پېريانو توبيخ نغښتی دی. يعنې دوی د علم الغيب مدعيان وه خو دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ (وينې) پوه کړه چې تاسو دروغ واياست.

د دې جملې مثال دا دی چې څوک خپل عنادي مدعي ملامت کړي او بيا ورته ووايي چې ته اوس په خپله غلطۍ پوه شوې.

دوهم: بله د څرګندېدلو معنی ده، چې د دې معنی په اراده کولو سره وروسته متصله جمله ﴿أَن لَّوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ٱلْغَيْبَ﴾ د ﴿ٱلْجِنُّ﴾ کلمې څخه بدل واقع کېږي. يعنې: په دغه وخت کښې د پېريانو حال هر چاته څرګند شو چې دوی په غيبو باندې نه پوهېږي، که نه نو د سليمان ﷺ په مرګ باندې به پوه شوي وی، چې د هر چا څخه يې پټ صورت نيولی وه.

مونږ ته همدغه معنی غوره برېښي، چې د يو پلوه بې تکلفه ده او سوال جواب پکښې صورت نه نيسي، او د بله پلوه پکښې د دې زماني خلکو ته هم ارشاد نغښتی دی چې علم الغيب يوازې په الله ﷻ پورې مختص وبېژني.

## سوالونه او جوابونه

۱۲_ په دې مقام کښې د سرې په زړه کښې لاندې پوښتنې تاوېږي راتاوېږي:

الف: د سليمان ﷺ وفات څومره وخت پټ وه؟

جواب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روايت په بنياد تر يوه کاله پورې سليمان ﷺ وفات شوی په همسا باندې ولاړ پټ پاتې شوی وه[۱].

ب: ايا دا کار محال نه دی چې مړی دې تر يوه کاله پورې په همسا باندې ولاړ پاتې شي؟

جواب: دا کار د خوارقو څخه وه او خوارق خو ټول عادةً محال وي او ذاتًا ممکن وي، يا په بل عبارت: ټول معجزات د همدې قبيلې څخه دي.

په دې مقام کښې خينو مفسرينو کرامو د همدې آخر الزمان أمت د دوه وو مړو دوه عجيبې قيصې ليکلې دي چې: يو مړی د څو کالو را په دې خوا ولاړ دی، او بل مړی د څو سوه کاله راپه دې خوا ناست دی[۲]؛ دغه دواړه مړي په بېلو-بېلو وطنونو پورې ارتباط لري، که څوک يې د لوستلو

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۶۸۳
(۲) نظم الدرر ج۶ ص۱۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

ج: د سليمان ﷺ د مرګ په پټ ساتلو کښې څه حکمت وه؟

جواب: دغه حکمت ته په عين ايت شريف کښې اشاره شوې ده چې ترڅو د علم الغيب د مدعيانو دعوه تکذيبه شي.

د: ايا د سليمان ﷺ مرګ په بيابان کښې وه چې سقوط يې د پېريانو د نظر لاندې واقع شو؟

جواب: دغه مرګ په يوه کوټه (عبادتځاى) کښې صورت نيولى وه چې وړاندې او بهرته يې کړکۍ درلودې[1]، او يا دغه کوټه د ښيښې څخه جوړه وه چې د ليدلو مانعه نه وه[2].

ه: ايا تر يو کاله پورې د سليمان ﷺ خپلو مقربينو هم پوښتنه ونه کړه چې مړ دى او که ژوندى دى، څه ضرورت لري او که نه؟

جواب: د سليمان ﷺ عادت وه چې په مياشتو مياشتو به يې په عبادتځاى کښې خلوت خوښاوه[3] نو هغوى به ګومان کړى وي چې دا خل به يې هم خپل ځان د عبادت دپاره فارغ ګرځولى وي.

و: کله به چې سليمان ﷺ مياشتې مياشتې په خلوت کښې تېرولې نو د خوراک او څښاک بندوبس يې په څه ډول صورت نيوه؟

جواب: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې سليمان ﷺ به خوړى د خپل ځان سره اخسته او بيا به خلوت ته داخلېده[4] لکه څنګه به چې نبي کريم ﷺ د خپله ځانه سره د حراء د غره څوکې ته خوړى او توښه پورته کوله. مګر بهتر جواب دا دى چې: په دغه وخت کښې به سليمان ﷺ خوراک او څښاک ته ضرورت نه درلود او شپه او ورځ به روژه وه، لکه څنګه چې موسى ﷺ د مناجات په وخت کښې څلوېښت ورځې او شپې روژه نېولې وه.

د همدې موضوع ښه وضاحت د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:٥١] ايت لاندې تېر شوى دى، او د يوه حديث شريف په ضمن کښې وړاندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده.

## د سليمان ﷺ ټول عمر

۱۳ـ د سليمان ﷺ عمر ته مفسرينو کرامو[5] په لاندې ډول تفصيل ورکړى دى:

الف: سليمان ﷺ ديارلس (۱۳) کلن وه چې پاچا شو.

ب: څلوېښت (۴۰) کاله يې په نبوت او حکومت کښې تېر کړه.

ج: بالآخره د خپل عمر په درې پنځوس (۵۳) کلنۍ کښې وفات شو، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

په همدې هکله څه نور روايات هم شته[6] خو الله ﷻ پوهېږي چې رښتيانى عمر به يې څومره وه؟

---

(۱) تفسير تيسير الرحمن ج۲ ص۱۶۸
(۲) روح المعاني ج۲۲ ص۱۲۳
(۳) تفسير الخازن ج۴ ص۱۵۳؛ تفسير الطبري ج۲۲ ص۷۵
(۴) تفسير البغوي ج۳ ص۵۵۲؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۲۹
(۵) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۸۲
(۶) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ ءَايَةٌ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ كُلُوا۟ مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ
وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ ﴿١٥﴾ فَأَعْرَضُوا۟ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ ٱلْعَرِمِ
وَبَدَّلْنَٰهُم بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَىْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَىْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ ﴿١٦﴾ ذَٰلِكَ
جَزَيْنَٰهُم بِمَا كَفَرُوا۟ وَهَلْ نُجَٰزِىٓ إِلَّا ٱلْكَفُورَ ﴿١٧﴾ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ ٱلْقُرَى ٱلَّتِى
بَٰرَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَٰهِرَةً وَقَدَّرْنَا فِيهَا ٱلسَّيْرَ سِيرُوا۟ فِيهَا لَيَالِىَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ ﴿١٨﴾ فَقَالُوا۟
رَبَّنَا بَٰعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا وَظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنَٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّ فِى
ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا
مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَٰنٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِٱلْءَاخِرَةِ مِمَّنْ
هُوَ مِنْهَا فِى شَكٍّ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾ ﴾

[١٥] يقينًا د سبا قبيلې دپاره په خپل استوګنځای کښې (د الهي قدرت ډېره لويه) نښه وه (هغه دا چې): دوه (ستر-ستر) باغونه (د دوی) د ښي اړخ او چپ اړخ څخه (غزېدلي) وه.

(دغې قبيلې ته د پيغمبرانو د پلوه ووېلی شوه چې) تاسو د خپل رب ﷻ د (ورکړی شوي) روزۍ څخه خورئ او همده ﷻ ته (په انقياد سره) شکرګزاري وکړئ. (او دا ځکه چې:

(ستاسو ښار) ډېر پاکيزه ښار دی او (رب ﷻ مو) ډېر بښونکی رب دی.

[١٦] نو هغوی (د پيغمبرانو د دعوت څخه) اعراض وکړ، نو مونږ وربانديې د بند (ډېر) سېلاب وروليږه (ورخلاص کړ).

او د هغوی (ذکر شوي) باغونه مو په داسې دوه وو باغونو تبديل کړه چې د بې مزو (تروو او ترخو) مېوو او د غزونو د ونو او بېرو د ونو څخه د لږ شي خاوندان (درلودونکي) وه.

[١٧] دغه (ذکر شوی مصيبت) مونږ هغوی ته د هغوی د کفر په سبب جزا ورکړه، او ايا مونږ (دغسې سخته) جزا ورکوو (نه يې ورکوو) مګر ناشکرانو ته.

[١٨] او (د سبا قبيلې ته مونږ نور نعمتونه هم ورکړي وه، د مثال په توګه) مونږ د هغوی او د هغو کلو (ښارونو) ترمنځ ځرګند کلي (او ښارونه) ګرځولي وه، په کومو کښې چې مونږ برکتونه اېښي دي (چې د شام د ښارونو څخه عبارت دي)، او مونږ په دغو (ځرګندو کلو او ښارونو) کښې تلل په اندازه کړي وه (چې د هغوی په مسافرانو باندې په بيابان کښې شپه ورنه شي).

(هغوی ته د خپلو پيغمبرانو د پلوه ويل شوي وه چې) تاسو په دغو ځرګندو ښارونو کښې په شپو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او ورځو د امنیت درلودونکو په حال کښې ځئ راځئ (ګرځئ راګرځئ).

[۱۹] نو د سبأ قبیلې (په جواب کښې) وویلې چې ای زمونږ ربه! زمونږ د سفرونو (سفري منزلونو) ترمنځ لرېوالی واقع کړې (دغه نعمت راڅخه واخلې)، او په خپلو ځانونو باندې یې ظلم وکړ.

نو مونږ هغوی (د خلکو په منځکښې) قیصې وګرځول (چې د ضرب المثل په توګه یې یادوي)، او هغوی مو تار په تار (تیت پرک) کړه، نهایت تار په تار کول.

یقینًا په دغه (بیان) کښې د هر صبر کوونکي (او هر) شکرګزار دپاره زښت ډېر (د قدرت) دلایل نغښتي دي.

[۲۰] او یقینًا د سبأ په قبیله باندې ابلیس خپل ګومان (خپل اټکل) رښتیا کړ، نو ټولو یې پیروي وکړه، مګر په یوه فرقه (ډله) باندې (یې خپل ګومان رښتیا نه کړی شو) چې د مؤمنانو د ډلې څخه عبارت ده.

[۲۱] او (حال دا چې) ابلیس لره په هغوی باندې هیڅ سلطه (او قوت) نه وه (فقط دعوت یې ورکړ او هغوی قبول کړ).

(مونږ د بل هیڅ شي د کبله ذکر شوي امتحان ته صورت ورنه کړ) مګر د دې دپاره چې مونږ (په شهودي علم سره) په هغه چا باندې علم ولرو، کوم چې په آخرت باندې ایمان راوړي (او) د هغه چا څخه (یې جدا کړو) کوم چې د آخرت څخه په شک (او انکار) کښې واقع وي.

او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ په هر شي باندې ساتونکی دی (خو په امتحان کښې زښت ډېر حکمتونه مرموز دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د شاکرانو انجام ته اشاره شوې ده چې سلیمان ﵇ د خپل مرګ څخه وروسته هم تر یوه کاله پورې د خپل مملکت اداره وکړه او انحلال ته یې پرېنښود. او په دې ایتونو کښې د ناشکرانو انجام ته اشاره کېږي چې الله ﷻ ترې خپل نعمتونه بېرته واخستل او مملکت یې ورته درې وړې کړ. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د شاکرانو د بیان څخه وروسته اوس په خپل اُمت باندې د ناشکرانو د حالاتو بیان قرائت کړه ترڅو ترې عبرت واخلي، هغه دا چې:

۱ ـ د سبأ د قبیلې دپاره ـ په نورو دلایلو باندې علاوه ـ د دوی په خپل استوګنځای او خپل وطن کښې هم د الله ﷻ د وحدانیت ډېر لوی دلیل موجودیت درلود، که دوی بل هیڅ دلیل ته توجه نه وی کړې هم یوازې همدغه یوه دلیل کفایت کاوه چې په ایمان باندې مشرف شوي وی او د شکرګذارانو څخه ګرځېدلي وی. د دوی وطنی او کورنی دلیل په لاندې ټکو کښې توضیح کېږي:

الف. د سبأ قبیلې د خپل وطن د دوه وو غرونو ترمنځ ډېر لوی ډنډ درلود چې د باران اوبه به پکښې راغونډېدلې او دوی به ترې د کال دولس میاشتې استفاده کوله، چې هیڅکله به د اوبو د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي؛ موږ ته مصالح ښکاري.

ب- په دغه ډول ښاندي د هغوی وطن ډېر ترو تازه وه حتی چې د پایتخت ښي خوا او چپې خوا ته یې د هر ډول میوجاتو په ونو او ګلونو ښکلې ښه کې باندي باغونه درلوده.

ج- هغوی باغونه دومره ګڼ او ډېر وه چې یو د بل سره نښتي وه، تا به ویل چې یو باغ د پایتخت ښي طرف ته واقع دی او بل باغ یې چپ طرف ته.

ح- هغوی ته د وخت د پیغمبرانو د پلوه ویل شوي وه چې: تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو او د هغې روزي څخه استفاده وکړئ کومه چې تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه درکوله شوې ده او په پراخه پیمانه یې ستاسو په واک کښې درکړې ده.

د- خو د دې سره سره تاسو خپل رب ﷻ په اطاعت سره یاد کړئ او د نعمتونو شکریه یې وکړئ، ستاسو رب ﷻ لکه څنګه چې د نعمتونو په درکولو باندې قدرت درلود، همدارنګه په بېرته اخستلو باندې هم د کامل قدرت څښتن دی.

د خپل رب ﷻ څخه وېرېږئ او د جنایتونو د ارتکاب څخه لاس واخلئ؛

هـ ستاسو ښار (وطن) ډېر سپېڅلی ښار او ډېر پاکیزه وطن دی، نو تاسو هم خپل ځانونه په الهي عبادات سره سپېڅلي او پاکیزه جوړ کړئ. دا فرصت د لاسه مه ورکوئ، بیا به ارمان کوئ خو څه به لاس ته نه درځي. تاسو د جنایتونو څخه توبه تائب شئ او د خپل رب ﷻ د غفوریت څخه ګټه اوچته کړئ، که نه نو ستاسو رب ﷻ لکه چې غفور دی همدارنګه قهار هم دی.

۲_ ای پیغمبره! ذکر شوې مالدارې قبیلې د خپلو ناصحانو خبره ونه منله او خپلو جنایتونو ته یې ادامه ورکړه چې په نتیجه کښې ورسره مونږ داسې چال چلند وکړ چې:

الف: کوم ډنډ (ډېم) چې مونږ د ذکر شوې قبیلې د خوشالی او د وطن د تازګی سبب ګرځولی وه، همغه مو ورته د تباهی او خفګان سبب جوړ کړ. نو همغه ډېم مو ورته یو عظیم الشان سېلاب وګرځاوه چې ابادی یې ورته په کنډوالو بدلې کړې او ښارونه یې ورته په بېدیا واړول.

ب- د هغوی باغونه مو ټول وچ کړه، د باغونو کومه اوږده سلسله چې د پایتخت په دواړو خواوو کښې غزېدلې وه همغه مو ورته په داسې باغونو باندې عوض کړه چې:

اول د داسې بې خونده میوجاتو درلودونکي وه کوم چې د بنیادمانو د خوراک وړ نه وه.

دوهم هلته مو څه بوټي د ځنګلي غزونو څخه هم را وټوکول.

دریم بالآخره په عین ځای کښې د ځنګلي بېرو څخه څه لږې ونې رازرغونې شوې.

۳_ مونږ ذکر شوې تبدیل ته د هغوی د ناشکری او کفر په سبب صورت ورکړ، او خپل نعمتونه مو ترې بېرته واخستل.

ایا مونږ په دنیا کښې دغسې درنه جزا د ناشکرانو څخه پرته بل چاته ورکوو؟ ایا مونږ د هغو خلکو څخه خپل نعمتونه بېرته اخلو کوم چې خپلو ځانونو ته د ناشکری په لور تغیر نه وی ورکړی؟

۴_ ای پیغمبره! مونږ د سبا قبیلې ته د ذکرو شوو نعمتونو څخه علاوه نور ډېر نعمتونه هم

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړي وه، لاندې مثالونه يې ولولی:

الف: مونږ د دغې قبيلې او د برکتناکې ځمکې (شام) ترمنځ بيابانونه او بېدياوې د منځه وړې وې بلکې منزل په منزل او مېنه په مېنه سو ورته ښارونه اباد کړي وه چې مسافرو به د يوه ښار څخه بل ښار ته شپه رسولی شوه او په بېديا کښې به ورباندې شپه نه ورتله، د مسافرو څخه به چې کله يو ښار پنا شو نو سمدستي به ورته بل ښار په نظر ورغی. او دا څکه چې مونږ د لارې په اوږدو کښې سفري مسافې اندازه کړې وې.

ب: د ذکر شوي سفر په اوږدو کښې مونږ د سبأ قبيلې مسافرينو ته امنيت ورکړی وه، چې د غلو او دارمارانو خطر هلته نه د ورځې او نه د شپې موجوديت درلود. که بالفرض د هغوی څخه کوم يوه مسافر د شپې د پلوه سفر کړی وی هم، د هيڅ خطر سره به نه وی مخامخ شوی.

هغوی داسې مطمئن وه لکه چې (دوی ته د پيغمبرانو عليهم السلام په وساطت) داې ورکړی شوی وي چې: ای د سبأ قبيلې! تاسو په دغې اوږده مسافه او په دغو ځرګندو ښارونو کښې په شپو او ورځو کښې تلل راتلل وکړئ او د هيچا او هيڅ شي څخه مه دارېږئ.

۵ـ د سبأ قبيلې لکه څنګه چې د خپل وطن د ښېرازۍ شکريه ونه کړه همدارنګه يې د ذکر شوي امنيت حق هم اداء نه کړی شو، او په خپلو ځانونو باندې يې ظلم وکړ.

نو د همدې کبله يې د خپل رب ﷻ څخه د حال (يا د قَال) په ژبه وغوښتل چې: ای زمونږ ربه! زمونږ سفري منزلونه او مېنې لرې-لرې وګرځوه او د لارې په اوږدو کښې مو د خطراتو سره مخامخ کړه (خپل امنيت راڅخه بېرته واخله).

۶ـ ای پيغمبره! نو مونږ د ذکر شوو ناشکريو د امله د هغوی اجتماعي موجوديت د منځه يووړ او په دنيا کښې مو خواره واره وګرځول، چې د هر ډول خطرونو او احتياجاتو سره لاس او ګرېوان جوړ شوه.

بې شکه د ذکرې شوې قبيلې په حالاتو کښې د هر صبر کوونکي او هر شکرګزار بنده دپاره د الله ﷻ د قدرت ډېرې لويې عظيم الشانې نښې نغښتې دي، نو ستا اُمت ته په کار دي چې عبرت ترې واخلي او د نعمتونو شکريه وکړي او هم د منهياتو څخه خپل ځانونه بچ وساتي او يا ترې لاس واخلي، ترڅو د هغوی د سرنوشت او برخليک سره مخامخ نه شي.

۷ـ ابليس (غټ شيطان) د سبأ په قبيله باندې خپل ګومان رښتيا کړ، چې ټول يې بې لارې کړه، فقط يوه ډله ترې بچه پاتې شوه چې هغه د مؤمنانو ډله وه. په ذکره شوې قبيله باندې شيطان څه سلطه نه درلوده چې په زور سره يې بې لارې کړې وی او په ناشکرۍ باندې يې اخته کړې وی.

هغوی د شيطان په سبب فقط د امتحان لاندې واقع شوه چې په نتيجه کښې د ناکامۍ سره مخامخ شوه او په امتحان کښې پاتې راغله. او دا څکه چې:

مونږ په هيچا باندې شيطان نه دی مسلط کړی بلکې د ده په سبب خلک فقط د امتحان لاندې واقع کوو، ترڅو مونږ ته يو ځل بيا هغه څوک کوم چې په آخرت عقيده لري د هغه چا څخه جدا او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معلوم شي کوم چې د آخرت په هکله په شک او شبه کښې پروت وي.

۸ـ ای پیغمبره! ستا رب ﷻ په خپل کامل علم کښې او هم په لوح محفوظ کښې د هر شي ساتونکی دی نو امتحان ته د تازه معلوماتو د تحصیل دپاره ضرورت نه ورکوي، بلکې د عمل په میدان کښې د خپل ازلي علم د پیاده کولو دپاره ضرورت ورکوي. ترڅو د قیامت په ورځ عاصیان بنده ګان اعتذار وړاندې نه کړی شي چې مونږ خو جنایات نه دي کړي، باید مونږ د عمل په میدان کښې امتحان کړی شو، که په امتحان کښې ناکام وګرځېدلو نو بیا به د جزا لیاقت ولرو.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ ءَايَةٌ ﴾ کښې د سبأ کلمه د څه شي څخه عبارت ده؟ ایا دا د کومې ښځې نوم ده او که د کومې ځمکې دپاره وضعه شوې ده؟

مونږ وایو چې: همدغې پوښتنې ته نبي کریم ﷺ په خپل یوه اورده حدیث کښې جواب فرمایلی دی چې: «لَيْسَ بِأَرْضٍ وَلَا امْرَأَةٍ وَلَكِنَّهُ رَجُلٌ وَلَدَ عَشَرَةً مِنَ الْعَرَبِ فَتَيَامَنَ مِنْهُمْ سِتَّةٌ وَتَشَاءَمَ مِنْهُمْ أَرْبَعَةٌ»[١] یعنې سبأ نه ځمکه وه او نه ښځه، بلکې د عربو څخه یو سړی وه چې لس اولادونه یې زیږولي وه (او د هر یوه څخه یو قوم جوړ شوی وه)، نو د دوی شپږو قومونو د یمن په اړونده سیمو کښې استوګنه غوره کړه او څلورو قومونو یې د شام په مربوطاتو کښې سکونت اختیار کړ.

یا په بل عبارت: کله چې د ذکرو شوو لسو قومونو په وطن باندې ډېر (بند) ورخوشې شو نو ډېر خلک یې هلاک شوه او ابادي یې ړنګې شوې، خو کومو کسانو چې نجات وموند هغوی د شام او یمن په مربوطاتو کښې خواره واره شوه[٢].

د مدینې منورې ـ چې اصلي نوم یې یثرب وه ـ اصلي ابادونکي د اوس او خزرج دوه قبیلې دي، دوی هم د سبأ د اولادې څخه دي، او دغه منطقه د یمن د نواحیو څخه شمېرله کېږي؛ د همدغو دواړو قبیلو په اجازه پکښې د یهودانو درې قبیلې وروسته مېشتې شوې دي، چې د بني قینقاع، بني نضیر او بني قُریظه وو څخه عبارت دي[٣].

## بیا هم د "سبأ" کلمه

۲ـ که څه هم د ذکر شوي حدیث شریف په بنیاد د سبأ کلمه اصلاً د یوه عرب سړي نوم وه. مګر په محاوراتو کښې په لاندې معناوو کښې هم استعمالېږي:

الف: هغه ښارونه او کلي په کوم کښې چې د نوموړي سړي اولاده اوسېدله، کوم چې د یمن د مربوطاتو څخه وه او پایتخت یې "مأرب" نومېده چې د صنعاء د ښار څخه درې فرسخه لرې پروت دی[٤].

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٥٨؛ سنن ابي داود ج٢ ص١٩٨
(٢) البحر المحيط ج٨ ص٥٣٩
(٣) اللباب في علوم الكتاب ج١٦ ص٤٠
(٤) نظم الدرر ج٦ ص١٦٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دغو ښارونو باندې د سليمان عليه السلام په زمانه کښې د بلقيس حکومت وه چې بالآخره د بوت پرستۍ څخه توبه تائب شوه او په اسلام باندې مشرف شوه.

همدا معنی ترې په [النمل:۲۲] ايت کښې مراده ده چې څه شرحه يې همځلته تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ب: هغه قومونه کوم چې د نوموړي عربي سړي د زوزات څخه تشکيل شوي وه، چې مونږ ترې په قبيله يا قبائلو سره تعبير کولی شو.

په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مطلب ده[1].

د سبأ د کلمې نظائر په نورو ژبو کښې هم موندلی کېږي، د مثال په توګه د "مومند" کلمه د يوه پښتون سړي نوم وه چې په محاوراتو کښې يې د هغه زوزات په اوسېدنځای او پخپله د هغه په زوزات دواړو باندې اطلاق کېږي.

## عجائب او غرائب

۳ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو[2] زښت ډېر عجائب او غرائب ليکلي دي که څوک يې د لوستلو شوق لري نو همځلته دې مراجعه وکړي، مونږ دلته د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړه.

## يو اعرابي تحليل

۴ـ د ﴿ جَنَّتَانِ ﴾ په اعراب کښې مفسرينو کرامو متعدد تحليلونه کړي دي[3] خو کوم تحليل چې مونږ ته غوره برېښي هغه دا دی چې:

الف: ذکره شوې کلمه مبتدأ ده او د دوه باغونو څخه د باغونو دوه مجموعې مطلب دي، ته به وايې چې داسې نازل شوی دی: "مَجْمُوْعَتَانِ مِنَ الْجَنَّاتِ" نو په همدغه لحاظ نکره مخصصه ګرځي او د ابتدائيت صلاحيت مونده کوي.

ب: د ﴿ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ﴾ کلمات د ذکرې شوې مبتدأ خبر دی، چې دغه جمله د وړاندېنۍ جملې تفسير واقع کېږي. يعنې د سبأ قبيلې دپاره په خپل مسکن کښې د الله ﷻ کامل قدرت غټ دليل موجود وه که دوی ورته په دقت سره کتلي وی نو همدغه دليل کفايت کاوه چې هغوی په ايمان باندې مشرف شوي وی، هغه دا چې دواړو خواته يې د باغونو دوه وو غټو مجموعو موجوديت درلود.

۵ـ پاتې شوه دا خبره چې په ﴿ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ﴾ کښې د چا يا د څه شي ښی او چپ مراد دی، نو د دې دپاره علماوو کرامو متعدد احتمالات ليکلي دي[4]. هغه دا چې:

الف: د پايتخت (مآرب) دواړه خواوې د باغونو په ډېرو اوږدو ليکو باندې مشتملې وې.

---

(۱) تفسير المراغي ج۲۲ ص۶۹

(۲) زاد المسير ج۶ ص۲۲۹؛ تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۸۴؛ تفسير الطبري ج۲۲ ص۷۳

(۳) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۲۶؛ تفسير المظهري ج۸ ص۱۹

(۴) نظم الدرر ج۶ ص۱۶۸؛ تفسير الخازن ج۵ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د هر کور دواړه خواوې د باغونو درلودونکې وې.

ج: د دغه مملکت ټولې لارې او سړکونه په باغونو کښې غزېدلي وه. نو طبعي وه چې په دغو لارو او سړکونو باندې د تلونکو کسانو دواړه خواوې به باغونو احاطه کړې وې چې څينې به يې ښيو طرفونو ته او څينو به يې چپو طرفونو ته موقعيت درلود.

که څه هم ذکرې شوې درېواړه معناوې سره څه منافات نه لري او عبارت هم د درېواړو تحمل کولی شي، څه لرې نه ده چې درېواړه مرادې وې. مګر مونږ ته درېمه معنی په زړه پورې برېښي چې مبالغه پکښې زياته ده.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: د سبا قبيلې ته د چا د پلوه وويلی شوه چې: ﴿ كُلُواْ مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ ﴾ يعني تاسو د خپل رب ﷻ د درېبزو کړی شوي رزق او ميوجاتو څخه خورئ او شکريه يې کوئ؟

مونږ وايو چې: د دغې پوښتنې په جواب کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو وېشلی شوي دي:

الف: څينې وايي چې دا قيصه د عيسى ﷺ د ميلاد څخه وړاندې تېره شوې ده[۱] او ذکرې شوې قبيلې ته ديارلس (۱۳) پيغمبران وراستولی شوي وه خو هغوی د خپلو پيغمبرانو د ارشاداتو څه پروا ونه کړه.

ب: څينې نور وايي چې دا قيصه د عيسى ﷺ د ميلاد څخه وروسته واقع شوې ده[۲]، او مونږ د [المائدة:۱۹] ايت لاندې ليکلي دي چې په دغې زمانه کښې د کوم پيغمبر مبعوثيت په نصوصو باندې په اثبات نه دی رسېدلی. نو په همدې بنياد هغوی ته د حال په ژبه ذکر شوی نصيحت ابلاغ شوی وه. يا په بل عبارت: د هغوی حال غوښتنه کوله چې هغوی دې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه استفاده وکړي او هم دې ورباندې ايمان راوړي چې د نعمتونو کفران صورت ونه نيسي.

که څه هم ايت شريف د ذکرو شوو دواړو تفسيرونو تحمل کولی شي مګر مونږ ته لومړی تفسير په زړه پوری برېښي چې په راتلونکي متصل ايت کښې د ﴿ فَأَعْرَضُواْ ﴾ د کلمې سره په ډېر صراحت سره تطابق لري. والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآب.

## طَيِّبَةٌ څه معنی؟

۶ـ په ﴿ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ ﴾ کښې د ﴿ طَيِّبَة ﴾ کلمه د "خَبِيْثَة" کلمې ضد ده چې په متعددو معناوو سره تفسير کېدلی شي. خو څرنګه چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د ﴿ بَلْدَة ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده، نو د پاکيزه او سپېڅلي ښار معنی ورکوي، چې امنيت پکښې قائم وي او د ډېرو ښېګڼو

(۱) تفسير المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۲۶؛ تفسير زاد المسير ج۶ ص۲۲۹

(۲) تفسير المراغي ج۲۲ ص۶۹؛ تفهيم القرآن ج۴ ص۳۱۵؛ تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مرکز وي[۱]، حتی ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې: په دغه ښار کښې منګور، لړم او نورو زهري حشراتو شتون نه درلود او هوا يې د روغ صحت دپاره ډېره زیاته مساعده وه[۲].

## سَيْلَ الْعَرِمِ وپېژنئ:

۷ـ په ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ ﴾ کښې د ﴿ سَيْلَ ﴾ کلمه د سیلاب معنی ورکوي[۳]، او د ﴿ الْعَرِمِ ﴾ کلمه متعددې معناوې لري[۴] خو کومې معناوې چې مونږ ته بهترې برېښي هغه د لاندې دوه وو معناوو څخه عبارت دي:

الف: چې د ﴿ الْعَرِمِ ﴾ کلمه د "الشَّدِيد" معنی ورکړي[۵] او اضافت يې د "مَسْجِدُ الْجَامِع" د قبیلې څخه وګڼل شي. یعنې په سبأیانو باندې مونږ ډېر سخت او قوي سیلاب ورخوشې کړ چې وطن يې ورته په بل مخ واړاوه.

ب: چې دغه کلمه د "السَّد" د کلمې سره مرادفه وي، او د ډنډ دپاره وضعه شوې وي[۶] او اضافت يې د "غُلَامُ زَيدٍ" اضافت ته ورته شي. یعنې مونږ د سبأ په قبیله باندې د هغوی د ناشکرئ د کبله د ډېم سیلاب ورخوشې کړ، او د هغه شي څخه مو ورته مصیبت جوړ کړ کوم يې چې د کفران سبب ګرځېدلی وه.

## یو صرفي تحلیل

۸ـ په ﴿ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ ﴾ کښې د ﴿ ذَوَاتَيْ ﴾ کلمه د "ذو" کلمې د مربوطاتو څخه ده چې د خاوند معنی ورکوي، نو مونږ د ښه پوهېدلو دپاره د "ذو" د کلمې مربوطات د الله ﷻ په توفیق په لاندې ډول سره تشریح کوو:

الف: د "ذو" کلمه په اصل کښې "ذَوَوٌ" وه ـلکه "شَرَفٌ"ـ، نو وروستنی "و" د تخفیف د کبله حذف شو نو "ذَوًا" ترې جوړ شو، لکه چې د "عَصَوٌ" څخه په عین تحلیل سره "عَصًا" جوړېږي.

ب: بیا د ښه زیات تخفیف دپاره اولنی "و" هم حذف شو چې "ذًا" ترې جوړ شو.

ج: څرنګه چې په ذکرې شوې کلمې کښې اضافت شرط دی نو د اضافت په حال کښې دغه لومړی حذف شوی "و" بېرته راګرځي نو "ذو" لوستلی کېږي، لکه: ذُو مَالٍ (د مال خاوند).

د: همدغه حذف شوی "و" د مثنی او جمعیت په حالونو کښې هم بېرته خپل مقام اشغالوي، نو "ذَوَان، ذَوَين" او "ذَوُون، ذَوِين" لوستل کېږي.

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۵۶۳
(۲) تفسیر الطبري ج۲۲ ص۷۷
(۳) مفردات الراغب ص۲۵۹
(۴) زاد المسیر ج۶ ص۲۳۰؛ لسان العرب ج۱۲ ص۳۹۶
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۸
(۶) تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: د "ذو" مونثه کلمه "ذَوَاة" راځي، خو د اضافت په حال کښې ګرده "ة" مطوله او اوږده "ت" لیکله کېږي.

و: په همدغې مفرده مونثه کښې د تخفیف په غرض د "و" توری لوېدلی شي، نو د "ذوات" په عوض "ذات" لوستل کېږي، لکه "ذَاتُ الصُّدُور".

ز: خو دغه لوېدلی "و" د مثنی په حال کښې ضرور بېرته راګرځي او "ذَوَاتَان، ذَوَاتَيْن" لوستلی کېږي کله چې تری په اضافت سره "ن" هم ساقط شي نو "ذَوَاتَا، ذَوَاتَي" پاتې کېږي لکه ﴿ ذَوَاتَا أَفْنَانٍ ﴾ [الرحمن: ۴۸] او ﴿ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ ﴾ [سبا: ۱۶].

ح: اما د جمعیت په حال کښې د ذکر شوي لوېدلي "و" راګرځول او نه راګرځول دواړه جواز لري، او د خپل مفرد پیروي کوي. نو:

اول: "ذَوَات" بدون د تخفیفه په "ذَوَيَات" سره جمعه کېږي.

دوهم: او "ذَات" د تخفیف سره په "ذَوَات" سره جمعیت مومي.

## سوال جواب

ط: که څوک وايي چې: د ذکر شوي وضاحت په بنیاد د "ذَوَات" په کلمه کښې اشتباه واقع کېږي چې دا مفرده غیر مخففه صیغه ده، او که مخففه جمعه ده؛ نو ایا د دغې اشتباه پورته کولو څه چاره شته؟

مونږ وایو چې ذکرې شوې دواړه کلمې د مقام او موصوف په ذریعه یوه د بلې څخه پېژاندل کېږي او بېلیږي، نو په "امرءة ذوات مال" کښې د "ذَوَات" کلمه مفرده ده، یعنې یوه مالداره ښځه. او په "نسوة ذوات مال" کښې جمعه ده، یعنې ډېرې مالدارې ښځې.

## د څو لغاتو معناوې

۹ـ په ﴿ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ ﴾ کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: د "أُكُل" کلمه د مېوې او ثمرې معنی ورکوي[۱].

ب: د "خَمْط" کلمه د تریخ یا تریو شي دپاره وضعه شوې ده[۲].

ج: د "أَثْل" کلمه د هغې ونې نوم دی کومه چې په پښتو کښې د غزه په نامه یادېږي، او یا بله کومه بې مېوې ونه ده چې د غزه ونې ته ورته ده[۳].

د: د "سِدْر" کلمه د هغې ونې نوم دی کومې ته چې مونږ بېره وایو، چې یوه نوعه یې پسته ده، او

---

(۱) تفسیر المظهري ج۸ ص۲۱؛ البحر المحیط ج۸ ص۵۲۶؛ صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۸

(۲) روح المعاني ج۲۲ ص۱۲۷

(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۱۰؛ تفسیر الخازن ج۵ ص۱۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بله یې اغزي لرونکې ده چې استفاده ترې نه کېږي(۱). شاید چې دلته به همدغه نوعه مراده وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ذکرو شوو ونو په مجموعې باندې محض د مشاکلت په توګه د باغونو اطلاق شوی دی که نه نو هغه خو په حقیقت کښې باغ نه دی بلکې یو ځنګل دی.

نو حاصل یې داسې راخېژي چې: مونږ د سبأ د ښاریانو ښتیاني باغونه (چې ډول-ډول خوندورې مېوې یې درلودې) په داسې ځنګل باندې تبدیل کړه چې محض په نامه باغونه وه. او دا ځکه چې مېوجات یې تروه او ترخه وه چې د خوراک قابل نه وه، ډېرو لا هیڅ مېوه نه درلوده لکه د غزه ونې او نور، او په دغه سرچپه شوي باغ کښې د بېرو ونو څخه ډېر لږ شی وه چې د چا په درد نه دوا کېده.

## یو مهم مضمون

۱۰ـ د ﴿ وَهَلۡ نُجَٰزِيٓ إِلَّا ٱلۡكَفُورَ ﴾ مضمون دا دی چې الله ﷻ خپل نعمت ته تغیر نه ورکوي او د زوال سره یې نه مخامخ کوي ترڅو چې د نعمت ناشکري ونه کړه شي او د نعمت درلودونکی خپل ځان ته تغیر ورنه کړي. دا یو ډېر مهم مضمون دی چې د [الأنفال:۵۳] ایت کښې هم نازل شوی دی او همدلته وروباندې د الله ﷻ په توفیق ښه پوره رڼا اچولې شوې ده.

## سوال جواب

۱۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ ﴾ الآیة کښې څه نورو نعمتونو ته اشاره شوې ده، کوم چې د سبأ قبیلې ته ورکړی شوي وه؛ نو د څه حکمت په بنیاد دا ایت د [۱۵] ایت سره د نبي کریم ﷺ په اشاره متصل کېښنبودل شو، په کوم کښې چې د نومړې قبیلې د نعمتونو څه ذکر شوی دی؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ أعلمـ چې: په عدم اتصال کښې دې ته اشاره ده چې د سبأ د قبیلې د پوپنا کولو دپاره یوازې د ذکرو شوو نعمتونو ناشکری، هم کفایت کاوه خو هغوی وروباندې د نورو نعمتونو ناشکري هم وراضافه کړه او په ناشکری، کښې د چتې څخه ووته.

نو که بالفرض دا ایت د هغه ایت سره متصل ایښودلی شوی وی ذکره شوې اشاره به پټه پاتې وی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۲ـ که څوک وایي چې: ایا د سبأ قبیلې د خپلو ځانونو دپاره د مشقت غوښتنه وکړه چې د ﴿ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا ﴾ په کلماتو سره یې د سوال لاسونه پورته کړه، حال دا چې هرڅوک د خپل ځان دپاره اساني غواړي؟

مونږ وایو چې: خینو علماوو کرامو داسې جواب کړی دی چې د هغوی ذکر شوی سوال د قال په ژبه نه وه چې اعتراض وارد شي، بلکې د حال په ژبه یې ورته اقدام کړی وه. یا په بل عبارت: د هغوی د حال غوښتنه دا وه چې د الله ﷻ څخه د نعمتونو د زوال مطالبه وکړي او دا ځکه چې د زوال وخت یې وررسېدلی وه.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۳۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر مونږ ته بهتره برېښي چې هغوی به د قال په ژبه ذکر شوی سوال کړی وی، دا څکه چې کله بنیادم عناد ونیسي او یا د جهل په خره سور شي نو همدغسې غوښتنې کوي چې یا عذاب غواړي او یا د نعمت د زوال غوښتنه کوي. لاندې نظایر یې ولولئ:

الف: د مکې مشرکانو د عناد د کبله خپلو خانونو ته د ډبرو باران وغوښت، الله ﷻ د همدوی څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ وَإِذْ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ [الأنفال:۳۲] یعنې او هغه وخت یاد کړه چې مشرکانو وویلې چې: ای الله! که چرته دغه قرآن کریم همدا ستا په نزد حق کتاب وي نو په مونږ باندې د اسمان د پلوه د ډبرو باران وکړه.

ب: همدارنګه بني اسرائیلو د بې تکلیفه او بې مشقته مَن او سَلوی په عوض پیاز او نوره ترکاري وغوښتله چې د زحمت او مشقت څخه ډکه وه. یا په بل عبارت: د نعمت د زوال غوښتونکې وګرځېده.

همدا موضوع د [البقرة:۶۱] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## د "أَحَادِيث" معنی

۱۳ـ که څه هم په ﴿ فَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ ﴾ کښې د ﴿ أَحَادِيثَ ﴾ کلمه د [یوسف:۶] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه پوره تحلیله شوې ده، خو په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي[۱] چې ذکره شوې کلمه دلته د "حَدِيْث" شاذه جمعه نه ده، لکه څنګه چې هلته ده، بلکې دلته د "أُحْدُوثَة" جمعه ده، "أُحْدُوثَة" د هغه خبر نوم دی[۲] کوم چې د خلکو ترمنځ ضرب المثل ګرځېدلی وي او په تعجب سره یې په مجالسو کښې یادوي.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: مونږ د سبأ قبیله د داسې خبرونو مجموعه وګرځوله چې خلک یې د ناشکرۍ او تفرق دپاره د مثال په توګه یادوي، مثلاً وایي چې: فلانکی قوم د سبأ د قبیلې غوندې په مختلفو لارو روان شو او د هغوی غوندې تیت پرک شو[۳]، او یا داسې نور.

## ابلیس خپل ګومان رښتیا کړ

۱۴ـ په ﴿ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ ﴾ کښې د ابلیس هغه ګومان او اټکل ته اشاره ده کوم چې الله ﷻ مونږ ته د همدغه ملعون د خولې څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ ﴾ [الأعراف:۱۷] یعنې نوموړي د خپل ملعونیت په وخت کښې وویلې چې: ای الله! ته به د بنیادمانو اکثریت شکرګزاران مونده نه کړې بلکې اکثریت به یې زه بې لارې کړم او د خپل ځان پېروان به یې وګرځوم.

نو نوموړي ملعون د سبأ په قبیله باندې خپل ګومان تصدیق ته ورساوه چې اکثریت یې ناشکري

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۳۱
(۲) القاموس المحیط ج۱ ص۶۰۰
(۳) تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوره کړه او د هغه ملعون پیروي یې په غاړه واخستله، مګر اقلیت په مستقیمه لاره باندې ثابت پاتې شو او د هغه ملعون د دعوت د اثر لاندې واقع نه شوه.

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٢٣﴾﴾

**[۲۲]** (ای پیغمبره! کفارو ته) ووایه چې تاسو هغه بوتان وبلئ (په کومو باندې) چې تاسو د الله ﷻ څخه په غیر (د معبودانو) ګومان کوئ (او بیا وګورئ چې ایا ستاسو د بللو اجابت کولی شي؟ هېڅکله به مو اجابت ونه کړي او دا ځکه چې):

هغوی نه په اسمانونو کښې د یوې ذرې په اندازه ملکیت لري او نه په ځمکو کښې، او نه هغوی لره په اسمانونو او ځمکو کښې څه اشتراک (برخه) شته او (بالآخره) نه الله ﷻ د هغوی څخه کومک کوونکي لري.

**[۲۳]** او (په دې باندې علاوه) د الله ﷻ په نزد (هیڅ) شفاعت ګټه نه شي رسولی مګر (داسې شفاعت) چې هغه چا پورې مختص وي چې الله ﷻ ورته (د شفاعت کولو) اجازه ورکړې وي.

(خو د اجازې د ورکړې په وخت کښې به په شفاعتګرو او شفاعت کړی شوو دواړو ډلو باندې ډېر زیات خوف او ډار مسلط شي چې تول به د خود څخه ووځي) آن تردې چې کله د هغوی د زړونو څخه ډار (او هیبت) لرې کړی شي نو د شفاعت اُمیدواران به (شفاعتګرو ته) ووایي چې هغه څه حکم دی کوم چې (تاسو ته) ستاسو رب ﷻ وفرمایه؟

شفاعتګر به (په جواب کښې) ووایي چې: (زمونږ رب ﷻ) حق (حکم وفرمایه، مونږ ته یې د مستحقینو دپاره د شفاعت کولو اجازه راکړه)، او همدی ﷻ (په بلا کیفه توګه) اوچت (او) د کبریاء خاوند دی (که نه نو د ده ﷻ په حضور کښې څوک بې اجازې شفاعت کولی شي؟).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د سورت د اول سر څخه په دې کښې خبره راروانه ده چې الله ﷻ د کامل علم او کامل قدرت درلودونکی دی، او هم د نعمتونو ورکړه او بېرته اخستل د همده ﷻ په واک او اختیار کښې دي او بس، نو د عبادت استحقاق هم د همده ﷻ پورې اختصاص لري. په دې ایتونو کښې همدغه مضمون تائید شوی دی او مشرکان خپلې ګمراهۍ ته متوجه کړی شوي دي چې بدون د استحقاقه د بوتانو په عبادت مشغول دي. حال دا چې بوتان نه څه علم لري او نه د څه قدرت درلودونکي دي او نه د خپلو عابدانو د اړتیاوو په پوره کولو باندې څه توان لري. نو حاصل یې داسې راخېژي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د الله ﷻ د عالي صفاتو د بیان څخه وروسته اوس مشرکان خپلو غلطیاوو ته متوجه کړه او په لاندې پوښتنې سره یې مخاطب وګرځوه چې:

۱ـ ای مشرکانو! تاسو خو د تجربې او امتحان دپاره خپل هغه معبودان دروبلئ په کومو باندې چې تاسو د الله ﷻ څخه په غیر د ربښتیانیو معبودانو ګومان کوئ. او بیا وګورئ چې د هغوی د لاسه څه پوره کېدلی شي؟ هغوی تاسو ته ستاسو غوښتنه درکولی شي؟

۲ـ حقیقت دا دی چې د هغوی په واک کښې هیڅ شی نشته او دا ځکه چې:

الف: د هغوی په ملکیت کښې د یوې ذرې په اندازه شی نه په اسمانونو کښې شته او نه په ځمکو کښې چې ملکیت یې په همدوی پورې اختصاص ولري.

ب: او نه هغوی په اسمانونو او ځمکو کښې د الله ﷻ سره څه اشتراک لري چې څه برخه پکښې ولري.

ج: همدارنګه الله ﷻ د هغوی څخه کوم یو د کومکي او مرستیال په صفت هم نیولی نه دی، چې په پیداکولو کښې یې ورسره لاس کړی وی او یا په روزمره کارونو کښې ورسره کومک کړی وی.

د: د مشرکانو باطل معبودان خپلو عابدینو ته شفاعت هم نه شي کولی او دا ځکه چې د الله ﷻ په نزد هیڅوا ته بدون د سابق اذن څخه شفاعت کول ګټه نه شي رسولی، او دغه باطل معبودان نه د شفاعت کولو جوګه دي او نه د اذن اخستلو لیاقت لري چې جمادات دي، او بالآخره نه الله ﷻ د کفارو دپاره چاته د شفاعت کولو اذن ورکوي.

هـ: په دې باندې علاوه، د شفاعتګرو اذن اخستل هم څه اسان کار نه دی، د مثال په توګه کله چې الله ﷻ د قیامت په ورځ د شفاعت کولو د اجازې فرمان صادر کړي نو په دغه وخت کښې به شفاعتګر او د شفاعت اُمیدواران ټول ولړزېږي او زړونه به یې په رعب او هیبت باندې ډک شي. آن تردې چې کله د هغوی په زړونو باندې څه رڼا ورشي او زړونه یې د هیبت او رعب څخه څه ارامي مونده کړي نو لومړی خبره به یې دا وي چې د شفاعتګرو څخه به پوښتنه وکړي چې: زمونږ او ستاسو رب ﷻ په دغه فرمان کښې څه حکم صادر کړ؟ ایا تاسو ته د شفاعت کولو اجازه درکړه شوه؟

شفاعتګر (پرښتې، پیغمبران او صالحان بندګان) به جواب ورکړي چې: هو! زمونږ رب ﷻ هغه څه وفرمایل او هغه حکم یې صادر کړ کوم چې حق دی او د حکمتونو څخه ډک دی، هغه دا چې خاص د مؤمنانو عاصیانو دپاره د شفاعت کولو دروازه بېرته شوه، او د کفارو په مخ دغه دروازه تر اَبده تړلې ده.

و: ځکه د اجازې اخستل اسان کار نه دی او هیبت او ډار ورسره ملګری دی چې الله ﷻ په بلاکیفه توګه د هر شي څخه اُوچت او عالي دي او د کبریاء او عظمت خاوند دی، او ټول مخلوق د ده ﷻ په وړاندې ذلیل او کمزوري دي.

## توضیحات

۱ـ په ذکرو شوو ایتونو کښې د باطلو معبودانو په نسبت هغه ټولې دروازې تړلې شوې دي د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کومو څخه چې د څه ګټې د رسېدلو اُمید صورت نیولی شي. مثلاً:

الف: باطل معبودان په ځمکو او اسمانونو کښې د يوې ذرې په اندازه ملکيت هم نه لري چې عابدينو ته په ګټه تمام شي.

د همدې مطلب څخه په بل ایت کښې داسې تعبیر کړی شوی دی چې: ﴿ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ﴾ [فاطر:۱۳] يعنې ای مشرکانو! تاسو چې د الله ﷻ څخه په غير د کومو بوتانو بلنه کوئ هغوی د خرما د زړي د يوې نرۍ پردې مالکان هم نه دي!.

ب: هغوی د اسمانونو او ځمکو په روزمره کارونو کښې څه برخوال هم نه دي چې د خپلو عابدينو په ګټه کوم کار اجراء کړي.

ج: د هغوی څخه کوم يو الله ﷻ د کومکي او د معاون په حيث هم نه دی نیولی چې د دې لارې څخه يې د لاسه څه پوره شي.

د: بالآخره هغوی د الله ﷻ په وړاندې د شفاعت کولو جوګه هم نه دي چې خپلو عابدينو ته شفاعت وکړي.

نو په دې مقام کښې د مشرکانو هغه اُمید د خاورو سره برابر کړی شوی دی کوم چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ﴾ [یونس:۱۸] يعنې او مشرکان وايي چې دغه معبودان د الله ﷻ په نزد زمونږ دپاره شفاعت کوونکي دي (مونږ ته به د عذاب څخه نجات راکړي که بالفرض قیامت رښتیا قائم شي).

## دوه ډوله تفسير

۲_ د ﴿ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ ﴾ کلمات په لاندې دوه ډوله تفسير کېدلی شي[1]:

الف: چې د ﴿ لِمَنْ ﴾ د "ل" توری د اختصاص دپاره شي او د "من" کلمه د شفاعت کوونکي څخه تعبير شي. يعنې د الله ﷻ په نزد د قيامت په ورځ هيڅ شفاعت ګټه نه شي رسولی، مګر د هغه چا شفاعت ګټه رسوونکی جوړېږي چې هغه ته الله ﷻ د شفاعت کولو اجازه کړې وي.

ب: چې د ﴿ لِمَنْ ﴾ د "ل" توری د تعديت معنی ورکړي او د "مَن" کلمه د شفاعت کړی شوي څخه عبارت شي، او همدارنګه چې د ﴿ لَهُۥ ﴾ سره د "شَفِيع" کلمه مقدره وګڼله شي، ته به وايې چې "لِشَفِيعِهِ" نازل شوی وي. يعنې په دغې ورځ کښې د الله ﷻ په نزد هيچا ته شفاعت ګټه نه شي رسولی مګر هغه چاته يې رسولی شي د کوم شفاعتګر ته چې الله ﷻ إذن کړی وي.

## تبصره

۳_ که څه هم دغه دواړه تفسيرونه يو تربله تلازم لري او په اصلي مطلب باندې څه فرق نه اچوي

(۱) تفسير الكشاف ج۳ ص۵۸۰؛ تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او همدارنګه په دوهم تفسیر باندې په [طه:١٠٩] ایت کښې صراحت هم شوی دی، مګر د مقام سره اولنی تفسیر ډېر ښه مناسب برېښي چې دلته د بوتانو موضوع مطرحه ده.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ ﴾ کښې د ﴿ حَتَّىٰ ﴾ توری د کوم مضمون سره ارتباط لري؟

مونږ وایو چې: دغه توری د یوې مقدرې جملې پورې ارتباط[1] نیسي چې مونږ ترې په "یَفْزَعُ الَّذِينَ أَذِنَ اللهُ لَهُمْ لِلشَّفَاعَةِ" سره تعبیر کوو. یعنې هغه کسان به په سخت ډار کښې واقع شي کومو ته چې الله ﷻ د شفاعت کولو اجازه ورکړې، هسې نه چې په شفاعت کولو کښې راڅخه څه قصور پېښ شي، او د هغو کسانو ډار او هیبت خو به لا اضافه شي کوم چې شفاعت ته په تمه ناست وي، چې مونږ به د شفاعت کړی شوو په ډله کښې شمولیت ولرو او که نه؟

د ذکر شوي مضمون د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکي ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ﴾ [الجاثية:٢٨] یعنې ای کتونکیه! ته به د قیامت په ورځ د ډېره هیبته او ډاره هر اُمت په ګونډو باندې نسکور ګورې.

ب: نبي کریم ﷺ د شفاعت په اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَيَبْلُغُ النَّاسَ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيقُونَ وَلَا يَتَحَمَّلُونَ»[2] یعنې د قیامت په ورځ به خلکو ته د غم او مشقت څخه دومره اندازه ورسېږي، کوم چې هغوی به یې طاقت نه لري او تحمل به یې نه شي کولی.

ج: په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ فُزِّعَ ﴾ کلمه په اصل کښې د "فَزَعَ" _لکه "شَرَفَ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د خوف او ډار معنی ورکوي، نو د تفعیل سره پکښې سلب او إزاله اضافه شوې ده، لکه چې وایي: "قَذَّيْتُ عَيْنَهُ" یعنې د فلاني د سترګې څخه مې قَذی (خلی) لرې کړ.

د: پوره واضحه ده چې کله د قیامت په ورځ په خوفناک مقام کښې اواز وشي چې دغه دی د الله ﷻ فرمان راورسېد، نو خوف او ډار به بالکل د چتې ووځي ار د شافع او مشفوع دواړه ډلې به خود او هوښ د لاسه ورکړي.

خو کله چې الله ﷻ هغوی په خود کښې راولي سمدستي به پوښتنې شروع کړي چې د الله ﷻ فرمان د څه په باره کښې صادر شوی دی؟، نو په جواب کښې به داډ ورکړی شي چې فلانکی ډلې ته اجازه ورکړی شوه ترڅو فلانکۍ ډلې خلکو ته شفاعت وکړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِذَا قَضَى اللهُ

(١) تفسیر الطبري ج٢٢ ص٩٣
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٦٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الْأَمْرَ فِي السَّمَاءِ ضَرَبَتِ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ كَأَنَّهُ سِلْسِلَةٌ عَلَى صَفْوَانٍ فَإِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ»[۱] يعنې کله چې الله ﷻ د کوم کار د کولو فيصله وکړي (په همدې ارتباط حکم صادر کړي) نو پرښتې د عاجزۍ او ډار د کبله خپلې وزرې وېرقوي، لکه د اوسپنې زنځير چې په ښويه ډبره باندې وهل کېږي؛ خو کله چې الله ﷻ د هغوی د زړونو څخه ډار لرې کړي نو دوی به يو تربله پوښتنه کوي چې ستاسو رب ﷻ څه حکم صادر کړ.

بلکې په همدې مضمون باندې نور احاديث هم روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو راغونډ کړي دي[۲] الله ﷻ دې أجرونه ورکړي، دغه ټول احاديث دلالت کوي چې د ايت شريف مضمون په دنيا پورې ارتباط لري. نو پوښتنه دا ده چې: د کومې وجې د کبله تاسو ايت شريف په أخروي أمورو پورې مربوط ګڼلی دی چې د قيامت په ورځ به يې مصداق تحقق ومومي؟

مونږ وايو چې: همدغه ايت شريف د شفاعت په بيان سره پيل شوی دی چې آخرت پورې مربوط دی، نو څرګنده شوه چې متباقي ايت هم د آخرت سره تړاو لري.

پاتې شوه د احاديثو خبره، نو د دې جواب دا دی[۳] چې: د الله ﷻ هر يو حکم ـ په دنيا کښې وي او که په آخرت کښې ـ لړزوونکی دی[۴]، نو شايد چې نبي کريم ﷺ به يې يوه دنياوي مثال ته اشاره کړې وي، او ايت شريف به يې د تفسير په غرض نه بلکې د استشهاد په توګه قرائت کړې وي.

همدا مطلب د دې څخه معلومېږي چې د نبي کريم ﷺ څخه په ذکر شوي حديث کښې د ټول ايت تلاوت نه دی روايت شوی بلکې د ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ ﴾ الآية، تر آخره پورې ترې روايت شوی دی او بس.

﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ وَإِنَّآ أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ قُل لَّا تُسْـَٔلُونَ عَمَّآ أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٥﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِٱلْحَقِّ وَهُوَ ٱلْفَتَّاحُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٢٦﴾ قُلْ أَرُونِىَ ٱلَّذِينَ أَلْحَقْتُم بِهِۦ شُرَكَآءَ ۖ كَلَّا ۚ بَلْ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾ ﴾

**[۲۴]** (ای پيغمبره! کفارو ته) ووايه چې: څوک تاسو ته د اسمانونو او ځمکو څخه روزي درکوي؟ (څرنګه چې دغه پوښتنه بل جواب نه لري نو ته په جواب کښې) ووايه چې: الله ﷻ (تاسو ته روزي

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۸
(۲) تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۳۷
(۳) روح المعاني ج۲۲ ص۱۳۸
(۴) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درکوي چې د اسمانه باران نازلوي او د ځمکې څخه ورباندې نباتات راټو کوي)، او يقيناً مونږ او يا تاسو په هدايت باندې ياستو او يا په ښکاره ګمراهۍ کښې (پرېوتلي) ياستو.

[۲۵] (بيا ورته) ووايه چې: ستاسو څخه به د هغه شي پوښتنه ونه کړی شي کوم چې مونږ د ګناه په حيث کړي دي (چې تاسو ته ګناه ښکاري)، او زمونږ څخه به هم د هغه شي پوښتنه ونه کړی شي کوم چې تاسو يې عمل کوئ.

[۲۶] (دا هم ورته) ووايه چې: يقيناً زمونږ رب ﷻ به زمونږ (دواړو ډلو) ترمنځ يو ځای والی وکړي (ټول به حشر کړي او) بيا به زمونږ په منځکښې په حقه فيصله وکړي، او همدا (زمونږ رب ﷻ) ښه فيصله کوونکی (او) پوه دی.

[۲۷] (بيا ورته) ووايه چې: (ای مشرکانو!) تاسو هغه (معبودان) ماته راوښايست کوم چې تاسو په الله ﷻ پورې د شريکانو په حيث نښلولي دي (تاسو يې د اثبات دپاره څه دلايل وړاندې کړئ).

دغسې نه ده (چې تاسو به څه دلايل اقامه کړی شئ) بلکې شان دا دی چې الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت څښتن دی (نو تاسو ته په کار دي چې د عذابه يې وډار شئ).

[۲۸] او (ای پیغمبره!) مونږ ته نه يې استولی مګر خلکو ته په داسې حال کښې چې ټول په نظر کښې نيولی شوي دي، (او په داسې حال کښې چې ته ټولو ته) چې زيری ورکوونکی او ډاروونکی يې (او بس)، مګر اکثره خلک نه پوهېږي (او يا يې خپل ځانونه په ناپوهۍ اچولي دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د الله ﷻ عالي شان (کامل قدرت او کامل ملکيت) ته او هم د بوتانو ناتوانۍ ته اشاره شوې وه، په دې ايتونو کښې همدغه مضمون تعقيب شوی دی چې حاصل يې داسې راوځي:

ای پيغمبره! ته مشرکان په لاندې مطالبو مخاطب وګرځوه:

۱ ـ هغوی ته د رزق په هکله پوښتنه راجع کړه.

الف: ورته ووايه چې د اسمانونو او ځمکو څخه تاسو ته څوک روزي درکوي چې د پاسه باران رانازلوي او د ښکته څخه نباتات را ټوکوي؟ ايا دا کارونه الله ﷻ اجراء کوي او که ستاسو بوتان؟

څرنګه چې د دغې پوښتنې جواب مشخص دی نو د هغوی د جواب څخه وړاندې ته په جواب کښې ووايه چې: دا کارونه ټول په الله ﷻ پورې اختصاص لري.

ب: بيا ورته ووايه چې: يقيناً په مونږ او تاسو کښې يوه ډله يا په هدايت باندې ده او يا يوه ډله په څرګنده ګمراهۍ کښې واقع ده، دواړه ډلې نه هدايت موندونکي کېدلی شي او نه دواړه ډلې ګمراهانې کېدلی شي، که نه نو يا به دواړه نقيضان جمعه شي او يا به دواړه نقيضان پورته شي، حال دا چې دا هيڅ عاقل نه شي منلی.

ج: اوس نو تاسو په انصاف سره ووايئ چې مونږ په سمه لاره روان ياستو او که تاسو؟ يا مونږ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په غلطه لاره باندې کلک یاستو او که تاسو؟

۲_ مشرکانو ته دا هم ووایه چې: ستاسو په هدایت کښې زمونږ مطلب دا نه دی چې خپله گناه په تاسو درواچوو او نه دا د الله ﷻ قانون دی چې یو د بل په گناه ونیسي، بلکې مونږ او تاسو هره یوه ډله د خپلو کړو وړو پخپله مسئول یاستو، که ښه مو وکړه خپلو خانونو ته به گټه ورسوو او که بد مو وکړه د خپلې گناه پېټی به دروند کړو.

۳_ دا هم ورته ووایه چې: داسې ورځ راروانه ده چې هرڅوک به په هغې کښې د خپلو کړو وړو د مسئولیت سره مخامخ شي، په دغې ورځ کښې به الله ﷻ زمونږ او ستاسو ترمنځ هم حقه فیصله وکړي چې تاسو په سمه لاره روان یاست او که مونږ. همدی ﷻ په عدل سره ډېره ښه فیصله کوونکی دی او هرڅه ورته معلوم دي، د هیچا کړه وړه ترې پټ نه دي.

۴_ دا هم ورته ووایه چې: که تاسو د ذکرو شوو دلایلو څخه وروسته هم په خپله خبره کلک یاست چې ستاسو بوتان د الله ﷻ سره د عبادت په استحقاق کښې شریکان دي، نو ماته وښایاست چې په کومه وجه ورته دغه استحقاق حاصل دی؟ حال دا چې د عبادت د استحقاق ټولې وجې په الله ﷻ پورې اختصاص لري.

نو کله چې تاسو د عبادت د استحقاق وجه نه شئ موندلی چې ماته یې را په گوته کړئ، نو معلومه شوه چې خبره دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ.

بلکې حقه خبره دا ده چې دغه استحقاق الله ﷻ پورې مختص دی، او شان دا دی چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، کولی شي چې تاسو سمدستي پوپنا کړي، خو د دې سره-سره د حکمت څښتن هم دی تاسو ته فرصت درکوي چې د خپلو کفریاتو څخه توبه تانب او په سمه لاره روان شئ.

۵_ ای پیغمبره! ته د کفارو په کفر باندې د پاتې کېدلو په سبب ډېر مه غمژن کېږه. دا ځکه چې:

الف: ته د قیامت تر ورځې پورې ټولو خلکو ته مونږ د پیغمبر په حیث استولی یې، چې خپلو پیروانو ته بشارت ورکړې او عاصیان (غاړې غړونکی) د الهي عذاب څخه وډار کړې.

ب: د هغوی په کافر پاتې کېدلو باندې به ته په هغه وخت کښې ډېر غمژن کېدلی چې یا ورته د الله ﷻ د پلوه ته پیغمبر نه وی ورغلی او یا ستا په شرعي دلایلو او دعوت کښې څه قصور وی چې خپله دنده دې ښه نه وې ترسره کړې.

ستا په دعوت کښې قصور نشته مگر د خلکو اکثریت نه پوهېږي او په خپله گټه او تاوان باندې یې خپل خانونه گول اچولي دي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَإِنَّآ أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ کښې د [النحل: ۱۲۵] ایت توصیه عملي شوې ده چې: ای پیغمبره! د الله ﷻ لارې ته په حکمت او ښایسته طریقه باندې دعوت وچلوه او که جگړې او مباحثې ته اړتیا پېښه شوه نو په ډېرې ښې طریقې سره مجادله وکړه، چې ترڅو د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مقابل لوري احساسات را ونه پارېږي.

که ذکر شوی ملحوظ نه وی نو د تردد کلام به نه وی نازل شوی، څکه چې په وړاندې او ېرته ایتونو کښې پوره څرګنده شوې ده چې اسلامي شریعت حق دی او کفري لارې باطلې او ناحقې دي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد په ﴿ وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ کښې د ﴿ تَعْمَلُونَ ﴾ په عوض "تُجْرِمُونَ" نازل نه کړی شو، ترڅو يې په ﴿ عَمَّآ أَجْرَمْنَا ﴾ کښې د "أَجْرَمْنَا" سره توافق موندلی وی؟

مونږ وايو _والله ﷻ أعلم_ چې: د دې هم يو سبب دا دی چې د مشرکانو احساسات راونه پارېږي، او په سړه سينه په دلايلو کښې غور او سوچ وکړي.

که بالفرض "تُجْرِمُونَ" نازل شوی وی نو د دې امکان وه چې هغوی په غُصه شوي وی، او دا څکه چې د "تُجْرِمُونَ" کلمه د "إِجْرَام" څخه اشتقاقه شوې ده، "إِجْرَام" په هغه عمل کښې استعمالېږي کوم چې مکروه او بد عمل وي[1].

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای مشرکانو! تاسو زمونږ د عمل (زمونږ د ګناه) څخه نه پوښتلی کېږي او مونږ ته ستاسو د عمل پوښتنه نه راجع کېږي، ستاسو خپل کار دی او زمونږ خپل کار دی.

## يو اعرابي تحليل

۳_ که څه هم په ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ ﴾ کښې د ﴿ كَآفَّةً ﴾ د کلمې په اعراب کښې مفسرينو کرامو متعددې وجې جائزې ګڼلې دي[2] مګر کومه وجه چې مونږ ته په زړه برېښېدلې ده هغه دا ده چې: دغه کلمه د ﴿ لِّلنَّاسِ ﴾ دپاره په حاليت سره منصوبه ده چې د اهتمام دپاره يې وړاندې تقدم موندلی دی[3].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه ذکره شوې کلمه د لغت کتابونو په ډېرو معناوو سره معنی کړې ده چې يوه معنی يې "كُلُّهُمْ" ده[4]. په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده چې د نبي کريم ﷺ د رسالت عموم وړاندې دلالت کوي.

## د نبي کريم ﷺ رسالت عام دی

۴_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام: ۱۹] ايت لاندې څه تحقيق ليکلی دی چې د نبي کريم ﷺ

---

(۱) مفردات الراغب ص۸۹
(۲) تفسير الكشاف ج۳ ص۵۸۳؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۶۲
(۳) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۳۸؛ روح المعاني ج۲۲ ص۱۴۲
(۴) القاموس المحيط ج۴ ص۶۶؛ لسان العرب ج۹ ص۳۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رسالت وروستنی رسالت دی او عربو عجمو بلکې ټولو خلکو ته شامل دی، نو پخواني اديان ټول نسخه شوي دي او د نجات لاره نن ورځ فقط په محمدي شريعت کښې نغښتې ده او بس.

په دې مقام کښې وړاندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً»[۱] يعني او زما د ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې پخوا به يو پيغمبر خاص خپل قوم ته وراستول کېده، او زه عامو خلکو ته استولی شوی يم.

ب: نبي کريم ﷺ په بل اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «كَانَ كُلُّ نَبِيٍّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى كُلِّ أَحْمَرَ وَأَسْوَدَ»[۲] يعني دا هم زما خاصه ده چې پخوا به هر پيغمبر خاص خپل قوم ته لېږل کېده او زه هر سُور او تُور (عرب، عجم) دواړو ته لېږلی شوی يم.

﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَـْٔخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَلَا بِٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ ٱلْقَوْلَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوٓا۟ أَنَحْنُ صَدَدْنَٰكُمْ عَنِ ٱلْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَآءَكُم ۖ بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ بَلْ مَكْرُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَآ أَن نَّكْفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ وَجَعَلْنَا ٱلْأَغْلَٰلَ فِىٓ أَعْنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾

[۲۹] او کفار وايي چې: دا وعده (د قيامت قيام) به کله وي، که تاسو رښتيني ياست (نو وخت يې تعين کړئ)؟

[۳۰] (ای پيغمبره! ته ورته په جواب کښې) ووايه چې: ستاسو (د بيا راژوندي کولو) دپاره د داسې ورځې ميعاد (ټاکلی شوی) دی چې تاسو به ترې نه يوه ګړۍ وروسته شئ او نه به (ترې) وړاندې شئ.

[۳۱] او هغه کسان چې کفر يې غوره کړی دی وايي چې: مونږ به هيڅکله په دغه قرآن کريم

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۱۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې ایمان رانه وړو او نه په هغه (کتاب باندې) کوم چې (د خلکو په ګومان) د ده په وړاندې (نازل شوی) دی (لکه تورات او انجیل).

(ای پیغمبره!) او که ته چرته هغه وخت وګورې چې ظالمان (کفار) د خپل رب ﷻ په نزد درولی شوي وي (حال دا چې) ځینې کسان یې ځینو (نورو) ته خبره ورتاوه وي (نو ته به ډېر عجیب کیفیت وګورې هغه دا چې):

هغه کسان به ووایي کوم چې (په دنیا کښې) کمزوري ګرځولي شوي دي (او تابعان دي، البته) هغو کسانو ته کوم چې (په دنیا کښې) تکبر کوونکی دي، چې: که چرته تاسو (زمونږ دپاره منعه کوونکي) نه وئ نو هرومرو ضرور به مونږ ایمان راوړونکي (ګرځېدلي) وو.

[۳۲] (بالمقابل) هغه کسان به ووایي کوم چې تکبر کوي (البته) هغو کسانو ته کوم چې کمزوري ګرځولي شوي دي چې: ایا د هدایت څخه تاسو مونږ واړولئ کله چې تاسو ته راغی (او ورته دعوت کړی شوئ)؟ دغسې نه ده) بلکې تاسو (پخپله) مجرمان وئ (تاسو په خپله خوښه جرمونو ته لاس اچولی وه).

[۳۳] او هغه کسان به ووایي کوم چې کمزوري ګرځولي شوي دي (البته) هغو کسانو ته کوم چې تکبر کوي چې: بلکې د شپې او ورځې (ستاسو) چل (او پټ تدبیر مونږ ډېرلارې څخه واړولو)، هغه وخت چې تاسو به مونږ ته امر کاوه چې په الله ﷻ سره کافر جوړ شو (د وحدانیت څخه یې منکر شو) او همده ﷻ ته (په عبادت کښې) شریکان (او سیالان) وګرځوو.

او هرکله چې دوی (ټول) عذاب وګورې نو خپل ندامت به په پټ کړي (ټول به ساکت او هک پک وګرځي). او مونږ به د هغو کسانو په غاړو کښې غورابونه واچوو کومو چې (په دنیا کښې) کفر غوره کړی وه.

ایا دوی ته مونږ جزا ورکوو (بلکې جزا نه ورکوو) مګر د هغو (جنایتونو جزا) کوم چې دوی وه چې (په دنیا کښې) به یې کول.

## ارتباطونه

۱ـ د وړاندېنیو ایتونو په [سبأ: ۲۶] ایت کښې په اجمالي توګه د قیامت ورځې ته اشاره شوې وه، او په دې ایتونو کښې یې لږ څه تفصیل نازل شوی دی.

۲ـ هغه ایتونه په دې ختم شوي وه چې د خلکو اکثریت (کفار) نه پوهېږي او په دې ایتونو کښې د هغوی په ناپوهۍ باندې دلایل اقامه کړی شوي دي، چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ د کفارو د ناپوهۍ یو دلیل دا دی چې د قیامت د قیام په وعدې باندې د دروغینې وعدې نوم ږدي او تاسو ته وایي چې: که دغه وعده رښتیانې وعده وي او ضرور راتلونکې وي نو تاسو یې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته وخت وټاکئ چې کله به تحقق ومومي او څومره وخت ورته پاتې دی، کله چې تاسو د هغې د تحقق وخت نه شئ په ګوته کولی نو معلومه شوه چې دا دروغینه وعده ده.

۲_ ته دغو کفارو ته په جواب کښې ووایه چې: ستاسو د بېرته راژوندي کولو دپاره د الله ﷻ په نزد وخت ټاکلی شوی دی خو مونږ ته یې معلومات نه دي نازل کړي.

لنډه دا چې د قیامت قیام ضرور واقع کېدونکی دی او هیڅ دروغ پکښې نشته، او تاخیر یې د دې کبله نه دی چې دا وعده دروغینه ده بلکې د دې کبله دی چې ټاکلی شوی وخت یې نه دی رارسېدلی، کله یې چې ټاکلی وخت راورسېږي نو د سترګو په رپ کښې به واقع شي، تاسو به ترې نه ډېر کوچنی وخت وروسته شئ او نه به ترې وړاندې والی وکړئ.

خو دا ستاسو د ناپوهۍ نښه ده چې تیاري ورته نه نیسئ او ناحقه ورته د دروغینې وعدې لقب ورکوئ.

۳_ د کفارو د ناپوهۍ بل دلیل دا دی چې دوی د پوهې په وسایلو باندې عقیده نه خپلوي، حتی دوی وایي چې مونږ به هیڅکله نه په دغه قرآن کریم باندې ایمان راوړو او نه په هغو کتابونو باندې کوم چې د ده څخه وړاندې د اسماني کتابونو په نامه باندې بلل شوي دي، لکه تورات، انجیل او یا زبور.

پوره واضحه ده چې د پوهې د وسائلو څخه انکار کول او په عنادي توګه یې د پښو لاندې کول د جهل غټه موجبه ده.

۴_ کفار به هرومرو د قیامت په ورځ په خپلې ناپوهۍ باندې اعتراف وکړي او د پښېمانۍ سره به مخامخ شي خو هغه به داسې وخت وي چې پښېماني به ورته هیڅ ګټه ونه شي رسولی بلکې حسرت به یې لا اضافه کړي.

۵_ ای پیغمبره! که چرته ته وګورې چې د قیامت په ورځ ظالمان (کفار) د خپل رب ﷻ په حضور کښې هک پک درولی شوي وي او په دوه وو ډلو (مشرانو او کشرانو) باندې وېشلي شوي وي، او هره یوه ډله په بل باندې پړه اچوي، نو ته به ډېر عجیبه حال وګورې، هغه دا چې:

الف: هغه کسان به دنیاوي مشرانو ته ووایي کوم چې په دنیا کښې کمزوري ګرځولي شوي دي او د دخدمتګارانو کار ترې اخستل کېږي چې:

ای مشرانو! که چرته تاسو په دنیا کښې زمونږ مخنیوی نه وی کړی نو هرو مرو به مونږ هلته د مؤمنانو د ډلې څخه ګرځېدلي وی او نن ورځ به په دغه عذاب باندې نه وی اخته شوي چې درباندې اخته یاستو.

ب: هغه کسان چې په دنیا کښې سرکشان او متکبران دي هغوی به دنیاوي کمزورو او خدمتګارانو ته جواب ورکړي چې:

دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ، ستاسو د هدایت مخه مونږ نه وه بنده کړې. ایا کله چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه هدایت درغی او پیغمبرانو دعوت درکړ نو مونږ تاسو د هدایت د قبول څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



منعه کړئ؟ ایا مونږ ستاسو په عقیده قدرت درلود چې انحراف ورکړو؟ ایا تاسو عقلونه نه درلوده؟ بلکې تاسو پخپله مجرمان وئ او په خپله خوښه مو کفر اختیار کړی وه.

ج: بیا به کشران او دنیاوي کمزوران خپلو دنیاوي مشرانو او متکبرانو ته مخ ورواړوي چې: ای متکبرانو! که څه هم تاسو په مونږ باندې زور نه وه اچولی مگر دوامدار او بیا-بیا دعوت خو مو راکړی وه چې کفري عقیده خپله کړو. ایا ستاسو خپل هغه چلونه هېر دي چې په دوامداره توگه به مو ترې کار اخست او د شپې او ورځې به زمونږ په گمراه کولو کښې چاپېر وئ، کله به مو تهدید راکاوه او کله به مو د تمې په جال کښې رانیولو.

تاسو خو خپل هغه حال دربه زړه کړئ چې مونږ ته به مو امر کاوه چې په الله ﷻ باندې کفري عقیده ولرو او په عبادت کښې ورسره سیالان او شریکان ودروو؟

د: کشران او مشران به په سوال جواب او ناندریو اخته وي چې د دوزخ عذاب به ورڅرگند شي، نو په دغه وخت کښې به ټول هک پک شي او ټول به د څرمې په داسې هیبت کښې واقع شي چې د ټولو به ژبون وتړلی شي او د خبرو توان به د لاسه ورکړي، حتی چې د پښېمانتیا کلمات به هم څرگند نه کړی شي او ټول به یې په زړونو کښې وساتي.

۶_ نو په عین حال کښې به مونږ هغو ټولو کسانو ته غورابونه په غاړو کښې ورواچوو او لاسونه به یې ولچک کړو، کومو چې په دنیا کښې کفر غوره کړی وه.

ایا دوی ته جزا ورکوله کېږي؟ (نه ورکوله کېږي) مگر د هغو جنایتونو جزا کوم چې دوی پخپله په دنیا کښې عملي کړي وه، او په خپل اختیار سره یې مرتکب شوي وه.

## توضیحات

۱_ شاید چې په ﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوۡقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمۡ﴾ کښې به د ﴿مَوۡقُوفُونَ﴾ په کلمې سره هغه وقوف (درولو) ته اشاره وي په کوم باندې چې په بل ایت کښې امر حکایت شوی دی هغه دا چې کله کفار د دوزخ په لور روان کړی شي نو الله ﷻ به پرښتو ته امر وکړي چې: ﴿وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ۝ مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ﴾ [الصآفات: ۲۴، ۲۵] یعنې تاسو دوزخیان ودروئ ترڅو ترې د تخجیل او تهدید دپاره پوښتنه وکړی شي چې: ای کفارو! تاسو لره څه دي چې نن ورځ یو د بل سره کومک او نصرت نه کوئ، او ټول (کشران او مشران) په ډله ئیزه توگه دوزخ ته روان یاست؟ ایا تاسو په دنیا کښې ډېر خواږه دوستان نه وئ؟

## نحوي تحلیل

۲_ د ﴿بَلۡ مَكۡرُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ﴾ په اعراب کښې مفسرینو کرامو متعددې وجې لیکلې دي[۱] خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکر شوی عبارت به مبتدأ وي او خبر به یې مقدر وي چې په "صَدَّنَا" سره

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تعبیر کولی شو، د همدغه مقدر خبر په تعین باندې په وړاندې ایت کښې د ﴿ أَنَحْنُ صَدَدْنَٰكُمْ ﴾ جمله دلالت کوي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مَكْرُ ﴾ کلمه مفعول ته مضافه ده او فاعل یې مقدر دی چې په "كُمْ" سره ترې تعبیر کېدلی شي، نو ټول عبارت داسې جوړېږي چې: "بَلْ مَكْرُكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ صَدَّنَا" یعنې بلکې په شپه او ورځ کښې ستاسو چلونو او پټو تدبیرونو مونږ د سمې لارې او هدایت څخه اړولي یاستو، که تاسو دغه کار نه وی کړی نو مونږ به نه وی ګمراه شوي.

۳ـ کوم ندامت او ارمان ته چې په ﴿ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ ﴾ کښې اشاره شوې ده هغه الله ﷻ په بل ایت کښې واضحه کړې دی چې: ﴿ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ [الشعراء: ۱۰۲] یعنې نو ای کاش او ارمان! چې مونږ لره بېرته دنیا ته بیا ورتلل وی چې مونږ د مؤمنانو څخه ګرځېدلي وی.

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُواْ نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَٰلًا وَأَوْلَٰدًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُم بِٱلَّتِى تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ۚ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَىْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٣٩﴾ ﴾

[۳۴] او مونږ په هیڅ ښار (او قریه) کښې هیڅ ډاروونکی نه دی لېږلی مګر د ښار نعمت درلودونکو (بډایانو) به (ورته) ویل چې: یقیناً مونږ په هغه شي باندې کافر یاستو (ترې انکار کوو) په کوم باندې چې تاسو (په خپل خیال) را استولي شوي یاستئ؛

[۳۵] او (همدارنګه) ویل به یې چې: مونږ (ستاسو څخه) د مالونو او اولادونو د حیثه زیات یاستو او مونږ معذب کړی شوي نه یاستو (که بالفرض زمونږ عقیده د الله ﷻ په نزد مردوده وی نو مونږ ته به یې ذکر شوی حیثیت نه وی راکړی).

[۳۶] ته (ورته په جواب کښې) ووایه چې: یقیناً زما رب ﷻ هغه چاته روزي پراخوي کوم ته یې چې اراده یې وشي، او هم یې (ورته) تنګوي، مګر اکثره خلک نه پوهېږي (چې د روزی پراخي یا تنګي زما د رب ﷻ د رضامندی یا نارضامندی دلیل بولي).

[۳۷] او (ای بنیادمانو!) نه ستاسو مالونه او نه ستاسو اولادونه هغه (مجموعه) ده کومه چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو زموږ په نزد نږدې کوي، نږدې کول (او نږدېکت)، مګر (ستاسو د جملې څخه) هغه چا ته (د نږدېکت سبب ګرځي) کومو چې ایمان راوړی وي او صالح عملونه کوي.

نو دغه (کسان) خاص همدوی لره په سبب د هغو عملونو غبرګه جزا ده کوم چې دوی یې عملي کوي، او همدوی (د جنت) په ماڼیو کښې امن درلودونکي دي.

[۳۸] او هغه کسان کوم چې زموږ په ایتونو کښې په داسې حال کوښښ کوي چې (الله ﷻ لره په خپل خیال) ناتوانه ګرځوونکي دي (چې د ارادې مخه به یې بنده کړي)، نو همدغه کسان (د دوزخ) په عذاب کښې حاضر کړی شوي دي (چې هیڅکله به ترې غایب نه کړی شي).

[۳۹] (دا هم) ووایه چې: یقیناً زما رب ﷻ د خپلو بندګانو څخه هغه چاته روزي پراخوي کومو ته یې چې اراده وشي او تنګوي یې ورته (چې اراده یې ورته وشي).

او هغه شی چې تاسو یې (زما د رب ﷻ په لاره کښې) مصرفوئ هر شی چې وي (لږ وي او که ډېر وي) نو زما رب ﷻ د هغه عوض په مختلفو صورتونو کښې تاسو ته) درکوي. او زما رب ﷻ د ټولو روزي ورکوونکو بهتر (روزي ورکوونکی) دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې دا جمله هم شامله وه چې: ﴿لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا الْقُرْءَانِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ [سبا: ۳۱] یعنې مشرکان (کفار) وایي چې موږ به هیڅکله نه په دغه قرآن باندې ایمان راوړو او نه په هغه کتاب باندې کوم چې (د خلکو په ګومان) د قرآن څخه وړاندې د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی.

څه لرې نه ده چې د مشرکانو د ذکر شوې فیصلې په اورېدلو سره به نبي کریم ﷺ ډېر غمژن شوی وي او هغه تمه به یې د خاورو سره برابره شوې وي کومه یې چې د هغوی ایمان راوړلو ته درلوده، نو الله ﷻ په دې ایتونو کښې د یو پلوه نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه او د بله پلوه یې هغه وجه رده کړه د کومې په اثر چې هغوی نوموړې فیصلې ته رسیدلي وه. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د لاندې ایتونو په قرائت سره خپل ځان متسلي کړه او د مشرکانو د تکبر وجه رده کړه:

۱ _ موږ ستا څخه وړاندې هیڅ ډاروونکی (پیغمبر) هیڅ ښار ته نه دی استولی مګر هغه ته د ښار شتمنو او د نعمتونو خاوندانو هغه خبره کړې ده کومه چې ستا د دزماني مالداران یې تاته کوي، هغه دا چې:

الف: ای ډاروونکو! موږ په یقین سره په تاسو باندې ایمان نه راوړو او د کوم رسالت دعوه چې تاسو کوئ د هغه څخه موږ انکار کوونکي یاستو.

ب: هغوی به ورته دا هم ویلې چې موږ ستاسو په نسبت د مالونو او اولادونو په حیث زیات یاستو. که بالفرض زموږ عقیده د الله ﷻ په نزد کښې مقبوله نه وی نو نه به یې ډېر مالونه راکړي وی او نه ډېر اولادونه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج. مونږ عذاب کړی شوي نه یاستو لکه څنګه چې تاسو ګومان کوئ او په دروغو باندې مونږ ترې داروئ.

۲_ ای پیغمبره! ته د خپلې زمانې کفارو ته جواب ورکړه چې:

الف. د رزق پراخي د الله ﷻ د رضامندی نښه نه ده او نه د رزق تنګي د الله ﷻ د ناراضیتوب علامه ده، بلکې یقیناً زما رب ﷻ د حکمتونو په بنیاد د هغه چا روزي پراخوي کوم ته یې چې اراده وشي او د هغه چا روزي تنګوي کوم ته یې چې اراده وشي، برابره خبره ده چې عاصي وي او که مطیع.

خو اکثره خلک نه پوهېږي او د روزۍ پراخي د رضامندۍ نښه بولي، او د روزۍ تنګي د الهي غضب علامه ګڼي، حال دا چې دغه ډول ګومان بالکل غلط دی او د جاهلانو کار دی.

ب. د خپل رب ﷻ د پلوه ټولو خلکو ته عموماً او د وخت مشرکانو ته خصوصاً ووایه چې:

ستاسو د مالونو او اولادونو مجموعه داسې مجموعه نه ده چې تاسو ته زمونږ په نزد د نژدېکت او منزلت اسباب جوړه شي، او تاسو مونږ ته رانژدې کړي. که بالفرض دغسې کېدلی شوی نو مونږ به کفارو او مشرکانو ته نه مالونه ورکړي وی او نه اولادونه، چې زمونږ د رحمت څخه ډېر لرې واقع دي.

ج. مګر ستاسو د جملې څخه ذکره شوې مجموعه هغو کسانو ته د نژدېکت اسباب جوړېږي کومو چې زمونږ په شریعت باندې ایمان راوړی وي او هم یې صالح اعمال ورسره ملګري کړي وي.

نو په همدې بنیاد دغه کسان چې دي، زمونږ په نزد د همدوی دپاره غبرګه جزا او په چندونو چندو اجرونه ټاکلي شوي دي، او همدغه کسان د جنت په لوړو ماڼیو کښې په داسې حال اوسېدونکي دي چې د هر مشقت او هر آفت څخه به پکښې بې غمه او بې خطره دائمي ژوند کوي.

د. بالمقابل هغه کسان کوم چې زمونږ د ایتونو په ابطال کښې د مالونو او اولادونو څخه کار اخلي او غواړي چې زمونږ د ارادې مخه بنده کړي او په خپل خیال په مونږ باندې زورور شي، نو همدغه کسان په الهي عذاب کښې حاضر کړی شوي دي چې هیڅکله به ترې غایب نه شي.

نو په عوض د دې چې دغو کسانو ته مالونه او اولادونه ګټه ورسوي، په ضرر به یې تمام شي او د جنایتونو پېټي به یې ورباندې لا درانه وګرځي.

۳_ ای پیغمبره! زما مخلصو بندګانو (مؤمنانو) ته ډاډ ورکړه او ورته ووایه چې:

الف. یقیناً زما رب ﷻ ستاسو د جملې څخه هم هغه چاته روزي پراخوي کوم ته یې چې اراده وشي او په هغه چا باندې یې تنګوي کوم ته یې چې اراده وشي.

ب. ستاسو دپاره دواړه حالونه په ګټه دي او د منزلت او نژدېکت اسباب درته جوړېږي، او دا څکه: که زما رب ﷻ په تاسو باندې پراخي درولي نو شکر به وکړئ او منزلت به حاصل کړئ، او که تنګي درباندې درنازله کړي نو صبر به وکړئ او اجرونه به وګټئ.

ج. ای مؤمنانو! تاسو چې د الله ﷻ په لاره کښې هر شی نفقه او مصرف کړئ، برابره خبره ده چې لږ وي او که ډېر، نو زما رب ﷻ به تاسو ته په دنیا او آخرت کښې د هغه اجرونه او عوضونه درکړي.

او دا څکه چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ د ټولو روزي ورکوونکو بهتر روزي ورکوونکی دی چې د هر جبره خور (روزي خور) روزي او جبره (روزي) يې په خپل اقدس ذات باندې تلطفًا منلې ده او کومه روزي چې بندګان ورکوي په واقع کښې د هغې ورکوونکی هم الله ﷻ دی او بس، چې د روزۍ په شمول د هر شي خالق دی.

## توضيحات

۱_ د ﴿ قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ ﴾ الآية- مضمون په [بني اسرائيل: ۳۰] ايت کښې ډېر په منعکس شوی دی، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## ځو نکات

۲_ په ﴿ وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُم ﴾ الآية کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمْ ﴾ کښې د "الَّتِي" کلمه د خپلې صلې سره د "الْمَجْمُوعَة" کلمې دپاره صفت واقع شوې ده، کومه چې په عبارت کښې مقدره ده.

ب. د ﴿ زُلْفَىٰٓ ﴾ کلمه د "قُرْبَة" معنی ورکوي(۱)، او د ﴿ تُقَرِّبُكُمْ ﴾ کلمې دپاره مفعول مطلق واقع شوې ده چې اعراب يې تقديري دی(۲).

ج: که څه هم د ﴿ تُقَرِّبُكُمْ ﴾ کلمه د مزيدو څخه ده او ﴿ زُلْفَىٰٓ ﴾ د مجردو مصدر دی، خو من غير الباب هم کله-کله مفعول مطلق منصوب ګرځېدلی شي. لکه چې په ﴿ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ﴾ [آل عمران: ۳۷] کښې د "نَبَاتًا" کلمه د "أَنۢبَتَهَا" دپاره من غير الباب مفعول مطلق واقع شوې ده(۳).

د: د ﴿ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ ﴾ دپاره په ﴿ تُقَرِّبُكُم ﴾ کښې د "كُمْ" ضمير مستثنى منه ګڼل کېږي(۴).

هـ: د ذکرو شوو نکاتو په ملحوظ د کلام حاصل داسې راځبژي چې: ای بنيادمانو ستاسو د مالونو او اولادونو مجموعه هغه مجموعه نه ده کومه چې تاسو ته زمونږ په نزد نژدېکت درکوي، نژدېکت. مګر ذکره شوې مجموعه زمونږ په نزد هغه چا ته نژدېکت ورکوي کومو چې ايمان راوړی وي او صالح عملونه يې کړي وي.

و: مؤمنانو ته مالونه څکه ګټه رسوي چې دوی وربانديې تکبر او غرور نه خپلوي بلکې د الله ﷻ په لاره کښې يې مصرفوي، همدارنګه دوی ته اولادونه هم په ګټه تماميږي چې په شرعي چوکاټ کښې تعليم او تربيه ورکوي، نو په ژوند کښې لا څه چې د مرګ څخه وروسته هم ورته فايده اړولی شي، چې صالح اولاد د باقياتو صالحاتو څخه شمېرل کېږي.

ز: په ﴿ وَهُمْ فِي ٱلْغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴾ کښې د "غُرُفَات" کلمه د "غُرْفَة" جمعه ده، که څه هم په دنياوي

---

(۱) لسان العرب ج۹ ص۱۳۸
(۲) تفسير الكشاف ۵۵۶
(۳) تفسير المدارك في هذا المقام.
(۴) تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوټو کښې هغې کوټې ته "غُرْفَة" وایي کومه چې د بلې کوټې دپاسه جوړه شوې وي(۱)، چې په فارسي ژبه کښې د "بالاخانه" په نامه نوموله کېږي، مګر د جنت ټولې کوټې د "غُرُفَات" په لقب ملقبې شوې دي.

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الفرقان:۷۵] ایت لاندې د جنت کوټې په یوه حدیث سره تفسیرې کړې دي چې بیا تفسیرولو ته یې اړتیا نه ګورو. په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحت وراضافه کوو: نبي کریم ﷺ په خپل یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ»(۲) یعنې د جنت د ماڼیو یوه خښته د سپینو زرو ده او بله خښته یې د سرو زرو ده، او رازیګل یې خوشبویه مشک دي، او شګې یې ملغلرې او یاقوت دي، او خاوره یې زعفران ده.

ح: د دغه ایت مضمون په ډېرو ایتونو کښې منعکس شوی دی، لکه په [التوبة:۵۵] ایت کښې، او هم په [المؤمنون:۵۵] ایت کښې.

ط: د ایت شریف مضمون په ډېرو احادیثو کښې هم روایت شوی دی، د مثال په توګه: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ»(۳) یعنې یقینًا الله ﷻ (د مجازات په هکله) ستاسو صورتونو او ستاسو مالونو ته نه ګوري مګر ستاسو زړونو او ستاسو عملونو ته ګوري.

## یادونې

۳_ په دې مقام کښې لاندې دوه ټکي په یاد ولرئ:

الف: د ﴿ فَأُوْلَـٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَـٰتِ ءَامِنُونَ ﴾ کلماتو څه تفسیر د راتلونکي دریم ایت لاندې _إن شاء الله ﷻ_ راروان دی، چې د في سبیل الله انفاق چندونه پکښې واضحه شوي دي.

ب: په ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴾ کښې په صراحت د مشرکانو هغه ادعاء رده شوې ده کومه چې وړاندې په ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ جمله کښې د هغوی د خولو څخه حکایت شوې وه.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: دغه ایت شریف ﴿ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ﴾ د څو کلماتو په کمبود سره په همدغې مجموعه کښې لږ وړاندې نازل شوي وه په کومه کښې چې بحث روان دي؛ نو پوښتنه دا ده چې په تکراري نزول کښې یې څه حکمت دی؟

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۲

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۷۹

(۳) ... مسلم ج۲ ص۳۱۷؛ سنن ابن ماجه ص۳۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو: مفسرينو كرامو ذكره شوې پوښتنه په ډېرو وجوهو سره جوابه كړې ده[۱]، كوم جوابونه چې مونږ ته بهتر برېښي او په ايت شريف كښې وړاندې دليل هم موجوديت لري هغه دا دي:

الف: هلته د دوه وو اشخاصو د رزق پراخي او تنګي مطرحه وه، او دلته د يوه شخص د رزق پراخۍ او تنګۍ ته اشاره شوې ده چې په دوه زمانو او يا په دوه حالونو كښې وړاندې تېرېږي او راتېرېږي، د همدې كبله دلته د "لَهُ" كلمه نازله شوې ده او هلته يې نزول نه دی موندلی.

ب: هلته د كفارو د رزق پراخي او تنګي مطرحه وه او دلته د مؤمنانو د رزق پراخۍ او تنګۍ ته اشاره كېږي، د همدې كبله دلته د ﴿ مِنْ عِبَادِهِ ﴾ كلمات نازل شوي دي، او هلته نه دي نازل شوي.

## اخلاف څه معنی؟

۵_ په ﴿ فَهُوَ يُخْلِفُه ﴾ كښې د ﴿ يُخْلِفُه ﴾ كلمه د "اِخْلَاف" څخه اشتقاقه شوې ده، "اِخْلَاف" عوض وركولو ته وايي[۲].

خو په ياد ولرئ چې الله ﷻ هغو كسانو ته په مختلفو شكلونو كښې عوضونه وركوي كوم چې د همده ﷻ په لاره كښې د خپلو مالونو انفاق كوئ. د ښه وضاحت دپاره لاندې ټكي ولولئ:

الف: الله ﷻ ورته د نفقه كړي شوو مالونو په عوض كښې دنياوي حلال مال زياتوي لكه چې فرمايي: ﴿ يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ [البقرة:۲۷۶] يعني الله ﷻ د سود ګټه وته هلاكوي او محوه كوي او د صدقاتو مالونو ته زيادت وركوي.

ب: نبي كريم ﷺ په يوه قدسي حديث كښې فرمايلي دي چې: «يَا ابْنَ آدَمَ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ»[۳] يعنې اى بنيادمه! (ته زما په لاره كښې) انفاق وكړه نو زه به په تاباندې انفاق وكړم.

ج: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الْآخَرُ اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا»[۴] يعنې يوه ورځ هم نه ده چې بندګان پكښې سبا كوي مګر دوه پرښتې رانښكته كېږي، نو يوه پرښته وايي چې اى الله! ته (في سبيل الله) انفاق كوونكي ته عوض وركړه، او بله پرښته وايي چې اى الله! ته د مال بندوونكي ته تلف (هلاک) وركړه چې ستا په لاره كښې يې نه نفقه كوي.

د: قناعت وركول هم يو ډول عوض وركول دي، نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ»[۵] يعنې غنا د سامانونو (او مالونو) د ډېروالي څخه نه حاصلېږي. مګر كامله غنا د نفس (زړه) غنا ده.

(۱) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۴۵؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۷۶؛ روح المعاني ج۲۲ ص۱۵۰
(۲) تفسير الكشاف ج۳ ص۵۸۶
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۳۲۲ . صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۷
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۱۹۴
(۵) سنن ابن ماجه ص۳۰۵



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدا مضمون يوه پښتنون شاعر[1] داسې تمثل کړی دی چې:

په ښه خوی د بدخواهانو بې پروا یم :: په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا یم

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی :: پټ د درست جهان پاچا ظاهر ګدا یم

که چا لار د عاشقۍ وې ورکه کړې :: زه رحمان د ګمراهانو رهنما یم

ه: د في سبيل الله انفاق دپاره الله ﷻ په آخرت کښې د ځو چنده عوضونو وعده کړې ده چې پوره شرحه يې د الله ﷻ په توفيق د [البقرة: ٢٦١] او [الأنعام: ١٦٠] ايتونو لاندې تېره شوې ده.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې بندګان هم روزي ورکولی شي، بلکې الله ﷻ بندګانو ته په روزي ورکولو باندې امر هم کړی دی چې: ﴿ وَٱرْزُقُوهُمْ فِيهَا ﴾ [النساء: ۵] يعنې تاسو سادګانو ته په هغو مالونو کښې روزي ورکړئ کوم چې ستاسو د حفاظت لاندې دي.

حال دا چې په بل ايت کښې الله ﷻ روزي ورکول په خپل اقدس ذات پورې خاص ګرځولي دي چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ﴾ [الذاريات: ۵۸] يعنې يقيناً فقط الله ﷻ ټولو مخلوقاتو ته روزي ورکوونکی او د کلک قوت خاوند دی.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا ذکر شوي دواړه ايتونه سره يو تربله منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: د روزۍ د ورکړې نسبت په لاندې دوه دوه وو ډولونو سره صورت نيسي:

الف: يو د پيدا کولو او حقيقت په ملحوظ، چې په دې ملحوظ سره د روزۍ ورکول په الله ﷻ پورې اختصاص لري او د "الذاريات" په سورت کښې همدې ډول ته اشاره شوې ده.

ب: بل د اسبابو او کسب په لحاظ، چې دا ډول روزي ورکول د بندګانو خاصه ده او د "النساء" په ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

اما په دې مقام کښې ـ چې بحث پکښې روان دی ـ د ﴿ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ کلمه د عموم مجاز په اعتبار سره بندګانو ته هم شموليت لري[2] نو د دغې کلمې معنی ټول روزي ورکوونکي دي، برابره خبره ده چې په حقيقي توګه يې وي او که په مجازي توګه.

﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا ضَرًّا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ

---

(١) د عبد الرحمن مومند ديوان ص١٠١

(٢) روح المعاني ج٢٢ ص١٥١؛ تفسير المظهري ج٨ ص٣٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلنَّارِ ٱلَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾

[۴۰] او (ای پیغمبره!) داسې ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ (پکښې) ټول ,عابدین او معبودین) راټول کړي، بیا پرښتو ته ووایي چې: (ای پرښتو!) ایا دغه کفار (په دنیا کښې) وه چې تاسو ته یې عبادت کاوه؟

[۴۱] پرښتې به (په جواب کښې) ووایي چې: (ای الله!) تاته (د هر ډول نقص څخه) پاکي ده، ته د دغو کفارو څخه په غیر زمونږ دوست یې (مونږ د دوی د عبادت څخه بېزار یاستو، دغو زمونږ عبادت نه دی کړی) بلکې دوی د شیطانانو عبادت (اطاعت) کړی دی، د دوی اکثریت په همدوی (شیطانانو) باندې معتقدان (ایمان راوړونکي) وه.

[۴۲] نو (الله ﷻ به ووایي چې: ای عابدانو او معبودانو!) نن ورځ ستاسو ځینې کسان ځینو نورو ته نه د ګټې رسولو توان لري او نه ترې د ضرر (د مخنیوي توان او ملکیت لري).

او (په دغه ورځ کښې به) مونږ هغو کسانو ته ووایو کومو چې ظلم (کفر) کړی وه چې: د هغه اور (دوزخ) عذاب وڅکئ؛ د کوم په هکله چې تاسو وئ چې د دروغو نسبت به مو ورته کاوه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ﴾ جمله هم شامله وه، نو څه لرې نه ده چې ځینو مشرکانو بهانه نیولې وی چې که بالفرض د مرګ څخه وروسته بیا راژوندي کېدل حق وی نو زمونږ دپاره به هغه پرښتې شفاعت وکړي او د عذابه به نجات راکړي د کومو چې مونږ عبادت کوو، نو په دې ایتونو کښې همدغه بهانه جوابه شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي

ای پیغمبره! هغه ورځ یو ځل بیا یاده کړه په کومه کښې به چې الله ﷻ ټول خلک د حساب کتاب دپاره راغونډ کړي او څه حالات یې قرائت کړه هغه دا چې

۱ـ په دغې ورځ کښې به الله ﷻ د پرښتو سره داسې سوال جواب وکړي:

الف ای پرښتو! ایا دغو کسانو او دغې ډلې ستاسو عبادت کاوه؟ ایا دغو تمه درلوده چې تاسو به ورته شفاعت وکړئ؟

ب پرښتې به په جواب کښې عرض وکړي چې

اول ای الله! تاته د شرک په شمول د ټولو نواقصو څخه پاکي ده، مونږ پوهېږو او مونږ عقیده لرو چې ستا سره په عبادت کښې هیڅ شریک نشته.

دوهم ستا سره په عبادت کښې د اشتراک دعوه کول ستا سره دښمني ده، حال دا چې یوازې همدا ته ﷻ زمونږ دوست او زمونږ کار ساز یې (ستا د دښمنۍ څخه پنا غواړو).

دریم مونږ ستا ﷻ عابدان یاستو، مشرکان په مونږ باندې دروغ ترې چې مونږ یې معبودان وه، او هغوی مو عابدان وه.

څلورم بلکې حقیقت دا دی چې دغو مشرکانو په دنیا کښې د پېریانو (شیطانانو) عبادت کاوه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(د همدوی په اطاعت مشغول وه) او اکثریت بلکې ټول یې په همدوی باندې عقیده کوونکي او ایمان راوړونکي وه.

۲_ کله چې پرښتې د هغوی د عبادت څخه انکار وکړي او خپله بېزاري ترې اعلانه کړي، نو الله ﷻ به ټول عابدین او معبودین د عابدینو د تخجیل په ملحوظ مخاطب وګرځوي چې:

نن ورځ تاسو ټول یو تربله نه د ګټې د رسولو توان لرئ او نه یو تربله د ضرر مخنیوی کولی شئ، ای کفارو! تاسو به هیڅکله د دوزخ د اوره نجات مونده نه کړئ.

۳_ نو د همدې کبله به مونږ هغه کسانو ته د توبیخ او تخجیل دپاره ووایو کومو چې په دنیا کښې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی وي او کفر یې اختیار کړی وي چې:

ای ظالمانو! تاسو د هغه دوزخ د عذاب مزه وڅکئ په کوم باندې چې تاسو په دنیا کښې عقیده نه درلوده او د دروغو نسبت به مو ورته کاوه.

## توضیحات

۱_ د ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴾ الآیة- مضمون په نورو ایتونو کښې هم نازل شوی دی، لاندې نظائر یې ولولئ:

الف: د قیامت په ورځ به الله ﷻ عیسی ؑ مخاطب کړي چې: ﴿ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِى وَأُمِّىَ إِلَـٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ [المائدة: ۱۱۶] یعنې ایا تا خلکو ته ویلي وه چې د الله ﷻ څخه په غیر ما او زما مور په معبودیت سره ونیسئ؟

نو عیسی ؑ به هم تقریبًا همدغه جواب ووایي کوم چې په دې مقام کښې د پرښتو څخه حکایت شوي دي.

ب: کله چې الله ﷻ مشرکان او د دوی باطل معبودان راټول کړي نو د معبودانو څخه به د هغوی په حضور پوښتنه وکړي چې: ﴿ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِى هَـٰٓؤُلَآءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴾ [الفرقان: ۱۷] یعنې ایا تاسو زما دغه بندګان بې لارې کړي وه او یا دا چې دوی پخپله سمه لاره ورکه کړې وه؟

نو باطل معبودان به هم د عیسی ؑ غوندې نژدې همدغه جواب تکرار کړي کوم چې د الله ﷻ د پرښتو د خولو څخه راحکایت کړی دی.

## دلته شیطانان مطلب دي

۲_ په ﴿ بَلْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْجِنَّ ﴾ د کلمې څخه ابلیس او د ده لښکر مراد دی، الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ ﴾ [الکهف: ۵۰] یعنې ابلیس د پېریانو څخه وه

پاتې شوه دا خبره چې مشرکانو څنګه د شیطانانو عبادت کاوه، نو د دې دپاره مفسرینو کرامو متعدد صورتونه لیکلي دي[۱] چې د ټولو اراده کول هم څه منافات نه لري. د مثال په توګه

(۱) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۱۴۶، نظم الدرر ج۶ ص۱۸۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: مشرکانو د شیطانانو په دعوت د بوتانو عبادت کاوه، نو داسې وګڼل شو لکه چې دوی پخپله د همغوی عبادت کړی وي.

ب: مشرکانو ته شیطانانو څه مجسمې ښودلې وې چې دا د پرښتو مجسمې دي، تاسو یې په عبادت باندې مشغول اوسئ چې تاسو ته په ګټه تمامېږي.

په دغو دواړو صورتونو کښې په ﴿ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّ ﴾ کښې د ﴿ يَعۡبُدُونَ ﴾ کلمه د "يُطِيعُونَ" د کلمې معنی ورکوي.

په همدې ارتباط د [الأنعام:۱۰۰] ایت لاندې ښه مشرح بحث تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ، هیله ده چې هلته یو وار مراجعه وکړی شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ﴿ أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې د مشرکانو اکثریت په شیطانانو باندې معتقد وه او د همغوی اطاعت یې کاوه، حال دا چې د ﴿ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّ ﴾ جمله دا کار د ټولو مشرکانو بولي، نو پوښتنه دا ده چې دغه جملې یو تربله څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو ذکر شوی اعتراض په متعددو لارو سره جواب کړی دی[1] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ أَكۡثَرُهُم ﴾ ضمیر یوازې مشرکانو ته راجع نه دی چې اعتراض وارد شي بلکې دا ټولو انسانانو ته راجع دی، او پوره څرګنده ده چې د خلکو اکثریت د شیطانانو اطاعت کوي او اقلیت یې ترې ځانونه ساتي خو دا جواب متبادر نه دی.

ب: بهتر جواب دا دی چې ذکر شوی ضمیر د نورو ضمائرو غوندې مشرکانو ته راجع دی مګر په مشرکانو کښې داسې اقلیت شته چې شرکي عقیده یې د شیطان د اطاعت د کبله نه وه خپله کړې بلکې د عناد او یا د پېغور د ډاره په دغې عقیده باندې کلک وه، د ابو طالب کفر او همدارنګه د فرعون کفر د همدې قبیلې څخه وه چې د دواړو څه ناڅه بحث د [القصص:۵۶] ایت او [النحل:۱۴] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په ﴿ لَا يَمۡلِكُ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٖ ﴾ کښې د "كُمۡ" په ضمیر سره څوک-څوک مخاطب ګرځولی شوي دي؟

مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مخاطبینو کښې مفسرینو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[2]،

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۵۱؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۷۹

(۲) البحر المحیط ج۸ ص۵۵۷؛ تفسیر الطبري ج۲۲ ص۱۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو بهتر احتمال پکښې دا دی چې دلته عابدین او معبودین ـ برابره خبره ده چې پرښتې وي او که بل څوک ـ ټول مخاطب ګرځولی شوي دي. او اصلي مطلب پکښې د مشرکانو تهدید او ناامیده ګرځول دي. یعنې ای مشرکانو! نن ورځ خو ستاسو د عبادت څخه پرښتو خپله بېزاري اعلانه کړه. خو بالفرض المحال که دوی ستاسو په عبادت باندې قائل هم شي ستاسو په هکله به یې هیڅ شی د وسې پوره نه شي.

د ضمیر په همدغه تعمیم باندې د ﴿ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ﴾ جمله دلالت کوي.

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُكُمْ وَقَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾ وَمَآ ءَاتَيْنَٰهُم مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ۖ وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُواْ مِعْشَارَ مَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ فَكَذَّبُواْ رُسُلِى ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾ ﴾

[۴۳] او کله چې په کفارو (مشرکانو) باندې زمونږ واضحه (او څرګند) ایتونه ولوستلی شي نو دوی وایي چې: دغه (محمد) نه دی مګر داسې سړی دی چې د هغو (بوتانو) څخه زمونږ د اړولو اراده لري د کومو به چې زمونږ پلرونو عبادت کاوه (او غواړي چې په مونږ باندې خپل خان د مشر په حیث ومني).

او دوی دا هم وایي چې: دغه (کتاب) نه دی مګر (په الله ﷻ باندې) جوړ شوي دروغ دي (ترڅو ورته پیروان مونده کړي).

او (بالآخره) هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی، هر کله چې ورته حق ورشي (هغه ته اشاره کوي او) وایي چې دغه نه دی مګر څرګند جادو دی.

[۴۴] او مونږ کفارو (مشرکانو) ته (د قرآن څخه وړاندې) څه کتابونه نه دي ورکړي چې دوی یې (په تکراري توګه) لولوي، او نه مو ورته ستا څخه وړاندې کوم ډاروونکی (پیغمبر) ورلیږلی دی (چې دغه غلطه لاره یې ورته ښودلې وي).

[۴۵] او (د دغو کفارو غوندې) هغو کسانو (هم حق ته) د دروغو نسبت کړی وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي، حال دا چې دوی (د دې زمانې کفار) د هغو (مادیاتو) لسمې برخې ته نه رسېږي کوم چې مونږ هغوی ته ورکړي وه، نو هغوی زما پیغمبران تکذیب کړه.

نو زما انکار څنګه وه؟ (په هغوی مو څنګه بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل کړ؟ په کار دي چې دوی ترې عبرت واخلي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ایتونه په دې تمام شوي وه چې کفارو ته د ظلم او تکذیب د کبله د دوزخ اور ټاکلی شوی دی، په دې ایتونو کښې د هغوی د ظلم او تکذیب څو مثالونو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د کفارو د ظلم او تکذیب په ارتباط ابلاغ کړه چې:

۱ـ کله چې په کفارو باندې زمونږ څرګند دلایل او ایتونه ولوستلی شي نو په ځای د دې چې دوی پکښې فکر وکړي او يوې رښتيانې نتيجې ته پرې ورسېږي وايي چې:

الف: دغه سړی چې محمد نومېږي بل څه اراده نه لري بې د دې چې مونږ د هغو معبودانو څخه واړوي د کومو عبادت به چې زمونږ پلرونو کاوه، او خپل رياست راباندې قبول کړي، خو مونږ هيڅکله د خپلې پلرنۍ لارې څخه بل خوا اووښتونکي نه ياستو.

ب: دغه کتاب چې نوموړي د خپله خانه سره راوړی دی او د الهي کتاب په نامه يې يادوي، دا نه دی مګر دروغ دي، او الله ﷻ ته يې د دې دپاره نسبتوي چې په خلکو باندې يې ومنې.

يا په بل عبارت: دا کتاب دروغين کتاب دی او په الله ﷻ باندې يې په دروغو ورتپلی دی چې د ده ﷺ د پلوه نازل شوی دی. مونږ به هيڅکله په دروغين کتاب باندې د الهي کتاب عقيده ونه کړو او ايمان به ورباندې رانه وړو.

ج: او هغو کسانو کومو چې کفر غوره کړی دی، د کفر د امله عادت دا دی چې: په هره وخت او هر کله ورته حق ورشي او يا د نبوت کوم خوارق وګوري نو سمدستي ورته ګوته نيسي چې دا څرګند جادو دی.

که بالفرض دوی د جادو په لقب ورکولو کښې بيړه نه کولی او د څه سوچ او فکر څخه يې کار اخستی وی نو احتمال وه چې سرونه يې ورباندې خلاص شوي وی او غاړې يې ورته اېښې وی.

۲ـ ای پيغمبره! د کفارو ادعاګانې يوه هم په دليل باندې ولاړه نه ده. او دا ځکه چې:

الف: نه عقلي دليل شته چې ته د مشرې غوښتونکی يې او يا دا قرآن کريم دروغژن کتاب او يا جادو دی.

ب: او نه پرې نقلي دليل شته، چې د قرآن کريم څخه وړاندې مونږ هغوی ته کوم کتاب ورنازل کړی وي چې د بل کتاب راوړونکی جادوګر دی او کتاب يې دروغين کتاب دی.

ج: بالآخره هغوی ته مونږ ستا څخه وړاندې کوم ډارونکی هم نه دی وراستولی چې هغه ورته ذکره شوې توصيه کړې وي.

۳ـ خبره دا ده چې ستا د زمانې کفار د پخوانيو کفارو غوندې بلا دليله د حقائقو تکذيب کوي نو:

الف: لکه څنګه چې د هغوی څخه مالونو او اوږدو عمرونو د عذاب مخه وانه ړولی شوه همدارنګه د دوی څخه هم مالونه او ثروتونه د عذاب مخه نه شي اړولی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حال دا چې دوی ته ورکړی شوي نعمتونه د هغو نعمتونو لسمې برخې ته هم نه شي رسېدلی کوم چې هغوی ته ورکړی شوي وه، چې د هغوی عمرونه ډېر اوږده او جسامتونه یې ډېر غټ-غټ وه.

ب: خو د دې سره- سره هغوی زما د پیغمبرانو تکذیب وکړه او وروبانديې کافر پاتې شوه، نو ما يې تکذيب وغانده او عذاب مې وروبانديې ورنازل کړه.

ج: نو وګورئ چې زما غندل څنګه وه او څه نتیجه يې ورکړه؟ ایا د هغوی بېخ او بنیاد مې ونه ویست؟ ایا ټول مې پوپنا نه کړه؟

## توضیحات

١_ په ﴿ وَمَآ ءَاتَيْنَٰهُم مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ﴾ کښې د "يَدْرُسُونَ" کلمه د "درس" څخه اشتقاقه شوې ده، چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران: ٧٩] ایت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده.

٢_ په دې باندې علاوه د همدغه ایت شریف مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی چې: ﴿ أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا۟ بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴾ [الروم: ٣٥] یعنې ایا مونږ په مشرکانو باندې کوم دلیل نازل کړی دی نو هغه دلیل د هغو بوتانو په حقیت باندې ناطق دی کوم چې دوی پرې شرک کوي او پرې مشرکان ګرځېدلي دي؟ (دغسې نه ده).

## مِعْشَار څه معنی؟

٣_ په ﴿ وَمَا بَلَغُوا۟ مِعْشَارَ مَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ ﴾ کښې د ﴿ مِعْشَار ﴾ کلمه د "عُشْر" (لسمې برخې) معنی ورکوي[1].

دا د یو پلوه، او د بل پلوه د ذکرې جملې په ضمائرو کښې مفسرینو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[2]، خو کوم احتمال چې جمهورو خوښ کړی دی هغه دا دی چې: د ﴿ بَلَغُوا۟ ﴾ ضمیر د "مکې مشرکانو یا د دې زمانې کفارو" ته راجع دی او ﴿ ءَاتَيْنَٰهُمْ ﴾ غائب ضمیر د پخوانیو کفارو څخه عبارت دی.

یعنې: د دې زمانې کفار د هغو مادي نعمتونو لسمې برخې ته هم نه شي رسېدلی کوم چې پخوانیو کفارو ته ورکړی شوي وه، چې عمرونه یې اوږده وه او شتمنۍ يې ډېرې وې. خو د الله ﷻ د عذاب په مقابل کښې ورته هیڅ شي څه ګټه ونه شوه رسولی نو ایا د دې زمانې کفارو ته به څه ګټه ورسولی شي؟

﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍ ۖ أَن تَقُومُوا۟ لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا۟ ۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَىْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ

---

(١) مفردات الراغب ص٣٤٧

(٢) روح المعاني ج٢٢ ص١٥٤؛ زاد المسير ج٦ ص٢٤١؛ البحر المحيط ج٨ ص٥٥٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ
بِٱلْحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ ٱلْبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ إِن ضَلَلْتُ
فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي وَإِنِ ٱهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِيٓ إِلَيَّ رَبِّيٓ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾

[۴۶] (ای پیغمبره! کفارو ته) ووایه چې: زه تاسو ته په یوه خبره باندې پند درکوم (هغه دا) چې تاسو خاص د الله ﷻ (د رضا) په خاطر دوه دوه تنه او یا یو-یو تن پورته شئ، بیا (په دې کښې) فکر (پوره غور او تحقیق) وکړئ، چې ستاسو په انډیوال (محمد ﷺ) پورې څه لیونتوب نشته.

ستاسو انډیوال نه دی مګر ستاسو دپاره د سخت عذاب په وړاندې ډاروونکی دی (او بس).

[۴۷] (ورته) ووایه چې: (بالفرض المحال) کوم اجر چې زه ستاسو څخه غواړم نو هغه دې همدا ستاسو وي (هغه دې تاسو ته تبریک وي)، زما اجر نه دی مګر په الله ﷻ باندې دی (چې تفضلاً یې په خپل اقدس ذات باندې منلی دی)، او الله ﷻ په هر شي باندې شاهد دی (هیڅ شی ترې غیاب نه شي موندلی، نو زما په ذکره شوې خبره باندې هم شاهد دی).

[۴۸] (ورته) ووایه چې: یقینًا زما رب ﷻ په حق سره ویشتل کوي (ماته یې په وحې سره را استوي، او همدی ﷻ) په ټولو غیوبو باندې پوه دی (هغه څوک ډېر ښه پېژني چې د نبوت جوګه وي).

[۴۹] (ورته) ووایه چې: (دغه دی) حق راغی او باطل به نه (په وده) شروع وکړي او نه به بېرته راوګرځي (بلکې بالکل به محوه او نابود شي).

[۵۰] (ورته) ووایه چې: که (بالفرض المحال) زه ګمراه شوم نو یقینًا زما ګمراهي به زما په خپل خان وي (د هر چا څخه وړاندې به یې ضرر په ما وي)، او که زه لاره موندونکی کړم نو په هغه (څه به یې موندونکی کړم کوم) چې زما رب ﷻ ماته وحې کوي (نو په دې صورت کښې به یوازې همدا تاسو متضرر وګرځئ).

(همدغه دوهم صورت واقعیت او حقیقت دی ځکه چې) یقینًا زما رب ﷻ (د ټولو اقوالو اورېدونکی (او په علم او قدرت سره ماته ډېر) نژدې دی (که بالفرض زه دروغژن وی نو دومره فرصت به یې نه وی راکړی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په تهدید باندې ختم شوی وه چې د پخوانیو کفارو د حالاتو څخه عبرت واخلئ او حق ته غاړې کېږدئ، په دې ایتونو کښې همدغه توصیه د خواخوږۍ په پستو کلماتو کښې وړاندې شوې ده، چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د دعوت د وړاندېښې طرز څخه وروسته دا خل په بل طرز او طریقې سره د کفارو هکله دعوت وچلوه هغه دا چې:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:
الف: زه تاسو یوې ډېرې مهمې خبرې ته متوجه کوم. چې تفصیل یې دا دی:
ب: تاسو خاص د الله ﷻ د رضا دپاره او د حق د پلټنې په غرض، دوه-دوه تنه او یو-یو تن پورته شئ او ښه په دقت سره فکر وکړئ چې:
ج: ستاسو په انډیوال (محمد ﷺ) پورې هیڅ لیونتوب نشته، د ده ﷺ کلام او دعوت د لیونیانو د کلام او دعوت سره څه تشابه نه لري.
محمد ﷺ په تاسو کښې نااشنا سړی نه دی بلکې په تاسو کښې ماشوم رالوی شوی دی او تاسو ته یې کړه وړه او صداقت او امانت ډېر ښه معلوم دی.
د: نو په همدې بنیاد محمد ﷺ نه دی مګر تاسو ته د یوه سخت عذاب د راتلو څخه وړاندې ډاروونکی دی او بس، تاسو ته په کار دي چې د جادوګر او لیوني او داسې نور لقبونه ورباندې کښېنږدئ.
۲_ دا هم ورته ووایه چې: ای مشرکانو! که بالفرض زه ستاسو څخه د دعوت په قبول باندې څه مزدوري غواړم نو هغه دې د همدا ستاسو وي، زه ترې خپله بېزاري اعلانوم. او دا ځکه چې:
الف: زما اجر او ثواب په بل هیچا نه دی مګر په الله ﷻ باندې دی چې د مهربانۍ د کبله یې په خپل اقدس ذات باندې د هغه التزام کړی دی.
ب: الله ﷻ په هر شي باندې شاهد دی او هیڅ شی ترې غیاب نه شي موندلی، نو په همدې بنیاد زما زړه هم ورته معلوم دی چې زه ستاسو څخه د څه شي تمه نه لرم، بلکې زه الله ﷻ شاهد ګرځوم چې زه په خپله خبره کښې رښتینی یم.
۳_ دا هم ورته وایه چې: یقیناً زما رب ﷻ په حق سره د باطل ماغزه وباسي او د منځه یې ورباندې وړي، د همدې کبله یې ماته د وحې سلسله پیل کړې ده او پیغمبر یې جوړ کړی یم.
یقیناً زما رب ﷻ په ټولو غیبو باندې ډېر ښه پوه دی، نو دا هم ورته معلومه ده چې څوک د پیغمبر ګرځولو دپاره مناسب دی او څوک مناسب نه دی.
۴_ دا هم ورته ووایه چې: دغه دی حق راغی او د باطل (کفر) ماغزه یې تیت پرک کړه چې په راتلونکي کښې به نه په ظهور باندې پیل وکړي او نه به بېرته راوګرځي، نو تاسو ته په کار دي چې د حق پیروي وکړئ او خپل خانونه د حق په پیروی کښې امامان او مخکښان وګرځوئ، نه پرشاتلونکي.
۵_ بالآخره مشرکانو ته ووایه چې:
الف: ای مشرکانو! که بالفرض المحال زه په خپله ادعاء کښې دروغژن او ګمراه یم، نو د ټولو څخه وړاندې به ما خپل خان ته ضرر رسولی وي، او پوره ځرګنده ده چې هیڅوک خپل خان ته ضرر نه رسوي، او په مصیبت کښې یې نه غورځوي.
ب: او که زه په سمه لاره باندې روان یم نو دا کار بدون د الهي وحې څخه امکان نه لري، نو په دې صورت کښې به ماته ضرور خپل رب ﷻ وحې کړې وي، ځکه زه به واقعي او رښتیانی پیغمبر اوسم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واقعیت همدا دوهم صورت دی، چې زما رب ﷻ د ټولو اقوالو اورېدونکی دی، او ماته په علم او قدرت سره ډېر نژدې دی. کله چې د همده ﷻ د پلوه درګرده زما تائید کېږي نو معلومه شوه چې په وړاندېنیو دواړو صورتونو کښې دوهم صورت حقیقت لري او دا ځکه چې زما رب ﷻ په دروغو باندې د نبوت مدعي خلکو ته رسوا کوي او تائید یې نه کوي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿أَن تَقُومُواْ لِلَّهِ﴾ کښې د ﴿تَقُومُواْ﴾ کلمه د قیام څخه اشتقاقه شوې ده، لکه څنګه چې په ﴿وَأَن تَقُومُواْ لِلۡيَتَـٰمَىٰ بِٱلۡقِسۡطِ﴾ [النساء:۱۲۷] کښې د ﴿تَقُومُواْ﴾ کلمې د همدغه قیام څخه اشتقاق موندلی دی، په دغو دواړو ایتونو کښې قیام د زیات تحقیق او زیات اهتمام څخه عبارت دی[۱]؛ نو په دې مقام کښې به یې د معنی حاصل داسې راوخېژي چې:

زه تاسو ته د یوې خبرې په هکله نصیحت کوم، هغه دا چې تاسو په ډېر اهتمام سره په پوره اخلاص دوه-دوه تنه د افکارو تبادله وکړئ او بیا یې په انفرادي توګه هم پوره وڅېړئ چې ستاسو په انډیوال (محمد ﷺ) پورې کوم جنون او لیونتوب نشته.

## یادونې

۲ـ په دې مقام کښې لاندې یادونې په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: په ﴿مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ﴾ کښې د نبي کریم ﷺ څخه په "صَاحِبٌ" سره تعبیر وکړی شو، ترڅو مشرکان په غور ووهلی شي چې نبي کریم ﷺ خو په تاسو کښې څلوېښت کاله عمر تېر کړی دی چې تاسو ته یې ټول کړه وړه او صداقت او هوښیاري ښه معلومه ده، نو تاسو ته څه مناسب دي چې د لیوني او جادوګر لقب ورکوئ.

په همدې هکله د [الأعراب:۱۸۴] ایت لاندې څه تحقیق تېر شوی دی والحمد لله ﷻ چې یو ځل لوستل یې بې ګټې نه دي.

ب: په ﴿إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم﴾ کښې د ﴿نَذِيرٌ﴾ کلمې یوه عملي صحنه د یوه حدیث شریف په رڼا کښې د [الشعراء:۲۱۴] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ذکره شوې ده، چې یو ځل کتل یې ګټور دي.

## قَذَفَ څه معنی؟

۳ـ په ﴿قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ﴾ کښې د ﴿يَقۡذِفُ﴾ کلمه د "قَذَف" څخه اشتقاقه شوې ده، "قَذَف" د لرې ځایه څخه په ویشتلو دلالت کوي[۲]، خو په دې مقام کښې "قَذَف" د وحي څخه عبارت دی[۳].

شاید چې په دغه تعبیر کښې به دې ته اشاره وي چې بالفرض که الله ﷻ په خپل فضل سره وحي

---

(۱) تفسیر اللباب ج۱۶ ص۸۴
(۲) مفردات الراغب ص۴۱۲
(۳) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۱۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه وی نازله کړې نو په یوه حرف باندې به یې هم څوک نه وی پوه شوی، یعني وحې د خلکو څخه ډېره بعیده ده خو د الله ﷻ په فضل سره رانژدې شوې ده.

همدې مضمون ته په [الأنعام: ١٢٤] او [النحل: ٢] ایتونو کښې هم اشاره شوې ده.

## إِبْدَاء او إِعَادَة څه څه ته وايي؟

۴_ په ﴿ قُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ ٱلْبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴾ کښې د ﴿ يُبْدِئُ ﴾ او ﴿ يُعِيدُ ﴾ دواړه فعلونه په ترتیب سره د "إِبْدَاء" او "إِعَادَة" څخه اشتقاق شوي دي، چې په دې مقام کښې دواړه لازم فعلونه دي (متعدي نه دي)[1] دواړه د محوه کولو څخه کنایه دي[2].

یعنې دغه دی حق دین راورسېد او باطل (کفري دین) محوه او نابود شو، چې نه به بیا په وده پیل وکړي او نه به د دوهم خل دپاره بېرته راتاو شي.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴾ [بني إسرائیل: ٨١] یعنې: او حق راغی او باطل محوه شو، یقینًا باطل محوه کېدونکی دی.

﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ فَزِعُوا۟ فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا۟ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾ وَقَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ وَقَدْ كَفَرُوا۟ بِهِۦ مِن قَبْلُ ۖ وَيَقْذِفُونَ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ فِى شَكٍّ مُّرِيبٍۭ ﴿٥٤﴾ ﴾

[۵۱] او کله چې ته په هغه وخت کښې کفار وګوري چې په هیبت (او ډار) کښې واقع شي (نو ته به ډېر عجیبه حال وګورې)، نو (دوی لره به په دغه وخت کښې) هیڅ ډول نجات نه وي، او د نژدې ځای څخه به (په ډېرې توندۍ سره) ونیولی شي.

[۵۲] او کفار به (په دغه وخت کښې) ووايي چې: مونږ په محمد ﷺ باندې ایمان راوړی دی، حال دا چې د لرې ځای (د محشر د میدان) څخه به دوی ته د ایمان رانیول د کومه شي (چې ایمان یې قبول وګرځي).

[۵۳] په داسې حال کښې چې پخوا (په دنیا کښې) ورباندې کافر شوي وه، او د لرې ځای څخه به یې په غیبو (په پټو سترګو او بلا دلیله په القابو) ویشتل کول (چې دا ساحر دی! شاعر دی! لیونی دی! او داسې نور).

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۲۸

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٥٤] او (په دغه وخت کښې) به د کفارو په منځکښې او د هغه شي په منځکښې پرده واقع کړی شي کوم چې دوی به یې غوارې (چې ورته حاصل شي، لکه د ایمان قبول، یا بېرته دنیا ته ستنېدل او داسې نور).

(د دې زمانې د کفارو سره به داسې عمل وکړی شي) لکه څنګه به چې د دوی د وړاندېنیو امثالو کفارو سره عمل (کار) ترسره کېږي.

یقیناً ټول کفار (په دنیا کښې) په سخت وارخطاکوونکي شک کښې واقع دي (چې د وتلو په ټولو دروازو باندې یې سترګې پټې کړي دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې مشرکانو ته په ډېرو پستو کلماتو کښې پند ورکړی شوی وه چې د کفر څخه لاس واخلي او په اسلام باندې مشرف شي، خو هغوی قبول نه کړ او خپل کفر او شرک ته یې ادامه ورکړه. په دې ایتونو کښې د هغوی هغه حال ته اشاره شوې ده په کوم کښې به چې هغوی د ارمان سره مخامخ شي او ذکر شوی پند به قبول کړي خو څه ګټه به ورته ونه شي رسولی.

نو حاصل یې داسې راځېږي:

اې پیغمبره! نن ورځ خو مشرکان او کفار ستا پند او نصیحت نه قبلوي او خپل ځانونه ورباندې کاڼه اچوي، خو داسې ورځ را روانه ده چې هغوی به پکښې ستا نصیحت قبول کړي مګر څه ګټه به ورته ونه رسوي او هغه دا چې:

۱_ ته به په هغه وخت کښې ډېر عجیب حال وګورې چې کله د قیامت ورځ قائمه شي، نو:

الف: په دغه وخت کښې به کفار په سخت ډار کښې پرېوځي او د خلاصون او نجات دروازې به هم ورباندې وتړلی شي.

ب: په دغې ورځ کښې به هغوی ته په عذاب سره نیول ډېر نژدې وي چې په ډېره اسانۍ سره به نیولی کېږي او د تېښتېدلو توان به ونه لري، په سات کړی کښې به دوزخ ته ورټېلوهلی شي.

۲_ په دغه وخت کښې به کفارووایي چې: مونږ په قرآن کریم باندې ایمان راوړی دی او ستا پند او نصیحت مو قبول کړی دی، خو د دغه وخت ایمان او اعتراف به ورته هیڅ ګټه ونه شي رسولی او دا ځکه چې:

الف: د ایمان راوړلو ځای دنیا ده چې دار التکلیف دی، او آخرت خو دار التکلیف نه دی بلکې دار الجزاء دی.

ب: په هغه وخت کښې ایمان راوړل داسې مثال لري لکه څوک چې د آخرت څخه دنیا ته لاس راوغزوي او څه یې چې په ګټه تمامېږي هغه ترې رااوچت کړي.

لنډه دا چې آخرت د دنیا څخه ډېر لرې دی، د هغه ځای څخه دلته لاس نه راغزولی کېږي.

ج: حال دا چې کفارو په همدغه قرآن کریم باندې په دنیا کښې کفر غوره کړی وه او هیڅ نصیحت ته یې غوږ نه نیوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: هغوی به په دنیا کښې پیغمبر ﷺ او قرآن کریم په ډول-ډول لقبونو یاد کړي. لکه جادوګر او جادو، یا شاعر او شعر او داسې نور.

هغوی د دغو لقبونو په اثبات باندې هیڅ دلیل نه درلود، بلکې د هغوی مثال داسې وه لکه چې څوک د ډېر لرې ځای څخه په پټو سترګو په یو هدف باندې فیرونه کوي.

هـ: نو په دغه وخت کښې به د کفارو او د هغه شي ترمنځ حائل واقع شي کوم ته چې د هغوی اشتهاء راځي او زړونه يې غواړي. یا په بل عبارت: په دغې ورځ کښې به د کفارو غوښتنه رد کړی شي، نه به يې ایمان قبول کړی شي او نه توبه.

۳ـ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې لکه څنګه چې ستا د اُمت د کفارو ایمان او توبه نه قبلیږي همدارنګه چال چلند به د دوی د هغو امثالو سره هم وکړی شي کوم چې د دوی څخه وړاندې تیر شوي دي، بلکې دغه به د ټولو کفارو حال وي او هیڅوک به مطلب ته ونه رسیږي چې ایمان يې قبول شي. او دا ځکه چې:

هلته به د ټولو کفارو څخه وخت تېر وي چې په یقین سره دوی تول نن ورځ په ډېر قوي شک کښې پراته دي او هیڅ نصیحت ورباندې څه اثر نه غورځوي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ إِذْ فَزِعُوا ﴾ د کلماتو څخه دنیاوي عذاب مراد کړی دی[1]، خو بهتره دا ده چې دلته اُخروي عذاب مراد کړی شي چې د راتلونکو ایتونو مضمون ورسره ډېر ښه تړاو لري[2].

نو په همدې بنیاد، که څه هم د "فَزِعُوا، أُخِذُوا، قَالُوا، حِيلَ، فُعِلَ" کلمې د ماضي صیغې دي خو باید د مضارع په صیغو سره معنی کړی شي[3].

او کله چې د یو شي واقع کېدل یقیني وي نو هلته ترې کله-کله په عربي ژبه کښې په ماضي سره تعبیر صورت نیسي چې متحقق الوقوع ده، ته به وایې چې لا وړاندې واقع شوی دی.

## فَوت څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فَلَا فَوْتَ ﴾ کښې د ﴿ فَوْتَ ﴾ کلمه د دې دپاره وضعه شوې ده چې یو شی د سړي څخه دومره لرې واقع شي چې رانیول يې مشکل او سخت وګرځي[4]. په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ذکره شوې کلمه په نجات سره معنی کړې ده[5].

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۲ ص۱۰۸
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۴۴
(۳) تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۹۲، البحر المحیط ج۸ ص۵۶۴
(۴) مفردات الراغب ص۴۰۰
(۵) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۳۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴾ کلمات د نيولو د سرعت څخه کنايه دي[۱].

يعنې کله چې ته کفار وګورې چې د قيامت په ورځ يې د عذاب هيبت احاطه کړي نو د نجات ټولې دروازې به وربانديې وتړلی شي او په عين حال کښې به په ډېرې جلتی. او توهين آميزه توګه ونيولی شي، نو ته به هلته ډېر عجيب حال وګورې.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَقَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦ ﴾ کښې او همدارنګه د راتلونکي ايت په ﴿ وَقَدْ كَفَرُواْ بِهِۦ مِن قَبْلُ ﴾ کښې د "بِهِ، بِهِ" دواړه ضميرونه څه شي ته راجع دي؟

مونږ وايو چې: د دغو دواړو ضميرونو مرجع که په (الله ﷻ، محمد ﷺ، قرآن کريم، يوم البعث) کښې هره يوه مرجع وټاکل شي په اصل مطلب باندې څه اثر نه پرېوځي، مګر څرنګه چې د وړاندېنيو ايتونو څخه راپه دېخوا د نبي کريم ﷺ د رسالت موضوع مطرحه ده نو بهتره دا ده چې ذکر شوي ضميرونه نبي کريم ﷺ ته راجع وګڼل شي.

په دې باندې علاوه په ﴿ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴾ کښې د "تَنَاوُش" کلمه د نږدې ځايه څخه د يوه شي را اخستلو ته وضعه شوې ده[۲].

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي چې: د قيامت په ورځ به کفار ووايي چې: مونږ په محمد ﷺ باندې ايمان راوړی دی چې ليونی او جادوګر نه دی بلکې په حقه پيغمبر دی. خو د هغوی د دغه وخت ايمان به هيڅکله د قبول مقام ته ونه رسېږي او دا ځکه چې د ايمان د قبول ځای دنيا ده او هلته به د هغوی څخه دنيا ډېره لرې پاتې شوې وي، نو ايمان به يې داسې مثال ولري لکه څوک چې د لرې ځای څخه د يوه شي د رانيولو اراده وکړي حال دا چې هلته يې لاس نه وررسېږي او د لاس د وررسېدلو په وخت کښې يې ترې انکار کړی وي او خپل ځان يې وربانديې ګول اچولی وي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: الله ﷻ په ﴿ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴾ کښې د محشر ميدان ته د "بعيد" لقب ورکړی دی چې د قيامت ورځ د دنيا څخه ډېره لرې واقع ده، حال دا چې په بل ايت کښې يې ورته د قُرب نسبت کړی دی چې: ﴿ ٱقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ ﴾ [الأنبياء: ۱] يعنې خلکو ته د دوی محاسبه (د قيامت ورځ) نږدې ده؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه دوه ايتونو سره څه منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: د دنيا د اختتام څخه وړاندې د قيامت ورځ نږدې ده چې راتلونکې ده او سات په سات رانږدې کېږي، اما د دنيا د اختتام څخه وروسته به ترې لرې وګرځي چې ګړی په ګړی به يې ترې فاصله اضافه کېږي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۵۷

(۲) لسان العرب ج۶ ص۳۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ننږه دا چې د قیامت د ورځې دوه لقبونه (قریب، بعید) د دوه وو وختونو په نسبت صورت نیسي نو څه منافات سره نه لري.

## بیا هم د قذف معنی

۵_ په ﴿ وَيَقْذِفُونَ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴾ کښې د "يَقْذِفُونَ" کلمه د "قَذْف" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ لږ وړاندې د [سبا:۴۸] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلی دی چې "قَذْف" د یته وضعه شوی دی چې څوک د لرې ځای څخه ګوزارونه کوي چې په هدف نه نښلي.

په دې مقام کښې همدغه معنی د ﴿ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴾ په کلماتو سره تاکیده شوې هم ده چې د عدم ثبوت، او عدم دلیل څخه کنایي دی. او دا ځکه چې مشرکانو هیڅ دلیل نه درلود چې نبي کریم ﷺ ته د شاعر یا ساحر او یا نور کفري لقبونه ورکړي.

په دې باندې علاوه، که څه هم د "يَقْذِفُونَ" کلمه مضارع ده، خو په ماضي باندې دلالت کوي، لکه چې معطوف علیها جمله ﴿ وَقَدْ كَفَرُواْ بِهِۦ مِن قَبْلُ ﴾ یې هم ماضي ده.

په همدې ارتباط مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۹۱] ایت لاندې ښه خوندور بحث لیکلی دی چې کله-کله د ماضي څخه د تقبیح دپاره په مضارع سره تعبیر کولی شي.

نو د ذکرو شوو ملحوظاتو په بنیاد د ایت شریف مضمون داسې راخېژي چې: په بعید مکان (د محشر په میدان) کښې به په نبي کریم ﷺ باندې څنګه د مشرکانو ایمان د قبول مقام ته ورسېږي حال دا چې هغوی ورباندې په دنیا کښې کفر غوره کړی وه او په پټو سترګو او بلا دلیله به یې ورباندې د کفري لقبونو ګوزارونه کول او خپله کفري عقیده به یې ورباندې سات په سات پیاوړې کوله.

## څو نکات

۶_ په ﴿ وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه وکړئ:

الف: د "حِيلَ" کلمه مجهوله ماضي ده او د "حَوْل" _لکه "قَوْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د "حَيْلُولَة" (پردې) معنی ورکوي او مستتر ضمیر یې همدغه مصدر ته راجع دی[۱]، چې په عربي محاورو کښې مثالونه او نظائر لري[۲].

ب: که څه هم په ﴿ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ ﴾ کښې د "ما" کلمه ځینو مفسرینو کرامو په دنیاوي مالونو او ثروتونو باندې هم تفسیره کړې ده[۳]، مګر مونږ ته داسې برېښي چې د هغوی تفسیر به د مثال په توګه صورت نیولی وی او حصر به یې مطلب نه وي، او ذکره شوې کلمه به مقبول ایمان او د بوتانو شفاعت ته هم شامله وي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۵۹

(۲) شرح ملا جامي في النحو ص۱۳۴

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۴۵؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۵۶۴؛ زاد المسیر ج۶ ص۲۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: د قیامت په ورځ به د کفارو ترمنځ او د هغو شیانو ترمنځ حائل او پرده واقع کړی شي، کوم چې د هغوی زړونه یې غواړي، لکه مقبول ایمان او مقبول شفاعت، یا لکه بېرته دنیا ته ستنېدل او د مالونو او ثروتونو څخه ګټه پورته کول او نور.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې د قیامت په ورځ خو د ټولو کفارو سره په یوه وخت کښې ذکر شوی چال چلند صورت نیسي، حال دا چې د ﴿ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ﴾ څخه ظاهرًا څرګندېږي چې مخکې والی او وروسته والی به ولري؟

مونږ وایو چې: د ﴿ مِّن قَبْلُ ﴾ کلمات په ﴿ فُعِلَ ﴾ پورې تعلق نه نیسي چې ذکر شوی اعتراض وارد شي، بلکې د ﴿ بِأَشْيَاعِهِم ﴾ پورې مربوط دی. نو حاصل یې داسې لاس ته راځي چې:

اې پیغمبره! ستا د اُمت د کفارو سره به هغه چال چلند اجراء کړی شي کوم به چې د دوی د وړاندېنیو امثالو سره صورت نیسي، نو د ټولو غوښتنې او مشتهیات به د پښو لاندې کړی شي او هیڅوک به یې مطلب ته ونه رسېږي.

## یادونه

۸_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۵۷] ایت لاندې لیکلي دي چې کله کوم شي ته د خپل لفظ څخه صفت جوړ کړی شي نو د همغه شي په قوت باندې دلالت کوي. په ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ ﴾ کښې د ﴿ مُرِيبٍ ﴾ کلمه د "رَیْب" څخه اشتقاقه شوې ده چې د "شك" سره مرادفه ده، ته به وایې چې د خپل لفظ څخه ورته صفت جوړ کړی شوی وي، نو دلته هم د شک په قوت باندې دلالت کوي.

یعنې: کفارو ته به د قیامت په ورځ څکه ذکر شوي مشکلات وردمخه شي چې نن ورځ دوی په ډېر قوي شک کښې پراته دي چې د هیڅ دلیل د اغېز لاندې نه راځي.

د الله ﷻ په توفیق د سبا سورت په پښتو ژبه ترجمه او تفسیر شو.

د الله ﷻ څخه د راتلونکو سورتونو د ترجمو او تفسیرونو د ختمولو توفیق هم غواړو.

۱۴۲۱/۱۲/۲۹ هـ ق – ۱۳۸۰/۱/۴ هـ ش.

Scanned by CamScanner

# فاطر (۳۵)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت په دووه وو نومونو باندې نومول شوی دی چې دواړه د سورت د اولني ایت څخه اخستل شوي دي، یو نوم یې "فَاطِرِ" دی او بل یې "الْمَلَائِكَة" دی[۱]. نو په همدغو دواړو نومونو باندې د قرآن کریم د نورو سورتونو څخه جدا ګرځولی شوی دی.

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د دې سورت د ایتونو شمېره پنځه څلوېښتو (۴۵) ته رسېږي[۲].

ب: د کلمو شمېر یې اوه سوه اوه نوي (۷۹۷) دی[۳].

ج: د حرفونو شمېر یې درې زره یو سلو دېرش (۳۱۳۰) دی[۴].

۳_ دا سورت (فاطر) مکي سورت دی[۵] چې د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی.

### د دې سورت محتویات

۴_ په دې سورت (فَاطِر) کښې هم د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي احکامو باندې ډېر زور اچولی شوی دی، لکه د الله ﷻ توحید، د نبي کریم ﷺ نبوت، د قیامت قیام، بعث بعد الموت او داسې نور.

### د دواړو سورتونو تناسب

۵_ دا سورت (فَاطِر) او وړاندېنی سورت (سبأ) سره یو تر بله ډېر تناسبونه لري. د مثال په ډول:

الف: دواړه سورتونه مکي سورتونه دي او دواړه په ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ﴾ سره پیل شوی دی.

ب: په دواړو کښې د الله ﷻ د نعمتونو په ذکر باندې زور اچولی شوی دی، ترڅو د عقیدې د تصحیح دپاره ذریعه وګرځولی شي.

ج: په دواړو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي او ډاډ ورکړی شوی دی.

د: په دواړو کښې د الله ﷻ د کامل قدرت مثالونه ښودلی شوي دي، او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُو۟لِىٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ ۚ يَزِيدُ فِى ٱلْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾ مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن

---

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۳: تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۳۱۸

(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۵۶۴

(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۹۷

(۴) تفسیر الخازن ج۵ ص۱۷۳

(۵) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ټولې ستاینې (او سپېڅلي صفات) خاص الله ﷻ لره دي، چې د اسمانونو او ځمکو بدون د سابق مثال پيدا کوونکی دی، (او هم) د داسې پرښتو پيغام رسوونکی ګرځوونکی دی چې د دوه وو-دوه وو او درېوو-درېوو او څلورو-څلورو وزرونو خاوندانې دي.

(په دې باندې علاوه) الله ﷻ په پيدايښت کښې هغه څه زياتوي کومو ته يې چې اراده وشي (او دا ځکه چې) يقيناً الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت درلودونکی دی.

[۲] الله ﷻ چې څه شی د خلکو دپاره پرانيزي هر يو رحمت (او نعمت) چې وي نو د هغه دپاره هيڅ بندونکی نشته، او هر هغه شی چې (الله ﷻ يې د بندګانو څخه) بند کړي (هر نعمت چې وي) نو د هغه دپاره د الله ﷻ د بندولو څخه وروسته هيڅ پرانستونکی نشته.

او (دا ځکه چې) الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت د وروستنيو ايتونو په مضامينو کښې دا خبره هم شامله وه چې الله ﷻ به د قيامت په ورځ هرومرو د مؤمنانو دښمنانو (کفارو او مشرکانو) ته د خپلو کړو وړو په سبب ابدي عذاب او دائمي سزا ورکړي.

په دې ايتونو کښې مؤمنانو ته تلقين شوی دی چې په همدې نسبت تاسو د الله ﷻ حمد او ثنا ووایاست، چې د يو پلوه به ستاسو دښمنان په سزا ورسوي او د بل پلوه يې په تاسو باندې د خپل رحمت دروازې پرانستې دي، نو د رحمت پرښتې د همدې کبله د غيبو څخه ځي راځي او پروازونه کوي. چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ ــ ټول مـ ـامد او ټولې ستاينې په الله ﷻ پورې اختصاص لري او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ بدون د سابق مثال څخه د اسمانونو او ځمکو پيداکوونکی دی، ايا د ده ﷻ سره څوک سيالي کولی شي؟

ب: همدی ﷻ د غيبو څخه د پرښتو رالېږونکی دی چې د وحې په شمول خپل رحمتونه د همدوی په سلسله په خپلو مخلوقاتو باندې رالښکته کوي.

ج: د اسمانونو او ځمکو غوندې يې پرښتې هم بدون د سابق مثال څخه پيدا کړي دي، او د دوه وو-دوه وو او درېوو-درېوو او هم د څلورو-څلورو او لا د دې څخه د اضافه وزرو درلودونکې يې جوړې کړې دي، چې په ډېر سرعت سره د همده ﷻ د اوامرو په سرته رسولو کښې پروازونه کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په دې باندې علاوه الله ﷻ په پیداکولو کښې (د کم او کیف په لحاظ) هغه څه اضافه پیدا کوي کوم ته یې چې اراده وشي. د مثال په توګه خینو پرښتو ته یې د ذکرو شوو عددونو څخه زیات وزرونه هم ورکړي دي، چې اندازه یې فقط همده ﷻ ته معلومه ده او بس، او د نورو کیفیاتو معلومات یې هم په همده ﷻ پورې اختصاص لري.

ه: لنډه دا چې الله ﷻ په هر شي باندې کامل قدرت لري. نو په همدې بنیاد:

۲_ کله چې د خپلو بې اندازې رحمتونو څخه کوم یو رحمت په خپل مخلوق باندې وروپرانېزي نو د هغه مخه هیڅ شی نه شي بندولی.

۳_ او هر یو رحمت چې د خپل مخلوق څخه بند کړي نو د ده ﷻ د بندولو څخه وروسته یې هیڅوک او هیڅ شی راخوشې کوونکی نه شي جوړېدلی.

د مثال په توګه: هیڅوک د الله ﷻ د ارادې په خلاف نه وحې جارې کولی شي او نه یې د وحې د جارې کولو مخه بندولی شي.

۴_ نو الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی دی او هر یو کار یې د حکمتونو په بنیاد صورت نیسي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ کښې د ﴿فَاطِرِ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۱۴] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده، چې الله ﷻ د ځمکو او اسمانونو رومبی پیداکوونکی دی چې نه یې د بل چا پیداکول ترمیم کړي دي او نه یې په پیدا کولو کښې په بل چا پسې اقتداء کړې ده.

## د پرښتو په موجودیت عقیده

۲_ د پرښتو په هکله لاندې معلومات یاد ساتل په کار دي:

الف: د پرښتو په موجودیت عقیده کول فرض دي، هرڅوک چې ترې انکار وکړي هغه کافر بالله دی او په ابدي توګه به په دوزخ کښې پروت وي.

ب: مونږ د پرښتو په هکله په هغه شي باندې عقیده لرو کوم چې په قرآن کریم او احادیثو کښې په اثبات رسېدلی وي.

نو په همدې بنیاد مونږ په اجمالي توګه معتقد یاستو چې پرښتې متعدد وزرونه لري اما د وزرونو تفصیلي علم یې الله ﷻ ته سپارو.

ج: خینو علماوو کرامو د پرښتو په ارتباط زښت ډېر نصوص (ایتونه او احادیث) راغونډ کړي دي[1] الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي چې دلته رانقلول یې ډېر اوږدوالی پیدا کوي.

د: د ﴿يَزِيدُ فِي ٱلْخَلْقِ مَا يَشَآءُ﴾ څخه د مقام (وړاندې جملې) په ملحوظ د اشارې په توګه معلومېږي

(۱) شرح العقیدة الطحاویة لابن ابي العز الدمشقي ص۴۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې خپنو پربنتو ته الله ﷻ د ځلورو وزرو څخه اضافه وزري هم ورکړي دي، چې په یوه حدیث کښې یې په یوه مثال باندې صراحت هم شوی دی هغه دا چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې: «أَنَّهُ رَأَى جِبْرَئِيلَ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ»[۱] يعني يقينًا نبي كريم ﷺ جبرائیل امین علیه السلام (په خپله اصلي څېره) لیدلی دی چې شپږ سوه وزرې یې درلودې.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ خَـٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٤﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٥﴾ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُوا۟ حِزْبَهُۥ لِيَكُونُوا۟ مِنْ أَصْحَـٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٨﴾ ﴾

[۳] ای خلکو! په تاسو باندې د الله ﷻ نعمتونه درېه یاد کړئ، (او وواياست چې) ایا د الله ﷻ څخه په غیر کوم پیداکوونکی شته چې تاسو ته (روزمره) د اسمان او ځمکې څخه روزي درکوي؟ (حقیقت دا دی چې په حقه) معبود نشته مګر الله ﷻ دی (او بس)، نو تاسو (د حقې لارې څخه ځنګه (او په څه وجه) تاوولی کېږئ؟

[۴] او (ای پیغمبره!) که کفار تا ته د دروغو نسبت کوي نو (ته مه غمژن کېږه ځکه چې) یقیناً ستا څخه مخکښې ډېرو پیغمبرانو ته د دروغو نسبت کړی شوی دی (په دې هکله ستا ملګري ډېر دي). او خاص الله ﷻ ته ټول کارونه ورګرځولی کېږي (د حساب کتاب ورځ راروانه ده).

[۵] ای خلکو! یقینًا د الله ﷻ وعده حقه ده (او د شیطان وعده دروغژنه ده) نو تاسو لره دې حقیر (او نژدې) ژوند دوکه نه کړي، او نه دې تاسو لره په الله ﷻ سره ډېر دوکه کوونکی (شیطان) دوکه کړي.

[۶] یقینًا شیطان (ډېر دوکه باز) تاسو ته (پخوانی) دښمن دی نو تاسو یې د دښمن په حیث ونیسئ (او د دوستۍ لاس مه ورکوئ). بې شکه شیطان د دې دپاره خپل ټولګي (پېروانو) ته دعوت

[۱] صحيح البخاري ج۱ ص۴۵۸. او ج۲ ص۷۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکوي ترڅو هغوی (د همده ملعون غونډې) د دوزخ ملګري جوړ شي.

[۷] هغو کسانو ته (په آخرت کښې) سخت عذاب دی کومو چې کفر غوره کړی دی. او هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او نېک (صالح) عملونه يې کړي دي خاص همدوی ته (د الله ﷻ د پلوه عظیم الشان) مغفرت او لوی اجر دی.

[۸] ايا نو هغه څوک کوم ته چې خپل بد عمل ښايسته کړی شوی وي نو د ښايسته (نېک عمل) په حيث ورته ګوري (د هغه چا غونډې دی چې ورته نه وی ښايسته کړی شوی)؟

نو يقيناً الله ﷻ (د حکمت په مقتضی) هغه څوک ګمراه کوي کوم ته يې چې اراده وشي او هغه چا ته هدايت کوي کوم ته يې چې اراده وشي.

نو (ای پيغمبره!) ستا (مبارک) ځان دې په کفارو (د دوی په کفر) باندې د حسرتونو (او افسوسونو) د کبله (د منځه) لاړ نه شي (چې هلاک شي).

بې شکه الله ﷻ په هغو کارونو باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې هغوی يې په ډېر مهارت سره اجراء کوي (نو موافقه سزا به ورکړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ د وړاندېنيو ايتونو په مضمون کښې دا خبره هم شامله وه چې د نعمتونو ورکړه يوازې د الله ﷻ په اختيار کښې ده او بس. په دې ايتونو کښې همدغه مطلب په لاندې ټکو سره تعقيب شوی دی:

الف: بايد ټول خلک د الله ﷻ په نعمتونو باندې اعتراف وکړي او د شيطان په لمسون ونه غولېږي چې ناشکري ته يې ملاوې وتړي او په کفر باندې کلک شي.

ب: د خلکو د ناشکرۍ په صورت کښې په کار دي چې نبي کريم ﷺ په صبر او زغم کښې په پخوانيو پيغمبرانو پسې اقتداء وکړي او خپله حوصله خرابه نه کړي.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

۲ـ ای پيغمبره! کله چې ټول نعمتونه د الله ﷻ د پلوه دي، نو ټول خلک مخاطب کړه او ورته ووايه چې:

الف: ای خلکو! تاسو د الله ﷻ هغه نعمتونه په شکر (عقيدې او عمل) سره ياد کړئ کوم يې چې په تاسو باندې پېرزو کړي دي، نو د کفر څخه اجتناب وکړئ او د اسلام لاره غوره کړئ.

ب: ای خلکو! تاسو خو روزمره په هغې روزۍ باندې لګيا ياست کومه چې الله ﷻ تاسو ته د اسمانونو څخه په باران او د ځمکې څخه په نباتاتو سره درکوي.

نو په کار دي چې تاسو عبادت هم يوازې په الله ﷻ پورې مختص وګرځوئ. او دا ځکه چې:

اول: ايا د الله ﷻ څخه په غير بل څوک د روزۍ پيداکوونکی شته؟

دوهم: نو تاسو د الله ﷻ د عبادت څخه کوم لور ته اړولی کېږئ؟

درېم: ايا دا خبره مناسبه ده چې روزي د الله ﷻ د پلوه درکوله کېږئ او په عبادت سره باطلو معبودانو ته سرونه ښکته کوئ؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای پیغمبره! که خلکو ستا ذکره شوې توصیه قبوله نه کړه او ستا تکذیب ته یې بدې وهلې نو ته وربانديې ډېر مه غمژن کېږه، او دا ځکه چې:

اول: ته د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر یې، نو څه چې په هغوی باندې د خپلو-خپلو امتونو د پلوه ورغلي وه هغه به په تا باندې هم درځي، نو لکه څنګه چې د هغوی تکذیب شوی وه همدارنګه به ستا تکذیب هم کېږي.

دوهم: لکه چې هغوی د زغم څخه کار اخستی وه، ته هم باید د زغم څخه کار واخلې.

دریم: ځکه چې د ټولو کارونو اخرنی مرجع الله ﷻ ته ده او بس، چې د هر کار سره به مناسبه سزا یا جزا ورکړي. یا په بل عبارت: ته خپله دعوتي دنده سرته ورسوه نور نو الله ﷻ پوهېږي او کار یې.

۴_ ای پیغمبره! یو ځل بیا ټول خلک (د مسلمانانو په شمول) مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای خلکو! یقیناً د الله ﷻ وعده حقه او رښتیا ده، د حساب کتاب ورځ در روانه ده چې ټول کارونه به پکښې د الله ﷻ حضور ته وړاندې کړی شي.

ب: تاسو د دغې ورځې دپاره تیاری ونیسئ او زما دعوت قبول کړئ چې د نجات خاوندان جوړ شئ.

ج: تاسو لره دې دا نږدې او حقیر ژوند ونه غولوي چې حقیقي او ابدي ژوند وربانديې هېر کړئ او هیڅ تیاری ورته ونه نیسئ.

د: همدارنګه تاسو دې په هیڅ وجه غولوونکی شیطان ونه غولوي خاصتاً په دې وجه چې الله ﷻ ښونکی او مهربان دی امید دی چې تاسو ته به کفر هم وبښي او په دوزخ کښې به مو پرې وانچوي.

ه: نو د شیطان په دغې غولونې باندې مه غولېږئ، الله ﷻ هیڅ ته کفر نه بښي، او د کفر څخه پرته د نورو ګناهونو ښښل او نه ښښل هم د الله ﷻ په اختیار کښې دي، څوک وربانديې په زور ښښل نه شي کولی.

و: یقیناً شیطان ستاسو قدیمي دښمن دی، هیڅکله هغه تاسو ته د خیر خبره نه کوي بلکې غواړي چې تاسو وغولوي او د هلاک په کنده کښې مو ورواچوي. نو تاسو ته په کار دي چې د دوستۍ لاس ورنه کړئ او په دښمنۍ سره یې ونیسئ.

ز: یقیناً شیطان غواړي چې تاسو په خپل ټولګي کښې شامل کړي، البته د دې دپاره چې د خپل خان غوندې مو ابدي دوزخیان وګرځوي، هغه د همدې مطلب په غرض خپلو پیروانو ته دعوت چلوي.

۵_ کله چې قیامت قائم شي نو ټول خلک به د محاسبې په نتیجه کښې په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ووېشلی شي:

الف: هغو کسانو ته د الله ﷻ په نزد ډېر سخت عذاب ټاکلی شوی دی کومو چې کفر غوره کړی دی او په همدغه کفري حال باندې مړه شوي دي.

ب: هغو کسانو ته خاص د همدوی دپاره د الله ﷻ د پلوه د ګناهونو مغفرت او ډېر لوی اجر دی کومو چې په دنیا کښې ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې ورسره ضمیمه کړي وي.

۶_ ای پیغمبره! د ذکر شوي بیان څخه وروسته لاندې ټکو ته توجه وکړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د قیامت په ورځ خدای لول خلک په نوموړو دوه وو ګروپونو باندې ویشلی کیږي چې د دواړو ګروپونو تګلارې په دنیا کښې جداجدا دي او د دواړو ترمنځ ډېر لوی تفاوت موجود دی. د مثال په توګه: ایا هغه څوک چې د شیطان د پلوه ورته خپل بد عمل ښایسته ښکاره شوی وي او د نېک عمل په نظر ورته ګوري، د هغه ځا غونډې دی کوم چې د شیطان په غولولو نه غولیږي او نېک عمل ورته نېک او بد عمل ورته بد ښکاري؟

ب: ای پیغمبره! کفارو ته چې خپل بده کړنلاره ښایسته برېښي د دې وجه دا نه ده چې ستا په دعوت کښې څه نقصان دی، بلکې وجه یې دا ده چې الله ﷻ د حکمت په مقتضی هغه څوک ګمراه کوي کوم ته یې چې اراده وشي او هغه چاته هدایت کوي کوم ته یې چې اراده وشي.

نو ذکرو شوو کفارو ته یې (د هغوی د بد استعداد د کبله) د هدایت اراده نه ده شوې.

ج: نو ستا مبارک ځان دې په دغو کفارو باندې د حسرت او اندېښنې د کبله د منځه لاړ نه شي (نه وروباندې ځان له ډېره غمه د مرګ په خطره کښېږه مه اچوه).

د: یقیناً الله ﷻ په هغو کارونو باندې پوه دی کوم چې کفار یې په ډېر مهارت سره اجرا کوي، نو موافق او مناسب چال چلند به ورسره وکړي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ هَلْ مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ ﴾ په اعراب کښې متعدد تحلیلونه کړي دي[۱]، خو کوم تحلیل چې په زړه پورې برېښي هغه په لاندې تکو ولاړ دی[۲]:

الف: په ﴿ مِنْ خَٰلِقٍ ﴾ کښې د "مِنْ" توری د استغراق او تاکید دپاره زائد دی.

ب: د ﴿ خَٰلِقٍ ﴾ کلمه مبتدا موصوفه ده چې محلاً مرفوعه ده.

ج: په ﴿ غَيْرُ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ غَيْرُ ﴾ کلمه د زیات نکارت د کبله په اضافت سره تعریف نه شي کسب کولی، نو د ﴿ خَٰلِقٍ ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده.

د: د ذکرې شوې موصوفې مبتدا خبر مقدر دی چې مونږ ترې په (موجود) سره تعبیر کوو.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای خلکو! ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک خالق شته؟ چې تاسو ته د اسمانونو او ځمکو څخه روزي درکړي، چې د اسمان څخه باران رانازل کړي او یا د ځمکې څخه کوم بوټي (نبات) رازرغون کړي؟

## شیطان چلباز دی

۲ـ په ﴿ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴾ کښې د "غَرُور" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [لقمان ۳۳] ایت لاندې ډېره ښه تحلیله کړې ده، چې اصلاً د غولونکي دپاره وضعه شوې ده خو دلته ترې شیطان

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۶۵؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۱۰۱
(۲) تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مراد دی، بیا تحلیلولو ته یې اړتیا نه ګورو خو په دې مقام کښې ورباندې د شیطان د چلونو څو مثالونه وراضافه کوو، ترڅو ترې مؤمنان اجتناب وکړي. هغه دا چې:

الف: شیطان د جنایتونو په هکله خلک ترغیبوي چې الله ﷻ غفور او رحیم دی او هم د ده ﷺ پیغمبر شفاعت کوونکی دی، د جنایتونو د ارتکاب څخه څه ډار په کار نه دی.

ب: اما د نېکۍ په هکله شیطان ډېر زیار وباسي چې د انسان مخه ونیسي.

ج: که په مخه نیولو باندې یې بریالی نه شي نو بیا انسان هڅوي چې د خپل وخت څخه یې تاخیر کړي او په اصلي وخت کښې یې اداء نه کړي.

د: که د نېکیو په ټالولو کښې یې هم خبره ونه منله شي نو بیا زیار باسي چې د اداء کولو په کیفیت کښې یې نیمګړتیاوې پېښې کړي، مثلاً په لمانځه کښې یې د ارکانو تعدیل او طمانیه د منځه یوسي او داسې نور.

هـ: کله چې انسان د شیطان د دغې وسوسې په مقابل کښې هم مقاومت وکړي نو بیا یې ریاکارۍ ته هڅوي.

و: بالآخره په دې غوښتنه کښې چې هم ناکام پاتې شي نو بیا یې عُجب او ځان بینۍ ته متوجه کوي چې ستا غوندې صالح بل هیڅوک نشته.

دا څو شیطاني وسوسې مونږ د مثال په توګه ذکرې کړې که نه نو د ده ملعون چلونه او غولونې د انحصار لاندې نه راځي، په کار دي چې مؤمنان ورته ډېر زیات متوجه اوسي.

## یو نحوي تحلیل

۳ـ په ﴿أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا﴾ کښې د "مَنْ" کلمه د خپلو ټولو متعلقاتو سره مبتدأ ده او خبر یې مقدر دی چې مونږ ترې په "كَمَنْ لَمْ يُزَيَّنْ لَهُ" سره تعبیر کوو، یعنې ایا هغه څوک چې د شیطان د پلوه ورته خپل بد عمل ښایسته کړی شوی وي نو په نېک او حسن نظر ورته ګوري د هغه چا غوندې دي چې خپل بد عمل ورته نه وي ښایسته کړی شوی او په نېک نظر ورته نه ګوري؟

همدا مضمون په نورو ایتونو کښې په صراحت سره نازل شوی دی لاندې یوه بیلګه یې ولولئ:

الله ﷻ فرمایي چې: ﴿أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ﴾ [محمد:۱۴] یعنې ایا نو هغه څوک چې د خپل رب ﷻ د پلوه په څرګند حجت باندې روان وي د هغه چا غوندې دی کوم ته چې خپل بد عمل د شیطان د پلوه ښایسته کړی شوی وي (او په نېک نظر ورته ګوري)؟

﴿وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ﴿٩﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ ۚ وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أُولَٰئِكَ هُوَ يَبُورُ ۝١٠ وَاللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ
مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ ۚ
إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ۝١١ ﴾

[۹] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې بادونه چلوي نو دا (بادونه) وريځې پورته کوي، نو موږ دغه وريځې مړ ښار (وچې کلکې ځمکې) ته راکاږو نو په دې (د دې په اوبو) سره (همدغه مړه) ځمکه د هغې د مرګ ځخه وروسته راژوندۍ کوو (او نبات ترې رازرغونوو او راوباسو).

(ای پیغمبره!) همدارنګه (د قبرونو ځخه) راپورته کېدل هم دي (چې د مړو په راپورته کولو سره به ځمکه راژندۍ کړو).

[۱۰] هرڅوک چې عزت غواړي نو (هغه دې د الله ﷻ په اطاعت سره عزت وغواړي او دا ځکه چې) ټول عزت الله ﷻ پورې مختص دی.

خاص الله ﷻ ته پاکيزه کلمې پورته کېږي (او د قبول مقام ته رسېږي) او (همدارنګه) صالح عمل چې دی هغه هم الله ﷻ اوچتوي (او د قبول مقام ته يې رسوي).

او (بالمقابل) هغه کسان کوم چې بد تدبيرونه کوي (او د خبيثو کلمو ويوونکي دي) همدغو کسانو ته (د الله ﷻ په نزد) سخت عذاب دی. او د دغو کسانو چل (او پټ تدبير) بالکل باطلېږي (او زړونه يې چې کومه نتيجه غواړي هغه به وربانديې مرتبه نه شي).

[۱۱] او الله ﷻ تاسو (د اصل په اعتبار) د خاورو ځخه پيداکړي ياست بيا د نطفې ځخه، بيا يې تاسو (د همدغه يو اصل ځخه) جوړې (نر او ښځه) ګرځولي ياست (چې دنياوي ژوند مو تامين کړي).

او هيڅ ښځينه (په خپل رحم کښې) څه شی نه پورته کوي او نه يې (د رحم ځخه) وضعه کوي (ږدي) مګر د الله ﷻ په (کامل) علم سره (چې ټول کيفيات او ټول کميات يې ورته معلوم دي).

او (همدارنګه) هيڅ عمر ورکړی شوي ته عمر (ژوند) نه ورزياتولی کېږي او نه د هيڅ عمر ورکړی شوي څه عمر کمولی کېږي مګر (د محوې او اثبات) په کتاب کښې (ليکلی شوی) دی.

يقيناً دغه (ذکر شوي کارونه) په الله ﷻ باندې اسان دي (نو بيا راژوندي کول هم ورته څه ستونزمن کار نه دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وراندېنې ايتونه په دې تمام شوي وه چې الله ﷻ د کفارو په هغو ټولو کارونو باندې پوه دی کوم چې هغوی يې په ډېر مهارت سره اجراء کوي، نو هرو مرو به موافقه سزا ورکړي. په دې ايتونو کښې د هغې ورځې په راتللو باندې دلايل اقامه کړی شوي دي په کومه کښې به چې ذکره شوې سزا ورکول صورت ونيسي، نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! اوس د قيامت د ورځې په قيام باندې دوه دلايل اقامه کړه چې دا ورځ ضرور راتلونکې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده، یو افاقي دلیل او بل انفسي دلیل:

۱ـ د افاقي دلیل خلاصه دا ده چې:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې بادونه چلوي او هوا ته حرکت ورکوي.

ب: دغه بادونه په تک شنه اسمان کښې وریځې پورته کوي او تحقق ورکوي.

ج: نو بیا مونږ همدغه د باران څخه ډکه وریځ داسې یوه وطن ته سوق کوو کوم چې وچ کلک وي چې د مړي غوندې هیڅ حرکت پکښې موجودیت نه لري او ځمکه یې په نبات باندې نه راپورته کېږي.

د: نو کله چې په همدغه وطن او ښار باندې باران وورو نو مونږ د همدغه مړه ښار ځمکه د مرګ څخه وروسته په باران سره راژوندۍ کړو او د نباتاتو په راټوکېدلو باندې پیل وکړي، ته به وایې چې مړی بېرته راژوندی شو.

ه: ای پیغمبره! لکه څنګه چې د ځمکې څخه مونږ نباتات راوباسو همدارنګه به د قیامت په ورځ ټول خلک د ځمکې څخه ژوندي راوباسو. لکه څنګه چې مونږ په بادونو سره د وریځو ټوټې راجمعه کوو همدارنګه به په ارواګانو سره د بدنونو خورې ورې ټوټې راجمعه کړو.

نو کفارو ته په کار دي چې د ذکر شوو بیاناتو څخه د عبرت درس واخلي او د قیامت د قیام څخه انکار ونه کړي، په دغې ورځ کښې به مؤمنان د عزت خاوندان وي او کفار به د ذلت سره مخامخ وي.

و: په همدې بنیاد هرڅوک چې د عزت او وقار غوښتونکی وي هغه دې د الله ﷻ احکامو ته غاړه کېږدي ترڅو د عزت خاوند وګرځي او دا خکه چې ټول عزت ورکول او د هر حیثه وقار ورکول په الله ﷻ پورې اختصاص لري، د ده ﷻ څخه پرته نه څوک عزت لري او نه چاته عزت وربښلی شي.

ز: د الله ﷻ په نزد د عزت موندلو سبب دوه شیان دي، چې یوه د توحید کلمه ویل (ایمان راوړل) دي او بل صالح عمل دی.

نو د الله ﷻ په نزد پاکیزه کلمې د قبول مقام ته پورته کېږي او صالح عمل هم د ده ﷻ په نزد کښې د قبول درجې ته اوچتول کېږي. او بالعکس کفري کلمې او خبیث اعمال د ذلت اسباب دي.

ح: د همدې کبله هغو کسانو ته قیامت په ورځ د ذلت او اهانت سخت عذاب ټاکلی شوی دی کوم چې د بدیو او فتنو د راوینبولو دپاره پټو تدبیرونو ته صورت ورکوي، او غواړي چې د عزت اسبابو مخه بنده کړي او اسلام خورېدلو ته پرېنږدي.

یا په بل عبارت: څوک چې د طیبې کلمې په عوض د خبیثې کلمې (کفري کلمې) ویونکی وي او د صالح عمل په عوض د بدو عملونو خاوندان وي، نو دغه کسان به هیڅکله په خپل هدف کښې کامیاب نه شي او د بدیو پټ تدابیر به یې د هلاکت او نابودۍ سره مخامخ شي.

۲ـ د قیامت په قیام باندې د انفسي دلیل خلاصه دا ده چې:

الف: ای خلکو! الله ﷻ تاسو د اصل (آدم ؑ) په لحاظ د خاورو څخه پیدا کړي یاست، او بیا یې په ذاتي لحاظ د نطفې څخه پیدایښت درکړی دی، بیا یې په همدغه فرعي پیدایښت کښې تاسو جوړې جوړې ګرځولي یاست، چې ځینې مو نارینه او ځینې نور مو ښځینه دي؛ نو پوښتنه دا ده چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا همدغه د کامل قدرت خاوند (الله ﷻ) په دې قدرت نه لري چې بو ځل بیا تاسو د قبرونو څخه راپورته کړي او پرته د تدريجه موجوديت درکړي؟

ب: هيڅ ښځينه په خپل رحم (ګېډه) کښې څه شی نه پورته کوي او نه يې ترې وضعه کوي او غورځوي، مګر دا هر يو کار د الله ﷻ په کامل علم سره صورت نيسي، چې ټول کيفيات او کميات يې ورته ښه پوره څرګند دي؛ نو پوښتنه دا ده چې:

ایا همدغه د کامل علم خاوند (الله ﷻ) ته ستاسو د بدنونو خاورې شوې پرزې هو بهو معلومې نه دي؟ چې په څه کيفيت او څه کميت په ځمکه کښې خورې ورې ګرځېدلې دي او چرته چرته پرتې دي؟

ج: په دې باندې علاوه هيڅ عمر ورکړی شوي ته زيات عمر نه ورکول کېږي او نه ترې کمېږي مګر هغه ټول په کتاب کښې ثبت او ليکلي شوي دي؛ نو پوښتنه دا ده چې:

ایا د همدغه کتاب خاوند (الله ﷻ) ته دا نه ده معلومه چې تاسو به په دنيا کښې څومره عمرونه تېروئ او بيا به څومره وخت په قبرونو کښې مړه پراته ياست او بالآخره بيا به څه وخت د قبرونو څخه راپورته کېږئ او نوی تازه ابدي ژوند او عمر به پيل کوئ؟.

د: لنډه دا چې ستاسو ټول کفيات (اړول او رااړول) د الله ﷻ د کامل قدرت او کامل علم په بنياد صورت نيسي نو تاسو ته په کار دي چې د قيام قيامت د قيام څخه انکاري ونه ګرځئ.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا ﴾ الآية- مضمون په يوه اوږده حديث کښې د يو صحابي ﷺ سره د نبي کريم ﷺ په لاندې سوال جواب کښې د هر ښه شرحه شوی دی:

صحابي ﷺ: يا رسول الله! الله ﷻ مړي څنګه راژوندي کوي (په دنيا کښې يې مثال څنګه دی؟).

نبي کريم ﷺ: «أَمَا مَرَرْتَ بِأَرْضٍ مِنْ أَرْضِكَ مُجْدِبَةٍ ثُمَّ مَرَرْتَ بِهَا مُخْصِبَةً؟» يعني ايا ته د خپلو ځمکو څخه په کومه ځمکه نه يې تېر شوی چې وچه کلکه او د نباتاتو څخه خالي وي، او بيا ورباندې تېر شوی يې چې په نباتاتو سره تکه شنه ګرځېدلې وي؟

صحابي ﷺ: هو، ورباندې تېر شوی يم.

نبي کريم ﷺ: «كَذَلِكَ النُّشُورُ»[1] همدغه ډول الله ﷻ د قبرونو څخه مړي هم راپورته کوي او ژوندي کوي يې.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په بل اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «ثُمَّ يُنْزِلُ اللهُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ»[2] يعني بيا به الله ﷻ د اسمان څخه باران رانښکته کړي نو مخلوقات به د ځمکې څخه داسې راڅرګند شي او ترې راوبه وځي لکه څنګه چې ترې شنه واښه رازرغونېږي او ترې راوځي.

---

[1] مسند احمد بن حنبل ج۵ ص ۴۷۰
[2] صحيح مسلم ج۲ ص۴۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يو نحوي تقدير

٢ـ په ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ﴾ كښې د "مَنْ" كلمه د شرط معنى ته متضمنه ده او جزا يې مقدره ده چې د ﴿ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ﴾ كلمات ورباندې دلالت كوي او مونږ ترې په "فَلْيَتَعَزَّزْ بِاللهِ ﷻ" سره تعبير كوو. يعنې هرڅوک چې د خپل ځان دپاره د دنياوي يا اُخروي عزت او شرف د حاصلولو اراده لري، نو دغه مطلب دې فقط په الله ﷻ سره ترلاسه كړي او د همده ﷻ اطاعت دې وكړي، او دا ځكه چې هر ډول عزت او شرف په الله ﷻ پورې اختصاص لري او په اطاعت سره يې خپلو دوستانو ته وركوي لكه چې نبي كريم ﷺ او مؤمنان يې ورباندې معزز ګرځولي دي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه په دغه ايت شريف كښې د مشركانو كړنلاره رده شوې ده چې د بوتانو عبادت به يې د عزت او شرف د حاصلولو په نيت كاوه، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُوا۟ لَهُمْ عِزًّا ﴾ [مريم: ٨١] يعنې مشركان د الله ﷻ څخه په غير خپل بوتان د دې دپاره د معبودانو په حيث نيسي ترڅو ورته د عزت او شرف اسباب جوړ شي (او د ذلت څخه نجات وركړي، خو دغسې نه ده).

همدې مضمون ته نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث شريف كښې اشاره كړې ده چې: «وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ»[1] يعنې هيڅوک د الله ﷻ د رضامندۍ دپاره تواضع نه كوي مګر الله ﷻ به ورته (په دنيا او آخرت كښې) اوچتوالى وركړي. او په همدې مضمون باندې د ايت شريف متصله فقره هم دلالت كوي هغه دا ﴿ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ﴾ الآية.

## څو نكات

٣ـ په ﴿ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّـٰلِحُ يَرْفَعُهُ ﴾ كښې لاندې نكاتو ته توجه وكړئ:

الف: د ﴿ يَصْعَدُ ﴾ كلمه د "صُعُود" ـلكه "قُتُول"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې لازم فعل دى او د ختلو معنى وركوي[2].

ب: د ﴿ ٱلْكَلِمُ ﴾ كلمه د "كَلِمَة" جمعه ده چې مذكر او مؤنث دواړه ضميرونه ورته رجوع موندلى شي[3]، د همدې كبله دلته د ﴿ ٱلطَّيِّبُ ﴾ په كلمې سره موصوفه شوې ده چې مفرده مذكره ده.

ج: د ﴿ ٱلْكَلِمُ ﴾ كلمه په دې مقام كښې مفسرينو كرامو په متعددو معناوو سره تفسيره كړې ده[4]، خو رئيس المفسرين عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د توحيد په كلمو سره معنى كړې ده[5]، كه څه هم د توحيد كلمه (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ) خو يوه كلمه ده خو شايد چې تعدد (جمعيت) به يې د تكلم كوونكو

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٣٢١
(٢) مفردات الراغب ص٢٨٨
(٣) لسان العرب ج١٢ ص٥٢٣
(٤) اللباب في علوم الكتاب ج١٦ ص١١٠
(٥) روح المعاني ج٢٢ ص١٧٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په لحاظ صورت نیولی وي. یعني الله ﷻ ته د توحید کلمه -چې په اخلاص سره صورت ونیسي- ورپورته کېږي او د قبول مقام ته رسېږي د هر چا د پلوه چې وویلی شي.

د: د ﴿یَرْفَعُهُ﴾ کلمې د "رَفَعَ" -لکه "ضَرَبَ"- څخه اشتقاق موندلی دی چې دلته ترې په رتبه او شرف کښې اوچتول مطلب دي، دا د یو پلوه.

ه: او د بله پلوه د ذکرې شوې کلمې په ضمائرو کښې متعدد احتمالات صورت نیولی شي[1]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: چې مرفوع ضمیر ﴿ٱلْكَلِمُ﴾ ته راجع شي او منصوب ضمیر "الْعَمَلُ الصَّالِحُ" ته. یعني د توحید کلمې صالح اعمال د قبول مقام ته رسوي او دا ځکه چې بدون د همدغې عقیدې څخه صالح اعمال د الله ﷻ په نزد مقبول نه شي ګرځېدلی.

دوهم: چې مرفوع ضمیر "الْعَمَلُ الصَّالِحُ" ته راجع شي او منصوب ضمیر ﴿ٱلْكَلِمُ﴾ ته. یعني صالح اعمال د توحید کلمو ته پورته والی ورکوي. یا په بل عبارت: کله چې د توحید د کلمې سره صالح عمل ملګری شي نو سړی ورباندې د ابدي دوزخ او موقت دوزخ (دواړو) څخه نجات مومي.

درېیم: چې مرفوع ضمیر الله ﷻ ته راجع شي او منصوب ضمیر "الْعَمَلُ الصَّالِحُ" ته راجع وګڼلی شي، یعني الله ﷻ خپل اقدس ذات ته صالح عمل پورته کوي او په لوړه درجه یې قبلوي، حتی چې اقلاً د یوه نېک عمل په عوض کښې لس أجرونه او عوضونه ورکوي.

## تبصره

و: که څه هم ذکر شوی عبارت د وړاندېنیو درېواړو معناوو تحمل کولی شي مګر مونږ ته اولنی معنی بهتره برېښي او دا ځکه چې:

اول: ذکر شوی عبارت په حقیقت کښې د هغه سوال جواب دی کوم چې د وړاندېنۍ جملې څخه چاته ذهن ته ورته، هغه دا چې: عزت خو ټول الله ﷻ پورې اختصاص لري، نو پوښتنه دا ده چې باید بندګان یې په کومه طریقه ترلاسه کړي؟

د جواب حاصل دا دی چې: هرڅوک د دوه وو شیانو په مجموعې سره په دنیا او آخرت کښې عزت ترلاسه کولی شي، چې یو د الله ﷻ په توحید باندې په اخلاص سره عقیده خپلول دي، او بل صالح عمل دی.

ته به وایې چې په ذکر شوي عبارت کښې هغه مضمون ته اشاره شوې ده کوم چې په "آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ" کښې منعکس شوی دی.

دوهم: په همدغه مضمون باندې په [النور:55] ایت شریف کښې صراحت شوی دی، نو شاید چې هغه مضمون به دلته مراد وي، والله ﷻ أعلم بأسرار کتابه ومکنونات خزائنه.

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۴۳: زاد المسیر ج۶ ص۲۴۸: البحر المحیط ج۹ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو مهم ټکي

۴_ د ﴿ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ﴾ په عبارت کښې لاندې څو مهمو ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ يُعَمَّرُ﴾ کلمه اصلاً د "عُمْرٌ" _لکه "قُفْل" _ څخه اشتقاقه شوې ده چې د بقاء او ژوند معنی ورکوي[١]، خو کله چې همدغه مصدر (عمر) د تفعيل باب ته واړولی شي لکه چې دلته اووښتی دی، نو دوه معنی ورکوي[٢]، چې يوه د بقاء او ژوند ورکول دي او بله د بقاء او ژوند زياتول دي.

ب: زمونږ په فکر په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د بقاء او ژوند په زياتولو باندې دلالت کوي او دا ځکه چې:

اول: د ﴿ مُعَمَّر ﴾ کلمه د ژوند او بقاء په ورکړه باندې دلالت کوي، نو که بالفرض د ﴿ يُعَمَّرُ ﴾ څخه هم د ژوند او بقاء ورکړه مطلب شي نو د حاصل شوي شي تحصيل به لازم شي.

دوهم: د ﴿ وَلَا يُنقَصُ﴾ د کلمې غوښتنه هم دا ده چې د ﴿ يُعَمَّرُ﴾ د کلمې څخه دې دوهمه معنی اراده کړی شي چې تناسب يې ورسره زيات دی.

ج: په ﴿ مِن مُّعَمَّرٍ﴾ کښې د "مِنْ" توری دتعميم دپاره زيات شوی دی، ته به وايې چې داسې نازل شوی چې: "وَمَا يُعَمَّرُ أَحَدٌ مِنَ الْمُعَمَّرِيْنَ".

د: دا يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مُّعَمَّرٍ ﴾ د کلمې څخه په صراحت سره ځينې افراد او مصداقات مطلب دي او په ﴿ مِنْ عُمُرِهِ ﴾ کښې ورته د ځينو نورو افرادو او مصداقاتو په ملحوظ ضمير راجع شوی دی[٣] لکه چې د همدې ډول ضمير يو نظير په [الأحزاب: ٧٢] ايت کښې پوره شرحه شوی دی والحمد لله ﷻ.

نو حاصل يې داسې راځي چې: د معمرينو (عمر ورکړی شوو) څخه د هيچا عمر نه زياتېږي او نه د هيچا عمر کمېږي مګر هر يو (زيادت او کمښت) په کتاب کښې ثبت دی.

### سوال جواب

ه. که څوک وايي چې: ايا په ازلي کتاب کښې زيادت او کمبود صورت نيولی شي حال دا چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ»[۴] يعنې ای ابا هريره! يقيناً په هغه شي باندې قلم وچ شوی دی (تغير نه قبلوي) د کوم سره چې ته پيوسته کېدونکی يې؟

مونږ وايو چې: د الله ﷻ په توفيق د [الرعد:٣٩] ايت لاندې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) د روايت په بنياد ليکلی شوی دی چې د تقدير کتابونه دوه دي چې:

---

(١) لسان العرب ج۴ ص۶٠١
(٢) تفسير القاسمي ج١۴ ص۴۵
(٣) البحر المحيط ج٩ ص٢٠
(۴) صحيح البخاري ج٢ ص٧۶٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: یوه ته لوح محفوظ وايي او د أم الکتاب لقب هم ورکولی شوی دی، په دې کتاب کښې تغیر او بدلون صورت نه شي نه نیولی.

دوهم: بل ته د کتاب المحو والاثبات لقب ورکولی شوی دی، چې تغیر پکښې صورت نیولی شي.

نو په ﴿ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ ﴾ کښې د "کتاب" څخه دوهم کتاب مراد دی او په حدیث شریف کښې لومړني کتاب ته اشاره ده، والله ﷻ أعلم.

## یادونه

و: ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ ﴾ معنی داسې اخستې ده[۱] چې: د ژوند ورکړی شوو څخه هیچاته څه عمر نه ورکولی کېږي مګر هغه په کتاب کښې ثبت دی، او د همدغه عمر څخه په تېرېدلو سره څه نه کمېږي، مګر هغه هم پکښې لیکلی شوی دی.

د مثال په توګه: که چاته څلوېښت کاله عمر ورکړی شوی وي او یو کال ترې تېر شي نو په کتاب کښې نهه دېرش کاله پاتې کېږي.

که څه هم دغه معنی په خپل ذات کښې صحیح معنی ده خو د وړاندېنۍ جملې سره ښه پوره تناسب نه لري، د همدې کبله مونږ خوښه نه کړه.

﴿ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْبَحْرَانِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهُۥ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى ٱلْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ﴿١٣﴾ إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا۟ دُعَآءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا۟ مَا ٱسْتَجَابُوا۟ لَكُمْ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۲] او دوه بحرونه یو برابر نه دي چې دغه ډېر خوږ دی (او) اوبه یې ډېرې ښې (په اسانۍ سره) د ستوني څخه تېرېدونکي دي، او دغه (بل) ډېر تریو (او مالګین) دی، (د دغو دواړو دریابونو ترمنځ الله ﷻ کلکه پرده درولې ده)، او (د دغو دواړو) د هر یوه څخه تاسو تازه غوښې (ماهیان) خورئ او داسې ګاڼې (زیورات) ترې راوباسئ چې تاسو یې اغوندئ (او خپل ځانونه ورباندې ډولې ګرځوئ). او (ای کتونکیه!) ته په هر یو دریاب کښې بېړۍ ګورې چې (په شدت سره د اوبو) څیروونکې دي ترڅو تاسو د الله ﷻ فضل (حلال مال) ولټوئ (خپلو ځانونو ته روزي ترلاسه کړئ) او شاید چې

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو (د الله ﷻ د نعمتونو) شکريه وکړئ (او عقيده او عمل سم کړئ).

[۱۳] (الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره) شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې ننباسي او لمر او سپوږمۍ يې مسخر ګرځولي دي چې هر يو (ستاسو د ګټو دپاره) تر ټاکلې شوې نېټې (قيامت) پورې (په خپل-خپل مدار کښې) جريان لري (او حرکت کوي).

(ای بنده ګانو!) دا (د دغو کارونو کوونکې) الله ﷻ ستاسو رب دی، چې خاص همده ﷻ ته (کامله) واکداري ده. او هغه شيان چې تاسو يې د الله ﷻ څخه په غير بلئ هغوی د کجورې د زړي د پردې په اندازه هم واکداري نه لري (او نه يې د لاسه څه پوره دي).

[۱۴] (ای بنده ګانو!) که چرته تاسو بوتان وبلئ! (او څه ترې وغواړئ) نو هغوی به ستاسو بلنه وانه وري (چې جمادات دي، اوريدل نه شي کولی) او که (بالفرض ستاسو بلنه) واوري نو تاسو ته به (قولي او فعلي) اجابت ونه کړئ (او نه يې دا کار په توان کښې شته). او (بالآخره) هغوی به د قيامت په ورځ ستاسو په شرک (عبادت) باندې انکاري شي (چې تاسو زمونږ عبادت نه دی کړی).

(ای پيغمبره!) د خبردار (الله ﷻ) غوندې به تاته (هيڅ خبر ورکوونکی) خبر درنه کړی شي (ځکه چې د ده ﷻ غوندې کامل علم او کامله خبرتيا هيڅوک نه لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې په بعث بعد الموت باندې ځينې دلايل اقامه کړی شوي وه او په دې ايتونو کښې د الله ﷻ د توحيد ځينو دلايلو ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! خلکو ته د توحيد څه دلايل ور واوروه. هغه دا:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د دوه وو دريابونو ترمنځ يې ډېره قوي پرده درولې ده چې د يوه اوبه د بل د اوبو سره نه شي ګډېدلی. يا په بل عبارت: دواړه دريابونه د اوبو څخه تشکيل شوي دي خو په کيفيت کښې يو د بل سره نه شي برابرېدلی او د دواړو ترمنځ ډېر تفاوت موجوديت لري هغه دا چې:

الف: د دغه يوه درياب اوبه ډېرې زياتې خوږې او ډېرې ښې تېرېدونکې دي.

ب: او د دغه بل اوبه ډېرې زياتې تروې او ترخې دي چې د ستونې څخه تېرېدل يې مشکل دی.

که بالفرض الله ﷻ د خوږ درياب او ترېو درياب ترمنځ قوي معنوي پرده نه وی قائمه کړې نو اوبه به يې سره ګډې وډې شوې وی او د خواږه درياب خوږوالی به د منځه تللی وی، او ترېو او يا خوږلوړی درياب به ترې جوړ شوی وی، چې په نتيجه کښې به دغه ترېووالي د ځمکو اوبو ته هم سرايت کړی وی او په ځاګانو کښې به هم خوږې اوبه نه وی موندلې شوی.

۲ـ په همدغو دواړو دريابونو کښې الله ﷻ تاسو ته د ماهيانو (کبانو) روزنه کوي، چې د هر يوه درياب څخه يې تاسو رانيسئ او تروتازه غوښې ترې خورئ.

که بالفرض الله ﷻ د تروه او ترخه درياب ماهيان هم تروه او ترخه ګرځولي وی، نو تاسو به د ذکرو شوو خوږو غوښو د خوراک څخه بې برخې ګرځېدلي وی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ په دې باندې علاوه، الله ﷻ تاسو ته په دریابونو کښې ګانې پیدا کړي دي او جواهر او مرجان یې پکښې ځای په ځای کړي دي، چې تاسو یې ترې راوباسئ او خپل ځانونه وربانديې ښایسته کوئ او د ډول سنګار کار ترې اخلئ.

۴_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د دریابونو ساختمان یې داسې پیدا کړی دی چې بېړۍ پکښې نه ډوبېږي، د همدې کبله ته بېړۍ ګورې چې دریاب څیروي او خپل ځان ته پکښې لاره جوړوي مګر پکښې ډوبېږي نه.

دا د دې دپاره چې تاسو د یوې وچې څخه بلې وچې ته د همدغو بېړیو په ذریعه وربورېوځئ او د الله ﷻ فضل (حلال مال) ولټوئ او تجارتونه وکړئ. که بالفرض د دریابونو ساختمان یې د بېړیو د چلېدلو دپاره چمتو نه وی پیدا کړي نو تاسو به د بحري سفرونو څخه محروم ګرځېدلي وی.

۵_ ای بندګانو! تاسو د ذکرو شوو نعمتونو شکریه وکړئ او په عبادت کښې ورسره شریکان مه دروئ او هم صالح اعمال خپل کړئ، ترڅو مو د آخرت دپاره څه پانګه تیاره کړې وي.

۶_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو د استفادې دپاره شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې. یا په بل عبارت: د ځمکې په مخ یې ورځې او شپې (دواړو) ته موجودیت ورکړی دی او په دواړو کښې یې ستاسو بېل-بېل منافع نغښتي دي که نه نو ستاسو ژوند به د مشکلاتو سره مخ شوی وی.

۷_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې په اسمانونو کښې لمر او سپوږمۍ مسخر ګرځولي دي چې تاسو دواړو ته په خپل ژوند کښې اړتیا لرئ.

خو تاسو پوه شئ چې د لمر او سپوږمۍ جریان او ګردش دائمي نه دی بلکې تر یوه ټاکلي وخته پورې به صورت ونیسي، کله چې ټاکلی وخت ورسېږي نو دواړه به د حرکت څخه پاتې شي او هم به یې رڼا او پلوشې د منځه لاړې شي. یعنې دغه دواړه به د قیامت تر قیامه پورې په حرکت کښې وي او بس.

۸_ ای خلکو! دغه واحد او لا شریک الله ﷻ ستاسو رب دی چې ټوله واکداري په همده ﷻ پورې اختصاص لري، او ذکرو شوو قدرتي څو کارونو ته محض د مثال په توګه اشاره وشوه.

۹_ او ای خلکو! هغه بوتان چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه کوئ او په عبادت ورته قائل یاست، هغوی د هیڅ کار د کولو توان نه لري حتی چې د هغې پردې په اندازه قدرت هم ورسره نشته کومه چې د کجورې د زړي څخه راتاوه شوې وي، نو ایا د دغسې ناتوانه شیانو بلنه او عبادت معقول کار دی؟

۱۰_ په دې باندې علاوه ای بوت پرستانو! که تاسو خپل معبودان وبلئ او د بللو اواز ورته وکړئ نو دوی به ستاسو بلنه وانه وري، ځکه چې دوی غوږونه نه لري او جمادات دي. که بالفرض ستاسو بلنه واوري نو بیا به ستاسو بلنې ته اجابت ونه کړی شي، ځکه چې توان او وسه پکښې نشته او څه یې د لاسه پوره نه دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه، ای مشرکانو! همدغه باطل معبودان به د قیامت په ورځ ستاسو د شرک او عبادت څخه انکاري شي چې تاسو زمونږ عبادت نه دی کړی بلکې تاسو د خپلو خواهشاتو او شیطانانو پیروي کړې ده.

۱۱ـ الله ﷻ په ټولو حقایقو او ټولو پټښنو باندې باخبره دی او د قیامت د ورځې ټول حالات ورته هم څرګند دي، او په دغې ورځ کښې د عابدینو او بوتانو سوال جواب ترې هم پټ نه دی.

نو د همده ﷻ د خبرتیا غوندې خبرتیا به هیڅوک درنه کړی شي او نه بل چا ته دغسې غیوب او حقایق معلوم دي لکه څنګه چې هدده ﷻ ته معلوم دي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْبَحْرَانِ ﴾ الآية کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: لاندې معلومات د [الفرقان:۵۳] ایت لاندې لیکلي شوي دي، والحمد لله ﷻ.

اول: د دوه وو بحرونو څخه کوم بحرونه مطلب دي؟

دوهم: د ﴿ عَذْبٌ فُرَاتٌ ﴾ تحلیل، چې د ډېرو خوږو اوبو معنی ورکوي.

دریم: ﴿ مِلْحٌ أُجَاجٌ ﴾ تحلیل، چې ډېرې تروې او ترخې اوبه ترې مرادې دي.

ب: لاندې مطالب د [النحل:۱۴] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېر شوي دي:

اول: د ﴿ طَرِيًّا ﴾ کلمه د "طَرَوَاة" څخه اشتقاقه شوې ده چې په (تازه) باندې معنی کېږي.

دوهم: د بحري حیواناتو څخه یوازې د ماهي غوښه حلاله ده.

دریم: په څه دلیل په ﴿ تَلْبَسُونَهَا ﴾ کښې د ګاڼو اغوستل نارینه وو ته نسبت کړی شوي دي؟

ج: په ﴿ فِيهِ مَوَاخِرَ ﴾ کښې د ﴿ مَوَاخِرَ ﴾ کلمې د "مَخر، مُخُور" ـلکه "قَتْل، قُتُول"ـ څخه اشتقاق موندلی دی "مَخر" یا "مُخُور" دې ته وایي چې بېړۍ په خپل وراندې تګ سره اوبه څېرې کړي او د څپو اواز اوچت شي[1].

یعنې ای کتونکیه! ته په دریاب کښې بېړۍ ګورې چې اوبه څیروي او ښه په جرپ سره پکښې وراندې او بېرته تلل کوي مګر مخ ښکته تلل نه کوي چې ډوبه شي.

## قطمیر څه معنی؟

۲ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء: ۴۹] ایت لاندې په ﴿ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ﴾ کښې د ﴿ قِطْمِيرٍ ﴾ کلمه معنی کړې ده چې د هغې سپین رنګې نرۍ پردې دپاره وضعه شوې ده په کومه کښې چې د کجورې زړی نغښتی وي.

په عربي ژبه کښې ذکره شوې کلمه د مثال په توګه د تقلیل او تحقیر دپاره استعمالېږي. یعنې ای مشرکانو! ستاسو باطل معبودان ستاسو دپاره د ډېر وړوکی شی (لکه د کجورې د زړي پرده) د

(۱) لسان العرب ج۵ ص۱۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درکولو توان هم نه لري پاتې خو لا غټ شي لکه شفاعت او د دوزخ څخه نجات او داسې نور.

## د اِستجابة معنی

٣_ په ﴿ مَا ٱسْتَجَابُواْ لَكُمْ ﴾ کښې د ﴿ ٱسْتَجَابُواْ ﴾ کلمه د "اسْتِجَابَة" _لکه "اسْتِقَامَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "اسْتِجَابَة" د قبول معنی ورکوي، برابره خبره ده چې قولي قبول وي لکه د سوال په جواب کښې د "هو" ویل، او یا فعلي قبول وي لکه د یوه غوښتلي شوي شي ورکول[1].

یعنې ای مشرکانو! بالفرض که ستاسو بوتان ستاسو غږ واوري نو تاسو ته به نه قولي اجابت وکړي چې "هو" درته ووایي، او نه به یې فعلي اجابت د لاسه پوره شي چې ستاسو غوښتنه عملاً پوره کړي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿١٧﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَىْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰٓ ۗ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِۦ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٨﴾ ﴾

[١٥] ای خلکو! تاسو الله ﷻ ته اړ یاست، او الله ﷻ چې دی همدی ﷻ بې پروا (او) ستایلی شوی دی (د سپېڅلو صفاتو درلودونکی دی).

[١٦] که چرته د الله ﷻ اراده وشي (چې تاسو د منځه یوسي) نو سمدستي به مو د منځه یوسي او نوی مخلوق به (مو په عوض) راولي (چې هغوی به ستاسو غوندې نه وي).

[١٧] او (ای پیغمبره!) دغه کار په الله ﷻ باندې درونډ (او ګران) نه دی.

[١٨] او (داسې ورځ راروانه ده چې) هیڅ د ېږتې پورته کوونکی نفس به (پکښې) د بل نفس ېږتې پورته نه کړي (که څه هم دا د هغه خپلوان وي). او که چرته درونډ بار کړی شوی نفس خپل بار ته (بل څوک) وروبلي (چې د بار څه برخه ترې په خپلو اوږو واخلي) نو د ده (د بار) څخه به هیڅ شی پورته نه کړي (او بلل به یې ونه مني) که څه هم (دا د هغه) د قرابت (خپلوی) خاوند وي.

(ای پیغمبره!) یقیناً ته هغه کسان ډاروې (ګټه ورته رسولی شې) کوم چې د خپل رب ﷻ څخه په غیبو سره وېرېږي او (د همدې کبله د خپل رب ﷻ د رضامندی دپاره) لمونځونه دروي. او هرڅوک چې (ستا په ارشاداتو سره خپل ځان) پاک کړي نو یقیناً هغه د خپل ځان دپاره پاکوالی حاصل کړ (ګټه یې همده ته راجع ده). او (که څوک ذکره شوې تزکیه ونه کړي نو) خاص الله ﷻ ته ورتاوېدل دي (خپله سزا به هلته وګوري).

[1] مفردات الراغب ص ١٠٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې دې مضمون ته هم اشاره شوې وه چې واکداري او اختيار يوازې په الله ﷻ پورې اختصاص لري او د ده ﷻ څخه په غير د مشرکانو باطل معبودان نه څه توان لري او نه پکښې د توان او قبول څه صلاحيت او استعداد شته. په دې ايتونو کښې د ذکر شوي مضمون په نظر کښې نيولو سره يوې تبصرې ته اشاره شوې ده، چې حاصل يې داسې راځي:

اى پيغمبره! څرنګه چې واک او اختيار يوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري نو:

۱ـ ټول خلک او خپل ټول دعوتي امت مخاطب کړه او ورته ووايه چې:

الف: اى خلکو! تاسو ټول فقط الله ﷻ ته د هر حيثه محتاج او اړ ياست، او بل هيڅوک ستاسو اړتياوې نه پوره کولی شي او نه توان لري چې څه درکړي.

ب: خو د دې سره-سره الله ﷻ بې پروا دى، نه ستاسو عبادت ته محتاج دي او نه دې ته اړ دي چې تاسو خپل ځان ته او يا د الله ﷻ بل مخلوق ته روزي ورکړئ.

ج: همدارنګه الله ﷻ د ښو صفاتو او محامدو درلودونکى دى، ستاسو تحميد او عدم تحميد ورته يو برابر دي.

د: لکه څنګه چې الله ﷻ تاسو ته وجود درکړى دى او د عدم څخه يې موجود کړي ياست، همدارنګه ستاسو بقاء او ژوند هم يوازې د همده ﷻ په اختيار کښې دي او بس.

هـ: نو که الله ﷻ اراده وکړي چې ستاسو بقاء ته خاتمه ورکړي نو سمدستي به تاسو د منځه يوسي او په عوض به مو د خپلې ارادې مطابق نوى او تازه پيدا کړى شوى مخلوق راولي.

و: دغه کار الله ﷻ ته ډېر اسان دى هيڅ ګرانوالى ورته نه لري بلکې فقط د "کُنْ" په ويلو سره چې: "شه!"، ذکره شوې ټوله نقشه عملي کېږي.

ز: اى پيغمبره! خلکو ته دا هم ووايه چې: تاسو ته ډېره سخته ورځ در روانه ده، نو له همدې کبله ستاسو د دنياوي احتياج څخه ستاسو اُخروي احتياج ډېر سخت او ډېر دروند دى. د وضاحت دپاره لاندې دوه صورتونو ته پام وکړئ:

اول: په دغې ورځ کښې هيڅ پېټى اوچتوونکى کس د بل چا پېټى نه اوچتوي او نه به داسې څوک موندل کېږي چې په خپله خوښه او د خپل ترحم او زړه سوى د کبله د بل چا پېټى په اوږو واخلي، که څه هم بل څوک يې ډېر نژدې خپلوان وي.

دوهم: او که کوم کس چې (د ګناه پېټى يې دروند وي) د خپل پېټي د پورته کولو دپاره چاته دعوت ورکړي چې: راشه او زما څخه څه ګناه په خپله غاړه واخله (زما اوږې ترې سپکې کړه). نو دغه غوښتنه به يې هم پوره نه کړى شي، که څه هم بللى شوى کس د بلونکي نژدې خپلوان وي، دا ځکه چې په دغې ورځ (قيامت) کښې به هرڅوک په خپل غم اخته وي او هرڅوک به نَفسي نَفسي وايي.

ح: نو خلکو ته په کار دي چې يوازې د الله ﷻ اطاعت وکړي او يوازې د پيغمبر ﷺ دعوت قبول کړي ترڅو يې د دنيا او آخرت مشکلات حل کړي، د مشکلاتو د حل بله لاره نه شته.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ای پیغمبره! اوس نو د خپل ځان په هکله دا ارشادات په نظر کښې کلک وساته:

الف: ته هرڅوک نه شې ډارولی، فقط هغه کسان ډارولی شې کوم چې په غیبو سره د خپل رب ﷻ څخه وېرېږي او په همدې منظور ورته په اخلاص سره لمونځونه دروي. یا په بل عبارت: ستا د دعوت او انذار څخه یوازې ذکر شوي کسان استفاده کولی شي او بس.

ب: هو! څوک چې ستا د دعوت څخه استفاده وکړي او خپل ځان د کفري خاصیتونو څخه پاک کړي نو یقیناً هغوی دغه کار فقط د خپل ځان دپاره وکړ، ګټه یې همدوی ته ورګرځي، په تاباندې بې هیڅ احسان نشته.

ج: بالمقابل څوک چې ذکر شوي صفات ونه لري او د قبول استعداد یې ختم شوی وي هغوی ستا د دعوت او انذار څخه ګټه نه شي پورته کولی نو تاته په کار دي چې د هغوی په کافر پاتې کېدلو باندې ډېر زیات غمژن ونه ګرځې، خاص الله ﷻ ته د هر چا ښېرته ورتګ دی نو د هر چا سره به مناسب چال چلند وکړي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴾ جمله لاندې دوه تفسیرونه درلودلی شي[1]:

الف: که د الله ﷻ اراده وشي نو: ای خلکو! تاسو به ټول د منځه یوسي او په داسې مخلوق باندې به مو عوض کړي چې هغوی تاسو نه پېژني، هغه به نوی مخلوق وي.

ب: که د الله ﷻ اراده وشي نو: ای خلکو! تاسو به په داسې خلکو باندې عوض کړي چې هغوی به د ګناهونو په ارتکاب کښې ستاسو غوندې نه وي، الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت درلودونکی دی.

د ذکرې شوې جملې مضمون په [النساء:۱۳۳] ایت کښې تېر شوی دی، او په [محمد:۳۸] ایت کښې راروان دی.

## ښو نکات

۲_ د ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ ﴾ الآیة په تفسیر کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ په جمله کښې هغه کومک منفي ګرځولی شوی دی کوم چې د کومک کوونکي د پلوه د مهربانۍ او زړه سوي د کبله صورت نیسي لکه چې کفارو به مؤمنانو ته د دغه ډول کومک وعدې ورکولې، چې پوره بیان ته یې په [العنکبوت:۱۲] ایت کښې اشاره شوې ده.

ب: د ﴿ وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ ﴾ په جمله کښې هغه کومک نفي کړی شوی دی کوم چې د مطالبې او غوښتنې په اثر صورت نیسي، تقریباً همدې مضمون ته په [عبس:۳۴] او وروسته ایتونو کښې اشاره شوې ده چې سړی به د خپلوانو څخه د مطالبې د ډاره تښتي.

ج: کله چې ذکر شوي دواړه ډوله کومکونه منفي وګرځولی شوه نو اجباري کومک خو به بالکل

(۱) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۱۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واقع نه شي او نه به يې د واقع کېدلو امکان وي.

د: که څوک وايي چې په ﴿ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ﴾ کښې د "كَانَ" ضمير چاته راجع دی؟

مونږ وايو چې دغه ضمير هغه مَدعُو (بلل کړی شوي) ته راجع دی په کوم باندې چې وړاندې په ﴿ وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ ﴾ کښې د ﴿ تَدْعُ ﴾ کلمه دلالت کوي.

هـ: دا د يو پلوه، او د بله پلوه زمونږ په فکر ـ والله ﷻ أعلم ـ د ﴿ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ﴾ مضمون د ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ د جملې سره هم مراد دی. يعنې هيڅ بار پورته کوونکی به په دغې ورځ کښې د بل چا بار پورته نه کړي که څه هم د بل چا د نژدې خپلوانو څخه وي.

﴿ وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ ﴿٢٠﴾ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتَابِ الْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾ ﴾

[۱۹] او ړوند (کافر) او ليدونکی (مؤمن) نه برابرېږي (ډېر توپير لري).

[۲۰] او نه تيارې (کفر) او نه رڼا (اسلام).

[۲۱] او نه يخ سوري (جنت) او نه ګرم باد (دوزخ).

[۲۲] او نه ژوندي (مؤمنان) او نه مړي (کفار يو تربله) برابرېدلی شي.

يقينًا الله ﷻ اورول (هدايت) کوي هغه چاته کوم ته يې چې اراده وشي، او ته (ای پيغمبره!) هغه چاته اوروونکی (هدايت کوونکی) نه يې کوم چې په قبرونو کښې (مړه پراته) دي (نو د کفارو هدايت هم ستا په توان کښې نه دی).

[۲۳] ته نه يې مګر ډاروونکی يې (د کفارو د کفر مسئول نه يې).

[۲۴] يقينًا مونږ ته (ټولو خلکو ته) په حقه سره د زيري ورکوونکي او ډاروونکي په حيث استولی يې. او (د دې څخه وړاندې) هيڅ اُمت نه وه مګر ډاروونکی پکښې تېر شوی دی (چې يا به پيغمبر وه او يا به بل داعي وه).

[۲۵] او (ای پيغمبره!) که کفار تاته د دروغو نسبت کوي نو (ته وريانديې مه خپه کېږه څکه چې) يقيناً هغو کسانو هم (خپلو پيغمبرانو ته) د دروغو نسبت کړی وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي، هغوی ته خپل پيغمبران په معجزاتو سره او په صحيفو سره او (بالآخره) په روښانه کتابونو سره ورغلي وه (خو هغوی ونه منل).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۶] بیا ما هغه کسان (په عذاب سره) ونیول کومو چې کفر غوره کړی وه، نو (ته وګوره چې) زما ناآشنا عذاب څنګه وه (څه یې وړاندې وکړه، ایا تول یې پوپنا نه کړه)؟.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د [فاطر:۹] ایت څخه راپه دېخوا د قیامت په قیام او د الله ﷻ په توحید باندې زښت ډېر دلایل اقامه کړی شوي وه او بالآخره وړاندېنی متصل ایت په دوه وو مطالبو سره تمام شوی وه: یو نبي کریم ﷺ ته تسلي او ډاډ ورکول، او بل دا چې الله ﷻ ته بېرته ورتګ او د قیامت قیام ضروري دی.

په دې ایتونو کښې همدغه دوه مطلبونه د بحث مدار ګرځولي شوي دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! ته په دې باندې ډېر مه غمژن کېږه چې د زښتو ډېرو دلایلو د اقامه کولو سره-سره کافران نه د الله ﷻ په وحدانیت عقیده خپلوي او نه د قیامت په قیام ایمان راوړي. او دا ځکه چې:

۱ـ ړوند او بینا (کافر او مومن) یو برابر نه دي او تیارې او رڼا (کفر او اسلام) یو برابر نه دي، او نه یخ سوری او نه ګرمه هوا یو برابر دي، او نه جنت او دوزخ سره برابر دي.

بلکې د بینا او مؤمن سره د اسلام او ایمان په خاطر د جنت یخ سوری مناسب دی او د ړانده او کافر سره د کفریاتو د کبله د دوزخ ګرم اور مناسب دی.

نو د قیامت قیام ضرور دی ترڅو ذکر شوي مناسبات عملاً صورت ونیسي، چې مؤمنان جنت ته داخل شي او کفار دوزخ ته ورټېل وهلی شي.

۲ـ ای پیغمبره! ته د کفارو په دوزخي جوړېدلو باندې ډېر مه غمژن کېږه، ستا په دعوت او هلو ځلو کښې هیڅ قصور نشته بلکې هغوی د قبول استعداد د لاسه ورکړی دی او د مړو غوندې ګرځېدلي دي (د مؤمنانو غوندې ژوندي نه دي)، او پوره واضحه ده چې د دعوت په قبول کښې نه مړي د ژوندیو سره برابرېږي او نه ژوندي د مړو سره.

۳ـ ستا په توان کښې نشته چې ته مړو ته خپل دعوت ور واوروې او وریاندې قبول یې کړې، نو د همدې کبله ته په کفارو باندې هم خپل دعوت نه شې قبلولی.

هو! الله ﷻ کولی شي چې هغه چا ته ستا دعوت ورواوروي او وریاندې قبول یې کړي کوم ته یې چې اراده وشي، خو د ده ﷻ اراده د حکمتونو په بنیاد صورت نیسي چې په عنادي کفارو کښې منفي ده.

۴ـ لنډه دا چې ته ـ ای پیغمبره!ـ په آینده کښې هم هغو کسانو ته خپل دعوت نه شې وراورولی او نه یې وریاندې قبلولی شې کوم چې په قبرونو او هدیرو کښې پراته دي، او نه ته په دغه کار باندې مکلف یې، ته فقط په إنذار (ډارولو) باندې مکلفیت لرې چې په ډېره أحسنه طریقه باندې دې سرته رسولی دی.

۵ـ ای پیغمبره! مونږ ته په حقه سره د بشیر او نذیر په حیث دنیا ته استولی یې لکه څنګه چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ستا څخه وړاندې پيغمبران خپلو خپلو قومونو ته په همدغه حيث استولی وه. ستا څخه وړاندې زښت ډېر پيغمبران تېر شوي دي او ته د ټولو وروستنی پيغمبر يې.

لنډه دا چې هيڅ اُمت نه دی تېر شوی مګر ډارونکی به پکښې موجود وه چې يا به پخپله پيغمبر وه او يا به يې په إنذار او دعوت کښې نائب وه.

۶_ ای پيغمبره! که ستا د زمانې عنادي کفار تا نه قبلوي نو ته ډېر مه غمژن کېږه او حوصله مه خرابه، ځکه چې هغو کفارو هم د خپلو-خپلو پيغمبرانو تکذيب کړی وه کوم چې د دوی څخه پخوا تېر شوي دي، دوی خو د هغوی په قدم روان دي.

هغوی ته خپل پيغمبران عليهم‌السلام په معجزو او صحيفو او هم په روښانه کتابونو (تورات، انجيل او زبور) سره ورغلي وه خو هغوی وربانديې ايمان رانه ووړ، چې بيا ما په عذاب سره ونيول او ټول مې پوپنا کړه.

نو ته وګوره چې هغوی لره زما عذاب څنګه ببخ ويستونکی وه او زما انکار په هغوی باندې څه اثر وغورځاوه؟ او څنګه ناآشنا عذاب مې وربانديې نازل کړ؟

ستا اُمت ته په کار دي چې د هغوی څخه عبرت واخلي او ستا په معجزو او روښانه کتاب (قرآن کريم) باندې عقيده خپله کړي، که نه نو دهغوی په مېنه به يې شپه شي.

## توضيحات

په ذکرو شوو ايتونو کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

۱_ د ﴿ وَمَا يَسۡتَوِى ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ ﴾ په مضمون سره په قرآن کريم کښې ډېر ايتونه نازل شوي دي چې يو د [هود:۲۴] ايت دی.

۲_ په ﴿ وَلَا ٱلظُّلُمَـٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ﴾ کښې د "ظُلُمَات" او "نُور" دواړو کلمو شرحه د [البقرة:۲۵۷] ايت لاندې ولولئ.

۳_ په ﴿ وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلۡحَرُورُ ﴾ کښې د "ظِل" کلمه د [النساء:۵۷] او [الرعد:۳۵] ايتونو لاندې ډېره ښه شرحه شوې ده، والحمد لله ﷻ.

او د "حَرُور" کلمه د ګرمې هوا (باد) معنی ورکوي، چې د "سَمُوم" د کلمې سره مرادفه ده[۱]، خو په دې مقام کښې د "ظِل" څخه جنت مراد دی او د "حَرُور" څخه دوزخ[۲]. يعنې جنت د دوزخ سره برابر نه دی او دوزخ د جنت سره نه شي برابرېدلی.

۴_ د ﴿ وَمَا يَسۡتَوِى ٱلۡأَحۡيَآءُ وَلَا ٱلۡأَمۡوَٰتُ ﴾ مضمون په ډېرو ايتونو کښې منعکس شوی دی چې يو نظير يې په [الأنعام:۱۲۲] ايت کښې تېر شوی دی.

۵_ په ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُسۡمِعُ مَن يَشَآءُ ﴾ کښې د ﴿ يُسۡمِعُ ﴾ کلمه د "يَهۡدِيۡ" معنی ورکوي، لکه چې الله ﷻ

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۳۰۴؛ مفردات الراغب ص ۱۱۰
(۲) تفسير الطبري ج۲۲ ص۱۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په بل ایت کښې فرمايي: ﴿ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ﴾ [البقرة:۲۱۳] يعنې او الله ﷻ دغه چا لره سمې لارې ته هدايت کوي (مطلب ته يې رسوي) کوم ته يې چې اراده وشي.

۶_ په ﴿ وَمَآ أَنتَ بِمُسۡمِعٖ مَّن فِي ٱلۡقُبُورِ ﴾ کښې د "مُسْمِع" کلمه د "هَادِي" په معنی سره ده، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡ ﴾ [الروم:۵۳] يعنې اى پيغمبره! ته د ړندو کفارو هدايت کوونکى نه يې، چې د ګمراهۍ څخه يې بېچ کړي او مطلب ته يې ورسوي.

۷_ او د "سماع الموتى" موضوع مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النمل:۸۰] ايت لاندې د ضرورت په اندازه څېړلې ده، او په اضافه څېړنو باندې يې دا کتاب نه اوږدوو.

## سوال جواب

۸_ که څوک وايي: لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ "نذير" دی همدارنګه "بشير" هم دی، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنياد په ﴿ إِنۡ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴾ کښې د حصر په توګه يوازې د ﴿ نَذِيرٌ ﴾ کلمه نازله شوې ده؟

مونږ وايو چې: دلته د عنادي کفارو په هکله بحث روان دی، نو د همدې مقام په دلالت سره دغه حصر په نظر سره د "بشير" کلمې ته صورت نه دی نيولی، ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې دا حصر په نظر سره د "مسئول" کلمې ته دی کومه چې د مقام څخه معلومېږي:

يعنې اى پيغمبره! ستا څخه د کفارو د کافر پاتې کېدلو په ارتباط پوښتنه نه کېږي بلکې ته فقط په دې خبره مسئول يې چې هغوی د الله ﷻ د عذابه وډار کړې.

۹_ د ﴿ وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ﴾ په متعلق د [القصص:۴۶] ايت لاندې څه سوال جواب تېر شوی دی والحمد لله ﷻ، چې په دې مقام باندې د ښه پوهېدلو دپاره يې کتل ضروري دي.

﴿ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٖ مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهَاۚ وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدُۢ بِيضٞ وَحُمۡرٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٞ ۝٢٧ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مُخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَۗ إِنَّمَا يَخۡشَى ٱللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ ٱلۡعُلَمَٰٓؤُاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ۝٢٨ ﴾

[۲۷] ايا ته نه ګورې چې: يقيناً الله ﷻ د اسمانه اوبه (باران) نازل کړی دی، نو مونږ په دغه (باران) سره (د ځمکې څخه) په داسې حال کښې ميوجات راوباسو چې رنګونه يې مختلف وي. او د غرونو څخه (ځينې غرونه) سپين او سره خطونه دي (د سپينو او سرو خطونو درلودونکي دي) چې د دغو خطونو رنګونه (هم په خپل-خپل ذات کښې) مختلف دي، او (ځينې نور غرونه) بالکل سوچه تک تور دي (او ځينې لا سوچه نور رنګونه لري).

[۲۸] او داسې (مخلوق) چې رنګونه يې د دغو (ميوجاتو) غوندې مختلف دي، د خلکو (بنيادمانو) او په ځمکه باندې د خوځېدونکو ساکښانو او د څارويو څخه عبارت دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يقيناً د الله ﷻ څخه (په ربښتيني علم سره) عالمان ډارېږي (او د ذکرو شوو اختلافاتو څخه عبرت اخلي). بې شکه الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) ډېر ښښونکی دی.

## ارتباطونه

۱ـ وړاندې په [فاطر:۱۸] ایت کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته تسلي ورکړې ده چې ستا إنذار د خپل رب ﷻ څخه په غیبو سره ډارېدونکو ته ګټه رسولی شي، په دې ایتونو کښې همدغه ډاریدونکې ډله ښودلی شوې ده چې د علماوو د ډلې څخه عبارت ده.

۲ـ وړاندې نژدې ایتونه قیامت ته په ضرورت او نبي کریم ﷺ ته په تسلی باندې مشتمل وه، او دا ایتونه د توحید په دلایلو او هم نبي کریم ﷺ ته په تسلی باندې اشتمال لري.

۳ـ هلته د معنوي کیفیاتو عدم برابري بیانه شوې وه او دلته د محسوسو کیفیاتو عدم برابری ته اشاره کېږي چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب لاندې مطالب په خپل اُمت باندې قرائت کړه:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د کامل قدرت درلودونکی دی او هیڅ شریک او سیال نه لري. او دا څکه چې:

الف: ایا ته نه ګورې چې د اسمان د پلوه یې په ځمکه باندې اوبه نازلې کړې دي؟ ایا د ده ﷻ څخه په غیر څوک یو څاڅکی اوبه راښکته کولی شي؟

ب: نو په همدغو اوبو سره مونږ د ځمکې څخه داسې میوجات راوباسو چې مختلف ډولونه لري او په هر ډول کښې یې مختلف رنګونه او مختلف شکلونه شته.

که بالفرض المحال د ده ﷻ سره کوم شریک موجودیت درلودی نو: ایا دغو کارونو به په دوامداره توګه صورت نیولی وی؟ ایا په هر بوټي او هره میوه او رنګ او شکل به جګړه نه وی واقع شوې؟ ایا د دنیا نظام به نه وی رنګ شوی؟

۲ـ د میوجاتو څخه په غیر، الله ﷻ غرونه هم په مختلفو ډولونو او بېلابېلو رنګونو سره پیدا کړي دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینې غرونه هغه دي چې په یوه رنګ کښې د سپینو لیکو او خطونو خاوندان دي، ته به وایې چې سپینه لاره وریاندې اووښتې ده.

ب: ځینې غرونه په یوه رنګ کښې د سرو یا تورو لیکو درلودونکي دي، ته به وایې چې ښامار وریاندې پروت دی.

ج: په ځینو نورو کښې په نورو رنګونو سره کرښې موجودیت لري.

د: ځینې غرونه فقط یو رنګ لري او د بل رنګ کرښه پکښې موجوده نه وي؛ د مثال په توګه تک تور وي، ته به وایې چې یوه غټ کارغه وریاندې وزرې غوړولې دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: بالآخره لکه څنګه چې غرونه د مختلفو رنګونو درلودونکي دي همدارنګه شکلونه يې هم بې اندازې اختلاف لري او د الله ﷻ په وحدانيت او کامل قدرت باندې دلالت کوي.

۳_ ای پیغمبره! د میوجاتو او غرونو په شان لاندې شیان هم مختلف ډولونه او مختلفې څېرې لري:

الف: په یوه انساني رنګ او شکل کښې خلک ډېر مختلف رنګونه او شکلونه لري لکه تور او سپین، لوړ او ټيټ او داسې نور.

ب: حشرات او په ځمکه باندې خوځېدونکي ساکښان يو تر بله په شکلونو او رنګونو کښې زښت ډېر تفاوتونه لري، او همدارنګه د هرې نوعې افراد هم بې تفاوته نه دي، خو دا بېله خبره ده چې په ځينو افرادو کښې بې انسانان په تفاوتونو پوهېږي او ځينو نه پوهېږي.

ج: همدارنګه څاروي (اوښان، غوايان، ګډې، اوزې) هم په رنګونو کښې زښت ډېر اختلاف لري، او د همدغه اختلاف د کبله هرڅوک خپل خپل څاروي پېژني.

۴_ ای پیغمبره! ذکرې شوې اختلافات په څرګنده توګه دلالت کوي چې الله ﷻ واحد او لا شریک او هم د کامل قدرت خاوند دی، خو ته په دې باندې ډېر مه متاثر کېږه چې کفار ترې د استدلال استفاده نه کوي. او دا ځکه چې:

الف: يقيناً د الله ﷻ څخه يوازې علماء (د پوخ علم خاوندان) دارېږي (ستا انذار ورباندې اثر غورځوي او بس). نو د ناپوهانو څخه څه ګیله ده چې سترګې يې ورباندې پټې کړې دي او غوږونه يې ورباندې کاڼه اچولي دي.

ب: د قیامت ورځ راروانه ده، په دې ورځ کښې به الله ﷻ جاهلانو (کفارو) ته سزا ورکړي او د پوهانو (مؤمنانو) د تقصیراتو څخه به ورتېر شي، او دا ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی هیڅوک يې د ارادې مخه نه شي بندولی او همدارنګه ډېر بښونکی دی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ﴾ کښې د "أَلْوَان" د کلمې اصلي معنی رنګونه ده، خو د انواعو (ډولونو) په معنی باندې هم استعمالېږي[۱].

که څه هم په دې مقام کښې جائزه ده چې د "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الأَلْوَان" (هر هغه شی چې د "ألوان" اطلاق پرې کېږي) په لحاظ دواړه معناوې اراده کړی شي چې په میوجاتو کښې د رنګونو په اختلاف باندې علاوه د ډولونو اختلاف هم زښت ډېر دی، مګر څرنګه چې په راتلونکو ﴿ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ﴾ او ﴿ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ ﴾ کښې د "أَلْوَان" کلمې د رنګونو معناوې ورکوي نو ظاهره دا ده چې د هغو د توافق دپاره به دلته هم ذکره شوې کلمه فقط د رنګونو معنی ورکړي. يعنې: مونږ په باراني اوبو سره د يوې ځمکې څخه په مختلفو رنګونو کښې میوجات راوباسو.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو نکات

۲ـ په دغو دوارو ایتونو کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:
الف: په ﴿ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ ﴾ کښې د "و" توری دوه احتماله درلودلی شي[۱]:
اول: چې د استیناف دپاره شي او مدخول یې د اعراب محل ونه لري.
دوهم: چې د عطف دپاره وګڼلی شي.
خو په دغو دوارو تقدیرونو باندې د ﴿ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ ﴾ کلمات مقدم خبر دی او د ﴿ جُدَدٌ ﴾ کلمه د خپلو مربوطاتو سره موخره مبتدأ ده، چې اسمیه جمله ترې جوړیږي، خو د عطف په صورت کښې په وړاندېنۍ فعلیه جمله ﴿ فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ﴾ معطوفه ګڼله کېږي.

## سوال جواب

ب: که څوک وايي چې: د عطف په صورت کښې خو لازمېږي چې اسمیه جمله په فعلیه جمله باندې معطوفه وګرځي، حال دا چې دا ډول عطف د لغویانو په نزد غیر مناسب دی؟
مونږ وایو چې: رښتیا چې دا ډول عطف غیر مناسب کار دی خو په هغه وخت کښې چې کوم مهم مطلب په نظر کښې نه وی نیولی شوی، که نه نو غیر مناسب کار نه دی[۲].
او په دې مقام کښې مهم مطلب په نظر کښې نیولی شوی دی ـوالله ﷻ أعلمـ هغه دا چې: د میوجاتو د رنګونو اختلاف د تجدد په توګه صورت نیسي نو فعلیه جمله ورسره مناسبه ده چې په تجدد دلالت کوي، او د غرونو د رنګونو اختلاف استمراري دی نو په اسمیه جمله باندې اداء کړی شو، چې په استمرار باندې دلالت کوي.
ج: د ﴿ جُدَدٌ ﴾ کلمه د "جُدَّة" ـلکه "حُجَّة"ـ جمعه ده او د لارې دپاره وضعه شوې ده[۳]، خو په دې مقام کښې ترې هغه خطونه مراد دي کوم چې په غرونو باندې اوږده پراته وي او د غرونو د رنګونو څخه اختلاف ولري[۴]، لکه په تور غره باندې سپین خطونه، یا په سپین غره باندې سرې یا تورې کرښې او داسې نور.
د: ځینې مفسرین کرام وايي چې: د ﴿ جُدَدٌ ﴾ د کلمې سره د "ذُو" کلمه مقدره ده او دا څکه چې غرونه خو پخپله خطونه او کرښې نه دي بلکې د خطونو او کرښو خاوندان او درلودونکي دي[۵].
خو مونږ ته بهتره برېښي چې د "ذُو" کلمه مقدره ونه ګڼله شي او د "زَيْدٌ عَدْلٌ" غوندې په مبالغه باندې حمل کړی شي، لکه چې کرښې لرونکي غرونه ټول کرښې وي.

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۱۳۳
(۲) مختصر المعاني في البلاغة ص۲۶۴
(۳) لسان العرب ج۳ ص۱۰۸
(۴) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۳۴۲
(۵) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: د ﴿ بِيضٌ ﴾ کلمه د "أَبْيَض" جمعه ده[۱]، او د ﴿ جُدَدٌ ﴾ د کلمې دپاره لومړی صفت دی.

و: د "حُمْرٌ" کلمه د "أَحْمَر" جمعه ده[۲] او د ﴿ جُدَدٌ ﴾ د کلکې دپاره دوهم صفت دی.

ز: د ﴿ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا ﴾ په اعراب کښې هم مفسرینو کرامو متعدد تحلیلونه لیکلي دي[۳]، خو کوم تحلیل چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه دا دی چې دا ﴿ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا ﴾ د ﴿ جُدَدٌ ﴾ د کلمې دپاره دریم صفت دی.

ح: د "غَرَابِيب" کلمه د "غِرْبِيب" جمعه ده، چې د تک تور معنی ورکوي، ته به وایې چې اصلاً د غُراب (تور کارغه) ځخه اخستله شوې ده. ذکره شوې کلمه په ﴿ جُدَدٌ ﴾ باندې عطفه ده.

## سوال جواب

ط: که څوک وایي چې: د "غَرَابِيب" کلمه خو د "سُود" د کلمې صفت او تابع ده، چې د "أَسْوَد" جمعه ده، او قاعده دا ده چې صفت د موصوف ځخه او توابع د متبوع ځخه وروسته ذکر کېږي. نو د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د خپل متبوع ﴿ سُودٌ ﴾ ځخه وړاندې ذکره شوې ده؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د "غَرَابِيبُ" کلمه د مذکورې ﴿ سُودٌ ﴾ کلمې دپاره صفت او تابع نه ده چې اعتراض وارد شي، بلکې موصوف او متبوع کلمه یې مقدره ده چې په مذکورې ﴿ سُودٌ ﴾ کلمې سره تفسیره شوې ده، ته به وایې چې داسې عبارت نازل شوی وي چې: "وَسُودٌ غَرَابِيبُ سُودٌ".

یا په بل عبارت: دلته ډېر زیات تور غرونه مطلب دي چې بالکل پکښې بل رنګ موجودیت ونه لري، نو په دې مقام کښې د تاکید دپاره د "سُود" کلمه دوه کرته تکراره شوې ده، یو په تقدیر سره، او بل په صراحت سره.

نو د ذکرو شوو نکاتو په نظر کښې نیولو سره یې حاصل داسې راځېږي: چې د غرونو ځخه ځینې غرونه سپینې-سپینې کربښې درلودونکي دي، چې په همدغه سپین رنګ کښې سره ډېر اختلاف لري چې د ځینو کربښې یو ډول سپینې دي او د ځینو بل ډول سپینوالی لري. همدارنګه ځینې غرونه د سرو سرو کربښو درلودونکي دي چې په همدغه سوروالي کښې ډېر ډولونه لري، او بالآخره ځینې غرونه کربښې کربښې نه دي بلکې په یوه رنګ کښې جوړ دي، لکه بالکل سوچه تور او داسې نور.

## یو بل نحوي تحلیل

ي: د ﴿ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ ﴾ کلمه د خپل مقدر موصوف په لحاظ ـ چې په "مَخْلُوق" سره ترې تعبیر کولی شو ـ مؤخره مبتدأ ده، او د ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ کلمات یې مقدم خبر دی او په ﴿ أَلْوَانُهُ ﴾ کښې همدغه مقدر موصوف ته ضمیر راجع دی[۴].

---

(۱) لسان العرب ج۷ ص۱۲۲
(۲) القاموس المحیط ج۴ ص۲۱۰
(۳) البحر المحیط ج۹ ص۲۹
(۴) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۱۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا: دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ کلمه محلاً منصوبه ده، او د ﴿ مُخْتَلِفٌ ﴾ دپاره د مقدر موصوف "إختلافًا" په اعتبار مفعول مطلق ده[۱]. په "ذٰلِكَ" سره د میوجاتو اختلاف ته اشاره ده چې بعید ذکر دی.

نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: د ذکرې شوې درېګونې مجموعې څخه یو مخلوق بنیادمان دي چې د میوجاتو غوندې مختلف رنګونه لري، او د همدې مجموعې څخه بل مخلوق په خمکه باندې خوځېدونکي ساکنبان دي چې د میوجاتو غوندې د مختلفو رنګونو درلودونکي دي، او بالآخره د همدغې مجموعې څخه بل مخلوق څاروي دي چې دوی هم د میوجاتو غوندې مختلف رنګونه لري.

## علماء څوک-څوک دي؟

۳ـ په ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُاْ ﴾ کښې د "عُلَمَاءِ" د کلمې څخه هغه علماء کرام مطلب دي کوم چې د الله ﷻ په وحدانیت باندې عقیده لري او شریعت ته غاړې ایښودونکي وي.

یا په بل عبارت: څومره چې په یوه مؤمن کښې د الله ﷻ د عظمت او کامل قدرت پېژاندنه اضافه کېږي په هماغې اندازه په هغه کښې الهي ډار او خوف وده کوي، بالمقابل څومره چې په چا کښې ذکر شوی علم کمزوری کېږي په همغې اندازه به پکښې په ګناهونو باندې جرئت زیاتېږي، برابره خبره ده چې نوموړی مؤمن لیک او لوست ولري او یا سوچه أمي وي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې أحادیث ولولئ:

الف: یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ» یعنې په عابد باندې د عالم بهتري داسې ده لکه ستاسو په ادنی مؤمن باندې چې زما بهتري ده، «ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ»[۲] بیا نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف د استشهاد په توګه ولوست.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا»[۳] یعنې که تاسو په هغه شي باندې پوهېدلی په کوم باندې چې زه پوهېږم نو لږ به مو خندلي وی او ډېر به مو ژړلي وی.

ج: نبي کریم ﷺ په یوه بل اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ»[۴] یعنې په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې زه ستاسو د جملې څخه د الله ﷻ څخه ډېر ډارېدونکی یم، او همده ﷻ ته زیات متقي یم.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۹۱
(۲) سنن الدارمي ج۱ ص۷۵
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۵۷
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۷۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ
﴿٣٠﴾ وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِعِبَادِهِ
لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ
وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾

[۲۹] يقيناً هغه كسان كوم چې د الله ﷻ كتاب (قرآن كريم) لولي او لمونځ دروي او (بالآخره) په پټه او ښكاره توګه د هغو مالونو څخه انفاق كوي كوم چې مونږ ورته وركړي (ورپېرزو كړي) دي. دوى (ذكر شوي كسان) د داسې تجارت اُميد كوي (اُميد دې وكړي) چې هيڅكله نه هلاكېږي (بې ګټې نه پاتې كېږي)

[۳۰] (دا) د دې دپاره چې الله ﷻ ورته خپل اجرونه (ثوابونه) پوره وركړي او هم ورته د خپل فضل څخه لا زيات (اجرونه) وركړي. (او دا خكه چې) يقيناً الله ﷻ ډېر بښونكى (او) ډېر منونكى (شكريه كوونكى) دى.

[۳۱] او (اى پيغمبره!) هغه شى كوم چې مونږ تاته وحې كړى دى چې د كتاب (قرآن كريم) څخه عبارت دى، همدا (كتاب) په داسې حال كښې حق دى چې د هغو كتابونو تصديق كوونكى دى كوم چې د ده څخه وړاندې (نازل شوى) دي.

يقيناً الله ﷻ د خپلو بندګانو (په حالاتو) سره (باندې) هرومرو خبردار (او) بينا دى

[۳۲] بيا (د وحې څخه وروسته) مونږ نوموړى كتاب (قرآن كريم) هغو كسانو ته (بدون د ستوماني) وركړ، كوم چې مونږ غوره كړي دي چې زمونږ د بندګانو څخه عبارت دي. نو د دوى (زمونږ د غوره كړى شوو بندګانو) څخه ځينې هغه څوک دي كوم چې د خپل ځان دپاره په ظلم باندې اخته دي (ګناهونه يې اضافه دي)، او ځينې يې منځلاري دي (چې نېكى او بدى يې برابرې دي) او ځينې يې د الله ﷻ په إذن (او توفيق) سره خيراتونو (نېكيو) ته وړاندې كېدونكي دي (اول نمره ګان دي).

(اى پيغمبره!) دغه (ذكر شوى ايحاء او ايراث) همدا ډېر لوى فضل دى (نو بايد چې شكريه يې وكړى شي)

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونو مضمون په دې باندې هم مشتمل وه چې د الله ﷻ څخه يوازې علماء ډارېږي او جهال د الهي ډار څخه بې برخې دي، په دې ايتونو كښې ډارېدونكي علماء ښودلي شوي دي، چې حاصل يې داسې راځېږي:

اى پيغمبره! خپل اُمت ته د ډارېدونكو علماوو څه صفات بيان كړه، هغه دا چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ کوم کسان چې د الله ﷻ څخه ډارېږي او ستا إنذار وربانديې اثر غورزوي هغوی د لاندې کسانو څخه عبارت دي:

الف: هغه کسان ډارېدونکي علماء دي کوم چې په دوامداره توګه د الله ﷻ کتاب (قرآن کریم) لولي او په مطالبو کښې يې سوچ او فکر کوي.

ب: هغه کسان دي کوم چې د بدني عبادتونو (د لمانځه په قيام) باندې همېشوالی کوي، او د حقوقو په سراعات سره يې اداء کوي.

ج: هغه کسان دي کوم چې د مالي عبادتونو په اداء کولو کښې هم ناغېړي نه کوي او د هغو مالونو څخه پټ او ښکاره، شپه او ورځ في سبيل الله إنفاق جاري ساتي کوم چې مونږ ورته روزي کړې دي، او خاص زمونږ د جانبه ورته ورکړی شوی دی.

۲ـ ای پيغمبره! ذکر شوي ډارېدونکي علماء هغه کسان دي کوم چې په عالي تجارت باندې مشغول دي، البته داسې تجارت چې هيڅکله به بې نتيجې پاتې نه شي او نه به د بربادۍ او خُسران (تاوان) سره مخامخ شي. او دا ځکه چې ذکرو شوو کسانو د بل چا سره نه بلکې د الله ﷻ سره خپل تجارت ته ارتباط ورکړی دی او خپله متاع يې په همده ﷻ باندې خرڅه کړې ده.

نو ضرور به په نتيجه کښې الله ﷻ نوموړو کسانو ته د هغوی پوره أجرونه ورکړي او هيڅ نقصان به پکښې واقع نه کړي، او په دې باندې علاوه د خپل فضل څخه به ورته لا ډېر اضافه أجرونه او ثوابونه هم ورېبرزو کړي. او دا ځکه چې:

الله ﷻ د تقصيراتو ښښونکی دی او د عباداتو او طاعاتو منونکی دی چې بې شکره يې نه پرېږدي.

۳ـ ای پيغمبره! د هغه کتاب په ارتباط په خپل أمت باندې څه نور مطالب هم قرائت کړه په کوم باندې چې عمل کول د ډارېدونکو علماوو دپاره معيار ټاکلی شوی دی، هغه دا چې:

الف: همدغه کتاب کوم چې مونږ تاته وحې کړی دی، همدا حق کتاب دی او په عملي شرائعو کښې د پخوانيو کتابونو ناسخ دی.

ب: د حقانيت يو دليل يې دا دی چې همدا کتاب د پخوانيو اسماني کتابونو سره په عقيدوي احکامو او هم د عملي احکامو په أصولو کښې مطابق دی او د هغو تصديق کوي، که بالفرض المحال دا حقاني کتاب نه وی نو د هغو سره به يې مطابقت نه درلودی.

ج: يقينًا الله ﷻ د خپلو بندګانو په ټولو حالاتو باندې باخبره او بينا دی، د همدې کبله يې د دې زمانې د بندګانو دپاره همدغه کتاب (قرآن کريم) نازل کړ، چې په عملي احکامو کښې پخوانيو کتابونو د دې امت د حالاتو سره پوره توافق نه درلود.

د: دا کتاب وروستنی اسماني کتاب دی چې د قيامت تر ورځې پورې د مسلمانانو معيار ګرځولی شوی دی، او مونږ په خپلو غوره بندګانو کښې باقي پرېښی دی، البته هغه غوره بندګان کوم چې د سمې عقيدې خاوندان دي او د کفرياتو او شرکياتو څخه اجتناب کوي.

هـ: خو نظر همدغه کتاب ته، زمونږ موحدين بندګان د عمل په ساحه کښې په لاندې درې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ګروپونو باندې ویشل کېږي:

بو ګروپ هغه بندګان دي چې په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي او په همدغه کتاب باندې د عمل کولو په هکله پاتې راځي.

دوهم هغه ګروپ بندګان دي کومو چې د عمل په لحاظ په دواړو طرفونو کښې برخه اخستې وي چې طاعتونه او عبادتونه يې هم کړي وي، او د جنايتونو په ارتکاب کښې هم واقع شوي وي.

دریم د ټولو څخه غوره او اول نمره ګروپ دی چې د خیریه کارونو په سبب د ټولو څخه وړاندې وي او د الله ﷻ په توفیق سره يې په قرآن کریم باندې په ربښتیانیو معناوو کښې عمل کړی وي.

و: دغه (د نوموړي کتاب وحې کول او بیا يې د قیامت تر ورځې پورې په غوره بندګانو کښې د لاربښود په صفت پرېښودل) ډېر لوی فضل دی او د الله ﷻ ډېره لويه مهرباني ده.

## توضیحات

۱_ په دغو ایتونو کښې د درجاتو په تفاوت سره د الله ﷻ څخه د ډاربدونکو علماوو پېژاندنه شوې ده، لکه چې مونږ ورته د الله ﷻ په توفیق وړاندې د ارتباط په وجه کښې اشاره کړې ده.

## بَوار څه معنی؟

۲_ په ﴿ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ ﴾ کښې د ﴿ تَبُورَ ﴾ کلمه د "بَوَار" _لکه "قَرَار"_ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الفرقان:۱۸] ایت لاندې شرحه کړې ده، چې د هلاک معنی ورکوي. خو څرنګه چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د ﴿ تِجَٰرَةً ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده نو مفسرینو کرامو په هغه تجارت باندې تفسیره کړې ده کوم چې د چلښت څخه ولاړ وي او ګټه وته ترې نه ترلاسه کېږي[1]. یعنې د ډاربدونکو علماوو معامله هغه تجارت ته ورته نه ده کوم چې ګټور نه وي، بلکې د دوی معامله سراسري ګټور تجارت دی او د تاوان احتمال پکښې نشته چې د الله ﷻ سره يې صورت نیولی دی.

## څو نکات

۳_ په ﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ﴾ الآیة، کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ ثُمَّ ﴾ توری دلته د زمانې د وروسته والي دپاره نه دی بلکې د رتبې په وروسته والي باندې دلالت کوي[2]، او دا ځکه چې د إيحاء (د کتاب د وحې کولو) او د ایراث (په امت کښې يې د باقي پرېښودلو) زمانه یوه ده، مګر د "إِيْحَاء" څخه د "إِيْرَاث" رتبه وروسته ده چې په "إِيْحَاء" باندې د نبي کریم ﷺ مبعوثیت مرتب دی او په "إِيْرَاث" باندې يې د قیامت تر ورځې پورې د نبوت بقاء مرتبه ده، او پوره واضحه ده چې د نبوت بقاء د نبوت د ورکړې څخه په رتبه کښې وروسته ده.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۷۳

(۲) روح المعاني ج۲۲ ص۱۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ أَوْرَثْنَا ﴾ کلمه د "إِيْرَاث" ـلکه "إِكْرَام"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، کوم شی چې چاته بدون د ستومانۍ او بدون د مشقت ګاللو ورکړی شي، هغه د "إِيْرَاث" په نامه يادېږي[۱].

ج: د ﴿ ٱصْطَفَيْنَا ﴾ کلمې د "اصْطِفَاء" ـلکه "إِكْتِسَاب"ـ څخه اشتقاق موندلی دی نو د "ط" توری يې د "ت" د توري څخه دی، چې د غوره کولو (او موحد ګرځولو) معنی ورکوي[۲].

د: په ﴿ مِنْ عِبَادِنَا ﴾ کښې د ﴿ مِنْ ﴾ توری د بيان دپاره دی، چې ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ ورباندې تفسير شوی دی[۳]، او اضافت پکښې د تشريف په معنی دلالت کوي[۴].

نو د ذکرو شوو نکاتو په نظر کښې نيولو سره يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې ای پيغمبره! مونږ د قرآن کريم په وحې کولو سره تاته نبوت درکړ او بيا مو همدغه قرآن کريم په هغو کسانو کښې باقي پرېښود (منسوخ مو ونه ګرځاوه) کوم چې مونږ غوره کړي دي، او په ايمان باندې مو مشرف ګرځولي دي.

همدې مضمون ته په لاندې نصوصو کښې اشاره شوې ده:

اول: ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا ﴾ [البقرة:۱۴۳] يعنې او په همدغه ډول سره مونږ تاسو غوره أمت ګرځولي یاست.

دوهم: ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴾ [آل عمران: ۱۱۰] يعنې: تاسو داسې بهتر أمت یاست چې د خلکو د ګټې دپاره راويستلی شوي (پيدا کړی شوي) دي.

دريم: په همدې هکله د نبي کريم ﷺ څخه زښت ډېر احاديث روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو راغونډ کړي دي[۵]. لاندې يو مثال يې ولولئ:

نبي کريم ﷺ د ذکر شوي ايت شريف په تفسير کښې فرمايلي دي چې: «هَؤُلَاءِ كُلُّهُمْ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ وَكُلُّهُمْ فِي الْجَنَّةِ»[۶] يعنې دغه درېواړه ډلې کومو ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده ټولې داسې دي لکه چې يوه ډله وي او ټولې په جنت کښې دي (ټول د مراتبو په تفاوت سره جنتيان دي).

څلورم: همدا مطلب د متصل ايت څخه هم د اشارې په توګه معلومېږي چې: ﴿ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا ﴾ [فاطر:۳۳]. يعنې د اقامت باغونه چې دي دوی ټول (درېواړه ډلې) به ورداخل شي.

## سوال جواب

هـ: که څوک وايي چې: ذکر شوي درېواړه ګروپونه په کومو کومو کسانو باندې تفسير شوي دي؟

مونږ وايو چې: که څه هم د دغو ګروپونو په تشخيص کښې علماوو کرامو ګڼ شمېر اقوال کړي

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۵۵
(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۴۶۲
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۱۳۸
(۴) تفسير المظهري ج۸ ص۵۵
(۵) تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۵۵، الدر المنثور ج۷ ص۲۴
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۸، مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې تقريباً (۴۵) قولو ته رسېږي[۱] خو کوم قول چې مونږ ته په زړه پورې برېښي هغه دا دی چې:

اول: ظالم ګروپ د هغو کسانو څخه عبارت دی د کومو چې ګناهونه په طاعتونو باندې اضافه وي، د همدغه ګروپ د جملې څخه هغه کسان هم دي کومو ته چې نبي کريم ﷺ په خپل بوه اوږده حديث کښې د مفلسانو لقب ورکړی دی[۲].

دوهم: مقتصده ډله هغه کسان دي کومو چې نېک او بد عملونه دواړه خلط ملط کړي وي او دواړه يې د مساوات په درجه کښې قرار ولري.

ته به وايې چې همدغې ډلې ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَءَاخَرُونَ ٱعْتَرَفُوا۟ بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا۟ عَمَلًا صَـٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا ﴾ [التوبة: ۱۰۲] يعنې او نور (داسې کسان دي) چې په خپلو ګناهونو باندې يې اعتراف کړی دی، نو د صالح عمل سره يې بل بد عمل ګډ کړی دی.

درېم: سابقين هغه کسان دي د کومو چې د الله ﷻ په توفيق سره په بديو باندې نېکۍ د پاسه او زياتې وي، او کوم چې د مقربينو بندګانو څخه عبارت دي.

همدغې ډلې ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَٱلسَّـٰبِقُونَ ٱلسَّـٰبِقُونَ ۝ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ [الواقعة: ۱۰، ۱۱] يعنې (نېکيو ته) وړاندې کېدونکي کسان (د الله ﷻ رضامندۍ ته) وړاندې کېدونکي دي، همدغه ډله الله ﷻ ته ډېر نژدې کړی شوي دي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

و: که څوک وايي چې: د ذکر شوي بيان څخه څرګندېږي چې د نبي کريم ﷺ د إجابت أمت (چې ايمان يې ورباندې راوړی وي) ټول جنتيان دي؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا دغسې مطلب اخستل صحت لري؟

مونږ وايو چې: ټول مؤمنان په دې معنی جنتيان نه دي چې عاصيان هم دوزخ ته نه شي داخلېدلی بلکې ټول په دې معنی جنتيان دي چې د ټولو انتهاء جنت ته ده. يا په بل عبارت: مؤمنان عاصيان که دوزخ ته داخل کړی شي نو هلته به د کفارو غوندې دائم پاتې نه شي او د دوزخي دورې د تېرولو څخه وروسته به جنت ته داخل شي.

ز: په ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د مذکور په اعتبار سره إيحاء او إيراث دواړو ته اشاره ده چې د ﴿ أَوْحَيْنَا ﴾، ﴿ أَوْرَثْنَا ﴾ جملې ورباندې دلالت کوي، يعنې: نبي کريم ﷺ ته قرآن کريم ﷺ ورنازلول او بيا يې په مؤمنانو کښې د قيامت تر ورځې پورې باقي پرېښودل ډېر لوی فضل دی، چې دنيا او آخرت دواړو ته شامل دی.

﴿ جَنَّـٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ۝٣٣ ﴾

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۹۷؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۱۳۹

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَقَالُواْ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ ۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِىٓ أَحَلَّنَا دَارَ
ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمْ
نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى كُلَّ
كَفُورٍ ﴿٣٦﴾ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ۚ
أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ ۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن
نَّصِيرٍ ﴿٣٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيْبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٣٨﴾ ﴾

[٣٣] د دائمي اوسېداني باغونه چې دي دغو ته به د مؤمنانو ټولې ډلې (د مراتبو به په تفاوت سره) ورداخلېږي (او) دوی به پکښې د سرو زرو څخه په (جوړو شوو) باهوګانو (بنګړيو) سره او (هم) په ملغرو سره ګانه دار کولی (ګرخولی) شي، او لباس (اغوستن) به يې هلته ورېښم وي.

[٣۴] او (هلته) به جنتيان وايي چې: هغه الله ﷻ ته ستاينې (او ثناګانې) دي چې زمونږ څخه يې (هر ډول) خفګان بوته (لرې کړ)، يقيناً زمونږ رب ﷻ (د ګناهونو) ښښونکی (او د طاعتونو) منونکی (قبلوونکی) دی.

[٣۵] هغه (الله ﷻ) ته (ټول محامد دي)؛ چې مونږ يې د همېشوالي په کور کښې د خپل فضل د کبله ښکته کړي (مېشت کړي) ياستو، چې په دې کښې مونږ ته نه ستوماني رسېږي او نه پکښې زمونږ (غوږونو) ته بې هوده (عبث خبرې) رسېږي.

[٣۶] او هغه کسان چې کفر يې غوره کړی دی دوی لره د دوزخ اور دی، په دوی باندې به دلته (د مرګ) فيصله ونه کړی شي چې ټول ومري (او د عذابه نجات مونده کړي)، او نه به ترې د دوزخ عذاب څه تخفيف کړی شي.

(ای پيغمبره!) مونږ هر ناشکره ته دغسې جزا (سزا) ورکوو.

[٣٧] او دوزخيان به په دوزخ کښې سُورې (او چيغې) وهي (او وايي به) چې: ای زمونږ ربه! مونږ (د دې دوزخ څخه) وباسه (او بېرته مو دنيا ته بوځه) ترڅو مونږ (هلته) د هغه بد عمل څخه په غير کوم به چې مونږ (هلته) کاوه (بل) صالح عمل وکړو.

(د دغې غوښتنې په رد کښې به ورته وويلی شي چې:) ايا مونږ تاسو ته هومره عمر نه وه درکړی چې هغه چا پکښې پند اخستلی شو کوم چې پند اخست، او (برسېره په دې) تاسو ته ډاروونکی (هم) درغلی وه (خو تاسو نه پند واخست او نه ودار شوئ بلکې ظلم ته مو ادامه ورکړه)، نو (نن ورخ د دوزخ عذاب) وڅکئ چې ظالمانو ته مددګار نشته (چې نجات ورکړي).

[٣٨] يقيناً الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو په غيبو باندې پوه دی، (حتی) يقيناً الله ﷻ په داسې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حالاتو باندې هم ښه پوه دی چې د سینو (زړونو) خاوندان وي (نو دا هم ورته معلومه ده چې د کفارو ذکره شوې وعده دروغینه وعده ده).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنۍ ایتونه په ﴿ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ﴾ باندې تمام شوي وه، او په دې ایتونو کښې د همدغه لوی فضل څه تفسیر نازل شوی دی. دا د یو پلوه، او د پلوه د جنت د ښه پېژاندلو دپاره د دوزخ څه حالات هم بیان شوي دي چې هر شی د خپل ضد په پېژاندلو سره ډېر ښه پېژاندلی کېږي.
نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د لوی فضل څه مثالونه په خپل اُمت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

۱_ د قرآن کریم نازلول او بیا یې د قیامت تر ورځې پورې د تعمیل دپاره باقي پرېښودل د الله ﷻ د ډېر لوی فضل سبب دی. د دغه لوی فضل لاندې څو مثالونه ولولی:

الف: کوم جنت ته چې د قرآن کریم په سبب مؤمنان ورداخلېږي هغه د اقامت ځای دی، چې همېشه به پکښې اوسېږي او هیڅکله به ترې نه بهر شي او نه به ترې چرته سفر وکړي.

ب: جنتیانو ته به په جنت کښې ډول-ډول ګاڼې وراغوستلی کېږي، هسې نه چې دوی به پخپله د اغوستلو مشقت ګالي بلکې بې زحمته به په ګاڼو باندې ښایسته ګرځولی کېږي. مثلاً:

اول: هغوی ته به د سرو زرو بنګړي وریه لاس کولی کېږي.

دوهم: همدارنګه به هغوی د ملغلرو په ګاڼو سره هم ډولي ګرځولی کېږي.

ج: د جنتیانو لباس به هلته رنګارنګ وریښم وي، چې زینت ډېر ډولونه او رنګونه به لري.

د: په جنتیانو باندې به په جنت کښې هیڅ ډول خفګان نه وي، او نه به د دې خبرې احتمال وي چې څه غم ورباندې وریېښ شي. نو:

ه: د همدې کبله به جنتیان وایي چې: هغه الله ﷻ ته ثناګانې او ستاینې دي چې زمونږ څخه یې دلته بالکل د غم مخنیوی کړی دی او په بنیادي توګه یې ترې خلاص کړي یاستو.

و: یقیناً زمونږ رب ﷻ ډېر ښښونکی دی چې زمونږ نیمګړتیاوې یې رابښلي دي، او هم زښت ډېر شکریه کوونکی او قبلوونکی دی چې زمونږ لږ عبادت یې په ډېر عبادت سره منظور کړی دی او ډېر اجرونه یې ورباندې راکړي دي.

ز: هغه الله ﷻ ته تولې ستاینې او حمدونه دي چې مونږ یې بدون د استحقاقه صرف په خپل فضل سره د همېشوالي کور (جنت) ته ورداخل کړي یاستو او دلته یې په دائمي توګه اوسولي او مېشت کړي یاستو.

ح: جنت داسې کور دی چې نه پکښې مونږ ته څه مشقت او زحمت رسېږي او نه پکښې د څه ستومانۍ او ستړیا سره مخامخ کېږو.
بالآخره مونږ په دې کور کښې عبث او پوچې خبرې نه اورو، زمونږ خبرې تولې خوشالي او سلامونه دي. لنډه دا چې دا کور د دنیاوي کور غوندې نه دی چې د زحمتونو او ستومانیو څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ډک وه او دروغینې خبرې او بهتانونه به پکښې اورېدل کېده.

۲ـ ای پیغمبره! د جنتیانو یو لوی نعمت دا دی چې الله ﷻ ورته د هغه دوزخ څخه نجات ورکړی دی د کوم اوسیدونکي چې د لاندې حالاتو درلودونکي دي:

الف: د دوزخ اور په دائمي توګه د هغو کسانو دپاره دی کومو چې په دنیا کښې کفر غوره کړی دي، که څینې مؤمنان عاصیان ورداخل کړی شي هم همغلته به د تل دپاره پاتې نه کړی شي او په پای کښې به ترې نجات مونده کړي.

ب: کفار به په دوزخ کښې د مرګ غوښتنه کوي ترڅو د مرګ په ذریعه ترې خلاص شي، خو دا غوښتنه به یې هیڅکله ونه منله شي او د مرګ فیصله به ورباندې ونه کړی شي چې مړه شي او نجات ومومي.

ج: هغوی به د عذاب د تخفیف مطالبه هم په مکرره توګه وکړي خو دا مطالبه به یې هم مقبوله ونه ګرځي او عذاب به ترې هیڅکله تخفیف نه کړی شي.

د: ای پیغمبره! د ذکر شوي سخت عذاب څخه مونږ مؤمنانو ته نجات ورکوو او هر ناشکره بنده ورباندې اخته کوو کوم چې د الله ﷻ توحید نه مني او په کفري حالت باندې ومري.

هـ: همدغه ناشکران او همدغه کفار به په دوزخ کښې فریادونه کوي او په چیغو-چیغو به وایي چې: ای زمونږ ربه! مونږ د دغه دوزخ څخه وباسه او بېرته مو دنیا ته بوځه ترڅو مونږ هلته د سمې عقیدې په درلودلو سره صالح اعمال وکړو، البته د هغو اعمالو څخه په غیر کوم چې مونږ وو چې هلته به مو کول او د صالحو اعمالو نوم به مو ورباندې ایښوده.

و: په دغه وخت کښې به مونږ د کفارو ذکره شوې غوښتنه هم رده کړو او ورته به ووایو چې:

اول: ای کفارو! ایا مونږ تاسو ته په دنیا کښې هومره عمر نه وه درکړی، که ستاسو څخه پکښې چا پند اخستی نو پند به یې پکښې اخستی وی (د عقل په رڼا کښې به په سمه لاره روان شوي وی)؟

دوهم: په دې باندې علاوه، تاسو ته هلته ډاروونکی (پیغمبر) هم درغلی وه چې ستاسو د عقل دپاره یې د تفکر ساحه صافوله او ښودانه یې درته کوله.

خو په تاسو باندې افسوس دی چې نه مو هلته د عقل څخه کار واخست او نه مو د پیغمبر او ډاروونکي ارشاد او دعوت قبول کړ.

دریم: که بالفرض مونږ تاسو ته نه اوږد عمر درکړی وی او نه مو ډاروونکی دراستولی وی نو نن ورځ به تاسو ظالمان نه وی ګڼلی شوي.

څلورم: په همدې بنیاد تاسو تاکلی شوی عذاب وڅکئ او مزه ترې واخلئ؛ چې په دنیا کښې مو د همدغه د ګټلو دپاره هلې ځلې کړې دي، او په خپلو ځانونو باندې مو پخپله ظلم کړی دی، او ظالمانو ته نن ورځ نه کومک کوونکی شته او نه ورته څوک نجات ورکولی شي.

۳ـ ای پیغمبره! یقیناً الله ﷻ په هغو ټولو غیبو باندې پوهېدونکی دی کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې پټ دي، او همدارنګه په هغو ټولو حالاتو باندې د کاملې پوهې خاوند دی کوم چې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خلکو په زړونو کښې سمدستي تېرېږي او يا به پکښې خطور وکړي. نو الله ﷻ ته دا هم معلومه ده چې د کفارو ذکره شوې وعده به په دروغو صورت ونيسي، نو که بالفرض المحال هغوی بېرته دنیا ته بوتللی شي هم په خپله وعده به ونه درېږي او بیا به په کفریاتو اخته شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيهَا ﴾ الآية کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ ﴾ کلمات مبتدأ ده چې يو خبر يې ﴿ يَدۡخُلُونَهَا ﴾ دی او بل خبر يې ﴿ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا ﴾ دی[۱]. او د ﴿ عَدۡنٖ ﴾ کلمه د اقامه معنی ورکوي چې په مقابل کښې د "اِرۡتِحَال" کلمه یا سفر کول استعمالېږي[۲] چې په دې مقام کښې ترې مونږ په همېشوالي سره تعبير کوو.

ب. په دوارو خبرونو کښې مستتر ضميرونه ﴿ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَا ﴾ ته راجع دي چې ګناهکاران مؤمنان هم پکښې شامل دي[۳]، چې څه بیان يې د [فاطر:۳۲] ايت لاندې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ او په دې باندې علاوه نور څه بیان يې دا دی چې په دې مقام کښې د جنتیانو په مقابل کښې د ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ ﴾ [فاطر:۳۶] ايت نازل شوی دی چې د سوچه کفارو څخه عبارت دی او مؤمنانو عاصیانو ته شمولیت نه لري.

نو د معنی حاصل يې داسې راخېژي چې: د همېشوالي باغونه چې دي همدي باغونو ته د مراتبو په تفاوت سره د مؤمنانو دربواره ډلې ورداخلېږي، او په همدې باغونو کښې هغوی ته ګاڼې وراغوستلی کېږي.

ج: د الله ﷻ په توفيق په ﴿ مِنۡ أَسَاوِرَ ﴾ کښې د ﴿ أَسَاوِرَ ﴾ د کلمې صرفي تحليل د [الكهف:۳۱] ايت لاندې تېر شوی چې بیا تحليلولو ته اړتیا نه ګورو.

او د همدغه ايت لاندې په دنیا کښې د ورېښمو د اغوستلو شرعي تحریم هم په احادیثو سره په اثبات رسول شوی دی، هیله ده چې علاقمندان هلته مراجعه وکړي.

د: همدارنګه د "لُؤۡلُؤًا" کلمه د [الحج:۲۳] ايت لاندې د اعراب په لحاظ تحليله شوې ده، او د احاديثو په رڼا کښې ورباندې څه بحث شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## دَارَ الْمُقَامَة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلۡمُقَامَةِ ﴾ کښې د ﴿ أَحَلَّنَا ﴾ کلمه د "اِحۡلَال" ـ لکه "اِکۡرَام" ـ څخه اشتقاق شوې ده چې د ښکته کولو او د سفر د ختمولو معنی ورکوي[۴].

---

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۹۸
(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۱۶۳
(۳) البحر المحیط ج۹ ص۳۳
(۴) مفردات الراغب ص۱۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د ﴿ ٱلۡمُقَامَةِ ﴾ کلمه اسم مصدر دی چې د "إقامة" سره مرادف دی[۱]، او مونږ تري په مقیم ګرځولو سره تعبیر کوو. یعنې ټولې ستاینې او ثناګانې هغه الله ﷻ پورې اختصاص لري چې مونږ یې په داسې کور کښې ښکته کړي یاستو چې د همېشوالي کور دی، او په هیڅ صورت سره تري سفر کول او یا ویستل صورت نه نیسي، نو مونږ به پکښې د همېشه دپاره مېشت یاستو.

## د نصب او لغوب ترمنځ فرق

۳ـ په ﴿ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴾ کښې د ﴿ نَصَبٌ ﴾ کلمه د ستومانی څخه عبارت ده[۲] او د ﴿ لُغُوبٌ ﴾ کلمه دوه معناوې لري[۳] چې یوه معنی یې ستوماني ده او بله معنی یې عبث خبرې دي.

په دې مقام کښې یې مونږ ته دوهمه معنی په زړه پورې برېښي چې د یوه پلوه د تاکید څخه تاسیس بهتر دی او په لومړنی معنی کښې تاکید دی، او د بله پلوه په همدغې دوهمې معنی باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې ﴿ لَا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوٗا وَلَا تَأۡثِيمًا ﴾ [الواقعة:۲۵] یعنې جنتیان به په جنت کښې نه عبث خبرې اوري او نه داسې خبرې چې په دنیا کښې ورباندې خلک ګنهګاریږي لکه دروغ، بهتان او داسې نور.

## د تذکر عمر څومره عمر دی؟

۴ـ په ﴿ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د قیامت په ورځ به د اعتذار وړاندې کولو مخه د تذکر عمر هم ونیسي، خو د دغه عمر په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۴].

مونږ ته دا بهتره برېښي چې د تذکر عمر به د هغه عمر څخه عبارت وي چې په یوه حدیث کښې ورته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې فرمایي: «أعذر الله إلى امرئ أخر أجله حتى بلغه ستين سنة»[۵] یعنې الله ﷻ د داسې سړي اعتذار د منځه وړی دی د کوم د مرګ نېټه یې چې وروسته کړې وي چې آن تر شپېتو کالو پورې یې رسولې وي. یا په بل عبارت. نوموړی سړی به د قیامت په ورځ د عمر د لنډوالي اعتذار نه شي وړاندې کولی چې که زما عمر اوږد وی نو زما عقل به پکښې سر ته راغلی وی او د کفریاتو څخه به مې لاس اخستی وی، افسوس چې دا کار ونه شو.

## نذیر یعنې څوک؟

۵ـ په ﴿ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ ﴾ کښې د "نذیر" کلمې دپاره په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو متعدد

---

(۱) القاموس المحيط ج۳ ص۷۱۹
(۲) مفردات الراغب ص۴۷۱
(۳) لسان العرب ج۱ ص۷۴۲ ـ القاموس المحيط ج۴ ص۱۵۲
(۴) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۷۴
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص ۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مصداقات ښودلي دي لكه سپین ویښته، د همزولو او اقاربو مرګ او داسې نور[۱]، بهتره دا بريښي چې دلته به ديني داعي (بلونكى) مراد وي برابره خبره ده چې پیغمبر وي او یا بل اسلامي داعي.

## یادونه

۶- په ﴿إِنَّ ٱللَّهَ عَـٰلِمُ غَيۡبِ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ الآية- كښې هغه مضمون ته اشاره ده په كوم باندې چې په بل ايت كښې صراحت شوى دى چې: ﴿وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَـٰذِبُونَ﴾ [الأنعام:۲۸] يعنې كه بالفرض المحال د محشر د ميدان څخه كفار بېرته دنيا ته ستانه كړى شي نو هرومرو به دوى هغو كفرياتو ته بېرته وروګرځي د كومو څخه چې منعه كړى شوي وه، خو دوى ترې منعه نه شوه، يقينًا په دغه ورځ كښې هم كفار دروغژنان دي او په خپل قول كښې رښتيني نه دي.

﴿هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَكُمۡ خَلَـٰٓئِفَ فِى ٱلۡأَرۡضِ ۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ كُفۡرُهُۥ ۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَـٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ إِلَّا مَقۡتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَـٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٌ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ أَمۡ ءَاتَيۡنَـٰهُمۡ كِتَـٰبًا فَهُمۡ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنۡهُ ۚ بَلۡ إِن يَعِدُ ٱلظَّـٰلِمُونَ بَعۡضُهُم بَعۡضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٍ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾﴾

[۳۹] الله ﷻ هغه اقدس ذات دى چې تاسو يې په ځمكه كښې (د پخوانيو قومونو) خليفګان ګرځولي ياست (د هغوى په عوض يې تاسو اباد كړي ياست).

نو هرڅوك چې كفر غوره كړي نو خاص په همده باندې د خپل كفر (سزابار) ده، او كفارو ته د خپل رب ﷻ په نزد د دوى كفر نه زياتوي، مګر غضب (او قهر)، او كفارو ته د دوى كفر نه اضافه كوي مګر تاوان (او زيان).

[۴۰] (ورته) ووايه چې: (اى مشركانو!) ماته د خپلو هغو شريكانو څخه خبر راكړئ كوم چې تاسو يې د الله ﷻ څخه په غير بلئ (او عبادت يې كوئ)، ماته راوليد كړئ (راوښايئ) هغه كوم شى دى چې دوى (د ځمكې د مخلوقاتو څخه) پيدا كړي دي؟ (تاسو ورته ګوته ونيسى).

(او) ايا ستاسو معبودانو ته د اسمانونو (په مخلوقاتو) كښې څه اشتراک شته؟ (او بالآخره) ايا مونږ ستاسو معبودانو ته كوم كتاب وركړى (ورنازل كړى) دى چې دوى د همدغه كتاب څخه په څرګند دليل باندې (ولاړ) دى (او تاسو ورباندې قناعت كوونكي ياست)؟

---

[۱] روح المعاني ج۲۲ ص۱ ۲۰؛ زاد المسير ج۶ ص۱۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(د ذکرو شوو درېواړو پوښتنو جواب منفي دی یو هم ثبوت نه لري) بلکې ځینې ظالمان (کفار) ځینو نورو ته وعده نه ورکوي مګر د غولونې دپاره.

[۴۱] یقیناً الله ﷻ اسمانونه او ځمکې د دې څخه ایساروي چې دواړه د زوال سره مخامخ شي، او که دغه دواړه (د الله ﷻ په امر) د زوال سره مخامخ شي (لکه چې همدا کار به د قیامت په ورځ صورت ونیسي) نو د ده ﷻ څخه وروسته (په غیر) به یې هیڅوک (د زوال څخه) را ایسار نه کړي (او نه د چا توان شته).

یقیناً الله ﷻ حلیم (او هم) غفور دی (د کفارو په تعذیب بیړه نه کوي او که توبه تائب شي نو د تعذیب څخه یې تېرېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې باندې هم مشتمل وه چې د قیامت په ورځ به کفار بې وخته اعتراف وکړي چې دوی په دنیا کښې په غلطه لاره روان وه، خو د دغه وخت اعتراف به ورته هیڅ ګټه ونه شي رسولی. په دې ایتونو کښې ځینو دلایلو ته اشاره شوې ده ترڅو کفار په وخت سره په خپله غلطیا اعتراف وکړي چې ګټه ورته ورسوي او د جهالت څخه ورباندې رابهر شي. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل دعوتي اُمت باندې د اسلام د حقانیت او د الله ﷻ د وحدانیت څه دلایل قرائت کړه ترڅو ترې کفار په وخت سره پند واخلي او د کفري او شرکي عقیدې څخه اجتناب وکړي نو ورته ووایه چې:

۱ ـ ای خلکو! الله ﷻ هغه واحد لا شریک اقدس ذات دی چې تاسو یې په ځمکه کښې د پخوانیو خلکو خلیفه ګان ټاکلي یاست، او د هغوی د مرګ څخه وروسته یې په تاسو باندې دنیا اباده کړې ده، نو داسې وخت هم راروان دی چې ستاسو د مرګ څخه وروسته په نورو خلکو باندې دنیا اباده کړي. یا په بل عبارت: لکه چې عادیانو او ثمودیانو او نورو هلاکو شوو قومونو ته خپلو باطلو معبودانو څه ګټه ونه شوه رسولی او د بنیادي هلاک څخه یې نجات ورنه کړ، نو همدغه ډول به تاسو ته هم خپل کفریات او شرکیات نجات درنه کړی شي.

نو ای خلکو! تاسو د خلیفه توب د عظیم الشان نعمت شکریه وکړئ او د توحید عقیده خپله کړئ که نه نو هرڅوک چې کفري عقیده خپله کړي هغه فقط خپل خان ته ضرر ورساوه او د خپلو اوږو پیټی یې دروند کړ او بس. بلکې:

الف: کفارو ته خپل کفر د دوی د رب ﷻ په نزد بل څه نه اضافه کوي مګر غضب او قهر، چې څومره یې استخلاف زیات وي هومره به ورباندې الهي غضب زیات ورنازل شي.

ب: همدارنګه دوی ته خپل کفر د تاوان څخه په غیر بل کوم اثر او نتیجه نه لري، نو تاسو ته په کار دي چې د کفر په غوره کولو سره نه د خپل رب ﷻ غضب او قهر خپلو ځانونو ته اضافه کړئ او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



... قانونه د لا زیات تاوان سره مخامخ کړي.

۲_ ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه او د الله ﷻ د پلوه ورته ووایه چې ای مشرکانو! تاسو ته د ... معبودانو په ارتباط مونږ څه پوښتنې راجع کوو د کومو په عبادت باندې چې تاسو د الله ﷻ ... په ځای مشغول یاست. نو باید چې تاسو یې جواب راکړئ. پوښتنې دا دي.

الف: ایا ستاسو باطل معبودان د مخلوقاتو په پیداکولو کښې څه برخه لري؟ که بالفرض داسې ... نو تاسو ماته په ځمکه کښې هغه مخلوق راولید کړئ (راوښایاست) چې دوی پیدا کړي وي.

ب: ایا ستاسو معبودان په اسماني مخلوقاتو کښې څه ونډه لري؟ ایا د مثال په توګه د کوم ... په خپل مدار څرخول د دوی په واک کښې شته؟

ج: ایا مونږ ستاسو معبودانو ته کوم اسماني کتاب ورکړی دی چې د هغه کتاب په رڼا کښې ... ته لارښوونه کوي او خپل عبادت ته مو وربولي؟

۳_ پوره واضحه ده چې د ذکرو شوو درېواړو پوښتنو جوابونه منفي دي، نو معلومه شوه چې ... بوتان په هیڅ وجه د عبادت لیاقت نه لري، او د مشرکانو سره یې په ثبوت باندې کوم دلیل نشته ... بلکې اصلي خبره دا ده چې ځینې کفار او ظالمان ځینو نورو ته وعدې نه ورکوي مګر د غولونې وعدې چې هیڅ حقیقت نه شي موندلی

همدغه دروغجنې وعدې ورکول د انسي او جني شیطانانو کار دی چې په هر وخت کښې ترې د ... بې لارې کولو دپاره استفاده کوي

۴_ د الله ﷻ د وحدانیت بل دلیل دا دی چې اسمانونه او ځمکې فقط همده ﷻ ایسار کړي دي چې د زوال سره مخامخ شي، او یوازې همده ﷻ ورته بقاء ورکړې ده.

او که بالفرض اسمانونه او ځمکې د زوال سره مخامخ شي او یا قیامت قائم شي او الله ﷻ یې د نړولو اراده وکړي، نو بیا هیڅوک نشته چې د الله ﷻ د نړولو څخه وروسته ورته بقاء ورکړي او یا یې د زوال مخنیوی وکړي.

۵_ ای پیغمبره! کله چې مشرکان په خپلو شرکیاتو باندې هیڅ دلیل نه شي قایمولی او د توحید دلایلو ته غوږ نه ږدي نو دوی د دې خبرې مستحق دي چې سمدستي ورباندې الله ﷻ بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل کړي، خو الله ﷻ حلیم دی دغه کار یې تر اوسه نه دی کړی.

یا په بل عبارت: الله ﷻ د خپل حلم د مخې هغوی ته فرصت ورکوي چې د شرکیاتو څخه توبه تائب شي او توحیدي عقیده خپله کړي، که هغوی داسې وکړي نو په پخوانیو کفریاتو باندې به یې ونه نیسي ځکه چې الله ﷻ ډېر بښونکی دی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې ... لاندې ټکوته توجه په کار ده:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د ﴿ أَرَءَيْتُمْ ﴾ کلمه د "أَخْبِرُونِي" معنی ورکوي[١].

ب: د ﴿ أَرُونِي ﴾ کلمه د همدغې ذکرې شوې کلمې څخه بدل واقع شوې ده[٢] چې د هغې معنی پکښې منعکسه شوې ده.

نو ته به وایې چې داسې عبارت نازل شو دی چې: "أَخْبِرُونِي، أَرُونِي" یعنې ای کفارو! ماته د خپلو باطلو معبودانو (شرکاوو) په هکله خبر راکړئ ماته راولید کړئ چې هغه مخلوق کوم یو دی چې دوی په ځمکه کښې پیدا کړی دی؟

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې په: ﴿ أَمْ ءَاتَيْنَـٰهُمْ كِتَـٰبًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ﴾ کښې د "هُمْ، هُمْ" دواړه ضمیرونه چاته راجع دي؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو دغه دواړه ضمیرونه د التفات په بنیاد مشرکانو ته راجع ګڼلي دي[٣] او حاصل یې داسې راویستلی دی چې: ای پیغمبره! ایا مونږ مشرکانو ته اسماني کتاب ورکړی دی چې د همدغه کتاب څخه د خپلو شرکیاتو دپاره د لاربنود او نقلي دلیل استفاده کوي؟

همدغه مضمون په [الروم:٣۵] ایت کښې تقریبًا په صراحت سره نازل شوی دی.

مګر د دغه جواب په بنیاد په ضمائرو کښې انتشار او تفکیک رامنځته کیږي چې بې ضرورته دغسې کار ته اقدام کول د عربیت په لحاظ ښه کار نه دی.

نو بهتره دا ده چې ذکر شوي دواړه ضمیرونه به په ﴿ شُرَكَآءَكُمُ ﴾ کښې د "شُرَكَاء" کلمې ته راجع وي[۴] لکه چې په ﴿ خَلَقُوا ﴾، ﴿ لَهُمْ ﴾ کښې دواړه ضمیرونه همدوی ته راجع دي. نو حاصل به یې داسې راوځېژي چې: ای مشرکانو! ایا مونږ ستاسو بوتانو ته کتاب ورکړی دی چې د همغه کتاب په استدلال سره تاسو د هغوی په عبادت مشغول یاست او د شفاعت په تمه ورته ناست یاست؟

نو په دې تقدیر سره په اولنیو سوالونو کښې دې ته اشاره کېږي چې: ای مشرکانو! ستاسو معبودان د عبادت دپاره ذاتي استحقاق او لیاقت نه لري چې په اسمانونو او ځمکو کښې یې څه شی پیدا کړی نه دی. او په دریم سوال کښې دې ته اشاره بربښي چې: ای مشرکانو! ستاسو معبودانو ته د الله ﷻ د پلوه هم د عبادت لیاقت او استحقاق نه دی ورکړی شوی، چې په همدې هکله یې کوم کتاب ورنازل کړی وي.

نو تاسو په کوم عقلي یا نقلي دلیل سره په شرکي عقیده باندې کلک ولاړ یاست؟.

﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ

(١) تفسير ابي السعود ج٧ ص١۵۵
(٢) تفسير الكشاف ج٣ ص٦١٧
(٣) تفسير المظهري ج٨ ص٦٣؛ زاد المسير ج٦ ص٢۵٨
(۴) روح المعاني ج٢٢ ص٢٠٣؛ البحر المحيط ج٩ ص٣٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ ٱسْتِكْبَارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَكْرَ ٱلسَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ
ٱلْمَكْرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِۦ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ
تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعْجِزَهُۥ مِن شَىْءٍ فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا
كَسَبُوا۟ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَآبَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَآءَ
أَجَلُهُمْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرًۢا ﴿٤٥﴾

[۴۲] او کفارو (مشرکانو) به په الله ﷻ سره سوګند کاوه خپل ډېر کلک سوګند، چې که چرته دوی ته ضرور ډاروونکی (پیغمبر) ورشي نو دوی به هرومرو خامخا د ټولو امتونو د یوه (ممتاز امت) څخه هم ډېر ښه لاره موندونکي جوړ شي.

خو کله چې دوی ته ډاروونکی ورغی نو دوی ته یې (د هدایت په عوض د حق څخه) نفرت (تښتېدل) زیات کړه.

[۴۳] (د حق څخه د دوی نفرت) په ځمکه کښې د تکبر او بد تدبیر د کبله صورت ونیوه (چې حق یې د ښنو لاندې کړه او د اسلام د مخنیوي پلانونه یې په کار واچول)، حال دا چې د بد تدبیر (یا چل ضرر په هیچا) نه چاپېرېږي مګر په خپل اهل (خپل خاوند او چل جوړوونکي) باندې.

نو ایا کفار انتظار وباسي (منتظر نه دي) مګر د لومړیو (پخوانیو قومونو) قانون ته (چې ورسره اجراء شوی وه، او ټول هلاک شوي وه)؟.

نو ته به هیڅکله د الله ﷻ (د تعذیب) سنت (قانون) ته بدلون مونده نه کړې (چې جنایتکاران معذب نه کړي).

او ته به هیڅکله د الله ﷻ سنت (قانون) ته ګرځول (هم) مونده نه کړې (چې د تعذیب مخه غیر جنایتکارانو ته واړوي).

[۴۴] ایا کفارو په ځمکه کښې نه ګرځي (راګرځي) نو وګوري چې د هغو کسانو عاقبت څنګه وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي؟ (ایا مونږ د کفر د کبله د خرمې هلاک نه کړه؟) حال دا چې هغوی د دوی څخه د قدرت د حیثه سخت (او کلک) وه.

او الله ﷻ داسې نه دی چې کوم شی یې په اسمانونو کښې عاجز وګرځوي، او نه (داسې دی چې) په ځمکو کښې (یې کوم شی عاجز وګرځوي او د ارادې په وړاندې یې خنډ واقع شي).

یقیناً الله ﷻ (په هر شي باندې) پوه (او) د قدرت څښتن دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۵] او که الله ﷻ خلک په هغو (جنایتونو سمدستي) نیولی کوم چې هغوی کسب کړي دي نو د ځمکې په شا (مخ) باندې به یې هیڅ حرکت کوونکی (ساکښ ژوندی) نه وی پرېښې (الله ﷻ به عجله سره نیول نه کوي) مګر د ټاکلې نېټې پورې یې وروسته کوي
نو کله چې د خلکو (د نیولو) نېټه راشي (راورسېږي) نو یقیناً الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې بینا دی (هر چاته به موافقه سزا یا جزا ورکړي).

## ارتباطونه

۱ـ وړاندېنیو آیتونو په توحید پورې ارتباط درلود او دا ایتونه په نبوت پورې تړاو لري
۲ـ هلته دا مضمون هم شامل وه چې د دې زمانې کفار د پخوانیو کفارو خلیفه ګان دي، او په دې ایتونو کښې دېته اشاره شوې ده چې دوی به هم د هغوی په مېنه شپه شي ځکه چې د الله ﷻ سنت نه بدلېدونکی سنت دی.
۳ـ بالآخره وړاندې ایتونه د ﴿ حَلِيمًا غَفُورًا ﴾ په کلمو باندې ختم شوي وه چې د اشارې په توګه یې کفارو ته په مهلت ورکولو باندې دلالت کاوه، او د دې ایتونو په اختتام کښې په همدغه مضمون باندې صراحت شوی دی، نو د مطلب خلاصه یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د سورت په آخر کښې اوس په خپل دعوتي امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:
۱ـ لکه څنګه چې کفار د الله ﷻ د توحید څخه انکاري دي همدارنګه دوی د پیغمبر ﷺ په نبوت باندې هم عقیده نه خپلوي چې بیان یې دا دی:
الف: دوی به د نذیر او ډاروونکي د ورتګ څخه وړاندې په سوګند سره عهد کاوه چې که چرته دوی ته ډاروونکی ورشي او د الله ﷻ د پلوه ورمبعوث شي لکه څنګه چې په پخوانیو امتونو کښې پیغمبران مبعوث شوي وه، نو هرومرو او ضرور به ورباندې ایمان راوړي او تکذیب به یې ونه کړي حتی دوی به د پخوانیو امتونو د هر یو پخواني امت څخه ډېر ښه هدایت موندونکي جوړ شي او د هغوی څخه به ورباندې بهتره عقیده وکړي.
ب: خو کله چې ذکرو شوو عهد کوونکو ته د الله ﷻ د پلوه ډاروونکی او پیغمبر ورواستولی شو نو هغوی په خپل عهد باندې ونه درېده او ایمان یې ورباندې رانه وړ، بلکې نفرت یې لا اضافه شو او د حق څخه یې تېنتېدل لا قوي او کلک شوه.
ج: په ځمکه کښې د دوی تکبر او سرکشي لا زیاته شوه او هم یې پکښې بدو تدابیرو او چلونو لا وده وکړه، د همدې کبله دوی لګیا دي د اسلام د ترقۍ مخنیوی کوي او خلک نه پرېږدي چې د توحید عقیده خپله کړي او د الله ﷻ په وراستولي شوي پیغمبر باندې ایمان راوړي.
د: خو دوی دې په یاد ولري چې د سرکشۍ او بدو تدابیرو ضرر به د دوی څخه پرته بل چا ته ونه رسېږي او کوم اور چې دوی بل کړی دی په هغه کښې به د همدوی څخه پرته بل څوک لولپه نه شي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: دا د الله ﷻ سنت (قانون) دی چې د چلونو او بدو تدابیرو اثرات بل چا ته نه بلکې پخپله چل کوونکو ته رسوي او بس.

و: نو د ذکر شوي بیان په بنیاد ایا د دې زمانې کفار انتظار وباسي، بلکې انتظار نه وباسي مګر فقط هغه الهي سنت او قانون ته کوم چې په پخوانیو کفارو کښې جاري ساتلی شوی دی.

ز: نو د دغه الهي سنت او قانون په اساس لکه چې یهودان د خپلې سرکشۍ د کبله غضب کړې شوي وګرځېده او نصارا د ګمراهانو په ډله کښې وشمېرل شو، همدارنګه به د دې زمانې کفار او سرکشان غضب کړې شوي وګرځي او د ګمراهانو په قطار کښې به په دائمي توګه ودرولی شي.

ح: نو ای پیغمبره! ته به هیڅکله د الله ﷻ سنت (قانون) ته تبدیل مونده نه کړې چې چل کوونکی د خپل چل په اور کښې لولپه نه کړي.

او نه به ورته تغیر او تحویل مونده کړې چې د چل کوونکي څخه په غیر یې بل چاته مخه واړوي او بل څوک یې په اور کښې لولپه کړي.

٢_ ایا کفار په ځمکه کښې نه ګرځي راګرځي او د عادیانو او ثمودیانو په کنډوالو باندې یې نظر نه نښلي، ترڅو وګوري او پوه شي چې د هغو سرکشانو عاقبت څنګه شو کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي؟، ایا الله ﷻ د هغوی بنیاد نه دی ویستلی؟

حال دا چې هغوی د دوی څخه د قوت د حیثه زیات وه او د مالونو د حیثه ترې ثروتمند وه، نو چې هغوی نجات ونه موند دوی به یې څنګه مونده کړي؟. برسېره په دې:

الف: الله ﷻ دغسې نه دی چې په اسمانونو کښې وړباندې کوم شی زوروړ شي او د اجراءاتو مخه یې بنده کړي (عاجز او ناتوانه یې وګرځوي)، او نه دغسې شی په ځمکو او اسمانونو کښې شته چې د الله ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ شي. او دا ځکه چې:

ب: الله ﷻ په دائمي توګه د کامل علم او کامل قدرت درلودونکی دی، دا دواړه د الله ﷻ د ذاتي صفاتو څخه دي چې هیڅکله ترې انفکاک نه شي موندلی.

٣_ ای پیغمبره! که بالفرض الله ﷻ په جلتۍ سره خلک د دوی د جنایتونو په سبب باندې نیولی او د توبې فرصت یې نه ورکولی، نو د ځمکې په مخ به یې هیڅ ساکښ ژوندی نه وی پرېښې او ټول به یې پوپنا کړي وی.

مګر الله ﷻ دغسې نیول نه کوي، بلکې خلکو ته د دوی د جنایتونو سره-سره فرصت ورکوي او د ټاکلي وخته پورې یې وروسته کوي، ترڅو د دوی عقل سرته ورشي او د خپلو جنایتونو څخه توبه تائب شي.

هو! کله چې د خلکو د هلاک ټاکلي نېټه ورسېږي نو ټول به هلاک کړي او هیڅوک به ژوندی پرېنږدي (قیامت به قائم کړي). بیا چې حساب کتاب شروع شي او قیامت قائم شي نو یقیناً الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې بینا دی چې څوک د جزا لایق دی او څوک د سزا لیاقت لري؟، نو د هر چا سره به موافق چال چلند وکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ ﴾ کښې د "أَقْسَمُوا" ضمیر عربو کفارو او قریشو ته راجع دی[۱] او هغه مضمون ته پکښې اشاره شوې ده کوم چې ګڼ شمېر مفسرینو کرامو د الفاظو په تفاوت سره حکایت کړی دی[۲]، هغه دا چې:

د نبي کريم ﷺ د بعثت څخه وړاندې به عربو او خصوصاً قریشو په سوګند سره اظهار کاوه که چرته مونږ ته د الله ﷻ د پلوه همدا زمونږ د قوم څخه پیغمبر راواستول شو نو مونږ به د ټولو امتونو څخه د خپل رب ﷻ دپاره ښه اطاعت کوونکی امت جوړ شو.

خو کله چې د همدوی د قومیت څخه ورته پیغمبر (محمد ﷺ) ورمبعوث شو، نو هغوی به خپلو پخوانیو اظهاراتو کښې دروغژن ثرګند شوه، او په خپل سوګند باندې ونه درېده.

### هېر مو نه شي!

۲ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ﴾ کښې د ﴿ أَهْدَىٰ ﴾ کلمه د تفضيل صيغه ده او د "مِنْ" توری تفضيلي دی او بالآخره د ﴿ إِحْدَى ﴾ کلمه د "أَحَد" دپاره مؤنثه کلمه ده چې د "وَاحِدَة" معنی ورکوي[۳]. نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل په لاندې دوه ډوله صورت نيولی شي[۴]:

الف: يو دا چې د ﴿ إِحْدَى ﴾ کلمه په خپله معنی (وَاحِدَة) سره باقي پرېښودله شي، يعني: مشرکانو به ويل چې: که مونږ ته ډاروونکی راشي نو د امتونو د جملې څخه به مونږ په يوه امت باندې په هدايت کښې بهتر وګرځو.

ب: بله دا چې ذکره شوې کلمه د ممتاز معنی ورکړي چې په فضائلو کښې ورسره بل امت سيالي نه شي کولی، څه لرې نه ده چې په اول نمره سره ترې تعبير وکړی شي. يعني په دغه صورت کښې به مونږ په هغه امت باندې هم په هدايت کښې د پاسه جوړ شو کوم چې په امتونو کښې ممتاز او اول نمره وي.

شايد چې د مشرکانو به په دواړو معناوو کښې اهل الکتاب (يهود او نصارا) مطلب وه، والله ﷻ أعلم.

ج: دا هم څه لرې نه ده چې د مشرکانو به د ﴿ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ﴾ څخه د استغراق په توګه ټول امتونه مطلب وه[۵]، يعني: په دې صورت کښې به مونږ د ټولو امتونو څخه بهتر لاره موندونکي جوړ شو.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۸۲
(۲) تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۶۲؛ تفسير البغوي ج۳ ص۵۷۴؛ الدر المنثور ج۷ ص۳۵
(۳) لسان العرب ج۳ ص۴۴۷
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۱۵۴؛ تفسير الكشاف ج۲ ص۶۱۸
(۵) تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۶۲؛ المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۸۲

Scanned by CamScanner

## په یاد ولرئ!

۳ـ په یاد ولرئ چې په ﴿ وَمَكۡرَ ٱلسَّيِّيِٕ ﴾ کښې د "مَکْر" کلمه خپل صفت ته مضافه شوې ده، لکه چې په متصله جمله ﴿ وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦ ﴾ کښې په خپل اصل سره موصوفه نازله شوې ده، او حاصل يې داسې راځېژي چې: چل او ناکاره تدبير نه راتاوېږي مګر د خپل هغه خاوند څخه کوم چې چل يې پلان ګزاري کړې وي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَلْعُونٌ مَنْ ضَارَّ مُؤْمِنًا أَوْ مَكَرَ بِهِ»[1] يعنې هغه څوک ملعون دی (د الله ﷻ د رحمت څخه لرې دی) کوم چې مؤمن ته ضرر رسوي او يا ورسره پټ تدبير (چل) کوي.

يوه پښتون شاعر ذکر شوی مضمون په خپلو اشعارو کښې داسې ځای په ځای کړی دی[2] چې:

کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي :: اغزي مه کره په پښو کښې به دې خار شي
ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه :: چې همدا غشی به ستا په لور ګوزار شي
کوهی مه کنه د بل سرې په لار کښې :: چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ته چې هر چا ته په خوارو سترګو ګورې :: لا رومبی به ستا صورت تر خاورو خوار شي
آدم زاد په معنی واړه يو صورت دی :: هر چې بل ازاروي هغه ازار شي
که ته نه کوې نظر د چا وعيب ته :: هر سړی به ستا د عيبو پرده دار شي
لرې يې مه ګڼه ګناه که هر څو لږ وي :: لږ لږ چې سره جمه شي بسيار شي

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: په ﴿ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗاۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلًا ﴾ کښې الله ﷻ د خپل سنت (قانون) څخه تبديل او تحويل دواړه منفي ګرځولي دي نو د دغو دواړو ترمنځ څه فرق دی؟

مونږ وايو چې[3]: په دې مقام کښې تبديل د دې څخه عبارت دی چې تعذيب په غير تعذيب سره واړولی شي، او د تحويل معنی دا ده چې د مستحقينو څخه غير مستحقينو ته د عذاب مخه ورتاوه کړی شي.

په دواړو صورتونو کښې د عدم وجدان معنی عدم وجود دی. يعنې د الله ﷻ په سنت کښې نه تبديل شته او نه پکښې تحويل موجوديت لري.

## يادونې

۵ـ په ﴿ وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ ﴾ الآية کښې لاندې يادونې په ذهن کښې ساتل په کار دي:

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵
(۲) د عبد الرحمن مومند ديوان ص۲۲۹
(۳) تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: همدې ایت ته ورته مضمون په [النحل: ٦١] او [الأنفال: ٢٥] ایتونو کښې نازل شوی دی، چې مونږ پکښې د الله ﷻ په توفیق څه وضاحتونه لیکلي دي، هیله ده چې د هغو ایتونو توضیحاتو ته یو ځل مراجعه وکړی شي ترڅو وربانديې هغه مطلب پوره څرګند شي کوم ته چې په دې ایت کښې اشاره شوې ده.

ب: په ﴿ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا ﴾ کښې د "ظَهْر" کلمه اصلاً په شا سره معنی کېږي خو د مجاز په توګه يې په هغه ځاروي باندې هم اطلاق کېږي د کوم څخه چې د سورلۍ کار اخستلی کېږي[1].

په همدې لحاظ سره په دې مقام کښې د ځمکې ضمیر ته مضافه شوې ده او اضافت پکښې بياني دی، ته به وايې چې ځمکه د ټولو ساکښانو دپاره د سورلۍ ځاروی دی او ټول وربانديې سواره دي.

ج: کله-کله ځمکې ته په بياني اضافت سره د "وَجْه" کلمه هم مضافېږي، که څه هم دغه کلمه (وَجْه) اصلاً د مخ دپاره وضعه شوې ده خو د کنايې په توګه يې د هر شي په لومړنۍ برخه باندې هم اطلاق کېږي[2]، او پوره واضحه ده چې د ځمکې سره د ساکښانو پيوستون د هر شي څخه مخکښې صورت نيسي. د همدې استعمال د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: يوه ورځې نبي كريم ﷺ طلحه ﷺ ته اشاره وکړه او ويې فرمايل چې: «شَهِيدٌ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ»[3] يعنې دغه صحابي داسې شهيد دی چې (د شهادت سره-سره) د ځمکې په مخ تلل کوي او ګرځي راګرځي.

دوهم: نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې هغه خبره هم راحکايت کړې ده په کومه باندې چې ابراهيم ﷺ خپله مېرمن (سارة رضي الله عنها) مخاطبه کړې وه چې: «يَا سَارَةُ! لَيْسَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِي وَغَيْرَكِ»[4] يعنې اى ساري! نن ورځ د ځمکې په مخ باندې زما او ستا څخه په غير بل مؤمن نشته (چې ښځه او مېړه دواړه مؤمنان وي).

د فاطر د سورت ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضَى.

۱۴۲۲/۳/۲٦ هـ ق = ۱۳۸۰/۳/۲۹ هـ ش.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۲۸

(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۵۵۵

(۳) سنن ابن ماجه ص۱۲

(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۴

Scanned by CamScanner

# یس (۳٦)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

۱ـ د دې سورت لومړنی ایت ﴿ يسٓ ﴾ د همدې سورت دپاره نوم ګرځولی شوی دی، چې د قرآن کريم د نورو سورتونو څخه ورباندې جدا کېږي.

۲ـ دا سورت مکي سورت دی[۱]، او د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوی دی.

## د دې سورت اعداد

۳ـ د دې سورت د ایتونو، کلماتو او حرفونو شمېر په لاندې ډول دی[۲]:

الف: د ایتونو تعداد يې درې اتيا (۸۳) ته رسېږي.

ب: د ټولو کلماتو تعداد يې اوه سوه نهه ويشت (۷۲۹) کلمې دي.

ج: بالآخره د حرفونو شمېره يې درې زرو (۳۰۰۰) حرفونو ته پورته شوې ده.

## د دې سورت فضائل

۴ـ د "يس" سورت په فضائلو کښې زښت ډېر احاديث او اثار روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو راغونډ کړي دي (الله ﷻ دې اجرونه ورکړي)[۳]، خو مونږ فقط د لاندې احاديثو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «اقْرَءُوا يس عَلَى مَوْتَاكُمْ»[۴] يعنې تاسو د "يس" سورت په خپلو هغوکسانو باندې قرائت کړئ کوم چې قريب الموت (مرګ ته نژدې) وي او ځنکدن يې وي (شايد چې الله ﷻ به ورباندې اساني ورولي).

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَيس قَلْبُ الْقُرآنِ لَا يَقْرَؤُهَا رَجُلٌ يُرِيدُ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَالدَّارَ الْآخِرَةَ إِلَّا غُفِرَ لَهُ وَاقْرَءُوهَا عَلَى مَوْتَاكُمْ»[۵] يعنې او د "يس" سورت د قرآن کريم زړه دی دا سورت هيڅ سړی نه لولي چې د الله ﷻ د رضا او وروستنی کور يې اراده وي مګر الله ﷻ به ورته مغفرت وکړي، او هم دغه سورت په خپلو مړو (قريب الموت کسانو) باندې قرائت کړئ.

ج: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ قَلْبًا وَقَلْبُ الْقُرْآنِ يس وَمَنْ قَرَأَ يس كَتَبَ اللهُ لَهُ بِقِرَاءَتِهَا قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ عَشْرَ مَرَّاتٍ»[۶] يعنې هر شی زړه لري او د قرآن کريم زړه د "يس" سورت دی، او څوک چې "يس" قرائت کړي نو الله ﷻ به ورته د هغه په قرائت سره د قرآن کريم قرائت لس کرته وليکي (دومره ثواب به ورکړي لکه چې قرآن کريم يې لس کرته قرائت کړی وي).

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۱
(۲) تفسير الخازن ج۵ ص۱۹۴
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۳۷
(۴) سنن ابي داود ج۲ ص۸۹؛ سنن ابن ماجه ص۱۰۴
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۸۶
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دې سورت محتویات

۵ـ د دې سورت (یس) اکثریت بحثونه د نورو مکي سورتونو غوندې عموماً او د وړاندېنۍ سورت (فاطر) غوندې خصوصاً د عقیدوي موضوعاتو په محور باندې څرخېږي خو زیات زور پکښې په درېوو مسئلو باندې اچولی شوی دی، چې په ډول-ډول دلایلو سره په اثبات رسولې شوي دي هغه دا چې:

الف: الله ﷻ واحد او لا شریک دی.

ب: نبي کریم (محمد ﷺ) په حقه پیغمبر دی.

ج: بالآخره د مرګ څخه وروسته به ضرور ټول مړي بېرته راژوندي کړی شي او هرڅوک به د خپلو کړو وړو مطابق د سزا یا جزا سره مخامخ شي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يسٓ (١) وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ (٢) إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ (٣) عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ (٤)
تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ (٥) لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ (٦) لَقَدۡ حَقَّ
ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ (٧) إِنَّا جَعَلۡنَا فِيٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ أَغۡلَٰلٗا فَهِيَ إِلَى
ٱلۡأَذۡقَانِ فَهُم مُّقۡمَحُونَ (٨) وَجَعَلۡنَا مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ سَدّٗا وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ سَدّٗا فَأَغۡشَيۡنَٰهُمۡ
فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ (٩) وَسَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ (١٠) إِنَّمَا تُنذِرُ
مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكۡرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحۡمَٰنَ بِٱلۡغَيۡبِۖ فَبَشِّرۡهُ بِمَغۡفِرَةٖ وَأَجۡرٖ كَرِيمٍ (١١) إِنَّا نَحۡنُ
نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَنَكۡتُبُ مَا قَدَّمُواْ وَءَاثَٰرَهُمۡۚ وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ (١٢) ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] په محکم (او د حکمتونو څخه په ډک) قرآن کریم باندې سوګند دی.

[۳] چې یقیناً ته (ای پیغمبره!) هرومرو د لېږلو شوو کسانو د جملې څخه یې.

[۴] (او هم) په سمه (او برابره) لاره باندې (روان) یې.

[۵] (دا قرآن کریم نازل کړی شوی دی) د کلکې ارادې (او) د ډېرې مهربانۍ درلودونکي الله ﷻ نازلول.

[۶] (دا) د دې دپاره چې ته (ورباندې) داسې قوم (د الله ﷻ د عذابه) ودار کړې چې (نژدې) پلرونه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې نه دي ډارولی شوي، نو دوی (د توحيد د عقيدې څخه) غافلان دي (او په غفلت کښې پراته دي).

[۷] بې شکه (د تعذيب) خبره د کفارو په اکثريت باندې ثابته شوې ده، نو (د دوی) اکثريت ايمان نه راوړي.

[۸] يقيناً مونږ د کفارو د اکثريت په غاړو کښې ولچکونه (غورابونه) ګرځولي (اچولي) دي، نو دا ولچکونه يې تر زنو پورې رسېدلي دي، نو سرونه يې نبغ کړی شوي دي (چې ښکته نه شي کتلی او سترګې هم ورباندې پټې کړی شوي دي).

[۹] او مونږ د کفارو د اکثريت په وړاندې دېوال ګرځولی دی، او وروسته يې (هم) مونږ دېوال درولی دی (بلکې د څلورو خواوو څخه مو احاطه کړی دی).

نو مونږ د دوی (سترګې) پټې کړي دي نو دوی (هيڅ حقيقت) نه ګوري.

[۱۰] او (ای پيغمبره! په تاباندې نه بلکې) په دوی باندې يو برابر ده چې (د الله ﷻ د عذابه) يې ډاروې او که يې نه ډاروې (په دواړو صورتونو کښې) ايمان نه راوړي.

[۱۱] يقيناً ته هغه څوک ډاروې (ستا د ډارولو څخه ګټه اخلي) کوم چې د قرآن کريم پيروي کوي، او د غياب په حال کښې د ډېر مهربان الله ﷻ څخه ډارېږي (په ناليدلي دوزخ عقيده کوي).

نو ته ورته په لوی مغفرت او په باکرامته اجر باندې بشارت (زيری) ورکړه.

[۱۲] يقيناً مونږ همدا مونږ مړي ژوندي کوو، او هغه څه ليکو کوم چې خلکو وړاندې استولي دي، او وروسته پاتې نښې يې (هم ليکو).

او هر شی مونږ (شمېرلی دی) په څرګند امام (لوح محفوظ) کښې مو شمېرلی (او ثبت کړی) دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د هغو مضامينو څه تفصيل نازل شوی دی کومو ته چې د وړاندېنې سورت (فاطر) په څلورو وروستنيو ايتونو کښې اجمالاً اشاره شوې ده. هغه دا چې:

الف: د مکې مشرکانو نژدې پلرونو ته پيغمبر نه وه ورغلی.

ب: هغوی په سوګند سره کلک عهد کړی وه چې که پيغمبر ورته ورغی نو د هر چا څخه به ښه هدايت موندونکی وګرځي.

ج: خو چې کله پيغمبر ورغی هغوی په خپل عهد ونه درېده، او د دعوت د لارې خنډ جوړ شوه.

د: د الله ﷻ سنت (قانون) دی چې چليان خلک د خپل چل په لومه کښې پخپله نښلوي او د همدوی په ضرر يې تماموي.

ه: الله ﷻ په عجله سره د جنايتونو په سبب خلک نه نيسي، که نه نو د مکې مشرکان خو به يې سمدستي پوپنا کړي وی.

نو د پاسنيو ټکو په نظر کښې نيولو سره يې د مطلب خلاصه داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل دعوتي أمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ نه په حقه پیغمبر یې او کوم کتاب چې تاته درنازل کړی شوی دی هغه رښتیاني الهي کتاب دی او دا څکه چې:

الف: دغه کتاب د هغو تورو څخه ترکیب شوی دی د کومو څخه چې په محاوراتو کښې روزمره د خلکو خبرې ترکیب مومي. لکه "ي، س" او داسې نور.

خو د دې سره-سره هیڅوک د نوموړي کتاب د مقابلې توان نه لري او د یوه ایت یا یوه سورت سره یې سیالي نه شي کولی.

که بالفرض المحال دا کتاب ستا خپل تصنیف وی لکه چې معاندین خیال کوي نو هرومرو او ضرور به ټولو خلکو په اجتماعي توګه د یوه ایت یا یوه سورت د جوړولو توان درلودلی وی چې همدې قرآن کریم غوندې د حکمتونو څخه ډک وي.

ب: نو په همدغه قرآن کریم باندې (چې د حکمتونو څخه ډک دی) سوګند دی چې: یقیناً ته هرومرو په حقه سره د پیغمبرانو د جملې څخه یو غوره پیغمبر یې، او په رښتیا سره د خلکو د هدایت دپاره استولی شوی یې.

ج: یا په بل عبارت په همدغه حکیم کتاب باندې سوګند دی چې ته په سمه لاره باندې روان یې، او هرڅوک چې په تاباندې د پیغمبر عقیده نه خپلوي هغه په باطله لاره باندې روان دی او سمه لاره یې بالکل غلطه کړې ده.

د: دا کتاب (چې د حکمتونو څخه ډک دی او خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي) د هغه الله ﷻ د پلوه تاته درنازل کړی شوی دی چې د کلکې ارادې خاوند دی او د ارادې په وړاندې یې هیڅوک خنډ نه شي واقع کېدلی.

خو د دې سره-سره ډېر مهربان هم دی چې جنایتکاران په عجله سره نه نیسي او د توبه تائب ګرځېدلو فرصت ورکوي.

هـ: ته د دې دپاره استولی شوی یې او د دې دپاره درباندې حکیم او معجز کتاب درنازل شوی دی ترڅو د الله ﷻ د عذاب څخه داسې قوم وډار کړې د کومو پلرونه چې په نژدې وختونو کښې د یو پیغمبر د پلوه نه دي ډارولی شوي، او د نورو داعیانو دعوت ته یې پاملرنه نه ده کړې، نو دوی د غفلت په کلک خوب اوده دي او رابېدارولو ته ضرورت لري.

۲_ ای پیغمبره! زمونږ په ازلي علم کښې د کفارو په اکثریت باندې د تعذیب خبره ثابته ده چې په تاباندې عقیده نه خپلوي او کفري او شرکي عقیدې ته ادامه ورکوي.

د مشرکانو حالت په لاندې تمثیل کښې ښه پوره واضحه جوړېږي چې:

الف: عنادي کفار او مشرکان داسې دي لکه چې یقیناً مونږ یې په غاړو کښې غوراېونه اچولي وي او لاسونه مو د دوی د زنو پورې ولچک کړي وي، چې سرونه یې نېغ نیولي وي او ښکته څمکې ته نه شي کتلی چې لوړې ژورې یې وګوري او خپل خانونه ترې بچ کړي.

ب: په دې باندې علاوه لکه چې مونږ یې په وړاندې هم ښه لوړ (قوي) دېوال درولی وي او د شا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



طرف ته هم. یا په بل عبارت: د عنادي کفارو حال هغو ولچک کړی شوو کسانو ته ورته دی چې برسېره په ولچکونو د څلورو خواوو څخه د لوړو دېوالونو په محوطه کښې هم ایسار وي.

۳ـ نو ای پیغمبره! ایا ذکرو شوو کسانو ته څوک لاره ښودلی شي؟

پوره واضحه ده چې هیڅوک ورته لاره نه شي ښودلی، نو ته هم نه شې کولی چې په عنادي کفارو باندې خپل دعوت قبول کړي او په سمه لاره یې روان کړې.

بلکې ستا ډارول او نه ډارول په هغوی باندې په دې کښې یو برابر دي چې ایمان دې راوړي، که څه هم په دعوت کښې یې تاته اجرونه او ثوابونه شته.

۴ـ یقیناً ته هغه څوک ډارولی شې او دعوت دې ورباندې اغېزمن واقع کېږي کوم چې د پند او قرآن کریم پیروي کوي او د سمې لارې په موندلو پسې زیار وباسي، او هم د ډېر مهربان الله ﷻ څخه په غیبو وېرېږي (په نالیدلو حقائقو باندې عقیده خپلوي).

نو ته همدغو کسانو ته د الله ﷻ په مغفرت او هم د کرامت څخه په ډکو اجرونو سره زیرې ورکړه، چې هرومرو به د قیامت په ورځ دواړه (مغفرت او اجرونه) تر لاسه کړي.

۵ـ ای پیغمبره! یقیناً د قیامت ورځ راروانه ده چې بل څوک نه همدا مونږ به پکښې مړي راژوندي کړو، او هرڅوک به پکښې د خپلو کړو وړو د جزا یا سزا سره مخامخ کړو. او دا څکه چې

الف: مونږ د ټولو خلکو هغه اعمال په اعمالنامو کښې لیکو کوم چې هغوی د خپلو ځانونو څخه وړاندې لېږلي دي، او د هغوی د اعمالو هغه اثرات هم بې لیکلو نه پرېږدو کوم چې د هغوی په اعمالو باندې په دنیا کښې مرتبېږي، او یا ورپسې نور خلک اقتداء کوي.

ب: په دې باندې علاوه مونږ هر شی په ازلي کتاب (لوح محفوظ) کښې د شمار لاندې راوستلی دی او هلته مو پکښې ثبت کړی دی، نو د حساب کتاب په وخت کښې به نه د چا یوه ذره نیکي ضائع شي او نه به یې یوه ذره بدي بې حسابه پاتې شي.

## توضیحات

۱ـ ځینو علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ يس ﴾ د تورو دپاره متعدد تاویلونه کړي دي لکه "یا مُحَمَّدُ، یا إِنْسَانُ!" او داسې نور[۱]. خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکرو شوو تورو ته د نورو مقطعاتو تورو په نظر وکتل شي او د تاویل څخه یې صرف نظر وکړی شي لکه "طه، الم" او داسې نور.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ ځینو علماوو کرامو د ﴿ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ کلمات د اعراب په لحاظ په متعددو طریقو سره تحلیل کړی دی[۲]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکر شوي کلمات به په ﴿ إِنَّكَ ﴾ کښې د "إنّ"

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۳۱؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۴؛ زاد المسیر ج۶ ص۲۴۲

(۲) تفسیر المظهري ج۸ ص۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره دوهم خبر وي؛ یا په بل عبارت: دا به د سوګند دوهم جواب وي.
دا د یو پلوه، او د بله پلوه په کوم شي باندې چې الله ﷻ سوګند یاد کړی همغه شی په حقیقت کښې د سوګند جواب په اثبات رسوي.
نو په همدې بنیاد په دې مقام کښې د کفارو هغه اعتراض رد شوی دی کوم چې الله ﷻ د همدوی څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ ﴾ [الرعد:۴۳].
نو د رد حاصل یې داسې راځیژي چې: ای پیغمبره! مشرکان تا ته وایي چې ته په حقه پیغمبر نه یې؛ دغسې نه ده لکه چې دوی اعتراض کوي، په همدغه حکمتناک کتاب باندې سوګند دی چې ته په حقه پیغمبر یې او په سمه لاره باندې روان یې (همدغه معجز کتاب ستا د نبوت څرګند دلیل دی).

## یو تفسیري تحلیل

۳ـ ځینو علماوو کرامو په ﴿ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ ﴾ کښې د "ما" توری موصولي اسم ګڼلی دی[۱]. او حاصل یې داسې راخېژولی دی چې: ای پیغمبره! ته د دې دپاره پیغمبر ګرځولی شوی یې ترڅو یو قوم د یوه عذابه وډار کړې د کوم څخه چې د دوی پلرونه ډارولي شوي وه.
مګر مونږ ته داسې برېښې چې ذکر شوی د "ما" توری به حرف وي او د نفي معنی به ورکوي. یعنې ته د دې دپاره استولی شوی یې ترڅو داسې قوم د الهي عذابه وډار کړې د کوم چې پلرونه هم د پیغمبرانو علیهم‌السلام د پلوه نه دي ډارولی شوي.
مونږ څکه دا تحلیل غوره کړ چې لاندې تائیدات لري:
الف: د ﴿ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ ﴾ د جملې تعقیب همدغه تحلیل ته ترجیح ورکوي چې د غفلت ترتب په عدم انذار باندې ښه تناسب لري نه په انذار باندې چې لومړنی تحلیل یې غوښتونکی دی.
ب: د دغه تحلیل مضمون په نورو ایتونو کښې منعکس شوی دی. لکه:
اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ مِن نَّذِيرٖ ﴾ [سبا:۴۴] یعنې ای پیغمبره! مونږ ستا څخه وړاندې د مکې مشرکانو ته هیڅ پیغمبر نه دی لېږلی.
دوهم: الله ﷻ فرمایي: ﴿ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٖ ﴾ [القصص:۴٦] یعنې ته د دې دپاره پیغمبر وګرځولی شوې ترڅو ته د الهي عذابه داسې یو قوم وډار کړې کوم ته چې هیڅ پیغمبر نه دی ورغلی (نو دوی پېړۍ په پېړۍ په غفلت کښې پراته دي).

## څو پوښتنې او جوابونه

۴ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:
الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ﴾ [فاطر:۲۴] یعنې هیڅ امت نه دی

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۴؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۸٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تېر شوی مګر ډاروونکی پکښې تېر شوی دی (د ډاروونکي څخه نه دی خالي شوی).
نو پوښتنه دا ده چې: ایا د غوره تحلیل په بنیاد هغه ایت د دغه ایت سره څه تضاد نه لري؟

مونږ وايو چې: دغه اعتراض د [القصص:۴۶] ایت لاندې جواب شوی دی، چې د مطلق داعي إلى الخير څخه هېڅ امت نه دی خالي شوی او په خپله د پیغمبر په نسبت دغه کار کله-کله شوی دی.

ب: د مکې مشرکانو پلرونو ته خو پیغمبر (اسماعيل ﷺ) ورغلی وه، نو ایا صحت لري چې په ﴿ مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ ﴾ کښې د "مَا" توری د نفي دپاره واخستلی شي؟

مونږ وايو چې: دلته د ﴿ ءَابَآؤُهُمۡ ﴾ څخه نژدې پلرونه مطلب دي[۱] او اسماعیل ﷺ خو د مکیانو ډېرو پخوانیو پلرونو ته استولی شوی وه.

ج: د نبي کریم ﷺ إنذار خو ټول بشریت ته شامل دی، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ﴾ [الأعراف:۱۵۸] یعني ای پیغمبره! ووایه چې: ای خلکو! یقیناً زه تاسو ټولو ته د الله ﷻ استولی شوی پیغمبر یم.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په ملحوظ په ایت شریف کښې یوازې د مکیانو إنذار ته تخصیص ورکړی شو؟

مونږ وايو چې: د مکیانو ذکر ته د تخصیص د کبله صورت نه دی ورکړی شوی بلکې د دې کبله یې صورت نیولی دی چې د ایتونو د نزول په وخت کښې د همدوی سره مخاطبه او محاوره روانه وه[۲].

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ﴿ لَقَدۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ ﴾ کښې د ﴿ ٱلۡقَوۡلُ ﴾ کلمه د څه شي څخه عبارت ده، چې د کفارو په اکثریت باندې فیصله شوې ده؟

مونږ وايو چې: دغه کلمه په بل ایت کښې د دوزخ په ډکولو باندې تفسیره شوې ده چې: ﴿ وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴾ [السجدة:۱۳] یعني مګر زما د پلوه دا خبره تثبیت (فیصله) شوې ده چې هرومرو (او ضرور) به زه د پیریانو او بنیادمانو (د مجرمانو) څخه دوزخ ډکوم د ټولو څخه.

## څو نکات

۶ـ په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۱۵۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د "أغلال" کلمه د "غُلّ" جمعه ده، "غُلّ" هغه شي ته ویل کېږي په کوم باندې چې لاسونه د غاړې سره تړلي کېږي، کوم

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۴؛ روح المعاني ج۲۲ ص۲۱۳
(۲) تفسير المراغي ج۲۲ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه چې په پښتو کښې 'غوراب' وايي.

ب: په ﴿فَهِيَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ﴾ کښې د 'هِيَ' ضمير يا هغو لاسونو ته راجع دی کوم چې د 'أغلال' په مفهوم کښې په ضمني توګه ذکر دي[۱]، او يا پخپله همدغې د 'أغلال' کلمې ته راجع دی[۲] په دغو دواړو صورتونو کښې په اصلي مطلب باندې چندان اثر نه پرېوځي.

ج: د ﴿مُقْمَحُونَ﴾ کلمه د 'إقماح' _لکه 'إكرام'_ څخه اشتقاقه شوې ده، 'إقماح' دېته وايي چې د چا سر ښخ کړی شي او سترګې يې پټې کړی شي[۳]، چې نه ښکته خمکې ته سر ټيټولی شي او نه څه شي ته کتلی شي.

د: که څه هم په ايت شريف کښې فقط په وړاندې ببرته (دوه وو) ديوالونو باندې صراحت شوی دی، خو مطلب پکښې محض تمثيل دی او د څلورو خواوو څلور ديوالونه مراد دي[۴]، ان شاء الله ﷻ. لکه چې د ﴿فَأَغْشَيْنَٰهُمْ﴾ څخه اشارةً معلومېږي.

هـ: په ﴿فَأَغْشَيْنَٰهُمْ﴾ کښې د 'أغْشَيْنَا' کلمه د 'غِشَاوَة' _لکه 'نِدَامَة'_ څخه اشتقاقه شوې ده، 'غِشَاوَة' هغه شي ته ويل کېږي په کوم باندې چې بل شی پټېږي[۵] لکه چې په سترګو باندې پردې ورخورې شي.

نو د ذکرو شوو نکاتو په نظر کښې نيولو سره د دواړو ايتونو مطلب داسې راخېژي چې: د کفارو په اکثريت باندې څکه د تعذيب خبره ثابته ده چې د ايمان راوړلو استعداد يې ختم شوی دی، د دوی مثال د هغو کسانو غوندې دی د کومو چې لاسونه د غاړو او زنو پورې ولچک او کلک غوراب وي، او د همدغو ولچکونو او غورابونو په سبب يې سترګې پټې او سرونه يې ښخ ګرخولی شوي وي چې ښکته نه شي کتلی ترڅو لوړې او ژورې وګورې او خپل خان ترې په څنګ کړي.

په دې باندې علاوه د کفارو اکثريت هغو کسانو ته ورته دی په کومو باندې چې د څلورو خواوو څخه لوړو ديوالونو احاطه کړې وي، او هم يې په سترګو باندې پردې ورخورې شوې وي چې وړاندې ببرته هيڅ شی نه ګوري.

لنډه دا چې د کفارو اکثريت نه د أنفسي دلايلو څخه کار اخلي او نه أفاقي دلايلو ته پام کوي چې په سمه لاره برابر شي، نو د همدې کبله ورته انذار او عدم انذار يو برابر دي.

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: د ذکرو شوو ايتونو په هکله څينو مفسرينو کړامو[۶] دېرې قيصې ليکلي

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۲ ص۱۵۰

(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۱۷۱

(۳) لسان العرب ج۲ ص۵۶۶

(۴) روح المعاني ج۲۲ ص۲۱۵

(۵) مفردات الراغب ص۳۷۳

(۶) تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۶۴؛ تفسير البغوي ج۴ ص۶؛ الدر المنثور ج۷ ص۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې يوه ورځې آبو جهل غوښتل چې په نبي کريم ﷺ باندې د ډبرې مرګاني حمله وکړي، خو د هغه لاسونه د غاړې سره ولچک وګرځولی شوه، او په سترګو باندې ړوند وګرځولی شو، چې د نبي کريم ﷺ د قرائت اواز يې اورېده خو په سترګو باندې يې نه شو ليدلی.

همدارنګه همدغسې يوه ناکاره اراده بل کافر هم کړې وه چې الله ﷻ يې دسيسه شنډه کړه او په سترګو باندې يې ړوند وګرځاوه.

نو پوښتنه دا ده چې: تاسو ولې ذکر شوي دواړه ايتونه داستعارې په توګه په تمثيلي معناوو باندې تفسير کړه او د شان نزول په حکايت شوو قيصو باندې مو تفسير نه کړه چې د ايتونو حقيقي معناوې پکښې منعکسې شوې دي؟

مونږ وايو چې: کوم ډول تفسير چې مونږ ته غوره برېښېدلی دی همغه د سياق او سباق (وړاندې او ېرته ايتونو) غوښتنه ده. يا په بل عبارت: د ذکر شوو ايتونو څخه وړاندې ايت ﴿ لَقَدْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ ﴾ الآية- او د همدې دواړو څخه وروسته راتلونکی ايت ﴿ وَسَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ﴾ الآية- په هر يوه کښې تمثيلي معناوې منعکسې شوې دي، نو په کار دي چې په دغو دواړو کښې هم تمثيلي معناوې اراده کړې شي.

په دې باندې علاوه، همدغه تمثيلي معنی په [البقرة: ٦_ ٧] ايتونو کښې په صراحت سره نازله شوې ده، ته به وايې چې هغه ايتونه د دې ايتونه تفسير واقع شوي دي.

هو! د دواړو معناوو اراده کول هم څه منافات نه لري چې تمثيلي معنی په عبارة النص او حقيقي معنی په إشارة النص سره مراده کړی شي.

## يادونه

۸_ د ﴿ وَسَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴾ ايت ته ورته ايت وړاندې په [البقرة: ٦] ايت کښې تېر شوی دی، هيله ده چې د دې ايت په مطلب باندې د ښه پوهېدلو دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

## سوال جواب

۹_ که څوک وايي چې: تاسو د دې سورت (يس) په سريزه کښې ليکلي دي چې دا سورت مکي دی او ټول ايتونه يې د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي، حال دا چې د ځينو روايتونو څخه څرګندېږي چې د ﴿ إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ ﴾ الآية، په مدينه منوره کښې نازل شوی دی هغه دا چې:

د بني سلمه وو قبيلې کورونه د مدينې منورې په يوه څنډه کښې واقع وه او د نبوي جومات څخه لرې پراته وه، نو هغوی قصد وکړ چې خپل کورونه ورته رانژدې جوړ کړي، نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو، نو بيا نبی کريم ﷺ هغوی مخاطب کړه چې «إِنَّ آثَارَكُمْ تُكْتَبُ فَلَا تَنْتَقِلُوا»[1] يعني يقيناً

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو اثار او قدمونه لیکلی کېږي نو جومات ته نژدې خپل کورونه مه را انتقالوئ.

مونږ وايو چې: سلفو صالحينو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[1]، نو دلته د شان نزول څخه مصداق مطلب دی، او د "نزلت" څخه "قرات" مراد دی، یعنې: نبي کريم ﷺ ورته ذکر شوی ایت قرائت کړ.

## يادونه

۱۰ـ په ﴿ فِي إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴾ کښې د "إمَام مُبِين" لقب ازلي کتاب ته ورکړی شوی دی کوم چې په لوح محفوظ سره شهرت لري او پوره بیان یې د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۵۹] او [الرعد:۳۹] ایتونو لاندې تېر شوی دی، چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا أَصۡحَٰبَ ٱلۡقَرۡيَةِ إِذۡ جَآءَهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿١٣﴾ إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ ﴿١٤﴾ قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ ﴿١٥﴾ قَالُواْ رَبُّنَا يَعۡلَمُ إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ لَمُرۡسَلُونَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّا تَطَيَّرۡنَا بِكُمۡۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهُواْ لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٨﴾ قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡ أَئِن ذُكِّرۡتُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُواْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢٠﴾ ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢١﴾ ﴾

[۱۳] او (ای پیغمبره! د خپل أمت کفارو ته) د یوه ښار ملګري (اوسېدونکي) مثال وګرځوه (او ورته بیان یې کړه چې عبرت تري واخلي). هغه وخت (ورته یاد کړه چې) دوی ته لېږلی شوي (پیغمبران) ورغله.

[۱۴] کله چې مونږ دغو ښاریانو ته دوه پیغمبران ورواستول نو دوی تولو ورته د دروغو نسبت وکړ (چې تاسو رښتیاني پیغمبران نه یاست). نو مونږ (هغوی دواړه) په دریم (پیغمبر) سره تقویه کړه (چې د هغوی دواړو په تعقیب مو ورواستاوه).

نو درېواړو (ورته په یوه خوله) وویلې چې: یقینًا مونږ تاسو ته استولی شوي یاستو (د خپله خانه نه یاستو راغلي).

[۱۵] ښاریانو (بیا د هغوی دعوت رد کړه او) ويې ويلې چې: تاسو نه یاست مګر زمونږ غوندې

[1] تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

بنیادمان یاست. او د هر مهربان الله ﷻ هیڅ شی (هیڅ شریعت) نه دی نازل کړی (که بالفرض نازل کړی یې وی نو ضرور به یې د مهربانی د مخې د پرښتو په لاس رالیږلی وی)

(نو په همدې بنیاد) تاسو نه یاست مګر دروغ وایاست (چې مونږ پیغمبران یاستو).

[۱۶] (بیا) پیغمبرانو وویلې چې: زمونږ رب ﷻ پوهیږي چې یقیناً مونږ خاص ستاسو دپاره رالیږلي شوي یاستو (که بالفرض مونږ په خپل رب ﷻ دروغ تړلي وی نو زمونږ تائید به یې نه وی کړی).

[۱۷] او (په همدې بنیاد) په مونږ باندې نشته مګر څرګنده رسونه (چې لله ﷻ الحمد مونږ په ښه صورت سره ادا، کړه نور نو تاسو پوهیږئ او کار مو).

[۱۸] ښاریانو (د دریم ځل دپاره) وویلې چې: یقیناً مونږ په تاسو باندې بد فال نیسو (چې ستاسو په راتګ سره راباندې باران بند شو).

بې شکه که تاسو (د خپل دعوت څخه) منعه نه شئ نو هرومرو ضرور به مونږ تاسو رجم کړو (د ډبرو لاندې به مو ووژنو) او خامخا ضرور به تاسو ته زمونږ د پلوه دردناک عذاب ورسیږي

[۱۹] پیغمبرانو وویلې چې: ستاسو بدفالي همدا ستاسو سره ده (چې کفري عقیده مو خپله کړې ده، په مونږ باندې بد فال مه نیسئ!).

(عجیبه ده) ایا کله چې تاسو ته پند درکړی شي (نو تاسوورباندې بد فال نیسئ او سپېره یې ګڼئ؟)؛ داغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ) بلکې تاسو (په کفر کښې هم) د حد څخه تجاوز کوونکی قوم یاست (چې خپل ناصحان تهدیدوئ)

[۲۰] او (ای پیغمبره! په دغه وخت کښې) د ښار د لرې څنډې څخه یو سړی په داسې حال کښې راغی چې منډې یې وهلې (څغاستل یې او) وې ویلې چې: ای زما قومه! د لیږلو شوو پیروي وکړئ (او نافرماني یې مه کوئ)

[۲۱] (ای زما قومه!) د هغو کسانو پیروي وکړئ چې ستاسو څخه (په دعوت باندې) أجرت (او مزدوري) نه غواړي. حال دا چې دوی (سمه) لاره موندونکي دي

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د عنادي کفارو عناد ته اشاره شوې ده چې د څرګندو دلایلو څخه وده کوي او حق دین ته غاړه نه ږدي

په دې ایتونو کښې د یوه عنادي کافر قوم قصه نازله شوې ده چې په عاقبت کښې ټول پوپنا شوه او بنیاد یې وحوت ترخو ترې د دې زماني عنادیان عبرت واخلي او د توحید عقیده خپله کړي

۲ـ د هغو ایتونو مضمون په دې تمام شوی وه چې د قیامت په ورځ به هرڅوک د خپلو کړو وړو د جزا سزا سره مخامخ شي

دلته دې ته اشاره شوې ده چې په آخرت باندې علاوه په دنیا کښې هم کله-کله عنادي کفر د سزا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سبب جوړېږي لکه چې یوه ښار ته د همدغه خپل کفر څخه مصیبت جوړ شوی وه او د ټولو بنیاد یې ویستلی وه. نو حاصل یې داسې راځېږي.

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د خپلې زمانې عنادي کفارو ته د پخوانیو هلاکو شوو ښارونو څخه د یوه ښار اوسېدونکي مثال وګرځوه، کوم چې د همدوی غوندې د الهي دعوت په وړاندې په کفري عقیده کلک شوه او په پای کښې د څرمې په بنیاد ویستونکي عذاب سره هلاک کړی شوه.

دا د دې دپاره چې عبرت ترې واخلي او په پای کښې یې د هغوی په مېنه شپه نه شي، نو هغه وخت ورته یاد کړه کله چې هغوی ته پیغمبران ورغله او د کفري عقیدې څخه یې د توحید عقیدې ته وردعوت کړه. یا په بل عبارت: هغه وخت ورته یاد کړه چې لاندې کیفیت پکښې پېښ شو:

الف: مونږ د دغه ښار اوسېدونکو ته د توحیدي عقیدې ددعوت دپاره دوه تنه پیغمبران ورولېږل چې د ورتللو سره سم یې په دعوت پیل وکړ خو ذکر شوي ښاریان په خپله کفري عقیده کلک شوه او دواړو پیغمبرانو ته یې د دروغو نسبت وکړ چې تاسو دروغژنان یاست.

ب: بیا مونږ د ذکرو شوو دواړو پیغمبرانو په تعقیب یو بل پیغمبر ﷺ هم ورواستاوه ترڅو په دعوت کښې د هغوی دواړو ملاتړ وکړي او ټول په یوه خوله کفري عقیده رده کړي.

ج: نو د همدې کبله درېواړو ذکر شوي ښاریان مخاطب کړه چې: یقیناً مونږ درېواړه پیغمبران یاستو او ستاسو د دعوت دپاره را استولی شوي یاستو ترڅو تاسو په دنیا او آخرت کښې د الهي عذاب څخه بچ پاتې شئ.

د: خو دغو ښاریانو د پیغمبرانو دعوت رد کړ چې تاسو زمونږ غوندې بنیادمان یاست، مونږ هیڅکله په تاسو باندې د نبوت عقیده نه شو خپلولی.

هـ: زمونږ عقیده دا ده چې ډېر مهربان الله ﷻ نه هیڅ پیغمبر رالېږلی دی او نه یې څه شریعت رانازل کړی دی، که بالفرض دا کار یې کړی وی نو د خپلې مهربانۍ د مخې به یې یوه پرښته یا څو پرښتې د شریعت سره رالېږلې وی، د الله سره خو پرښتې څه کمې نه دي.

و: لنډه دا چې تاسو درېواړه نه یاست مګر داسې خلک یاست چې دروغ وایاست او په دروغو سره مو خپل خانونه پیغمبران تراشلي دي.

ز: ذکرو شوو درېواړو پیغمبرانو په یوه اواز سره وویلې چې: زمونږ رب ﷻ پوهېږي او شاهدي وایي چې یقیناً مونږ بل چا ته نه بلکې خاص تاسو ته هرومرو د همده ﷻ د پلوه رالېږلي شوي کسان یاستو. که بالفرض مونږ په خپل رب ﷻ پورې دروغ تړلي وی نو ضرور به یې مونږ شرمولي وی، دروغجن پیغمبر الله ﷻ بې شرمولو نه پرېږدي.

ح: تاسو ته په کار دي چې زمونږ دعوت قبول کړئ او په لوی لاس خپل خانونه د الهي غضب سره مخامخ نه کړئ.

Scanned by CamScanner

که تاسو زمونږ دعوت قبول نه کړئ نو ضرور یې همدا تاسو ته متوجه دی او په مونږ باندې خو د ځرګند پیغام د رسوني څخه په غیر بل شی نشته، چې لله ﷻ الحمد والشکر مونږ خپله فریضه په ربښتیانیو معناوو کښې ترسره کړه

ط. کله چې ښاریانو د استدلال په دوره کښې ماتې وخوړه او د هغوی د دعوت د رد دپاره یې څ حجت وړاندې نه کړی شو، نو دوی ټولو وویلې چې

یقیناً مونږ په تاسو باندې بد فال نیسو. دلته ستاسو راتګ مونږ پورې سپېره شو چې بارانونه راباندې بند شوه او په اختلاف او جګړو باندې اخته شوو

ي. که تاسو د خپل دعوت څخه لاس وانخلئ او خپلې کړنلارې ته تغیر ورنه کړئ نو هرومرو ضرور به مو سنګسار کړو او د ډېرو باران به درباندې جوړ کړو

او هرومرو ضرور به زمونږ د پلوه تاسو ته دردناک عذاب ورسېږي. نو لږ په خپلو ځانونو باندې رحم وکړئ او مونږ د ذکر شوي عمل اجراء کولو ته مه مجبوروئ

یا. پیغمبرانو د هغوی په تهدید باندې هیڅ پروا ونه کړه او په جواب کښې یې ورته وویلې چې

ای ښاریانو! په تاسو باندې د بدې ورځې د رنګ زمونږ د کبله نه دی بلکې د دې سبب ستاسو د خپله لاسه دی، تاسو د کفر څخه لاس واخلئ چې الله ﷻ درباندې بارانونه ووروي او جنګ او جګړې مو ختمه کړي

یب: عجیبه ده چې ایا تاسو ته کله پند درکړی شي او د کفریاتو څخه د اجتناب دپاره دعوت کړی شئ، نو تاسو په خپلو ناصحانو او خپلو داعیانو باندې بد فال نیسئ او د سپېرو لقب ورکوئ؟

یج. لنډه دا چې خبره دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ بلکې تاسو د شریعت د چوکاټ څخه تجاوز کوونکی قوم یاست، او همدغه مو د بدې ورځې سبب ګرځېدلی دی، خو تاسو وریاندې خپل ځانونه ګول اچولي دي

ید: په پای کښې ذکرو شوو کافرو ښاریانو په کلکه اراده وکړه چې خپله د سنګسارولو نقشه په پیغمبرانو باندې عملي کړي

۲ـ ای پیغمبره! د ښاریانو په سوء قصد باندې یو صالح سړی خبر شو نو د ښار د یوې لرې څنډې څخه په ډېره خغاسته ورغی او په لاندې مطالبو باندې یې هغوی مخاطب وګرځول چې

الف. ای زما قومه! تاسو د هغو کسانو د وژلو پلان مه ترتیبوئ بلکې پیروي یې وکړئ کوم چې تاسو ته ستاسو د خیر دپاره درلېږلی شوی دی.

ب: یا په بل عبارت تاسو د هغو کسانو پیروي وکړئ کوم چې ستاسو څخه په دعوت باندې په هیڅ ډول مزدوري نه غواړي او نه درته څه تمه او امید لري

ج: حال دا چې همدغه کسان لاره موندونکي دي او د الله ﷻ د پلوه یې روزمره تائید کېږي

دا کسان څوک دي؟ دا کسان همدغه پیغمبران دي چې تاسو یې د وژلو نیت کړی دی او هغوی مو خیر غواړي. او اراده لري چې تاسو ژوندي پاتې شئ:

Scanned by CamScanner

## توضيحات

١ـ په ﴿ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا أَصْحَـٰبَ ٱلْقَرْيَةِ ﴾ كښې د "اضْرِبْ" كلمه د "اجْعَلْ" معنى ته متضمنه ده، چې دوه مفعوله غواړي، نو دلته يې دوهم مفعول ﴿ مَّثَلًا ﴾ دی، او لومړنی مفعول يې ﴿ أَصْحَـٰبَ ٱلْقَرْيَةِ ﴾ دی[1].

يعنې: ای پيغمبره! د خپلې زمانې كفارو ته د يوه ښار اوسېدونكي (اصلي اوسېدونكي) مثال وركړه او هغه حالات يې ورباندې قرائت كړه كوم چې هغوی د خپلو پيغمبرانو په مقابل كښې خپل كړي وه، ترڅو ترې عبرت واخلي او په ايمان باندې مشرف شي.

## پوښتنې او جوابونه

٢ـ په دې مقام كښې مفسرينو كرامو لاندې پوښتنې مطرحې كړې دي:

الف: ذكره شوې قيصه په كوم ښار كښې واقع شوې وه؟

مونږ وايو چې: د دغه ښار نوم "اِنْطَاكيه" ښودلی شوی دی[2]، چې په شاماتو كښې پروت دی. خو ځينې مفسرين كرام دغه خبره نه مني[3]، دوی وايي چې ذكره شوې قيصه په بل كوم ښار كښې پېښه شوې ده.

مونږ ته بهتره بريښي چې دښار د نامه څخه ساكت شو لكه څنګه چې ترې قرآن كريم ساكت دی، د نامه په تعين كښې يې څه خاصه ګټه نشته، كه بالفرض څه ګټه پكښې وی نو الله ﷻ به ورباندې صراحت كړی وی.

ب: ايا دغه درېواړه كسان الله ﷻ مستقيمًا استولي وه او كه دوی د عيسى ؑ دپلوه موظف كړخولي شوي وه، او د ده ؑ نائبان وه؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو كرامو دوهم قول ته ترجيح وركړې ده، چې دوی درېواړه د عيسى ؑ د پلوه هلته استولي شوي وه، خو د ترجيح دپاره يې هيڅ دليل نه دی تېر كړی، او په همدې ارتباط يې ښه اوږده او مفصله قيصه ليكلې ده[4].

نو بهتره دا ده چې ذكر شوي درېواړه كسان د الله ﷻ په مستقيمه توګه پيغمبران وګڼلی شي، همدا قول د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوی دی[5]، او په دې باندې لاندې قرآني دلايل هم دلالت كوي:

اول: د همدې سورت (يس) په دريم ايت كښې د ﴿ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴾ كلمه د هغو كسانو څخه عبارت ده

---

(١) روح المعاني ج٢٢ ص٢٢٠
(٢) تفسير القاسمي ج١٤ ص٦٧
(٣) تفسير ابن كثير ج٣ ص٥٦٩
(٤) تفسير الخازن ج٥ ص١٩٨، تفسير البغوي ج٤ ص٧، تفسير الكشاف ج٤ ص٨
(٥) زاد المسير ج٦ ص٢٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوم چې الله ﷻ مستقیماً استولي وه، نو ظاهره دا ده چې په دغو ایتونو کښې به هم د ﴿ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴾، ﴿ مُرْسَلُونَ ﴾، ﴿ لَمُرْسَلُونَ ﴾، ﴿ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ څلور واړه کلمې د همدوی څخه عبارت وي.

دوهم: که څه هم امکان لري چې الله ﷻ د عیسی ﷺ استول په ﴿ أَرْسَلْنَآ ﴾ کښې خپل اقدس خان ته نسبت کړي وي، خو متبادره دا ده چې دا کار به الله ﷻ پخپله مستقیماً انجام کړی وي.

دریم: د ښاریانو جواب چې: ﴿ مَآ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ﴾ هم په هغه صورت کښې ښه تناسب مومي چې ذکر شوي درېواړه کسان مستقیماً د الله ﷻ د پلوه وراستولي شوي وي، چې همدغه جواب په نورو ایتونو کښې د کفارو د پلوه همدغسې پیغمبرانو ته ویل شوی دی.

څلورم. په مثال کښې خو د درېواړو رسولانو د نبي کریم ﷺ سره تشبیه ورکول مطلب دي او پوره واضحه ده چې دا مطلب په هغه وخت کښې په ډېره ښه توګه ترلاسه کېږي چې هغوی هم د نبي کریم ﷺ غوندې مستقیماً د الله ﷻ د پلوه استولی شوی وي، نه د عیسی ﷺ د پلوه.

ج: دغو درېواړو پیغمبرانو څه نومونه درلوده؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د دوی نومونو ته اشاره کړې ده لکه "صادق، صَدوق، یوحنا" او داسې نور[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې نومونه یې داسې پټ پرېږدو لکه چې قرآن کریم پټ پرېښي دي، چې په تعین کښې یې څه خاصه ګټه نشته.

## دغو ښاریانو د نبوت څخه انکار کاوه

۳ـ الله ﷻ د ښاریانو د خولو څخه د پیغمبرانو په تکذیب کښې د ﴿ وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحْمَٰنُ مِن شَىْءٍ ﴾ کلمات راحکایت کړي دي، نو ظاهره دا ده چې دوی په الله ﷻ باندې معتقد وه، خو د نبوت څخه انکاري وه، چې پیغمبر باید بنیادم نه وي بلکې پرښته وي.

## یو نحوي تحلیل

۴ـ د ﴿ أَئِن ذُكِّرْتُم ﴾ جمله، شرطیه استفهامیه جمله ده، چې جواب یا جزا یې مقدره ده، او وړاندېنی کلام ﴿ إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ﴾ ورباندې دلالت کوي[۲]، ته به وایې چې داسې نازل شوی دی چې: "أئِنْ ذُكِّرْتُمْ تَطَيَّرْتُمْ وَهَدَدتُمْ بالرَّجْمِ وَالتَّعْذِيبِ" یعنې ایا کله چې تاسو ته پند درکړی شي نو تاسو ورباندې بدفالي نیسئ او سپېره یې ګڼئ، او هم یې په رجم او تعذیب سره تهدید کوئ؟ حال دا چې پند ورکول سپېره نه دي بلکې ستاسو کفر او باطله عقیده سپېره ده چې په دنیا او آخرت کښې مو د هلاکت سبب جوړېږي.

## درې تنه تاریخي سړي

۵ـ د قرآن کریم په ډېرو ځایونو کښې د ډېرو سړیو ذکر نازل شوی دی چې درېواړو درې

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۱۴
(۲) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۱۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پورته وينې (۲۲) او هر يو ته "رَجُل" يعنې سړي په نامه ياد شوی دی. يا په بل عبارت: په هر تاريخي کارونه کړي دي، او د اسلامي ورورولۍ احساس يې ډېر پياوړی وه، په کار دي چې د قيامت پورې کښې سرېتوب وه او کرښلاره يې خپله کړی شي، هغه دا دي:
تر ورځې پورې ترې عبرت واخستل شي او کرښلاره يې خپله کړی شي، هغه دا دي:

الف: د يوه سړي ذکر په [القصص: ۲۰] ايت کښې تېر شوی دی، چې هملته يې څه لنډه سوانح هم ليکلې شوې ده، والحمد لله ﷻ. دغه سړي موسى ﷺ ته د وژلو څخه نجات ورکړ، البته کله چې د فرعون کابينې د ده ﷺ د وژلو فيصله وکړه، دغه کار د موسى ﷺ د نبوت څخه وړاندې صورت نيولی وه.

ب: بل سړی د اکثرو مفسرينو کرامو په قول[1] "حبيب" نومېده، او د نجارۍ کسب يې درلود. نوموړي ته په همدې ايتونو کښې اشاره شوې ده چې بحث پکښې روان دی. نوموړي د درېواړو پيغمبرانو کومک ته په هغه وخت کښې ورودانګل کله چې کافرو ښاريانو د هغوی د وژلو او سنګسارولو تصميم ونيوه، ترڅو په نصيحت سره کفري تصميم بدل کړي، او د ايمان راوړلو زمينه يې برابره کړي.

ج: د درېيم سړي ذکر په [غافر:۲۸] ايت کښې راروان دي، چې د ځينو مفسرينو کرامو په قول "حزبيل" نومېده[2]. نوموړي په هغه وخت کښې د موسى ﷺ د نجات دپاره فرعونيانو ته نصيحت شروع کړ کله چې فرعون د موسى ﷺ د وژلو درکه وکړه، البته دا په هغه وخت کښې کله چې موسى ﷺ د هغه په وړاندې د يو پيغمبر په حيث په دعوت پيل کړی وه او غوښتل يې چې د کفري عقيدې مخه يې ونيسي او توحيدي عقيده يې په بدله کړي.

د دوه ويشتمې سپارې پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق او کومک ختم شو.
د الله ﷻ څخه لا زياته مرسته غواړو.
اللّٰهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضَى.
۱۴۲۲/۳/۱۳ هـ ق - ۱۳۸۰/۱۵ هـ ش.

---

[1] تفسير ابن کثير ج۳ ص۵۶۸
[2] تفسير البغوي ج۴ ص۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ
ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾
إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ﴿٢٥﴾ قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾
بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ﴿٢٧﴾ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ
مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ ﴿٢٩﴾
يَٰحَسۡرَةً عَلَى ٱلۡعِبَادِۚ مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٠﴾﴾

[۲۲] او ماته څه وجه ده (بلکې نشته) چې زه د هغه اقدس ذات عبادت ونه کړم چې زه يې د نشت څخه پيدا کړی دی يم (او بيا به همده ﷻ ته رجوع کوم)، او (همدارنګه تاسو ته څه وجه ده بلکې هيڅ وجه نشته چې د هغه اقدس ذات عبادت نه کوئ چې تاسو يې د نشت څخه پيدا کړي ياست او بيا) به همده ﷻ ته (د قيامت په ورځ) ورو ګرځولی شئ؛

[۲۳] (ای زما قومه!) ايا زه د الله ﷻ څخه په غير داسې معبودان ونيسم، که چرته د هر مهربان الله ﷻ ماته د ضرر رسولو اراده وکړي نو د دوی شفاعت به زما څخه د هيڅ شي مخنيوی ونه کړی شي، او نه به مې (ترې په زور) خلاص کړی شي؟

[۲۴] يقينًا زه به په دغه وخت کښې په څرګنده ګمراهۍ کښې (لوېدلی) يم.

[۲۵] (ای زما قومه!) يقينًا ما (په خپل او) ستاسو په رب ﷻ ايمان راوړی دی (او رسولان مې منلي دي) نو تاسو زما څخه (دغه اعلان) واورئ.

[۲۶] (نوموړی د قوم د پلوه شهيد کړی شو او د شهادت څخه وروسته ورته د الله ﷻ د پلوه) وويلی شو چې جنت ته (روحًا) داخل شه (او د نعمتونو څخه يې استفاده کوه).

(نوموړي) شهيد عليه الرحمة وويلې چې: ای کاش! چې زما قوم په هغه شي پوه شي.

[۲۷] د کوم په سبب چې ما ته خپل رب ﷻ مغفرت وکړ او (د کوم په سبب يې چې) زه د عزت ورکړی شوي ډلې څخه وګرځولم.

[۲۸] او مونږ د ده (نوموړي شهيد عليه الرحمة) په قوم باندې د ده عليه الرحمة (د شهادت) څخه وروسته (د هلاکولو دپاره) له اسمانه کوم لښکر نازل نه کړه (او نه ورته اړتيا وه)، او مونږ (د دغسې بنياد ويستلو دپاره د لښکرو) رالښکته کوونکي نه ياستو.

[۲۹] (د دغه قوم) هلاکت نه وه مګر (فقط د جبرائيل امين) يوه کړيکه وه نو دوی ټول ناڅاپه يخ پخ پراته وه (ټول هلاک شوه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(۳۰) په هلاکو شوو بندګانو باندې ای لویه حسرته! چې دوی ته هیڅ پیغمبر نه دی ورغلی مګر دوی به وه چې مسخرې به یې ورباندې کولې (او په نتیجه کښې به هلاک کړی شوه).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د ایماندار سړي د نصائحو پاتې برخې ته پکښې اشاره شوې ده، او هم د کفارو بناریانو په عاقبت او انجام باندې رڼا اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راخېژي:

ای پیغمبره! هغه سړي کوم چې د پیغمبرانو د نجات دپاره وروځغاستل، خپلو نصائحو ته ادامه ورکړه او خپل قوم یې مخاطب کړه چې:

۱ـ ای زما قومه! زه تاسو هغې عقیدې خپلولو ته رابولم کومه چې ما د خپل ځان دپاره غوره کړې ده، هغه دا چې:

الف: زه خاص د الله ﷻ عبادت کوم نو تاسو هم خاص د همده ﷻ عبادت وکړئ او د پیغمبرانو دعوت یې قبول کړئ. او دا ځکه چې:

ب: ما لره څه دي (زه څه دلیل لرم) چې خاص د هغه الله ﷻ عبادت ونه کړم کوم چې زه یې د نشت څخه پیدا کړی یم او د موجودیت نعمت یې راپېرزو کړی دی، او په دې باندې علاوه خاص همده ﷻ ته به د قیامت په ورځ (د مرګ څخه وروسته) رجوع کوم او په حضور کښې به یې درېږم. نو په همدې بنیاد تاسو څه دلیل لرئ چې د همدغه اقدس ذات عبادت نه کوئ چې هم یې د موجودیت نعمت درکړی دی او هم به د قیامت په ورځ د ده ﷻ په حضور کښې درېږئ.

ج: ای زما قومه! عجیبه ده، ایا زه د همدغه اقدس ذات څخه په غیر نور داسې معبودان ونیسم او په عبادت سره یې تعظیم وکړم. کوم چې: عبادت یې ماته هیڅ ګټه نه شي رسولی البته په هغه وخت کښې چې که د ډېر مهربان الله ﷻ ماته د څه مشقت د رسولو اراده وکړي.

یا په بل عبارت: ایا زه د هغو بوتانو عبادت وکړم چې نه د هغوی شفاعت په درد خوري او نه د الله ﷻ د ارادې څخه نجات او خلاصون رابښلی شي؟. نو تاسو ته هم په کار دي چې د دغسې بې وسې معبودانو د عبادت څخه لاس واخلئ او د توحید عقیده خپله کړئ.

د: نو په همدې بنیاد که بالفرض زه دغه غیر مشروع او غیر معقول عبادت وکړم نو په دغه وخت کښې به زه هرو مرو په ښکاره ګمراهۍ کښې واقع یم. نو که تاسو همدغه نامشروع او نامعقول عبادت ته ادامه ورکړئ نو تاسو به هم په ښکاره ګمراهۍ کښې پراته یاست.

هـ: څرنګه چې توحیدي عقیده په دلایلو او براهینو ولاړه ده او کفري او شرکي عقیده بې بنیاده ده، نو تاسو ټول خبر اوسئ چې ما په خپل رب ﷻ ایمان راوړی دی او د پیغمبرانو دعوت مې قبول کړی دی، دغه رب ﷻ لکه څنګه چې زما رب دی ستاسو رب هم دی.

زه په ډاګه اعلانوم، تاسو یې ښه په دقت سره واورئ چې زه باایمانه یم او د کفري او شرکي عقیدې څخه بېزار یم، تاسو ته په کار دي چې ما پسې اقتداء وکړئ او توحیدي عقیده خپله کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ای پیغمبره! د ذکر شوي اعلان څخه وروسته کفارو ښارڼانو په اتفاق سره نوموړی شهید کړ او خپله غُصه یې وربانديې سړه کړه. د همدغه شهادت د کبله نوموړي ته وویلی شوه چې: سمدستي جنت ته داخل شه، چې په امتحان کښې اوله نمره کامیاب شوې.

۳_ د نوموړي شهید سره په جنت کښې هم د خپلو قاتلانو کفارو د هدایت غم وه نو د همدې کبله یې هلته وویلې چې:

ای کاش! چې زما قوم زما په هکله په دې پوه شوی وی:

الف: چې ماته خپل رب ﷻ ټول ګناهونه راوبښل او د ټولو څخه راتېر شو.

ب: چې زه خپل رب ﷻ د عزتمند او باکرامته ټولګي څخه وګرځولم.

ای کاش! چې دوی پوه شوي وی ګوندې په ایمان باندې مشرف شوي وی، او د ابدي دوزخ څخه یې نجات موندلی وی.

۴_ مونږ د نوموړي شهید د شهادت څخه وروسته ذکر شوي کفار ښاریان د څرمې هلاک کړه او بنیاد مو ورووېست چې یو نفر یې هم ژوندی پاتې نه شو.

د هغوی هلاکولو د کوم لښکر په سلسله صورت ونه نیوه چې د اسمانه مو د پرښتو کوم غټ ټولګی وراستولی وی، او نه مونږ دا کار کوو (نه ورته اړتیا شته).

د هغوی هلاکول او پوپنا کول بل شی نه وه فقط یوه تېزه کړېکه وه چې د یوې پرښتې (جبرائیل امین ؑ) د پلوه یې صورت ونیوه، نو د همدغې یوې کړېکې سره ټول ښاریان کفار یخ پخ په ځمکه باندې ورولوېده او مړه شوه.

۵_ ای لویه حسرته او افسوسه! په عنادي هلاکو شوو کفارو باندې وربښکته شه، چې ته د دوی د حال سره ډېر ښه تناسب لرې او دا ځکه چې:

دوی ته هیڅ پیغمبر او ناصح نه دی ورغلی مګر دوی به وربانديې مسخرې کولې او ملنډې به یې وربانديې وهلې، حتی لا په وژلو او سنګسارولو باندې به یې تهدیدونه ورکول، او یا به یې وربانديې عملي کول.

## توضیحات

۱_ زمونږ په فکر _والله ﷻ أعلم_ د ﴿ وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي ﴾ سره د "وَإِلَيۡهِ أَرۡجِعُ" جمله مقدره ده لکه چې د ﴿ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴾ سره د "وَمَا لَكُمۡ لَا تَعۡبُدُونَ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ" جمله په تقدیر کښې شته.

نو حاصل یې داسې راځي چې: زما سره څه وجه ده؟ (هیڅ وجه نه لرم) چې خاص د هغه اقدس ذات عبادت ونه کړم چې د نشت څخه یې پیدا کړی یم او بیا به د قیامت په ورځ همده ﷻ ته رجوع کوم.

همدارنګه تاسو ته څه وجه ده؟ (هیڅ وجه نه لرئ) چې خاص د هغه اقدس ذات عبادت نه کوئ چې د نشت څخه یې پیدا کړي یاست او د مرګ څخه وروسته به همده ﷻ ته بېرته ورستنېږئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د ﴿ إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ﴾ په دواړو جملو کښې څوک مخاطب کړی شوی دی؟ یا په بل عبارت: حبیب النجار علیه الرحمة چاته د خپل ایمان راوړلو اعلان وروواوراوه؟

مونږ وایو چې: د ځینو علماوو کرامو نظر دا دی چې په دغو دواړو جملو کښې درېواړه پیغمبران مخاطب ګرځولي شوي دي[۱] چې: ای پیغمبرانو! زما په ایمان باندې خبر شئ او زما د ایمان اعلان واورئ چې د قیامت په ورځ راباندې شهادت ورکړئ.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په دغو جملو کښې به کفار ښاریان مخاطب ګرځولی شوي وي لکه چې مباحثه او خبرې اترې د همدوی سره راروانې دي.

## څو نکات

۳ _ په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَ ﴾ څخه لاندې مطالب اشارةً معلومېږي:

اول: کله چې حبیب النجار علیه الرحمة خپل ایمان راوړل اعلان کړه نو ښاریان ډېر په غُصه شوه او وډار شوه چې نور خلک به یې په ایمان راوړلو کښې پیروي وکړي د همدې کبله یې د نوموړي علیه الرحمة د وژلو کلکه اراده وکړه.

دوهم: ځینې علماء کرام وایي چې نوموړي علیه الرحمة ته الله ﷻ د عیسی علیه السلام غوندې نجات ورکړ او ژوندی یې اسمان ته اوچت کړ او هلته ورته وویلی شوه چې جنت ته داخل شه[۲] (چې د مرګ دوره به درباندې وروسته درځي). مګر اکثره علماء کرام وایي[۳] چې نوموړی علیه الرحمة د ښاریانو د پلوه شهید کړی شو او د شهادت څخه وروسته ورته سمدستي وویلی شوه چې جنت ته داخل شه.

یا په بل عبارت: نوموړی علیه الرحمة د نورو شهیدانو غوندې جنت ته داخل کړی شو چې ارواګانې یې جنت ته ځي او راځي، چې شرحه یې ان شاء الله ﷻ لږ وروسته راروانه ده.

ب: پاتې شوه دا خبره چې د درېواړو پیغمبرانو حالات څنګه شوه، ایا هغوی هم ووژلی شوه؟ نو ځینې مفسرین کرام وایي چې هغوی هم شهیدان کړی شوه[۴] خو د اکثرو علماوو کرامو قول دا دی چې هغوی نه دي وژلی شوي، که نه نو د حبیب النجار علیه الرحمة د شهادت په عوض به په ایت شریف کښې د هغوی شهادت ته اشاره شوې وی.

نو شاید چې هغوی به د لاندې وجوهو د کبله نه وي شهیدان کړی شوي:

اول: کفارو به خیال کړی وي چې هغوی به ډار شوي وي او د دعوت څخه به لاس واخلي او وژلو ته به یې ارتیا پاتې نه شي.

---

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۵۲؛ زاد المسیر ج۶ ص۲۶۷
(۲) روح المعاني ج۲۲ ص۲۲۸؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۱۹۶
(۳) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۱۹۶
(۴) الدر المنثور ج۷ ص۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: کفارو به د هغوی وژل هم په نظر کښې درلوده خو فرصت به یې نه وي موندلی او په توندۍ سره به ورباندې بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل شوی وی، والله ﷻ أعلم.

ج: په ﴿ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي ﴾ کښې د "ما" توری دوه احتماله لري[1]:

اول: چې د مصدریت دپاره شي. یعنې کاش چې زما قوم زما په مغفرت او زما په لوړه باکرامته درجه باندې پوه شوي وی.

دوهم: چې د موصولیت دپاره شي. یعنې ای کاش! چې زما قوم په هغه شي باندې پوه شوی وی د کوم د کبله چې ماته خپل رب ﷻ مغفرت وکړ، او په جنت کښې یې اوچته درجه راپېرزو کړه.

په دواړو احتمالونو کښې په اصلي مطلب باندې چندان اثر نه پرېوځي. هغه دا چې: ای کاش! چې زما قوم زما په حالت پوه شي، ترڅو زما غوندې د توحید عقیده خپله کړي او د کفریاتو څخه لاس واخلي. ته به وایې چې شهید حبیب النجار علیه الرحمه خپل قوم ته د مرګ څخه وروسته هم د توحید دعوت ورکاوه، او د دوزخ څخه یې راکښول.

د: د نوموړي شهید علیه الرحمه آرزو د أحد د شهیدانو ﷺ آرزو ته ورته وه، چې په یوه اوږده حدیث کښې روایت شوې ده، او لنډ مضمون یې دا دی:

اول: د أحد د شهیدانو ارواګاني الله ﷻ د شهادت څخه وروسته د شنو قدرتي مرغانو په جوجورو کښې ځای په ځای کړې.

دوهم: چې د همدغو قدرتي الوتکو په ذریعه یې د جنت دورې پیل کړې او هلته یې د جنت ځلورو ویالو څخه ښناک کاوه او د میوجاتو څخه یې خوراک کاوه، ځکه چې دوی د الله ﷻ په نزد ژوندي دي.

دریم: د دوی (د قیامت تر ورځې پورې) اصلي مسکن (قرارګاه) هغه قندیلونه دي کوم چې د عرش العظیم لاندې موقعیت لري.

څلورم: کله چې هغوی خپل پاکیزه خوراک او ښناک او پاکیزه مساکن ولیده نو ویې ویلې چې: ای کاش! چې زمونږ ورونه په هغه څه باندې پوه شوي او خبر شوي وي کوم چې الله ﷻ مونږ ته عنایت کړي دي، ترڅو هغوی په جهاد کښې سستي ونه کړي او لتیان جوړ نه شي.

پنځم: نو الله ﷻ هغوی ته اطلاع وکړه چې: «أنا أُبَلِّغُهُمْ عَنْكُمْ»[2] یعنې ستاسو دغه آرزو به زه پوره کړم او ستاسو په حالاتو به یې خبر کړم، نو الله ﷻ د [آل عمران: ۱۶۹ـ ۱۷۱] ایتونه نازل کړه چې: ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴾ الآیات. یعنې او ته په هغو کسانو باندې د مړو ګومان مه کوه کوم چې د الله ﷻ په لاره کښې وژلی شوي دي بلکې هغوی د خپل رب ﷻ په نزد ژوندي دي چې په ممتازه توګه ورته روزي ورکوله کېږي.

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۱

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۷۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: د ﴿ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې الله ﷻ هیڅکله له اسمانه د پرښتو لښکرې نه دي رالېږلې کړي. نو پوښتنه دا ده چې ایا دا ایت چې بحث پکښې روان دی د هغو ایتونو سره څه منافات نه لري کوم چې د بدر د غزا په هکله نازل شوي دي؟

مونږ وایو: لکه چې د مقام څخه معلومېږي، دلته د پرښتو د هغو لښکرو رالېږلته کول منفي شوي دي کوم چې د یوه کافر قوم د هلاکولو دپاره صورت نیسي؛ د پرښتو لښکرې د بدر په غزا کښې د دغه مطلب دپاره نه وې ورلېږلته شوې بلکې هلته ورته نورې دندې سپارلې شوې وې لکه چې په [الأنفال: ۱۱] ایت کښې وربانديې صراحت شوی دی.

﴿ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٣١﴾ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾ ﴾

[۳۱] ایا کفار نه ګوري (نه پوهېږي) چې د دوی څخه وړاندې مونږ څومره ډېر قرنونه (پېړۍ) هلاکې کړې دي (او نه ګوري چې) یقیناً هغوی دوی ته (په دنیا کښې) بېرته رجوع نه کوي (بېرته نه راستنېږي)؟

[۳۲] او هیڅ یوه پېړۍ نه ده مګر زمونږ په نزد راغونډېدونکې (او) حاضره کړی شوې ده.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د یوې کفرې ډلې څه قیصه بیانه شوې وه، او په دې ایتونو کښې په هغې قیصې باندې یوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې ذکره شوې قیصه د مثال په توګه نازله شوې ده که نه نو د هلاکو شوو کافرو قومونو تعداد زښت ډېر دی. نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! هسې نه چې مونږ یوازې ذکر شوي عنادي کفار په یوه کړیکه هلاک کړي دي، د هغوی ذکر ته محض د مثال په توګه اشاره شوې ده، نو په همدې بنیاد:

۱_ ایا ستا د زمانې کفار نه ګوري او علم نه لري چې څومره ډېر قومونه (پېړۍ) مونږ د کفر د کبله هلاک کړي دي چې کنډوالې ښارونه یې د مسافرو په لارو کښې پراته دي، لکه عادیان او ثمودیان او داسې نور؟

۲_ ایا د وخت کفار نه ګوري چې هغوی بېرته دنیا ته نه راستنېږي چې په حقیقت باندې یې خبر کړي؟ په راتلونکو غائبو حقائقو باندې د پوهېدلو او خبرېدلو ذریعه فقط همدا یوه ده چې د الله ﷻ پیغمبر دی.

۳_ ایا د وخت کفار دا خیال کوي چې هلاکې شوې پېړۍ او قومونه لکه چې دنیا ته بېرته نه شي راتلای، د قیامت په ورځ به هم د حساب کتاب دپاره حاضر نه کړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغسې نه ده، بلکې هیڅ ټولګی او هیڅ فرد نه دی مګر په هغې ورځ به په اجتماعي توګه زمونږ په نزد حاضر کړی شي او د خپلو کړو وړو سزا یا جزا به وګوري.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ﴾ کلمات په اعراب کښې څه شی واقع شوي دي؟ مونږ وایو چې: د دغو کلماتو په محلي اعراب کښې مفسرین کرام په متعددو ډلو وېشلی شوي دي[۱] مثلاً:

الف: ځینې وایي چې دا کلمات د ﴿كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ﴾ څخه لفظي بدل نه، بلکې معنوي بدل دی[۲].

ب: ځینې نور وایي چې دا کلمات په مقدر عامل "قَضَيْنَا" سره منصوب ګرځېدلي دي[۳].

خو مونږ ته لومړنی تحلیل بعید برېښي او دوهم تحلیل راته غیر متبادر څرګندېږي.

زمونږ په نزد دلته د عاطف "و" توری مقدر دی او دا کلمات په ﴿كَمْ أَهْلَكْنَا﴾ باندې عطف دي، چې د ﴿أَلَمْ يَرَوْا﴾ دپاره مفعول ګرځي. نو حاصل یې هاغسې راځېږي لکه چې په خلاصه مطلب کښې ورته اشاره شوې ده.

## څو ټکي

۲ـ په ﴿وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ﴾ الآیة کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د "إِنْ" توری د نفي دپاره دی.

ب: د ﴿كُلٌّ﴾ کلمه د احاطې دپاره ده چې د مضاف الیه ټولو افرادو ته شمولیت لري، چې تنوین یې د همدغه مضاف الیه څخه عوض دی، نو په دې مقام کښې ترې په "قَرْن" سره تعبیر کولی شو، او ویلی شو چې: "إن كُلَ قَرْنٍ مَاضٍ أَوْ آتٍ".

ج: د ﴿لَمَّا﴾ کلمه دلته د "إلا" معنی ورکوي[۴]. په همدې معنی باندې په [الطارق: ۴] ایت کښې استعماله شوې ده.

د: بالآخره د ﴿جَمِيعٌ﴾ کلمه د اجتماع څخه نمایندګي کوي، او د ﴿كُلٌّ﴾ دپاره خبر ده.

و: د ﴿مُحْضَرُونَ﴾ کلمه د ﴿جَمِيعٌ﴾ دپاره صفت ده، او یا د ﴿كُلٌّ﴾ دپاره دوهم خبر ده[۵].

نو د پاسنیو ټکو په نظر کښې نیولو سره یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: هیڅ قرن (پېړۍ)

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۲۰۴

(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۵. تفسیر ابي السعود ج۷ ص۱۶۶

(۳) البحر المحیط ج۹ ص۶۳

(۴) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۴؛ القاموس المحیط ج۴ ص۱۷۲

(۵) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۱۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه ده مګر د قیامت په ورځ په انفرادي صورت نه، بلکې په اجتماعي صورت زموږ په نزد حاضره
کړی شوي ده، حال دا چې دنیا ته یې یو فرد هم نه شي ستنبدلی.

﴿وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبّٗا فَمِنۡهُ يَأۡكُلُونَ ٣٣ وَجَعَلۡنَا
فِيهَا جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ وَفَجَّرۡنَا فِيهَا مِنَ ٱلۡعُيُونِ ٣٤ لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا
عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۚ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ
ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ٣٦ وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ مِنۡهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم
مُّظۡلِمُونَ ٣٧ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ
قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ
وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٤٠ وَءَايَةٞ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي
ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ٤١ وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ٤٢ وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا
صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنقَذُونَ ٤٣ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ٤٤﴾

[٣٣] او د خلکو دپاره (د توحید او کامل قدرت د اثبات په هکله) مره (وچه کلکه) ځمکه لویه نښه (او دلیل) ده چې موږ یې (په اوبو سره) ژوندۍ کوو او دانې ترې راوباسو، نو د دغو (دانو) څخه دوی خوراک کوي (او خپل ژوند ته ورباندې ادامه ورکوي).

[٣٤] او موږ پکښې د کجورو او انګورو څخه باغونه ګرځوو (زرغونوو)، او موږ پکښې د چینو څخه (سیندونه) بهوو.

[٣٥] (دا) د دې دپاره چې بنیادمان د مذکورو باغونو د میوجاتو څخه وخوري، او د هغو شیانو څخه هم (وخوري) کوم چې (د میوجاتو څخه) د دوی لاسونو جوړ کړي وي (لکه جوس او نور).
ایا نو دوی (د دغو نعمتونو) شکریه نه کوي (چې د کفریاتو څخه لاس واخلي)؟.

[٣٦] هغه اقدس ذات لره پاکي ده چې ټول انواع (او اصناف) یې پیدا کړي دي (برابره ده) چې (دا انواع) د هغو شیانو څخه وي کوم چې ځمکه یې زرغونوي او (یا) د بنیادمانو د خپلو ځانونو څخه وي (لکه نر او ښځه)، او (یا) د هغو شیانو څخه وي په کومو باندې چې هغوی علم نه لري (او تر اوسه پورې الله ﷻ نه دي خلق کړي).

[٣٧] او دوی لره شپه (بله) لویه نښه ده، چې موږ ترې د ورځې پوستکی راوباسو نو سمدستي بنیادمان په تیاره (شپه) کښې داخلېدونکي دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۸] او لمر هغې قرارگاه ته روان دی چې ورته (تاکلې شوې) ده، (او هيڅ خنډ پکښې نه واقع کېږي ځکه چې) دغه د عزيز (او) عليم اندازه ټاکل دي (چې د ارادې مخه يې څوک نه شي نيولی او په هرڅه پوه دی).

[۳۹] او مونږ سپوږمۍ (اندازه کړي) منازل (مېنې) مو ورته اندازه کړې دي (چې په دغو منازلو کښې په مختلفو کيفياتو سره مخامخه کېږي) حتی چې (په اول او آخر منزولونو کښې) د کجورو د ونې د زړې څانگې غوندې گرځي (زېړه نرۍ او کږه لېنده ترې جوړه شي).

[۴۰] لمر چې دی لايقه ورته نه ده چې په سپوږمۍ باندې احاطه وکړي (او په محاق کښې يې دوامداره وساتي) او نه شپه په ورځې باندې وړاندې کېدونکې ده (چې بې وخته تحقق ومومي)، او هر يو (لمر او سپوږمۍ او نور ستوري) په (خپل-خپل) مدار کښې لامبو وهي (او په منظمه توگه پکښې حرکت کوي).

[۴۱] او خلکو ته بل دليل دا دی چې: مونږ (دوی لا څه چې) د دوی اولاده (په سامانونو باندې په ډکه کړې شوې بېړۍ کښې پورته کوو (او تر قيامته پورې دا سلسله روانه ده).

[۴۲] او مونږ د خلکو دپاره د بېړۍ غوندې هغه (څاروي) پيدا کړي دي په کومو باندې چې دوی سوريږي (لکه اوښان او نور).

[۴۳] او که زمونږ اراده وشي (په درياب کښې) به يې غرق کړو، نو دوی لره به (په دې صورت کښې) هيڅ فريادرس نه وي. او نه به دوی ته (په هيڅ وجه د غرق څخه) خلاصون ورکړی شي.

[۴۴] مگر (مونږ) د خپله جانبه د لوی رحمت د کبله او (د مرگ) تر (ټاکلي) وخته پورې د نفعې ورکولو د کبله (د غرق څخه خلاصون ورکوو).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

مونږ د الله ﷻ په توفيق د دې سورت (يس) په سريزه کښې ليکلي دي چې په دې سورت کښې د عقيدوي موضوعاتو څخه په توحيد او نبوت او بعث بعد الموت باندې ډېر زور اچولی شوی دی. نو څرنگه چې په وړاندېنيو ايتونو کښې د نبوت په هکله د يوه کفري ښار د هلاکت قيصه د تهديد په توگه نازله شوې وه او بعث بعد الموت هم بې اشارې پاتې نه وه چې په وړاندېني متصل ايت کښې يې ذکر نازل شوی وه، نو دا دی په دې ايتونو کښې د توحيد دلايل بيانېږي چې د يو پلوه دلايل دي او د بله پلوه د الله ﷻ نعمتونه دي چې بايد شکريه يې وکړی شي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل أمت باندې د توحيد څه دلايل قرائت کړه او الهي نعمتونه ورپه زړه کړه ترڅو دوی د عقل او شکر څخه کار واخلي او د توحيد عقيده خپله کړي هغه دا چې:

۱ـ د خلکو دپاره د الله ﷻ په وحدانيت او کامل قدرت باندې مړه ځمکه هم پوره دليل جوړېدلی شي، چې وچه کلکه او سپېره پرته وي، څو

الف: مونږ همدغه مړه ځمکه په باران سره راژوندۍ کوو او حرکت پکښې پيدا کوو چې د نباتاتو په راغونولو باندې پيل کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نو د همدغې ځمکې څخه مونږ رنګ په رنګ دانې راوباسو چې څینې دانې پخپله د بنیادمانو خوراک دی لکه غنم، وریژې او نور. او د څینو نورو څخه د دوی څاروي استفاده کوي او ژوندي وربانديې پاتې کېږي لکه پوندانه، شاخل او داسې نور.

په دې باندې علاوه، د خلکو څاروي د کال په اوږدو کښې په وچو او لمدو وښو باندې ژوندي پاتې کېږي او ورباندې څربېږي.

ج: مونږ د باران په ذریعه په ځمکه کښې د کجورو او انګورو باغونه پیدا کوو او زرغونوو، چې د خلکو دپاره د هر ګټور میوجات دي.

د: مونږ په ځمکه کښې چینې هم بهوو، چې د یو پلوه وربانديې باغونه خروبېږي او د بله پلوه ترې پخپله بنیادمان او د دوی څاروي د خړوبېدلو او څښکلو ګټه پورته کوي.

هـ: دا ټول د دې دپاره چې د ذکرو شوو نباتاتو او باغونو د میوجاتو څخه خلک استفاده وکړي او په خوراک سره وربانديې خپل ژرند تامین کړي، او هم د هغو شیانو څخه ګټه واخلي کوم چې بنیادمان يې د میوجاتو څخه په خپلو لاسونو او کسب سره جوړوي لکه نبیذ او جوسونه او داسې نور.

و: نو ایا خلک د ذکرو شوو نعمتونو شکریه نه کوي؟ چې د کفریاتو څخه لاس واخلي او د توحید عقیده خپله کړي.

ز: ایا خلک د عقل څخه کار نه اخلي؟ چې د شرکیاتو بطلان وربانديې وپېژني او د توحید واقعیت يې په زړونو کښې ځای ونیسي او دا خکه چې:

ح: که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی _لکه چې کفار پرې قول کوي_ نو د ذکرو شوو کارونو څخه به یوه کار هم د دنیا د پیداینښت څخه راپه دېخوا په دوامداره توګه بدون د جګړې صورت نه وی نیولی، بلکې د هر یوه څاڅکي په ورښت او د هر نبات په زرغونېدلو کښې به اختلاف او جګړې رامنځته شوې وی، چې په نتیجه کښې به د دنیا نظام خراب شوی وی او ځمکه او اسمان به دواړه د فساد په لور روان شوی وی.

ط: د ذکر شوي تفصیل څخه د هوښیارانو دپاره لاندې مطالب په اثبات رسېږي:

اول: هغه اقدس ذات د ټولو شرکیاتو څخه پاک او منزه دی چې د نباتاتو ټول ډولونه يې پرته د جګړې، د یوې ځمکې څخه پیدا کړي دي.

یا په بل عبارت د الله ﷻ سره د یوه نبات په زرغونولو کښې هم معارض نشته کوم چې په ځمکه کښې راټوکېږي، همدارنګه د بنیادمانو د ډولونو په پیداکولو کښې هم ورسره څه معارض نشته لکه نارینه او ښځینه، او نه ورسره د دوی په رنګونو او د هغو اندامونو په ورکولو کښې څه جګړه شته کوم چې د بنیادمانو په ځانونو پورې ارتباط لري لکه لاسونه او پښې او نور.

دوهم: نه د الله ﷻ سره د هغو مخلوقاتو په پیدا کولو کښې څه جګړمار شته او نه به موجود شي کوم چې الله ﷻ به يې په راتلونکي کښې د قیامت تر ورځې پورې پیدا کړي چې نن ورځ وربانديې بنیادمان علم نه لري چې هغه به څه شیان وي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ي: نو ځرنګه چې الله ﷻ په پيدا کولو کښې شريک او سيال نه لري نو معلومه شوه چې په عبادت کښې هم ورسره هيڅوک او هيڅ شی سيال او شريک نه شي جوړېدلی.

۲_ ای پيغمبره! په خلکو باندې د توحيدي عقيدې د خپلولو دپاره څه اسماني دلايل هم قرائت کړه هغه دا چې:

الف: د توحيدي عقيدې د اثبات دپاره د شپې او ورځې بدلون رابدلون هم کفايت کوي البته چې څوک د عقل څخه کار واخلي او په دقت سره ورته وګوري، هغه دا چې:

اول: مونږ شپه تکه توره تياره پيدا کړې ده چې بيا همدغه توره شپه په روښانه ورځې سره د منځه وړو، ته به وايې چې شپې ته مو د ورځې پوستکی وراغوستی دی، ترڅو پکښې خلک کاروبار وکړي.

دوهم: بيا د شپې څخه د ورځې رڼا راغونډوو او روښانه پرده ترې راټولوو، لکه څنګه چې خلک د يوه پسه څخه پوستکی راوباسي. نو کله چې ذکر شوی کار اجراء کړو نو سمدستي ټول وګړي په تياره کښې واقع شي او د ارام نيولو دپاره ورته زمينه برابره شي.

ب: د اسماني دلايلو څخه بل دليل د لمر ټيکلی دی چې په دوامداره توګه خپلې قرارګاه ته حرکت کوي او په منظم ډول خپله ټاکلې مسافه طي کوي، نه وروسته پاتې کېږي او نه وړاندې تېرېږي، بلکې د حرکت اندازه يې په دقيقه توګه ټاکلې شوې ده.

ج: ای پيغمبره! په دغه دقيق ډول سره د حرکت دپاره د اندازې ټاکنه د بل چا د پلوه نه ده چې زيادت يا کمبود پکښې صورت ونيسي، بلکې د الله ﷻ د پلوه ده چې د کلکې ارادې خاوند دی او تخلف ترې امکان نه لري، او هم په هر شي باندې پوه دی، چې د هر ډول حرکت نتائج ورته ډېر ښه معلوم دي.

د: لکه څنګه چې لمر د توحيد د دلايلو څخه ښه قوي دليل دی همدارنګه سپوږمۍ هم په همدغه مطلب باندې په ډېره څرګنده توګه دلالت کوي او دا څکه چې:

اول: مونږ د سپوږمۍ د حرکت دپاره په ټول مدار کښې منزلونه (مبني) ټاکلي دي، په دوامداره توګه په دغو منزلونو (مبنو) کښې د يوه څخه بل ته په حرکت کښې ده، او په هر منزل (مبنه) کښې د جدا جدا کيفيت سره مخامخه کېږي.

دوهم: آن تردې چې په منزلونو کښې د ليدونکو په نظر داسې برېښي لکه د کجورې د ونې زړه کړه شوې څانګه.

کله چې سپوږمۍ خپل ټول منزلونه پای ته ورسوي نو بيا پرې د سره دوره شروع کوي، او بيا د مختلفو کيفياتو سره مخامخه کېږي.

ه: لنډه دا چې لمر ته دا مناسبه نه ده او نه د ده د حال او حرکت سره سمون خوري چې سپوږمۍ بالکل احاطه کړي او په هيڅ ډول ظهور او راڅرګندېدلو ته يې پرېنږدي.

يا په بل عبارت: د سپوږمۍ حرکات داسې تنظيم شوي دي چې نه په تمامه معنی سره د لمر د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



...انګو لاندې واقع کېږي چې بالکل په دائمي توګه پټه شي او هيڅ بدلون وربانديې صورت ونه ...چي، او نه داسې ده چې بالکل ترې بهر شي او د بدلون رابدلون څخه بې غمه شي.

و: د شپې او ورځې تګ راتګ هم په ډېره دقيقه توګه تنظيم شوی دی چې هره يوه ټاکلی وخت او ټاکلی معيار لري، چې نه ورځ د شپې څخه وړاندې کېدونکې ده او نه شپه د ورځې څخه، او ...آخره نه د دوارو په منځکښې فرجه (وت) رامنځته کېدلی شي.

ز: په دې باندې علاوه، هر يو ستوری په خپل‌خپل مدار کښې لامبو وهي او پکښې چورلېږي، چې نه د خپل مدار څخه وځي او نه د بل ستوري د مدار سره ټکر او مزاحمت کوي، نو په مېلياردونو ستورو کښې نه ټکر شته او نه ټېل ماټېل.

ح: نو که بالفرض المحال الله ﷻ څه شريک درلودی نو هيڅکله به اسماني نظام په ذکره شوې دقيقه توګه صورت نه وی نيولی او نه به يې دوام کړی وی.

۳_ ای پيغمبره! په خلکو باندې د توحيد د عقيدې د خپلولو دپاره څه نور دلايل هم قرائت کړه هغه دا چې:

الف: مونږ بنيادمان لا څه چې د دوی اولادونه هم په ډکو بېړيو کښې سواره کړي دي او لا د قيامت تر ورځې پورې دغه لړۍ روانه ده، چې ثقيلې (درنې) بېړۍ په نرمو اوبو کښې په قدرتي توګه دوامداره حرکت کوي او پکښې نه ډوبېږي.

ب: په دې باندې علاوه په وچه ځمکه کښې هم مونږ بنيادمان په هغو څارويو باندې سواره کړي دي کوم چې په وچو ډاګونو او رغونو کښې ګرځي راګرځي او اړتياوې يې پوره کوي.

يا په بل عبارت: بنيادمان په وچه کښې د اوښانو او خرو څخه داسې استفاده کوي لکه څنګه چې په درياګونو کښې د بېړيو څخه کار اخلي.

ج: دا يوازې زمونږ کامل او متفرد قدرت دی چې په دريابونو کښې د درنو بېړيو د غرق مخه نيسي او په وچه کښې څاروي بغاوت ته نه پرېږدي.

نو که زمونږ اراده وشي په دريابونو کښې به په بنيادمانو باندې بېړۍ ډوبې کړو او په وچه کښې به څاروي د دوی د کنټرول څخه وباسو. په دغه صورت کښې به ورته فرياد اورېدونکی مونده نه شي چې وربانديې وژاړي چې د غرق او څارويو د بې اطاعتۍ څخه يې وژغوري.

د: مګر مونږ د خپل جانب څخه د لوی رحمت د کبله بنيادمان په دريابونو کښې د غرق څخه ساتو او همدارنګه مونږ ورته څاروي د دې کبله ايل کړي دي، ترڅو دوی تر ټاکلي وخته پورې د دنيا څخه استفاده وکړي او ژوندي پاتې شي.

هـ: نو که بالفرض المحال الله ﷻ شريک يا شريکان درلودی، نه به بحري نظام او نه به بري نظام دغسې چلېدلی وی لکه چې روان دی چلېږي.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: په ﴿مِن ثَمَرِهِ﴾ کښې د "هـ" ضمير څه شي ته راجع دی؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې ځینو مفسرینو کرامو[۱] متعدد احتمالات لیکلي دي، خو بهتره دا ده چې په ﴿ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَـٰبٍ ﴾ کښې "نخيل" او "أعْنَاب" د مذکور په لحاظ سره ملحوظ کړی شوي دي او دواړو ته د مفرد ضمیر راجع کړی شوی دی.

دا د یوه پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ ﴾ کښې د "مَا" کلمه دلته علماوو کرامو په دوه ډوله تفسیره کړې ده[۲] هغه دا چې:

الف: ﴿ مَا ﴾ نافیه ده، او دا جمله د ﴿ ثَمَرِهِ ﴾ څخه حال واقع شوې ده. یعنې الله ﷻ د کجورو او انګورو باغونه د دې دپاره پیدا کړي دي ترڅو یې د میوجاتو څخه په داسې حال کښې بنیادمان خوراک وکړي چې د دوی لاسونه پکښې د وجود ورکولو عمل نه دی کړی او نه یې پکښې کولی شي، بلکې یوازې الله ﷻ ورته موجودیت ورکړی دی.

نو په دې تفسیر سره ذکره شوې جمله د ﴿ وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّـٰتٍ ﴾ الآية د جملې دپاره تاکید واقع کېږي.

ب: ﴿ مَا ﴾ موصولیه ده، او د ﴿ مِن ثَمَرِهِ ﴾ په محل باندې عطفه ده. یعنې الله ﷻ ذکر شوي باغونه د دې دپاره پیدا کړي دي چې بنیادمان یې د میوجاتو څخه وخوري او هم هغه شیان وخوري کوم چې د دوی لاسونو په عمل او کسب سره منځته راوړي دي، لکه د کجورو نبیذ، د انګورو زوبینا او جوسونه او داسې نور.

مونږ ته همدغه دوهم تفسیر په زړه پورې برېښي چې په دې کښې تاسیس دی او د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

## یادونه

۲ـ د ﴿ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ ﴾ غوندې یوه جمله په [النحل:۸] ایت کښې تېره شوې ده چې: ﴿ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ یعنې او الله ﷻ به په راتلونکي کښې هغه شیان پیدا کړي په کومو باندې چې تاسو اوس نه پوهېږئ. هیله ده چې په دې مقام باندې د ښه د پوهېدلو دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

## سلخ څه معنی؟

۳ـ په ﴿ نَسْلَخُ مِنْهُ ٱلنَّهَارَ ﴾ کښې د ﴿ نَسْلَخُ ﴾ کلمه د "سَلْخ" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "سَلْخ" دې ته وايي چې د یوه پوستکي درلودونکي شي څخه پوستکی وویستلی شي[۳].

یعنې مونږ د شپې څخه د لمر په غروب سره د ورځې پوستکی راوباسو چې سمدستي بنیادمان په تیاره کښې واقع کېږي.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۲۱۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۷۲
(۳) لسان العرب ج۳ ص۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: ورځ او شپه خو يو ترېله په تعقيب سره صورت نيسي، حال دا چې د ذکرې شوې تشبيه غوښتنه دا ده چې بايد ورځ د شپې دپاره د غلاف (پوښ) حيثيت ولري لکه څنګه چې پوستکی د څاروي دپاره د غلاف حيثيت لري؟

مونږ وايو چې: څرنګه چې شپه اصلي مخلوقه ده او ورځ عارضه ده[۱] نو د کومو مخلوقاتو څخه چې د لمر په غروب سره د ورځې رڼا راغونډه کړی شي هلته الله ﷻ سمدستي توره تياره (شپه) پيدا کوي، نو دغه صورت حال داسې ګڼلی شوی دی لکه چې شپه د ورځې په غلاف کښې پټه وي، لکه څنګه چې د پسه غوښه د پوستکي په غلاف کښې پټه وي.

### مُسْتَقَرّ څه معنی؟

۵_ په ﴿ وَٱلشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ﴾ کښې د "مُسْتَقَرّ" کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده[۲] چې مونږ يې د دوه وو مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کوو او بس، چې په دواړو کښې د "ل" توری د "الی" معنی ورکوي، هغه دا چې:

الف: د "مُسْتَقَرّ" کلمه د ظرف زمان صيغه ده او د هغې زمانې څخه عبارت ده په کومه کښې چې لمر د حرکت څخه ولوېږي او د قيامت ورځ قائمه شي[۳]. يعنې لمر تر هغه وخته پورې په حرکت کښې دی ترڅو چې د خپل سکون او قرار وخت ته ورسېږي او قيامت قائم شي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ إِذَا ٱلشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴾ [التکوير:۱] يعنې هغه وخت چې کله لمر بې نوره او راتاو کړی شي.

ب: ذکره شوې کلمه د ظرف مکان صيغه ده، نو "مستقر" د هغه مکان څخه عبارت دی په کوم باندې چې لمر په خپل مدار کښې خپله دوره تکميلوي (د غروب ځای ته رسېږي)[۴].

همدغه مضمون ته د آبو ذر ﷺ سره د نبي کريم ﷺ په لاندې سوال جواب کښې اشاره شوې ده:

نبي کريم ﷺ: ای ابو ذره! ايا ته پوهېږې چې دغه لمر چرته ځي (البته کله چې غروب وکړي)؟

ابو ذر ﷺ: الله ﷻ او د ده ﷺ پيغمبر ښه پوهېږي.

نبي کريم ﷺ: «فَإِنَّهَا تَذْهَبُ تَسْتَأْذِنُ فِي السُّجُودِ فَيُؤْذَنُ لَهَا وَكَأَنَّهَا قَدْ قِيلَ لَهَا اطْلُعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا» دغه لمر ځي (غروب کوي) نو د الله ﷻ څخه د سجدې په کولو کښې اجازه غواړي، نو اجازه ورته وکړی شي (او سجده وکړي نو امر ورته وکړی شي چې بله دوره شروع کړي او په عادي ډول سره بيا طلوع وکړي، خو داسې وخت هم راتلونکی دی چې) لکه چې ورته به وويلی

(۱) روح المعاني ج۲۲ ص۱۱
(۲) تفسير المظهري ج۸ ص۸۳؛ البحر المحيط ج۹ ص٦٦
(۳) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۷۳
(۴) تفسير الطبري ج۲۳ ص۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي چې د هغه ځای څخه طلوع وکړه د کومه چې راغلې يې، نو سمدستي به لمر د خپل مغرب څخه طلوع وکړي. بیا نبي کريم ﷺ ذکر شوی ايت شريف ـد عبد الله بن مسعود ﷺ په قرائت سره ـ ولوست چې: «ذَٰلِكَ مُسْتَقَرٌّ لَهَا»[1] يعنې دغه د لمر دپاره د استقرار ځای دی.

## تبصره

٦ـ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه د واقعيت سره مطابق دي او د بدليت په اعتبار سره د دواړو اراده کول هم څه لرې خبره نه ده، مګر مونږ ته دوهم تفسير غوره برېښي، ځکه چې دلته د توحيد په دلايلو کښې بحث راروان دی، او دغه مطلب د همدغه دوهم تفسير څخه په ډېره ښه توګه ترلاسه کېږي چې لمر په مستمر او منظم ډول سره او روزمره د خلکو د سترګو لاندې راخېژي او پرېوځي.

## سوالونه او جوابونه

٧ـ خو په همدغه غوره تفسير باندې د سړي په زړه کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: د لمر هر يو اُفق د ځينو خلکو او ځينو وطنونو په نسبت د طلوع اُفق دی، او د ځينو نورو په نسبت د غروب اُفق دی، نو پوښتنه دا ده چې: بايد د کوم وطن اُفق ته د ذکر شوي حديث په مطابق د "مُسْتَقَر" لقب ورکړی شي چې لمر هلته په مستمره توګه سجده کوي او د قيامت په ورځ به د همغه اُفق څخه بېرته راستون شي او د همغه غربي اُفق څخه به طلوع وکړي؟!

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو د ذکرې شوې پوښتنې جوابولو ته د مشکل لقب ورکړی دی او غير متبادر جواب ته يې لاس اچولی دی[2]، مګر بهتره دا ده ـوالله ﷻ أعلمـ چې د "مُسْتَقَر" څخه به د مدينې منورې غربي اُفق مطلب وي د کوم په شان کښې چې ذکر شوي حديث شريف صورت نيولی دی.

يا په بل عبارت: د مدينې منورې د غربي اُفق څخه به يو ځل لمر راوخېژي، او همدغه اُفق د لمر د سجدې کولو ځای دی، او په دې باندې علاوه همدغه اُفق د لمر د دورې د شروع او ختم اُفق هم دی.

ب: که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ د ذکر شوي ايت شريف په تفسير کښې فرمايلي دي چې: «مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ»[3] يعنې د لمر د استقرار ځای د عرش العظيم څخه لاندې دی، حال دا چې تاسو د مدينې منورې غربي اُفق ته د مستقر لقب ورکړ؟

مونږ وايو چې: د ﴿وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ﴾ [البقرة:۲۵۵] په مطابق د مدينې منورې د اُفق په شمول ټول اُفقونه د عرش العظيم څخه لاندې لا څه چې د کرسي څخه هم لاندې دي.

نو شايد ـوالله ﷻ أعلمـ چې د «تَحْتَ الْعَرْشِ» تعبير به ورته د دې دپاره خوښ کړی شوی دي ترڅو د الله ﷻ په کبرياء او عالي شان باندې دلالت وکړي او د سجدې کولو وجې ته اشاره وګرځي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۰۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۸
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۲۳
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۹

Scanned by CamScanner

ځ: که څوک وايي چې: د "مُسْتَقَر" کلمه په استقرار او سکون باندې دلالت کوي حال دا چې د لمر سکون او قرار د مشاهدې څخه خلاف دی؟

مونږ وايو: په کوم أفق باندې چې د لمر دوره ختمه شي همغه أفق په دې معنی د لمر دپاره د قرار نيولو ځای دی چې د استقرار دپاره يې قابل دی، نه په دې معنی چې بالفعل پکښې قرار نيسي، لکه چې معترض ګومان کړی دی.

يا په بل عبارت. که بالفرض د دورې د پای ته رسېدو څخه وروسته الله ﷻ د بلې دورې په پيل کولو باندې لمر نه وی مکلف کړی نو همدلته به يې قرار نيولی وی، او کله چې د لمر وروستنی دوره هم پای ته ورسېږي نو همدلته به قرار ونيسي.

د: که څوک وايي چې: وړاندې په پنځمه توضيح کښې لمر ته د غروب څخه وروسته سجده کول روايت شوی دی او پوره واضحه ده چې سجده خو پرته د قرار او سکون څخه صورت نه شي نيولی حال دا چې قرار او سکون د مشاهدې څخه خلاف دی؟

مونږ وايو چې: دا اعتراض به په هغه وخت کښې په ځای وی چې د لمر سجده د انسانانو د سجدې غوندې وی، خو خبره دغسې نه ده، الله ﷻ پوهېږي چې لمر په څه کيفيت سره سجده کوي، لکه چې فرمايي: ﴿ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسْبِيحَهُۥ ﴾ [النور: ۴۱] يعني هر شی په خپل لمانځه (عبادت) او په خپلو تسبيحاتو باندې پوهېږي چې د الله ﷻ څنګه عبادت وکړي او څنګه ورته تسبيح ووايي.

## څو نکات

۸ـ په ﴿ وَٱلْقَمَرَ قَدَّرْنَٰهُ ﴾ الآية کښې بايد لاندې نکات په نظر کښې ونيولی شي:

الف: په ﴿ وَٱلْقَمَرَ قَدَّرْنَٰهُ مَنَازِلَ ﴾ کښې دغه نحوي تحليلونه په کار دي:

اول: د "اَلْقَمَرَ" کلمه په محذوف "قَدَّرْنَا" سره منصوبه ده، چې په مذکور "قَدَّرْنَا" سره تفسيره شوې ده، د دې ډول منصوب يو نظير د [الإسراء: ۱۲] ايت لاندې شرحه شوی دی، والحمد لله ﷻ.

دوهم: د ﴿ قَدَّرْنَٰهُ ﴾ کلمه په اصل کښې "قَدَّرْنَا لَهُ" وه، چې د "ل" توری حذف شو، او د "ه" ضمير د فعل سره وصل شو، چې نحويان ورباندې د "حذف او ايصال" نوم ږدي[1].

درېم: د ﴿ مَنَازِلَ ﴾ کلمه چې د ﴿ قَدَّرْنَٰهُ ﴾ دپاره مفعول واقع شوې ده، د منزل جمعه ده، خو په دې مقام کښې ترې هغه مسافه مطلب ده کومه چې په يوه شپه او يوه ورځ کښې د سپوږمۍ د پلوه وهله کېږي[2].

ب: د سپوږمۍ ټوله دوره د راځرګندېدو څخه تر پټېدو پورې په اته ويشتو (۲۸) منزلونو باندې وېشلې شوې ده، چې څينو مفسرينو کرامو يې د ټولو منزلونو نومونه ليکلي دي[3].

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۷۳
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۱۶
(۳) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د "عُرْجُون" کلمه د "فُعْلُون" یا "فُعْلُول" په وزن ده، چې د "ن" توری پکښې زائد یا اصلي دی[۱]، په هر تقدیر دغه کلمه د خرما د ونې د هغې څانګې نوم دی په کومې پورې چې د کجورو وږی نښتې وي او کله چې ترې جدا شي نو ذکره شوې څانګه د ونې پورې زوړنده پاتې کېږي[۲].

خو د وخت په تېرېدلو او زوړوالي سره په نوموړې څانګه کښې درې صفات موجودیږي، چې باریکه او نرۍ ګرځي، رنګ یې زېړوالي ته اوړي او بالآخره قوسي (هِلالي) شکل غوره کوي.

سپوږمۍ هم د خپلو منازلو په لومړي منزل کښې او هم په وروستني (اته ویشتم) منزل کښې د "عُرْجُون" غوندې باریکه او زېړه او هم کږه په سترګو برېښي.

د: د اته ویشتم منزل څخه وروسته سپوږمۍ د خلکو د نظره پټېږي چې همدغه حال ته یې "مُحَاق" وايي[۳]. نو که یوه شپه پټه پاتې شوه نو میاشت یو کم دېرش (۲۹) ورځې ګرځي او که دوه شپې پټه شوه نو بیا پوره دېرش (۳۰) ورځې جوړېږي.

## اِدْراك څه معنی؟

۹_ په ﴿أَن تُدْرِكَ ٱلْقَمَرَ﴾ کښې د ﴿تُدْرِك﴾ کلمه د "اِدْراك" _لکه "اِکْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۱۰۳] ایت لاندې لیکلي دي چې د "اِدْراك" کلمه د احاطه کولو دپاره وضعه شوې ده.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راخېژي چې: که څه هم د حکمتونو په بنیاد د لمر د شعاعو د کبله سپوږمۍ په خپلو منازلو کښې د مختلفو کیفیاتو سره مخامخه کېږي، مګر د الهي مقادیرو د کبله داسې نه شي کېدلی او نه ممکنه ده چې لمر بالکل سپوږمۍ پټه کړي چې هیڅکله څرګنده نه شي.

## یادونې

۱۰_ په دې مقام کښې لاندې یادونې یاد ساتل په کار دي:

الف: ځینو مفسرینو کرامو د [الأنعام:۵] ایت لاندې د لمر او سپوږمۍ د حرکاتو او منازلو په هکله ډېر خوندور بحث کړی دی نو په کار دي چې علاقه مندان هلته مراجعه وکړي، خو په دې شرط چې په عربي ژبه پوهېږي.

ب: په دې باندې علاوه، د شمسي او قمري کلونو د پېژاندلو په ارتباط د [التوبة:۳۶] ایت لاندې ښه تحقیقي بحث تېر شوی دی _والحمد لله ﷻ_ چې دلته یې کتل په ګټه تمامېږي.

ج: د ﴿وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ﴾ غوندې جمله وړاندې په [الأنبياء:۳۳] کښې تېره شوې ده، او مونږ پکښې هغه څه لیکلي دي چې الله ﷻ رانښودلي وه، نو بیا تکرارولو ته یې اړتیا نه ګورو.

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۲۲۰

(۲) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۲۰۱؛ النهاية في غريب الأحاديث ج۳ ص۲۰۳

(۳) لسان العرب ج۱۰ ص۳۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۱۱_ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد د ﴿ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ ﴾ په عوض "أنا حملناهم" نازل نه شو، یا په بل عبارت: دلته د "ذُرِّيَّة" کلمې په زیاتولو کښې څه حکمت دی، حال دا چې مطلوبه معنی بدون د دغې کلمې څخه هم ترلاسه کېدله، لکه چې په ﴿ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ﴾ [الإسراء: ۷۰] ایت کښې وربانديې صراحت شوی دی؟

مونږ وایو چې: ځینې مفسرین کرام[1] وايي چې د "ذُرِّيَّة" کلمه د أضدادو څخه ده چې په پلرونو او اولادونو دواړو باندې یې اطلاق کېږي او دلته ترې پلرونه مطلب دي. دوی وايي چې دلته د ﴿ ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴾ څخه د نوح ﷺ بېړۍ مراده ده.

نو د معنی حاصل یې داسې راوباسي چې: بنیادمانو ته یوه لویه قدرتي نښه دا ده چې مونږ د دوی پلرونه د نوح ﷺ په ډکه بېړۍ کښې پورته کړي وه، او په خارق العاده توګه مو نجات ورکړی وه، که نه نو دوی به د ځمکې په مخ نه وی موجود شوي.

مونږ ته دا جواب د متصلې جملې ﴿ وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِۦ مَا يَرْكَبُونَ ﴾ سره ښه مناسب نه برېښي، مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: ذکره شوې کلمه به د دې دپاره په نزول کښې اضافه شوې وي ترڅو بنیادمان په غوږ ووهي چې دغه نعمت (د دریاب تسخیر) به د قیامت تر ورځې پورې باقي وي، او د دوی غوندې به ترې د دوی اولادونه هم استفاده وکړي، نو دوی ته په کار دي چې د دغه عام او تام نعمت شکریه وکړي او د کفریاتو او شرکیاتو څخه لاس واخلي.

همدارنګه که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی نو دغه تسخیر به دومره دوام نه وی کړی چې آن تر قیامته پورې اوږد شوی وی.

## صَرِيخ څه معنی؟

۱۲_ په ﴿ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ ﴾ کښې د ﴿ صَرِيخَ ﴾ کلمه د "صَرْخَة" ـ لکه "رَحْمَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "صَرْخَة" هغه سخت اواز یا سختې کړیکې ته وايي کومه چې د ډاروونکي یا مصیبت ځپلي د خولې څخه د کومک غوښتلو په نیت وځي[2].

خو د دې سره ـ سره ذکره شوې کلمه د أضدادو څخه ده چې د "صَارِخ" (چیغې وهونکی) او "مُصْرِخ" (چیغې غلې کوونکی) په دواړو معناوو سره استعمالېږي، مګر په دې مقام کښې دوهمه معنی مراده ده[3] چې متصله جمله ﴿ وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴾ وربانديې دلالت کوي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴾ کښې د "رَحْمَةً ـ مَتَاعًا" دواړه کلمې

---

(۱) تفسیر البغوي ج۴ ص۱۳
(۲) لسان العرب ج۳ ص۳۳
(۳) البحر المحیط ج۹ ص۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د اعم العلل څخه مستثنی شوې دي[١].

او په دې باندې علاوه د "مَتَاعًا" کلمه د "رَحْمَةً" دپاره د تفسیر حیثیت لري.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې: که زمونږ اراده وشي نو په ډکې بېړۍ کښې سواره بنيادمان به ټول غرق کړو چې هيڅوک به يې فريادرس ونه ګرځي چې نجات ورکړي، او نه به ورته په بل سبب سره خلاصون ورکړی شي.

مګر د دې کبله به نجات ورکړی شي چې زمونږ د پلوه وربانديې مهرباني وکړی شي ترڅو د خپل ژوند څخه تر ټاکلې مودې پورې استفاده وکړي او بيا د مرګ د بل سبب سره مخامخ شي.

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُواْ مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ
ءَايَةٍ مِّنْ ءَايَـٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُواْ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ
قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطْعَمَهُۥٓ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِى
ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَـٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا
صَيْحَةً وَٰحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَآ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ
يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾ وَنُفِخَ فِى ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ قَالُواْ
يَـٰوَيْلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ۜ هَـٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَصَدَقَ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٥٢﴾ إِن
كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٥٣﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ
شَيْـًٔا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾ ﴾

**[۴۵]** او کله چې کفارو ته وويلی شي چې: د هغو (واقعاتو) څخه وډار شئ کوم چې ستاسو په وړاندې دي (ستاسو څخه په وړاندې قومونو باندې د کفرياتو په سبب ورنازل شوي دي) او (د هغو عذابونو څخه هم وډار شئ) کوم چې تاسو پسې (د قيامت په ورځ در روان) دي شايد چې په تاسو باندې رحم وکړی شي (او د دغو عذابونو څخه نجات مونده کړئ).

**[۴۶]** او (دا څکه چې) کفارو ته د خپل رب ﷻ د ايتونو څخه هيڅ ايت (حکم او دليل) نه دی ورغلی، مګر دوی ترې اعراض کوونکي دي.

**[۴۷]** او کله چې ورته وويلی شي چې د هغو مالونو څخه (په فقيرانو باندې) څه خرڅه وکړئ کوم چې تاسو ته الله ﷻ روزي کړي دي، نو هغه کسان چې کفر يې غوره کړی دی (په تعجب سره)

(١) تفسير ابي السعود: ج٧ ص١٦٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی وایې چې: ایا مونږ هغه چا ته څه خوراک ورکړو کومو ته چې که د الله ﷻ اراده شوې وی نو خوراک به یې ورکړی وی (او په ګېډه به یې ماړه کړي وی؟ ای مؤمنانو!) تاسو نه یاست مګر په څرګنده ګمراهی کښې یاست (چې زمونږ څخه د الله ﷻ د ارادې په خلاف غوښتنه کوئ).

[۴۸] او کفار (مؤمنانو ته) وایي چې: دغه (د قیامت) وعده به کله وي که تاسو رښتیاویونکي یاست؟ (نو د قیام وخت یې وټاکئ).

[۴۹] (ای پیغمبره!) کفار انتظار نه وباسي (ټال نه دي) مګر یو آواز ته چې په داسې حال کښې به دوی ونیسي چې دوی به (په ورکړه راکړه کښې) په جګړه بوخت وي.

[۵۰] نو دوی به (په دغه وخت کښې) د وصیت کولو وسه ونه لري (او فرصت به مونده نه کړي) او نه به خپلو کورونو ته بېرته ورستانه شي (بلکې خای په خای به هلاک شي).

[۵۱] او (بیا به) په شپېلۍ کښې (دوهم ځل) پوکی وکړی شي نو ناڅاپه به دوی د قبرونو څخه خپل رب ﷻ ته وروځغلي (او د حشر میدان ته به ورټول شي).

[۵۲] کفار به (په دغه وخت کښې) وایي چې: ای زمونږ حسرته (او زمونږ هلاکه)، مونږ د خپلو ارامګاوو څخه چا راپورته (را اوچت) کړو؟

(په دغه وخت کښې به کفارو ته وویلی شي چې) دا هغه (دوهم ژوندون) دی چې ډېر مهربان الله ﷻ یې وعده کړې وه او پیغمبرانو (پکښې) رښتیا ویلي وه (چې ضرور واقع کېدونکی دی، خو تاسو نه مانه).

[۵۳] (ای پیغمبره!) دا (د شپېلۍ دوهم ځل پوکول) به (هم) نه وي مګر یو اواز، نو ناڅاپه به زمونږ په نزد دوی ټول کړی شوي (او) حاضر کړی شوي وي.

[۵۴] نو په دغې ورځ کښې به په هیڅ نفس د هیڅ شي ظلم ونه کړی شي، او تاسو ته به جزا نه درکوله کېږي مګر د هغه شي (جزا) کوم چې تاسو یاست چې کوئ یې، (او په دنیا کښې ورباندې اخته یاست).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د توحید دلایل بیان شوي وه او په دې ایتونو کښې د یو پلوه د دغو دلایلو په وړاندې د کفارو غبرګون ته اشاره کېږي او د بل پلوه په معاد (بعث بعد الموت) باندې هم ښه پوره رڼا اچولې شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېژي:

ای پیغمبره! د توحید د دلایلو په مقابل کښې د کفارو او مشرکانو غبرګون دا دی چې:

۱ ـ کله چې مشرکانو ته وویلی شي چې:

الف: تاسو د دلایلو په مقتضی د توحید عقیده خپله کړئ او د کفریاتو څخه لاس واخلئ، یا په بل عبارت: د هغه عذاب څخه خپل ځانونه په وقایه کښې وساتئ کوم چې ستاسو په وړاندې دي او تاسو په تلوار سره ور روان یاست، چې د دوزخ عذاب دی، او هم د هغه عذاب څخه خپل ځانونه بچ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړئ کوم چې په دنیا کښې ستاسو د اعمالو نتیجه ده او په نن سبا کښې به وربانديې اخته شئ، لکه څنګه چې پخواني قومونه د خپلو کفریاتو په نتائجو باندې مبتلاء شوي وه.

ب: ای کفارو! که دغه ذکره شوې کړنلاره غوره کړئ نو تاسو د دې خبرې امید وکړئ چې د الله ﷻ د پلوه به په تاسو باندې مهرباني وکړی شي او د دنیاوي او اُخروي دوارو عذابونو څخه به بچ پاتې شئ، او لا اضافه مرحمت به هم درسره وکړی شي.

ج: نو د ذکر شوي نصیحت په مقابل کښې د کفارو غبرګون د اعراض او مخ ګرځولو څخه پرته بل شی نه دی او دا څکه چې:

کفارو ته د خپل رب ﷻ د پلوه هیڅ تشریعي یا تکویني نښه او دلیل نه دی ورغلی مګر په دوامداره توګه ترې دوی اعراض کوونکي دي او په هیڅ وجه ورته غاړې نه ږدي، نو د خپل همدغه عادت په غوښتنه د ذکر شوي وړاندیز څخه هم اعراض کوي او غوږ ورته نه نیسي.

۲ـ ای پیغمبره! کفار او مشرکان لکه څنګه چې د الله ﷻ حقوق د پښو لاندې کوي، همدارنګه د بندګانو حقوق هم نه اداء کوي او په ملنډو او مسخرو سره جواب ورکوي. مثلاً:

الف: کله چې ورته وویلی شي چې: ای کفارو مالدارانو! د هغو مالونو څخه څه برخه په فقیرانو باندې مصرفه کړئ کوم چې تاسو ته الله ﷻ روزي کړي دي.

یا په بل عبارت: ای کفارو! تاسو د توحید عقیده خپله کړئ او بیا د همدې عقیدې په مطابق په خپلوانو او فقیرانو باندې زړه سوی وکړئ او څه خوراک څښاک في سبیل الله ورکړئ، چې په دنیا او آخرت دواړو کښې درته په درد وخوري. او که دا عقیده نه خپلوئ نو په ذکرو شوو کسانو باندې د بشریت په لحاظ څه انفاق وکړئ چې په دنیا کښې خو عوضونه درکړی شي.

ب: نو د دغه نصیحت په رد کښې هم د کفري عقیدې خاوندان خپل ناصحان (مؤمنان) مخاطب ګرځوي او په تعجب سره ورته وایي چې:

اول: ایا مونږ هغه چاته یو لمړی خوراک ورکړو کومو ته چې که د الله ﷻ اراده شوې وی نو خوراک او څښاک به یې ورکړی وی او مونږ ته به یې نه وی اړیاسلي. که بالفرض مونږ ستاسو نصیحت قبول کړو نو مونږ به د الله ﷻ د ارادې څخه په خلاف کار کړی وي.

دوهم: نو په همدې بنیاد تاسو د ښکارندې ګمراهۍ څخه په غیر بل څه کښې نه یاست واقع شوي، چې زمونږ څخه د الله ﷻ د ارادې په خلاف کار کول غواړئ.

۳ـ کله چې د مؤمنانو د پلوه کفارو ته وویلی شي چې د قیامت ورځ راتلونکې ده تاسو ورته تیاري ونیسئ او د توحید عقیده خپله کړئ چې هلته د دوزخ د دائمي او شدید عذاب څخه نجات درکړی شي. نو د همدغه نصیحت په مقابل کښې هم د انکار لاره نیسي او مؤمنانو ته وایي چې: ای مؤمنانو! که بالفرض د قیامت د ورځې راتلل رښتیا وی نو ضرور به یې تاسو ته وخت معلوم وی. نو که تاسو په خپله خبره کښې رښتیني یاست مونږ ته ووایاست چې دغه وعده به کله متحققه شي او قیامت به کله قائم شي؟

Scanned by CamScanner

۴- ای پیغمبره! د مشرکانو د ذکرې شوې پوښتنې په هکله په خپل اُمت باندې لاندې مطالب واضح کړه:

الف: د قیامت د قیام په ټاکلې نېټې باندې (د ځینو حکمتونو په بنیاد) الله ﷻ هیچا ته علم نه دی ورکړی چې په فلانکي تاریخ به صورت ومومي، او دومره یا هومره وخت ورته پاتې دی.

ب: هو! په قیام کښې یې هیڅ شک او شبهه نشته، نو څکه بل شي ته منتظر نه دی مګر فقط همدې ته چې په لومړني ځل شپېلۍ پو کړی شي او په یو تونډ اواز ټول خلک په داسې حال راونیسي چې په خپلو معاملاتو اخته وي او د راکړې ورکړې په ارتباط په جګړو بوخت وي.

ج: په عین حال کښې به ځای په ځای د ټولو ارواګانې قبض کړی شي او ټول به مړه او یخ پخ به په ځمکه پرېوځي.

د: حتی چې دوی به په ذکر شوي حال کښې نه د وصیت کولو توان ولري او نه بېرته کور ته د ورستنېدلو، بلکې په دغه وخت کښې به نه کور پاتې وي او نه به څوک موجودیت ولري چې خپل وصیت ورواوروي.

هـ: هو! چې بیا کله په دوهم ځل شپېلۍ پو کړی شي نو ټول خلک به د خپلو-خپلو قبرونو څخه د خپل رب ﷻ د حساب کتاب دپاره په ځغاسته ورټول شي او هلته به د فیصلې په انتظار حاضر کړی شي.

و: نو په دغه وخت کښې به د کفارو د زړونو سترګې خلاصې شي او هغه حقائق به د سر په سترګو وګوري په کومو باندې چې نن ورځ باور نه کوي.

ز: نو د همدې کبله به په حسرت سره ووایي چې:

اول: ای زمونږ افسوسه! راشه چې همدا دې وخت دی.

دوهم: ای زمونږ حسرته! مونږ د ارامګاوو (قبرونو) څخه بلا اختیاره چا راپورته کړو، مونږ خو ناڅاپه د محشر په میدان کښې حاضر کړی شو.

ح: خو په عین وخت کښې به ورته وویلی شي ترڅو بنه خجالت کړی شي چې: دا هغه شی دی چې ډېر مهربانه الله ﷻ یې وعده کړې وه او پیغمبرانو تاسو ته په رښتیا سره ابلاغ کړې وه، خو تاسو وریاندې باور نه کاوه او په استهزاء سره به مو پوښتنه کوله چې دا وعده به کله رښتیا کېږي.

ط: دغه دوهم ځل شپېلۍ هم د لومړنۍ شپېلۍ غوندې د یو تونډ اواز څخه په غیر بل شی نه دی، چې د همدغه یوه تونډ اواز په اثر به سمدستي ټول خلک زمونږ په وړاندې حاضر کړی شوي وي چې هیڅوک به د عدم حضور توان ونه لري.

ي: نو په دغې ورځ کښې به په هیچا باندې ظلم او تېری ونه کړی شي، په همدې بنیاد به تاسو نه هم په نوموړي وخت کښې جزا درنه کړی شي مګر په هغو کړو وړو باندې کوم چې تاسو یې په کولو لګیا یاست.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: د ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا ﴾ الآية- شرطیه جمله ده، نو پوښتنه دا ده چې د دغه شرط جزا کومه جمله جوړېږي؟

مونږ وایو چې: جزائیه جمله ورسره مقدره ده چې مونږ ترې په "أَعْرَضُوا" سره تعبیر کوو[1] په همدغې مقدرې جزا باندې متصل ایت ﴿ وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ ﴾ الآية- دلالت کوي.

### یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ ﴾ کښې د "مَا، مَا" دواړه کلمې د کومو شیانو څخه عبارت دي؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوو دواړو کلمو په تفسیر کښې دلته علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[2]. لاندې دوه تفسیره د مثال په توګه ولولئ:

الف: په ﴿ مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ ﴾ کښې د "مَا" توری د هغو وا قعو څخه عبارت دی کومې چې په دنیا کښې په پخوانیو قومونو باندې تېرې شوي دي لکه عادیان، ثمودیان او نور. یعنې ای مشرکانو! تاسو د هغو وقائعو څخه خپل خانونه وساتئ او د کفریاتو څخه لاس واخلئ کومې چې په پخوانیو قومونو باندې تېرې شوې دي چې په تاسو باندې بیا تکرارې نه شي.

او په ﴿ وَمَا خَلْفَكُمْ ﴾ کښې د "مَا" توری د هغو عذابونو څخه کنایه دی کوم چې په آخرت کښې ورسره کافران مخامخ کېدونکي دي. یعنې همدارنګه د هغو عذابونو څخه هم وډار شئ او د توحید عقیده خپله کړئ کوم چې په آخرت کښې ستاسو د ژوند د ختم څخه وروسته تیار کړی شوی دی.

ب: لومړی "مَا" د قیامت د ورځې (أخروي) عذابونو څخه کنایې دی چې خلک ورروان دي، او دوهم "مَا" د دنیاوي عذابونو څخه عبارت دی چې د خلکو د اعمالو په تعقیب صورت نیسي. یا په بل عبارت: دا تفسیر د لومړي تفسیر عکس دی.

### تبصره

۳_ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه په اصل مطلب باندې څه اثر نه غورزوي خو شیخ المفسرین علیه الرحمة لومړی تفسیر غوره کړی دی[3] چې دا تفسیر په دغه ایت شریف سره هم د اشارې په توګه تائید مومي چې: ﴿ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ ﴾ [المائدة: ۴۸] یعنې ای پیغمبره! مونږ تاته کتاب (قرآن کریم) په داسې حال کښې په حقه درنازل کړی دی چې د هغه شي تصدیق کوونکی دی کوم چې د ده څخه وړاندې نازل کړی شوی وه چې د

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۲
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۲۹؛ زاد المسیر ج۶ ص۲۷۳
(۳) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



... کتابونو څخه عبارت دي.
... خو د دې سره-سره دوهم تفسیر هم د منلو قابلیت لري، د همدې کبله مونږ د مطلب په خلاصه کښې ذکر کړی دی.

## سوالونه او جوابونه

۴_ په ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ﴾ الآية کښې د سړي په زړه کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي چې: په څه منظور په ﴿أَنفِقُواْ﴾ سره د مشرکانو څخه د مالي انفاق غوښتنه وکړی شوه، حال دا چې د هر نیک عمل د قبول دپاره د عقیدې صحت ضرور دی چې کفار ترې محروم دي؟

مونږ وايو چې: که څه هم د کفارو اعمال په آخرت کښې د ثواب قابلیت نه لري مګر په دنیا کښې خو ورباندې الله ﷻ دنیاوي عوضونه ورکوي، لکه چې په [هود:۱۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه ذکره شوې غوښتنه دې ته اشاره ده چې د وخت کفار برسېره پر عقیدوي فساد په عملي او اخلاقي فساد باندې هم اخته وه، په اصطلاح حقوق الله او حقوق العباد یې تول د پښو لاندې کړي وي.

د وخت کفار په خپله تګلاره کښې پخوانیو کفارو ته ورته وه، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿أَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُخۡسِرِينَ﴾ [الشعراء: ۱۸۱] یعني شعیب ﷺ خپل قوم مخاطب کړ، چې د هر څه څخه وړاندې د توحید عقیده خپله کړئ، او په دې باندې علاوه تاسو پیمانه هم پوره ورکړئ، او د نقصان کوونکو څخه مه جوړېږئ؛ همدارنګه وزن (تول) هم په برابره تله سره کوئ (ډنډۍ مه وهئ).

ب: که څوک وايي چې: د کفارو څخه په ﴿أَنفِقُواْ﴾ سره انفاق غوښتلی شوی وه حال دا چې هغوی په ﴿أَنُطۡعِمُ﴾ سره د اِطعام څخه انکار وکړ، نو په دې کښې څه نکته پټه ده چې هغوی د سوال په مطابق جواب ورنه کړ ترڅو مونږ ته الله ﷻ راحکایت کړی وی؟

مونږ وايو چې: د "إِنْفَاق" څخه "إِطْعَام" خاص دی چې اکثره وخت په یو خوراک یا په یوه لمړۍ کښې استعمالېږي، نو د جواب حاصل یې داسې راخېژي چې: نور إنفاق خو لا څه چې یوه ګېډه خوراک یا یوه لمړۍ ډوډۍ به هم ورنه کړو.

ج: که څوک وايي چې: د جهالت په زمانه کښې خو سخاوت د محاسنو څخه شمېرل کېده، او د کفر سره-سره په سخیانو او مېلمه پالانو باندې به آفرین ویل کېده. نو پوښتنه دا ده چې د وخت په کفارو باندې څه باعث وه چې د انفاق څخه په مطلقه توګه انکاري شوه؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال دپاره متعدد جوابونه صورت نیولی شي. لاندې مثالونه یې ولولئ:
اول: ذکر شوی جواب د ټولو کافرانو څخه نه دی حکایت شوی، بلکې دلته د هغوی یوه جاهله ډله مطلب ده. او دا ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پس(۳۶)
په هغوی کښې یوه ډله داسې هم وه چې خپل څاروي به یې په دوه برخو باندې وېشل، څاربه څاروي به یې هغه څرځای ته ورجدا کول په کوم کښې به چې واښه ډېر وه، او ډنګرو څارویو ته به یې بې کاره څرځای خوښاوه، نو چې کله به په دغه غیر عادلانه تقسیم کښې وپوښتل شوه نو جواب به یې دا وه چې: زه هغو څارویو ته اکرام ورکوم کومو ته چې الله ﷻ اکرام او اعزاز ورکړی دی او څاربه یې پیدا کړي دي، او هغو څارویو ته د توهین په نظر ګورم کوم چې الله ﷻ سپک کړي دي او غوښه یې نه ده ورکړې او ډنګر دي[۱].

دوهم: په مکه معظمه کښې یوه ډله د هریان وه چې د الله ﷻ څخه بالکل انکاري وه نو ذکر شوي جواب ته هغوی د استهزاء او ملنډو په توګه لاس اچاوه، هسې نه چې دا د ټولو کفارو جواب وه[۲].

درېم: کله به چې ځینې فقیران خلک په ایمان باندې مشرف شوه نو خپلوانو به ورسره صله رحمي او خپلوي پرېښودله او غنیانو به ترې کومک قطعه کړ، او په ذکر شوي جواب باندې به یې د مسلمانانو د تهدید دپاره خولې ښورولې[۳]. یا په بل عبارت هغوی د خاصو کسانو سره سخاوت کول بد ګڼل او بس.

د: که څوک وایي چې د جواب حاصل خو داسې راخېژي چې: مونږ بدون د الله ﷻ د ارادې څخه چاته یوه لمړۍ ډوډۍ هم نه شو ورکولی. نو پوښتنه دا ده چې: په دې مضمون کښې خو څه نقصان نشته نو په څه وجه ذکر شوی جواب د کفارو د قبائحو څخه وشمېرل شو، په کار وه چې آفرین ورباندې ویلی شوی وی؟.

مونږ وایو چې: په ذکر شوي جواب کښې څه نقصان نه وه، خو هغوی ورباندې باطله معنی اراده کوله هغه دا چې:

اول: فقیرانو ته یوه لمړۍ ډوډۍ ورکول ښه کار نه دی، که نه نو پخپله الله ﷻ به په ګېډه ماړه کړي وی.

پوره واضحه ده چې دغه معنی غلطه ده، بلکې د فقیرانو مړول ښه کار دی، خو الله ﷻ ځینې خلک فقیران او ځینې نور غنیان ګرځولي دي ترڅو یې یو په بل باندې وآزمایي.

د دې ډول جواب یوه نظیر ته وړاندې په [الأنعام:۱۴۸] ایت کښې اشاره شوې ده، هیله ده چې د دې مقام د ښه وضاحت دپاره هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

دوهم: هغوی د غنیانو ورکړه د الله ﷻ د ورکړې څخه بېله ګڼله، حال دا چې د غنیانو ورکړه د الله ﷻ د ورکړې د صورتونو څخه یو صورت دی او بس.

درېم: د مشرکانو کلام صحیح وه، خو عقیده یې د کلام د مضمون سره موافقه نه وه. یا په بل عبارت: ذکر شوی جواب د منافقانو کلام ته ورته وه، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَٰفِقُونَ قَالُوا۟

---

(۱) البحر الوجیز ج۱۳ ص۲۰۴
(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۹
(۳) البحر المحیط ج۹ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ﴾ [المنافقون: ۱]

یعنې ای پیغمبره! کله چې تاته منافقان درشي نو وایي چې مونږ شهادت ورکوو چې ته ضرور د الله ﷻ پیغمبر یې؛ الله ﷻ پوهېږي چې ضرور ته د ده ﷻ پیغمبر یې، او الله ﷻ شهادت ورکوي چې یقیناً منافقان هرومرو دروغ ویونکي دي چې په ذکر شوي شهادت باندې عقیده نه لري.

ه: که څوک وایي چې: په ﴿ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ کښې په ﴿ أَنتُمْ ﴾ سره څوک مخاطب ګرځولي شوي دي؟

مونږ وایو چې: په ذکر شوي ضمیر کښې لاندې احتمالات صورت نیولی شي[۱]:

اول: په ذکرې شوې جمله کښې د الله ﷻ د پلوه د کفارو د جواب رد نازل شوی دی، یعنې ای کفارو! تاسو په دغه جواب کښې په څرګنده ګمراهۍ کښې یاست چې په فقیرانو او خپلوانو باندې انفاق کول بنه کار نه دی (وضاحت یې وړاندې تېر شو).

دوهم: په ذکرې شوې جملې سره د مؤمنانو د پلوه کفارو ته خطاب متوجه شوی دی چې: ای کفارو! تاسو د ذکر شوي جواب په هکله په غلطه لاره روان یاست.

دریم: ذکره شوې جمله د کفارو د جواب ورپوره کوونکې ده چې: ای مؤمنانو! تاسو چې مونږ ته د انفاق نصیحت کوئ نو تاسو په څرګنده ګمراهۍ کښې یاست.

په ذکرو شوو درېواړو صورتونو کښې دریم صورت متبادر برېښي، مونږ همدې صورت ته ترجیح ورکوو، والله ﷻ أعلم.

## اختصام څه معنی؟

۵_ په ﴿ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَخِصِّمُونَ ﴾ کلمه د "إِخْتِصَام" څخه اشتقاقه شوې ده، چې په اصل کښې "يَخْتَصِمُونَ" وه، "ت" په "ص" بدله شوه او په "ص" کښې مدغمه شوه، او بیا "خ" ته زېر ورکړې شو، نو "يَخِصِّمُونَ" ترې جوړه شوه.

"إِخْتِصَام" جګړې او په راکړه ورکړه کښې سختۍ کولو ته وایي، چې په دومره باندې یې راکړه او په دومره باندې یې واخله او داسې نور.

همدا مضمون په یوه اوږده حدیث کښې د بېر بنه روایت شوی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلَانِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا فَلَا يَتَبَايَعَانِهِ وَلَا يَطْوِيَانِهِ»[۲] یعنې د قیامت ورځ به په ناڅاپي ډول قائمه شي چې خلک به په خپلو معاملاتو باندې اخته وي او د هیچا په خیال کښې به نه ګرځي آن تر دې چې خامخا او ضرور به په داسې حال کښې قیامت قائم شي چې دوه سړیو به یوه جامه په خپل منځکښې د پلورلو او پېرودلو دپاره خوره کړې وي، نو دوی دواړو به بیعه نه وي فیصله کړې او جامه به یې نه وي راتاوه کړې چې قیامت به قائم شي او دواړه به سمدستي مړه شي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۳۷
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکر شوي حدیث سره متشابه مضمون د احادیثو په نورو کتابونو کښې هم روایت شوی دی[۱].

## أجْداث څه معنی؟

۶_ په ﴿ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلْأَجْدَاثِ ﴾ کښې د "أجْدَاث" کلمه د "جَدَث" _لکه "شَرَف"_ جمعه ده، "جَدَث" د قبر معنی ورکوي[۲]، چې په دې مقام کښې ترې هغه ځایونه مطلب دي په کومو کښې چې د خلکو د بدنونو خاورې شندلې شوې وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنبیاء:۹۶] ایت لاندې لیکلي دي چې: د ﴿ يَنسِلُونَ ﴾ کلمه د "نَسْل" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ځغاستلو معنی ورکوي.

نو حاصل یې داسې راخېژي چې: په شپېلۍ کښې چې دوهم ځل پوکی وکړی شي، نو په ناڅاپي توګه به ټول خلک د خپلو قبرونو څخه خپل رب ﷻ ته د حشر میدان ته ورځغلي.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې په بل ایت کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ ﴾ [الزمر:۶۸] یعنې بیا به په شپېلۍ کښې بل پوکی وکړی شي نو ناڅاپه به ټول خلک ولاړ وي او ګوري به چې څه کېږي. نو پوښتنه دا ده چې: د ځغاستلو او قیام کولو ترمنځ خو منافات دی، ولاړ سړی خو منډې وهونکی نه وي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو[۳] ذکر شوی سوال داسې جواب کړی دی چې د ځغاستلو او درېدلو دواړه زمانې ډېرې نژدې دي نو دواړه یوه زمانه ګڼلې شوې ده. یعنې د دوهمې شپېلۍ سره سم به ځغاستل او د حشر په میدان کښې درېدل دواړه صورت نیسي. مګر مونږ ته داسې ښکاري _والله ﷻ اعلم_ چې په ﴿ قِيَامٌ يَنظُرُونَ ﴾ کښې ځای په ځای درېدل مطلب نه دي، ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې دلته د قبرونو څخه راپاڅېدل مراد دي.

یا په بل عبارت: په دوهمه شپېلۍ باندې دوه حالتونه صورت نیسي، یو د قبرونو څخه راپاڅېدل او بل د حشر میدان ته ځغاستل، نو په یوه ایت کښې یوه ته اشاره شوې ده او په بل ایت کښې د بل حالت ذکر نازل شوی دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وایي چې: په ﴿ مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ﴾ کښې د "مَرْقَد" کلمه د "رَقد" _لکه "ضَرْب"_ یا د "رُقَاد" _لکه "لُعَاب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او "رَقد، رُقَاد" د خوب معنی ورکوي[۴]. نو باید چې

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۳؛ صحیح مسلم ج۲ ص۴۰۳؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۶۸
(۲) لسان العرب ج۲ ص۱۲۸
(۳) روح المعاني ج۲۳ ص۳۲؛ البحر المحیط ج۹ ص۳۷
(۴) لسان العرب ج۳ ص۱۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مضمون یې داسې راوخېژي چې: قبرونه د خوب او بې غمۍ ځایونه دي او برزخي عذاب موجودیت نه لري. حال دا چې دا ډول مضمون صحیح نه دی؟!

مونږ وایو چې: دغې پوښتنې ته علماوو کرامو ډېر جوابونه کړي[1]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: د لومړنۍ شپېلۍ څخه وروسته تر دوهمې شپېلۍ پورې به د اهل القبورو څخه عذاب القبر (برزخي عذاب) پورته شي نو د هر چا دپاره به خپل قبر ارامګاه وګرځي.

که دغه روایت علماوو کرامو ضعیف الاسناد نه وی ګڼلی نو بل هیڅ جواب ته به حاجت نه وی پاتې شوی، خو دوی یې ضعیف ګڼي[2].

ب: دلته د "مَرْقَد" کلمه د تجرید په بنیاد فقط د اړخ په لګولو باندې دلالت کوي، او د ارامۍ مفهوم ورسره نشته چې اعتراض وارد شي.

ج: کفار به د قیامت د نورو عذابونو په نسبت په قبرونو باندې (د عذابونو سره- سره) د ارامګاوو اطلاق وکړي.

د: هغوی به څکه خپلو قبرونو ته ذکر شوی لقب ورکړي چې هغوی پکښې اختیاري کارونه نه شوه کولی، لکه راکړه ورکړه او نور، نه دا چې هلته عذاب نه وه.

ه: بالآخره څرنګه چې کفار په دنیا کښې عادت دي چې قبرونو ته د دائمي ارامتیا د ځایونو لقب ورکوي، نو د همدغه عادت په مطابق به د قیامت په ورځ هم خپل قبرونه په همدغه نامه وبولي.

## تبصره

۹ـ زمونږ په خیال ــ والله ﷻ أعلم ـ ذکرو شوو جوابونو ته هیڅ اړتیا نشته څکه چې الله ﷻ په ایت شریف کښې د کفارو قول راحکایت کړی دی، او مونږ څه مجبوریت نه لرو چې د هغوی دروغژنو هرې خبرې ته د واقع په مطابق مفهوم مونده کړو، ترڅو د هغوی خبره ربښتیانې مصداق پیدا کړي. دا د یو پلوه، او د بله پلوه کفار خو هغه خلک دي چې د ډېرې وارخطایۍ د کبله به د دنیا په تول عمر باندې د یوې ورځې یا نیمې ورځې نوم کېږدي. او همدارنګه د قیامت په ورځ به په خپل کفر او شرک باندې انکاري شي او په سوګند سره به ووایي چې هیڅکله مونږ کفر نه دی اختیار کړی. نو که د ډېرې اوترۍ د کبله په خپلو قبرونو باندې د عذابونو سره-سره د ارامګاوو اطلاق وکړي څه باک یې دی او جواب ته یې څه اړتیا ده؟

## یادونې

لاندې یادونې په یاد کښې وساتلې شي:

۱۰ـ په دې مقام کښې باید لاندې یادونې په یاد کښې د ... ﴿مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ﴾ [یس:۴۸] دا د ببېرته راژوندي کېدلو

الف: په دنیا کښې کفار وایي چې: ﴿مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ﴾ [یس:۴۸] دا د بېرته راژوندي کېدلو

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۳۲؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۱۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۷۴

(۲) البحر المحیط ج۹ ص۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وعده به کله رښتیا شي؟

د قیامت په ورځ به د تخجیل دپاره ورته وویلی شي چې: ﴿ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ [يس:۵۲] يعني دغه هغه ورځ ده چې ډېر مهربان الله ﷻ يې وعده کړې وه، او پیغمبرانو درته په رښتیا دعوت چلولی وه، خو تاسو ورباندې باور او یقین نه کاوه.

ب: په دې ایتونو کښې د قیامت د ورځې د شپېلۍ وهل دوه ځلې ذکر دي چې:

اول: په ﴿ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ ﴾ الآية- کښې لومړي ځل وهلو ته اشاره ده چې ټول خلک به مړه شي.

دوهم: او په ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ﴾ الآية- کښې په دوهم ځل وهلو باندې صراحت شوی دی چې ټول به بېرته راژوندي شي.

پاتې شوه دا خبره چې شپېلۍ وهل به همدا دوه کرته صورت ونیسي او که متعدد صورتونه به ولري؟، نو په دې باره کښې به ان شاء الله ﷻ د [الزمر:۶۸] ایت لاندې څه تحقیق وکړو، الله ﷻ دې توفیق راکړي.

﴿ إِنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ ٱلۡيَوۡمَ فِي شُغُلٖ فَٰكِهُونَ ﴿٥٥﴾ هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ﴿٥٦﴾ لَهُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴿٥٧﴾ سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ﴿٥٨﴾ وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٥٩﴾ أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٦١﴾ وَلَقَدۡ أَضَلَّ مِنكُمۡ جِبِلّٗا كَثِيرًاۖ أَفَلَمۡ تَكُونُواْ تَعۡقِلُونَ ﴿٦٢﴾ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱصۡلَوۡهَا ٱلۡيَوۡمَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿٦٤﴾ ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٦٥﴾ ﴾

[۵۵] یقینًا په دغې ورځ کښې به د جنت (دائمي) ملګري په عظیم الشان مشغولیت کښې ډېر خوشاله وي.

[۵۶] جنتیان او د دوی جوړې (مېرمنې) به په ګڼو سورو کښې وي (او) په تختونو باندې به تکیا وهونکي (ناست) وي.

[۵۷] دوی لره به په جنت کښې (هر ډول) میوجات وي، او هم به ورته هغه شیان وي کوم چې دوی یې غوښتنه کوي (او اشتهاء یې ورته وشي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۸] (جنتيانو ته به هلته) داسې سلام (وي) چې د ډېر مهربان رب ﷻ د پلوه (به ورته ويلى كېږي) ويل.

[۵۹] (په دغې ورځ كښې به وويلى شي چې) اى مجرمانو (كافرانو)! نن ورځ تاسو (د مؤمنانو څخه په دائمي توګه) جدا شئ. (او دا څكه چې):

[۶۰] ايا مونږ تاسو ته اى بنيادمانو! حكم (او توصيه) نه وه كړې چې: تاسو د شيطان عبادت (او اطاعت) مه كوئ، يقينًا شيطان ستاسو ښكاره (او پخواني پلارني) دښمن دى؟

[۶۱] او (دا مو درته نه وه توصيه كړې) چې خاص زما عبادت وكړئ، دغه برابره لاره ده (نه هغه لاره چې شيطان يې درته په ګوته كوي).

[۶۲] (نو تاسو زما خبره ونه منله) او يقينًا شيطان ستاسو د جملې څخه زښت ډېر تولګي بې لارې (او ګمراه) كړه.

نو ايا تاسو (په دنيا كښې) نه وئ چې عقل مو كارولى وى (او خپل دښمن مو پېژاندلى وى)؟.

[۶۳] دغه (ستاسو په وړاندې) هغه دوزخ دى چې ستاسو سره يې وعده كېدله (دا حقه وعده وه او د شيطان وعدې دروغې وې).

[۶۴] تاسو نن ورځ همدغه دوزخ ته په دې سبب ورداخل شئ چې تاسو (په دنيا كښې) وئ چې (د مرګ تر ورځې پورې) مو كفر غوره كړى وه.

[۶۵] (اى پيغمبره!) په دغې ورځ كښې به مونږ د كفارو په خولو باندې مهرونه ولګوو، او زمونږ سره به يې لاسونه خبرې وكړي (او اعتراف او اقرار به وكړي)، او د دوى پښې به په هغو جنايتونو شهادت وركړي كوم چې دوى وه چې (په دنيا كښې) به يې كسب كول.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونه مضمون په دې تمام شوي وه چې د قيامت په ورځ به هر چاته د خپلو كړو وړو بدله پوره وركړى شي، په دې ايتونو كښې همدغه مضمون تعقيب شوى دى چې د جنتيانو او دوزخيانو په حالاتو باندې څه رڼا اچولې شوې ده. نو حاصل يې داسې راځېږي:

اى پيغمبره! اوس په خپل أمت باندې د پوره بدلې څه مثالونه قرائت كړه چې:

۱ ـ يقينًا د جنت دائمي اوسېدونكي به په دغې ورځ كښې په يوه عظيم الشان شغل كښې مشغول وي چې په دنيا كښې ورباندې څوک احاطه نه شي كولى. د همدغې مشغولتيا څه مثالونه دا دي:

الف: جنتيان به هلته همېشه خوشاله وي او د هيڅ ډول غم او اندېښنې سره به نه مخامخ كېږي.

ب: د دوى او د دوى مېرمنې (جوړې) به په ګڼو سورو كښې سكونت لري، او په دې باندې علاوه هلته به په تختونو باندې ناست او تكيه وهونكي وي او خبرې اترې به كوي.

ج: همدوى لره به په جنت كښې رنګارنګ ميوجات وي او د هيڅ مېوې كمي به نه وي.

د: لنډه دا چې جنتيانو ته به هلته هغه ټول شيان تيار وي او د دوى په قابو كښې به وي كوم چې دوى يې د خپلو خانونو دپاره غواړي او يا يې په زړونو كښې وګرځي راوګرځي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یس (۳۶)
ه: برسېره په دغو مادي نعمتونو باندې به هلته جنتیانو ته روحي نعمتونه هم ورکړی شي. مثلاً هلته به ورته د خپل ډېر مهربان رب ﷻ د پلوه سلام استولی کېږي، چې په تاسو باندې دې سلام وي تاسو به په دائمي توګه دلته د هر ډول آفت او ضرر څخه په سلامتیا کښې یاست.

و: په دې باندې علاوه پرښتې به هم ورباندې ورداخلېږي او سلامونه به ورباندې اچوي او په خپلو منځو کښې به هم یو تربله د سلام کلمات تبادله کوي، او چتې او اپلتې خبرې به نه اورې.

۲_ بالمقابل د مجرمانو او کفارو حال به داسې وي چې:

الف: هغوی ته به امر وکړی شي چې: ای مجرمانو! نن ورځ تاسو د مؤمنانو څخه په دائمي توګه جدا شئ چې ستاسو حال د هغوی د حال څخه جدا دی. دا د آخرت ورځ ده، دا دنیا نه ده چې تاسو به هلته خلط ملط اوسېدلئ، تاسو د دې لایق نه یاست چې د هغوی ترڅنګ دمه جوړه کړئ. دا ځکه چې:

ب: ای کفارو! ایا په دنیا کښې ما تاسو ته کلک حکم نه وه کړی او داسې خطاب مې درته نه وو رسولی چې:

اول: ای بنیادمانو! تاسو د خپل پلار (آدم ﷺ) حال په نظر کښې ونیسئ او د شیطان عبادت او پیروي مه کوئ، چې یقیناً نوموړی ستاسو ښکاره پلرنی دښمن دی، چې ستاسو په پلار باندې یې صرفه نه ده کړې نو په تاسو به څه صرفه وکړي.

دوهم: ای بنیادمانو! تاسو فقط زما عبادت وکړئ او بس، چې همدا مستقیمه لاره ده، په نورو لارو باندې لاړ نه شئ چې خپل ځانونه به هلاک کړئ.

ج: خو تاسو زما حکم ونه مانه او زما توصیه مو د پښو لاندې کړه چې خپل دښمن مو په دوستۍ سره ونیو.

د: نو د همدې کبله نوموړي په یقین سره ستاسو د جملې څخه زښت ډېر بې لارې کړه چې تاسو ټول هم د همدغې جملې څخه شمېرل کېږئ.

ه: نن ورځ ستاسو عقل سر ته درغی او دوست او دښمن مو بې وخته وپېژاند، خو دا پېژاندنه تاسو ته هیڅ ګټه نه شي رسولی. یا په بل عبارت: ایا نو تاسو په دنیا کښې نه وئ چې د عقل څخه مو کار اخستی وی او د پاخه دښمن خبره مو نه وی منلې.

و: ای مجرمانو! دا چې نن ورځ ستاسو تر سترګو لاندې دی هغه دوزخ دی چې په دنیا کښې یې ستاسو سره د بغاوت په صورت کښې وعده کړی شوې وه، د الله ﷻ وعده رښتیا ده.

ز: نو نن ورځ تاسو د خپلو کفریاتو مزه وڅکئ او وعده کړی شوي دوزخ ته د هغو شرکیاتو او کفریاتو په سبب ورداخل شئ په کومو باندې چې تاسو په دنیا کښې د مرګ تر وخته پورې کلک ولاړ وئ او پیغمبران مو دروغژن ګڼل.

ح: ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به کفار د خپلو کفریاتو څخه انکاري شي او په سوګند سره به ووایي چې مونږ په دنیا کښې مشرکان او کافران نه وو.

خو مونږ به یې په خولو باندې مهر ولګوو چې اختیاري خبرې به نه شي کولی. او زمونږ سره به د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی لاسونه خبري وکړي او په کفریاتو باندې به یې اقرار وکړي، همدارنګه به په همدغه اقرار باندې د دوی پښې شهادت ورکړي چې "هو" دغو کافرانو په دنیا کښې د کفریاتو او شرکیاتو کسب کړی وه او انکار یې غلط دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ إِنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ٱلْيَوْمَ فِى شُغُلٍ فَٰكِهُونَ ﴾ کښې د ﴿ شُغُلٍ ﴾ د کلمې تنوین د تعظیم دپاره دی. یعنې جنتیان به په یوه عظیم الشان شُغل کښې وي چې په دنیا کښې یې څوک تصور نه شي کولی.

شاید چې همدغه شُغل ته به الله ﷻ په قدسي حدیث کښې اشاره کړې وي چې: «أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ»[۱] یعنې ما د خپلو صالحو بندګانو دپاره هغه نعمتونه تیار کړي دي کوم چې نه سترګې لیدلي دي او نه غوږ اورېدلي دي او نه د کوم بنیادم په زړه باندې تېر شوي دي.

او شاید چې دغه مزه ناک شُغل به د دې دپاره د جنتیانو په صفاتو کښې ذکر شوی وي ترڅو د چا خیال ته ورنه شي چې هلته به جنتیان د بې کارۍ څخه په تنګ وي لکه چې په دنیا کښې بې کاري یو عذاب دی او سړی پکښې خپه کېږي.

او د ﴿ فَٰكِهُونَ ﴾ کلمه د "فُكَاهَة" ـ لکه "خُرَافَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "فُكَاهَة" توکو ټکالو ته وایي[۲]، چې خوشالي ورسره لازمه ده، د همدې کبله ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په خوشالېدونکو سره تفسیره کړې ده[۳].

## یادونه

۲ـ په ﴿ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ﴾ کښې د "أَرَائِك" کلمه د "أَرِيكَة" جمعه ده، چې د [الکهف: ۳۱] ایت لاندې تحلیله شوې ده؛ او د ﴿ مُتَّكِـُٔونَ ﴾ کلمه د "إِتِّكَاء" څخه اخستلې شوې ده، چې د [یوسف: ۳۱] ایت لاندې تفسیره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا تحلیلولو او تفسیرولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

## صرفي تحلیل

۳ـ په ﴿ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَدَّعُونَ ﴾ کلمه په اصل کښې "يَدْتَعِيُون" ـ لکه "يَكْتَسِبُونَ" ـ وه، نو "ت" په "د" بدله شوه او اصلي "د" پکښې ادغام شو، او همدارنګه "ي" حذفه شوه او پېښ یې "ع" ته د هغه د اسکان څخه وروسته انتقال شو، نو "يَدَّعُونَ" ترې جوړه شوه چې مصدر یې "إِدِّعَاء" لوستل کېږي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۴

(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۵۲۴

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د "اِدّعَاء" معنی خو دا ده چې سړی په بل چا باندې د یوه شي غوښتـونکی وګرځي، برابره خبره ده چې غوښتل یې په حقه وي او که په باطله(۱)، نو په کار دي چې د ﴿ يَدَّعُونَ ﴾ د کلمې معنی داسې راوخېژي چې: جنتیانو ته به په جنت کښې هغه څه وي کوم چې دوی په بل چا باندې دعوه وکړي او ترې ویې غواړي. یا په بل عبارت، فیصله به د همدوی په ګټه صورت نیسي، حال دا چې دا مطلوبه معنی نه ده؟

مونږ وایو چې: دلته د "اِفْتِعَال" باب د مجردو (دَعی) په معنی سره دی چې فقط په غوښتلو او یو شي ته د اشتهاء کېدلو په معنی سره ترجمه کېدلی شي.

او د "اِفْتِعَال" باب خو دخپلو مجردو په معنی سره استعمالېږي د همدې کبله د "شَوَى الرَّجُلـ اِشْتَوَى" دواړو یوه معنی ده(۲)، چې یو سړي غوښه کباب کړي وه.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: جنتیانو لره به هلته هغه څه وي کوم چې دوی یې د خپلو ځانونو دپاره غواړي او کومو ته چې د دوی اشتهاء راځي.

همدا مضمون په بل ایت کښې په صراحت سره نازل شوی دی چې: ﴿ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ ﴾ [الزخرف:۷۱] یعنې او جنتیانو ته به هلته هغه شیان وي کومو ته چې د دوی د نفسونو اشتهاء راځي او په کومو باندې چې د دوی سترګې خوږېږي.

## یو نحوي تحلیل

۵_ په ﴿ سَلَٰمٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ ﴾ کښې علماوو کرامو د اعراب په لحاظ متعدد تحلیلونه کړي دي(۳)، کوم تحلیل چې مونږ غوره کړی دی هغه په لاندې ټکو ولاړ دی:

الف: د ﴿ سَلَٰمٌ ﴾ کلمه موصوفه مبتدأ ده.

ب: د ﴿ قَوْلًا ﴾ کلمه د مقدر "يُقَالُ" دپاره مفعول مطلق ده، دغه مقدر فعل د خپلو ټولو متعلقاتو سره د ﴿ سَلَٰمٌ ﴾ دپاره صفت دی.

ج: د مبتدأ خبر مقدر دی چې په "لَهُمْ" سره ترې تعبیر کولی شو، نو حاصل یې داسې راخېژي چې: جنتیانو ته په جنت کښې داسې سلام هم ثابت دی چې د ډېر مهربان رب ﷻ د پلوه به ورته ویل کېږي. اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا سَلَامَكَ يَا سَلَام.

ذکر شوی مضمون په [الأحزاب:۴۴] ایت کښې په صراحت سره نازل شوی دی.

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۲۶۱: القاموس المحیط ج۲ ص۸۸

(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۲۲

(۳) روح المعاني ج۲۳ ص۳۷: البحر المحیط ج۹ ص۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونې

۶ په دې مقام کښې لاندې یادونې په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: که څه هم علماوو کرامو د ﴿ وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾ تفسیر داسې کړی دی چې د قیامت په ورځ به کفار مخاطب کړی شي چې ګمراه ډلې دې یوه د بلې څخه جدا شي او همدارنګه هر یو کافر به د بل څخه بېل کړی شي چې نه به یې بل کافر ګوري او نه به یې بل کافر د نظر لاندې راځي او ابد الآباد به یوازې او تنها وي[1]، العیاذ بالله ﷻ.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د ایت شریف معنی به دا وي چې ای مجرمانو! تاسو نن ورځ د مؤمنانو څخه جدا شئ چې بیا به ورسره هیڅکله خلط ملط نه کړی شئ. مونږ ته څکه دغه معنی بهتره برېښي چې په [الروم:۴۳] ایت کښې وړباندې صراحت نازل شوی دی.

ب: په ﴿ وَلَقَدۡ أَضَلَّ مِنكُمۡ جِبِلّٗا كَثِيرًا ﴾ کښې د "جبل" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الشعراء:۱۸۴] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د ټولګي او جماعت معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې وړباندې لاندې ټکي وراضافه کوو:

اول: هلته وړیوري د "ة" توری پیوسته شوی وه، او دلته بدون د "ة" د توري نازله شوې ده، او د لغت کتابونه وايي چې: "جبلّة، جبل" دواړه د خلکو ټولګي ته وضعه شوې دي[2].

دوهم: څرنګه چې دلته د ﴿ جِبِلّٗا ﴾ کلمه د ﴿ كَثِيرًا ﴾ په کلمې سره موصوفه شوې ده، نو باید چې په زښتو ډېرو ټولګیو دلالت وکړي، او د کفارو (ګمراهانو) مختلفو ډلو ته شامله وګڼله شي.

یعنې د قیامت په ورځ به کفار مخاطب کړی شي چې تاسو په دنیا کښې د الله ﷻ توصیه د پښو لاندې کړې وه چې د شیطان د ګمراه کولو څخه خپل ځانونه بچ وساتئ، نو د همدې کبله هغه ـ علیه اللعنة ـ ستاسو (بنیادمانو) د جملې څخه زښتې ډېرې ډلې په مختلفو نومونو باندې بې لارې کړې دي، نو نن ورځ د اعتذار کولو لیاقت نه لرئ.

## څو نکات

۷ـ په ﴿ ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ ﴾ الآیة کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ نَخۡتِمُ ﴾ کلمه د "ختم" څخه اشتقاقه شوې ده، چې مهر لګولو معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې لاندې معناوې درلودلی شي[3]:

اول: د قیامت په ورځ به د کفارو په خولو حقیقتاً مهر ولګولی شي.

دوهم: دلته "ختم" د عدم تکلم څخه کنایې دی چې د کفارو ژبې به هلته اختیاري خبرې ونه کړی شي او د هغو د واکه به ووځي.

---

[1] تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۴٦؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱٦ ص۲۵۰
[2] لسان العرب ج۱۱ ص۹۸
[3] روح المعاني ج۲۳ ص۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم ذکرې شوې دواړه معناوې په اصل مطلب باندې څه اثر نه غورزوي، مګر د قرآن کریم د الفاظو سره اولنی معنی ډېره ښه مناسبه برېښي.

ب: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې دلاسونو اخبار په "تُكَلِّمُنَا" سره تعبیر شو او د پښو اخبار ته په "تَشْهَدُ" کښې د شهادت لقب ورکړی شو، حال دا چې لاسونه او پښې دواړه د ناظرانو حیثیت لري، نه د جنایتکارانو؟

مونږ وايو چې لاسونو ته د جنایت د ارتکاب نسبت ډېر کېږي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ﴾ [الشورى: ۳۰] یعنې هر شی چې تاسو ته رسېږي، هر مصیبت چې وي، نو هغه ستاسو د لاسونو د کسب په سبب سره صورت نیسي.

نو د لاسونو اخبار اقرار او اعتراف ته ورته دی، نه شهادت ته، اما پښو ته د جنایتونو نسبت نه کېږي مګر په ندرت سره، نو اخبار یې په شهادت سره تعبیر شو، چې شاهد همېشه د جنایتکار څخه غیر وي، او د ارتکاب په صحنه کښې حاضر وي.

ج: د اندامونو د شهادت په ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [النور:۲۴] ایت لاندې څه تحقیقي مضمون تېر شوی دی چې د دې مقام سره ښه قوي تړاو لري خو دلته ورباندې لاندې احادیث وراضافه کوو:

اول: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د زنانه وو یو ټولګی مخاطب کړ چې: «عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّقْدِيسِ وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسَيْنَ الرَّحْمَةَ»(۱) یعنې ای د زنانه وو ټولګیه! تاسو د الهي تسبیح او تهلیل او هم د تقدیس سره ملازمت وکړئ، او د ګوتو په څوکو (سرونو) باندې یې غوټه کړئ (وشمېرئ)، او دا ځکه چې همدغه د ګوتو سرونه هم پوښتنه کړی شوي دي او د قیامت په ورځ د استنطاق لاندې نیولی شوي دي، او تاسو غفلت مه کوئ (چې الهي ذکر ونه کړئ) نو تاسو به د الله ﷻ د رحمت څخه هېرې کړی شئ (پرېښودلی شئ).

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ أَوَّلَ عَظْمٍ مِنَ الْإِنْسَانِ يَتَكَلَّمُ يَوْمَ يُخْتَمُ عَلَى الْأَفْوَاهِ فَخِذُهُ مِنَ الرِّجْلِ الشِّمَالِ»(۲) یعنې یقینًا د بنیادم څخه اولنی هډوکی چې په هغې ورځ خبرې کوي په کومه ورځ چې په خولو باندې مهر ولګولی شي، هغه یې د چپې پښې ورون دی.

درېیم: همدارنګه نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَإِنَّ أَوَّلَ مَا يَتَكَلَّمُ مِنَ الْآدَمِيِّ فَخِذُهُ وَكَفُّهُ»(۳) یعنې او لومړنی هغه شی چې د بنیادم څخه خبرې کوي هغه یې ورون او ورغوی دی.

﴿وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰٓ أَعْيُنِهِمْ فَٱسْتَبَقُوا۟ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَآءُ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۹
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۱۳۴
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَمَسَخْنَٰهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ فَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَن نُّعَمِّرْهُ
نُنَكِّسْهُ فِى ٱلْخَلْقِ ۖ أَفَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ
وَقُرْءَانٌ مُّبِينٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٠﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا
خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنَٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ
وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَمَشَارِبُ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

[۶۶] او که زمونږ اراده وشي نو د کفارو په سترګو باندې به زوال ورنازل کړو (او نظر به يې بالکل محوه کړو)، نو دوی به (بيا) لارې ته وړاندې کېږي (چې ورباندې لاړ شي) نو دوی به (په دغه صورت کښې) څنګه ليدل وکړي؟

[۶۷] او که زمونږ اراده وشي نو مونږ به کفار په خپلو ځايونو باندې (ځای په ځای) مسخه کړو (مثلاً کاڼي به ترې جوړ کړو)، نو دوی به (بيا) د (وړاندې) تللو توان ونه لري او نه به دوی بېرته (خپلو کورونو ته) ورستانه شي.

[۶۸] او هر چا ته چې مونږ اوږد عمر ورکړو نو هغه په پيدايښت کښې سرچپه کوو (بېرته يې د أرذل العمر کمزورې حال ته ورتاوه وو)، ايا نو دوی د عقل څخه کار نه اخلي؟ (چې يقيناً مونږ په بيا ژوندي کولو باندې هم کامل قدرت لرو).

[۶۹] او مونږ پيغمبر ﷺ ته د شعر جوړول نه دي ښودلي او نه ورته دا کار مناسب دی، (نو په همدې بنياد) دا (کتاب) نه دی مګر (سراسري) پند دی، او (د الله ﷻ د پلوه) څرګند لوستلی شوی (کتاب) دی.

[۷۰] (البته دا) د دې دپاره چې دا (قرآن يا پيغمبر) هغه څوک (د الله ﷻ د عذابه) وډار کړي کوم چې ژوندی وي (ويښ زړه ولري)، او (هم د دې دپاره) چې په کفارو باندې (د عذاب) خبره په اثبات ورسېږي (چې د قيامت په ورځ اعتذار وړاندې نه کړی شي).

[۷۱] او ايا خلک دې ته نه ګوري چې يقيناً مونږ ورته د هغو (مخلوقاتو) څخه څاروي پيدا کړي دي کوم چې (فقط) زمونږ (بلا کيفه) لاسونو جوړ کړي دي، نو دوی همدغو څارويو ته مالکان دي (او هر ډول تصرف پکښې کوي).

[۷۲] او مونږ دا (څاروي) خلکو ته ذليل (امر منونکي) ګرځولي دي: نو ځينې ورته سورلۍ دي (چې ورباندې سورېږي) او د ځينو څخه (غوښې) خوري (او په ځينو باندې دواړه کارونه اجراء کوي).

[۷۳] او خلکو ته په څارويو کښې د ګټو ډېر شيان دي او (هم ورته) د څښکلو ډېر شيان دي (لکه شوده او ماسته او نور). ايا نو دوی شکر نه کوي؟ (چې د توحيد عقيده خپله کړي او د کفرياتو څخه لاس واخلي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دغو ایتونو کښې هغه اشتباه جوابه شوې ده کومه چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د وروستني متصل ایت څخه عنادي کفارو پورته کولی شوه ترڅو ورباندې عوام وغولوي او خپل باطل خط السیر ته د تصحیح په غرض د ختیو پوزه کېږدي، هغه دا چې:

که بالفرض د قیامت قیام رښتیا شي او خلک د قبرونو څخه را اوچت کړی شي نو شي به، خو دا هیڅکله نه شي کېدلی چې ژبه ودرېږي او په عوض یې لاسونه او پښې خبرې وکړي، دا ډول فکر محض شاعرانه تخیل دی او څه واقعیت نه شي موندلی، نو د همدې ډول فکر څخه څرګنده شوه چې قرآن شعري کلام دی او محمد ـ چې خپل ځان ته د پیغمبر لقب ورکوي ـ د یوه پوه او ذکي شاعر څخه په غیر بل څوک نه دی.

نو د اشتباه د جوابولو خلاصه یې داسې راخېژي چې: ای پیغمبره! د دې دپاره چې د قیامت په ورځ د اندامونو خبرې کول او د ژبو درېدل د خلکو اذهانو ته ورنژدې شي او عنادي کفار ورباندې د شاعرانه تخیلاتو نوم کښېنږدي؛ په خپل امت باندې لاندې دلایل قرائت کړه:

۱ ـ د اندامونو څخه چې په دنیا کښې کومې ګټې اخستلې کېږي هغه زمونږ په اراده صورت نیسي، هسې نه چې د هغو ذاتي صفات دي. د مثال په توګه:

الف: که زمونږ اراده وشي نو مونږ به په دنیا کښې د کفارو په سترګو زوال ورښکته کړو او د لیدلو قوت به ترې بالکل واخلو، نو په دغه وخت کښې به دوی لارې ته وروراندې کېږي چې ورباندې تېر شي، نو لیدل به څنګه وکړي چې مونږ ترې د لیدلو قوت اخستی وي؟.

ب: همدارنګه د نورو اندامونو واک او اختیار هم زمونږ په اختیار کښې دی، نو که زمونږ اراده وشي مونږ به کفار مسخه کړو چې لاسونه به یې نیول ونه شي کړی او پښې به یې د حرکت څخه ولوېږي بلکې ځای په ځای به ولاړ وګرځي، چې نه به د وړاندې تېرېدلو توان ولري او نه د بېرته ستنېدلو.

نو د دغسې کامل قدرت سره که د قیامت په ورځ مونږ لاسونو او پښو ته د نطق کولو توان ورکړو او د ژبې څخه د څه وخت دپاره نطقي قوت واخلو نو په دې کښې څه لرېوالی دی؟ بلکې په دنیا کښې هم اندامونو ته د نطق توان ورکولی شو، چې د ژبې په عوض وګړېږي او خبرې وکړي.

ج: د ښه وضاحت دپاره د زړو بنیادمانو اندامونه د نظره تېر کړئ چې مونږ یې څنګه په تدریج سره د استفادې څخه غورزوو. یا په بل عبارت: هر چا ته چې مونږ اوږد عمر ورکړو نو مونږ د هغه پیدایښت سرچپه کوو، چې سترګې یې د لیدلو څخه پاتې کېږي او پښې یې د ماشومتوب غونډې مزل نه شي کولی او داسې نور.

ایا نو تاسو اوس هم د عقل څخه کار نه اخلئ ترڅو پوه شئ چې د اندامونو ګټې وټې د هغو ذاتي صفات نه دي بلکې د الله ﷻ د کامل قدرت په ولکه کښې قرار لري او بس.

۲ ـ د ذکر شوي بیان په بنیاد د قیامت په ورځ د پښو او لاسونو او نورو اندامونو اخبار او شهادت واقعیات دي او شاعرانه تخیلات نه دي ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: مونږ خپل پیغمبر (محمد ﷺ) ته د شعر ویل نه دي ښودلي، د ده ﷺ سلیقه مو د شعر ویلو دپاره مساعده نه ده پیدا کړې، بلکې د ده ﷺ د شان سره هم د شعر جوړول مناسبت نه لري ځکه چې شعر په تخیلاتو ولاړ وي او د ده ﷺ کلام سراسري حقایق او واقعیات دي.

ب: د پیغمبر ﷺ کلام (وینا) د خلکو دپاره پند او عبرت دی او کوم څرګند کتاب چې ورته ورکړې شوی دې هغه ورباندې واقعًا د الله ﷻ د پلوه قرائت شوی دی. چې د اعجاز د کبله خپل واقعیت پخپله په اثبات رسوي.

ج: مونږ خپل پیغمبر ﷺ ته د دې دپاره قرآن کریم ورنازل کړی دی چې

اول: ترڅو هغه څوک د الله ﷻ د عذابه او د قیامت د ورځې څخه وډار کړې کوم چې ژوندي وي او د نېکیو استعداد یې د لاسه نه وي ورکړی، بلکې حقائقو پسې تاند وهي او عناد نه وي نیولي.

دوهم: بل د دې دپاره چې په کفارو باندې د عذاب خبره په اثبات ورسېږي او د قیامت په ورځ اعتذار وړاندې نه کړی شي، چې: ای ربه! تا خو به مونږ ته کتاب نازل کړی وی چې مونږ یې پیروي کړې وی او د ذلت سره نه وی مخامخ شوي.

۳_ ای پیغمبره! مونږ بنیادم په ځمکه کښې خلیفه ګرځولی دی چې په وچه او لمده کښې سور ګرځي، او په خپلو ډېرو مخلوقاتو باندې مو ورته کرامت ورکړی دی. مثلاً:

الف: بنیادم ته مو داسې اندامونه او عقل ورکړی دی کوم چې د خلافت سره مناسب دي، خو د دې سره-سره د هغه اندامونه د جاسوسانو مثال لري چې د قیامت په ورځ به یې په ټولو کړو وړو باندې شهادت ورکوي.

ب: ایا بنیادمان دې ته نه ګوري چې مونږ د دوی دپاره هغه څاروي پیدا کړي دي کوم چې یوازې زمونږ بلا کیفه لاسونو جوړ کړي دي او د دوی لاسونو پکښې نه هیڅ اشتراک کړی دی اونه یې پکښې کولی شي.

خو د دې سره-سره مونږ ذکر شوي څاروي (خپل مخلوق) د بنیادمانو دپاره ملکیت ګرځولی دی چې روزمره پکښې مالکانه تصرف کوي (پلورل او پېرودل یې د همدوی په اختیار کښې دي).

ج: لکه څنګه مو چې بنیادمانو ته د هغوی اندامونه تابع ګرځولي دي همدارنګه مو ورته څاروي، هم فرمان منونکي جوړ کړي دي، چې ټول کړه وړه یې د هغوی په اراده باندې څرخېږي.

نو د همدې کبله په ځینو باندې سورېږي او خپل درانه سامانونه ورباندې د یوه ځای څخه بل ځای ته انتقالوي، ځینې ذبحه کوي او غوښې یې خوري، د ځینو نورو څخه لا دواړه ډوله استفادې کوي او بالآخره د ځینو ژویو څخه لا نور کارونه اخلي.

د: په دې باندې علاوه بنیادمانو ته مو په څارویو کښې زښتې ډېر ګټې وټې نغښتې دي. د مثال په توګه:

اول: د پوستکو، هډوکو، وړیو او وچغنو څخه یې ګټې پورته کوي، او داسې نور.

دوهم: ځینې څاروي مو ورته داسې ګرځولي دي چې د شودو څخه یې خوري او ځینې حال دا چې

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



همدغه تک سپين خواږه شوده مو ورته د سرو وينو او بد بويه لېرشنو د منځه راويستلي دي.

ه ايا نو انسان اوس هم زمونږ د عجيبه نعمتونو شکريه نه کوي؟ دوی ته په کار دي چې خپل رب ﷻ په کامل قدرت سره وپېژني او د قرآن کريم په بياناتو باندې د شاعرانه تخيلاتو تور کېږدي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰٓ أَعْيُنِهِمْ ﴾ کښې د "طَمَسْنَا" کلمه د "طَمَسَ" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يونس/۸۸] ايت لاندې ليکلي دي چې "طَمَس" د يوه شي محوه کولو او د هغه د اثارو د منځه وړلو ته ويل کېږي. خو په دې مقام کښې قتاده رحمه الله په "لَاَعْمَيْنَاهُمْ" سره تفسيره کړې ده[۱].

مونږ ته همدا معنی په زړه پورې برېښي چې په راتلونکي ايت کښې د ﴿ لَمَسَخْنَٰهُمْ ﴾ سره ښه تناسب لري. يعني که زمونږ اراده وشي چې د کفارو د سر سترګې ړندې کړو نو هرو مرو به د دوی په سترګو باندې روندوالی واقع کړو نو بيا به څه ليدل وکړی شي؟

## مسخ څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنَٰهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ ﴾ کښې د "مَسَخْنَا" کلمې د "مَسَخَ" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاق موندلی دی. "مَسْخ" په دوه وو معناوو کښې استعمال مومي[۲]:

الف: يوه دا چې يو شی د خپلې څېرې څخه بلې قبيحې څېرې ته واړولی شي، لکه چې د يهودانو څخه بيزوګان جوړ شوي وه. او يا لکه چې انسان ته د ډبرې څېره ورکړی شي.

ب: بله دا چې د يوه انسان خوی د کوم خاروي خوی ته واوړي، لکه چې خوګ د سپي خوی "شومتيا" خپله کړي، او يا د خنزير غوندې بې غيرته شي، العياذ بالله ﷻ.

په دې مقام کښې لومړی معنی په زړه پورې برېښي چې د الله ﷻ د کامل قدرت څخه ډېره ښه نمايندګي کوي او خبره په همدې کښې راروانه ده.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه که څه هم دلته ځينو علماوو کرامو د بلې څېرې څخه د خوګ (خنزير) څېره اراده کړې ده[۳] خو مونږ ته بهتره برېښي چې بله څېره به د کاڼي د څېرې څخه عبارت وي، چې همدا معنی د متصلې جملې ﴿ فَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ ﴾ سره ډېر ښه تناسب لري.

نو حاصل به يې داسې راوځېژي چې: که زمونږ اراده وشي نو د عنادي کفارو څخه به په دنيا کښې انساني څېرې واخلو او کاڼي به ترې جوړ کړو. نو بيا به د نورو کاڼو غوندې خاې په خاې پراته وي چې نه به وړاندې حرکت کولی شي او نه به بېرته ستنېدلی شي.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۲۱۲

(۲) مفردات الراغب ص۴۸۸؛ لسان العرب ج۳ ص۵۵

(۳) روح المعاني ج۲۳ ص۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تنكيس څه معنى؟

٢_ په ﴿ نُنَكِّسْهُ فِي ٱلْخَلْقِ﴾ كښې د ﴿ نُنَكِّسْهُ ﴾ كلمه د "تَنْكِيس" څخه اشتقاقه شوې ده، چې مجرد يې "نَكَس" _لكه "ضَرَب"_ دى، "نَكَس" او "تَنْكِيس" دې ته وايي چې يو شى سرچپه كړى شي چې سر يې ښكته او پښې يې پورته شي[١].

نو په خلق (پيدايښت) كښې سرچپه كول د دې څخه عبارت دي چې د چا د ځوانۍ قوت ېبرته د ماشومتوب كمزورۍ ته ورواړولى شي، په دغه حال باندې په [الحج:٥] او [النحل:٧] ايتونو كښې د أَرْذَلُ العُمر اطلاق شوى دى چې څه شرحه يې هملته تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## د شعر په هكله څو ټكي

٣_ په ﴿ وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُۥٓ ﴾ كښې لاندې څو ټكو ته توجه په كار ده:

الف: د مطلق شعر په هكله د [الشعراء:٢٢٤] ايت لاندې څه بيان تېر شوى دى _والحمد لله ﷻ_ خو دلته د هغه خاص شعر په ارتباط څه مطالبو ته اشاره شوې ده، كوم چې د نبي كريم ﷺ په عالي شان پورې تړاو لري. هغه دا چې:

ب: د عبد المطلب (د نبي ﷺ نيكه) اولاده _نارينه وه او كه زنانه_ ټولو شعر ويلى شو، او ټول شاعران وه، مگر يوازې نبي كريم ﷺ ته الله ﷻ شعر نه وه ښودلى[٢] چې اشعار يې نه شوه جوړولى، لكه چې په ايت شريف كښې ورته اشاره شوې ده.

ج: كه څوك وايي چې: ايا لاندې احاديثو ته شعر نه شو ويلى؟:

اول: نبي كريم ﷺ د حنين په غزا[٣] كښې فرمايلي دي چې: «أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ»[٤] يعنې زه رښتيانى پيغمبر يم (زما په نبوت كښې دروغ نشته)، زه د عبد المطلب زوى (لمسى) يم.

دوهم: نبي كريم ﷺ خپله زخمي شوې گوته مخاطبه كړه چې: «هَلْ أَنْتِ إِلَّا إِصْبَعٌ دَمِيتِ، وَفِي سَبِيلِ اللهِ مَا لَقِيتِ»[٥] يعنې ته نه يې مگر يوه گوته يې، چې وينې (زخمي) شوې، او هغه څه د الله ﷻ په لاره كښې دي كوم چې ته ورسره پيوسته شوې.

مونږ وايو چې: كه څه هم خينو علماوو كرامو ذكر شوي دواړه احاديث د شعرونو په نامه منلي دي، او جواب يې داسې كړى دى چې د يوه يا دوه وو شعرونو په جوړولو باندې څوك شاعر نه بللى كېږي، لكه چې په يو درز يا دوه درزو په تېرولو باندې څوك د خياط لقب نه شي گټلى[٦].

مگر مونږ ته دا جواب د قبول قابل نه برېښي او دا ځكه چې په ايت شريف كښې د نبي كريم ﷺ

---

(١) لسان العرب ج٦ ص٢٤١؛ مفردات الراغب ص٥٢٧

(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص٥٧٨

(٣) دغې غزا ته په [التوبة ٢٥] ايت كښې اشاره شوې ده، او څه شرحه يې هم هلته تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

(٤) صحيح البخاري ج١ ص٤٠١

(٥) جامع الترمذي ج٢ ص١٧٢

(٦) تفسير القرطبي ج١٥ ص٥٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه مطلق شعر نفي کړی شوی دی، برابره خبره ده چې لږ وي او که ډېر.

نو بهتر جواب، دا دی چې: ذکر شوي دواړه احادیث شعرونه نه شي بللی کېدلی او دا ځکه چې شعر د هغه منظوم او مسجع کلام نوم دی په کوم کښې چې سجع او نظم (وزن) د هرڅه څخه وړاندې په قصدي توګه په نظر کښې نیولی شوي وي[۱]، نو کوم منظوم کلام چې وزن او قافیه پکښې په اتفاقي (ناڅاپي) توګه صورت نیولی وي هغه د شعر په نامه نه شي یادولی.

د: که څوک وایي چې: د څه څخه معلومېږي چې په ذکرو شوو دواړو احادیثو کښې وزن او قافیې ته د نبي کریم ﷺ د پلوه اراده نه وه شوې؟

مونږ وایو چې: أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها د یوه سوال په جواب کښې وایي چې: «قَدْ كَانَ أَبْغَضَ الْحَدِيثِ إِلَيْهِ»[۲] یعني نبي کریم ﷺ ته په خبرو کښې ډېره مبغوضه خبره شعري خبره وه او ډېره یې بده ایسېده. او پوره واضحه ده چې هیڅوک خپل مبغوض شي ته قصد نه کوي، نو څرګنده شوه چې ذکر شوي احادیث او د هغو امثال اشعار نه دي بلکې د اشعارو سره یې بلا اراده توافق موندلی دی.

ه: که څوک وایي چې: په څه وجه د نبي کریم ﷺ سره د شعر جوړولو مناسبت نه درلود؟

مونږ وایو چې: وجه یې دا وه چې ترڅو کفار د ایمان نه راوړلو دپاره بهانه جوړه نه کړي چې نبي کریم ﷺ د شعري قوت په درلودلو سره تخیلي او غیر واقعي مفاهیم راغونډ کړي دي او د قرآن نوم یې وربانديې اېښی دی.

و: که څوک وایي چې: د قرآن کریم حقانیت خو په اعجاز سره په اثبات رسېدلی دی، نو که بالفرض نبي کریم ﷺ ته شعر ښودلی شوی وی هم، د هغوی بهانه نیول به ظاهر البُطلان وی؟ په دې باندې علاوه د شعر عدم تعلیم خو د کفارو د اعتراض کولو مخنیوی ونه کړی شو، او نبي کریم ﷺ ته یې د شاعر تُهمت ورکړ؟

مونږ وایو چې: که بالفرض نبي کریم ﷺ ته شعر ښودلی شوی وی او شعري قوه ورکړه شوې وی نو د کفارو اعتراض به څه وجه درلودلې وی او د عوام فریبۍ دپاره به یې ترې څه کار اخستی وی، خو د شعر د عدم تعلیم په صورت کښې هوښیار عوام هم پوهېده چې دا اِتهام غلط دی.

د ذکر شوي بیان یو نظیر خط (لیک) دی چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَمَا كُنتَ تَتْلُواْ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ إِذًا لَّٱرْتَابَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴾ [العنکبوت:۴۸] یعني ای پیغمبره! د قرآن کریم څخه وړاندې ته نه وې چې کوم کتاب دې لوستلی وي او نه دې په خپل ښي لاس سره لیک کړی وي، په دغه وخت کښې (که تا لیک او لوست کړی وی) نو د باطلو خاوندانو (کفارو) به د قرآن کریم په حقانیت کښې شک کړی وی (او شک کولو به یې څه وجه هم درلودلې وی).

نو د شعر په عدم تعلیم کښې که څه هم د کفارو د اعتراض مخه ونه نیوله شوه خو دا ټولو عوامو

---

(۱) حواشي صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۸

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۵۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه ځرګنده شوه چې اعتراض یې بې ځایه دی.

په دې باندې علاوه د شعر په عدم تعلیم کښې د نبي کریم ﷺ د احادیثو ځخه هم اتهام پورته کړی شوی دی چې د عنادي کفارو ځخه په غیر بل څوک ورباندې قول نه شي کولی، که نه نو دوی په اعتراض کړی وی چې د نبي کریم ﷺ احادیث هم د اشعارو غوندې په تخیلاتو باندې ولاړ دي او کوم واقعیت نه لري.

ز: که څوک وایي چې: ایا نبي کریم ﷺ د شاعرانو جوړ کړي اشعار اورېدلي یا لوستي دي؟

مونږ وایو چې: هو، نبي کریم ﷺ شعرونه اورېدلي دي او لوستي یې هم دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: د [الشعراء:۲۲۴] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېر شوي دي چې نبي کریم ﷺ د أُمیه بن أبي الصلت (کافر) ځه اشعار اورېدلي دي او غوږ یې ورته ایښی وه، آن تر دې چې په پای کښې یې وفرمایل چې: أُمیه بن أبي الصلت نژدې وه چې مسلمان شوی وه.

دوهم: د خندق په غزا کښې نبي کریم ﷺ د عبد الله بن رواحه رضی الله عنه څو اشعار د صحابه کرامو رضی الله عنهم په ملګرتیا په یوه اواز سره لوستي دي، چې تفصیل یې د [الأحزاب:۹] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

درېیم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ دا شعر ولوست[1] چې:

**إِنْ تَغْفِرْ اللَّهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا :: وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا**

یعني ای الله! ته چې ښښنه کوې ډېرې او غټې ګناهونه وبښنه، او هغه ستا کوم بنده دی چې وړې ګناهونه یې نه وي کړې؟.

ذکر شوی بیت اصلاً د أُمیه بن أبي الصلت په نوم یوه کافر شاعر جوړ کړی دی خو نبي کریم ﷺ ورباندې تلفظ وکړ[2].

هو! د نبي کریم ﷺ د خولې ځخه وروستنی نیم بیت په «لَا أَلَمَّا» کښې د "لا" په توري تمام شوی روایت شوی دی، او د ذکر شوي شاعر ځخه د "مَا" په توري "مَا أَلَمَّا" تمام شوی حکایت شوی دی[3].

د "مَا، لا" اختلاف د بیت په مضمون باندې ځه اثر نه غورزوي چې دواړه توري د نفي دپاره دي، او د "أَلَمَّا" کلمه په دواړو کښې د "اِلْمَام" ځخه معلومه ماضي ده او "الف" پکښې اشباعي دی.

څلورم: نبي کریم ﷺ د لبید نیم بیت هم ستایلی وه چې بهتر شعر دی، هغه دا چې[4]: "أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ" یعني اګاه اوسئ چې د الله ﷻ ځخه په غیر هر شی بې بنیاده دی.

د دې شعر پاتې نیم بیت دا دی چې: "وَكُلُّ نَعِيمٍ لَا مَحَالَةَ زَائِلٌ" یعني: او هر نعمت ضرور د زوال

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۴
(۲) تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ج۹ ص۱۲۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۵۶
(۴) صحیح مسلم ج۲ ص۲۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره مخامخ کېدونکی دی.

پنځم: د عبد الله بن رواحه ﷺ یو شعر دی چې:

سَتُبْدِي لَكَ الأَيَّامُ مَا كُنْتَ جَاهِلاً :: وَيَأْتِيكَ بِالْأَخْبَارِ مَنْ لَمْ تُزَوِّدِ

یعنې ژر دی چې تاته ورځې هغه شی درڅرګند کړي په کوم چې ته نن ورځ ناخبره (ناپوه) یې، او هغه څوک به درته خبرونه دروړي چې تا ورته توښه نه وي ورکړې (چې لاړ شه ماته خبرونه راوړه).

یوه ورځې نبي کریم ﷺ د ذکر شوي بیت اولنی نیم بیت ولوست[1].

ح: که څوک وایي چې: ایا د نبي کریم ﷺ څخه پرته نورو پیغمبرانو کوم یوه ته شعر وربښودلی شوی وه؟

مونږ وایو چې: په دې موضوع کښې علماء کرام په دوه وو ګروپونو ویشلی شوي دي[2]: خینې وایي چې د شعر عدم تعلیم د نبي کریم ﷺ خاصه ده، د نورو پیغمبرانو علیهم السلام په هکله د تعلیم څه ممنوعیت نه وه، د همدې کبله دوی څه اشعار نقل کړي دي چې دا د آدم ﷺ څخه راپاتې دي.

خینې نور وایي چې د هیڅ پیغمبر سره د شعر جوړول مناسب کار نه دی.

خو مونږ په دې موضوع کښې توقف غوره کوو او وایو چې: الله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

## ژوند یعنې څه؟

۴ـ په ﴿ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا ﴾ کښې د ﴿ حَيًّا ﴾ کلمه د "حَيوة" څخه اشتقاقه شوې ده، چې د ژوند معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې دوه وو معناوو باندې معنی کړې ده:

الف: دلته هغه ژوند مطلب دی چې په هغه باندې حس او حرکت صورت نیسي. یعنې د دې دپاره مونږ خپل پیغمبر ﷺ ته څرګند قرآن کریم ورنازل کړی دی ترڅو د قیامت تر ورځې پورې هغه څوک د الله ﷻ څخه وېدار کړي کوم چې په خمکه ګرځي راګرځي.

الله ﷻ همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل کړي دي چې: ﴿ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ ﴾ [الأنعام:۱۹] یعنې ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې ماته دغه قرآن کریم د دې دپاره وحي شوی دی چې تاسو وربانديې وېدار کړم او هغه څوک هم چې د قیامت تر ورځې پورې ورته رسېږي.

ب: د ژوند څخه دلته معنوي ژوند مطلب دی چې سړی وربانديې په جنت کښې د تل دپاره ژوندي پاتې کېږي. که څه هم په قرآن کریم باندې هرڅوک ډارولی کېږي خو په ذکر شوي ژوند سره ژوندي کسان تري ګټه پورته کوي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ﴾ [الأنفال:۲۴] یعنې ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو الله ﷻ ته او هم

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۶۶
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وبالي (۲۲)
پیغمبر ﷺ ته اجابت وکړئ کله چې تاسو هغه شي ته وروبلي کوم چې تاسو ته ابدي ژوند دربښي.

## څو لغات

په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ﴾ کښې د "رَكُوب" کلمه د "مَرْكُوب" معنی ورکوي[۱] (هغه څاروي په کوم باندې چې سوربدل صورت نیسي). د څارویو همدغه ډول ته په [النحل:۸] ایت کښې اشاره شوې ده.

ب: په ﴿وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ﴾ کښې و "مَنَافِع" کلمه د "مَنْفَعَة" جمعه ده، چې یا مصدر دی او یا اسم دی[۲]، په هر تقدیر دغه کلمه د هغو ګټو څخه عبارت ده، په کومو باندې چې په [النحل: ۸۰] ایت کښې صراحت شوی دی، لکه وړی او نور.

ج: او په همدغه عبارت کښې د "مَشَارِب" کلمه د "مَشْرَب" جمعه ده، چې "مَشْرَب" میمي مصدر دی، خو د "مفعول به" معنی ورکوي[۳]، چې د څښکل شوو (شودو) په معنی سره ده، که څه هم شوده په خپل ذات کښې یو ډول دې خو د شودو لرونکو څارویو په اعتبار متعدد انواع لري، لکه د ګډو شوده، د اوښانو شوده او داسې نور. او همدارنګه د شودو څخه د څښکلو متعدد شیان جوړېږي لکه ماسته، شرومبې او داسې نور، نو څکه ذکره شوې کلمه په جمعیت سره نازله شوې ده.

په دې باندې علاوه، په ذکره شوې کلمه کښې د حلالو څارویو متیازې هم شاملې دي البته هغه چا دپاره چې دا ورته داړو درمل وي[۴].

﴿وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ ءَالِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ (۷۴) لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ
لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ (۷۵) فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ (۷۶)
أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ (۷۷) وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا
وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَن يُحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ (۷۸) قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ
مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ (۷۹) الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنتُم
مِّنْهُ تُوقِدُونَ (۸۰) أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم
بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ (۸۱) إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ (۸۲)

(۱) البحر المحيط ج۹ ص۵۲
(۲) لسان العرب ج۸ ص۳۵۹؛ القاموس المحيط ج۴ ص۴۱۷
(۳) روح المعاني ج۲۳ ص۵۱
(۴) تفسير ابن كثير ج۳ ص۵۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَسُبْحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٖ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ ﴾

[۷۴] او مشرکانو د الله ﷻ څخه په غیر (نور) معبودان نیولي دي، شاید چې (د دوی په خیال به) ورسره نصرت وکړي (او عذاب به ترې ایسار کړي).

[۷۵] (دغسې نه ده بلکې) د دوی باطل معبودان وسه نه لري چې د دوی (مشرکانو سره نصرت) وکړي حال دا چې (خبره سرچپه ده) مشرکان خپلو معبودانو ته (په دنیا کښې) حاضر کړی شوی لښکر دی (چې دفاع ترې کوي).

[۷۶] نو (ای پیغمبره!) تا دې د مشرکانو خبرې غمژن نه کړي (چې کفري لقبونه درکوي. او دا خکه چې): یقیناً مونږ په هغه څه باندې پوهېږو چې مشرکان یې (په زړونو کښې) پټوي او په هغه څه باندې هم کوم چې دوی یې څرګندوي (نو د دواړو ډولو جنایتونو سزا به ورکړو).

[۷۷] او ایا (کافر) انسان نه ګوري (علم نه لري) چې یقیناً مونږ نوموړی د نطفې څخه پیدا کړی دی (او دومره قوت مو وربښلی دی چې) نو ناڅاپه هغه (زمونږ په مقابل کښې) څرګند جګړمار دی.

[۷۸] او مونږ ته مثال وهي (بیانوي) حال دا چې خپل پیداینښت یې هېر کړی دی (چې د نطفې څخه مو پیدا کړی دی. نو نوموړی منکر انسان) وایي چې: څوک به هډوکو ته ژوند ورکړي حال دا چې وراسته شوي (او خمکې خوړلي) وي؟

[۷۹] (ای پیغمبره! ته ورته په جواب کښې) ووایه چې: هغه اقدس ذات ﷻ به ورستو هډوکو ته (دوهم وار) ژوند ورکړي چې اول ځل یې (د نطفې څخه) پیدا کړي دي، او همدغه اقدس ذات ﷻ په هر مخلوق باندې پوه دی (د خاورې شوي بدنونو ذرات ورته معلوم دي).

[۸۰] هغه اقدس ذات ﷻ چې ستاسو دپاره یې د شنې ونې څخه اور ګرځولی (پیدا کړی) دی، نو ناڅاپه تاسو د همدغه اور څخه (ډېر اورونه) بلوئ (او خپلې اړتیاوې ورباندې پوره کوئ).

[۸۱] (ای پیغمبره! د نوموړې جګړمار او دِ ملګرو په هکله یې دا هم ووایه چې:) ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې اسمانونه او خمکې یې پیدا کړي دي قادر نه دی چې د دوی امثال (بیا) پیدا کړي؟ دغسې نه ده (لکه چې دوی خیال کوي)، او همدا (د دنیا پیدا کوونکی) ﷻ ډېر ښه پیداکوونکی (او ډېر) ښه علم درلودونکی دی.

[۸۲] الله ﷻ چې کله د یوه شي (د پیدا کولو) اراده وکړي، نو یقیناً امر یې (فقط) همدا دی چې ورته ووایي: شه!، نو (سمدستي هغه هماغسې) شي (څنګه یې چې ورته امر کړی وي).

[۸۳] نو هغه اقدس ذات ﷻ ته پاکي ده چې د ده ﷻ په (بلا کیفه) لاس باندې د هر شي ټینګه واکداري ده، او خاص همده ﷻ ته به (تاسو ټول په آخرت کښې) بېرته ورتاو کړی شئ.

## ارتباطونه

۱ـ د [یس: ۳۲] ایت څخه راپدېخوا ترڅو ایتونو پورې د الله ﷻ د توحید دلایل د اثبات په حیث نازل شوي وه، او په دې ایتونو کښې د مشرکانو هغه عکس العمل رد شوی دی د کوم څخه به چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی د دلایلو په مقابل کښې د بهانو په حیث کار اخست. یا په بل عبارت: دلته د هغوی د اعتراضونو مخه نیولې شوې ده.

۲_ ذکر شوې نژدې ایتونه _چې د معاد دلایل او د نعمتونو ذکر پکښې نازل شوي وه_ په دې جمله تمام شوي وه چې ﴿أَفَلَا يَشْكُرُونَ﴾ ایا نو دوی شکرګزاري نه کوي چې د توحید عقیده خپله کړي.

دلته د مشرکانو هغې ناشکرۍ ته اشاره کېږي کومه به چې هغوی د نعمتونو په مقابل کښې خپلوله. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د ذکرو شوو عقیدوي دلایلو په مقابل کښې او هم د الله ﷻ د بې شمېره نعمتونو په وړاندې د کفارو عکس العمل دا دی چې:

۱_ کفار او مشرکان په دلایلو او نعمتونو باندې خپل ځانونه کاڼه اچوي او د الله ﷻ څخه په غیر نور معبودان نیسي او په عبادت باندې یې د دې دپاره مشغولېږي چې شاید د هغوی د پلوه دوی ته څه نصرت او مدد وکړی شي.

۲_ خو خبره دغسې نه ده لکه چې دوی ګومان کوي، هغوی د خپلو عابدانو دپاره د هیڅ نصرت او کومک وسه نه لري، چې نه یې په دنیا کښې د الهي عذابه خلاصولی شي او نه د قیامت په ورځ د دوزخ څخه نجات ورکولی شي.

بلکې په دنیا کښې خو خپله عابدین د معبودانو دپاره حاضر کړی شوې لښکرې دي چې مچان ترې شړي او د میده-میده کوونکو مخه ترې نیسي، چې د ابراهیم ؑ غوندې یې څوک په تبر باندې ټوټه-ټوټه نه کړي.

۳_ نو ای پیغمبره! د کفارو سپکې او سپورې خبرې دې تا په خفګان کښې وانچوي، چې تاته د شاعر او ساحر لقب درکوي. او دا څکه چې:

الف: یقینًا مونږ په هغو وېناوو باندې ښه پوهېږو چې کفار یې په زړونو کښې پټې ساتي او هغه وېناوې یې راته هم معلومې دي کومې چې په خولو باندې څرګندوي، نو د قیامت په ورځ به د ټولو بدو اعمالو مطابقه سزا ورکړو.

ب: کافر انسان ډېر مغرور او متکبر دی چې د خپل خالق ﷻ په مقابل کښې سپین سترګي کوي او په عبادت کښې ورسره شریک او شریکان دروي.

۴_ ایا دغه کافر انسان دې ته نه ګوري چې مونږ د بل شي څخه نه بلکې د نرمې سپکې نطفې څخه پیدا کړ او د ښایسته څېرې دپاسه مو عقل هم ورپېرزو کړ چې د څارویو څخه ورباندې جدا شو. خو د دغه ستر نعمت سره-سره نوموړی ناشکره انسان د خپل خالق ﷻ یووالی نه مني او د قیامت د ورځې څخه انکار کوي، نو د همدې کبله:

۵_ مونږ ته د انکار په غرض په داسې حال کښې مثال بیانوي او خپلو کفریاتو ته بهانه تراشي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بس(۲۶)
چې خپل پیدایښت یې هېر کړی وي. که بالفرض نوموړي خپل پیدایښت نه وی هېر کړی نو د انکار دپاره به یې بهانې نه وی تراشلي او په بعث بعد الموت باندې به یې ضرور عقیده خپله کړې وی.

۶ـ نوموړی د خپل پیدایښت هېروونکی انسان ورستو هډوکو ته اشاره کوي او په تعجب سره وایي چې: دا به څوک بیا راژوندي کړي؟ او څوک به ترې هوښیار بنیادم جوړ کړي؟.

۷ـ ای پیغمبره! ته ذکر شوي ناشکره کافر انسان ته جواب ورکړه چې:

الف: هغه اقدس ذات ﷻ به دغه وراسته هډوکي بیا راژوندي کړي او دوهم خل به ترې بنیادم جوړ کړي. چا چې په لومړي خل د نطفې څخه پیدا کړی دی.

ب: همدغه اقدس ذات ﷻ ته خپل هر یو مخلوق د هر ښه معلوم دی او د هر ښه ورباندې پوهېږي. چې د خاورې شوي بدن ذرې ذرې بخرکي یې چرته چرته پراته دي، په ذکر شوي بدن کښې یې په کومو کومو ځایونو کښې قرار درلود او بالآخره هلته د څنګه څنګه کیفیاتو درلودونکي وه.

ج: همدغه اقدس ذات ﷻ ستاسو(انسانانو) دپاره د شنې ونې څخه اور پیدا کوي چې ناڅاپه تاسو د همدغه اور څخه نور اورونه بلوئ او خپل ضروریات ورباندې پوره کوئ.

یا په بل عبارت: ایا همدغه د شنې ونې څخه اور پیداکوونکی الله ﷻ په دې باندې قدرت نه لري چې د ورستو هډوکو څخه بیا انسان جوړ کړي؟

د: په دې باندې علاوه، ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړي دي، په دې قادر نه دی چې یو ځل بیا د ورستو هډوکو څخه د انکار کوونکو انسانانو غوندې انسانان پیدا کړي هسې نه چې د اسمانونو او یا د ځمکو غوندې غټ-غټ وي؟

۸ـ ای پیغمبره! ذکره شوې پوښتنه د "ولې نه دی قادر" څخه په غیر بل جواب نه لري، نو د همدې کبله به کفار په جواب کښې چپ پاتې شي. نو کله چې دوی چپ پاتې شوه، ته پخپله ذکره شوې پوښتنه جوابه کړه چې:

الف: هو، ولې نه دی قادر. هغه اقدس ذات چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړي دي قادر دی چې د بنیادمانو غوندې کمزوري او ضعیف مخلوقات بیا راژوندي کړي.

ب: همدی ﷻ خلاق دی، چې زښت د هر مخلوقات یې پیدا کړي دي او لا د پیدا کولو سلسله روانه ده (خلق همده ﷻ پورې اختصاص لري).

ج: همدی ﷻ په هر شي باندې پوه دی، چې هر شی په مناسب شکل او مناسب کیفیت سره پیدا کوي.

د: دا هم ورته ووایه چې: الله ﷻ ته د هر شي پیدا کول اسان دي چې فقط د امر پورې یې توقف لري او بس. او دا ځکه چې یقیناً کله چې الله ﷻ د یوه شي د پیدا کولو اراده وکړي نو همغه شي ته فقط همدومره ووایي چې: موجود شه. نو سمدستي هغه موجودېږي.

هـ: د ذکرې شوې شرحې په بنیاد د هر شي موجودول او هر چاته ګټه رسول او یا د مشکلاتو څخه نجات ورکول یوازې د الله ﷻ په واک اختیار کښې دي او د ده ﷻ څخه په غیر د باطلو معبودانو په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شول د هیچا په توان کښې ګټه رسول او د ضرر څخه بچ کول نشته.
نو هغه اقدس ذات ﷻ ته د ټولو نواقصو څخه پاکي ده چې په بلاکیفه لاس کښې یې په هر شي باندې واکداري د اختصاص په توګه قرار لري.
۹ـ ای پیغمبره! په پای کښې د الله ﷻ د پلوه ټول مخلوقات مخاطب کړه چې: د قیامت په ورخ به خاص همده ﷻ ته تاسو ټول راجع کړی شئ؛ او هر چاته به د خپلو کړو وړو په مطابق سزا یا جزا ورکړي، او هیڅوک به ونه توانېږي چې د بېرته راجع کېدلو څخه بچ پاتې شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ﴾ کښې علماوو کرامو د ضمائرو په اعتبار سره متعدد تفسیرونه کړي دي[1]، کوم تفسیر چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه په لاندې ټکو باندې ولاړ دی:
الف: په ﴿لَا يَسْتَطِيعُونَ﴾ کښې مستتر ضمیر او په ﴿لَهُمْ﴾ کښې بارز ضمیر (دواړه) باطلو معبودانو (بوتانو) ته راجع دي.
ب: د ﴿نَصْرَهُم﴾ او د "هُمْ" دواړه ضمیرونه د مشرکانو عابدانو څخه عبارت دي، نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: د باطلو معبودانو څخه د مشرکانو نصرت غوښتنه په تناقض باندې مشتمله ده او دا ځکه چې پوره واضحه ده چې بوتان د خپلو عابدینو دپاره نه په دنیا کښې د نصرت توان لري او نه په آخرت کښې، اما عابدینو په دنیا کښې د خپلو باطلو معبودانو نصرت او خدمت نه په دوامداره توګه په اصطلاح لومړي درجه احضارات نیولي دي، چې د ماتولو څخه یې ساتي، مچان ترې شړي او هم یې د دښمنانو سره دښمني کوي او داسې نور.
مونږ ځکه ذکر شوی تفسیر غوره کړ چې . په دې تفسیر باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ﴾ [الأنبياء: ٦٨] یعنې کله چې مشرکان د ابراهیم ؑ سره د استدلال په میدان کښې د ماتې سره مخامخ شوه نو یو تربله یې سره وویلې چې ابراهیم ؑ وسوزوئ او د خپلو معبودانو نصرت وکړئ، که چرته تاسو د دغه کار کوونکي یاست نو عجله وکړئ.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ذکر شوي غوره تفسیر په بنیاد خو په ضمائرو کښې تفکیک او انتشار صورت نیسي، حال دا چې دا کار په عربیت کښې مقبول کار نه دی؟
مونږ وایو چې: هو، دا کار د نحویانو خوښ نه دی، خو په هغه ځای کښې چې په اصل مطلب باندې اثر اچوي او د التباس موجب وي، خو دلته مطلب واضحه دی او څه التباس نه لازمېږي[2].

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۱۷۹ ؛ البحر المحیط ج۹ ص۸۲
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ښکاره جګړمار څوک وه؟

۳_ په ﴿ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴾ کښې الله ﷻ جګړمار په وصف سره ذکر کړی دی او په نامه سره یې نه دی ښودلی، چې د نامه په تعین کښې یې څه خاصه ګټه نه وه.

خو علماوو کرامو د نوموړي جګړمار په نامه کښې متعدد اقوال کړي دي چې تقریباً پنځو ته رسېږي[۱]، چې خینو أبو جهل ښودلی دی او خینو أبي بن خلف او داسې نور.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په څه وجه په ﴿ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ رَمِيمٌ ﴾ کلمه "رَمِيمَة" (مؤنثه) نازله نه کړی شوه، ترڅو د خپلې مبتدأ (هِيَ) سره په تانیث کښې مطابقه شوې وی؟

مونږ وایو چې:

الف: مطابقت هلته ضرور دی چې خبر صفتي اسم وي او ضمیر پکښې موجود وي، حال دا چې د ﴿ رَمِيمٌ ﴾ کلمه جامد اسم دی او د ضمیر څخه خالي ده چې د زړو هډوکو دپاره وضعه شوې ده[۲].

ب: دغه کلمه ﴿ رَمِيمٌ ﴾ د "رَمِمَة" څخه معدوله ده او کومه کلمه چې د خپل اصل څخه عدول وکړي هغه د همېش دپاره مذکره لوستله کېږي، د همدې کبله په ﴿ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴾ [مریم:۲۸] کښې د ﴿ بَغِيًّا ﴾ کلمه مذکره نازله شوې ده چې د "بَاغِيَة" څخه معدوله ده[۳].

ج: دا کلمه صفت دی او اشتقاق یې د "رَمّ" _لکه "مَدّ"_ څخه نه دی موندلی چې د یوه زاړه شي د نواقصو د اصلاح معنی ورکوي، او د "مَرَمَّة" سره ترادف لري[۴]. بلکې د "رِمَّة" _لکه "نِعْمَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خوړلو دپاره وضعه شوې ده، خلک وایي چې: "رَمَّتِ الْإِبلُ الْحَشِيشَ"[۵] یعنې اوښانو واښه خوړلي وه.

نو "رَمِيمٌ" د "مرموم" په معنی سره دی چې وراسته هډوکي د ځمکې د پلوه خوړلی شوي وي، او په دغه ډول فعیل کښې (چې د متعدي فعل څخه یې اشتقاق موندلی وي) د نحویانو په اجماع سره مذکر او مونث یو برابر وي[۶] لکه چې جریح او قتیل په معنی د مجروح او مقتول سره دي.

## اور او شنې لښتې

۵_ په ﴿ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ ٱلْأَخْضَرِ نَارًا ﴾ الآیة- کښې هغو دوه ونو ته اشاره ده چې په

---

(۱) زاد المسير ج۶ ص۲۸۳؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۴۶
(۲) تفسير الكشاف ج۴ ص۳۱
(۳) تفسير البغوي ج۴ ص۲۰
(۴) لسان العرب ج۱۲ ص۲۵۱
(۵) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۸۸
(۶) روح المعاني ج۲۳ ص۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیدیا کښې ترې اعراب اور بلوي، چې یوه "اَلْمَرْخ" نومېږي او بلې ته "اَلْعَفَار" وايي[۱].

که څوک د دغو دواړو ونو څخه د مسواک غونډې یوه یوه لښته راپرې کړي او بیا یوه په بله باندې وموږي نو الله ﷻ سمدستي د دواړو لښتو ترمنځ اور پیدا کوي، حال دا چې د دواړو لښتو څخه په اصطلاح اوبه څاڅي.

دغه ډول اور پیدا کېدل حقیقت لري او څه خیالي اټکل نه دی، که بالفرض حقیقت یې نه درلودی نو سمدستي به مشرکانو په قرآن کریم باندې نیوکه کړې وی، هغوی خو نیوکې ته شنه ناست وه.

په دې باندې علاوه د ذکر شوي اور څه نظایر په هر وطن کښې لېدل کېږي لکه:

الف: که څوک یوه بکرینه ډېره په بله بکرینه ډېره باندې په زغرده ووهي نو سمدستي به ترې سپرغۍ بادې شي.

ب: د یوې اوسپنې د بلې اوسپنې په ټکر سره هم د اور بڅرکي لیدل کېږي.

ج: شاید چې د جهاد په مرحله کښې به مجاهدینو لیدلي وي چې د آسونو او قچرو د پښو څخه به د اور سپرغۍ شندلې کېدې، او دا خکه چې د سومانو نعلونو به یې د ډبرو سره ټکر کاوه.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴾ د جملې په تعقیب سره دېته اشاره ده چې ذکرې شوې د اور سپرغۍ د "حُبَاحِب" د سپرغیو غونډې نه دي چې د شپې د مخې په هوا کښې فقط د لیدونکو سترګو ته څرګندېږي خو د چا درد ورباندې نه دوا کېږي او اور ترې نه بلول کېږي.

"حُبَاحِب" د یوه الوتونکي حیوان نوم دی چې په شکل کښې مچ ته ورته دی، او کله چې هوا ته پورته شي نو رڼا او سپرغۍ ترې بادېږي ته به وايې چې د اور بڅرکی دي[۲]، دغه حیوان ته په پښتو کښې "اور بلبَلَکی" وايي.

نو د ایت شریف حاصل به داسې راوخېژي چې: ای مشرکانو! تاسو ولې د بعث بعد الموت څخه انکار کوئ، او د عوام غولونې په غرض د ورستو هډوکو مثال وړاندې کوئ؟

ایا هغه څوک ﷻ چې د یوه ضد څخه بل ضد پیدا کوي او د شنې ونې څخه د اور سپرغۍ راوباسي په دې قادر نه دی چې یو ځل بیا د ورستو شوو پرزه جاتو څخه بنیادم جوړ کړي؟ حال دا چې خپل پرزه جات ورسره ضدیت نه لري.

## سوال جواب

٦- که څوک وايي چې: په ﴿ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُم ﴾ کښې د ﴿ مِثۡلَهُم ﴾ ضمیر چاته راجع دی. یا په بل عبارت: د بنیادمانو امثال څوک دي؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو په جواب کښې ویلي دي چې[۳]: د قیامت په ورځ

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۶۰
(۲) لسان العرب ج۱ ص۲۹۷ ؛ مفردات الراغب ص۲۰۸
(۳) تفسیر الکشاف ج۴ ص۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیا ژوندون د اصلي أجزاوو په إعادې سره صورت نیسي، کوم چې د یوه انسان سره د اول پیدایښت څخه ترمرګه پورې موجودیت ولري، نو په همدې ملحوظ سره پوره واضحه ده چې هغه دنیاوي ابدانو امثال وي.

مګر مونږ ته دا جواب په زړه پوری نه برېښي څکه چې: دې جواب به په هغه وخت کښې درلودی چې ذکر شوی ضمیر د بنیادمانو ابدانو ته راجع وی، حال دا چې دغه ضمیر پخپله د همدوی اعیانو ته راجع دی چې په دنیا او آخرت کښې اختلاف نه لري، ترڅو پکښې مثلیت ونیولی شي.

نو مونږ ته لاندې دوه جوابونه په زړه پورې برېښي:

الف: د انسانانو امثال پخپله انسانان دي لکه چې خلک د کنایې په توګه وایي چې: "مِثْلُكَ لَا يَبْخَلُ"[۱] ستا غوندې سړی بخل نه کوي. یعنې ته بخل او شومتیا نه کوې.

ب: ذکر شوی ضمیر د بعث بعد الموت منکرینو ته راجع دی، چې وراسته هڅوکي یې د خپل انکار د استدلال دپاره وړاندې کړي وه[۲].

که څه هم په ایت شریف نوموړی کس د مفردو کلمو (ضَرَبَ، نَسِيَ) سره ذکر شوی دی، خو ضمیر ورته د خپلو همعقیده ملګرو په لحاظ راجع شوی دی.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: الله ﷻ هرو مرو په دې قدرت لري چې د منکرینو امثال او هم پخپله همدوی بیا پیدا کړي، چې د اسمانونو او ځمکه په نسبت د یوې ذرې حیثیت لري.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ لَخَلْقُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ [المؤمن:۵۷] یعنې ضرور د اسمانونو او ځمکو پیدا کول د خلکو د پیدا کولو څخه ډېر لوی دي مګر اکثره خلک نه پوهېږي، چې د بعث بعد الموت څخه انکار کوي.

## ماثور تفسیر

۷_ د دې ایت شریف ﴿ إِنَّمَآ أَمْرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيْـًٔا ﴾ الآية- مضمون په یوه قدسي اوړد حدیث کښې داسې روایت شوی دی:

نبي کریم ﷺ وایي چې الله ﷻ فرمایي: «عَطَايِي كَلَامٌ وَعَذَابِي كَلَامٌ إِنَّمَا أَمْرِي لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ»[۳] یعنې ای زما بندګانو! ماته هرڅه اسان دي، زه هر هغه څه کوم چې زما ورته اراده وشي، زما ورکړه فقط کلام (امر کول) دی او زما عذاب هم فقط کلام (امر کول) دی، یقیناً یو شي ته زما امر فقط همدا دی چې زه ورته ووایم چې: وشه! (موجود شه!) نو سمدستي هغه وشي (موجود شي).

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۵۶

(۲) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۳۲

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۷۶، مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۸۵، ۱۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۸_ په ﴿ فَسُبْحَـٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ ﴾ کښې د ﴿ مَلَكُوتُ ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران: ۲۶] ایت لاندې شرحه کړې ده، خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

الف. د جمهورو علماوو په نزد د "ملك" او "مَلَكُوت" معنی یوه ده چې د واکدارۍ څخه عبارت ده، لکه چې د "رَحْمَة" او "رَحَمُوت"، او د "رَهْبَة" او "رَهَبُوت"، او هم د "جَبْر" او "جَبَرُوت" معناوې سره یو دي[1].

ب. ځینې علماء کرام وایي چې په "ت" کښې مبالغه ده چې په ډېرې قوي واکدارۍ سره ترې تعبیر کوو، دوی وایي چې د "مَلَكُوت" د کلمې استعمال په الله ﷻ پورې اختصاص لري[2].

د الله ﷻ په توفیق د "یس" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو، او د الله ﷻ څخه د زیات توفیق امید کوو چې د ټول قرآن کریم ترجمه او تفسیر په خپل لاس پای ته ورسوو، او په خپل لاس یې چاپ کړو او په مسلمانانو باندې یې توزیع کړو.

اَللّٰهُمَّ احْشُرْنَا مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولٰئِكَ رَفِيقًا.

نېټه: ۱۴۲۲/۵/۶ هـ ق = ۱۳۸۰/۵/۴ هـ ش.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۸۳
(۲) مفردات الراغب ص۴۹۳

Scanned by CamScanner

# الصافات (۳۷)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم "الصَّافَّات" دی چې د همدې سورت د لومړي ایت څخه اخستلی شوی دی، یا په بل عبارت: د دې دپاره چې دا سورت د قرآن کریم د نورو سورتونو څخه جدا شي نو په خپلې اولنی کلمې (الصَّافَّات) باندې ونومولی شو.

۲_ دا سورت د ټولو علماوو کرامو په اتفاق مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1].

۳_ د دې سورت د ایتونو شمېره یو سلو دوه اتیاوو (۱۸۲) ته رسېږي[2].

۴_ د دې سورت د کلماتو او حروفو شمېره په لاندې ډول ده[3]:

الف: کلمات یې اته سوه او شپېته (۸۶۰) دي.

ب: او د حروفو شمېره یې درې زرو اته سوه او شپږ ویشتو (۳۸۲۶) ته پورته شوې ده.

## د دې سورت محتویات

۵_ د دې سورت محتویات څه محدودیت نه قبلوي خو په عمده توګه ویلی شو چې محتویات یې د نورو مکي سورتونو غوندې د عقیدې په محور څرخېږي. د مثال په توګه:

الف: په دې سورت کښې د توحید دلایلو ته اشاره شوې ده او په انفسي او افاقي څېرو کښې ښودلي شوي دي.

ب: په دې کښې د مشرکانو هغه انکار رد شوی دی کوم چې په معاد پورې ارتباط لري.

ج: د جنت او دوزخ څه حالات پکښې بیان شوي دي او د جنتیانو او دوزخیانو مکالمې او خبرو اترو ته هم پکښې اشاره شوې ده.

د: د لسو (۱۰) پیغمبرانو څه حالات پکښې نازل شوي دي.

هـ: په دې کښې کفار تهدید شوي دي او مؤمنانو ته پکښې د نصرت وعده ورکړه شوې ده.

و: بالآخره په دې سورت کښې د الله ﷻ تنزیهي صفات نازل شوي دي او د مشرکانو هغه عقیده په کلکه رده شوې ده کومه چې هغوی د پرښتو په هکله درلوده چې دوی بنات الله دي، العیاذ بالله.

## د دواړو سورتونو تناسب

۶_ څرنګه چې وړاندېنی سورت (یسٓ) او دا سورت (الصَّافَّات) دواړه مکي سورتونه دي نو په موضوعاتو کښې یو تربله ډېر زیات تناسب او توافق لري. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: هلته هم عقیدوي احکام نازل شوي وه او دلته هم همدغه احکام په ښېل او ممتاز طرز سره بیان شوي دي.

---

[1] تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۶۱

[2] تفسیر الطبري ج۲۳ ص۳۳

[3] تفسیر الخازن ج۵ ص۲۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هلته په [۳۱] ایت کښې پخوانیو هلاکو شوو قومونو ته د اجمال په توګه اشاره شوې وه او دلته یې څه مثالونه ښودلی شوي دي، لکه د نوح ﷺ قوم او داسې نور.

ج: هلته د جنتیانو او دوزخیانو څه حالات نازل شوي وه چې دلته وربانديې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده، او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ﴿١﴾ فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا ﴿٢﴾ فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿٤﴾
رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴿٥﴾ إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ
الْكَوَاكِبِ ﴿٦﴾ وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَانٍ مَّارِدٍ ﴿٧﴾ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى الْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ وَيُقْذَفُونَ
مِن كُلِّ جَانِبٍ ﴿٨﴾ دُحُورًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ ﴿٩﴾ إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ
ثَاقِبٌ ﴿١٠﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَم مَّنْ خَلَقْنَا ۚ إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] د پرښتو په صف تړونکو ډلو باندې سوګند دی، صف تړل.

[۲] بیا د پرښتو د اوامرو اجراء کوونکو (ټکان ورکوونکو) ډلو باندې (سوګند دی)، د اوامرو اجراء کول (او ټکان ورکول).

[۳] بیا د پرښتو د ذکر (او پند) په تلاوت کوونکو ډلو باندې (سوګند دی)، چې:

[۴] یقیناً ستاسو (حقیقي) معبود یو (او لا شریک) دی.

[۵] (همدا واحد لا شریک) د اسمانونو او ځمکو او هغو شیانو رب دی کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موجود دي، او هم د مشرقونو (او مغربونو) رب دی.

[۶] یقیناً مونږ نژدې اسمان (د لیدونکي په نظر کښې) د ستورو په ښایست سره ښایسته کړی دی.

[۷] او (هم مو) د هر سرکشه شیطان څخه (ساتلی دی) ساتل.

[۸] شیطانان (د مشقت د ګاللو سره-سره) د پرښتو عالي ټولګي ته غوږ نه نیسي (خو یوه استثناء لري چې وروسته راروانه ده)، او غوږ نیوونکي شیطانان له هر لوري (په ستورو سره) ویشتل کېږي.

[۹] (البته د شیطانانو ویشتل) د شړلو (او رټلو) دپاره (صورت نیسي)، او دوی لره (په دغو ویشتلو کښې) دائمي عذاب دی (چې ډېر لږ شیطانان ترې بچ کېږي).

[۱۰] مګر (د شیطانانو څخه) هغه څوک (د پرښتو عالي ډلې ته غوږ نیسي) کوم چې تښتول کړي یو کرت تښتول، خو سوری کوونکې شغله یې (په عین حال کښې) تعقیبوي.

[۱۱] نو (ای پیغمبره!) ته د مشرکانو څخه کلکه پوښتنه وکړه چې ایا دوی د پیدا کولو د حیثه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنت دي يا هغه څوک (او هغه شيان) چې مونږ پيدا کړي دي؟ (چې څه مثالونه يې وړاندې تېر شوه).

بېشکه مونږ (د ټولو بنيادمانو په شمول د پلار په لحاظ) مشرکان د سرېښناکې خټې څخه پيدا کړي دي، (نو ايا له مرګه وروسته يې بېرته نه شو راژوندي کولی؟).

## ارتباطونه

د وړاندېنۍ سورت (يس) د وروستنيو ايتونو او د دې سورت (الصَّافَّات) د لومړنيو ايتونو د ټراو لاندې مثالونه ولولی:

۱ـ د هغه سورت د [۸۱] ايت مضمون دا وه چې د اسمانونو او ځمکو خالق ﷻ قادر دی چې د قيامت څخه د منکرينو غوندې بلکې د ټولو انسانانو غوندې کمزوري مخلوقات بيا راژوندي کړي. همدې مضمون ته د دې سورت په [الصَّافَّات:۱۱] ايت کښې اشاره شوې ده چې مشرکان دې ذکر وکړي چې: ايا د هغو مخلوقاتو پيدا کول درونډ کار دی چې د دوی څخه په غير مونږ پيدا کړي دي او يا د دوی پيدا کول؟

۲ـ هغه سورت په دې تمام شوی وه چې الله ﷻ د کاملې واکدارۍ خاوند دی او ټول بندګان به د ده ﷻ حضور ته يو ځل بېرته ورګرځولی کېږي، او هيڅوک به ترې خپل ځان بچ نه کړی شي.

د دې سورت په ذکرو شوو ايتونو کښې په همدغه مضمون باندې دلايل اقامه کړی شوي دي چې الله ﷻ به ولې د کاملې ارادې څښتن نه وي چې د هر حيثه واحد او لا شريک دی او هيڅوک او هر هيڅ شی يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی. نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته خلکو ته د توحيد څه نور دلايل هم ور واوروه ترڅو مشرکانو ته يو ځل بيا په ډاګه شي چې د الله ﷻ سره په عبادت او واکدارۍ کښې په هيڅ ډول اشتراک نشته. دلايل دا دي:

۱ـ الله ﷻ د پرښتو په لاندې ټولګيو او ډلو باندې د سوګند په يادولو سره وايي چې: يقيناً الله ﷻ په حقيقي معبوديت او حقيقي مالکيت کښې هيڅ شريک او سيال نه لري. د پرښتو ټولګي او ډلې دا دي:

الف: الله ﷻ په هغو پرښتو سوګند يادوي کومې چې صفونه‌صفونه يوازې د همده ﷻ په عبادت باندې مشغولې دي.

ب: په هغو پرښتو باندې هم چې شړونکې او ټکان ورکوونکې دي. يا په بل عبارت هغې پرښتې کومې چې د اوامرو اجراء کوونکې او پلې کوونکې دي.

ج: بالآخره د پرښتو په هغو ټولګيو باندې هم سوګند يادوي کومې چې د پيغمبرانو په شمول په بندګانو باندې د وحې او الهي الهاماتو تلاوت کوونکې دي.

که بالفرض الله ﷻ شريک درلودی (لکه چې مشرکان خيال کوي) نو د پرښتو ذکرو شوو ډلو به هم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په الله ﷻ پورې اختصاص نه وي موندلی بلکې د بل چا په عبادت او د احکامو په اجراء کولو به بوختې وي او پرته د الله ﷻ د اجازې څخه به یې چا ته وحې ورورلی او الهام به یې ورته کولی شوی.

۲ـ یوازې الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو رب دی او هم د هغو مخلوقاتو رب دی کوم چې د ځمکو او اسمانونو ترمنځ موقعیت لري، بالآخره د لمر او نورو ستورو د راخېژولو ربوبیت هم په همده ﷻ پورې خاص دی، او همدارنګه د ټولو غروب هم د همده ﷻ په اختیار کښې قرار لري او بس.

که بالفرض الله ﷻ څه شریک درلودی نو په ذکرو شوو افعالو کښې خو به یې کوم یو کار د وسې پوره وی، او یا خو به یې ضرور د الله ﷻ سره په کوم یوه کار کښې منازعه او جګړه کولی شوی.

۳ـ ای پیغمبره! دغه نژدې اسمان په ستورو باندې یوازې مونږ ښایسته کړی دی، ایا زمونږ څخه په غیر بل څوک په ستورو کښې څه تصرف کولی شي؟

همدغه ښایسته اسمان یوازې مونږ د هر سرکښه شیطان څخه ساتلی دی چې هلته وروخېژي او د تلاوت کوونکو پرښتو څخه څه د وحې او الهام (د غیبي اُمورو) خبرې واوري او له وخته مخکښې یې خپلو دوستانو ته ورورسوي ترڅو وربانديې خلک دوکه کړي او وربانديې تېر باسي. د همدې تفصیل دا دی چې:

الف: سرکښه شیطانان د پرښتو عالي شانه ټولګیو ته غوږ نه شي نیولی. او دا ځکه چې:

ب: د هره طرفه د ستورو په شغلو باندې ویشتلی کېږي او شړلی کېږي.

ج: بلکې همدغه په شغلو باندې ویشتل کېدل د هغوی دپاره دائمي عذاب دی چې د هر وخت په ختلو کښې ورسره مخامخ کېږي.

د: هو! د همدغو سرکښو شیطانانو څخه ورته هغه شیطان غوږ نیسي کوم چې یوه خبره وتښتوي په یو کرت تښتولو سره، چې سمدستي یې سوزوونکې او رڼاکوونکې شغله تعقیب کړي او بېرته راستنېدلو ته یې اړ کړي.

لنډه دا چې هیڅ سرکښه شیطان (چې پرښتو ته د غوږ نیولو هڅه کوي) په ارامۍ سره غوږ نه شي نیولی او د ستورو په شغلو باندې ویشتلي کېږي.

دا بېله خبره ده چې د اخوډب په حال کښې یو وار څه غیبي خبره وتښتوي او خپلو کاهنانو ته یې ورسوي ترڅو ورسره هغوی چندونه-چندونه دروغ ګډ کړي او خلک وربانديې وغلوي.

۴ـ نو ای پیغمبره! د ذکرو شوو دلایلو د اورولو څخه وروسته مشرکان مخاطب کړه او د توبیخ او تخجیل دپاره ترې کلکه پوښتنه وکړه چې: ایا دوی د پیدا کولو د حیثه کلک او سخت دی، او که هغه څوک کلک دی کوم چې مونږ د دوی څخه په غیر په اسمانونو او ځمکو کښې پیدا کړي دي؟

پوره څرګنده ده چې مونږ ته د هیڅ شي پیدا کول څه سختي نه لري، ایا همدوی نه ګوري چې مونږ همدوی د پلار (آدم ؑ) په ملحوظ د سرېښناکې ختې څخه پیدا کړي دي؟، نو په همدې بنیاد مونږ کامل قدرت لرو چې د مرګ څخه وروسته یې یو ځل بیا د قبرونو څخه راپورته کړو او ژوند ورعنایت کړو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی نو نه به د مشرقونو او مغربونو نظام دوام موندلی وی او نه به د شیطانانو د غوږ نیونې مخنیوی شوی وی او داسې نور.

## توضیحات

١ـ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: که څوک وایي چې: تاسو د [النحل:٥٧] ایت لاندې لیکلي دي چې پرښتې نه مذکرې دي او نه مونثې دي، او مذکر ضمائر ورته فقط په دې اعتبار راجع کېږي چې تذکیر د تانیث په نسبت اصل دی: نو پوښتنه دا ده چې: دلته د "الصّٰفّٰت، الزّٰجِرٰت، التّٰلِيٰت" کلمې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په شمول اکثرو علماوو کرامو په پرښتو سره تفسیرې کړي دي[١]، حال دا چې ذکر شوې کلمې په ترتیب سره د "صَافَة، زَاجِرَة، تَالِيَة" د کلماتو جمعې دي چې دغه درېواړه مونثې مفردې کلمې دي؟!

مونږ وایو چې: د ذکرو شوو کلماتو موصوفات د پرښتو جماعتونه او ډلې دي، که بالفرض موصوفات يې د پرښتو اشخاص وی نو اعتراض به وارد شوی وی، نو مونږ ترې داسې تعبیر کوو چې: "جَمَاعَة صَافة، جَمَاعَة زَاجِرة، جَمَاعَة تَالِيَة".

بیا په دوهم ځل سره په "صَافَات، زَاجِرَات، تَالِيَات" سره جمعه شوي دي نو که څوک ورته د جمع الجمع لقبونه ورکړي هم باک يې نشته[٢].

ب: داسې معلومېږي چې د پرښتو عبادت هم د صفونو په ډول سره صورت نیسي لکه چې الله ﷻ د پرښتو د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّونَ﴾ [الصآفات:١٦٥] یعنې پرښتې وایي چې: مونږ د الله ﷻ اولادونه نه یاستو، بلکې د ده ﷻ بندګان یاستو چې په صفونو سره ورته په دوامداره توګه عبادت کوو.

په مونږ باندې په عبادت (لمانځه) کښې د پرښتو غوندې صفونه درول هم سنت ګرځولي شوي دي، چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث شریف کښې فرمایلي دي چې: «جُعِلَتْ صُفُوفُنَا كَصُفُوفِ الْمَلَائِكَة»[٣] یعنې کومې بهترۍ چې مونږ ته الله ﷻ راپېرزو کړي دي، د هغو څخه یوه دا ده چې زمونږ صفونه يې د پرښتو د صفونو غوندې ګرځولي دي.

ج: د "زَاجِرَات" کلمه اصلاً د "زَجْرَة" څخه اشتقاقه شوې ده، د "زَجْرَة" کلمه د چیغې او شړلو (ټکان ورکولو) مجموعې ته وضعه شوې ده خو کله-کله يې په یوازې چیغې او یوازې شړلو باندې هم اطلاق کېږي[٤].

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٢؛ الدر المنثور ج٧ ص٧٨؛ أضواء البیان ج٦ ص٦٧١
(٢) تفسیر القاسمي ج١٤ ص٩٣
(٣) صحیح مسلم ج١ ص١٩٩
(٤) مفردات الراغب ص٢١٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې د پرښتو هغو ډلو ته د "زَاجِرَات" لقب ورکړى شوى دى کومې چې د اوامرو په سرته رسولو بوختې دي، لکه د وريځې خورول او د باران ورول، د يوه کافر قوم هلاکول او داسې نور؛ نو شايد چې د شيطانانو شړل او په شغلو باندې ويشتل به هم د همدغو ګروپونو دنده وي چې په راتلونکو ايتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

د همدغو پرښتو ښخه الله ﷻ په بل ايت کښې داسې تعبير کړى دى چې: ﴿ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ [النحل: ۵۰] يعنې او پرښتې د الله ﷻ داسې مخلوق دى چې هغه کار کوي په کوم باندې چې د الله ﷻ د پلوه مامور کړى شي.

د: د پرښتو کومو ډلو ته چې په ﴿ فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا ﴾ سره اشاره شوې ده، دا د هغو ډلو ښخه عبارت دي کوم چې پيغمبرانو ته په وحې استولو او صالحو بندګانو ته په الهام وراچولو باندې مکلفيت لري، چې په بل ايت کښې ترې داسې تعبير نازل شوى دى چې: ﴿ فَالْمُلْقِيَاتِ ذِكْرًا ﴾ [المرسلات:۵] يعنې نو بيا د پرښتو په هغو ډلو باندې سوګند دى کومې چې مناسبو اشخاصو ته د ذکر (پند او وحې) وراچوونکې (ورږسوونکې) دي.

ه: کله چې الله ﷻ په ځيل کوم مخلوق باندې سوګند ياد کړي نو په حقيقت کښې همغه مخلوق د سوګند جواب اثباتوي.

نو په دې مقام کښې د پرښتو ذکرو شوو ډلو ته ځکه تخصيص ورکړى شوى دى ترڅو مشرکانو ته ورڅرګنده کړى شي چې د الله ﷻ سره د پرښتو اړيکه صرف بندګي او مخلوقيت دى، که بالفرض المحال اړيکه يې ورسره ولديت وى ـلکه چې کفار پرې قول کويـ نو هغوى به ورته د نورو بندګانو غوندې په عبادت کښې قطارونه-قطارونه نه درېدلې، او د نورو اطاعت کوونکو غوندې اطاعت به يې نه کولى.

همدغه مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ ...لَيَقُولُونَ ۝ وَلَدَ اللَّهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾ [الصافات: ۱۵۱، ۱۵۲] يعنې اګاه اوسئ چې د مشرکانو د دروغو ښخه دا خبره هم ده چې دوى وايي چې الله ﷻ ضرور ولد لري (پرښتې بنات الله دي) حال دا چې کفار هرو مرو دروغژنان دي.

و: که څوک وايي چې: ايا د شرعي احکامو د اثبات دپاره سوګند يادول کفايت کوي حال دا چې مشرکان او کفار د قطعي دلايلو ښخه انکاري دي؟

مونږ وايو چې: د همدې پوښتنې جواب د [يونس:۵۳] ايت لاندې ښه مشرح ليکلى شوى دى ـوالحمد لله ﷻـ چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، خو دومره وربانديې وراضافه کوو چې ذکر شوى اعتراض خو به په هغه وخت کښې په ځاى وى چې سوګندونه په دلايلو سره نه وى تعقيب شوي، حال دا چې د دلايلو لړۍ ورسره متصله پيل شوې ده چې: ﴿ رَّبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ الآيات.

## لږ څه معلومات

۲ـ په ﴿ وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴾ کښې لاندې معلومات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د "مَشَارِق" کلمه د "مَشرِق" جمعه ده چې د طلوع او راختلو په ځای (ختیځ) باندې دلالت کوي.

ب: په دې باندې علاوه په دې مقام کښې د "وَرَبُّ الْمَغَارِبِ" کلمات هم مراد دي چې هر شی په ضد باندې د اشارې په توګه لاربښوونه کوي، بلکې په بل ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ ﴾ [المعارج: ۴۰] یعنې نو (دغسې) نه ده (لکه چې کفار خیال کوي) د مشرقونو او مغربونو په رب ﷻ باندې سوګند دی چې مونږ کامل قدرت لرو.

ج: که څوک وایي چې: لمر خو یو مشرق او یو مغرب لري نو څه وجه ده چې دلته د ﴿ ٱلۡمَشَٰرِقِ ﴾ کلمه جمعه نازله شوې ده؟

مونږ وایو چې:

اول: دلته د ټولو ستورو مشرقونه او مغربونه مطلب دي چې لمر او سپوږمۍ هم پکښې شامل دي[1]، لکه چې ورپسې پیوسته د ستورو ذکر نازل شوی دی.

دوهم: دلته یوازې د لمر د راختلو ځایونه مراد دي چې په توحید باندې په ډېر څرګند ډول سره دلالت کوي، د همدې کبله ابراهیم ﷺ د نمرود کافر په وړاندې د لمر په راخېژولو باندې استدلال ونیوه، چې بشپړ بیان یې د [البقرة:۲۵۸] ایت لاندې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ.

پاتې شوه دا خبره چې د "مَشَارِق" د جمعیت وجه څه ده؟ نو د دې جواب دا دی چې:

د [التوبة:۳۶] ایت لاندې لیکلی شوي دي چې شمسي کال د درې سوو پنځه شپېتو (۳۶۵) ورځو او شپږو ساتونو د مجموعې (۳۶۵,۲۵) څخه عبارت دی. نو که د محاسبې د اسانۍ دپاره د کسر (شپږو ساتو) او د پنځو (۵) ورځو څخه نظر واړوو لکه چې ځینو مفسرینو کرامو ترې اړولی دی[2]، نو وبه وایو چې لمریز (شمسي) کال د درې سوه او شپېتو (۳۶۰) ورځو مجموعه ده.

د حمل څخه نیولې آن د سنبلې تر آخره پورې (شپږ میاشتې) لمر په بېل-بېل مشرق کښې راخېژي، چې ټول تعداد یې یو سلو اتیا (۱۸۰) مشرقونو ته رسېږي، دغو مشرقونو ته د اوړي د مشرقونو لقب ورکول کېږي،

بیا د میزان د اول څخه د حوت تر آخره پورې لمر بېرته ستنېږي او د ذکرو شوو مشرقونو څخه تر یو سلو اتیا (۱۸۰) ورځو پورې په معکوسه توګه خپله دوره پیل کوي ترڅو چې په شپږو میاشتو کښې ذکر شوی مشرقونه پوره کړي. دغو مشرقونو ته په ذکر شوي لحاظ سره د منې یا ژمي د مشرقونو لقب ورکول کېږي.

نو د "مَشَارِق" د کلمې د جمعیت وجه دا ده چې: په ایت شریف کښې یوازې د اوړي د مشرقونو مجموعه (۱۸۰)، او یا یوازې د ژمي د مشرقونو مجموعه (۱۸۰)[3]، او بالآخره یا د ټولو مشرقونو

(۱) روح المعاني ج۳ ص۶۷
(۲) البحر المحیط ج۹ ص۹۰
(۳) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۲۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مجموعه درې سوه شپېته (۳۶۰) په نظر کښې نيولې شوې ده.

او که د اوړي او ژمي مشرقونو ته د دوه وو مجموعو په لحاظ وکتلی شي نو د دوه مشرقونو اطلاق ورباندې کېږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ رَبُّ ٱلْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ ٱلْمَغْرِبَيْنِ ﴾ [الرحمن:۱۷].

هو! د مشرقونو جهت او طرف ته په مفردې کلمې سره اشاره کېږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ قَالَ رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَآ ﴾ [الشعراء:۲۸] يعنې موسی ﷺ فرعون مخاطب کړ او رب العالمين يې ورو پېژاند، ورته يې وويلې چې: رب العالمين د شرقي طرف او غربي طرف او د هغه شي رب دی کوم چې د دغو دواړو طرفونو ترمنځ موقعيت لري.

## يادونه

۳ـ په ﴿ إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا ﴾ الآيات- کښې د ستورو او شيطانانو څه حالاتو ته اشاره شوې ده خو همدا موضوع مونږ د [الحجر:۱۶] ايت لاندې ښه پوره څېړلې ده والحمد لله ﷻ چې بيا يې نه شو څېړلی چې کتاب اوږد نه شي.

خو د دې مقام په لحاظ سره دلته لاندې معلومات د الله ﷻ په توفيق ليکو:

الف: په ﴿ وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَٰنٍ مَّارِدٍ ﴾ کښې د "حِفظًا" کلمه په مقدر "حَفظنَاهَا" سره منصوبه ده، او مجموعه جمله په ﴿ زَيَّنَّا ﴾ باندې عطفه ده.

په دې باندې علاوه د ﴿ مَّارِدٍ ﴾ کلمه د "مرداء" څخه اشتقاقه شوې ده، چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:۱۱۷] ايت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده چې د هغو شګو نوم دی کومې چې د نباتاتو څخه خالي او لوڅې وي، شيطان ته ځکه دغه (مَارِد) لقب ورکول کېږي چې د هر خير څخه او د الله ﷻ د اطاعت څخه لوڅ پوڅ دی، نو که مونږ ترې په سرکشه باندې تعبير وکړو هم څه باک يې نشته.

ب: په ﴿ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ کښې د ﴿ لَّا يَسَّمَّعُونَ ﴾ کلمه په اصل کښې "لَا يَتَسَمَّعُونَ" ـلکه "لَا يَتَكَرَّمُونَ" ـ وه، بيا "ت" په "س" بدله شوه او په اصلي "س" کښې مدغمه شوه نو "لَا يَسَّمَّعُونَ" ترې جوړه شوه، خو د "تَفَعُّل" باب دلته په تکلف او مشقت باندې دلالت کوي، چې شيطانانو ته د غوږ نيول اسان کار نه دی.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ ٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ ټولګی د پرښتو د ټولګي څخه عبارت دی چې عالي شان لري او د عصيان څخه معصومې دي[۱]، شايد چې دلته به هغو ټولګيو ته اشاره وي د کومو څخه چې وړاندې په ﴿ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجْرًا ﴾ سره تعبير شوی دی، ځکه چې همدغه د اوامرو اجراء کوونکی ټولګی به د اجراء څخه وړاندې په خپلو منځو کښې خپل ماموريتونه څرګندوي، چې مونږ بايد نن دا کار وکړو، او سبا ته هغه، او داسې نور.

---

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿ دُحُورًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ ﴾ کښې د ﴿ دُحُورًا ﴾ کلمه د "يُقْذَفُونَ" دپاره مَفعُول لَهُ ده[۱] او د شړلو (لرې کولو) معنی ورکړي[۲].

يعنې شيطانان د پرښتو عالي ټولګيو ته په داسې حال کښې په زحمت سره غوږ نيوی کوي چې د شړلو او لرې کولو دپاره د هره جانبه ويشتلی کېږي.

همدارنګه په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ وَاصِبٌ ﴾ کلمه د "دَائِمٌ" سره مرادفه ده[۳]، که څه هم ځينو مفسرينو کرامو دوامداره عذاب د اُخروي عذاب څخه کنايي اخستی دی[۴]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا عذاب به د دنياوي عذاب څخه کنايي وي. يعنې غوږ نيوونکو شيطانانو ته په ستورو باندې ويشتل کېدل دائمي عذاب ګرځولی شوی دی چې د هر کم شيطان ترې بچ کېږي؛ په همدغه مطلب باندې متصله استثناء دلالت کوي.

د: په ﴿ إِلَّا مَنْ خَطِفَ ٱلْخَطْفَةَ ﴾ الآية- کښې د لاندې ټکو شرحه ولولئ:

اول: مفسرينو کرامو په ﴿ إِلَّا مَنْ ﴾ کښې د ارتباط په لحاظ متعدد احتمالات ليکلي دي[۵]، خو بهتره دا ده چې دا کلمات د ﴿ لَّا يَسَّمَّعُونَ ﴾ د جملې څخه استثناء واقع شوي دي[۶].

دوهم: د ﴿ ٱلْخَطْفَةَ ﴾ کلمه په سرعت سره د يوه شي تښتولو ته وضعه شوې ده[۷] او د "ة" توری پکښې د يو کرت په تښتولو باندې دلالت کوي چې د تقليل معنی ترې راځېږي.

درېيم: د ﴿ شِهَابٌ ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النحل:۷] ايت لاندې شرحه کړې ده، چې د بَل کړی شوي اور د شغلې معنی ورکوي.

څلورم: د ﴿ ثَاقِبٌ ﴾ کلمه د "ثَقْب" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د سوري کولو او څېرولو معنی ورکوي[۸].

شايد چې په دې مقام کښې د ستوري شغلې ته ځکه د "ثَاقِب" لقب ورکړی شوی وي چې په توره شپه کښې روښانه لاره جوړوي، ته به وايې چې تياره يې څيرې او سوری کړه.

نو د پاسنيو ټکو په ملحوظ سره د ايت شريف د معنی حاصل داسې راځېږي چې: د پرښتو ټولګيو ته د هر طرفه د ويشتلو د کبله شيطانان په مشقت سره هم غوږ نه شي نيولی، مګر هغه شيطان ورته څه ګوډومات غوږ نيسي کوم چې په تښتولو سره څه د هر لږ خبر وتښتوي، خو دغه هم سمدستي په تېزه شغله باندې تعقيبېږي او ويشتلی کېږي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۷۰
(۲) مفردات الراغب ص۱۶۷
(۳) لسان العرب ج۱ ص۷۹۷
(۴) تفسير ابن کثير ج۵ ص۳
(۵) المحرر الوجيز ج۳ ص۲۲۲؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۶۶
(۶) البحر المحيط ج۹ ص۹۳
(۷) لسان العرب ج۹ ص۷۵
(۸) القاموس المحيط ج۱ ص۴۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## لزب یا لزوب څه معنی؟

۴_ په ﴿ مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴾ کښې د ﴿ لَّازِبٍ ﴾ کلمه د "لَزْب" _لکه "ضَرْب"_ او یا د "لُزُوب" _لکه "نُزُول"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "لَزْب" یا "لُزُوب" دې ته وایي چې د یوه شي اجزاء ځینې په ځینو نورو کښې ننوځي[۱] لکه ختې چې په اړولو او را اړولو سره پخه شي، او اوږه په اغګلو سره ګډوډ شي.

څرنګه چې د ختې د پخولو سره سرېښت لازم دی نو ځکه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د ﴿ طِينٍ لَّازِبٍ ﴾ کلمات په سرېښناکه ختې سره تفسیر کړي دي[۲].

یعنې ای بنیادمانو! مونږ تاسو د آدم علیه السلام په اعتبار سره د سرېښناکې او اغګل شوې ختې څخه پیدا کړي یاست، نو کله چې تاسو خاورې شئ ایا مونږ قدرت نه لرو چې دوهم ځل مو همدغه خاورې ختې وګرځوو او ستاسو کالبوتونه ترې جوړ کړو او په ارواګانو سره مو بېرته راژوندي کړو؟

﴿ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾
وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾
أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَاخِرُونَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ
﴿١٩﴾ وَقَالُوا يَا وَيْلَنَا هَٰذَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿٢٠﴾ هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾ ﴾

[۱۲] بلکې ته (ای پیغمبره! د مشرکانو د انکار څخه) تعجب کوې او مشرکان (په انکار باندې علاوه) ملنډې هم وهي.

[۱۳] او کله چې ورته پند (نصیحت) ورکړی شي نو دوی تذکر نه کوي (پند نه اخلي).

[۱۴] او کله چې دوی (په خپلو سترګو ستا د نبوت) نښه وګوري نو دوی لا زیاتې مسخرې کوي (او لا زیاتې ملنډې وهي).

[۱۵] او (د ملنډو په ترخ کښې) وايي چې دغه (خارق العاده چې مونږ ولید) نه دی مګر څرګند جادو (کوډې) دي. (او دا ځکه چې):

[۱۶] ایا کله چې مونږ مړه شو او مونږ خاورې او هډوکي شو، ایا مونږ یقیناً ضرور (د قبرونو څخه بېرته) راپورته کړی شوي یاستو؟

[۱۷] ایا مونږ او زمونږ اولني (مړه شوي) پلرونه هم (ضرور د قبرونو څخه راپورته کړی شوي دي؟).

[۱۸] (ته ورته په جواب کښې) ووایه چې: هو، په داسې حال کښې (راپورته کړی شوي یاست) چې تاسو به د ذلت (او خجالت) درلودونکي یاست.

[۱۹] ځکه چې یقیناً بېرته راژوندي کېدل (په شېبلۍ کښې فقط) یوه چیغه (او یو اواز) دی،

(۱) لسان العرب ج۱ ص۷۳۸
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ناڅاپه (او سمدستي) به ټول خلک (د قبرونو څخه راپورته کړی شوي وی او) ګوري (به چې څه به ورسره وکړی شي).

[۲۰] او کفار به (په دغه وخت کښې) ووايي: ای زمونږ افسوسه! دغه د جزا ورځ ده (چې مونږ نن په دنيا کښې انکار کاوه).

[۲۱] (او د پرښتو د پلوه به ورته وويلی شي چې: هو!) دغه د فيصلې هغه ورځ ده کومه چې تاسو (په دنيا کښې) وئ چې د دروغو نسبت به مو ورته کاوه (او باور به مو ورباندې نه کاوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د توحيد دلايل نازل شوي وه او په ايتونو کښې د کفارو او مشرکانو عکس العمل ته اشاره شوې ده، چې خلاصه يې داسې راځي:

۱ـ ای پيغمبره! د توحيد د قوي دلايلو د بيان څخه وروسته اوس په خپل اُمت باندې د کفارو عکس العمل قرائت کړه چې د زيات جهالت او عناد څخه نمايندګي کوي. هغه دا چې:

الف: کفار په خپله کفري عقيده باندې د عناد د کبله کلک دي خو د دې سره-سره نه د توحيد ذکر شوي دلايل ردولی شي او نه د خپلو کفرياتو دپاره کوم دليل اقامه کولی شي.

بلکې نور خلک لا څه چې ته پخپله د کفارو د بلا دليله انکار څخه تعجب کوې او ورته حيران يې چې په څومره لوی جهالت کښې پراته دي.

ب: د زيات تعجب حال يې لا دا دی چې په انکار باندې علاوه په توحيدي عقيدې باندې ملنډې هم وهي.

ج: کله چې ورته د دوی د ښېګڼې دپاره پند ورکړی شي چې انکار او ملنډې پرېږدئ او د توحيد عقيده خپله کړئ، نو دوی پند نه قبلوي او خپل غوږونه ورباندې کاڼه اچوي.

د: او کله چې خارق العاده کار وګوري چې د توحيد د عقيدې په حقانيت باندې دلالت کوي، لکه د سپوږمۍ ټوټه کېدل، نو په ملنډو او مسخرو کښې لا زيادت وکړي. آن تر دې چې دوی په ملنډو سره وايي چې:

هـ: يقينًا دغه خارق العاده کار څرګند جادو او کوډې دي.

و: په مسخرو سره دا پوښتنه هم مطرحه کوي چې: ايا کله چې مونږ مړه شو او بدنونه مو خاورې شي او په خمکه کښې تيت پرک شي، ايا مونږ به هرومرو بيا راپورته کړی شوي او ژوندي کړی شوي ياستو؟ او ايا زمونږ پخواني پلرونه به هم بېرته راژوندي کړی شي، حال دا چې دوی ټول په خاورو کښې خاورې شوي او ورک شوي دي؟

۲ـ ای پيغمبره! ذکرو شوو معاندينو (د بعث بعد الموت منکرينو) ته ووايه چې:

الف: هو! تاسو او ستاسو پخواني پلرونه به هرو مرو او ضرور د دوهم ځل دپاره راژوندي کړی شئ او په داسې حال کښې به د الله ﷻ په حضور کښې ودرولی شئ چې د ډېر ذلت او حقارت سره به مخامخ ياست، ډېر به خجله او ډېر به شرمنده ياست. او دا ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دغه بیا ژوندي راپورته کول څه مشکل کار نه دی او نه اوږد وخت ته اړتیا لري بلکې په دوهم ځل شپېلۍ کښې فقط یوه کړیکه ده، چې د همدغې یوې کړیکې سره سم به ټول مړي د خپلو قبرونو څخه را اوچت شي او د محشر په میدان کښې به د حساب کتاب دپاره ودرولی شي، او دې ته به منتظر وي چې اوس به څه پېښېږي.

ج: په دغې ورځ کښې به د بعث بعد الموت منکران په حسرت سره ووايي چې: ای زمونږ افسوس او حسرته! راشه چې همدا دې وخت دی. دا د جزا هغه ورځ ده چې په دنیا کښې وربانډې مونږ باور نه درلود او په شدت سره ترې انکاري وو، بلکې ملنډې او مسخرې به مو ورپورې کولې.

د: بیا به همدغو کفارو ته د دوی د زیات تخجیل او تذلیل دپاره وویلی شي چې دا د فیصلې هغه ورځ ده کومې ته چې تاسو په دنیا کښې د دروغو نسبت کاوه او عقیده مو وربانډې نه کوله.

## توضیحات

۱ـ که څوک وايي چې: په دې ایتونو کښې د "یَسْخَرُونَ" او د "یَسْتَسْخِرُونَ" دوه کلمې نازلې شوې دي چې لومړۍ کلمه د مجردو څخه ده او دوهمه د مزیدو څخه اشتقاقه شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې د دغو دواړو کلمو په معنی کښې څه فرق شته؟

مونږ وايو چې: مفسرین کرام[1] د دې پوښتنې په جواب کښې وايي چې:

الف: دلته مجرد او مزید په یوه معنی سره دي چې ملنډې وهل دي، او تفاوت یې تفنن في العبارة دی.

ب: په ﴿ یَسْتَسْخِرُونَ ﴾ کښې د طلب معنی زیاته ده. یعنې کله چې مشرکان خارق العاده کار وګوري لکه شق القمر او نور، نو دوی د لېدونکو څخه دا غوښتنه کوي چې ملنډې وربانډې ووهي او د جادو لقب ورکړي.

## تبصره

۲ـ مونږ ته دوهم شق غوره بریښي چې د تورو زیادت د معنی په زیادت بانډې دلالت کوي، خو د معنی زیادت دلته د نورو څخه د ملنډو مطالبه نه ده بلکې په ملنډو کښې مبالغه ده، چې د سحر په لقب ورکولو څرګنده شوې ده، لکه چې متصل ایت شریف وربانډې دلالت کوي.

## نحوي تحلیل

۳ـ په ﴿ أَوَءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ﴾ کښې د "آبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ" کلمات مبتدأ ده، او خبر یې مقدر دی چې مونږ ترې په "لَمَبْعُوثُونَ" بانډې تعبیر کولی شو[2]، چې مذکور ﴿ لَمَبۡعُوثُونَ ﴾ وربانډې دلالت کوي. یعنې او ایا زمونږ پخواني مړه شوي پلرونه به هم بېرته د قبرونو څخه راپورته کړی شي؟!

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۲۲۴
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۴_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الصافات:۲] ایت لاندې لیکلې دي چې د "زَجْرَة" د کلمې کله-کله په بوازې چیغه او کړیکه باندې هم اطلاق کېږي. په دې مقام کښې ترې همدغه معنی مراده ده؛ لکه چې په [یس:۵۳] ایت کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ﴿ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ ﴾ کښې د "هِيَ" ضمیر د "بَعْثَة" کلمې ته راجع دی، په کومې باندې چې مقام دلالت کوي.

یعنې: نو د قبرونو څخه د مړو ژوندي راپورته کول بل شی نه دی (کوم اشکال نه لري) فقط په شپېلۍ کښې د دوهم ځل دپاره یوه چیغه او یو اواز دی چې د اسرافیل ﷺ د پلوه به صورت ونیسي.

﴿ٱحْشُرُوا۟ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ وَأَزْوَٰجَهُمْ وَمَا كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٢٢﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهْدُوهُمْ إِلَىٰ
صِرَٰطِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمْ ۖ إِنَّهُم مَّسْـُٔولُونَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلْ هُمُ ٱلْيَوْمَ
مُسْتَسْلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّكُمْ كُنتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ
ٱلْيَمِينِ ﴿٢٨﴾ قَالُوا۟ بَل لَّمْ تَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ ۖ بَلْ كُنتُمْ
قَوْمًا طَٰغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ﴿٣١﴾ فَأَغْوَيْنَٰكُمْ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ﴿٣٢﴾
فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوٓا۟ إِذَا
قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓا۟ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍۭ
﴿٣٦﴾ بَلْ جَآءَ بِٱلْحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣٧﴾ إِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا۟ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ
إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾﴾

[۲۲] (اې پرښتو!) تاسو هغه کسان راغونډ کړئ کومو چې (په دنیا کښې) ظلم کړی وه (کفر یې غوره کړی وه) او د دوی آمثال (همعقیده خلک هم) او هغه (بوتان) هم چې دوی به یې (هلته) عبادت کاوه.

[۲۳] (البته) د الله ﷻ څخه په غیر، نو (مختلف ګروپونه ترې جوړ کړئ او بیا) د سوزونکي اور (دوزخ) لاره وروښایست (په همدغې لاره باندې یې سوق کړئ).

[۲۴] او (په دغې لاره کښې) یې لږ ودروئ (ځکه چې) یقیناً (د تهدید او توبیخ دپاره) دوی پوښتلي شوي دي (پوښتنه ترې کېږي چې):

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۵] تاسو لره څه دي چې (په دغې وروستنۍ مرحله کښې هم) یو تربله کومک نه کوئ؟

[۲۶] (دوی یو تربله کومک نه شي کولی) بلکې دوی به په دغې ورځ کښې (هرڅوک د خپل- خپل ځان دپاره) سلامتي غوښتونکي وي (او بس).

[۲۷] او د کفارو ځیني به (د قیامت په ورځ) په ځینو نورو مخ وروارووي (او پرې به پرې واچوي البته) په داسې حال کښې چې یو تربله به پوښتنې کوي (او داسې سوال جواب به سره وکړي چې):

[۲۸] دوی (کشران او پیروان) به (مشرانو ته) ووایي چې: یقینًا تاسو په دنیا کښې وئ چې مونږ ته به مو د ښي طرفه (بلکې د هره طرفه په دې غرض) راتګ کاوه (چې مونږ کفري عقیده خپله کړو).

[۲۹] دوی (مشران) به (ورته په جواب کښې) ووایي چې: (دغسې نه ده) بلکې تاسو (په دنیا کښې وئ چې) ایمان راوړونکي نه وئ.

[۳۰] او مونږ لره په تاسو باندې (هلته) هیڅ سلطه نه وه (چې ستاسو په زړونو باندې مو حاکمیت درلودلی وی) بلکې تاسو سرکشه قوم یاست (هلته مو سرکشي کوله).

[۳۱] نو په مونږ (کشرانو او مشرانو ټولو) باندې زمونږ د رب ﷻ (د تعذیب) خبره ثابته شوې ده، (نو) یقینًا مونږ (ټول) هرومرو (د عذاب) څکونکي یاستو.

[۳۲] نو (لنډه دا چې) مونږ تاسو (د وسائلو په لحاظ) بې لارې کړئ (خو تاسو بې لارې په اختیار سره قبوله کړه) یقینًا مونږ (پخپله په اختیار سره) ګمراه شوي وه (نو زمونږ او ستاسو هیڅ فرق نشته په اصل کفر کښې یو برابر یاستو).

[۳۳] نو (ای پیغمبره!) ټول کفار به په دغې ورځ په (اصل) عذاب کښې شریکان (یو برابر) وي (خو په څرنګوالي کښې به سره توپیر ولري).

[۳۴] یقینًا مونږ د مجرمانو سره دغسې (چال چلند) کوو.

[۳۵] یقینًا دوی (نن ورځ) دي چې (د تلقین دپاره) ورته وویلی شي چې لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ (تاسو هم دغه کلمه ووایاست)، نو تکبر کوي (او د ویلو څخه یې ډډه کوي).

[۳۶] او (په تعجب سره) وایي چې: ایا مونږ خامخا د یوه لیوني شاعر دپاره د خپلو معبودانو پرېښودونکي یاستو؟

[۳۷] (دا پیغمبر لیونی او شاعر نه دی) بلکې په حقه سره (ورته) ورغلي دي او د (پخوانیو ټولو) پیغمبرانو تصدیق کوونکي دي.

[۳۸] (ای کفارو!) یقینًا تاسو د دردناک عذاب څکونکي یاست.

[۳۹] او تاسو ته جزا نه درکوله کېږي مګر د هغو اعمالو چې تاسو یاست چې کوئ یې.

[۴۰] مګر د الله ﷻ مخلصان بندګان (ترې بچ دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو په وروستنیو دوه وو ایتونو کښې د قیامت ورځ د یوم الدین او یوم الفصل په لقبونو سره یاده شوې وه. د دې ایتونو څخه آن تر [۷۴] ایت پورې په همدغو دواړو لقبونو باندې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وبالي (۲۲) په بوره ربنا نازله شوې ده، چې د ذکرې شوې مجموعې ایتونو د مطلب خلاصه داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې څه نور حالات هم قرائت کړه چې:
۱ـ الله ﷻ به د حشر په میدان کښې پرښتو ته امر وکړي چې:
الف: د هرې خوا څخه کفار راټول کړئ او د مؤمنانو څخه یې را جدا کړئ.
ب: بیا ترې د عقیدې په ملحوظ مختلف ګروپونه جوړ کړئ او د کفریاتو سیالان سره غونډ کړئ.
ج: په دې باندې علاوه د هرې ډلې او هر ګروپ سره هغه معبودان هم ضمیمه کړئ د کومو به یې چې به دنیا کښې عبادت کاوه او د الله ﷻ څخه په غیر به ورته په الوهیت معتقد وه.
د: د ګروپ بندۍ څخه وروسته هر یو ګروپ ته د دوزخ لاره وښایست چې ستاسو لاره دغه ده، په دنیا کښې تاسو د خپلو خانونو دپاره همدغه لاره غوره کړې وه او د جنت لارې ته مو شاوې اړولې وې.
۲ـ پرښتو ته به د ګروپ بندۍ څخه وروسته دا هم وویلی شي چې:
الف: تاسو دغه کفري ګروپونه ټول د یوې پوښتنې دپاره ودروئ چې د تخجیل او توبیخ دپاره ترې صورت ونیسي. هغه دا چې:
ب: ای کفارو! تاسو ټول د دوزخ په لاره باندې روان یاست او دغه دی په سات ګړۍ کښې به عابدین او معبودین او هم کشران او مشران په دوزخ کښې ورواچولی شئ. نو پوښتنه دا ده چې تاسو لره څه دي چې یو تربله کومک نه کوئ؟ ستاسو یو تربله دنیاوي لاپې شاپې څه شوې؟ ایا د دې څخه به هم په تاسو باندې کوم سخت حال درځي؟
۳ـ نو په دغه حال کښې به یو د بل سره په هیڅ ډول سره کومک نه شي کولی بلکې ټول به د خپلو-خپلو خانونو دپاره د سلامتیا غوښتونکي وي، او هرڅوک به په خپل غم اخته وي، چې کاش نجات مونده کړي، خو دا ارمان به د هیچا پوره نه کړی شي.
۴ـ ای پیغمبره! د قیامت د ورځې د حالاتو څخه یو حال دا دی چې:
الف: ځینې کفار به ځینو نورو ته پوښتنې راجع کړي او یوه ډله به په بلې باندې د کفر پړه ور واچوي، داسې چې:
ب: کشران او پیروان به خپلو مشرانو او رئیسانو ته ووایي چې مونږ ستاسو د لاسه د دغې بدې ورځې سره مخامخ شوو، او دا څکه چې:
اول: همدغه کفري لاره تاسو زمونږ دپاره خوښه کړې وه، او تاسو وربانديې د نجات د لارې او د خیر د لارې لقب اینبی وه.
دوهم: په همدغې لارې باندې د تللو په ارتباط تاسو د زور څخه هم کار اخست، چې مونږ پرې د مجبوریت د کبله تګ کاوه.
دریم: تاسو د همدغې لارې په بهترۍ باندې سوګندونه هم کول.
څلورم: تاسو د پیسو په زور ذکره شوې لاره په مونږ باندې قبوله کړې وه، په دنیا کښې مونږ فقیران وو او تاسو شتمن وئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې تاسو د هرې ممکنې لارې څخه کار اخست ترڅو مونږ ستاسو دعوت قبول کړاو سمه لاره مو غلطه کړه.

ج: بالمقابل مشران به د خپلو پیروانو پړه بېرته په همغوی باندې ورواچوي او په لاندې ډول به یې رده کړي چې:

اول: دغسې نه ده لکه چې تاسو ګومان کوئ بلکې په دنیا کښې تاسو پخپله ایمان راوړونکي نه وئ. او دا ځکه چې:

دوهم: که څه هم مونږ په تاسو باندې برلاسي وو مګر ستاسو په زړونو باندې خو زمونږ قدرت نه وه، مونږ خو نه شو کولی چې ستاسو په زړونو کښې په زور سره کفري عقیده ټینګه کړو.

دریم: تاسو پخپله سرکشه او د حد څخه تجاوز کوونکی قوم وئ او په خپله خوښه مو کفري عقیدې ته په زړونو کښې ځای ورکړی وه.

څلورم: نن ورځ په مونږ باندې پړه اچول تاسو ته هیڅ ګټه نه شي رسولی، په مونږ او تاسو ټولو باندې د خپل رب ﷻ د عذاب خبره ثبوت ته رسېدلې ده نو هرومرو او ضرور مونږ او تاسو د عذاب څکونکي یاستو.

پنځم: هو! مونږ تاسو په دې معنی باندې نه یاست ګمراه کړي چې کفري عقیده مو ستاسو په زړونو باندې تحمیله کړې وي، بلکې مونږ تاسو داسې بې لارې کړي یاست لکه څنګه چې مونږ پخپله بې لارې وو. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې مونږ په اختیار سره کفري عقیده ټینګه کړې وه همدارنګه تاسو هم په خپل اختیار سره کافر شوي وئ ستاسو په زړونو باندې خو مونږ حاکمیت نه درلود.

۵ـ ای پیغمبره! څرنګه به چې د قیامت په ورځ ټول کفار (مشران او کشران) د کفري عقیدې په خپلولو باندې پړه وي او سوال جواب به ورته هیڅ ګټه ونه شي رسولی، نو ټول به په عذاب کښې اشتراک ولري او ټول به د جنایتونو په تفاوت سره دوزخ ته په ابدي توګه ورواچولی شي. دا ځکه چې:

۶ـ ټول کفار (مشران او کشران) په دنیا کښې داسې دي چې:

الف: کله چې ورته وویلی شي: د توحید کلمه (لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ) ووایاست، او د الله ﷻ څخه په غیر د بل شي عبادت مه کوئ، نو دوی سمدستي تکبر کوي چې د توحید کلمه نه په خوله باندې لولوي او نه ورباندې عقیده کوي.

ب: په دې باندې علاوه ټول په تعجب سره وایي چې: ایا مونږ په یقین سره د خپلو معبودانو پرېښودونکي جوړ شو؟ دا هم د بل چا په خوله نه بلکې د یوه شاعر او لیوني په خوله؛ ایا دا کار د منلو وړ دی؟

۷ـ دغسې نه ده لکه چې کفار ورباندې قول کوي، نو دوی ته ورغلی پیغمبر شاعر او لیونی نه دی، بلکې دوی ته یې حق وروړی دی او واقعیتونه ورته بیانوي، او په دې باندې علاوه د پخوانیو ټولو پیغمبرانو تصدیق کوونکی دي.

ایا لیونی او شاعر واقعیات بیانولی شي؟ ایا د پخوانیو پیغمبرانو تصدیق کولی شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸_ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه کفار مخاطب کړه چې:

الف: یقینًا تاسو په غلطه لاره روان یاست، او هرومرو د دردناک عذاب څکونکي یاست (هیڅکله به ترې نجات مونده نه کړئ).

ب: دغه دردناک عذاب (دوزخ) تاسو د خپلو خانونو دپاره په خپله خوبنه ګټلی دی او تاسو ته جزا نه درکولی کېږي مګر د هغو کړو وړو د کبله کوم چې تاسو یاست چې روزمره یې په عمل باندې اخته یاست.

ج: مګر د الله ﷻ مخلصان بندګان د دردناک عذاب څخه نجات موندونکي دي چې د توحید کلمه یې قولاً او عقیدتاً خپله کړې ده.

## توضیحات

۱_ په ﴿ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ﴾ کښې د "أَزْوَاج" کلمه اکثرو علماوو کرامو _د عمر ﷺ (أمیر المؤمنین) او عبدالله بن عباس رضی‌الله‌عنهما (رئیس المفسرین) په شمول_ د یوې عقیدې او د یو مسلک په خلکو باندې تفسیره کړې ده[1]. یعنې الله ﷻ به پرښتو ته امر وکړي چې د میدان د مختلفو څنډو څخه هغه کسان د خپلو سیالانو سره راغونډ کړئ کومو چې ظلم او کفر غوره کړی دی، او د هرې ډلې سره خپل دنیاوي باطل معبود هم یوځای کړئ او بیا یې د دوزخ په لاره روان کړئ، ترڅو دوی پوه شي چې باطل معبودان او خپل خاص ملګري ورته هیڅ ګټه نه شي رسولی.

همدا مضمون په لاندې نصوصو کښې ډېر ښه واضحه شوی دی چې:

الف: الله ﷻ د کفارو څخه مونږ ته خبر راکوي چې: ﴿أَمۡ يَقُولُونَ نَحۡنُ جَمِيعٞ مُّنتَصِرٞ﴾ [القمر:۴۴] یعنې ایا کفار وایي چې: مونږ غټه متفقه ټولنه یاستو (یو تربله کومک کوونکي) او انتقام اخستونکي یاستو؟.

نو هلته به تهدیداً ذکره شوې خبره وریه زره کړی شي چې: ولې نن ورځ یو د بل سره کومک نه کوئ؟

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې: «فَيَقُولُ أَلَا يَتْبَعُ كُلُّ إِنْسَانٍ مَا كَانُوا يَعْبُدُونَ»[2] یعنې د قیامت په ورځ به رب العالمین ﷻ وفرمایي چې اګاه اوسئ چې هرښنیادم دې هغه شي پسې لاړ شي (او د هغه پیروي دې وکړي) د کوم به یې چې په دنیا کښې عبادت کاوه.

نو په همدې بنیاد به بوت پرستان د بوتانو په تعدد سره ډلې ډلې شي او همدارنګه به په صلیبیانو او نورو کفري خلکو کښې بېلې‌بېلې ډلې جوړې شي.

## استسلام څه معنی؟

۲_ په ﴿بَلۡ هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ﴾ کښې د ﴿مُسۡتَسۡلِمُونَ﴾ کلمه د "اِسْتِسْلَام" څخه اشتقاقه

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴؛ الدر المنثور ج۷ ص۸۳؛ تفسیر الطبري ج۲۳ ص۴۷

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده، چې په دې مقام کښې لاندې دوه معناوې درلودلی شي[۱]:

الف: چې "اِستِسلام" د سلامتی د غوښتنې معنی ورکړي. یعنې په دغې ورځ کښې به کفار د خپلو-خپلو خانونو دپاره د سلامتیا غوښتونکي وي، اما د بل چا سره کومک کول خو به د هیڅا په خیال کښې هم نه تېرېږي.

ب: چې "اِستِسلام" د انقیاد په معنی سره شي. یعنې بلکې په دغې ورځ کښې به کفار الله ﷻ ته غاړې اېښودونکي وي، که بالفرض المحال د چا په توان کښې نصرت وي هم خپل ځان به یې وربانديې غلی کړی وي چې نصرت کول د انقیاد سره منافي کار دی.

## د یَمین معنی

۳ـ په ﴿ تَأْتُونَنَا عَنِ ٱلْيَمِينِ ﴾ کښې د "یَمِین" کلمه په دې مقام کښې متعددې معناوې درلودلی شي[۲] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د "یَمِین" کلمه د "یُمْن" ـلکه "غُلْف"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خیر او برکت معنی ورکوي، یعنې تاسو مونږ ته کفري عقیده د خیر او برکت لاره معرفي کړې وه چې خیر او برکت په همدې کښې دی.

ب: دغه کلمه د قوت او قدرت څخه کنایي ده، یعنې: تاسو په مونږ باندې په دنیا کښې کفري عقیده د زور او قوت د لارې تحمیله کړې وه.

ج: دا کلمه د سوګند معنی ورکوي، یعنې تاسو خو په دنیا کښې سوګندونه یادول چې کفري لاره حقه لاره ده او د مرګ څخه وروسته بیا ژوندون نشته.

د همدغه سوګند د لارې څخه ابلیس ـعلیه اللعنةـ آدم علیه السلام او حواء رضي الله عنها ته دوکه ورکړه او دواړه یې خطاء کړه، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّى لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّـٰصِحِينَ ﴾ [الأعراف:۲۱] یعنې او آدم علیه السلام او حواء رضي الله عنها ته ابلیس سوګند یاد کړ، چې یقیناً زه ستاسو دواړو دپاره خیر غوښتونکی یم او تاسو دواړو ته د ناصحینو د ډلې څخه یم.

## تبصره

۴ـ مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ أعلمـ چې دلته د "یَمِین" په کلمه باندې د مثال په توګه صراحت شوی دی او مطلب څلور واړه طرفونه دي، او څلور واړه طرفونه (وړاندې، وروسته، ښي، چپ) د مختلفو وسائلو څخه کنایي دي. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

ای مشرانو! مونږ په دنیا کښې څکه کفري عقیده خپله کړې وه، چې تاسو به مونږ ته په همدې هکله د هره طرفه راتګ کاوه او هره یوه وسیله به چې په ګمراه کولو کښې اغېزمنه واقع کېدله تاسو به د همغې وسیلې څخه کار اخست. د مثال په توګه:

---

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۲۸۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۷۴

(۲) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۴۹؛ زاد المسیر ج۶ ص۲۹۲؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۷۵؛ لسان العرب ج۱۳ ص۴۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


الف: تاسو زمونږ په ګمراه کولو کښې د وهلو او ډبولو څخه کار اخست.
ب: تاسو مونږ ته په همدې ملحوظ پیسې او دنیاوي سامانونه راکول.
ج: د شهوتراني وسائل راته تاسو برابر کړي وه.
د: د ناروا نشریاتو څخه هم تاسو په همدې موخه کار اخست.
ه: د زنانه وو لوڅ پوڅ تصویرونه تاسو خورول.
و: په غزلیاتو او سرودونو باندې تاسو صرفه نه کوله.
ز: د چوکۍ تمه به تاسو راکوله، او د مخالفت په صورت کښې به تاسو د چوکۍ څخه په عزل باندې تهدیدولو، او داسې نور.

لنډه دا چې تاسو زمونږ په بې لارې کولو کښې په هیڅ شي باندې صرفه نه ده کړې، نو که بالفرض تاسو ذکر شوي وسائل په کار نه وی اچولي نو مونږ به نه وی ګمراه شوي او اوس به د دوزخ په لور نه وی سوق کړی شوي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: ﴿ فَأَغْوَيْنَٰكُمْ ﴾ کښې د کفري مشرانو د خولو څخه اعتراف حکایت شوی دی چې "هو، مونږ تاسو ګمراه کړي یاست" حال دا چې د همدوی د خولو څه په ﴿ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَٰغِينَ ﴾ کښې انکار حکایت شوی دی. نو پوښتنه دا ده چې ایا د دغو دواړو حکایتونو ترمنځ منافات نشته؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوي سوال جواب ته په ﴿ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ ﴾ کښې اشاره شوې ده هغه دا چې:

رښتیا چې مونږ ستاسو په ګمراه کولو کښې د هرې وسیلې څخه کار اخستی وه، او په همدې ملحوظ مونږ ستاسو ګمراه کوونکي یاستو، اما ستاسو په زړونو باندې مونږ څه حاکمیت نه درلود چې ستاسو اراده مو سلبه کړې وی، بلکې تاسو په خپله خوښه او په خپله اراده کفري لاره غوره کړې وه.

همدغه مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ﴾ [القصص: ۶۳] یعنې مشران به د الله ﷻ په حضور کښې د کشرانو اتهام داسې رد کړي چې: ای زمونږ ربه! مونږ دوی داسې ګمراه کړي وه لکه څنګه چې مونږ پخپله ګمرهان شوي وه.

یا په بل عبارت، کشرانو زمونږ غوندې بالاختیار کفري عقیده خوښه کړې وه، مونږ خو د دوی په زړونو باندې حاکمیت نه درلود، نو مونږ د دوی د کفریاتو څخه برائت اعلانوو.

﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ۝٤١ فَوَٰكِهُ وَهُم مُّكْرَمُونَ ۝٤٢ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝٤٣ عَلَىٰ سُرُرٍ
مُّتَقَٰبِلِينَ ۝٤٤ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ۝٤٥ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ۝٤٦ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا
هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ۝٤٧ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ عِينٌ ۝٤٨ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ۝٤٩ ﴾

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۱] (ای پیغمبره!) دغه (مخلصین بندګان) چې دي، دوی ته معلومه روزي ده (یوازې الله ﷻ ته معلومه ده او بس).

[۴۲] (دا روزي) د میوجاتو (څخه عبارت ده چې د خوند او مزې دپاره به خوړل کېږي)، حال دا چې (هغوی ته به) عزت (او اکرام) ورکړی شوی وي.

[۴۳] (البته) د نعمتونو په جنت کښې (به معزز ګرځولی کیږي).

[۴۴] (هغوی به هلته) په تختونو باندې په داسې حال (ناست وي) چې یو بل ته به مخ ورارونکي وي (هلته به کینه او عداوت نه وي).

[۴۵] په هغوی باندې به (هلته د خدمتګارانو د پلوه) د بهېدونکي شرابو څخه ډکې پیالې تاوولی کېږي.

[۴۶] (داسې بهېدونکي شراب چې) تک سپین رنګه (به وي، او) څښونکو ته به خوند (مزه) ورکوونکي وي.

[۴۷] په دې شرابو کښې به په هیڅ ډول فساد نه وي او نه به د هغو د کبله جنتیان بې سده (بې عقله) ګرځولی شي.

[۴۸] او د جنتیانو په نزد به (هلته په خپلو خاوندانو باندې) د نظر لنډوونکې غټې سترګې لرونکې (ښځې) وي.

[۴۹] (دا ښځې به د ډېرو صفا او سپېڅلو رنګونو لرونکې وي) لکه چې دوی (د ګردونو څخه په پرده کښې ساتلې شوې هګۍ وي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د مخلصو بندګانو څه اُخروي حالاتو ته اشاره شوې ده د کومو په ذکر باندې چې وړاندېنۍ مجموعه ختمه شوې وه. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د مخلصو بندګانو د اُخروي حالاتو څخه په خپل اُمت باندې لاندې حالات قرائت کړه:

۱ــ همدغو مخلصو بندګانو ته په جنت کښې داسې پاکیزه روزي ده چې یوازې الله ﷻ ته یې کم او کیف معلوم دی، او بس.

دغه روزي د ډول-ډول میوجاتو څخه عبارت ده، چې صرف د تلذذ او خوند دپاره به خوړل کېږي، نه لا غذایت دپاره چې د لوږې مخه ورباندې ونیولی شي.

۲ــ جنتیان به په جنت کښې برسېره په مادي نعمتونو باندې د روحي او معنوي نعمتونو خاوندان هم وي، هغه دا چې:

الف: دوی به هلته عزت او وقار درلودونکي وي او د نعمتونو په باغونو کښې به د خوشالۍ په حال کښې ګرځي راګرځي.

ب: هلته به جنتیان په تختونو باندې ناست وي، او یو به بل ته مخامخ ګوري او شا به نه وراړوي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دا ځکه چې هلته کینه او عداوت نشته چې د یوه رنګ په بل باندې ښه ونه لګي.

۳_ په دوی باندې به هلته د شرابو څخه ډکې پیالې (جامونه) تاوولی او ګرځولی کېږي، دې ته به اړ نه وي چې پخپله د هغو په لټه کښې شي. د هغو شرابو صفات دا دي:

الف: هغه شراب به د میوجاتو او غذایي شیانو څخه زېښبلي شوي نه وي، بلکې هغه به د چینو شراب وي چې بهېږي به.

ب: هغه به تک سپین رنګ ولري، او د دنیا د شرابو غوندې به خیرن پیرن نه وي.

ج: هغه به د څښونکو (جنتیانو) دپاره ډېر مزه ناک او خوندور وي، بدخوندي به پکښې نه وي.

د: په دغو شرابو کښې به هیڅ ډول عیب او ضرر نشته، لکه چې د دنیا شراب د ډېرو عیبونو څخه ډک دي.

هـ: بالآخره جنتیان به د دغو شرابو څخه بې عقله (نېشه) نه ګرځولی کېږي چې د لیوني غوندې په اپلتو باندې سر شي.

۴_ هلته به جنتیان مېرمنې او ښځې لري چې د دوی په وړاندې به په دائمي توګه موجودې وي، د هغوی ځینې امتیازي صفات دا دي:

الف: ذکرې شوې ښځې به د خپلو خاوندانو څخه په غیر بل چاته نه ګوري بلکې نظر به یې په همدوی پورې اختصاص لري چې محبت یې په همدوی پورې خاص دی.

ب: دا جنتي ښځې به، حورې وي او که نورې، تکې تورې غټې سترګې لري.

ج: دا جنتي ښځې به په صافوالي کښې دومره صافې او پاکې وي لکه چې دوی د پوټکي لاندې هګۍ وي چې نه وربانديې ګرد لوېدلی وي او نه وربانديې د چا لاس لګېدلی وي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾ فَوَٰكِهُ ﴾ کښې د ﴿ مَّعْلُومٌ ﴾ کلمه لاندې دوه تفسیرونه درلودلی شي:

الف: کوم نعمتونه چې جنتیانو ته په جنت کښې ورکولی کېږي د هغو پوره کم او کیف یوازې الله ﷻ ته معلوم دی، چې په دنیا کښې د هغو څرنګوالی نه غوږونو اورېدلی دی او نه سترګو لیدلی دی او بالآخره نه د چا په زړه کښې تېر شوی دی.

همدې مضمون ته په [السجدة:۱۶] ایت کښې اشاره شوې ده، او همدلته د یوه قدسي حدیث په روایت سره تفسیر شوی دی والحمد لله ﷻ.

ب: که څه هم په جنت کښې نعمتونه زښت ډېر او په مختلفو ډولونو او خوندونو سره شتون لري، مګر تول به جنتیانو ته معلوم وي چې د فلانکي نعمت خوند او مزه داسې ده او د فلانکي هغسې ده[۱]، نو چې هر ډول خوند او مزې ته یې اراده وشي همغه به د استفادې دپاره انتخابوي. که بالفرض هغوی ته یې کیفیات معلوم نه وي نو ډېر نعمتونه به ترې بې استفادې پاتې شوي وي.

[۱] المحرر الوجیز ج۱۳ ص۲۳۱؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ فَوَٰكِهُ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د ﴿ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴾ دپاره بیان واقع شوې ده. د "فَوَاكِه" کلمه د میوجاتو معنی ورکوي، او پوره واضحه ده چې میوجات د خوند او تلذذ په حیث خوړل کېږي، نه د غذا په حیث چې د لوږې مخه ورباندې ونیوله شي.

نو د مرغانو د غوښو په شمول هلته د هر ډول خوراک او څښاک څخه د تلذذ په حیث استفاده کېږي، نه په دې حیث چې د لوږې یا تندې مخه ورباندې ونیوله شي. همدې مضمون ته په [طه: ۱۱۸، ۱۱۹] ایتونو کښې اشاره شوې ده.

## د سرور معنی

۲_ په ﴿ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴾ کښې د ﴿ سُرُرٍ ﴾ کلمه د "سَرِیْر" جمعه ده، چې د پاچایي تخت معنی ورکوي[۱]، شاید چې د جنت چوکۍ به د "سُرُر" په نامه څکه نومولې شوې وي چې دا کلمه د "سُرُور" _لکه "غُرُور"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د خوشالۍ دپاره وضعه شوې ده، او پوره واضحه ده چې پاچایي تخت د خوشالیو څخه نمایندګي کوي.

## جنتي شراب

۳_ په دې مقام کښې الله ﷻ د جنتي شرابو څو اِمتیازات نازل کړي دي، چې ځینو وضاحتونه یې دا دي:

الف: دلته په ﴿ يُطَافُ عَلَيْهِم ﴾ کښې د ﴿ يُطَافُ ﴾ صیغه مجهوله نازله شوې ده، چې طواف کوونکي معلوم نه دي، خو په بل ایت کښې معلوم شوي دي چې: ﴿ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ ﴾ [الطور: ۲۴] یعنې او په جنتیانو باندې به هلته د دوی غلامان (خدمتګاران) تاوېږي راتاوېږي.

عین مضمون ته په [الواقعة: ۱۷_ ۱۹] ایتونو کښې هم اشاره شوې ده، او په دې باندې علاوه په همدې ارتباط ډېر احادیث هم روایت شوي دي لاندې یو مثال یې ولولئ:

نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ»[۲] یعنې یقیناً د رتبې او درجې د حیثه اَدنی جنتي هغه څوک دی کوم لره به چې اتیا زره خدمتګاران وي.

## د کأس معنی

ب: په ﴿ بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴾ کښې د "کَأْس" د کلمې اطلاق په لاندې معناوو باندې کېږي[۳]:

اول: هغه لوښی کوم چې د شرابو څخه ډک وي، برابره خبره ده چې ښیښوي وي او که نه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۳۴. لسان العرب ج۴ ص۳۶۱

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۳. مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۵۲

(۳) مفردات الراغب ص۴۳۶. لسان العرب ج۶ ص۱۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: هغه لوښی په کوم کښې چې شراب څښکل کېږي، برابره خبره ده چې شراب پکښې موجودیت ولري او یا نه.

دریم: پخپله شراب د لوښي، د لحاظ څخه پرته.

په دې مقام کښې مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ أعلمـ چې دلته به دریمه معنی مراده وي او دا ځکه چې دلته د "کَأس" کلمه په هغو صفاتو باندې موصوفه ګرځولې شوې ده، کوم چې شرابو پورې اختصاص لري او لوښي ته پکښې مداخله نشته لکه ﴿ بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ ﴾ او نور.

## یو صرفي تحلیل

ج: په ذکر شوی عبارت کښې د ﴿ مَّعِينٖ ﴾ کلمه په صرفي لحاظ سره په دوه ډوله[1] تحلیلېدلی شي، لکه چې د [المؤمنون: ۵۰] ایت لاندې ورته د الله ﷻ په توفیق اشاره شوې ده، هغه دا چې:

اول: دا کلمه په اصل کښې "مَعْيُون" وه ـلکه "مَفْعُول"ـ چې د "م" توری پکښې د مفعولیت دپاره زیادت موندلی دی، بیا د "مبیع" په اعلال سره "مَعِين" ګرځېدلې ده.

دوهم: دا کلمه د "فَعِيْل" په وزن ده، او إعلال پکښې صورت نه دی نیولی، او د "م" توری پکښې اصلي توری دی.

په دواړو تقدیرونو سره په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د جاري اوبو څخه عبارت ده. یعنې جنتي شراب د میوجاتو یا د حبوباتو څخهٔ نه زېښېلی کېږي، بلکې د اُوبو غوندې بهېږي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «وَبَحْرَ الْخَمْرِ ثُمَّ تُشَقَّقُ الْأَنْهَارُ بَعْدُ»[2] یعنې په جنت کښې د شرابو دریاب دی، چې بیا د همدغه دریاب څخه د هر جنتي کور ته ویالې ورېېلې شوې دي.

## د بیضاء تفسیر

د: په ﴿ بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴾ کښې د ﴿ بَيۡضَآءَ ﴾ کلمه حسن علیه‌الرحمة داسې تفسیره کړې ده چې: "خَمْرُ الْجَنَّةِ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ"[3] یعنې د جنت شراب د سپینوالي د حیثه د شودو څخه زیات سپین دي. د دنیا د شرابو په څېر په مختلفو رنګونو کښې نه دي لکه خړ، زیړ، تور او داسې نور.

هـ: د جنت د شرابو خوند او مزه ډېره زیاته ده، ته به وایې چې ټول خوند او مزه ده لکه چې د ﴿ لَذَّةٖ ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي، همدارنګه ډېره زیاته خوشبویي هم لري او د دنیاوي شرابو غوندې بدبویه نه دي[4].

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۸۷؛ مفردات الراغب ص۳۶۸؛ لسان العرب ج۱۲ ص۴۱۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۴
(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۲۷
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## غَول څه معنی؟

و: په ﴿لَا فِيهَا غَوْلٌ﴾ کښې د ﴿غَوْلٌ﴾ کلمه مفسرینو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده⁽¹⁾، لاندې مثالونه یې ولولی:

اول: دا کلمه د سردرد معنی ورکوي.

دوهم: دا د ګېډې درد او د پېچش په معنی سره ده.

دریم: د دې معنی د ګېډې پړسېدل، او د متیازو بهېدل دي.

څلورم: د بې عقله کېدلو او د هوښیارۍ زوال معنی لري، او داسې نور.

### تبصره

ز: د دنیاوي شرابو مفاسد د شمېر لاندې نه شي راتلای، د همدې کبله ورته الله ﷻ په [المائدة: ۹۰] ایت کښې د "رِجْس" لقب ورکړی دی چې پلیت دی، او نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې د "أُم الخبائث" په نامه بللی دی چې: «اجْتَنِبُوا الْخَمْرَ فَإِنَّهَا أُمُّ الْخَبَائِثِ»⁽²⁾ یعنې تاسو د شرابو څښکلو څخه خپل ځانونه وساتئ چې یقینًا دا د ټولو خبیثو او ناپاکه کارونو بېخ او بنیاد دی.

نو زمونږ په فکر د ﴿غَوْلٌ﴾ کلمه د شرابو ټولو مفاسدو ته شامله ده، خو یوازې څلورمې مفسدې ته ـ چې د عقل زوال دی ـ په دې مقام کښې شامله نه ده او دا ځکه چې په همدغې مفسدې باندې وروسته صراحت شوی دی چې په لاندې کرښو کښې یې ولولئ:

### نَزف معنی

ح: په ﴿وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ﴾ کښې د ﴿يُنزَفُونَ﴾ کلمه د "نَزْف" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "نزف" دې ته وایي چې په تدریج سره یو شی د منځه یوړلی شي⁽³⁾ لکه چې د یوه کوهي (څا) ټولې اوبه په کراره-کراره وویستلی شي، او یا یې ټولې اوبه په ورو-ورو وچې کړی شي چې په نتیجه کښې پکښې هیڅ اوبه پاتې نه شي. خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او نورو ډېر علماوو کرامو ذکره شوې کلمه د عقل په زوال (بې سده ګرځولو) باندې تفسیره کړې ده⁽⁴⁾.

یعنې جنتیان به په جنت کښې د شرابو څښلو د امله بې سده نه شي ګرځولی چې عقل ترې لاړ شي او په اپلتو او بې هوده خبرو باندې سرشي.

### جنتي ښځې یا حورې

۴ـ د جنت حورې او یا جنتي ښځې ډېر صفات او امتیازات لري چې په قرآن کریم او احادیثو

---

(۱) زاد المسير ج۶ ص۲۹۴؛ تفسير الطبري ج۲۳ ص۵۴؛ نظم الدرر ج۶ ص۳۱۱

(۲) سنن النسائي ج۲ ص۳۳۰

(۳) مفردات الراغب ص۳۶۸

(۴) المحرر الوجيز ج۳ ص۲۳۳؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۷۸؛ البحر المحيط ج۹ ص۱۰۱؛ تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خای په خای بیان شوي، خو کومو صفاتو او امتیازاتو ته یې چې په دې مقام کښې اشاره
ږي ده د هغو څه وضاحتونه دا دي:

الف: په ﴿ وَعِندَهُمْ قَـٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ عِينٌ ﴾ کښې د ﴿ قَـٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ ﴾ د کلماتو معنی دا ده[1]
چې د دغو ښځو د سترګو "طَرف" یعنې کتل به فقط په خپلو خاوندانو پورې قصر او خاص وي، بل
یا نه د کتلو اراده به ورسره نه پیدا کېږي بلکې په همدوی باندې به عاشقانې وي.

ب: په همدغه عبارت کښې د ﴿ عِينٌ ﴾ کلمه د "عیناء" جمعه ده، "عیناء" هغې ښځې ته وايي د
کومې چې سترګې غټې وي او هم یې د سترګو کاسې پراخه وي[2].

## د بیض او مکنون معناوې

ج: په ﴿ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴾ کښې د ﴿ بَيْضٌ ﴾ کلمه اسم جنس ده چې په مفرد، مثنی او جمعه
درېواړو باندې یې اطلاق کېږي، د همدې کبله په دې مقام کښې د ﴿ مَّكْنُونٌ ﴾ په کلمه باندې
موصوفه شوې ده چې مفرده ده.

دا کلمه د هګۍ معنی ورکوي او مفرد یې (بَيْضَة) ترې په "ة" سره جدا شوی دی، او په "بیوض"
سره جمعه کېږي، لکه څنګه چې د "تَمْر" کلمه اسم جنس ده او مفرد یې (تَمْرَة) ترې د "ة" په پیوستون
سره جدا کېږي[3] او په "تُمُور" سره جمعه کېږي.

د: په همدې عبارت کښې د ﴿ مَّكْنُونٌ ﴾ کلمه د "كِنّ" ـلکه "سِرّ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د
هغې پردې او صندوق دپاره وضعه شوې ده په کوم کښې چې یو شی ساتلی کېږي[4].

په ایت شریف کښې جنتي ښځې په صفاوالي کښې د هغو هګیو سره تشبیه کړی شوې دي
کومې چې د ګردونو څخه په پرده کښې کښې پټې وي.

پاتې شوه دا خبره چې دلته کومه پرده مراده ده؟، نو د دې جواب دا دی چې:

اول: دلته د پیل مرغ هګۍ مرادې دي چې زېړوالي ته مائل سپین رنګ لري، البته په داسې حال
کښې چې په خاله کښې د وزرونو د پردې لاندې د دوړو او ګردونو څخه پټې ساتلې شوې وي[5].

دوهم: دلته هغه پرده مراده ده په کومه کښې چې د پوټکي لاندې هګۍ راتاوه کړی شوې وي[6]،
چې نه ورباندې د مرغه پښې او بڼکې لګېدلې وي او نه ورسره د چا لاس تماس نیولی وي.

مونږ ته همدغه دوهم قول بهتر برېښي، چې مبالغه پکښې زیاته ده او د مقام سره زیاته مبالغه
ښه تناسب لري.

---

(١) تفسیر الطبري ج٢٣ ص٥٦
(٢) لسان العرب ج١٣ ص٣٠٢
(٣) روح المعاني ج٢٣ ص٨٩؛ لسان العرب ج٧ ص١٢٤؛ اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص٣٠٥
(٤) القاموس المحیط ج٤ ص٩٠؛ مفردات الراغب ص٤٥٩
(٥) اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص٨٠
(٦) تفسیر الطبري ج٢٣ ص٥٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: ذکر شوی مضمون په ډېرو نصوصو کښې شته، لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ [الرحمن:۵۸] يعنې جنتي ښځې د ياقوتو او مرجانو غوندې صافې او سپېځلې دي، که څوک ترې اميل جوړ کړي نو تار يې کښې د ورايه ښکارېږي.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ الْمَرْأَةَ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُرَى بَيَاضُ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ سَبْعِينَ حُلَّةً حَتَّى يُرَى مُخُّهَا»[۱] يعنې يقيناً د جنتيانو د ښځو څخه هره يوه ښځه دومره صافه او سپېځلې ده چې ضرور د پنډيو سپينوالی يې د اويا جامو څخه هغې خوا ته څرګندېږي، آن تردې چې د پړکي ماغزه يې هم پکښې ليدل کېږي.

يا په بل عبارت: که هغوی اويا جنتي جامې واغوندي هم صفايي يې پکښې نه پټېږي، نه به وايې چې د لمر سترګه يې په جامو کښې راتاوه کړې ده.

## سوال جواب

و: که څوک وايي چې: په جنت کښې خو مجرد نارينه نشته، ټول نارينه به د مراتبو په تفاوت سره دنياوي ښځې او حورې ولري، خو پوښتنه دا ده چې ايا هلته مجرده ښځه شته چې خاوند ونه لري؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال د جواب دپاره لاندې مقدمات په نظر کښې لرل په کار دي:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَمَا فِي الْجَنَّةِ أَعْزَبُ»[۲] يعنې په جنت کښې اعزب نشته.

ب: علماء کرام وايي چې: په دغه حديث کښې د «أَعْزَبُ» په عوض د "عَزَب" ـلکه "شَرَف"ـ کلمه صحت لري[۳].

ج: عرب وايي چې: "امْرَأَةٌ عَزَبَةٌ، عَزَبٌ"[۴] يعنې هغه ښځه کومه چې مېړه نه لري، او هم وايي چې: "الْعَزَبُ مَنْ لَا أَهْلَ لَهُ"[۵] يعنې "عَزَب" د هغه چا دپاره وضعه شوی دی کوم چې آهل (مېرمن) ونه لري.

نو د پاسنيو مقدماتو په نظر کښې نيولو سره د حديث شريف مضمون داسې راځېږي چې: په جنت کښې بې خاونده ښځه نشته، نو کومه ښځه چې بې واده مړه شوې وي او يا يې مېړه ابدي دوزخي وي، هغه به الله ﷻ هلته د خپلې ارادې مطابق کوم جنتي نارينه ته ورکړي.

ځينو مفسرينو کرامو څو متعدد احاديث راغونډ کړي دي[۶]، چې مضمون يې دا دی: الله ﷻ به په جنت کښې لاندې زنانه د نبي کريم ﷺ په اهل کښې شاملې کړي:

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۰

(۲) صحيح مسلم ج۳ ص۳۷۹؛ مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۹

(۳) شرح النووي في ذلک الحديث

(۴) لسان العرب ج۱ ص۵۹۵

(۵) القاموس المحيط ج۳ ص۲۱۳؛ النهاية في غريب الحديث والأثر ج۳ ص۲۲۸

(۶) تفسير ابن كثير ج۴ ص۳۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: آسیه رضی الله عنها د فرعون ښځه، چې مېړه یې ابدي دوزخي دی.

دوهم: مریم رضی الله عنها د عیسی علیه السلام مور، چې مېړه یې نه دی کړی او مجرده مړه شوې وه.

﴿فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿٥١﴾ يَقُولُ أَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾ فَاطَّلَعَ فَرَآهُ فِي سَوَاءِ الْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَاللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ ﴿٥٧﴾ أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٥٩﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ ﴿٦١﴾﴾

[۵۰] نو ځيني جنتيان به ځينو نورو ته په داسې حال کښې مخ ورتاو کړي چې يو تربله به سره پوښتنې (او ګويکنې) کوي.

[۵۱] (په همدې ترڅ کښې به) د جنتيانو څخه يو ويلند (نورو ته) ووايي چې: يقيناً مالره (په دنيا کښې) يو (داسې) انډيوال وه (چې):

[۵۲] (ماته) به يې (په تعجب سره) ويلې چې: ايا يقيناً ته (په بعث بعد الموت باندې) د باورکوونکو (د ډلې) څخه يې؟!

[۵۳] (دا غير ممکنه خبره ده څکه چې:) ايا کله چې مونږ مړه شو او مونږ خاورې او هډوکې شو، ايا يقيناً مونږ به (بېرته راژوندي کړی شوي او) ضرور جزا ورکړی شوي ياستو؟!

[۵۴] (ذکر شوی) ويلند به (بيا نورو جنتيانو ته) ووايي چې: ايا تاسو اطلاع حاصلوونکي ياست؟ (ايا تاسو غواړئ چې زما د دنياوي انډيوال په حال باندې خان پوه کړئ؟).

[۵۵] نو (بول به د اطلاع د ترلاسه کولو فيصله وکړي، نو همغه) ويلند به (د نورو په شمول) اطلاع (خبرتيا) حاصله کړي، نو (ذکر شوی دنياوي) انډيوال به د سوزوونکي دوزخ په منځکښې وګوري.

[۵۶] (ذکر شوی) ويلند به (ورته) ووايي چې: په الله ﷻ باندې دې زما سوګند وي چې ته (په دنيا کښې) نژدې وې چې زه دې هلاک کړی وی (د خپل خان په شان دې په ابدي دوزخ کښې اچولی وی).

[۵۷] او که زما د رب ﷻ نعمت (په ماباندې) نه وی، نو زه به (هم نن ورځ په دوزخ کښې) د حاضر کړی شوو د ډلې څخه ګرځېدلی وی.

[۵۸] (مونږ په دائمي جنت کښې ياستو) ايا نو مونږ مړه کېدونکي ياستو؟!

[۵۹] (البته) زمونږ د پخواني مرګ څخه په غير (په بل مرګ سره؟)، او ايا مونږ عذاب کړی شوي ياستو؟ دغسې نه ده. مونږ نه بيا مړه کېږو)، او نه مونږ عذاب کړی شوي ياستو.

[۶۰] يقيناً دغه (مذکور صورت حال) هرو مرو لويه کاميابي ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۱] (ای پیغمبره!) د دغې کامیابۍ په مثل کامیابۍ ته دې نو عمل کوونکی عمل وکړي (نه د فاني دنیا کامیابۍ ته).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېني ایتونه په دې مضمون باندې هم شامل وه چې جنتیان به په تختونو باندې ناست وي، او د خوشالیو په حال کښې به خبرې اترې کوي. په دې ایتونو کښې د هغوی د خبرو اترو یوه مثال ته اشاره شوې ده چې خلاصه یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د هغو موضوعاتو یو مثال قرائت کړه کومې به چې جنتیان هلته په خپلو منځو کښې تر بحث لاندې نیسي، هغه دا چې:

۱ـ هلته به جنتیان د خوشالۍ په حال کښې ځینې کسان ځینو نورو ته مخ ور اړوي چې: ای فلانکیه! په دنیا کښې فلانۍ موضوع څنګه وه؟ او هلته مو څه خبرې کولې او څه عمل مو ترسره کاوه؟ او داسې نور.

۲ـ په همدې ترڅ کښې به د هغوی یو ویناکوونکی یوې دنیاوي قیصې ته اشاره وکړي او وبه وایي چې:

الف: ای د مجلس حاضرینو! زه تاسو ته د یوې دنیاوي قیصې څه مهم ټکي دراَوروم هغه دا چې: په دنیا کښې یو سړی وه چې زما سره یې ناسته ولاړه درلوده او وخت په وخت به یې راسره خبرې کولې.

ب: یوه ورځې یې راته په ډېر تعجب سرهوویلې چې:

اول: ایا رښتیا ته د هغو کسانو د جملې څخه یې کوم چې د قیامت په ورځ تصدیق کوونکي دي او د مرګ څخه وروسته ورته بیا راژوندي کېدل حق او واقعیت څرګندېږي؟

دوهم: که ته په ذکره شوې خبره باندې عقیده لرې نو لرې به یې، مګر زه خو هیڅکله دغه عقیده نه شم خپلولی، او دا ځکه چې:

درېم: ایا کله چې مونږ مړه شو او په ځمکه کښې خاورې شو او هم مو هډوکي وراسته شي او ټول بندونه او پیوندونه مو سره بېل-بېل شي، نو ایا په رښتیا سره به مونږ بېرته راژوندي کړی شو او په خپلو کړو وړو باندې به مجازات کړی شو؟، دا هیڅ واقعیت نه لري او د خیالاتو څخه په غیر بل شی نه دی.

ج: ای د مجلس انډیوالانو! ایا تاسو د ذکر شوي سړي په حال باندې ځانونه نه خبروئ چې په دوزخ کښې د څه کیفیت سره مخامخ دی؟

د مجلس حاضرین به د نوموړي کافر په حال باندې خبرېدل خوښ کړي، نو په همدې بنیاد به قیصه کوونکی جنتي سړی د خپلو ملګرو په شمول دوزخ ته یوه کتنه وکړي او د هغه د لیدلو هڅه به وکړي.

د کتنې په ترڅ کښې به دوی ټول نوموړی کافر د سوزوونکي دوزخ په منځکښې وګوري او جنتي ملګری به ورته په داسې حال کښې ووایي چې نورو ملګرو جنتیانو به ورته غوږ اینښی وي چې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په الله ﷻ باندې سوګند دی چې ته په دنیا کښې نژدې وې چې زه دې بې لارې کړی او د هلاکت په کنده کښې اچولی وی، ایا تا ماته دعوت نه راکاوه چې ستا غوندې کفري عقیده خپله کړم؟ ایا تا ماته دعوت نه راکاوه چې بیا ژوندون واقعیت نه لري بلکې محض خیالات او اوهام دي؟

ه: په مابانديې د خپل رب ﷻ مرحمت او لطف وه چې په توحیدي عقیده یې کلک پاتې کړم او په پښه مې ونه ښویېده.

که بالفرض هلته زما پښه ښویېدلې وی نو نن ورځ به زه هم ستاسو غوندې د دوزخ په دائمي عذاب کښې حاضر کړی شوی وی او د نجات ټولې دروازې به راباندې تړلې شوې وی.

و: ای دوزخي دنیاوي ملګریه! دا هم واوره چې ماته خپل رب ﷻ د ابدي دوزخ څخه نجات راکړی دی او د بې زواله نعمتونو خاوند یې ګرځولی یم، په همدې بنیاد د دغو پوښتنو جوابونه منفي دي:

اول: ایا مونږ د اولني مرګ څخه په غیر په بل مرګ سره مړه کېدونکي یاستو؟

دوهم: ایا مونږ جنت ته د داخلېدلو وروسته معذب کړی شوي یاستو؟

نو په مونږ باندې نه بیا مرګ راځي او نه تعذیب، اما په تاسو باندې مرګ نه درځي خو تعذیب مو دائمي دی، هیڅ انقطاع نه لري.

ز: نو دغه کامیابي (چې بیا راباندې مرګ نه راځي او نعمتونه مو انقطاع نه لري) یقینًا همدا ډېره لویه کامیابي ده چې الله ﷻ مونږ ته راپېرزو کړې ده، او ته ترې محروم کړی شوی یې.

۳ـ ای پیغمبره! رښتیا چې دا ډېره لویه کامیابي ده، نو په کار دي چې په دنیا کښې د همدغې کامیابۍ غوندې کامیابۍ ته کارکوونکي کار وکړي، او په همدې هکله خپلو هلو ځلو ته قوت ورکړي او بس.

او دا ځکه: لکه څنګه چې دنیا فاني ده همدارنګه د دنیا کامیابي هم فاني ده، چې په مرګ سره ختمېږي، خو د دې سره-سره په فاني دنیا باندې باقي دنیا ګټله کېږي.

## توضیحات

۱ـ ځینې مفسرینو کرامو لیکلي دي چې: کومو دوه کسانو ته چې په دې ایتونو کښې اشاره شوې ده دا هغه دوه کسان دي د کومو ترمنځ محاوره چې الله ﷻ مونږ ته په [الکهف:۳۲] ایت او نورو ایتونو کښې راحکایت کړې ده[۱]، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

## دین څه معنی؟

۲ـ په ﴿ أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ﴾ کښې د "مَدِينُونَ" کلمه د "دِين" ـلکه "عِيْن"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، د "دِين" کلمه د لغت په اعتبار سره د جزا او مکافاة معنی ورکوي. یعنې کافر انډیوال وویلې: کله چې مونږ خاورې او په ځمکه کښې تیت پرک شو نو ایا مونږ به بیا راژوندي کړی شوي او جزا (مکافاة) راکړی شوي یاستو؟ دا کار هیڅکله کېدونکی نه دی او زه ورباندې عقیده نه لرم.

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادوني

۳ـ د دې مقام په تفسیرولو کښې باید لاندې یادونې په لحاظ کښې وساتلې شي:

الف: که څه هم جنتیان او دوزخیان په ډېرو لرو مسافو کښې استوګنه لري خو د دې سره سره د دوارو ډلو ترمنځ د لیدلو او خبرو اترو کولو دپاره کوم مانع نشته، الله ﷻ په هر شي باندې کامل قدرت لري.

په دې باندې علاوه په دنیا کښې یې څه نظایر شته چې د [الأعراف: ۵۰] ایت لاندې ورته اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ب: په دې مقام کښې الله ﷻ مونږ ته د دوزخي خبره راحکایت نه کړه نو امکان لري چې نوموړي به د ډېر خجالت د کبله سکوت اختیار کړي. او دا هم څه لرې نه ده چې جواب به یې ورکړي خو الله ﷻ به مونږ ته د دې کبله نه وي راحکایت کړي چې د افسوس او حسرت څخه په غیر به پکښې بل شی نه وه، والله ﷻ أعلم.

ج: د کلام په ترتیب کښې مونږ ته بهتره ښکاره شوه چې د ﴿ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ ﴾ څخه نیولې آن تر ﴿ لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ پورې ټول مضامین د جنتي سړي د خولې څخه الله ﷻ حکایت کړه، او په ﴿ لِمِثۡلِ هَٰذَا ﴾ الآیة- کښې الله ﷻ د همدغه جنتي په وینا باندې یوې تبصرې ته اشاره کړې ده چې باید خلک ترې عبرت واخلي.

ځینو مفسرینو کرامو د کلام په ترتیب کښې نور احتمالات لیکلي دي[۱] که څوک یې لوستل غواړي نو هملته دې مراجعه وکړي.

﴿ أَذَٰلِكَ خَيۡرٞ نُّزُلًا أَمۡ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلۡنَٰهَا فِتۡنَةٗ لِّلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٞ تَخۡرُجُ فِيٓ أَصۡلِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلۡعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٦٥﴾ فَإِنَّهُمۡ لَأٓكِلُونَ مِنۡهَا فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمۡ عَلَيۡهَا لَشَوۡبٗا مِّنۡ حَمِيمٖ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ إِنَّ مَرۡجِعَهُمۡ لَإِلَى ٱلۡجَحِيمِ ﴿٦٨﴾ إِنَّهُمۡ أَلۡفَوۡاْ ءَابَآءَهُمۡ ضَآلِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمۡ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ يُهۡرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدۡ ضَلَّ قَبۡلَهُمۡ أَكۡثَرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٧٤﴾ ﴾

[۶۲] (ای پیغمبره!) ایا دغه (د جنتیانو نعمتونه) د میلمستیا د حیثه بهتر دي یا د زقوم ونه (د همدې حیثه بهتره ده)؟

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۸۴؛ المحرر الوجیز ج۱۳، ص۲۳۷؛ روح المعاني ج۲۳ ص۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۳] یقیناً د زقوم ونه مونږ د ظالمانو (کافرانو) دپاره عذاب (او امتحان) ګرځولې ده.

[۶۴] یقیناً د زقوم ونه یوه داسې ونه ده چې د سوزوونکي دوزخ په بېخ کښې راوخې راټوکېدلې ده).

[۶۵] د دې ونې (د مېوې) وږی (په قباحت او بدرنګۍ کښې) د شیطانانو د سرونو غوندې دي.

[۶۶] نو بې شکه د همدې ونې (د مېوې) څخه به دوامداره توګه دوزخیان خوړونکي دي، نو د همدې ونې (د مېوې) څخه د خپلو ګېډو ډکوونکي دي.

[۶۷] بیا یقیناً دوزخیانو (کافرانو) ته د زقوم په ونې باندې د پاسه ضرور د ایشېدلو (ګرمو اوبو څخه ګډول (ځښل) دي (چې کُلمې به یې ټوټه-ټوټه کړي).

[۶۸] بیا (د ایشېدلو اوبو څخه وروسته) سوزوونکي اور ته د هغوی بېرته ورتاوېدل دي.

[۶۹] (ځکه چې): یقیناً کفارو (ظالمانو) خپل پلرونه ګمراهان موندلي دي.

[۷۰] نو د خپلو ګمراهانو پلرونو په قدمونو باندې په داسې حال کښې (روان) دي چې منډې وهي (روند تقلید یې کوي او بلا فکره ورپسې ځغلي).

[۷۱] او یقیناً د (موجوده) کفارو څخه وړاندې ډېرو رومبنیو (اُمتونو هم) ګمراهي غوره کړې وه.

[۷۲] او بې شکه مونږ په رومبنیو اُمتونو کښې ډاروونکي (پیغمبران) استولي وه.

[۷۳] نو وګوره چې د ډارول شوو کسانو عاقبت څنګه شو؟ (ایا ټول پوپنا نه شوه؟).

[۷۴] مګر د الله ﷻ مخلصان بندګان (په دنیا او آخرت کښې د عذابه په امن کښې پاتې شوه).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د جنتیانو د حالاتو په تعقیب د دوزخیانو ځینو حالاتو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې د کفارو (دوزخیانو) ځینې حالات قرائت کړه ترڅو ترې د مقایسې په توګه عبرت واخلي. هغه دا چې:

۱_ خپل امت مخاطب کړه او پوښتنه ترې وکړه چې: ایا د جنتیانو د رنګارنګ مېوجاتو روزي، د شرابو څخه ډکې پیالې او د دوی حورې او غلمان او نور نعمتونه د مېلمستیا په حیث بهتر دي او که د دوزخیانو د عذابونو او په تېره بیا د زقوم د ونې مېلمستیا بهتره ده؟!

د زقوم د ونې څه ځانګړتیاوې دا دي چې:

الف: دغه ونه مونږ په دوزخ کښې د کفارو (دوزخیانو) دپاره د ډېر سخت عذاب ګرځولې ده، او په دنیا کښې مو ورته د هغې د حالاتو اخبار امتحان جوړ کړی دی.

څو دوی یې په موجودیت باندې څکه باور نه کوي چې:

ب: یقیناً دغه یوه ونه ده چې د ګرم دوزخ د بېخ څخه راپورته شوې ده او همغه په سرو لمبو کښې ولاړه ده.

ج: د دغې ونې وږي او غوټۍ داسې بدرنګ او بدڅېره دي ته به وایې چې د شیطانانو سرونه دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نو یقیناً د همدغې ونې د میوې څخه دوزخیان (کفار) خوړونکي دي، او هیڅ نجات به ونه مومي چې خوراک ترې ونه کړي، بلکې هرومرو به د همدغې بدڅېره او بې خونده مېوې څخه دوی په دوامداره توګه د خپلو ګېډو ډکوونکي وي.

ه: په همدغه ناکاره او بدرنګ خوراک باندې به د پاسه دوزخیان د دوزخ د ګرمو اوبو څخه څښي. یا په بل عبارت: په دوزخ کښې د دوزخیانو خوراک د زقوم د ونې میوه ده او څښاک یې هلته جوش کړی شوې ګرمې اوبه دي.

و: د ذکر شوي خوراک او څښاک څخه وروسته بیا هم د هغوی دپاره د نجات لاره نشته، بلکې بیا به هغوی د همدغه ګرم دوزخ نورو عذابونو ته رجوع کوي او بیا به ورباندې اخته کېږي.

لنډه دا چې د دوزخیانو تعذیبونه د شمېر لاندې نه شي راتلای بلکې په دوامداره توګه به د یوه تعذیب سر وي او د بل به آخر.

۲_ ای پیغمبره! د کفارو دائمي تعذیب د دې کبله دی چې:

الف: هغوی ته الهي دعوت ورسېد خو هغوی ورته هیڅ التفات ونه کړ او د پښو لاندې یې کړ، او په جلتۍ سره د خپلو ګمراه پلرونو په قدم روان پاتې شوه.

یا په بل عبارت: هغوی د لیونیانو غوندې هغه لاره خپله کړه په کومه باندې یې چې خپل پلرونه موندلي وه، او په همدغې کفري لارې باندې د مرګ تر ورځې پورې کلک پاتې شوه.

ب: هو! د هغوی د پخوانیو پلرونو اکثریت ګمراهان وه او د حقې لارې څخه په انحراف کښې واقع وه، او اقلیت یې په سمه لاره باندې روان وه، نو هغوی د اقلیت لاره پرېښودله او په عوض یې د اکثریت لاره خپله کړه او ځانونه یې د ابدي دوزخ مستحق وګرځول.

ج: هسې نه چې ذکر شوي دوزخیان مونږ بې دعوته پرېښي وه بلکې هغوی ته مو وخت په وخت پیغمبران ورلېږلي وه چې حقه لاره او باطله لاره یې ورته دواړه واضحه کړې وې، چې دا د دوزخ لاره ده او دا د جنت، تاسو د جنت په لاره لاړ شئ او د دوزخ د لارې څخه خپل ځانونه بچ وساتئ.

۳_ نو ای پیغمبره! ته وګوره چې د ډار کړی شوو عاقبت، او د دعوت د نه قبلوونکو عاقبت څنګه شو؟!.

مګر د مخلصانو بندګانو عاقبت دغسې نه دی (لکه چې پوره شرحه یې وړاندې تېره شوه)، په جنت کښې به دوی د همېشه دپاره په نعمتونو کښې ژوندي وي.

## توضیحات

۱_ په ﴿أَمْ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د "زَقُّوم" کلمه _لکه "تَنُور"_ د "زَقْم" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "زَقْم" د یوه شي بنویه تېرولو او یوه لمړۍ کولو ته وایي، خو دغه کلمه د لاندې معناوو دپاره هم وضعه شوې ده[1]:

---

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۴٦٤؛ لسان العرب ج۱۲ ص۲٦۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: کوږ او کجوري چې کږوږ کړی شي نو د زقوم په نامه یادېږي.

دوهم: د تِهَامَة په ښېدیاګانو کښې د یوې ونې نوم زقوم دی چې وړې-وړې پاڼې لري او ډېر بد بوی کوي، او داسې شوده لري چې ډېر ترخه دي که د چا بدن ته ورسېږي نو سمدستي پړسېږي.

دريم: زقوم د هغې ترخې ونې د میوې نوم دی کومه چې د دوزخ په تل کښې په قدرتي توګه شنه شوې ده او ښاخونه یې په ټول دوزخ کښې خواره واره دي.

نو په همدې بنیاد "زَقُّوم" ته د ﴿ شَجَرَةٌ ﴾ اضافت داسې دی لکه چې په "شَجَرَةُ الرُّمَان" کښې "الرُّمَان" ته د "شَجَرَة" اضافت شوی دی، یعنې د انار ونه.

ب: په دې مقام کښې همدغه دریمه معنی مراده ده، نبي کریم ﷺ په همدې هکله فرمایلي دي چې: «وَلَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ لَأَمَرَّتْ عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ عَيْشَهُمْ فَكَيْفَ مَنْ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا الزَّقُّومُ»[1] یعنې او که بالفرض د زقوم د ونې څخه یو څاڅکی (اوبه یا شوده په دنیا کښې) راوڅاڅي نو د ځمکې په اوسېدونکو باندې به ژوند تریخ کړي (هیڅ شی به خوږ پاتې نه شي)، نو د هغه چا به څه حال وي چې هغوی ته پرته د زقوم څخه بل خوراک نه وي؟!

ج: په ﴿ فِتْنَةً لِّلظَّٰلِمِينَ ﴾ کښې د "زَقُّوم" ونې ته د "فِتْنَة" لقب ورکړی شوی دی چې لاندې دوه تفسیرونه درلودلی شي:

اول: چې د ﴿ فِتْنَةً ﴾ کلمه د عذاب معنی ورکړي، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ ذُوقُوا۟ فِتْنَتَكُمْ ﴾ [الذاريات: ۱۴] یعنې الله ﷻ به د قیامت په ورځ کفارو ته ووایي چې خپل عذاب وڅکئ[2] (چې په دنیا کښې مو د همدې دپاره زیار ویستلی وه).

دوهم: چې د ﴿ فِتْنَةً ﴾ کلمه د امتحان معنی ورکړي، نو کله چې الله ﷻ په قرآن کریم کښې د "زَقُّوم" د ونې ذکر نازل کړ نو کفار د سخت امتحان سره مخامخ شوه، چې شنه ونه به په دوزخ کښې څنګه زرغونه شي، نو په امتحان کښې ناکام شوه او کفر یې لا پیاوړی شو. همدې مضمون ته په [الإسراء: ٦۰] ایت کښې اشاره شوې ده.

د: په ﴿ طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴾ کښې د "طَلْع" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۹۹] ایت لاندې ښه تحلیله کړې ده، خو په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه د "زَقُّوم" د ونې مېوه مطلب ده چې د دوزخیانو خوراک ده[3].

## سوال جواب

ﻫ: که څوک وایي چې: په ﴿ كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴾ کښې الله ﷻ د "زَقُّوم" د ونې مېوه په بدرنګۍ او قباحت کښې د شیطانانو د سرونو سره تشبیه کړې ده، حال دا چې نه چا شیطانان لیدلی دی او

---

[1] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۶۴۴، ۷۲۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۸٦؛ سنن ابن ماجه ص۳۲۱
[2] تفسیر البغوي ج۴ ص۲۲۹
[3] تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۰۸؛ زاد المسیر ج۶ ص۲۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه د هغوی سرونه، ترڅو د تشبیه په ذریعه د زقوم ونې په بدرنګۍ باندې پوه شي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوي سوال د جوابولو دپاره متعدد صورتونه لیکلي دي[1]، خو کوم جواب چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه دا دی چې:

الله ﷻ په قرآن کریم کښې د بنیادمانو د محاورو خاصیتونه د اعتباره نه دي غورزولي، که نه نو مشرکانو ته به ډېر ښه بهانه په لاس ورغلې وی او ویلی به یې چې مونږ د قرآن کریم د مقابلې څخه ځکه عاجزان یاستو چې دلته زمونږ د محاورې خاصیتونه نه دي مراعات شوي، که زمونږ د محاورې خاصیتونه مراعات شوي وی نو ضرور به مونږ د دې قرآن د یوه ایت یا یوه سورت غوندې لا څه بلکې ډېر ایتونه او ډېر سورتونه جوړ کړي وی.

نو د بنیادمانو په محاورو کښې مشهوره ده چې ښایسته شیان د پرښتو سره تشبیه کوي او بدڅېره او بدرنګو شیانو ته د شیطانانو او غولانو سره مشابهت ورکوي، حال دا چې په خپله څېره کښې خلکو نه پرښتې لیدلي دي او نه یې په شیطانانو او غولانو باندې نظر پرېوتلی دی.

د ذکر شوي مضمون د اثبات دپاره لاندې وضاحتونه ولولئ:

اول: الله ﷻ د مصریانو ښځو د خولو څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴾ [یوسف: ۳۱] یعنې نوموړو ښځو چې کله یوسف عليه السلام ولید نو ویې ویلې چې: دا بشر نه دی بلکې د کرامت څخه ډکه پرښته ده.

دوهم: په نبي کریم ﷺ باندې یهودانو کوډې کړې وې او هغه یې د "ذَرْوَان" په نوم کوهي کښې ښخې کړې وې، نو نبي کریم ﷺ د څو صحابه وو کرامو رضي الله عنهم سره هلته ورغی او کله چې بېرته کورته راستون شو نو عائشه رضي الله عنها یې مخاطبه کړه چې: «نَخْلُهَا كَأَنَّهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ»[2] د ذکر شوي کوهي د کجورو ونې داسې بدشکله وې لکه د شیطانانو سرونه.

درېم: یو عربي شاعر د هغه چا په جواب کښې چې دی یې په وژلو سره ګواښلی وه وایي چې[3]:

أَيَقْتُلُنِي وَالْمَشْرَفِيُّ مَضَاجِعِي :: وَمَسْنُونَةٌ زُرْقٌ كَأَنْيَابِ أَغْوَالِ

یعنې: ایا فلانکی سړی ما په وژلو سره تهدیدوي، حال دا چې مشرفي (یمني) توره مې ترڅنګ ده، او داسې پرقبدونکي غشي مې هم ترڅنګ دي لکه د غولانو داړې؟!.

نو په ایت شریف کښې د بنیادمانو د محاورو مراعات شوی دی او د زَقُوم د ونې د بار (مېوې) وړی یې د شیطانانو د سرونو سره تشبیه کړی شوی دی.

## شَوب څه معنی؟

۲ـ په ﴿ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا ﴾ کښې د "شَوْب" کلمه د خلط (ګډولو) دپاره وضعه شوې ده[4]،

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۲۳۸؛ تفسير الطبري ج۲۳ ص۶۴
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۴۶۳
(۳) مختصر المعاني في البلاغة ص۳۱۹
(۴) مفردات الراغب ص۲۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې مقام کښې عبد الله عباس رضی الله عنهما په هغه شي سره تفسیر کړې ده کوم چې د خوراک څخه وروسته څښل کېږي(۱). یعنې په دوزخیانو باندې به د زقوم د خوراک څخه وروسته ګرم او جوش کړی شوې اوبه وڅښولی شي، ته به وایې چې په ګېډه کښې د خوراک سره ګډېږي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ﴿ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴾ څخه څرګندېږي چې کفار (دوزخیان) به کله-کله د دوزخ څخه ویستل کېږي، حال دا چې الله ﷻ په بل ایت کښې فرمایلي دي چې: ﴿ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنْهَا ﴾ [المائدة:۳۷] یعنې او کفار چې دي دوی د دوزخ څخه وتونکي نه دي بلکې دوی ته هلته دائمي عذاب دی؟

مونږ وايو چې: دلته دوزخ ته ورستنېدل مطلب نه دي چې اعتراض وارد شي، بلکې د اور تعذیب ته ورستنېدل مراد دي. یعنې کفار به د ګرمو اوبو د تعذیب څخه وروسته د اور تعذیب ته راجع شي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ ءَانٍ ﴾ [الرحمن: ۴۴] یعنې کفار به د دوزخ (اور) او د ډېرو ګرمو اوبو په منځکښې تاوېږي راتاوېږي، کله به په دوزخ کښې په یوه عذاب تعذیبېږي او کله په بل. أعاذنا الله ﷻ من جميع التعاذيب.

## د "اهراع" معنی

۴_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [هود:۷۸] ایت لاندې په ﴿ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴾ کښې د ﴿ يُهْرَعُونَ ﴾ کلمه ډېره ښه تحلیله کړې ده چې د "اِهْرَاع" _لکه "اِكْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او "اِهْرَاع" هغو منډو او ځغلېدلو ته ویل کېږي د کوم سره چې د اندامونو لړزه هم ملګرې وي چې د زیات حرص او اضطراب څخه نمایندګي کوي.

نو په دې مقام کښې یې حاصل داسې راځېږي چې: کفارو ته څکه ذکر شوی تعذیب تاکلی شوی دی چې دوی د خپلو کفارو پلرونو روند تقلید کاوه او د ډېر اضطراب په حال کښې د هغوی په کفري لاره ځغلېدل.

﴿وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ٱلْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٨٢﴾﴾

[۷۵] او مونږ ته نوح علیه السلام (د خپل قوم په هکله) اواز (سوال) وکړ، نو مونږ ډېر ښه اجابت کوونکي یاستو (سوال مو ورته قبول کړ).

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۹۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷٦] او مونږ نوح ﷺ او د ده ﷺ أهل (مؤمن اُمت) ته د لوی غم څخه نجات ورکړ.

[۷۷] او د نوح ﷺ اولاده همدوی مو (په دنیا کښې د قیامت تر ورځې پورې) باقي وګرځول.

[۷۸] او مونږ په نوح ﷺ باندې په وروستنیو خلکو کښې (دا جمله) پرېښودله چې:

[۷۹] په نوح ﷺ باندې دې سلام وي (البته دا جمله مو) په ټولو عالمونو کښې (جاري پرېښودله).

[۸۰] یقینًا مونږ (ای پیغمبره!) نېکوکارانو ته دغسې (نېکه) جزا ورکوو.

[۸۱] یقینًا نوح ﷺ زمونږ د (کلک) باور کوونکو مؤمنانو بندګانو څخه وه (نو ځکه مو ورسره ذکر شوی چال چلند وکړ).

[۸۲] بیا مو (د نوح ﷺ او نورو مؤمنانو د سترګو لاندې) نور خلک (کفار) غرق کړه (او د دوی زړونه مو ورباندې ساړه کړه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو په پای کښې د مخلصانو بندګانو او غیر مخلصانو ذکر نازل شوی وه، په دې ایتونو کښې آن تر [الصافات:۱۴۸] ایت پورې په درې آویا (۷۳) ایتونو کښې د لسو (۱۰) مخلصو بندګانو (پیغمبرانو) په نومونو باندې د مثال په توګه صراحت نازل شوی دی، او هم پکښې د غیر مخلصو بندګانو انجام ته اشارې شوې دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د نوح ﷺ د قیصې څو نکات قرائت کړه ترڅو دوی ته څرګنده شي چې مونږ خپلو مخلصو بندګانو ته په څه ډول نجات ورکوو او غیر مخلص بندګان (کفار) په څنګه پوپنا کوونکي عذاب باندې اخته کوو. هغه دا چې:

۱ـ نوح ﷺ په خپل قوم کښې نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله دعوت وچلاوه ترڅو هغوی په اخلاص سره د توحید عقیده خپله کړي او د کفري او شرکي عقیدې څخه راوګرځي.

مګر هغوی کفري او شرکي عقیدې ته ادامه ورکړه چې په نتیجه کښې نوح ﷺ د همغوی په هکله مونږ ته د سوال لاسونه پورته کړه او بنیاد ویستونکی عذاب یې ورته وغوښت.

نو ته وګوره چې مونږ څنګه سوال قبلوونکي یاستو چې د نوح ﷺ سوال مو قبول کړه او ذکر شوي مخلص بندګان (کفار) مو د څرمې په دریاب کښې هلاک کړه. یا په بل عبارت: په مشرکانو باندې مو ټوله ځمکه دریاب جوړه کړه چې:

۲ـ یوازې نوح ﷺ او د ده ﷺ پیروان (ایمانداره) کورنۍ مو د غرق څخه وژغورله او د کفارو د ضررونو څخه مو خلاص کړه، او په دې باندې علاوه:

الف: فقط د نوح ﷺ اولاده مو په ځمکه کښې باقي پرېښودله، چې د قیامت تر ورځې پورې به باقي وي.

ب: په دغه مخلص بنده (نوح ﷺ) باندې مو د وروستنیو پېړیو په ژبو دا جمله جاري پرېښودله چې: ﴿ سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ ﴾ په نوح ﷺ باندې دې سلام وي او د هر غم او درد څخه دې بچ وي.

ج: ذکره شوې جمله مو یوازې په انساني پېړیو کښې جاري پرېښودله بلکې په ټولو عالمونو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې مو ذکرې شوې جملې ته چلښت ورکړه، حتی چې پرښتې او پېریان هم تر قیامته پورې ذکره شوې جمله په خپلو ژبو باندې ژوندۍ ساتي.

۳ـ ای پیغمبره! مونږ محسنانو بندګانو ته په دغه خارق العاده ډول نجات ورکوو، زمونږ دغه کړنلاره د خپلو ټولو ایمان لرونکو بندګانو سره جاري ده؛ نوح ﷺ هم د همدغو محسنانو ایماندارانو بندګانو د ډلې څخه یو عالي شان مؤمن مخلص بنده وه.

۴ـ لنډه دا چې مونږ د نوح ﷺ او د ده د اَهل (پیروانو) د نظر لاندې، پاتې خلک (کفار) په دریاب کښې غرق او هلاک کړه، او د هغوی غرق مو دوی ته ور ولیده کړ ترڅو یې ورباندې زړونه یخ شي او د الله ﷻ په لوی فضل باندې پوره خوشاله شي او خوند ترې واخلي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ ﴾ کښې د ﴿ نَادَىٰنَا ﴾ کلمه په نورو ایتونو کښې تفسیره شوې ده. د ښه وضاحت دپاره یې لاندې مثالونه ولولئ:

الف: ﴿ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ﴾ [القمر: ۱۰] یعني نو نوح ﷺ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې (ای زما ربه!) یقینًا زه (د خپل قوم په دعوت کښې) کمزوری کړی شوی یم (دوی زما دعوت نه قبلوي) نو زما انتقام ترې واخلې (او ټول د خرمې تباه کړې).

ب: ﴿ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴾ [نوح: ۲٦] یعني او نوح ﷺ (د اوږده دعوت څخه وروسته) وویلې چې ای زما ربه! په ځمکه باندې د کفارو څخه هیڅ اوسېدونکی پرېنږدې او ټول هلاک کړې.

اما د نوح ﷺ د سوال د إجابت صورتحال په [هود: ۳٦] ایت او وروستې ایتونو کښې ښه پوره تفصیلوار نازل شوې دی، او هملته یې د الله ﷻ په توفیق تفسیر هم تېر شوی دی، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## أهل څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ ﴾ کښې د "أهل" کلمه په دې مقام کښې نوح ﷺ ته مضافه شوې ده، او د پیغمبر أهل د هغو کسانو څخه عبارت وي کومو چې ورباندې ایمان راوړی وي[1]. یعني مونږ نوح ﷺ او د ده هغه اُمت ته نجات ورکړ کومو چې ورباندې ایمان راوړی وه او په بېړۍ کښې ورسره اوچت شوي وه.

## دا حقیقي قصر دی که اضافي؟

۳ـ په ﴿ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ ﴾ کښې د "هُمْ" ضمیر د فصل ضمیر دی[2] چې بالاتفاق قصر

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۲۹؛ القاموس المحیط ج۱ ص۱۹۳
(۲) البحر المحیط ج۹ ص۱۰۸؛ مختصر المعاني في البلاغة ص۱۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إفاده کوي، خو علماء کرام پکښې اختلاف لري چې دلته حقيقي قصر مطلب دی او که اضافي، چې ښه وضاحت يې لاندې لوستلی شي:

الف: اکثره علماء کرام وايي چې دلته حقيقي قصر مراد دی[۱]، چې د نجات څخه وروسته د نوح ﷺ د اولادې څخه د نورو هغو مؤمنانو نسل باقي پاتې نه شو کومو چې په بېړۍ کښې نجات موندلی وه. دوی په ذکر شوي تفسير باندې د لاندې وجوهو د کبله کلک دي چې:

اول: نبي کريم ﷺ په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ ذُرِّيَّتَهُۥ ﴾ کلمه د نوح ﷺ په درېوو زامنو باندې تفسيره کړې ده چې: سَام، حَام، يَافث دي[۲]، سَام د عربو پلار دی، حَام د حبشو پلار دی او يَافث د روميانو او زوزو مازوزو (ياجوج او ماجوج) پلار دی.

دوهم: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ويلي دي چې: «لَمْ يَبْقَ إِلَّا ذُرِّيَّةُ نُوْحٍ»[۳] يعنې د طوفان د ختم څخه وروسته هيڅوک (د نسل په اعتبار سره) باقي پاتې نه شوه مګر د نوح ﷺ اولاده پاتې شوه، چې د قيامت تر ورځې پورې په همدوی باندې دنيا ودانه ده.

ب: ځينې علماء کرام وايي چې ذکر شوی قصر (کوم چې د ضمير فصل څخه معلومېږي) حقيقي نه دی بلکې اضافي دی[۴]. يا په بل عبارت: دغه قصر په اضافت سره غرقو شوو کفارو ته دی، يعنې مونږ يوازې د نوح ﷺ زوزات باقي پرېښود او د کفارو زوزات مو پوپنا کړه او بنياد مو ورويست، چې ټول د ځرمې هلاک شوه.

په دې تقدير په ايت شريف کښې د نورو مؤمنانو زوزات په سکوت کښې پاتې کېږي چې هغوی پاتې شوه او که نه.

خو په بل ايت کښې يې بقاء ته اشاره شوې ده، چې: ﴿ ٱهْبِطْ بِسَلَٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ ﴾ [هود:۴۸] يعنې الله ﷻ د طوفان د ختم څخه وروسته نوح ﷺ ته توصيه وکړه چې: د بېړۍ څخه او بيا د جودي غره څخه هوارې ځمکې ته په داسې حال وربښکته شه چې زمونږ د پلوه په تاباندې سلامتيا او برکتونه دي (چې نسل به دې ډېر شي) او په هغو اُمتونو (او ډلو) باندې هم زمونږ سلامتيا او برکتونه دي کوم چې ستا سره په بېړۍ کښې دي (د دوی نسل به هم برکتناک وګرځولی شي).

## تبصره

۴ــ که څه هم ايت شريف د ذکرو شوو دواړو تفسيرونو تحمل کولی شي او د دواړو جانبو دلايل هم د قناعت وړ دي بلکې هر يو جانب د بل جانب دلايل په خپله مدعي باندې ځرخولی هم شي، خو د دې سره-سره مونږ ته د اکثريت نظر بهتر برېښي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۹۸
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۸
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۹۹؛ تفسير البغوي ج۴ ص۳۰
(۴) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۸۹؛ المحرر الوجيز ج۱۳ ص۲۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یوه پلوه، او د بله پلوه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۶۴] ایت لاندې د ذکرې شوې موضوع په اړوند څه مطالب لیکلي دي چې هلته یو ځل مراجعه کول بې ګټې نه دي.

## یو نحوي تحلیل

۵ـ د ﴿وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي ٱلْآخِرِينَ ۝ سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ کښې علماوو کرامو د إعراب په لحاظ متعدد تحلیلونه کړي دي[۱] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف. د ﴿وَتَرَكْنَا﴾ دپاره مفعول مقدر دی چې مونږ ترې په "ثَنَاءً حَسَنًا" سره تعبیر کوو، او د ﴿سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ﴾ جمله د الله ﷻ د پلوه په نوح ﷺ باندې عنایت شوې ده[۲]، لکه څنګه چې همدې جملې نه ورته جمله د الله ﷻ د پلوه په [مریم:۱۵] ایت کښې په یحیی ﷺ باندې عنایت شوې وه.

یعني مونږ په نوح ﷺ باندې په وروستنیو خلکو کښې ښایسته ستاینه جاري پرېښې ده، او زمونږ دپلوه په نوح ﷺ باندې د پرښتو په شمول په ټولو عالمونو کښې سلام او سلامتیا ده، چې ټول مو ورباندې خبر کړي دي.

ب: د ﴿سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ﴾ جمله د "تَرَكْنَا" دپاره مفعول واقع شوې ده[۳]. یعني: مونږ په نوح ﷺ باندې ذکره شوې جمله په وروستنیو خلکو کښې لا څه بلکې د پرښتو په شمول په ټولو عالمونو کښې جاري پرېښې ده، چې ټول یې په نېک نامه یادوي او سلامونه ورباندې وراستوي.

د دغه نېک یادښت غوښتنه ابراهیم ﷺ هم کړې وه چې خپل رب ته یې سوال وکړ چې: ﴿وَٱجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي ٱلْآخِرِينَ﴾ [الشعراء: ۸۴] یعني ای زما ربه! ماته په وروستنیو خلکو کښې رښتینی یاد وګرځوې (راکړې چې اقتداء راپسې وکړي او آجرونه مې لا زیات شي).

## هېر مو نه شي!

۶ـ هېر مو نه شي چې ذکر شوی نحوي تحلیل باید د دې سورت (الصافات) په [۱۰۸، ۱۰۹]، [۱۱۹، ۱۲۰] او [۱۲۹، ۱۳۰] ایتونو کښې هم په پام کښې ونیول شي چې بیا یې نه شو لیکلی.

﴿وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبْرَٰهِيمَ ۝٨٣ إِذْ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ۝٨٤ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ
مَاذَا تَعْبُدُونَ ۝٨٥ أَئِفْكًا ءَالِهَةً دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ۝٨٦ فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٨٧ فَنَظَرَ
نَظْرَةً فِي ٱلنُّجُومِ ۝٨٨ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ۝٨٩ فَتَوَلَّوْا۟ عَنْهُ مُدْبِرِينَ ۝٩٠ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمْ
فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ۝٩١ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ۝٩٢ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًۢا بِٱلْيَمِينِ ۝٩٣ فَأَقْبَلُوٓا۟

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۱۲
(۲) البحر المحیط ج۹ ص۱۰۸
(۳) تفسیر ابی السعود ج۷ ص۱۹۶؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِلَيْهِ يَزِفُّونَ (۹۴) قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ (۹۵) وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ (۹۶) قَالُوا۟ ٱبْنُوا۟
لَهُۥ بُنْيَـٰنًا فَأَلْقُوهُ فِى ٱلْجَحِيمِ (۹۷) فَأَرَادُوا۟ بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَـٰهُمُ ٱلْأَسْفَلِينَ (۹۸) ﴾

[۸۳] او يقينًا د نوح ﷺ په تګلارې باندې د تلونکو څخه هرو مرو ابراهيم ﷺ (هم) دی.

[۸۴] هغه وخت (یاد کړه) چې کله ابراهیم ﷺ خپل رب ﷻ ته (د باطلو عقایدو څخه) په روغ زړه سره ورغی (او پوره اخلاص يې خپل کړ).

[۸۵] هغه وخت چې کله یې خپل پلار او خپل قوم ته وویلې چې: دا (هغه بوتان) څه شی دی (د کومو) چې تاسو عبادت کوئ (ایا دا د عبادت لیاقیت لري)؟

[۸۶] ایا د دروغ تړلو د کبله تاسو د الله ﷻ څخه پرته معبودانو ته اراده لرئ؟

[۸۷] نو ستاسو په رب العالمین باندې څه ګومان دی (ایا مخلوق ورسره برابرېدلی شي)؟

[۸۸] نو ابراهیم ﷺ په ستورو کښې نظر واچاوه یو نظر (ښه دقیق فکر یې وکړ).

[۸۹] نو (د فکر څخه وروسته یې جواب ورکړه او) ویې ویلې چې: یقینًا زه ناروغ یم (مېلې ته نه شم تلای).

[۹۰] نو مشرکانو ترې (د دعوت څخه) په داسې حال مخ واړاوه چې بېرته ستنېدونکي وه (او د میلې په لور روان شوه).

[۹۱] نو ابراهیم ﷺ د مشرکانو معبودانو ته په پټه ورغی نو (د ملنډو په توګه یې ورته) وویلې چې: ایا تاسو (دغه خوراکي شیان) نه خورئ؟ (کوم چې ستاسو په وړاندې پراته دي).

[۹۲] (ای بوتانو!) تاسو لره څه دي چې خبرې نه کوئ؟ (ماته ولې جواب نه راکوئ).

[۹۳] نو ابراهیم ﷺ په بوتانو باندې په داسې حال پټ اقدام وکړ چې ښه په قوت (ښي لاس) سره (یې په تبر) وهونکی وه (نو میده-میده یې کړه، خو فقط یو غټ بوت یې پرېښود).

[۹۴] نو (مشرکان د میلې څخه راغله او) ابراهیم ﷺ ته یې په داسې حال مخه کړه چې ورخغلېده (ترڅو د استنطاق ننداره وکړي).

[۹۵] (د استنطاق په وخت کښې) ابراهیم ﷺ (مشرکانو ته) وویلې چې: ایا تاسو د هغو بوتانو عبادت کوئ کوم چې تاسو (په خپلو لاسونو باندې) تراشلي دي؟

[۹۶] حال دا چې الله ﷻ تاسو هم پیدا کړي یاست او ستاسو عملونه یې هم پیدا کړي دي (بلکې ستاسو د بوتانو هم خالق دی).

[۹۷] مشرکانو وویلې چې د ابراهیم ﷺ دپاره (د اوره ډک) تعمیر (خندق) جوړ کړئ، نو نوموړی په همدې (مصنوعي) دوزخ کښې ورواچوئ.

[۹۸] نو مشرکانو ابراهیم ﷺ ته د (دغه) چل اراده وکړه، نو مونږ لاندینې کسان وګرځول (چې په خپل چل کښې مطلب ته ونه رسیده او ناکام شوه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! د مخلصو بندګانو د جملې څخه ابراهیم هم دی نو په خپل اُمت باندې یې څه حالات او خاصیتونه قرائت کړه چې په زیات اخلاص باندې یې دلالت کوي، هغه دا چې:

١_ یقیناً د نوح ﷺ د نسل او کومکیانو څخه ابراهیم ﷺ هم وه، چې د همغه په قدم باندې روان وه او د همغه غوندې یې د توحید په ترویج کښې زیات مشکلات ګاللي دي، خو الله ﷻ هغه ﷺ ته د غرق څخه نجات ورکړ او ده ﷺ ته یې د اور څخه نجات په نصیب کړ. نو:

الف: هغه وخت خلکو ته وریه یاد کړه په کوم کښې چې ابراهیم ﷺ د ټولو باطلو معبودانو سره قلبي اړیکه پرې کړې وساتله او یوازې واحد لا شریک خپل رب ﷻ ته یې خالصه او د ټولو باطلو او مزخرفاتو څخه پاکه عقیده وړاندې کړه.

ب: په دې باندې علاوه د همدغې سوچه او پاکې عقیدې دپاره یې دعوت هم چلاوه ترڅو مشرکان شرکي عقیده پرېږدي او توحیدي عقیده خپله کړي.

٢_ ای پیغمبره! د ابراهیم ﷺ د دعوت څو مهم ټکي خپل اُمت ته وریه زړه کړه چې عبرت ترې واخلي هغه دا چې:

الف: ابراهیم ﷺ خپل پلار او خپل قوم ته د دعوت په ارتباط داسې پوښتنې راجع کړې ترڅو هغوی حقایقو ته متوجه شي، چې:

اول: ای زما خپلوانو! هغه بوتان چې تاسو یې عبادت کوئ څه شی دي؟ ایا مخلوق د عبادت لیاقت درلودلی شي؟

دوهم: نو په همدې بنیاد ایا تاسو د دروغو د ترلو د کبله اراده لرئ چې د الله ﷻ څخه په غیر -چې حقیقي او واقعي معبود دی- نور باطل معبودان په الوهیت سره ونیسئ؟

دریم: نو ستاسو په رب العالمین ﷻ باندې څه ګومان دی چې تاسو به په شرکي عقیدې باندې مجازات نه کړي؟

٣_ د دعوت په جریان کښې یوه عجیبه قیصه هم پېښه شوه چې څه لنډ مطالب یې دا دي:

الف: یوه ورځې مشرکان میلې ته روان شوه او ابراهیم ﷺ یې هم همدغې میلې ته وروباله ترڅو ورسره لاړ شي او چکر ورسره ووهي.

ب: خو ابراهیم ﷺ غوښتل چې د همدې فرصت څخه استفاده وکړي، او سوګند یې یاده کړه چې د مشرکانو بوتان به میده- میده کړي ترڅو هغوی ته د استدلال په میدان کښې ماتې ورکړي.

ج: نو د همدې کبله ابراهیم ﷺ د هغوی د اغفال دپاره یو خل په ستورو کښې نظر وکړ، او د همدې کتلو په تعقیب یې د هغوی بلنې ته منفي جواب ورکړ چې زه ناروغ یم او میلې ته نه شم تللی. یا په بل عبارت: ابراهیم ﷺ د ښه پوره دقیق فکر څخه وروسته هغوی ته خپل ځان ناروغ معرفي کړه

د: مشرکانو د ابراهیم ﷺ منفي جواب قبول کړ او د هغه ﷺ د بلنې څخه یې مخونه واړول او په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ببره سره د میلې په لور روان شوه، چې خپل بوتان یې شاته (بې حمایته) پرېښودل.

ه: په عین وخت کښې -چې بوتان بې حمایته پاتې شوه- ابراهیم ﷺ وربانديې په پټه ورننووت او د استهزاء او ملنډو په توګه يې په لاندې پوښتنو سره مخاطب وګرځول چې:

اول: ای باطلو معبودانو! تاسو ولې خوراک او څښاک نه کوئ؟ ستاسو په وړاندې خوراکونه ایښې دي نو تاسو ترې ولې استفاده نه کوئ؟ ایا تاسو د خوراک او څښاک څخه عاجزان یاست؟

دوهم: تاسو لره څه دي چې نه ګړېږئ، او ټول پټه خونه یاست؟ ایا تاسو خبرې نه شئ کولی او که تاسو ګونګیان یاست؟

و: د ذکر شوي خطاب څخه وروسته ابراهیم ﷺ په پټه وربانديې شروع وکړه او په قوت سره یې په تبره باندې میده-میده کړ. یا په بل عبارت: ابراهیم ﷺ په کمزوري (کیڼ لاس) باندې نه بلکې په قوي (ښي لاس) باندې ووهل او ښه يې وټکول.

مګر یوازې یو غټ بوت یې روغ پرېښود ترڅو ترې په آینده کښې د استدلال دپاره کار واخلي.

۴_ کله چې مشرکان د میلې څخه راستانه شوه او خپل بوتان یې میده-میده او ټکولی شوي ولیده نو ډېر زیات خپه او په هغه چا باندې ډېر زیات په غُصه شوه څوک چې د دغه کار مرتکب شوي وي، نو د همدې کبله:

الف: هغوی په دې لټه کښې شوه چې د دغه کارکوونکي مونده کړي چې د پلټنې په ترڅ کښې یې په ابراهیم ﷺ باندې یقین راغی چې دا کار همده کړی دی، نو د استنطاق دپاره یې وروغوښت.

ب: بیا د ننداريې دپاره ټولو د هغه ﷺ په لور مخه کړه او په منډه-منډه ترې راکړې شوه چې هله ژر کوه جواب راکړه چې دا کار دې ولې ترسره کړی دی؟

ج: ابراهیم ﷺ هغوی متوجه کړه او ورته یې وویلې چې ذکره شوې پوښتنه دغه غټ بوت ته راجع کړئ ترڅو تاسو ته جواب درکړي او خپل دښمن درته په ګوته کړي.

دا هم احتمال لري چې غټ بوت په وړو بوتانو باندې په غُصه شوی وی او په میده کولو سره یې وربانديې خپله غُصه سره کړې وي؟

د: د دې خبرې په اورېدلو سره مشرکان هک پک حیران شوه او ابراهیم ﷺ ته یې وویلې چې: ته خو ښه پوهېږې چې زمونږ بوتان خبرې نه شي کولی او د خوراک او څښاک توان هم نه لري، نو مونږ به ترې څنګه وغواړو چې هلئ ژر شئ خپل دښمن راپه ګوته کړئ ترڅو مونږ ترې انتقام واخلو؟

ه: په دغه وخت کښې ابراهیم ﷺ ته د استدلال موقع په لاس ورغله او مشرکان یې مخاطب کړه چې:

اول: ایا تاسو د هغو جماداتو عبادت کوئ کوم چې تاسو په خپلو لاسونو باندې تراشلي او جوړ کړي دي چې نه خبرې کولی شي، نه د خوراک څښاک توان لري او بالآخره نه د خپلو ځانونو څخه دفاع کولی شي او نه خپل دښمن په ګوته کولی شي؟

دوهم: په داسې حال کښې چې الله ﷻ تاسو ته موجودیت درکړی دی او روزمره روزي درکوي او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم ستاسو ورځني اعمال پیدا کوي، بلکې ستاسو بوتان هم د الله ﷻ د مخلوقاتو څخه دي چې همده ﷻ وجود ورکړی دی.

ایا دا عجیبه نه ده چې مطلق قادر ذات ﷻ مو پرېښي دی او د خپلو مصنوعاتو کومک ته په تمه یاست چې د خپلو خانونو څخه هم دفاع نه شي کولی!؟.

۵ـ ای پیغمبره! کله چې مشرکانو د استدلال په میدان کښې ماتې وخوړه او د سخت خجالت سره مخامخ شوه نو ټولو په اتفاق سره د ابراهیم ﷺ د وژنې نقشه داسې ترتیبه کړه چې:

الف: ټولو یوه بل ته وویلې چې: د عبرت دپاره ابراهیم ﷺ په اور باندې وسوزئ لکه څنګه یې چې زمونږ زړونه د بوتانو په ایذاء سره سوزولي دي.

ب: نو د یوې پراخې ځمکې څخه دیوال تاو کړئ او لوی خندق جوړ کړئ، په دغه خندق کښې ښه غټ اور بل کړئ؛ یا په بل عبارت: د نمروړي د تعذیب په غرض دوزخ تیار کړئ.

ج: بیا په همدغه ګرم اور (دوزخ) کښې ابراهیم ورواچوئ چې پکښې وترقېږي او عوام وګوري چې مونږ څومره د خپلو بوتانو په نصرت او کومک کښې کلک یاستو، ترڅو هیڅوک د هغه پیروی ته زړه ښه نه کړي.

۶ـ مشرکانو په ابراهیم ﷺ باندې خپله ذکره شوې نقشه عملي کړه او ډېره غټه دسیسه او حیله یې په کار واچوله، خو مونږ د هغوی دسیسه ناکامه کړه او په ابراهیم ﷺ باندې مو ذکر شوی اور ګل ګلزار وګرځاوه.

نو د کوم شي څخه چې هغوی تښتېدل په همغه کښې واقع شوه او د ذلت سره مخامخ شوه.

ابراهیم ﷺ لکه چې د استدلال په میدان کامیاب وه همدارنګه د دسیسې په عملي میدان کښې هم کامیاب او بریالی وګرځېد.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِ ﴾ کښې د "شِيعَة" کلمه په دې مقام کښې هغه کلمه نه ده کومې چې په دې زمانه کښې په یوه خاص ټولګي پورې اختصاص موندلی دی، کوم چې د علي ﷺ په محبت کښې افراط کوي او په مقابل کښې یې اهل السنت والجماعت ټولګي تشکیل نیولی دی.

بلکې دلته د ذکرې شوې کلمې لغوي معنی مراده ده چې په لاندې ټکو کښې د الله ﷻ په توفیق شرحه کېږي:

الف: د "شِيعَة" کلمه د "شِيَاع" ـلکه "ضِيَاع"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "شِيَاع" د هغو کوچنیو خاشاکو نوم دی په کومو سره چې اور بلولی کېږي او د غټ اور دپاره پرې زمینه برابرېږي[1].

همدارنګه د قوت او انتشار په معناوو باندې یې هم استعمال موندلی دی[2].

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۹۱
(۲) مفردات الراغب ص۲۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ذکره شوې کلمه د هغه قوم نوم دی کوم چې په یوه کار باندې راغونډ شوي وي او هر یو فرد یې د بل د فکر پیروي کوي[۱].

ج: په دې کلمه کښې مفرد، مثنی، جمعه، موئنث او مذکر ټول یو برابر دي[۲].

پوره واضحه ده چې کوم قوم چې ذکر شوي صفات ولري هغوی به یو تربله تعاون کوي او په ګډه سره به په ځمکه خپل نفوذ ته وده ورکوي او پکښې خوروي به یې.

د: په دې مقام کښې ابراهیم ﷺ د نوح ﷺ د شیعه وو ځخه ګڼه وشمېرلی شو چې د ټولو پیغمبرانو هدف یو وه او ټولو غوښتل چې په ځمکه کښې د الله ﷻ شریعت او توحیدي عقیده پلې کړي. یا په بل عبارت: ټولو پیغمبرانو په عقیدوي احکامو کښې او د فرعي احکامو په کلیاتو کښې هیڅ تفاوت نه درلود، یوازې د عملي او فرعي احکامو په اشکالو کښې سره څه ناڅه جدا-جدا وه، نو د همدې کبله هر یوه ته د بل د شیعه لقب ورکولی کېږي.

لکه چې بیان یې د الله ﷻ په توفیق د [المائدة: ۴۹] ایت او نورو ایتونو لاندې تېر شوی دی.

## یوه مقدمه

۲ـ د دې دپاره چې د ﴿فَنَظَرَ نَظۡرَةً فِي ٱلنُّجُومِ﴾ تفسیر ښه واضحه شي نو په کار دي چې لاندې مطالب په ذهن کښې وساتلی شي:

الف: د بدیع د علم په مطابق "تَوریة" هم د هغو صفاتو ځخه ده په کومو باندې چې یو بلیغ کلام ډول او سنګار مونده کوي[۳].

ب: "تَوْرِيه" د "وَرَاء" ځخه اخستلې شوې ده، د یوه شي د شا طرف په "وَرَاء" سره تعبیرېږي.

نو "تَوْرِيه" په لغت کښې شاته د غورزولو ځخه عبارت ده، اما په اصطلاح کښې په دوه ډوله ده، چې یوه قولي توریه ده او بله عملي.

ج: قولي توریه دې ته وایي چې یو متکلم په خپلو خبرو کښې داسې کلمه استعماله کړي چې دوه معناوې ولري، یوه معنی یې ذهن ته نژدې وي او بله ترې لرې وي چې په زغرده ذهن ته نه ورځي، نو متکلم لرې معنی اراده کړي او مخاطب ترې نژدې معنی واخلي. یا په بل عبارت: لفظي (قولي) توریه دې ته وایي چې سړی اصلي مطلب پټ کړي او غیر اصلي مطلب ځرګند کړي[۴].

د: دغه ډول توریه د ابو بکر الصدیق ﷺ په کلام کښې استعماله شوې ده، لکه د هجرت په سفر کښې به چې ترې چا د نبي کریم ﷺ په هکله وپوښتل چې دغه سړی څوک دی؟ نو هغه به جواب ورکړ چې: «هَذَا الرَّجُلُ يَهْدِينِي إِلَى السَّبِيلِ»[۵] یعنې دغه سړی ماته لاره راښايي.

(۱) لسان العرب ج۸ ص۱۸۸
(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۷۸۶
(۳) مختصر المعاني ص۴۵۶
(۴) مفردات الراغب ص۵۵۷
(۵) مسند أحمد بن حنبل ج۴ ص۴۲۱؛ صحیح البخاري ج۱ ص۵۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وبائلي (۲۳) نو د "السَّبِيل" د كلمې څخه به د أبو بكر ﷺ شرعي او معنوي لاره مراد وه خو پوښتونكي به خيال كاوه چې د ده به دنياوي لاره مطلب وي څكه چې په دښتو او بيابانونو كښې لاربنود ته ارتيا پيښېږي، كبله د دوى دواړو سره په دغه سفر كښې يو ماهر لاربنوود په أجرت سره ملګرى وه[1].

د همدې: نبي كريم ﷺ به غزاګانو كښې "توريه" په كار اچوله، د همدې كبله كعب بن مالك ﷺ وايي چې: نبي كريم ﷺ هيڅ غزا ته اراده نه وه كړې مګر توريه به يې پكښې كوله، پرته د تبوك د غزا څخه چې توريه يې پكښې ونه كړه او د صراحت څخه يې كار واخست[2] ترڅو غازيان ورته تياري ونيسي.

ه: عملي توريه دې ته وايي چې څوك يو داسې كار وكړي چې حاضرين ترې يو مفهوم واخلي حال دا چې واقعيت بل څه وي (كار كوونكى ترې بل غرض اراده كوي).

و: همدا ډول "توريه" الله ﷻ د يوسف ﷺ څخه راحكايت كړې ده چې: ﴿ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ﴾ [يوسف:۷۶] يعني نو يوسف ﷺ د پيمانې د لټولو دپاره د خپلو ناسكه ورونړو په څټو باندې پيل وكړ (البته) مخكښې د دې څخه چې د خپل سكه ورور څټه وپلټي.

نو د ذكر شوي طرز العمل څخه كاروانيانو فهم كړه چې دوى ته د پيمانې معلومات نشته، حال دا چې يوسف ﷺ ته معلومه وه، نو كه بالفرض يوسف ﷺ د خپل سكه ورور په څټه لټولو باندې شروع كړې وى نو سمدستي به هغوى ګومان كړى وى چې پيمانه همدا تا پخپله همدلته غلې ايښې ده، په دې كار كښې د څټې خاوند ملامته نه دى.

ز: په محاوراتو كښې د يوه كلام څخه په دوه وو ډولونو سره معنى اراده كولى شي چې يوې ته افرادي معنى وايي او بله د تركيبي معنى په نامه يادېږي.

ح: افرادي معنى دېته وايي: چې د يوه كلام څخه د مفرداتو په نظر كښې نيولو سره مفهوم واخستلى شي، لكه ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ ﴾ [البقرة:۴۳] يعني او اى مؤمنانو! تاسو لمونځ ودروئ او زكات وركړئ او داسې نور.

ط: تركيبي معنى د دې څخه عبارت ده چې د يوه كلام مفردات د نظره وغورزولى شي او هغه معنى ترې اراده كړى شي په كومه باندې چې په كنايي توګه دلالت كوي، لكه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِىٓ أَيْدِيهِمْ ﴾ [الأعراف:۱۴۹] يعني كله چې بني اسرائيل د خوسكي په عبادت باندې پښېمان شوه.

د دغه ايت پوره تحقيق په خپل ځاى كښې تېر شوى دى ـ والحمد لله ﷻ ـ چې د مفرداتو معناوې پكښې د نظره غورزولې شوې دي او هغه معنى ترې اراده كړى شوې ده په كومې سره چې په محاوراتو كښې استعمالېږي.

ي: د تركيبي معنى اراده كول په عربي ژبې پورې خانګرتيا نه لري، بلكې دغه طريقه په ټولو ژبو

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۰۱

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د کنايې په توګه په کار اچوله کېږي، چې په پښتو ژبه کښې يې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف: ٥٤] ايت لاندې يوه مثال ته اشاره شوې ده. او بل مثال يې دا دی چې په پښتو کښې خلک د خپل مهارت په هکله وايي چې: ما فلاني ته د ورځې ستوري ورولیده کړه. يعنې د دومره دقيق فکر سره مې مخامخ کړ ته به وايې چې د ورځې يې ستوري لیدلي وي.

## اصلي مطلب

٣_ د ذکرو شوو مقدماتي مطالبو څخه وروسته مونږ په اصلي مطلب باندې د الله ﷻ په توفيق پيل کوو هغه دا چې:

د ﴿ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي ٱلنُّجُومِ ﴾ په تفسير کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو سره ويشلي شوي دي:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې دلته افرادي معناوي مرادې دي[١]، چې وضاحت يې په لاندې دوه وو ټکو کښې وړاندې کېږي:

اول: مشرکانو ابراهيم عليه السلام ته وړانديز وکړ چې زمونږ سره ميلې ته لاړ شه، خو ابراهيم عليه السلام سمدستي ستورو ته وکتل او بيا يې جواب ورکړ چې: ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ زه مريض يم مېلې ته د تللو جوګه نه يم.

دوهم: که څوک وايي چې: ايا ابراهيم عليه السلام ته جائزه وه چې ستورو ته د يوه نجومي په حيث وګوري او بيا د ناروغۍ دعوه وکړئ؟

مونږ وايو چې: ابراهيم عليه السلام ستورو ته د يوه نجومي په حيث نه وه کتلي چې اعتراض وارد شي، بلکې په دغو کتلو کښې يې عملي توريه مطلب وه چې د الله ﷻ په مخلوقاتو کښې د عبرت دپاره نظر واچوي، خو هغوی وربانديې د نجومي د نظر ګومان وکړ.

که بالفرض ابراهيم عليه السلام ذکره شوې عملي توريه په کار نه وی اچولې نو هغوی به يې په ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ ويلو باور نه وی کړی او په نه تللو کښې به يې معذور نه وی ګڼلی.

ب: ځينې علماء کرام وايي چې د ذکر شوي عبارت څخه د قولې توريې په توګه ترکيبي معنی مطلب ده او د کلماتو افرادي معناوې پکښې د نظره غورزولې شوې دي[٢]. هغه دا چې:

اول: کله چې څوک په يوه موضوع کښې دقيق فکر وکړي، چې څه ډول چال چلند پکښې غوره کړي، نو د همغه په هکله د قولې توريې په توګه خلک وايي چې: "نَظَرَ فِي النُّجُوم"[٣] يعنې فلانکي سړي په موضوع کښې دقيق فکر وکړ.

دوهم: په دغه عبارت کښې د "نَظَرَ" کلمه د هغه نَظر څخه نه ده اشتقاقه شوې کوم چې دکتلو معنی ورکوي بلکې د هغه نَظَر څخه يې اشتقاق موندلی دی کوم چې د تفکر او سوچ معنی ورکوي.

---

(١) زاد المسير ج٦ ص٣٠٠؛ تفسير القاسمي ج١٣ ص١١٤؛ المحرر الوجيز ج١٣ ص٢٤٢
(٢) تفسير ابن كثير ج٤ ص١٣
(٣) لسان العرب ج١٢ ص٥٧١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې تفسیر سره یې حاصل داسې راځېږي چې: ابراهیم ﷺ ډېر دقیق فکر وکړ ترڅو مشرکانو ته داسې بهانه جوړه کړې چې د هغوی قناعت وړاندې حاصل شي.

## تبصره

۴ـ مونږ ته همدغه دوهم تفسیر د لاندې وجوهو د کبله غوره برېښي، والله ﷻ أعلم:

الف: په لومړي تفسیر سره سوال جواب ته اړتیا پېښېږي او په دوهم تفسیر سره نه سوال شته او نه جواب.

ب: په ﴿ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي ٱلنُّجُومِ ﴾ کښې د "فِي" توری دوهم تفسیر تائیدوي، که بالفرض لومړی تفسیر بهتر وی نو د ﴿ فِي ٱلنُّجُومِ ﴾ په عوض به "إِلَى النُّجُوم" نازل شوی وی.

## څو پوښتنې او هغو جوابونه

۵ـ په ﴿ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ کښې د سړي په زړه کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: ایا ابراهیم ﷺ د ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ د ویلو په وخت کښې رښتیا مریض وه او که په دروغو سره یې ځپل ځان مریض معرفي کړ؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي چې شمېر یې تقریباً اوو جوابونو ته رسېږي[۱]، خو کوم جواب چې مونږ ته په زړه پورې برېښي هغه دا دی چې: د ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ په ویلو کښې د ابراهیم ﷺ د قولي توریې په توګه په آینده کښې مریضتیا مطلب وه، خو مشرکانو د ده ﷺ خبره په سمدستي مریضتیا باندې حمل کړه[۲]، او پوره واضحه ده چې په آینده کښې هیڅوک د مریضتیا ځخه بچ نه شي پاتې کېدلی، که بالفرض بل هیڅ مرض ورته ونه رسېږي مرګ خو ورته ضرور رسېدونکی دی، چې دا هم د مرضونو ځخه یو غټ مرض دی.

د ذکر شوي جواب یوه نظیر ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴾ [الزمر: ۳۰] یعنې ای پیغمبره! یقیناً ته هم مړ یې او مشرکان هم مړه دي (تاسو دواړه دلې مړه کېدونکي یاست بیا به د قیامت په ورځ جګړې کوئ).

ب: که ځوک وایي چې: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: کله د قیامت په ورځ د محشر په میدان کښې خلک ابراهیم ﷺ ته ورغوند شي ترڅو د الله ﷻ په حضور کښې شفاعت وکړي چې حساب کتاب پیل شي، نو ابراهیم ﷺ به اعتذار وړاندې کړي او وبه وایي چې: «وإِنِّي قَدْ كُنْتُ كَذَبْتُ ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ»[۳] زه د دغه لوی شفاعت جوګه نه یم، ما په دنیا کښې درې دروغه ویلي وه.

د دغو درېوو دروغو ځخه یو دروغ همدغه د ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ کلام دی، نو پوښتنه دا ده چې: دا

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۳۲۳
(۲) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۷۲
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څنګه کېدلی شي چې ابراهیم ﷺ به په خپله خوله ووايي چې ما دروغ ويلي وه او تاسو واياست چې نوموړی ﷺ په ذکره شوې خبره کښې رښتينی وه؟

مونږ وايو چې: د دغې پوښتنې دپاره د الله ﷻ په توفیق د [الأنبياء:۶۳] ایت لاندې ښه تفصیلوار جواب ليکلی شوی دی، چې ابراهيم ﷺ به د قيامت په ورځ خپل ذکر شوي قول ته تواضعًا او هضمًا للنفس د دروغو لقب ورکړي، هسې نه چې نوموړی ﷺ واقعًا د دروغو مرتکب شوی وه؛ نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## يادونې

۶ـ په دې مقام کښې په کار ده چې لاندې يادونې هېرې نه کړی شي:

الف: د علم النجوم په هکله ځينو مفسرينو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[۱]، که د چا اوږده بيان ته زړه نه په تنکېږي نو هملته دې مراجعه وکړي.

ب: الله ﷻ د ابراهيم ﷺ هغه قيصه کومه چې د بوتانو په ماتولو پورې ارتباط لري په [الأنبياء: ۵۱] ايت او وروسته ايتونو کښې مشرحه نازله کړې ده، که په دې مقام کښې د چا ذهن ته څه پوښتنه ورلوېږي نو هغه مقام دې يو ځل وګوري هيله ده چې پوښتنه به يې په قناعت سره جوابه شي.

## رَوغ او رَوغان څه معنی؟

۷ـ د ﴿ فَرَاغَ ﴾، ﴿ فَرَاغَ ﴾ دواړه کلمې د "رَوْغ" يا "رَوَغَان" ـلکه "ضَرْب، حَيَوَان"ـ څخه اشتقاقي شوې دي. "رَوْغ" يا "رَوَغَان" دې ته وايي چې سړی يوه ځای ته په پټه او حيله سره ورشي او هلته ميلان وکړي[۲]، نو حاصل يې داسې راخېژي چې:

الف: ﴿ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمْ ﴾ يعنې ابراهيم ﷺ په پټه د مشرکانو باطلو معبودانو ته ورغی او د استهزاء او ملنډو په توګه يې د استنطاق لاندې ونيوه، چې تاسو خوراک او څښاک ولې نه کوئ؟ او ولې ګونګيان ياست؟ حال دا چې ستاسو عابدان خوراک او څښاک هم کوي او ګړېږي هم.

ب: په ﴿ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا ﴾ کښې د ﴿ ضَرْبًا ﴾ کلمه د اعراب په لحاظ متعدد صورتونه درلودلی شي[۳]، يو صورت يې دا دی چې ﴿ ضَرْبًا ﴾ د "ضَارِبًا" په تاويل سره د ابراهيم ﷺ څخه حال واقع شوی دی. يعنې نو ابراهيم ﷺ په بوتانو باندې په داسې حال کښې په پټه اقدام وکړ چې په قوت سره يې په تبر ميده-ميده کوونکی وه.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: په ﴿ إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴾ کښې د ﴿ يَزِفُّونَ ﴾ کلمه د "زَفّ" يا "زَفِيف" ـلکه "مَدّ،

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۱۰۲

(۲) مفردات الراغب ص۲۱۳؛ لسان العرب ج۸ ص۴۳۱؛ القاموس المحيط ج۲ ص۴۱۴

(۳) البحر المحيط ج۹ ص۱۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زفيز_ څخه اشتقاقه شوې د ... "زفيف" يا "زفيف" د چالاکۍ او سرعت معنی ورکوي. يعني مشرکان ابراهيم ﷺ ته په منډه منډه ورغله چې د استنطاق لاندې يې ونيسي.

پوښتنه دا ده چې: د بل ايت [الأنبياء: ۶۱] مضمون دا دى چې مشرکانو ابراهيم ﷺ وروغوښت چې هلئ ژر شئ استنطاق ته يې حاضر کړئ، هسې نه چې دوى په بيړه ورغله؟

مونږ وايو چې: د ذکرو شوو دواړو ايتونو ترمنځ څه منافات نشته، او دا څکه چې د مشرکانو مشرانو ابراهيم ﷺ وروغوښت او د استنطاق نندارې ته يې د هرې خوا څخه عوام او څينې غائبين مشران وروغلېده.

نو په هغه ايت کښې لومړي حال ته اشاره شوې ده او په دې ايت کښې دوهم حال ته.

## ايا دلته د "مَا" کلمه مصدريه ده؟

۹_ په ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴾ کښې د "مَا" کلمه په متعددو ډولونو سره تفسيره شوې ده[۱] د مثال په توګه:

الف: اهل السنة والجماعة وايي چې دغه کلمه دلته د مصدريت دپاره ده[۲]. يعني اى مشرکانو! ايا تاسو د هغو بوتانو عبادت کوئ چې په خپلو لاسونو باندې مو تراشلي دي؟ حال دا چې الله ﷻ د هر شي خالق دى، تاسو يې هم پيدا کړي ياست او ستاسو عملونو ته هم همدى ﷻ وجود ورکوي.

ب: معتزله وايي چې دغه کلمه د موصوليت دپاره ده[۳]. يعني حال دا چې الله ﷻ تاسو هم پيدا کړي ياست او هغه بوتان يې هم په مادي لحاظ پيدا کړي دي کومو ته چې تاسو شکل او څېره ورکړې ده، نو الله ﷻ يې د مادې پيدا کوونکى دى او تاسو يې د شکل پيدا کوونکي ياست، العياذ بالله.

همدا موضوع د عقائدو په کتابونو کښې ښه پوره شرحه شوې ده[۴].

﴿ وَقَالَ إِنِّى ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِى مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعْىَ قَالَ يَٰبُنَىَّ إِنِّىٓ أَرَىٰ فِى ٱلْمَنَامِ أَنِّىٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَٰدَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْبَلَٰٓؤُا۟ ٱلْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۹۶؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۳۲۶

(۲) المحرر الوجيز ج۱۳ ص۲۴۵؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۹۶

(۳) تفسير الکشاف ج۴ ص۵۱

(۴) شرح المقاصد في العقيدة ج۲ ص۱۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١١٠﴾ إِنَّهُۥ مِنۡ
عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١١﴾ وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٢﴾ وَبَٰرَكۡنَا عَلَيۡهِ
وَعَلَىٰٓ إِسۡحَٰقَۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحۡسِنٞ وَظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ مُبِينٞ ﴿١١٣﴾ ﴾

[۹۹] او ابراهیم ﵇ وویلې چې: یقینًا زه خپل رب ﷻ ته تلونکی یم، چې ژر به راته (د هغه ځای) لاربنودانه وکړي (کوم ته چې د ده ﷻ اراده وي).

[۱۰۰] ای زما ربه! ماته د صالحانو (اولادونو) څخه راوبښې.

[۱۰۱] نو مونږ ورته په حوصله ناک هلک (اسماعیل ﵇) سره زیری ورکړ (چې درته به یې وبښو).

[۱۰۲] نو کله چې دا هلک د ابراهیم ﵇ سره (د) کوښښ (عمر) ته ورسېد (او لږ څه غټکی شو) نو ابراهیم ﵇ (ورته) وویلې چې: ای زویکوتیه! یقینًا زه په خوب کښې ګورم چې یقینًا زه تا لره ذبحه کوم (او زما خوب وحې ده)، نو ته وګوره (فکر وکړه) چې هغه کوم کار دی چې ته یې (مصلحت) وینې (ایا ته دغه کار ته چمتو یې)؟

نو زوی یې (اسماعیل ﵇) وویلې چې: ای پلاره! هغه کار (په مابادې) وکړه (او عملي یې وروبښه) په کوم باندې چې تاته (په خوب کښې) امر درکولی کېږي، ژر دی چې ـکه د الله ﷻ اراده وي ـ ما به د صبر کوونکو څخه مونده کړې (زه به ذبحې ته په ثبات او استقامت سره غاړه کېږدم).

[۱۰۳] نو کله چې دواړو (د الله ﷻ امر ته) غاړې کېښوې او ابراهیم خپل زوی په څنګ (اړخ) باندې څملاوه (نو هغه څه پېښ شوه کوم چې یوازې الله ﷻ ته معلوم دي او بس).

[۱۰۴] او مونږ ابراهیم ﵇ ته غږ وکړه چې: ای ابراهیمه!

[۱۰۵] یقینًا تا خپل خوب رښتیا کړ (په امتحان کښې کامیاب شوې)، یقینًا مونږ (نورو) نیکوکارانو ته (هم) دغه ډول جزا ورکوو (او توفیق یې په برخه کوو).

[۱۰۶] بې شکه دغه (په خپل لاس د خپل زوی ذبحه) هرومرو څرګند امتحان وه (چې په ثقل یې ګرځوک پوهېږي).

[۱۰۷] او مونږ د ابراهیم ﵇ د زوی فدیه (عوض) په لویې مذبوحې (ګډورې) سره اداء کړه.

[۱۰۸] او مونږ په وروستنیو (خلکو) کښې په ابراهیم ﵇ باندې (دا کلمه) باقي پرېښودله چې:

[۱۰۹] په ابراهیم ﵇ باندې دې سلام وي.

[۱۱۰] (ای پیغمبره!) مونږ نیکو کارانو ته دغسې (نېکه) جزا ورکوو (چې آن تر قیامته پرې سلامونه استولی کېږي).

[۱۱۱] یقینًا ابراهیم ﵇ زمونږ د مؤمنو (او مخلصو) بندګانو څخه وه.

[۱۱۲] او (په ذکر شوي ذبیح زوی باندې علاوه) مونږ ابراهیم ﵇ ته په اسحق ﵇ باندې په داسې حال زیری ورکړ چې پیغمبر به وي (او) د صالحانو څخه به وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۱۳] او مونږ په هغه (ذبيح هلک) او په اسحق (دواړو) باندې برکتونه ورنازل کړه (چې د دواړو په نسلونو کښې زښت ډېر پيغمبران پيدا شوه).
او د دوی دواړو د نسلونو (اولادونو) څخه نېک او د خپل ځان دپاره ښکاره ظلم کوونکی (دواړه ډوله خلک) شته.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د ابراهيم ﷺ هغو ښېنو حالاتو ته اشاره شوې ده کومو چې د اور د نجات څخه وروسته صورت نيولی وه، نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د ابراهيم ﷺ څه نور حالات هم قرائت کړه ترڅو همغه لاره تعقيب کړي. هغه دا:

۱ـ کله چې ابراهيم ﷺ د استدلال په ميدان کښې مشرکانو ته ماتې ورکړه او د هغوی د اُور څخه هم روغ رمټ راووت، نو بيا يې وويلې چې:

الف: زه د نن څخه وروسته په دې ښار کښې نه اوسېږم او هغه ښار ته د مهاجر په حيث ورځم کوم چې راته خپل رب ﷻ په خپل ازلي علم کښې ټاکلی دی، نو د خپل رب ﷻ څخه اُميد کوم چې ډېر ژر به راته هدايت وکړي او همغلته به مې ور ورسوي.

ب: کله چې ابراهيم ﷺ د الله ﷻ په فضل خپل هجرتځای ته ورسېد، نو هلته يې د سوال لاسونه پورته کړه چې: ای زما ربه! ما خو خپلوان او قوميان صرف ستا د رضامندۍ دپاره پرېښودل او د پردېسۍ اوسېدانې ته مې ترجيح ورکړه، نو ماته په خپل فضل او مهربانۍ سره داسې اولادونه او نسل راکړې چې د صالحانو د ډلې څخه وي او زما د مرګ څخه وروسته د توحيد په دعوت کښې زما خلافت وکړی شي.

۲ـ مونږ د ابراهيم ﷺ سوال قبول کړ چې مونږ ډېر ښه اجابت کوونکي ياستو، نو هغه ﷺ ته مو په داسې يوه هلک سره زېری ورکړ چې د ښه حلم او صبر درلودونکی به وي.

۳ـ بيا ذکر شوي زيري عملي صورت ونيوه او ابراهيم ﷺ د حليم او صابر زوی پلار جوړ شو.

کله چې ذکر شوی هلک داسې وخت ته ورسېد چې د خپل پلار سره يې د کارونو په اجراء کولو کښې مرسته کولی شوه، او منډه تړه يې ورسره وهلی شوه، نو مونږ په ابراهيم ﷺ باندې په خوب کښې امر وکړ او همغلته مو ورولېد کړ چې ذکر شوی زوی (چې د کاروبار جوګه هم دی) په خپل لاس ذبحه کړي.

۴ـ ابراهيم ﷺ خپل زوی ته زمونږ د امر يادونه وکړه ترڅو خپل ځان ته معلومه کړي چې دغه کار به په رضامندۍ سره صورت ونيسي او که زور ته به پکښې اړتيا پېښه شي.

نو خپل زوی ته يې په صراحت سره وويلې چې:

الف: ای زويګوټيه! ته په ما باندې ډېر ګران يې او ډېره مهرباني هم درسره لرم، او نظر ستا عمر او زما بوډاتوب ته ستا غوندې زوی ته ښه پوره اړتيا هم لرم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: خو د دغو ټولو کیفیاتو سره-سره زه ستا په هکله په خوب کښې ګورم چې تا د پسه غوندې ذبحه کوم، نو زه ستا په ذبحه کولو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه مامور شوی یم.

ج: نو ته وګوره او ماته ووایه چې هغه کار څه دی کوم چې تاته ښکاري؟ ایا ته د دې کار عملي صورت ته خپل چمتوالی څرګندوې؟

۵ـ ابراهیم عليه السلام ته خپل زوی د ذکرې شوې پوښتنې په جواب کښې په خوشالۍ سره وویلې چې:

الف: ای زما پلاره! هغه کار ته عملي شکل ورکړه په کوم باندې چې تاته امر کېږي، زه پوهېږم چې دا کار د دښمنۍ د کبله صورت نه نیسي بلکې د الله ﷻ د امر د قبول په غرض ورته ته عملي بڼه ورکوې.

ب: ای پلاره! ته هیڅ تشویش مه کوه، زه دغه کار ته په ډېر اخلاص سره چمتو یم، دې ته اړتیا نشته چې زما لاسونه او پښې وتړې او یا د زور څخه کار واخلې.

ج: که د الله ﷻ رضا او اراده وي نو ته به ډېر ژر ما د صبر کوونکو بندګانو د ډلې څخه شمېرل شوی مونده کړې، زه به بالکل بې صبري ونه کړم.

۶ـ کله چې ابراهیم ﷺ د ذابح په حیث او اسماعیل عليه السلام د مذبوح په حیث الله ﷻ ته خپل ځانونه تسلیم کړه او مهربان پلار خپل ګران زوی د ذبحې په غرض په اړخ باندې څملاوه او دواړو خپلې بشرې وسې تمامې کړې، نو:

الف: هغو درجاتو او فضائلو تحقق وموند کوم چې دوی دواړو ته په ازل کښې لیکلی شوي وه او یوازې الله ﷻ ورباندې پوه وه.

ب: په همدغه وخت کښې مو ورته وحې وکړه چې ای ابراهیمه! تا خپل خوب رښتیا کړ او زما امر دې تعمیل کړ، نو ته کامیاب شوې.

۷ـ ای پیغمبره! مونږ نېکوکارانو او مخلصانو بندګانو ته دغسې لویه کامیابي وربه برخه کوو او په دغسې درنو اوامرو باندې یې امتحانوو او په تعمیل کښې یې توفیق ورکوو.

یقیناً ابراهیم عليه السلام د ډېر څرګند او لوی امتحان سره مخ شو چې په نتیجه کښې بریالي شو او د دنیا او آخرت امتیازات یې په برخه شوه. د مثال په توګه:

الف: مونږ د ذبیح هلک فدیه اداء کړه او ابراهیم عليه السلام ته مو ښه څرب او مقبول ګډوری ورکړ چې د خپل زوی په عوض یې ذبحه کړي.

ب: په ابراهیم عليه السلام باندې مو په وروستنیو خلکو کښې د قیامت تر ورځې پورې دا جمله باقي پرېښودله چې: ﴿سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ﴾ یعنې په ابراهیم عليه السلام باندې دې سلامونه او سلامتي وي.

۸ـ مونږ نېکوکارانو ته دغسې ښایسته جزا ورکوو چې د قیامت تر ورځې پورې یې اثرات باقي پاتې کېږي.

۹ـ مونږ ځکه د ابراهیم عليه السلام سره ذکر شوي احسانات وکړه چې: یقیناً نوموړی عليه السلام زمونږ د مخلصو مؤمنانو بندګانو څخه وه، او مونږ هیڅکله د مخلصو بندګانو عملونه نه ضائع کوو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱۰ـ په اسماعیل ﵇ باندې علاوه، مونږ ابراهیم ﵇ ته په یوه بل زوی (اسحق ﵇) سره هم د پیغمبر په صفت زیری ورکړ، چې د صالحانو او پیغمبرانو څخه به وي او د حق دعوت به چلوي.

په دې باندې علاوه د یوه لمسي په بشارت باندې مو هم سرلوړی کړ چې یعقوب به نومېږي او د اسحق ﵇ زوی به وي، دا به هم د صالحانو د جملې څخه وي او ته به ترهغه ژوندی یې چې په هغه باندې دې سترګې یخې شي.

۱۱ـ ای پیغمبره! مونږ په اسماعیل ﵇ او اسحق ﵇ باندې برکتونه وورول چې د دوی دواړو څخه وروسته مو ټول پیغمبران د همدوی دواړو په اولاده کښې مبعوث کړه.

خو د دې سره‌سره د دغو دواړو (اسماعیل ﵇ او اسحق ﵇) اولادونه د پیغمبرانو څخه پرته په دوه وو ډلو باندې وېشلي شوي دي:

الف: یو ډله هغه دي چې د خپلو پلرونو په لاره سم روان وي او مخلصان بندګان وي.

ب: بله ډله هغه دي چې د ځرګند ظلم لاره یې خپله کړې وي او د اخلاص لاره یې پرېښې وي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ﴾ مضمون وړاندې تېر شوی دی، چې: ﴿وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّي﴾ [العنکبوت: ۲۶] یعني او ابراهیم ﵇ د اور د نجات څخه وروسته وویلې چې: یقیناً زه خپل رب ﷻ ته هجرت کوونکی یم (هغه ځای ته تلونکی یم چرته یې چې راته د تللو امر کړی دی).

## یادونه

۲ـ د ابراهیم ﵇ د هجرت د قیصې مهم ټکي او هم یې په مکه معظمه کښې د ځینو اولادونو د دېره کولو څه اجمالي معلومات د [إبراهیم: ۳۷] ایت او [الأنبياء: ۷۱] ایت لاندې لیکلی شوي دي والحمد لله ﷻ چې بیا لیکل یې کتاب اوږدوي.

## ذبیح څوک وه؟

۳ـ په لاندې مطالبو کښې ټول علماء کرام اتفاق لري:

الف: ابراهیم ﵇ خپل یو زوی د الله ﷻ د رضا دپاره په خپله خوښه په خپل لاس ذبحه کړ، خو دا بیله خبره ده چې الله ﷻ یې ذبحه تمامه نه کړه او په عوض کښې یې په یوه پسه باندې د ذبحې عملیه اجراء کړه. چې تر نن ورځې پورې همدغه د قربانۍ عملیه د یادښت په توګه ترسره کېږي.

ب: په ﴿فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ﴾ کښې د "حَلِيم" لقب همدغه هلک ته ورکړی شوی دی، چې د "ذبیح" په نامه هم یادېږي.

ج: په ﴿يَا بُنَيَّ﴾ کښې د ابرهیم ﵇ د پلوه همدغه هلک مخاطب ګرځولی شوی دی.

د: الله ﷻ د همدغه هلک د خولې څخه حکایت کړی دی چې: ﴿سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ﴾ یعنې ای پلاره! ډېر ژر به ته ما مونده کړې چې د ذبحې په وخت کښې به شورماشور (جزع فزع) ونه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړم او د صبر کوونکو د ډلې څخه به وګرځم (زما درسره وعده ده، زه به په خپله وعده وفا وکړم).

هـ: بالآخره، بالاتفاق په ﴿ فَلَمَّآ أَسْلَمَا ﴾ کښې د ﴿ أَسْلَمَا ﴾ مستتر ضمير ابراهيم ﷺ او همدغه هلک ته راجع دی د کوم په ذبحه کولو باندې چې امر کړی شوی وه.

خو په دې کښې علماء کرام په دوه وو ګروپونو باندې وېشلي شوي دي چې ذکر شوی هلک د ابراهيم ﷺ کوم يو زوی وه؟، اسماعيل ﷺ که اسحق ﷺ ؟.

## اکثريت څه وايي؟

۴_ د علماوو کرامو اکثريت وايي چې ذبيح اسماعيل ﷺ دی[۱]، په دغه اکثريت کښې ډېر صحابه کرام ﷺ شامل دي چې د هغوی د جملې څخه أبو سعيد الخُدري ﷺ، او په يو روايت سره عبد الله بن عباس رضي الله عنهما هم دي[۲]، په دې باندې علاوه ډېرو تابعينو هم همدغه خبره غوره کړې ده[۳]، او بالآخره ډېرو مفسرينو کرامو هم همدغې خبرې ته ترجيح ورکړې ده چې په لومړي سر کښې يې العلامه ابن کثير عليه الرحمة واقع دی[۴].

که څه هم د اکثريت دلايل زښت ډېر دي خو مونږ د ځو هغو دلايلو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې د قرآن کريم د ايتونو او کلماتو څخه سړي ته ذهن ته ورځي هغه دا چې:

الف: الله ﷻ د ايتونو په ذکره شوې مجموعه کښې په بشارت کښې دوه ايتونه نازل کړي دي چې:

اول: ﴿ فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ ﴾ [الصافات:۱۰۱] .

دوهم: ﴿ وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ [الصافات:۱۱۲].

پوره واضحه ده چې په لومړني ايت کښې هغه هلک ته اشاره شوې ده کوم چې ذَبيح دی، چې د ذبحې عمليه په همده باندې ترسره شوې ده.

نو که همدغه هلک د اسحق ﷺ څخه عبارت شي نو دوهم ايت به د لومړي ايت دپاره تاکيد واقع شي چې په دې تقدير به په دواړو کښې همدی ﷺ اراده کېږي او بس، او که ذکر شوی ذَبيح د اسماعيل ﷺ څخه عبارت وګڼو نو دوهم ايت به تاسيس شي، او ځرګنده خبره ده چې د تاکيد څخه تاسيس بهتر دی.

په دې باندې علاوه په ﴿ وَبَشَّرۡنَٰهُ ﴾ کښې د "و" توری د عطف دپاره دی او عطف د مغايرت غوښتونکی دی، خو مغايرت په هغه وخت کښې تحقق مومي چې ذَبيح اسماعيل ﷺ وګڼلی شي.

ب: په ذکر شوي دوهم ايت کښې الله ﷻ د اسحق ﷺ د بشارت سره جوخت د نبوت زېری هم ورکړی دی چې: ای ابراهيمه! دا زوی به دې تر هغه ژوندی وي ترڅو په نبوت کښې ستا قائم مقام

---

(۱) زاد المسير ج۶ ص۳۰۳

(۲) الدر المنثور ج۷ ص۱۰۷

(۳) الدر المنثور ج۷ ص۱۰۵

(۴) تفسير ابن کثير ج۴ ص۱۸ ؛ اضواء البيان ج۶ ص۶۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او خای ناستی جوړ شي، یا په بل عبارت: دغه هلک به ښه د ېر عمر ولري.

نو که بالفرض د همدغه هلک (اسحق ﷺ) په ذبحه کولو باندې ابراهیم ﷺ مامور وګڼو نو په بشارت کښې به خلف او تغیر صورت ونیسي.

ج: همدارنګه الله ﷻ د اسحق ﷺ د بشارت سره په بل ایت کښې د لمسي بشارت هم پیوسته کړی دی چې: ﴿ فَبَشَّرْنَـٰهَا بِإِسْحَـٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَـٰقَ يَعْقُوبَ ﴾ [هود:۷۱] یعنې مونږ د ابراهیم ﷺ میرمنې (سارې رضی الله عنها) ته په اسحق سره زېری ورکړ، او د اسحق ﷺ څخه هغه خوا (وروسته) مو په یعقوب ﷺ (لمسي) سره هم زېری ورکړ.

او پوره څرګنده ده چې د لمسي زېری د ذبحې د امر سره منافي برېښي، ته به وایې چې الله ﷻ به د نیم بشارت د ورکولو اراده کړې وي، العیاذ بالله ﷻ.

د: لکه چې وړاندې په دربمه توضیح کښې واضحه شوې ده، ابراهیم ﷺ ته هغه هلک چې د ذبحې عملیه وربانديې اجراء شوې ده دا وعده ورکړې وه چې زه به د صبر کوونکو څخه جوړ شم، حال دا چې دغه دواړه حالات په نورو ایتونو کښې د اسماعیل ﷺ په هکله حکایت شوي دي چې:

اول: ﴿ وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَـٰبِ إِسْمَـٰعِيلَ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلْوَعْدِ ﴾ [مریم:۵۴] یعنې په قرآن کریم کښې د اسماعیل ﷺ ذکر وکړه چې یقیناً نوموړی په وعده کښې رښتینی وه، چې د ذبحې په وخت کښې یې هیڅ جزه پزه ونه کړه او په خپله وعده کلک ولاړ پاتې شو.

دوهم: ﴿ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا ٱلْكِفْلِ ۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴾ [الأنبیاء:۸۵] یعنې او اسماعیل ﷺ او ادریس ﷺ او ذا الکفل ﷺ هم یاد کړه چې دوی هر یو د صبر کوونکو څخه وه.

ه: همدارنګه په دربمه توضیح کښې تېر شوه چې د ﴿ أَسْلَمَا ﴾ مستتر ضمیر ابراهیم ﷺ او د ده هغه زوی ته راجع دی کوم چې ذبیح وه او په غاړه اېښودولو کښې ورسره شریک وه. خو په بل ایت کښې د اسماعیل ﷺ په نامه باندې صراحت شوی دی چې: ﴿ رَبَّنَا وَٱجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ ﴾ [البقرة: ۱۲۸] یعنې ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ دواړو خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای زمونږ ربه! مونږ دواړه تاته غاړه اېښودونکي وګرځوه.

نو الله ﷻ یې سوال قبول کړ او د ذبحې په وخت کښې یې دواړه غاړه اېښودونکي وګرځول او مونږ ته یې په ﴿ فَلَمَّآ أَسْلَمَا ﴾ سره راحکایت کړه.

و: الله ﷻ د اسحق د بشارت سره د "عَلِيم" لقب ضمیمه کړی دی چې:

اول: ﴿ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَـٰمٍ عَلِيمٍ ﴾ [الحجر:۵۳] یعنې ای ابراهیمه! ته دارېږه مه، یقیناً مونږ تاته په یو پوه هلک سره زېری درکوو.

دوهم: ﴿ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَـٰمٍ عَلِيمٍ ﴾ [الذاریات:۲۸] یعنې او پرښتو ابراهیم ﷺ ته په یوه پوه ماشوم سره زېری ورکړ.

که بالفرض ذبیح اسحق ﷺ وی نو په دواړو ایتونو کښې به د "عَلِيم" په عوض د "حَلِيم" لقب

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړې شوې وې چې د ذبحې د حال سره ښه مناسب وه، او دا څکه چې څوک حلم او ثبات ونه لري په دغسې حال کښې استقامت نه شي ساتلی.

د همدې کبله ابراهیم ﷺ د یوه ذَابح په حیث په [التوبة:۱۱۴] او [هود:۷۵] ایتونو کښې د "حَلِیم" په صفت یاد شوی دی.

دغه ډله وايي چې: د اسماعیل ﷺ عمر د ذبحې په وخت کښې دیارلسو (۱۳) کالو ته رسېدلی[1]، چې د خپل پلار په خدمت کښې یې منډه تلړه وهلی شوه.

ز: په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[2] په "حدیث الذبیحین" باندې استدلال نیولی دی، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ پرې ځکه استدلال ونه نیوه چې دغه حدیث مو د آحادیثو په کتابونو کښې مونده نه کړ.

## اَقلیت څه وايي؟

۵ـ ځینې علماء کرام وايي چې ذبیح اسحق ﷺ دی، په دغې ډلې کښې هم ډېر صحابه کرام ﷺ شته لکه عبد الله بن مسعود ﷺ، او په یو روایت کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما هم همدغسې قول کړی دی، او تابعین هم پکښې شمولیت لري، بالآخره په مفسرینو کرامو کښې هم ځینو همدغه قول غوره کړی دی چې په سر کښې یې شیخ المفسرین الطبري علیه الرحمة واقع دی.

د دغې ډلې دلایل مونږ ته د قرآن کریم په ایتونو کښې په نظر رانغله، خو دوی هغو دلایلو ته تاویل ورکوي کوم چې د اسماعیل ﷺ په ذبیحیت باندې دلالت کوي[3]، او بیا ترې د اسحق ﷺ ذبیحیت فهموي؛ که څوک یې د لوستولو شوق لري نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي.

## تبصره

۶ـ څرنګه چې د علماوو کرامو ذکرې شوې دواړه ډلې په صحابه وو کرامو ﷺ او تابعینو علیهم الرحمة باندې مشتملې دي[4]، او مفسرین کرام هم په دواړو ډلو باندې وېشلي شوي دي، نو مونږ په دغې موضوع کښې خپل نظر په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: په دې موضوع کښې ډېر شدت او سختي په کار نه ده، او دا څکه چې اسماعیل ﷺ او اسحق ﷺ دواړه پیغمبران وه، او دواړه د ابراهیم ﷺ زامن وه، که هر یو ذبیح وګڼلی شي د قرباني په ابراهیمي سنت باندې کوم اثر نه غورزوي.

نو د همدې کبله مونږ د ځینو مفسرینو کرامو غوندې[5]، د اسحق ﷺ ذبیحت په شدت سره نه ردوو او د اسرائیلیاتو څخه یې نه ګڼو.

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۹۹؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۰۰
(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۵۶
(۳) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۸۵؛ روح المعاني ج۲۳؛ ص۱۳۶
(۴) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۲؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۳۳۰
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: څه محاله نه ده چې ابراهيم ﷷ د هر يو زوى په ذبحه كولو باندې مامور شوى وي او په هر يو ماموريت كښې كامياب ختلى وي(۱).

نو په دې تقدير به فقط دومره فرق ولري چې د اسماعيل ﷷ ذبيحيت به په قرآن اثبات شوى وي او د اسحق ﷷ ذبيحيت به په روايتونو سره په اثبات رسېدلى وي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

## دوه پوښتنې او د هغو ځوابونه

۷ـ په دې مقام كښې د سړي په ذهن كښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: د څه حكمت په بنياد ابراهيم ﷷ ته په ويښه وحې ونه كړى شوه چې زوى دې ذبحه كړه؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ: دا د دې دپاره چې د پلار او زوى كامل انقياد څرګند شي، چې دوى دواړو دغه قرباني د ويښې د وحې پورې تالولى شوه او بهانه يې نيولى شوه خو دا كار يې ونه كړ.

په دې باندې علاوه ځرګنده ده چې ذكر شوى حكم ډېر دروند حكم وه، نو الله ﷻ ورباندې خپل خليل په پوره صراحت سره مخاطب ونه ګرځاوه، بلكې په خوب كښې يې ورته ارشاد وكړ.

د ذكر شوي حكم نظر هغه عتاب آمېزه حكم دى كوم ته چې په ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ﴾ [عبس: ۱، ۲] كښې اشاره شوې ده، چې الله ﷻ خپل حبيب (محمد ﷺ) مخاطب ونه ګرځاوه چې: تا خپل اوچولى تريو كړ او بېرته تاو شوې چې كله ړوند صحابي (عبد الله بن أم مكتوم ﷺ) درته درغى. بلكې وېي فرمايل چې: نبي كريم ﷺ اوچولى تريو كړ او بېرته تاو شو البته كله چې ورته ړوند صحابي ورغى.

ب: په دې كښې څه حكمت وه چې ابراهيم ﷷ د ذبحې موضوع خپل زوى ته د مشورې په توګه وړاندې كړه؟ كه بالفرض دا حكم يې نه وى قبول كړى نو ايا ابراهيم ﷷ به يې د اجراء كولو څخه صرف نظر شوى وى؟

مونږ وايو چې: په ذكره شوې مشوره كښې د الله ﷻ زښت ډېر حكمتونه پټ دي. لاندې څو مثالونه يې ولولى:

اول: دا د دې دپاره چې ابراهيم ﷷ خپل ځان ته معلومه كړي چې ايا دغه كار به تړلو ته ضرورت ولري ترڅو د زور څخه كار واخلي؟

دوهم: كه بالفرض د قربانۍ عمل په اسماعيل ﷷ باندې بدون د مشورې په خوب يا غفلت كښې اجراء شوى وى نو د انقياد اجر به يې هم نه وى موندلى. بيا به مونږ ته الله ﷻ د دواړو (پلار او زوى) كامل انقياد نه وى راحكايت كړى، او د قيامت تر ورځې پورې به د ټولو پلرونو او ټولو زامنو دپاره د عبرت درس نه وى ګرځېدلى.

## څو نكات

۸ـ په ﴿ فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ﴾ كښې لاندې نكاتو ته توجه په كار ده:

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۱۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د ﴿ فَلَمَّآ أَسۡلَمَا ﴾ جمله شرطیه جمله ده، چې په جزائیه جمله کښې یې علماوو کرامو متعدد غیر متبادر اقوال کړي دي[۱]. د مثال په توګه:

اول: ځینې وايي چې: د ﴿ وَتَلَّهُ ﴾ جمله یې جزائیه جمله ده، او د "و" توری پکښې زائد دی څه معنی نه لري.

دوهم: ځینې نور وايي چې: د ﴿ وَفَدَيۡنَٰهُ ﴾ جمله یې جزائیه جمله ده، او د "و" توری پکښې زائد دی څه معنی نه لري.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به جزائیه جمله مقدره وي چې په "وَقَعَ ما وَقَعَ" سره ترې تعبیر کولی شو[۲]، شاید چې تقدیر به یې د تعمیم دپاره صورت نیولی وي.

ب: په ﴿ وَتَلَّهُ ﴾ کښې د "تَلّ" کلمه د "تَل" ـ لکه "مَدٌّ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د ځملولو او غورزولو معنی ورکوي[۳].

ج: په ﴿ لِلۡجَبِينِ ﴾ کښې د "جَبِین" کلمه د هغه ځای دپاره وضعه شوې ده، کوم چې د غوږ او تندي ترمنځ واقع دی[۴]، چې په پښتو کښې ورته څنګه وايي. یا په بل عبارت: د وریځو څخه اوچت او د سر د ویښتانو څخه رانښکته ځای د اوچولي (تندي) په نامه یادېږي چې په عربي ژبه کښې ورته د "جَبۡهَة" کلمه وضعه شوې ده، او د تندي دواړه طرفونه د دوه وو جبینیو په نامه یادېږي.

نو د ذکرو شوو نکاتو په نظر کښې نیولو سره یې د معنی حاصل داسې راخیژي چې:

نو کله چې ابراهیم عليه السلام د ذابح په حیث او اسماعیل عليه السلام د ذَبیح په حیث د الله ﷻ د امر تعمیل ته غاړې کېښودې او ابراهیم عليه السلام خپل ګران زوی د الله ﷻ د رضا دپاره په اړخ او جَبین (څنې) باندې ځملاوه، نو هغه څه واقع شوه کوم چې الله ﷻ ورته په خپله ازلي اراده کښې ټاکلي وه.

د: پاتې شوه دا خبره چې هغه څه شی وه چې لا ورته پخوا په ازلي علم کښې ټاکلی شوی وه؟، نو څه لرې نه ده چې همغه شی "د الله ﷻ په نزد مقبولیت او د خلکو په نزد د نېکې یادونې" څخه عبارت وي لکه چې د وروسته ایتونو څخه د اشارې په توګه فهمېږي، والله ﷻ أعلم.

## څو ټکي

۹ـ په ﴿ وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٖ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه ضروري ده:

الف: د "فَدَيۡنَا" کلمه د "فِدۡيَة" یا "فِدَاء" څخه اشتقاقه شوې ده، "فِدۡيَة" یا "فِدَاء" دې ته وايي چې چا ته څوک په مالي مرسته د عذاب یا بندیتوب څخه نجات او خلاصون ورکړي[۵].

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۳۳۴؛ تفسير الطبري ج۲۳ ص۸۰
(۲) تفسير ابي السعود ج۷ ص۲۰۱
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۷۷
(۴) روح المعاني ج۱۳ ص۱۳۰
(۵) مفردات الراغب ص۳۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په ﴿ وَفَدَيْنَٰهُ ﴾ کښې منصوب ضمير اسماعيل ﷺ ته راجع دی[1].

ج: که څوک وايي چې په دې تقدير د کلام حاصل داسې راځېږي چې: او مونږ د اسماعيل ﷺ فديه په عظيم ذبح سره اداء کړه او د مرۍ د پرېکولو څخه مو وژغوره. حال دا چې الله ﷻ خو فديه اداء کوونکی نه وه بلکې فديه قبلوونکی وه، فديه اداء کوونکی خو ابراهيم ﷺ وه؟

مونږ وايو چې: الله ﷻ د ابراهيم ﷺ فديه اداء کول داسې تعبير کړي دي لکه چې پخپله اقدس ذات ﷻ اداء کړي وي.

دغه ډول تعبير ته د بلاغت په علم کښې عقلي مجاز وايي[2].

د: که څوک وايي چې الله ﷻ خو وړاندې ابراهيم مخاطب ګرځولی وه چې: ﴿ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ﴾ يعنې تا خپل خوب رښتيا کړ. نو کله چې ابراهيم ﷺ خپل خوب رښتيا کړ او خپله فريضه يې سرته ورسوله، طبعي ده چې اسماعيل ﷺ د ذبحې څخه خلاص شو، نو د فديې اداء کول څه معنی لري؟ يا په بل عبارت: اسماعيل ﷺ خو د فديې اداء کولو څخه لا وړاندې د ذبحې څخه خلاص شوی وه؟

مونږ وايو چې: د ﴿ وَفَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴾ جمله د وړاندې کلام دپاره بيان او تفسير واقع شوې ده، او اعتراض به په هغه وخت کښې صحت درلودی چې دا بېله جمله وی او په بېل مضمون باندې يې دلالت کولی.

ه: د "ذِبْح" کلمه _لکه "عِلْم"_ د هغه شي دپاره وضعه شوې ده د کوم چې مرۍ او د ستونې شارګونه پرې کړی شي[3]. مګر په دې مقام کښې ترې هغه لکۍ لرونکی ګډوری مطلب دی کوم چې ښکرونه درلودونکی وی، خو ذکره شوې کلمه "ذَبْح" _لکه "ضَرْب"_ د مرۍ او ستونې د رګونو پرېکولو دپاره وضعه شوې ده[4].

و: الله ﷻ ذکر شوی ګډوری د ﴿ عَظِيمٍ ﴾ په کلمې سره موصوف کړی دی چې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده[5] لکه:

اول: "عَظِيم" يعنې څرب او چاغ.

دوهم: "عَظِيم" يعنې د الله ﷻ په نزد مقبول.

مونږ ته داسې ښه برېښې چې د ﴿ عَظِيمٍ ﴾ کلمه دلته عامه معنی ولري، چې څرب، مقبول او نورې ډېرې معناوې پکښې شاملې شي.

ز: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د دغه ګډوري په هکله وايي چې: «فَالْتَفَتَ إِبْرَاهِيمُ فَإِذَا هُوَ بِكَبْشٍ

---

(۱) المحرر الوجيز ج۲۳ ص۲۵۰

(۲) مختصر المعاني ج۵۳

(۳) القاموس المحيط ج۲ ص۲۴۸

(۴) لسان العرب ج۲ ص۴۳۶؛ الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۶۴۸

(۵) تفسير الطبري ج۲۳ ص۸۷؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۱۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَبْيَضَ أَقْرَنَ أَعْيَنَ»[۱] يعنې کله چې ابراهيم ﷺ ته اواز وکړی شو چې ای ابراهيمه! تا خپل خوب رښتيا کړ، نو سمدستي ابراهيم ﷺ وکتل نو ناڅاپه يې په سپين رنګي ښکرور غټې سترګي ګډوري باندې سترګې ولګېدې، چې دغه د الله ﷻ په حضور کښې د اسماعيل ﷺ په عوض قرباني کړه، نو ابراهيم ﷺ همدغه ګډوری قرباني کړ، او د قيامت تر ورځې پورې يې يو سنت پرېښود.

ح: د دغه ګډوري ښکرونه بيا د کعبې شريفې په داخل کښې د يادګار په توګه خوړند وه، آن تردې چې نبي کريم ﷺ هم وليده، البته کله چې د مکې د فتحې په ورځ هلته ورداخل شو.

خو کله چې د کعبې شريفې څخه رابهر شو، نو شيبه ﷺ يې مخاطب کړ چې: «إِنِّي رَأَيْتُ فِي الْبَيْتِ قَرْنًا فَغَيِّبْهُ»[۲] يعنې ما په کعبه شريفه کښې ښکر وليد، نو (ته لاړ شه او) هغه د کعبې شريفې څخه غائب کړه (ترې وېې باسه، او دا ځکه چې په کعبه شريفه کښې د هغه شي موجوديت مناسب نه دی کوم چې لمونځ کوونکی مشغولوي).

ط: ځينې مفسرين کرام وايي چې: د ذکر شوي ګډوري ښکرونه د کعبې په داخل کښې تر هغه وخته پورې ځوړند وه، ترڅو چې د حجاج بن يوسف په جنګ کښې کعبې شريفې اور واخست او پکښې وسوزېدل او د منځه لاړل[۳]، والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا ﴾ کښې د "هِمَا" ضمير چاته راجع دی؟

مونږ وايو: که څه هم دغه ضمير ځينو مفسرينو کرامو ابراهيم ﷺ او اسحق ﷺ ته راجع ګڼلی دی[۴]، خو دغه ارجاع بهتره نه برېښي دا ځکه چې د اسحق ﷺ زوزات خو د ابراهيم ﷺ د زوزات څخه وتلي نه دي، نو که بالفرض دغه ارجاع مراده وی نو د ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا ﴾ په عوض به "وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ" نازل شوی وی؛ نو بهتره دا ده چې دغه ضمير اسماعيل ﷺ او اسحق ﷺ ته راجع وګڼل شي.

﴿ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيْنَٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١١٥﴾
وَنَصَرْنَٰهُمْ فَكَانُوا۟ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿١١٦﴾ وَءَاتَيْنَٰهُمَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلْمُسْتَبِينَ ﴿١١٧﴾ وَهَدَيْنَٰهُمَا ٱلصِّرَٰطَ
ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١١٩﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٠﴾
إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢١﴾ إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٢﴾ ﴾

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۶۳۸
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۶۸
(۳) روح المعاني ج۲۳ ص۱۳۴
(۴) تفسير البغوي ج۴ ص۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۱۴] او یقیناً مونږ په موسی ﷺ او هارون ﷺ باندې (په نبوت او نورو منافعو سره) احسان کړی وه.

[۱۱۵] او مونږ دوی دواړو او د دوی دواړو قوم ته د لوی غم څخه نجات ورکړی وه (چې فرعون به ورته نارینه اولادونه ذبحه کول).

[۱۱۶] او مونږ د دوی (ټولو) سره (په هره ساحه کښې) نصرت کړی وه، نو همدوی (ټول د استدلال او عمل دواړو په میدانونو کښې) غلبه درلودونکي وه.

[۱۱۷] او مونږ موسی ﷺ او هارون ﷺ (دواړو) ته ډېر ښه بیانوونکی کتاب (تورات) ورکړی وه.

[۱۱۸] او دوی دواړو ته مو (په همدې کتاب سره د دنیا او آخرت) سمه (سیده) لاره ښودلې وه.

[۱۱۹] او مونږ په دوی دواړو باندې په وروستنیو (خلکو) کښې (دا کلام) باقي پرېښی دی چې:

[۱۲۰] په موسی ﷺ او په هارون ﷺ باندې دې سلامونه (او سلامتی) وي.

[۱۲۱] (ای پیغمبره!) یقیناً مونږ نیکوکارانو (مخلصانو بندګانو) ته دغسې (ښکه) جزا ورکوو.

[۱۲۲] یقیناً دوی دواړه زمونږ د مؤمنانو بندګانو د جملې څخه وه.

## توضیحات

۱ـ که څه هم امتنان او نجات ورکول او نصرت او غلبه څلور واړه متلازم نعمتونه دي، خو الله ﷻ په ذکرو شوو ایتونو کښې د زیات اهتمام دپاره په څلور واړو باندې صراحت وکړ.

## اِسْتِبَانَة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ٱلْكِتَٰبَ ٱلْمُسْتَبِينَ﴾ کښې د ﴿ٱلْمُسْتَبِينَ﴾ کلمه د "اِسْتِبَانَة" ـلکه "اِسْتِقَامَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې مجرد یې "بَیَان" دی، نو څرنګه چې د تورو زیادت د معنی په زیادت او قوت باندې دلالت کوي[1]؛ نو په دې مقام کښې یې معنی داسې کېږي چې مونږ موسی ﷺ او هارون ﷺ ته د احکامو ډېر ښه بیانوونکی کتاب (تورات) ورکړی وه او احسان مو ورسره کړی وه.

﴿وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴿١٢٥﴾ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٢٩﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلْ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾﴾

[۱۲۳] او یقیناً الیاس ﷺ (هم) د پیغمبرانو د جملې څخه دی.

[۱۲۴] (ای پیغمبره!) هغه وخت یاد کړه چې کله الیاس ﷺ (د دعوت په جریان کښې) خپل قوم

[1] لسان العرب ج۱۳ ص۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته وویلې چې: ایا تاسو (د الله ﷻ څخه) نه ډارېږئ (چې شرکي عقیده مو خپله کړې ده)؟.

[۱۲۵] ایا تاسو په داسې حال کښې د بَعل (بوت) بلنه (او عبادت) کوئ چې د ټولو جوړونکو بهتر (جوړونکی الله ﷻ) مو پرېښی دی؟!.

[۱۲۶] (د) الله ﷻ (عبادت مو پرېښی دی) چې ستاسو رب (هم) دی او ستاسو د پخوانیو پلرونو رب (هم) دی.

[۱۲۷] نو هغوی د اِلیاس ؑ تکذیب وکړ، نو یقینًا هغوی هرو مرو (په عذاب کښې) حاضر کړی شوي دي (چې هیڅکله به ترې غیاب ونه مومي).

[۱۲۸] مګر د الله ﷻ مخلصو بندګانو (یې تکذیب ونه کړ بلکې د پیغمبر په حیث یې وپېژاند).

[۱۲۹] او مونږ په اِلیاس ؑ باندې په وروستنیو (خلکو) کښې (دا کلام) باقي پرېښود چې:

[۱۳۰] په الیاس ؑ باندې دې سلام (او سلامتیاوې) وي.

[۱۳۱] (ای پیغمبره!) یقینًا مونږ احسان کوونکو (نیکوکارانو) ته دغسې (ښکه) جزا ورکوو

[۱۳۲] یقینًا اِلیاس ؑ زمونږ د (مخلِصو) مؤمنانو بندګانو څخه وه.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱- په ﴿ وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ کښې فقط دومره اشاره شوې ده چې اِلیاس ؑ د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر وه، خو نور حالات یې پټ دي چې د چا د اولادې څخه وه او په کومه زمانه کښې تېر شوی دی؟ او داسې نور.

او په احادیثو کښې هم د الیاس ؑ نور حالات په صحیحه توګه نه دي شرحه شوي.

مګر مفسرینو کرامو د ده ؑ په هکله ډېر څه لیکلي دي، او ښې اوږدې قیصې یې پکښې نقلې کړي دي[۱]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ په دې باره کښې فقط د لاندې ټکو په لیکلو باندې اکتفاء کوو:

الف: الیاس ؑ د بني اسرائیلو د پیغمبرانو څخه یو پیغمبر وه او د هارون ؑ د نسل څخه وه.

ب: نوموړی د سلیمان ؑ څخه وروسته په هغه وخت کښې مبعوث شوی وه چې کله بني اسرائیلو بوت پرستۍ ته مخه کړه او د توحید عقیده یې پرېښودله.

ج: ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې: الیاس ؑ هم د خضر ؑ په شان په ځمکه کښې ژوندی ګرځي او تر لومړۍ شپېلۍ پورې به ژوندی وي[۲]، خو دا خبره یې په کوم قوي سند باندې ولاړه نه ده، د همدې کبله ترې ډېرو انکار کړی دی.

## بَعل څه معنی؟

۲- په ﴿ أَتَدْعُونَ بَعْلًا ﴾ کښې د "بَعل" کلمه په ګڼ شمېر معناوو سره استعماله شوې ده،

---

(۱) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۶؛ تفسیر الطبري ج۲۳ ص۹۲؛ تفسیر الخازن ج۵ ص۲۵۱؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۱۱۵
(۲) الدر المنثور ج۷ ص۱۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



...ي خو مثالونه يې ولولئ:

الف: "بَعْل" کلمه د مالک او خاوند دپاره وضعه شوې ده[1].

... همدې معنی په تائید کښې ځینو مفسرینو کرامو یوه قیصه لیکلې ده[2]، چې په لاندې پنځو ... کې کښې خلاصه کېږي:

اول: یو سړی غږ وکړ چې: "مَنْ وَجَدَ نَاقَةً أَنَا بَعْلُهَا؟" هغه اوښه چا لېدلې ده چې زه یې بَعل یم؟

دوهم: د دغه اواز په اورېدلو سره تومورې سړي ته ماشومان وروخغلېده چې: "یَا زَوْجَ النَّاقَةِ!" ای ... اوښې مېړه!.

درېيم: نو عبد الله بن عباس رضی الله عنهما دغه سړی وروغوښت او پوښتنه يې ترې وکړه چې ستا د "أَنَا ... بَعْلُهَا" کلام څخه څه مطلب دی؟

څلورم: هغه جواب ورکړ چې زما مطلب دا دی چې: "أَنَا رَبُّهَا" زه د اوښې خاوند یم.

پنځم: نو ابن عباس رضی الله عنهما ذکر شوی ایت شریف ولوست. ته به وایې چې د همدغه سړي د ... ولې څخه یې د "بَعْل" د کلمې معنی زده کړه، او پخوا وریاندې نه پوهېده.

... او دا ځکه چې مشرکانو ته خپل بوت (معبود) رب او خاوند برېښي، چې هر خیر او شر د همده په واک کښې ګڼي.

ب: د "بَعْل" کلمه د "زَوْج" معنی ورکوي. لکه چې الله ﷻ د ساري رضی الله عنها څخه حکایت کړی دی چې ﴿وَهَـٰذَا بَعْلِي شَيْخًا﴾ [هود: ۷۲] یعني کله چې الله ﷻ ابراهیم علیه السلام ته په اسحق علیه السلام سره بشارت ورکړ، نو بي بي ساره رضی الله عنها (د ابراهیم علیه السلام ماندینې) په تعجب سره وویلې چې: ایا زه به ماشوم وزېږوم حال دا چې زه زړه بوډۍ یم او دغه مې بوډا مېړه دی؟!

ج: دا د یوه خاص بوت نوم وه چې همدغه قوم به یې عبادت کاوه. دا بوت د سرو زرو څخه جوړ ... وه چې شل ګزه اوږد وه او څلور سوه منجاوران یې درلوده، او څلور مخونه یې ورته جوړ کړي وه[3].

د: په عربي ژبه کښې هغه بوت ته بعل ویل کېږي کوم چې معبود ګرځولی شوی وي او خلک ورته په عبادت سره خپل ځان ورنږدې کوي[4]، هر یو بوت په همدغه نامه باندې یادولی شي.

## تبصره

۳- په دې مقام کښې د "بَعْل" د کلمې د ذکرو شوو څلورو معناوو څخه د دوهمې معنی څخه په ... غیر نورې درې واړه معناوې صحت لري چې اراده کړی شي.

... نو د الیاس علیه السلام د دعوتي کلام خلاصه داسې راځېږي چې:

(۱) لسان العرب ج ۱۱ ص ۵۹
(۲) زاد المسیر ج ۶ ص ۳۰۷
(۳) روح المعاني ج ۲۳ ص ۱۴۰؛ تفسیر القرطبي ج ۱۵ ص ۱۱۷
(۴) مفردات الراغب ص ۵۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای زما قومه! ایا تاسو د الله ﷻ څخه نه ډارېږئ چې په عبادت کښې ورسره شریکان درو؟
ب: ایا تاسو د بَعل بوت یا د مطلق بوت عبادت کوئ، حال دا چې تاسو د أحسنُ الخالقین الله ﷻ مخلصانه عبادت پرېښې دی؟
ج: یوازې همدغه الله ﷻ ستاسو او ستاسو د پخوانیو پلرونو رب دی، همدی ﷻ ستاسو اړتیاوې پوره کوي، لکه چې په دنیا کښې یې موجودیت درکړی دلته ستاسو بقاء هم د همده ﷻ په اختیار کښې ده او ستاسو بېرته راژوندي کول هم د همده ﷻ حتمي کار دی، چې ضرور به صورت ورکوي.

## یادونه

۴_ په ﴿ وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴾ کښې د ﴿ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴾ غوندې عبارت وړاندې په [المؤمنون:۱۴] ایت کښې هم نازل شوی دی، چې مونږ هلته د الله ﷻ په توفیق څه سوال جواب لیکلی دی چې: د ﴿ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴾ څخه جوړونکی مراد دی، نه پیداکوونکی؛ نو هیله ده چې د ښه وضاحت دپاره هغه مقام ته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## یو نحوي تحلیل

۵_ که څوک وایي چې: په ﴿ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ کښې د "إلّا" په توري سره د څه شي څخه استثناء صورت نیولی دی؟
مونږ وایو چې: په دغې استثناء کښې لاندې دوه صورتونه تحقق موندلی شي:
الف: دغه استثناء په ﴿ فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴾ کښې د ﴿ فَكَذَّبُوهُ ﴾ د مستتر ضمیر سره تعلق نیسي او استثناء هم متصله ده منقطعه نه ده[۱]. یعني د الیاس ؑ دعوتي کلام ټول قوم تکذیب کړ، مګر د الله ﷻ مخلصو بندګانو یې تصدیق وکړ او تکذیب یې نه کړ.
ب: دغه استثناء په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ لَمُحْضَرُونَ ﴾ د مستتر ضمیر سره ارتباط لري[۲]، او استثناء هم متصله نه ده بلکې منقطعه ده. یعنې ټول مکذبین او ټول مشرکان د الله ﷻ په تعذیب کښې حاضر کړی شوي دي، او ضرور به پکښې واقع کېږي، مګر د الله ﷻ اخلاصمند بندګان به د عذابونو څخه بچ وي او جنت ته په داخلېدلو سره به سرلوړي وګرځي.

## هېر مو نه شي

۶_ هېر مو نه شي چې په ﴿ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلْ يَاسِينَ ﴾ کښې د ﴿ إِلْ يَاسِينَ ﴾ کلمه عبراني (أعجمي) ده او کله چې أعجمي کلمه په عربي کلام کښې استعماله شي، نو د ډېرو تغیراتو سره مخامخه کېږي، لاندې مثالونه یې ولولی:
الف: په "جِبْرَائِیل" او "مِیكَائِیل" کښې "جِبْرِیل" او "مِیكَال".

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۳۴۱؛ البحر المحيط ج۹ ص۱۲۲
(۲) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په "إِدْرِيس" کښې "إِدْرِيسِين" او "إِدْرَاسِين".

ج: په "إِبْرَهِيم" کښې "إِبْرَاهَام".

د: په "سَيْنَاء" کښې "سينين"، او داسې نور.

په همدې بنياد په "إِلْيَاس" کښې "ي، ن" دوه توري دلته زيات نازل شوي دي چې: ﴿ إِلْ يَاسِينَ ﴾ بې لولو.

نو د ايت شريف معنى داسې صورت نيسي چې: مونږ په وروستنيو خلکو کښې د قيامت تر ورځې پورې په الياس ﷺ باندې دا کلام جاري او باقي پرېښود چې په الياس باندې دې سلامونه او سلامتى وي.

هو! څرنګه چې د قرآن کريم د ايتونو ليکنه د عربي ليکدود تابع نه ده، او نقل پورې متوقفه ده، نو مونږ په "إِلْيَاسَ" کښې د "إِلْ" توری متصل ليکو او په "إِلْ يَاسِين" کښې يې منفصل ليکو، چې په ايتونو کښې همدا ډول ليکنه د عثمان ﷺ د زمانې څخه راپاتې ده.

﴿وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذْ نَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِى ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴿١٣٦﴾ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴿١٣٧﴾ وَبِٱلَّيْلِ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٣٨﴾﴾

[۱۳۳] او يقيناً لوط ﷺ (هم) د پيغمبرانو د جملې څخه وه.

[۱۳۴] (اى پيغمبره!) هغه وخت ياد کړه چې مونږ لوط ﷺ او د ده ﷺ ټولې کورنۍ ته (د عذاب څخه) نجات ورکړ.

[۱۳۵] مګر يوې زړې (بوډۍ) ته (مو نجات ورنه کړ، چې دا) په بېرته پاتې کېدونکو (کفارو) کښې وه (او کافره وه).

[۱۳۶] بيا (د هغوى د نجات څخه وروسته) مونږ نور (ټول) هلاک کړه.

[۱۳۷] او (اى مکيانو!) يقيناً تاسو د هلاک کړى شوي قوم (په کنډوالو) باندې په داسې حال تېرېږئ چې په سبا کښې داخلېدونکي ياست.

[۱۳۸] او په شپه کښې هم (وربانديې تېرېږئ)، ايا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ (چې د کفارو عناديانو انجام څنګه کېږي)؟.

## د مطلب خلاصه او توضيحات

۱ـ د لوط ﷺ د قوم د هلاکت قيصه وړاندې په ډېرو سورتونو کښې ښه تفصيلواره نازله شوې ده، او مونږ پکښې هغه تحليلونه ځاى په ځاى کړي دي کوم چې الله ﷻ رانښودلي وه چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو؛ نو هيله ده چې يو ځل "الْحِجْر، الشُّعَرَاء" او نورو سورتونو ته مراجعه وکړى شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو اعرابي تحلیل

۲ـ په ﴿ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴾ کښې لاندې تحلیلونه په نظر کښې ولرئ:

الف: د ﴿ مُّصْبِحِينَ ﴾ کلمه د "تَمُرُّونَ" د هغه مستتر ضمیر څخه حال واقع شوی ده په کوم باندې چې مکیان (د مکې مشرکان) مخاطب ګرځولی شوي وه.

ب: د "بِاللَّيْلِ" کلمه د خپل متعلق "مُتَلَبِّسِينَ" په ملحوظ په ﴿ مُّصْبِحِينَ ﴾ باندې عطفه ده.

نو حاصل یې په دغو دوولونو سره راختلی شي:

اول: ای مشرکانو! د لوط ﷺ د هلاک شوي قوم رنګې شوې او ورانې شوې ودانۍ خو ستاسو د سترګو لاندې دي، کله چې تاسو شام ته په سفر روان یاست نو تاسو په دغو ښارونو (سدوم) باندې په داسې وخت کښې تېرېږئ چې سبا راختلی وي (رڼا خوره شوې وي) او ټولې کنډوالې درته څرګندېږي. همدارنګه تاسو وربانډې په پخه شپه کښې هم مرور او عبور کوئ چې په ټولو اطرافو کښې یې چپه چپتیا وي، نه هلته څه اواز اورئ او نه څه د اور یا څراغ رڼا ګورئ چې په کوم ژوندي ساکښ باندې دلالت وکړي.

دوهم: که د "مُصْبِحِينَ، بِاللَّيْلِ" دواړه کلمې د ټولو وختونو څخه کنایې واخستلی شي نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای مشرکانو! تاسو هلته شپه او ورځ بلکې په ټولو وختونو کښې ګرځئ راګرځئ او د (سدوم) د ښارونو کیفیات درته ښه پوره څرګند او واضحه دي. نو ایا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ چې هغوی په څه سبب پوپنا کړی شوي دي؟ ایا د هغوی دپاره کفري او شرکي عقیده بلا او آفت نه وه جوړ شوی، البته هغه عقیده کومه چې تاسو خپله کړې ده؟.

که څه هم ذکرې شوې دواړه معناوې سره څه منافات نه لري او ممکنه ده چې د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي، مګر مونږ ته اولنۍ معنی په زړه پورې برېښي چې په [مریم: ۹۸] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

﴿ وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذْ أَبَقَ إِلَى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَٱلْتَقَمَهُ ٱلْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِى بَطْنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذْنَٰهُ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَأَنۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾ وَأَرْسَلْنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔامَنُوا۟ فَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١٤٨﴾ ﴾

[۱۳۹] او یقینًا یونس ﷺ ضرور د پیغمبرانو د جملې څخه وه.

[۱۴۰] (ای پیغمبره!) هغه وخت یاد کړه چې یونس ﷺ (د خپل قوم څخه) ډکې بېړۍ ته ورونښتېد (لکه چې د خپل مولی څخه غلام وتښتي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۴۱] نو (په ببړۍ کښې) یې (د سورلیو سره) اسک (قُرعه) واچوله، نو د مغلوبانو څخه شو (همدی د غرق مستحق شو).

[۱۴۲] نو (څرنګه چې دریاب ته ور ولوېد سمدستي) یوه ماهي په داسې حال کښې ښویه تېر کړ چې (د خپل ځان) ملامته کوونکی وه (په خپله ملامته پوه شو).

[۱۴۳] نو که دا خبره نه وی چې یونس ﷺ (د ماهي په ګېډه کښې) د تسبیح ویونکو څخه وه.

[۱۴۴] نو هرومرو به یې د ماهي په ګېډه کښې تر هغې ورځې پورې تال کړی وی چې خلک بېرته راژوندي کړی شي (د ژوندي کېدلو وخت نژدې شي او اولنۍ شپېلۍ ووهلی شي).

[۱۴۵] نو مونږ یونس ﷺ (ته د تسبیحاتو په سبب نجات ورکړ او هغه مو) په خالي ځمکه باندې په داسې حال کښې واچاوه چې مریض (او کمزوری) وه.

[۱۴۶] او هم مو ورباندې (هلته) یوه ونه زرغونه کړه چې د کدو د ونې څخه عبارت وه.

[۱۴۷] او مونږ یونس ﷺ سل زره (خلکو) ته بلکې (د دې څخه) ډېرو خلکو ته (د پیغمبر په حیث) لیږلی وه.

[۱۴۸] نو د یونس ﷺ قوم ایمان راووړ نو (مونږ د عذاب څخه بچ کړ او) تر څه وخته پورې مو ورته د استفادې موقع ورکړه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې [۷۵] ایت څخه را په دېخوا د هغو نهو پیغمبرانو ذکر نازل شوی دی، د کومو قومونه چې په کفري او شرکي عقیده باندې کلک پاتې شوه او په نتیجه کښې الله ﷻ خپلو مخلصو بندګانو ته نجات ورکړ او کفار یې د ځرمې هلاک کړه.

په دې ایتونو کښې د هغه پیغمبر ذکر نازل شوی دی د کوم قوم چې په نتیجه کښې د کفري عقیدې څخه لاس واخست او په ایمان مشرف شوه، نو الله ﷻ ورته نجات ورکړ او د هغوی پیغمبر یې د عتاب لاندې واقع کړ، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د یونس ﷺ او د ده د قوم څه حالات قرائت کړه چې عبرت ترې واخلي. هغه دا چې:

۱ـ یقینًا یونس ﷺ د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر وه، او خپل قوم ته یې د توحید دعوت چلاوه، د ده ﷺ په حالاتو کښې د عبرت ډېر درسونه شته دي د مثال په توګه:

الف: یونس ﷺ خپل قوم ته زښت ډېر دعوت وچلاوه خو هغوی ورباندې ایمان رانه ووړ، چې په پای کښې یونس ﷺ هغوی په عذاب سره تهدید کړه.

ب: د تهدید څخه وروسته یونس ﷺ د ښار څخه په داسې حال بهر شو چې الله ﷻ ورته توصیه نه وه کړې لکه څنګه یې چې لوط ﷺ ته د ښاره د وتلو توصیه کړې وه.

نو د یونس ﷺ ذکر شوی کړنلاره د هغه غلام د کړنلارې سره شباهت درلود کوم چې د خپل مولی څخه اجازه وانخلي او کومې خوا ته په خپله خوښه لاړ شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: یونس ﷺ په خپل دغه بې اجازې سفر کښې په یوه ډکه بېړۍ باندې وربرابر شو، نو په دغې ډکې بېړۍ کښې سور شو او په دریاب کښې یې خپل سفر ته ادامه ورکړه.

د: څرنګه چې په بېړۍ کښې سورلۍ ډېرې شوې او نژدې وه چې د ډېر ډکوالي د کبله غرقه شي، نو د بېړۍ چلوونکي دوی ته خبر ورکړ چې یو کس دریاب ته وغورزوئ ترڅو پاتې کسان د غرق څخه بچ پاتې شي، که نه نو ټول به د څرمې د غرق سره مخامخ شو.

ه: د بېړۍ سورلیو د یو کس د تعین په هکله قُرعه کشي وکړه (اسک یې واچاوه) چې د هر چا په نوم اسک راوخوت نو هغه به خپل ځان دریاب ته ورغورزوي.

و: په قرعه کشۍ کښې یونس ﷺ مغلوب شو او د همده په نامه اسک راوخوت چې باید خپل ځان دریاب ته ورواچوي.

ز: یونس ﷺ په همدې نسبت خپل ځان دریاب ته ورګوزار کړ، خو د ګذارولو سره سم یوه ماهي بنویه تېر کړ.

ح: په همدغه حال کښې یونس ﷺ په خپل تقصیر باندې پوه شو او خپل ځان یې ملامته وباله، چې زه د الله ﷻ د توصیې څخه په غیر د ښار څخه راوتلی یم او همدا وجه ده چې الله ﷻ د ماهي په خوله کښې ورواچولم.

۲ـ نو یونس ﷺ د ماهي په ګېډه کښې د الله ﷻ تسبیحاتو ته ادامه ورکړه او خپل ځان یې د ظالمانو څخه شمېر کړ.

همدا وجه وه چې مونږ ورته نجات ورکړ او د بندیخانې څخه مو رابهر کړ، که بالفرض یونس ﷺ د سوال کوونکو او تسبیحات ویونکو څخه نه وی ګرځېدلی او د سوال لاسونه یې نه وی پورته کړي، نو هرومرو او ضرور به نوموړی آن د قیامت تر ورځې پورې د ماهي په ګېډه کښې تم شوی وی.

۳ـ نو مونږ د یونس ﷺ د سوال اجابت وکړ او د ماهي د ګېډې څخه مو په یوه خالي ځمکه باندې وغورزاوه چې نه پکښې کوم بوټی وه چې د سوري لاندې یې تم شوی وی، او نه یې توان درلود چې د خپله ځانه یې مچان شړلي وی. یا په بل عبارت: په دغه وخت کښې د کمزورۍ د مرض سره مخامخ وه.

۴ـ نو د همدې کبله مو ورباندې د کدو وُنه سمدستي زرغونه کړه چې سوری یې ورباندې وکړ او د حشراتو مخه یې ترې واړوله.

۵ـ ای پیغمبره! مونږ یونس ﷺ یو لک خلکو ته بلکې د دې څخه اضافه خلکو ته د پیغمبر په حیث لېږلی وه چې ذکره شوې قیصه واقع شوه.

۶ـ نو څرنګه چې دغو خلکو د یونس ﷺ په غیاب کښې ایمان راوړی وه او بیا یې خپل ایمان ته ادامه ورکړه، نو مونږ ترې د عذاب مخه واړوله او فرصت مو ورکړ چې تر ټاکلي وخته پورې د ژوند څخه استفاده وکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه هرڅوک چې په اخلاص سره ایمان راوړي نو مونږ یې په عذاب او غضب سره نه هلاکوو او فرصت ورکوو، په همدې بنیاد د دې زمانې کفارو ته په کار دي چې د یونس ﷺ د قوم څخه عبرت واخلي.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د یونس ﷺ د قیصې څه اجمال د [یونس:۹۸] ایت لاندې لیکلی دی چې په عراق کښې د موصل په مربوطاتو کښې د "نَیْنَوی" ښارګوټي ته د پیغمبر په حیث ورلیږلی شوی وه، چې په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو دغه قیصه ښه مفصله لیکلې ده[1]. خو مونږ دلته د هغو مطالبو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې د ایتونو سره ډېر نژدې تړاو لري. هغه دا چې:

### اِباق څه معنی؟

۲_ په ﴿ إِذۡ أَبَقَ إِلَى ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴾ کښې د ﴿أَبَقَ﴾ کلمه د "اِبَاق" _لکه "کِتَاب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "اِبَاق" د تښتېدلو معنی ورکوي[2].

د دغه ایت په تفسیر کښې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د کلام لنډ مضمون په دې ډول دی[3]:

الف: یونس ﷺ د یوه ښار اوسېدونکو ته د پیغمبر په حیث وراستولی شوی وه، خو هغوی یې دعوت قبول نه کړ، او خپل کفر ته یې ادامه ورکړه.

ب: الله ﷻ یونس ﷺ ته وحې وکړه چې په فلانکۍ ورځ به په دغه ظالم قوم باندې عذاب نازل کړی شي.

ج: یونس ﷺ د ذکرې شوې وحې د اورېدلو څخه وروسته د ښار څخه بهر ووت او دومره انتظار یې ونه کړ چې الله ﷻ ورته د وتلو امر وکړي لکه څنګه یې چې لوط ﷺ ته د وتلو ارشاد کړی وه.

همدغه بې اجازې وتل په دې مقام کښې په "اِبَاق" تښتېدلو سره تعبیر شوه، ته به وایې چې یو غلام د خپل مولی څخه تښتېدلی دی.

### د "اِدْحَاض" معنی

۳_ په ﴿ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُدۡحَضِينَ ﴾ کښې د "مُدْحَضِینَ" کلمه د "اِدْحَاض" _لکه "اِکْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الکهف:۵۶] ایت لاندې لیکلي دي چې: "اِدْحَاض" د زائل ګرځولو او د منځه د وړلو دپاره وضعه شوی دی.

مګر په دې مقام کښې علماوو کرامو ذکره شوې کلمه د "مَغْلُوبِيْنَ"[4] په معنی سره اخستې ده یعنې د اسک اچولو (قرعه کشی) په میدان کښې یونس ﷺ د هغو کسانو څخه وګرځېد کوم چې

---

(۱) نظم الدرر ج۶ ص۳۴۳

(۲) مفردات الراغب ص۳

(۳) الدر المنثور ج۷ ص۱۲۱

(۴) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۱۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مغلوب ګرځېدلي وي او په دغه میدان کښې یې ماتې خوړلې وي.

## سوال جواب

۴ _که څوک وایي چې: د بېړۍ په سورلیو باندې څه باعث وه چې د اسک اچولو په ذریعه یې وغوښتل چې یو نفر دریاب ته ورواچوي؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو[۱] د دغه کار وجه دا ښودلې ده چې بېړۍ د اوبو په منځکښې ځای په ځای ودرېدله، او هلته مشهوره وه چې کله په یوه بېړۍ کښې تښتېدلی غلام سور وي نو بېړۍ ودرېږي او حرکت نه کوي، نو دوی ځکه د اسک څخه کار واخست ترڅو معلومه کړي چې دغه تښتېدلی غلام څوک دی؟ ترڅو یې دریاب ته ورګوزار کړي چې ټول غرق نه شي.

خو د ﴿ ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې د ذکر شوي عمل د اجراء کولو وجه به د بېړۍ دروندوالی وه چې ډېره ډکه وه او هغوی په دغه عمل سره وغوښتل چې لږ څه سپکه شي ترڅو ټول د غرق سره مخامخ نه شي.

داسې معلومېږي _والله ﷻ أعلم_ چې بېړۍ به ډېره غټه نه وه، که نه نو د یوکس په کمولو سره به نه وی سپکه شوې.

مونږ ځکه دغې وجې ته ترجیح ورکوو چې په هغې وجه کښې دوه ټکي د سړي زړه ته نه لوېږي:

الف: ایا بېړۍ یوازې د "إِبَاق" د ګناه سره خپل حرکت پرېښود او په نورو ګناهونو باندې یې هیڅ تغیر نه خوړ؟

ب: ایا بېړۍ په "إِبَاق" سره ګنهګار غلام پېژانده؟

ج: که بالفرض په هغه وخت کښې د ټولو بېړیو همدا عادت وه نو په کار وه چې په سوګند سره دغه ډول ګنهګار تعین شوی وی چې په اقرار یا د سوګند په نه کولو سره به یې صورت نیولی وی، نه په قرعه کشۍ (اسک اچولو) سره چې سوچه ړوند تقلید دی.

## یو صرفي تحلیل

۵_ په ﴿ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ مُلِيمٌ ﴾ کلمه اصلاً د "لَوم" څخه اشتقاقه شوې ده، خو کله چې دلته د "إِفْعَال" د باب لاندې واقع شوې ده، نو ځینو مفسرینو کرامو پکښې متعدد تحلیلونه کړي دي[۲] خو بهتره دا ده چې همزه پکښې د تعدیت دپاره شي او مفعول یې مقدر شي. یعنې یونس ؑ په داسې حال کښې د ماهي په خوله کښې ولوېد چې خپل ځان ته د ملامتۍ ګوته نیوونکی وه.

یا په بل عبارت: تر دې وخته د یونس ؑ ګومان وه چې الله ﷻ به راباندې د خلاف الأولی په ارتکاب سره تنګي رانه ولي، خو کله چې د ماهي په ګېډه کښې بندي شو نو یقین یې راغی چې دا

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۶۱
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۱۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدغه خلاف الأولی د ارتکاب اثر دی چې بدون د اجازې د ښاره راوتلی یم.

لنډه دا چې د "حَسَنَاتُ الْأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ" په بنیاد یونس ﷺ په دغه کار باندې ونیولی شو، که بالفرض دا کار بل چا کړی وی نو نیونې به هیڅ صورت نه وی درلودلی.

## څو نکات

۶ـ په دې مقام کښې باید لاندې نکات په نظر کښې ونیولي شي:

الف: د ﴿ فَلَوْلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُسَبِّحِينَ ﴾ جمله شرطیه جمله ده، خو په هغو تسبیحاتو کښې علماء کرام په لاندې دوول اختلاف لري کوم چې د یونس ﷺ دپاره د نجات سبب ګرځېدلي وه[۱]:

اول: ځینې وایي چې: هغه تسبیحات یې د نجات سبب جوړ شوه کوم به چې یونس ﷺ د ماهي د بندیخانې څخه وړاندې د عافیت په حال کښې انجامول (په زیات اخلاص سره به یې د الله ﷻ ذکر او عبادت کاوه).

دوهم: ځینې نور علماء کرام وایي چې: د نجات سبب یې هغه تسبیحات ګرځېدلي دي کوم چې یونس ﷺ د ماهي په ګېډه کښې انجام کړه، کوم چې مونږ ته الله ﷻ راحکایت کړي دي چې: ﴿ فَنَادَىٰ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّى كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ **[الأنبياء:۸۷]**

یعنې یونس ﷺ ګومان کاوه چې د خلاف الأولی په ارتکاب باندې به مونږ ورباندې تنګي ورنازله نه کړو، نو کله چې پوه شو چې په همدغه ارتکاب باندې مو نیولی دی نو په ګڼو تیارو کښې یې مونږ ته اواز (سوال) وکړ چې: ای ربه! د عبادت لایق نشته مګر یوازې همدا ته یې، تاته د هر نقص څخه پاکي ده، یقیناً زه (د خلاف الأولی په ارتکاب سره) د ظالمانو د جملې څخه یم (نو ماته عفوه وکړې او نجات راکړې).

مونږ ته همدغه دوهم نظر بهتر برېښي، خو که د بدلیت په لحاظ سره دواړه اراده کړی شي هم څه پاک یې نشته.

ب: د ﴿ لَلَبِثَ فِى بَطْنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴾ جمله د ذکرې شوې شرطیه جملې دپاره جزائیه جمله ده چې په لاندې ډول شرحه کېږي:

اول: که څوک وایي چې: یونس ﷺ د ماهي (کب) په ګېډه کښې څومره وخت تم شوی وه؟

مونږ وایو چې: د دغې مودې په ښودلو کښې علماوو کرامو ګڼ شمېر اقوال کړي دي[۲]، چې تقریباً شپږو قولونو ته رسېږي، لکه څلوېښت ورځې، شل ورځې، اوه ورځې او داسې نور.

مونږ ته بهتره برېښي چې د دغې مودې په تعین کښې سکوت وکړو لکه څنګه چې پکښې قرآن کریم ساکت دی، مونږ باید همدومره ووایو چې هرڅومره موده چې هلته تم شوی وه هغه به الله ﷻ ته معلوم وي خو د ﴿ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې هلته پکښې ډېر کمزوري شوي وه.

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۱۴۴

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۱؛ زاد المسیر ج۶ ص۳۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: که څوک وايي چې: د ﴿ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴾ څخه څرګندېږي چې د عدم تسبيح په صورت کښې به يونس ﷺ د ماهي په ګېډه کښې د يوم البعث (دوهمې شپېلۍ) پورې ژوندی پاتې شوی وی، حال دا چې د مخلوقاتو ژوند خو د لومړۍ شپېلۍ په پوکولو سره اختتام مومي؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي سوال دپاره لاندې دوه جوابونه ورکړی شوي دي:

يو دا دی چې د ماهي په ګېډه کښې د يونس ﷺ ژوندي پاتې کېدل مطلب نه دي ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې مطلب دا دی چې د عدم تسبيح په صورت کښې به د يونس ﷺ دپاره د ماهي ګېډه قبر ګرځېدلی وی او هملته به پکښې منحل شوی وی، نو د قيامت په ورځ به د ماهي د راژونډي کېدلو سره يونس ﷺ هم راژوندی شوی وی[۱].

بل دا چې د ﴿ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴾ څخه د مقدماتو په شمول د قيامت ورځ مراده ده، چې د لومړۍ شپېلۍ څخه پيل کېږي[۲].

مونږ ته همدغه دوهم جواب په زړه پورې برېښي، والله ﷻ أعلم.

نو د ذکرو شوو نکاتو په ملحوظ د دې مقام مضمون داسې راڅېژي چې: که بالفرض يونس ﷺ د ماهي په ګېډه کښې د تسبيحات ويونکو او سوال کوونکو څخه نه وی ګرځېدلی نو د اولنۍ شپېلۍ پورې به ورته د ماهي ګېډه بنديخانه جوړه شوې وی او ترهمدغه وخته پورې به يونس او ماهي دواړه ژوندي وی.

## عَرَاء څه معنی؟

۷ـ په ﴿ فَنَبَذۡنَٰهُ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٞ ﴾ کښې د "عَرَاء" کلمه د هغه خالي ځای دپاره وضعه شوې ده، کوم چې د ونو او بوټو څخه خالي او لوڅ وي[۳].

يعنې مونږ يونس ﷺ ته نجات ورکړ، او د ماهي د ګېډې څخه مو په داسې خالي ځای کښې واچاوه چې ونې او بوټي پکښې نه وه ترڅو يې د هغو د سورو څخه استفاده کړې وی، حال دا چې يونس ﷺ په دغه وخت کښې ډېر کمزوری وه او د لمر د وړانګو د تماس توان يې نه درلود، او نه يې د خپله خانه مچان او مېړتانه شړلی شوه چې اذيت ورته ونه رسوي.

## سوالونه او جوابونه

۸ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې سوالونه او پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: په ﴿ وَأَنۢبَتۡنَا عَلَيۡهِ شَجَرَةٗ مِّن يَقۡطِينٖ ﴾ کښې د ﴿ شَجَرَةٗ ﴾ کلمه د هغه نبات دپاره وضعه شوې ده کوم چې ډډ لري او په ځمکه باندې هوا ته اوچت ولاړ وي[۴]، حال دا چې د ﴿ يَقۡطِينٖ ﴾ کلمه

---

(۱) تفسير الکشاف ج۴ ص۶۲؛ تفسير ابي السعود ج۷ ص۲۰۵

(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۱۴۵

(۳) مفردات الراغب ص۳۴۴

(۴) القاموس المحيط ج۲ ص۶۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اکثرو مفسرینو کرامو د کدو په بوټي سره تفسیره کړې ده[۱]، کوم چې د هندوانې او مرغونې غوندې په ځمکه باندې خور وور پروت وي او ډډ (ساق) نه لري؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی د کدو بوټي د نورو کدوانو غوندې په ځمکه باندې خور وور نه وه پروت بلکې په خارق العاده توګه په ډډ (ساق) باندې د نورو ونو غوندې ولاړ وه. یا په بل عبارت: د ذکر شوي د کدو بوټي څخه شړې لاندې کېناستلی او څملاستلی شو چې سوری یې درلود.

شاید چې ذکر شوي خارق العاده کیفیت ته د اشارې دپاره به ورسره په دې مقام کښې د ﴿ شَجَرَةً ﴾ کلمه ضمیمه نازله شوې وي. ترڅو اشاره وکړي چې دا کدو ډډ درلودونکی وه.

ب: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې د نورو بوټو څخه د یونس ﷺ دپاره د کدو بوټي ته تخصیص ورکړی شو؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: د دغه تخصیص وجه به دا وه چې همدغه بوټی د یونس ﷺ د حال سره ښه مناسب وه، چې دغه بوټي ته مچان نه ورنژدې کېږي او پاڼې یې پلنې او پستې دي چې سوری یې یخ دی او زېږوالی نه لري[۲].

ج: که څوک وايي چې: په دغه وخت کښې چې یونس ﷺ د کدو د سورې لاندې پروت وه، خوراک یې څه شی وه؟

مونږ وایو چې: د یونس ﷺ د دغه وخت په غذا او خوراک کښې علماء کرام دوه نظره لري:

اول: ځیني علماء کرام وايي چې: په دغه وخت کښې ورته الله ﷻ یوه سارانۍ هوسۍ مقرره کړې وه چې سبا او بېګا به ورتله، او شوده به یې ورکول[۳].

دوهم: ځیني علماء کرام وايي چې: په ذکر شوي کدو بوټي کښې ورته الله ﷻ هر ډول غذا (خوراک) پیدا کاوه، چې کوم ډول خوراک ته به یې شوق پیدا شو هغه به ورته هلته موجود وه[۴].

د: که څوک وايي چې: په ﴿ وَأَرْسَلْنَهُ ﴾ کښې د یونس ﷺ کوم ارسال (لېږل) مطلب دی؟ هغه لېږل چې په اول کښې ورلېږلی شوی وه او که د ماهي د مصیبت څخه وروسته لېږلو ته اشاره ده؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې جملې په تفسیر کښې هم علماء کرام دوه ډلې دي:

اول: ځیني علماء کرام ذکره شوې جمله د ﴿ وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ سره مربوطه ګڼي او وايي چې دا د هغه تفسیر او بیان ده، او په منځکښې د ماهي قیصه د معترضې جملې حیثیت لري[۵].

نو په دې تفسیر سره د یونس ﷺ هغه حال په سکوت کښې پاتې کېږي چې د ماهي د نجات څخه وروسته ورپېښ شوی وه، خو غالبه دا ده ـ والله ﷻ أعلم ـ چې بېرته به خپل قوم ته ورستون شوی وي.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۳ ص۲۵۸
(۲) زاد المسیر ج۶ ص۳۱۱: تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۲
(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۳: تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۱۲۸
(۴) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۰۳: المحرر الوجیز ج۱۳ ص۲۵۷
(۵) روح المعاني ج۲۳ ص۱۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: خينې علماء كرام وايي چې په ذكر شوي جمله كښې د يونس ﷺ د نجات څخه وروسته حال ته اشاره ده(١). يعنې مونږ يونس ﷺ د نجات څخه وروسته بيا خپل قوم ته ورولېږه.

زمونږ په نزد ذكر شوي دواړه تفسيرونه يو په بل ترجيح نه لري، والله ﷻ أعلم.

هـ: كه څوك وايي چې: راتلونكى ايت ﴿ فَـَٔامَنُواْ فَمَتَّعۡنَـٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴾ د ذكرو شوو دواړو تفسيرونو سره منافات لري او دا څكه چې:

د اولنې تفسير سره په ﴿ فَـَٔامَنُواْ ﴾ كښې د "ف" توری منافي برېښي چې په متصل وروسته والي باندې دلالت كوي، نو كه بالفرض دغسې مراد وی د "ف" په عوض به "ثم" نازل شوی وی، چې په اتصال باندې دلالت نه كوي، او دا څكه چې دغه قوم خو د ارسال سره متصل ايمان نه وه راوړی.

او كه دوهم تفسير اراده كړی شي نو د معنى حاصل به يې داسې راوخېژي چې: د يونس ﷺ قوم د هغه ﷺ د ورستنبدلو څخه وروسته ايمان راوړ، حال دا چې هغوی خو د يونس ﷺ په غياب كښې ايمان راوړی وه لكه چې په [يونس:٩٨] كښې ورباندې صراحت شوی دی؟

مونږ وايو چې: كه اولنی تفسير اراده كړی شي نو د "ف" توری د عرفي اتصال دپاره ګڼلی كېږي چې څه وخت جدايي ورسره منافات نه لري. لكه چې وايي: "زَيْدٌ نَكَحَ فَوَلَدَ" يعنې زيد نكاح وكړه نو ولد يې وزېږاوه (نهه مياشتې وروسته).

او كه دوهم تفسير مراد شي نو "آمَنُوا" د "أَدَامُوا" په معنى ګرځي. يعنې كله چې يونس ﷺ خپل قوم ته ورستون شو نو هغوی خپل ايمان ته ادامه وركړه.

د دې ډول معنى يو نظير وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ ﴾ [النساء:١٣٦] يعنې ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی خپل ايمان ته ادامه وركړئ.

و: كه څوك وايي چې: په ﴿ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلۡفٍ أَوۡ يَزِيدُونَ ﴾ كښې د "أَوْ" توری په شک او تردد باندې دلالت كوي چې د الله ﷻ د شان سره مناسب نه دی، هغه ﷻ ته خو د يونس قوم هو بهو معلوم وه؟

مونږ وايو چې: خينو مفسرينو كرامو ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په شمول ـ ذكر شوی "أَوْ" د "بَلْ" په معنى اخستې دی(٢) چې په همدې معنى باندې استعمال شوی هم دی(٣).

په دې باندې علاوه، خينې مفسرين كرام وايي چې: شک د نظر كوونكو په اعتبار سره دی(۴) يعنې كه چا ورته كتلي وی نو هغه ته به يو لک يا څه د پاسه ښكاره شوي وی.

﴿ فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَلِرَبِّكَ ٱلۡبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلۡبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمۡ خَلَقۡنَا ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةَ إِنَـٰثٗا وَهُمۡ

(١) زاد المسير ج٦ ص٣١١
(٢) تفسير القاسمي ج١۴ ص١٣١
(٣) القاموس المحيط ج١ ص١٩۴
(۴) تفسير الكشاف ج۴ ص۶٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ومالي (۲۳)
شَـٰهِدُونَ ﴿١٥٠﴾ أَلَآ إِنَّهُم مِّنۡ إِفۡكِهِمۡ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ ٱللَّهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَـٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾ أَصۡطَفَى
ٱلۡبَنَاتِ عَلَى ٱلۡبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ﴿١٥٤﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾ أَمۡ لَكُمۡ سُلۡطَـٰنٌ
مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأۡتُواْ بِكِتَـٰبِكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَـٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾ وَجَعَلُواْ بَيۡنَهُۥ وَبَيۡنَ ٱلۡجِنَّةِ نَسَبًاۚ وَلَقَدۡ
عَلِمَتِ ٱلۡجِنَّةُ إِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبۡحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ
﴿١٦٠﴾ فَإِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ بِفَـٰتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنۡ هُوَ صَالِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾

[۱۴۹] (ای پیغمبره!) د مشرکانو څخه کلکه پوښتنه وکړه چې: ایا ستا د رب ﷻ دپاره (د دوی په خیال) لورګانې دي او دوی (مشرکانو) ته زامن دي؟

[۱۵۰] (دا پوښتنه ترې هم وکړه چې) ایا مونږ پرښتې په داسې حال کښې ښځینه پیدا کړې چې مشرکان (هلته) حاضر وه (او د هغوی ښځینتوب یې په سترګو لیدلی دی)؟

[۱۵۱] اګاه اوسه چې یقینًا مشرکان د خپل دروغ جوړولو د کبله ضرور وایي چې:

[۱۵۲] الله ﷻ ولد زیږولی دی، حال دا چې دوی هرومرو دروغژنان دي.

[۱۵۳] ایا الله ﷻ لورګانو ته په زامنو باندې غوره والی ورکړی دی؟

[۱۵۴] (ای مشرکانو!) تاسو لره څه دي (چې د عقل څخه کار نه اخلئ)؟، تاسو څنګه حکم کوئ (تاسو فکر وکړئ، ایا دا حکم د الله ﷻ سره مناسب دی)؟!

[۱۵۵] ایا نو تاسو تذکر نه کوئ (او لږ پند نه اخلئ)؟

[۱۵۶] ایا تاسو لره (په ذکره شوې عقیده باندې) څه څرګند دلیل شته (چې په وحې سره په اثبات رسېدلی وي)؟

[۱۵۷] (که وي) نو خپل کتاب راوړئ که تاسو رښتیا ویونکي یاست.

[۱۵۸] (ای پیغمبره!) او مشرکان د الله ﷻ ترمنځ او د پېریانو ترمنځ د نسب اړیکه ګرځوي (چې الله ﷻ د ابلیس ورور دی). او یقینًا (د ابلیس په شمول ټول) پېریان پوهېږي چې یقینًا دوی هرو مرو (په عذاب کښې) حاضر کړی شوي دي (که د مشرکانو خبرې صحت درلودی نو دوی ته به عذاب نه وی).

[۱۵۹] الله ﷻ ته د هغو څیزونو څخه پاکي ده کوم چې مشرکان یې بیانوي (او الله ﷻ پورې یې تړي).

[۱۶۰] مګر د الله ﷻ مخلصان بندګان (په عذاب کښې د حاضرولو څخه بچ پاتې دي).

[۱۶۱] نو یقینًا (ای مشرکانو!) تاسو او هغه شیان د کومو چې تاسو عبادت کوئ.

[۱۶۲] تاسو (ټول) په الله ﷻ باندې (د چا) په فتنه کښې اچوونکي نه یاست (چې د توحید د عقیدې څخه یې واړوئ).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۶۳] مګر د هغه چا کوم چې هغه د الله ﷻ په ازلي علم کښې دوزخ ته داخلېدونکی دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د دې سورت په اول سر کښې د پرښتو په متعددو عبادت کوونکو ډلو باندې سوګند یاد شوی وه چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی. بیا په همدې مطلب باندې زښت ډېر دلایل اقامه کړی شوه او د څو پیغمبرانو د څه حالاتو بیان ته اشارې نازلې شوې چې همدوی ته د دعوت په جریان کښې وریښښ شوي وه.

په دې ایتونو کښې د مشرکانو د هغې شرکي عقیدې رد نازل شوی دی کومه چې هغوی د پرښتو په هکله درلوده چې دوی بنات الله دي ـ العیاذ بالله ـ. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د توحید په ارتباط څه نور مطالب هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ د پرښتو په هکله مشرکان دوه باطل فکرونه او عقیدې لري، یوه دا چې پرښتې ښځینه مخلوق دی او بله دا چې دوی بنات الله دي، چې د رد وجوه یې دا دي:

الف: نو ته مشرکانو ته د دوهمې باطلې عقیدې په رد کښې توبیخًا یوه کلکه پوښتنه راجع کړه چې: ایا ستا د رب ﷻ دپاره بنات (لورګانې) دي او د مشرکانو دپاره زامن دي؟ یا په بل عبارت: ایا مشرکان ستا د رب ﷻ دپاره لورګانې خوښوي او د خپلو ځانونو دپاه زامن؟ او لورګانې یې بدې ایسي؟ دغه دی ناکاره وېش، دغه ده بې انصافي او غټه سپین سترګي.

ب: او د اولنۍ باطلې عقیدې په رد کښې ورته زمونږ د پلوه ووایه چې: ایا په کوم وخت کښې چې مونږ پرښتې پیدا کولې هلته مشرکان حاضر وه او دوی په خپلو سترګو ولیدې چې مونږ په ښځینه صفت باندې پیدا کړې؟

۲ـ ای پیغمبره! اګاه اوسه چې د مشرکانو ذکرې شوې خبرې دواړه دروغیني خبرې دي چې الله ﷻ ولد زېږولی دی او په ولد کښې یې لا بیا لورګانې زېږولي دي، او دا ځکه چې یقینًا مشرکان دروغژنان دي او په دروغو ویلو باندې روږدي دي او دایې عادت ګرځېدلی دی.

۳ـ ای پیغمبره! مشرکانو ته د هغوی دروغینو خبرو په رد کښې یو ځل بیا ووایه چې:

الف: ایا الله ﷻ د خپل خان دپاره په ځامنو باندې لورګانې غوره کړي دي او تاسو ته یې په زامنو سره فضیلت درکړی دی؟

ب: په تاسو باندې څه شوي دي او څه ټکه درباندې درلوېدلې ده چې دغې دروغینې خبرې ته مو ملاتړلې ده؟

ج: تاسو خو خپلې دروغینې خبرې ته خیر شئ، دا څنګه حکم دی چې تاسو ورباندې قائل یاست؟! ایا عقل دغه حکم ممکن ګڼلی شي؟

د: د دغه حکم بطلان خو په ډېر لږ تذکر او لږې توجه سره څرګندېږي، ایا تاسو لږه توجه هم نه کوئ چې په ډېره کمه درجه عقل په کار واچوئ؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ومالي (۲۳)
۸: ای مشرکانو! ایا تاسو د همدغه حکم په هکله کوم څرګند منقولي دلیل په لاس کښې لرئ، چې په وحې باندې متکي وي؟. و: که دغسې دلیل مو په لاس کښې وي نو هلئ ژر شئ هغه رامیدان ته کړئ، که تاسو رښتیا ویونکي یاست نو دغه کار وکړئ، او که نه نو ستاسو حکم بالکل باطل دی چې نه په عقل اتکاء لري او نه په نقل.

۴_ ای پیغمبره! د مشرکانو د دروغینو خبرو څخه بله دا ده چې: دوی د الله ﷻ او د پیریانو (شیطانانو) ترمنځ د نسب په اړیکه قائل او معتقد دي، چې د الله ﷻ او د ابلیس ترمنځ خپلولي او وروروللي ده، د خیر کارونه او د شر کارونه یې سره وېشلي دي. حال دا چې پخپله ابلیس او نور شیطانان پوهېږي چې دا عقیده باطله (او دروغینه) ده، او د ابلیس په شمول ټول پېریان په دې پوهېږي چې دوی هرو مرو په عذاب کښې حاضر کړی شوي دي. یا په بل عبارت: شیطانان ښه پوهېږي چې په دوی باندې د خالقیت ګومان غلط دی، که بالفرض ذکر شوي ګومان څه صحت درلودی نو په اور کښې به په دائمي توګه نه وی معذب شوي.

۵_ ای پیغمبره! د مشرکانو دروغین کلمات ډېر زیات دي، خو لنډه دا ده چې الله ﷻ ته د هغو ټولو دروغو او باطلو صفاتو څخه پاکي ده په کومو باندې چې هغوی الله ﷻ توصیفوي. نو د همدې کبله تاته د الله ﷻ د پلوه وحې کېږي چې هغوی (شیطانان او مشرکان) ټول په اور کښې په دائمي توګه حاضر کړی شوي دي مګر یوازې د الله ﷻ مخلصان بندګان د عذابه بچ دي او په جنتونو کښې همېشه دي.

۶_ نو د ذکرو شوو ردونو څخه وروسته کفار او مشرکان مخاطب کړه چې: ای کفارو! تاسو خو نوموړي اباطیل د دې دپاره خوروئ چې په الله ﷻ باندې د ده ﷻ مخلصان بندګان په فتنه کښې واچوئ او د توحیدي عقیدې څخه یې واړوئ مګر تاسو په یاد ولرئ چې: هیڅکله به دغه مطلب ته ونه رسېږئ او مخلصو بندګانو ته به دوکه ورنه کړی شئ، مګر هغه چاته کوم چې د الله ﷻ په ازلي علم کښې اور او دوزخ ته داخلېدونکي دي.

## توضیحات

۱_ د پرښتو په هکله مشرکان د لاندې درېوو جنایتونو مرتکب شوي وه:

الف: مشرکانو به پرښتو ته د بنات الله ﷻ لقب ورکاوه، چې په ﴿ فَٱسْتَفْتِهِمْ ﴾ الآیة- کښې یې رد ته اشاره شوې ده.

ب: هغوی به پرښتې د ښځینه مخلوق په نامه بللې، چې رد یې په ﴿ أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ إِنَـٰثًا ﴾ الایة- کښې نازل شوی دی.

ج: مشرکانو به په خپل ګومان د پرښتو عبادت کاوه، چې رد یې وړاندې په [فاطر: ۴۰] ایت کښې تېر شوی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## خو نظائر

۲_ په دې مقام کښې د ایتونو لاندې نظائر ولولئ چې په نورو سورتونو کښې نازل شوي دي:

الف: د ﴿ فَٱسْتَفْتِهِمْ ﴾ الآية- مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ سُبْحَٰنَهُۥ ۙ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴾ [النحل:۵۷] یعنې او مشرکان الله ﷻ ته لورګانې ګرځوي چې الله ﷻ ته ترې پاکي ده، حال دا چې همدغو مشرکانو ته په خپل خیال هغه څه دي کوم چې د دوی زړونه یې غواړي، چې د زامنو څخه عبارت دي.

ب: د ﴿ أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثًا ﴾ الآية- نظیر دا دی چې: ﴿ أَشَهِدُوا۟ خَلْقَهُمْ ﴾ [الزخرف:۱۹] یعنې ایا مشرکان حاضر وه چې الله ﷻ پرښتې ښځینه پیدا کړې؟

ج: د ﴿ أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ ﴾ الآية- مضمون الله ﷻ په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی: ﴿ أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا۟ بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴾ [الروم:۳۵] یعنې ایا مونږ په مشرکانو باندې کوم قوي دلیل (کتاب) نازل کړی دی، نو هغه دلیل یا کتاب د هغو مفتریاتو په واقعیت باندې نطق (او دلالت) کوي کوم چې مشرکان یې د الله ﷻ سره په اشتراک باندې قائل دي؟

### متعدد تفسیرونه

۳_ د ﴿ وَجَعَلُوا۟ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا ﴾ الآية- په تفسیر کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې: دلته د ﴿ ٱلْجِنَّةِ ﴾ څخه پرښتې مطلب دي[1]، دا ځکه چې دوی هم د سترګو څخه غائبې دي لکه څنګه چې پیریان د سترګو څخه غائب دي. یعنې مشرکان د الله ﷻ او پرښتو ترمنځ د نسب اړیکه ګرځوي او جوړوي، او پرښتو ته د بنات الله لقب ورکوي.

خو څرنګه چې همدغه مضمون په وړاندېنیو ایتونو کښې نازل شوی دی، نو که دلته بیا اراده کړی شي، نو تاکید به راشي حال دا دی چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

ب: ځینې نور وایي چې: د ﴿ ٱلْجِنَّةِ ﴾ څخه پیریان مراد دي او د ﴿ نَسَبًا ﴾ څخه زوموالی مطلب دی[2]. یعنې مشرکان د الله ﷻ او د پیریانو ترمنځ په زومتوب قول کوي.

وایي چې یوه ورځ قریشو وویل چې پرښتې بنات الله دي، نو آبو بکر الصدیق ﷺ ورته توبیخاً پوښتنه راجع کړه چې: نو ستاسو په ګومان (په دې تقدیر) یې مورګانې څوک دي، هغوی جواب ورکړ چې: "بَنَاتُ سَرَوَاتِ الْجِنِّ"[3] یعنې مورګانې یې د پیریانو سردارانې انجونې (بناپیرۍ) دي.

خو مونږ ته دا قول په زړه پورې نه برېښي، ځکه چې د "نسب" د کلمې څخه د زومتوب معنی

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۰۸

(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۱۵۱؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۱۳۴

(۳) الدر المنثور ج۷ ص۱۳۳

Scanned by CamScanner

(۲۳)(بیانی) متبادر نه دي، كه بالفرض همدا تفسير مطلب وي نو د ﴿ نَسَبًا ﴾ په عوض به "صَهْرًا" نازل شوی وي، چې د زومتوب معنی ورکوي.

ج: مونږ ته بهتره برېښي چې: دلته د ﴿ ٱلْجِنَّةِ ﴾ کلمه د پېريانو معنی ورکوي، او په دې ايت کښې د يوې ډلې مشرکانو د عقيدې رد ته اشاره ده، کومو به چې ويل: "إِنَّ اللهَ وَإِبْلِيسَ أَخَوَانِ"[۱] يعني_العياذ بالله_ يقيناً الله ﷻ او ابليس (پېريان) ورونه دي، الله ﷻ د خير کارونه کوي او ابليس او د ده لښکر د بدو کارونو پيدا کوونکي دي.

د همدې مضمون رد ته په [الأنعام: ۱۰۰] ايت کښې هم اشاره شوې ده، چې مونږ د الله ﷻ په توفيق همهلته ورباندې څه رڼا اچولې ده.

## څو تحليلونه

۴_ په دې مقام کښې بايد لاندې تحليلونه په نظر کښې وساتل شي:

الف: ځينو مفسرينو کرامو د ﴿ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴾ دواړه ضميرونه مشرکانو ته راجع ګڼلي دي[۲]، خو مونږ ته بهتر دا برېښي چې دغه دواړه ضميرونه به د ﴿ ٱلْجِنَّةَ ﴾ کلمې ته راجع وي کومه چې ورسره متصله (نژدې) ذکره ده، او د پېريانو څخه عبارت ده.

ب: د ﴿ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ جمله د مستثنی او مستثنی منه ترمنځ د معترضې جملې حيثيت لري.

ج: د ﴿ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ کښې په "إِلَّا" سره د ﴿ لَمُحْضَرُونَ ﴾ د ضمير څخه استثناء واقع شوې ده، چې لاندې دوه صورتونه درلودلی شي:

اول: که مخلص بندګان د پېريانو څخه اراده کړی شي چې د ﴿ ٱلْجِنَّةَ ﴾ په کلمې کښې شموليت لري کومې ته چې ذکر شوی ضمير راجع دی، نو دا به متصله استثناء شي. يعني پېريان بـه پوهېږي چې د دوی پيروان لا څه چې دوی پخپله په دوزخ کښې حاضر کړی شوي دي، مګر د الله ﷻ مخلصان بندګان کومو چې د پېريانو د ډلې څخه د توحيد عقيده خپله کړې ده.

دوهم: که ذکر شوي مخلصان بنيادمان وګڼلی شي، نو ذکره شوې استثناء به منقطعه وګرځي چې دوی په مستثنی مِنهُ کښې شامل نه دی. يعني پېريان پوهېږي چې دوی او پېروان يې په دوزخ کښې حاضر کړی شوی دی، مګر د الله ﷻ مخلص بندګان او بنيادمان په جنت کښې دي.

د: د ﴿ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ۝ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَـٰتِنِينَ ﴾ جمله د وړاندې استثناء دپاره علت واقع شوې ده، او د ﴿ عَلَيْهِ ﴾ ضمير الله ﷻ ته راجع دی[۳].

---

[۱] اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۳۵۲؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۳

[۲] تفسير الخازن ج۵ ص۲۵۶

[۳] روح المعاني ج۲۳ ص۱۵۲؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني نو ای مشرکانو! تاسو او ستاسو معبودان (که څه هم لاسونه سره یو کړئ) په الله ﷻ باندې هیڅوک په فتنه کښې نه شئ اچولی چې د توحید د عقیدې څخه یې واړوئ مګر هغه څوک کوم چې د الله ﷻ په ازلي علم کښې دوزخ ته داخلېدونکی دی.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ ﴾ [الحجر:۴۲] یعني ای ابلیسه! یقینًا زما بندګان چې دي تا لره ورباندې غلبه او قدرت نشته چې بې لارې یې کړې، مګر هغه څوک چې ستا پیروي کوي چې د ګمراهانو څخه عبارت دي.

﴿ وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلصَّآفُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾ ﴾

[۱۶۴] او زمونږ څخه هیڅوک نه دی مګر (د الله ﷻ په نزد) ورته مقام معلوم کړی شوی دی (چې په همدغه مقام باندې کلک ولاړ دی).

[۱۶۵] او یقینًا مونږ هرومرو همدا مونږ (د الله ﷻ په اطاعت او عبادت کښې) صف تړونکي یاستو.

[۱۶۶] او یقینًا مونږ هرومرو همدا مونږ (الله ﷻ ته) تسبیحات ویونکي یاستو (چې د ولد نیولو په شمول ورته د هر عیب او نقص څخه د پاکۍ نسبت کوو).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې په استدلال سره اثبات کړی شوه چې الله ﷻ د ولدیت څخه پاک او منزه دی او هم پرښتې د الله ﷻ بندګان او عبادت کوونکي دي او د بنات الله لقب ورکول جهل او حماقت بلکې سپین سترګي ده. په دې ایتونو کښې الله ﷻ په استدلال باندې علاوه د پرښتو اقرار او اعتراف راحکایت کړی دی ترڅو مشرکان د انحرافي عقیدې څخه لاس واخلي.

۲ـ همدارنګه دا ایتونه د دې سورت (الصّافّات) د لومړنیو ایتونو سره هم کلک تړاو لري، چې الله ﷻ هلته په کومو لقبونو باندې پرښتې یادې کړې وې تقریبًا په همغو لقبونو سره دلته د هغوی خپل اقرار راحکایت کړی شو.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴾ کښې ﴿ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴾ د څه شي څخه عبارت دی؟

مونږ وایو چې: دلته "معلوم مقام" علماوو کرامو[1] په متعددو معناوو سره تفسیر کړی دی، مثلاً:

الف: معلوم مقام د عبادت د نوعې څخه کنایي دی، چې څوک ورته په رکوع دي او څوک په سجده پراته دي او داسې نور.

(۱) تفسیر الخازن ج۵ ص۲۵۷؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب ـ هر چا ته په اسمانونو کښې ځایونه ټاکلي شوي دي، چې هیڅوک د خپل ټاکلي ځای څخه تجاوز نه کوي.

ج ـ د هر چا دپاره د قُرب إلى الله ﷻ درجات معلوم دي.

د ـ هرڅوک په خوف او رجاء سره عبادت کوي، او په هیڅ ډول ناغېړي پکښې نه کوي.

ه ـ هرڅوک د الله ﷻ په اطاعت کښې کلک دی او هر څه کار چې ورته وسپارلی شي په ډېره ښه توګه يې سرته رسوي.

زمونږ په فکر ذکر شوي تفسیرونه سره څه منافات نه لري بلکې یو د بل تائید او تاکید دی، شاید چې علماوو کرامو به يې محض مثالونه ښودلي وي. لکه چې الله ﷻ د پرښتو حالت په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ ﴾ [الأنبياء:۲۷] یعنې پرښتې د الله ﷻ داسې بندګان دي چې په خبره کښې ترې نه وړاندې کېږي، او دوی چې دي د الله ﷻ په امر باندې په مستمره توګه عمل کوي.

﴿ وَإِن كَانُواْ لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوۡ أَنَّ عِندَنَا ذِكۡرٗا مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُواْ بِهِۦۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿١٧٠﴾ ﴾

[۱۶۷] او (ای پیغمبره! ستا د بعثت څخه پخوا) یقینًا مشرکان وه چې په تاکید سره به يې ویلې چې:

[۱۶۸] که چرته زمونږ په نزد د ړومبنیو (پخوانیو خلکو) څخه څه ذکر (او خبر) وی (او په مونږ کښې پیغمبر مبعوث شوی وی).

[۱۶۹] نو هرومرو به مونږ د الله ﷻ د مخلصانو بندګانو څخه ګرځېدلي وی (په خپل پیغمبر به مو ایمان راوړی وی، خو افسوس چې مونږ پیغمبر نه لرو).

[۱۷۰] نو (دغه دی پیغمبر مو د همدوی د قبیلې څخه ورولېږه خو) دوی وربانديې کافر شوه (او په خپل عهد او لوظ ونه درېده)، نو ژر دی چې (په خپل عاقبت به) پوه شي.

## ارتباط او توضیحات

۱ ـ د سورت د اول سر څخه تر دې ځایه پورې الله ﷻ د توحید د عقیدې د اثبات دپاره د تهدید او هم د ترهیب په خاطر زښت ډېر دلایل نازل کړه.

او په دې ایتونو کښې د یو پلوه د کفارو او مشرکانو عکس العمل ته اشاره شوې ده چې په ټولو دلایلو باندې يې غوږونه کاڼه کړه، او د بله پلوه د هغوی د بدعهدۍ او په عهد باندې نه درېدلو ته اشاره کېږي، چې مضمون يې د ترجمې څخه ښه پوره واضحه بریښي.

۲ ـ همدا مضمون په نورو ایتونو کښې هم نازل شوی دی، لکه [الأنعام:۱۵۶ ، ۱۵۷] او [فاطر: ۴۲، ۴۳] ایتونه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُندَنَا
لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿١٧٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٤﴾ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٥﴾ أَفَبِعَذَابِنَا
يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٧﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ
حِينٍ ﴿١٧٨﴾ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٩﴾ سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾
وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾ ﴾

[۱۷۱] او يقيناً زمونږ خبره زمونږ د بندګانو پيغمبرانو دپاره لا پخوا تېره شوې (فيصله شوې) ده، چې:

[۱۷۲] يقيناً زمونږ پيغمبران چې دي هرو مرو همدوی نصرت کړی شوي (کامیابان) دي.

[۱۷۳] او يقيناً زمونږ لښکر (د پيغمبرانو پيروان) هرومرو همدوی (په کفارو باندې) غلبه موندونکي (بريالي) دي.

[۱۷۴] نو (ای پيغمبره!) د کفارو څخه ترڅه وخته پورې مخ وګرځوه (او په جهاد پيل مه کوه).

[۱۷۵] او (د) کفارو (مغلوبيت) ته وګوره، نو ډېر ژر به دوی (هم ستا نصرت) وګوري.

[۱۷۶] ايا نو کفار (د بل چا په عذاب باندې نه بلکې) زمونږ په عذاب باندې تلوار کوي؟!

[۱۷۷] نو کله چې زمونږ عذاب د دوی پر ساحه (سيمه) وربښکته شي نو ډېر بد دی د ډارولی شوو خلکو سبا (چې د همدغې ورځې څخه عبارت دی).

[۱۷۸] او (ای پيغمبره!) د کفارو څخه ترڅه وخته پورې مخ تاو کړه (جهاد مه پيل کوه).

[۱۷۹] او ته (د کفارو مغلوبيت ته) وګوره، نو ډېر ژر به دوی (هم ستا نصرت او غلبه) وګوري.

[۱۸۰] (ای پيغمبره!) ستا رب ﷻ ته، چې د عزت (کلکې ارادې) خاوند دی، د هغو ټولو نواقصو څخه پاکي ده چې کفار يې ورباندې توصيفوي.

[۱۸۱] او (همدارنګه ستا د رب ﷻ د پلوه) په ټولو پيغمبرانو باندې سلام (او سلامتيا) ده.

[۱۸۲] او ټولې ستاينې خاص الله ﷻ لره دي، چې د ټولو عالمونو رب (او پالونکی) دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ايتونه په دې تمام شوي وه چې کفار به ډېر ژر په نتيجه باندې پوه شي چې نصرت د چا په برخه کېږي، په دې ايتونو کښې د نتيجې په بيان باندې صراحت شوی دی چې نصرت د مؤمنانو په برخه دی، نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! د نتيجې په ارتباط په خپل اُمت باندې دغه مطالب قرائت کړه:

۱ـ د پيغمبرانو او مؤمنانو په هکله زمونږ خبره پخوا لا فيصله کړی شوې او تېره شوې ده، چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



...وبالي (۲۳) ...تبدیل قابله نه ده، هغه دا چې:

الف: یقیناً زموږ بندګان پیغمبران همدوی کومک کړی شوي دي، او نصرت ورسره حتمي او ضروري دي.

ب: دغه نصرت او کومک یوازې په پیغمبرانو پورې اختصاص نه لري بلکې زموږ لښکر په یقیني توګه همدوی د غلبې خاوندان دي، البته چې زموږ لښکر د مخلصو مؤمنانو څخه عبارت دی.

۲_ نو په همدې بنیاد _ای پیغمبره!_ د مشرکانو او کفارو څخه سمدستي مخ واړوه، او ترخه وخته پورې ورته منتظر اوسه، او هغوی ته هم وخت ورکړه، چې ډېر ژر به دوی خپل هزیمت او د مؤمنانو بری او نصرت په خپلو سترګو وګوري.

۳_ که څه هم کفار زموږ په عذاب باندې عجله کوي او په بیړه یې غواړي، البته دا د دې کبله چې زموږ عذاب ورته دروغ برېښي او په خیال کښې یې نه ورځي چې په مصیبت به اخته شي؛ خو کله چې ورباندې عذاب ورنازل شي نو د ډېرې بدې ورځې سره به مخامخ شي. او دا څکه چې: کله چې زموږ عذاب د ډارولی شوو کفارو ټوله ساحه او منطقه را ایساره او محاصره کړي، نو هرو مرو به په خپله عجله باندې پښېمانه شي چې ای کاش! چې ایمان مو راوړی وی او د دغې بدې ورځې سره نه وی مخامخ شوي، خو بې وخته پښېماني به ورته څه ګټه ونه رسوي.

۴_ ای پیغمبره! یو ځل بیا تاته توصیه کېږي چې تر څه وخته پورې د کفارو څخه مخ واړوه، تر اوسه لا د وسلوال جهاد وخت نه دی رارسېدلی. نو یو ځل بیا تاته ارشاد دی چې وګوره چې موږ څه کوو، نو ډېر ژر دی چې کفار او مشرکان به هم وګوري چې د الله ﷻ عذاب ترې په څه ډول سره راچاپېرېږي. او دا څکه چې:

الف: ستا رب ﷻ ته د هغو شرکیاتو او کفریاتو څخه پاکي ده کوم چې کفار یې ورته نسبتوي، او د هغو ټولو نواقصو څخه پاک او منزه دي کوم چې هغوی یې بیانوي او ورباندې اخته دي.

ب: ستا رب ﷻ ته څکه د هر ډول کفریاتو او نواقصو څخه پاکي ده، چې همدی ﷻ د عزت او کلکې ارادې خاوند دی، چې هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی او نه څوک مقاومت کولی شي.

ج: ستا د رب ﷻ د پلوه په ټولو پیغمبرانو باندې سلامونه او سلامتیا ده، چې هیڅکله به دوی د ذلت او ناکامۍ سره مخامخ نه شي.

د: لکه څنګه چې ستا رب ﷻ ته د هر عیب څخه پاکي ده، همدارنګه همده (الله ﷻ) ته ټولې ستاینې مختصې دي، او یوازې همدی ﷻ یې مستحق دی او بس، چې د ټولو عالمونو پالونکی او کارسازوونکی دی.

## توضیحات

۱_ د ﴿ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ﴾ الآیات- ډېر نظایر په نورو ځایونو کښې نازل شوي دي، لاندې یو مثال یې ولولئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ [المجادلة: ۲۱] یعني الله ﷻ په لوح محفوظ کښې لیکلي دي چې هرو مرو او خامخا زه او زما پیغمبران (او مؤمنان) غلبه درلودونکي یاستو او دا څکه چې الله ﷻ د قوت والا د کلکې ارادې خاوند دی.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: د تاریخ په اوږدو کښې په ځینې غزاګانو کښې مؤمنانو (مجاهدینو) ماتې خوړلې ده او نصرت یې نه دی په نصیب شوی لکه د أحد په غزا کښې، نو پوښتنه دا ده چې آیا دغسې پېښې د ایت شریف د وعدې سره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال په هکله د [آل عمران: ۱۳۹] ایت لاندې څه وضاحت تېر شوی دی والحمد لله ﷻ. خو په دې مقام کښې وړاندې د الله ﷻ په توفیق وراضافه کوو چې:

په ذکرو شوو ایتونو کښې د ﴿لِعِبَادِنَا﴾، ﴿جُندَنَا﴾ د کلمو څخه څرګندېږي چې د نصرت وعده د مخلصو مجاهدینو دپاره ورکړه شوې ده، څوک چې په جهادي تګلاره او د الله ﷻ د لارې په جهادي شروطو باندې برابر وي، د الله ﷻ په وعده کښې هیڅکله خلف او بې وفایي نه واقع کېږي (که څه هم الله ﷻ هغو مجاهدینو ته هم کله-کله نصرت وریه برخه کوي کوم چې په شروطو برابر نه وي خو دا نصرت د وعدې په اثر نه دی بلکې صرف د الله ﷻ په فضل او مهربانۍ سره صورت نیسي) د همدغه جواب د بنه وضاحت دپاره لاندې ایتونه ولولئ:

الف: ﴿قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا ۖ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ﴾ [آل عمران: ۱۶۵] یعني (ای مؤمنانو) کله چې تاسو ته په داسې حال کښې مصیبت ورسېږي چې تاسو خپل دښمن ته (په بله غزا کښې) دوه چنده مصیبت رسولی وي، نو تاسو وایاست چې دا مصیبت مونږ ته څنګه ورسېد؟ (مونږ خو مؤمنان یاستو مونږ ته خو الله ﷻ د نصرت وعده راکړې وه او داسې نور)، نو ای پیغمبره! ته د ذکرې شوې خبرې قائلینو ته په جواب کښې وواېه چې: دا مصیبت ستاسو د خپلو ځانونو د پلوه صورت نیولی دی (ستاسو خپله کړنلاره ورته سبب ګرځېدلې ده).

هو! کله چې اور بل شي نو بیا پکښې لمدې ځانګې هم سوزي، مثلاً:

د أحد په غزا کښې د هغو مجاهدینو عصیان د ماتې او مصیبت سبب وګرځېد کوم چې نبي کریم ﷺ د مراقبت او څارنې دپاره په کندو کښې کېنولي وه، چې مفصله قیصه یې د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران: ۱۴۴] ایت لاندې تېره شوې ده. خو په همدغه مصیبت کښې اویا (۷۰) کسه مجاهدین شهیدان شوه او د دغه اور څه تاو پخپله نبي کریم ﷺ ته هم ورسېد چې مبارک غاښ یې پکښې شهید شو، خو د دې سره-سره د الله ﷻ په فضل سره یې نصرت په برخه شو او بنیاد یې ونه ویستلی شو.

ب: ﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم﴾ [آل عمران: ۱۵۲] یعني او یقیناً الله ﷻ ستاسو سره خپله د نصرت وعده هغه وخت رښتیا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړه چې کله تاسو د الله ﷻ په إذن (توفیق) کفار بې حسه کول (وژل)، آن تردې چې کله تاسو بې زړه شوئ (د بې زړه توب په لار روان شوئ) او په خپلو منځو کښې مو په جهادي چارو کښې جګړه پیل کړه او عصیان او نافرماني ته مو لاس واچاوه (نو الله ﷻ درځخه خپل نصرت بېرته واخست او د شکست سره مخامخ شوئ).

ج: ﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾

[الأنفال: ۴۶] یعنې او ای مؤمنانو! تاسو د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ او په خپل منځکښې جګړه مه کوئ چې تاسو به بې زړه شئ او باد (قوت) به مو د منځه لاړ شي، او تاسو صبر (او استقامت) کوئ (او دا ځکه چې) یقیناً الله ﷻ د صبر کوونکو سره مل دی (او نصرت ورکوي).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَأَبۡصِرۡهُمۡ ﴾ د کلمې معنی خو داسې راخېژي چې ای پیغمبره! مشرکانو ته وګوره چې په څومره غټ مصیبت باندې اخته دي. نو پوښتنه دا ده چې لیدل خو په موجوداتو کښې صورت نیسي حال دا چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې (د هجرت څخه وړاندې) خو په مشرکانو باندې مصیبت او شکست نه وه ورنازل شوی ترڅو لیدلی شوی وی؟

مونږ وایو چې: ځرنګه چې په هغوی باندې د مصیبت نزول یقیني،وه نو داسې وګڼلی شوه لکه چې سمدستي واقع وي او د لیدلو قابل وي.

## ساحة څه معنی؟

۳_ په ﴿ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمۡ ﴾ کښې د "سَاحَة" کلمه د هغې پراخې فضاء څخه عبارت ده کومه چې د یوه کلي یا یوه ښار په شاوخوا کښې موجودیت لري[۱]، خو په دې مقام کښې ترې د کنایې په توګه پخپله مشرکان مراد دي[۲].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلۡمُنذَرِينَ ﴾ کښې د "صَبَاح" کلمه د "مَسَاء" د کلمې نقیضه ده، چې دواړه په ترتیب سره د سبا او بېګا معناوې ورکوي. اما بد سبا او بده ورځ د بدحالی څخه عبارت ده[۳].

نو حاصل یې داسې راخیژي چې: نن ورځ مشرکان د عذاب په نزول باندې عجله کوي خو په کوم وخت کښې چې د دوی په منطقه باندې احاطه کوونکی (موعود) عذاب ورنازل شي نو د ډېر بد حال سره به مخامخ شي، حتی هلته به ارمان کوي چې ای کاش! چې مونږ د ډاروونکو خبرو ته غوږ ایښی وی او په ایمان مشرف شوي وی چې د دغه عذاب څخه مو نجات موندلی وی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۵۳

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۱۴۰

(۳) لسان العرب ج۲ ص۲۰۵؛ البحر المحیط ج۹ ص۱۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې اشاره کړې ده، کله چې خيبر ته د جهاد دپاره وروروسېد نو د الله ﷻ د شان عظمت ته يې اشاره وکړه او ويې فرمايل چې: «الله أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ»[1] يعني خيبر خراب شو (او دا خکه چې د جنګ سره مخامخ شو) او کله چې مونږ د کوم قوم ساحې او سيمې ته د جهاد دپاره ورننوځو نو (د هغو خلکو خبر نشته او) د ډارولی شوو خلکو ورځ ډېره بده ده، چې د ډېر بد حال سره به مخامخ شي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې الله ﷻ دوه ايتونه [۱۷۸، ۱۷۹] په لږ تغيير سره بيا نازل کړه؟

مونږ وايو چې: دغه تکراري نزول ځينو علماوو کرامو[2] په تاکيد باندې حمل کړی دی چې د نبي کريم ﷺ حوصله پرې قوي شي، او ځينو نورو علماوو کرامو اولني دواړه ايتونه [۱۷۴_ ۱۷۵] په دنياوي عذابه پورې مربوط ګڼلي دي او وروستنيو دواړو ايتونو ته يې په أُخروي عذابه پورې ارتباط ورکړی دی[3]، والله ﷻ أعلم بمراده.

## يادونه

۵_ ځينو مفسرينو کرامو د دې سورت د وروستنيو درېوو ايتونو په فضائلو کښې زښت ډېر احاديث راغونډ کړي دي[4]، هيله ده چې علاقمندان هلته يو ځل مراجعه وکړي.

د الله ﷻ په توفيق د "الصافات" سورت د پښتو ترجمې او تفسير له حيثه ختم شو.

د الله ﷻ څخه لا زيات توفيق غواړو.

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

۱۴۲۲/۷/۱۹ هـ ق = ۱۳۸۰/۷/۱۴ هـ ش.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۱۴

(۲) تفسير ابي السعود ج۷ ص۲۱۱

(۳) البحر المحيط ج۹ ص۱۳۱

(۴) تفسير ابن کثير ج۴ ص۲۵؛ الدر المنثور ج۷ ص۱۴۱

Scanned by CamScanner

# ص(۳۸)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت د "ص" په توري باندې پیل شوی دی او همدغه توری ورته نوم ګرځولی شوی دی، چې تلفظ وربانديې داسې کېږي. "صاد"، او لیک یې داسې (ص) دی.

۲_ د دې سورت ټول ایتونه بالاتفاق مکي دي، او د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي[۱].

۳_ د دې سورت د ایتونو شمېره (۸۸) اته اتیاوو ته رسېږي[۲].

۴_ د دې سورت د کلماتو شمېره اوه سوه او دوه دېرشو (۷۳۲) کلمو ته رسېږي او د حروفو شمېر یې درې زره اوه شپېتو (۳۰۶۷) ته پورته شوی دی[۳].

### د دواړو سورتونو تناسب

۵_ دغه دواړه سورتونه (الصافات، ص) سره یو تربله کلک تناسب لري او دا څکه چې دواړه مکي سورتونه دي او دواړه په عقیدوي احکامو پورې ارتباط لري، نو د دواړو محتویات تقریباً متحد دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دواړه سورتونه د توحید په دلایلو باندې مشتمل دي.

ب: په دواړو کښې د مشرکانو اعتراضونه جواب شوي دي.

ج: په دواړو کښې د جنتیانو او دوزخیانو څه حالات بیان شوي دي.

د: په دواړو کښې د څو پیغمبرانو څه ذکر نازل شوی دی.

ه: په دواړو کښې د بعث بعد الموت اثبات نازل شوی دی.

و: بالآخره په دواړو کښې د نبوت موضوع مطرحه شوې ده او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ صٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ ۝١ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ۝٢ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن
قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ۝٣ وَعَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ وَقَالَ
ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ ۝٤ أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ
۝٥ وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ يُرَادُ ۝٦ مَا
سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ ۝٧ أَءُنزِلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَاۚ بَلۡ هُمۡ

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۳۱۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۱۴۲؛ تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۱۴۳

(۳) تفسیر الخازن ج۵ ص۱۶۰؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۳۶۲

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



فِي شَكٍّ مِّن ذِكْرِي ۚ بَل لَّمَّا يَذُوقُوا عَذَابِ ﴿٨﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ ﴿٩﴾ أَمْ لَهُم مُّلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ فَلْيَرْتَقُوا فِي الْأَسْبَابِ ﴿١٠﴾ جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ﴿١١﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

په داسې قرآن کريم سره چې د پند (او بيان او هم د شرف) ښتن دی، سوګند کوم (چې يقيناً الله ﷻ شريک نه لري او ته په حقه پيغمبر يې).

[۲] بلکې هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی (د توحيد او رسالت څخه)، په تکبر او (عنادي) مخالفت کښې واقع دي.

[۳] (کفار نه ګوري چې) مونږ د دوی څخه وړاندې څومره ډېرې پېړۍ هلاکې کړې دي چې (د هلاکت په وخت کښې) به يې چيغې (او کوکارې) وهلې (که نجات ومومي) او دا (وخت) به د تېښتې او (او نجات) وخت نه وه.

[۴] او مشرکان د دې څخه تعجب کوي چې دوی ته د همدوی څخه ډاروونکی ورغی، او کافران (د انکار په توګه) وايي چې: دغه (سړی) جادوګر (او) دروغژن دی (او دا ځکه چې):

[۵] ايا دا (نوموړی سړی) ډېر معبودان يو معبود ګرځوي؟ (د الله ﷻ څخه په غير په نورو ټولو معبودانو باندې د بطلان خط کشوي)؟ يقيناً دغه (توحيد) ډېر عجب شی دی.

[۶] او (کله چې د توحيد کلمه مشرکانو واورېدله نو) د دوی څخه ځينې مشران (د مجلسه پورته شوه او) روان شوه (او يو تربله يې سره وويلې) چې: لاړ شئ او په خپلو معبودانو باندې ښه کلک شئ (او صبر پرې وکړئ)، يقيناً دغه (توحيد) ته (د نوموړي سړي د پلوه) کلکه اراده کړه شوې ده (چې مصالحه ورسره د امکانه وتلې ده).

[۷] مونږ دغه (توحيد د أهل الكتابو څخه) په وروستني ملت (دين) کښې هم نه دی اورېدلی (عيسويان هم په تثليث باندې قائل دي)، دغه (توحيد) نه دی مګر دروغ دي (د خانه جوړ کړی شوي دي).

[۸] ايا زمونږ د جملې څخه (يوازې) په همدغه سړي (محمد) باندې ذکر (وحي) نازله کړی شوه (ايا په مونږ کښې مشران او بډايان نه وه)؟

(ای پيغمبره! دغه محض بهانې دي او نور څه نه دي) بلکې دوی زما د ذکر څخه په شک کښې واقع دي. بلکې (لا تراوسه پورې) دوی زما عذاب نه دی څکلی.

[۹] ايا ستا د کلک اراده (او) د هر شي هبه کوونکی رب ﷻ د رحمت خزانې د مشرکانو (کفارو) په نزد دي (ايا د نبوت ورکړه د همدوی په لاس ده)؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰] ایا د اسمانونو او ځمکو او (هم) د هغو شیانو واکداري مشرکانو پورې مختصه ده کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موجود دي؟ (که داسې وي) نو مشرکان دې په وسائلو کښې (اسمان ته) وخېژي (او هلته دې زمونږ وحې قطعه کړي).

[۱۱] (د دغو مشرکانو) د ډلو څخه یوه وړوکې ډلګی ده چې (همدغې ډلګی ته) په همدغې (مکه معظمه) کښې شکست ورکړی شوی دی (همدلته به ماتې وخوري).

## ارتباط او شان نزول

د وړاندې سورت (الصافات) په [۱۶۸] ایت کښې الله ﷻ د کفارو د خولو څخه دا خبره راحکایت کړې وه چې: که مونږ د پخوانیو خلکو غوندې څه ذکر درلودی چې د هغوی غوندې په مونږ کښې پیغمبر مبعوث شوی وی، نو هرومرو به مونږ د الله ﷻ د مخلصانو بندګانو څخه ګرځېدلي وی او خپل پیغمبر به مو د هغوی څخه ډېر ښه استقبال کړی وه، خو افسوس چې دا کار نه دی شوی.

په دې ایتونو کښې د همغه ذکر نزول ته اشاره شوې ده د کوم چې کفارو ارمان کاوه، خو هغوی په خپله وعده باندې ونه درېده او تکذیب ته یې ملاوې وتړلې (خپل پخوانې جهالت ته یې ادامه ورکړه).

د دغو ایتونو په شان نزول کښې اوږد حدیث روایت شوی دی[۱] چې مونږ یې په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

۱ـ د نبي کریم ﷺ تره (ابو طالب) د مرګ په مرض سره مریض شو، نو د قریشو مشران ورغونډ شوه او مخاطب یې کړ چې خپل وراره (نبي کریم ﷺ) دې اصلاح کړه چې زمونږ معبودان کنځې او وایي چې دا باطل دي (حقیقت نه لري)، هیله ده چې نصیحت ورته وکړې ترڅو د دغې کړنلارې څخه لاس واخلي چې په راتلونکي کښې زمونږ او د ده ترمنځ څه شخړه پېښه نه شي.

۲ـ آبو طالب نبي کریم ﷺ همدغه مجلس ته وروغوښت او په ذکر شوي شکایت باندې یې خبر کړ چې: ای وراره! ته د خپل قوم او د دغو مشرانو څخه څه غواړې؟ یا په بل عبارت: هغه څه شی دی چې ستا او د دغو ترمنځ ورباندې اصلاح راتلای شي؟

۳ـ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې زه د دغو حاضرینو څخه هغه څه غواړم په کوم کښې چې د دوی شرف او عزت نغښتی دی، زه ترې فقط یوه خبره غواړم چې که دوی هغه قبوله کړي نو عرب به یې اطاعت وکړي او عجم به ورته جزیه ورکړي، هغه دا چې: "لا إلا إلا الله" یعنې په حقه معبود نه دی مګر الله ﷻ دی او بس.

۵ـ د دغه جواب په اورېدلو سره سمدستي د قریشو مشران د مجلس څخه اوچت شوه او هغه عربي: یې، وکړې کومو ته چې په ذکرو شوو ایتونو کښې اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راخېژي:

---

[۱] جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۸، مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۰۴۹۰ اسباب النزول للواحدي ص۲۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

اى پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل أمت باندې لاندې مطالب قرائت كړه:

۱_ ته په حقه پيغمبر يې، او ستا خبره (چې الله ﷻ واحد او لا شريک دی) سل په سلو كښې رښتياده. او دا څکه چې:

الف: كوم كتاب چې تا راوړى دى همغه كتاب ستا په رسالت او صداقت باندې دلالت كوي، چې ټول مخلوقات يې د مقابلې څخه ناتوانه دي او په يوه ايت يا يوه سورت كښې ورسره هم سيالي نه شي كولى، حال دا چې هغه ټول توري د هغوی په واک كښې دي د كومو څخه چې دغه كتاب تركيب شوى دى لكه "ص" او دا سې نور.

كه بالفرض المحال دا كتاب ستا خپل تصنيف وى لكه څنګه چې مشركان خيال كوي، نو هرومرو به نورو خلكو ستا سره د كتاب په څه برخه كښې سيالي كړې وى. نو هر كله چې ټول مخلوق ستا د كتاب د سيالۍ څخه عاجزان دي نو معلومه شوه چې دا د مخلوق كتاب نه بلكې د خالق ﷻ كتاب دى.

ب: دا قرآن كريم پند درلودونكى كتاب دى او خپلو معتقدينو ته عزت او شرف وربښي. يا په بل عبارت، دا همغه كتاب دى چې مشركانو به يې ستا د رسالت څخه وړاندې ارمان كاوه چې: اى كاش! چې مونږ د يوه اسماني كتاب درلودونكي وی.

مونږ په همدغې كتاب باندې سوګند يادوو چې ته په حقه پيغمبر يې او د دې خبرې په شمول (چې په حقه معبود نه دى مګر يو الله ﷻ دى) ستا ټولې خبرې رښتيا دي او هيڅ شک شبه پكښې ځاى نه لري.

۲_ ستا ټولې خبرې رښتيا دي خو مشركان ترې انكار كوي بلكې هغو كسانو كومو چې كفر اختيار كړی دی، تكبر او مخالفت ته پښې لوڅې كړې دي او بلا دليله په عنادي توګه په كفري او شركي عقيدې پورې نښتي دي.

۳_ اى پيغمبره! مشركان په تكبر او مخالفت سره نور څه نه كوي فقط په خپلو لاسونو سره خپل خانونه د هلاكت په كنده كښې وراچوي.

ايا ته نه ګورې چې د دې زمانې د مشركانو څخه وړاندې مونږ څومره ډېر كفري قومونه او پېړۍ هلاكې كړې دي، لكه عاديان او ثموديان او نور، دغو هلاكو شوو قومونو به په خپلو-خپلو پيغمبرانو باندې تكبر كاوه خو د هلاكت په وخت كښې به يې چيغې او كوكارې وهلې او نجات به يې غوښت، خو دغه وخت به د خلاصون وخت نه وه او نه به ورته چيغو څه ګټه رسولى شوه.

۴_ مشركان يوازې د الله ﷻ د وحدانيت څخه انكاري نه دي بلكې د پيغمبر څخه هم انكار كوونكي دي، د همدې كبله:

الف: كله چې دوی ته ډاروونكى (پيغمبر) د همدوی د قوميت څخه ورشي نو دوی ترې په تعجب

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره انکار کوي، او د خپلې کفري عقیدې په بنیاد ورته اشاره کوي او وايي چې دغه سړی د الله ﷻ د پلوه نه دی را استولی شوی بلکې غټ جادوګر او غټ دروغژن دی چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي چې د نبوت تاج یې وریه سر کړی دی او دا خکه چې

ب: ایا نوموړی غواړي چې متعدد معبودان یو معبود وګرځوي؟ ایا نوموړی په ټولو بوتانو باندې د بطلان خط راکاږي او یوازې الله ﷻ د عبادت مستحق ګڼي؟

ج: یقیناً چې دغه کار ډېر زیات عجیبه کار او عجیبه شی دی چې بالکل د منلو وړ نه دی.

۵ـ کله چې پیغمبر ﷺ په توحید باندې کلکوالی وکړي نو د همدغو مشرکانو غټان او مشران سمدستي د مجلس څخه پورته کېږي او ځینې یې ځینو نورو ته وایي چې:

الف: دغه مجلس پرېږدئ او ترې اوچت شئ، دا مجلس د دې وړ نه دی چې مونږ پکښې کېنو او د جادوګر او دروغژن خبرې واورو.

ب: تاسو د خپلو معبودانو (بوتانو) په عبادت باندې کلک شئ او پام کوئ چې ونه غولېږئ او د خپلو پلرونو دین پرېنږدئ.

ج: تاسو د دې تمه هم مه کوئ چې دغه جادوګر به زمونږ سره څه روغې جوړې ته ورسېږي او د خپل دریځ څخه به راښکته شي، بلکې نوموړی په خپلې تګلارې باندې ډېر کلک دی او اراده یې کړې ده چې په همدې باندې باقي پاتې شي، نو د مصالحې او جوړجاړي تمه ترې مه کوئ.

د: مونږ د نوموړي جادوګر خبره څکه نه منو چې دا خبره (توحید) مونږ په وروستني دین کښې نه ده اورېدلې. یا په بل عبارت: کوم دین چې مونږ ته د خپلو پلرونو څخه راپاتې دی په هغه کښې بوتان هم د عبادت لیاقت لري او یوازې الله ﷻ پورې اختصاص نه شي درلودی.

همدارنګه د توحید خبره د اهل الکتابو په وروستني دین (نصرانیت) کښې هم نشته دوی (عیسویان) هم په تثلیث قائل دي.

نو دغه د توحید دین د نوي جوړ شوي او نوي اختراع شوي دین څخه پرته بل څه نه دی، مونږ یې هیڅکله نه شو منلی.

ه: زمونږ د انکار بله غټه وجه دا ده چې: راوړونکی یې یو وړوکی سړی دی چې د قوم په مشرانو کښې شامل نه دی، که بالفرض دا د توحید دین حق دین وی نو د مکې معظمې یا د طائف د مشرانو څخه به په یوه قومي مشر باندې نازل شوی وی او هغه ته به د نبوت تاج وریه سر شوی وی.

۶ـ ای پیغمبره! هسې نه چې مشرکان د کفري او شرکي عقیدې د خپلولو دپاره د عناد څخه په غیر کومه صحیحه وجه په لاس کښې لري، بلکې دوی زما د ذکر او وحې څخه په شک او تردد کښې پرېوتلي دي.

همدارنګه هسې نه ده چې مشرکانو ته د شک څخه د خلاصون څه دلایل نه دي اورولی شوي، بلکې دوی دلایلو ته غوږ نه بدي او تراوسه پورې یې زمونږ عذاب نه دی څکلی چې دلایلو ته غوږ کېږدي، کله چې ورباندې زمونږ عذاب ورنازل شي نو دوی به ورته په هغه وخت کښې غوږ کېږدي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د "آمنّا" چيغې به ووهي خو هيڅ ګټه به ورته ونه رسېږي، او د عذاب شکل دوی ته ډېر نږدې دی، ډېر وخت به تېر نه شي چې وربانديې به اخته شي.

۷_ ای پيغمبره! کفار او مشرکان چې ستا په نبوت باندې عقيده نه څپلوي چې ولې د نبوت ستره دنده يوه دنياوي بډايي ته ورنه کړی شوه، نو ته ورته دا پوښتنې راجع کړه چې:

الف: ايا ستا د رب ﷻ د خزانو اختيار د مشرکانو په لاس کښې دی چې په فلانې باندې دې وحې نازله شي او په فلانې دې نه نازلېږي؟

حال دا چې ستا رب ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، هيڅوک يې د قدرت او توان په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، په دې باندې علاوه ډېر ښېونکی هم دی، نبوت او رحمت هغه چاته ورکوي کوم ته يې چې د ورکولو اراده وشي.

ب: ايا د اسمانونو، ځمکو او د هغو شيانو واکداري د مشرکانو په اختيار کښې ده، کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موجوديت لري؟

که بالفرض المحال داسې وي نو مشرکان دې په خپلو وسائلو سره اسمان ته پورته شي او هلته دې د وحې هغه دروازه وتړي د کومې څخه چې په تاباندې وحې نازلېږي.

۷_ حقيقت دا دی چې مشرکان د هغو ټولګيو څخه يو وړوکی ټولګی دی کوم چې د الله ﷻ د دين د محوه کولو دپاره راغونډېږي. دغه مشرکان به په همدغې مکه معظمه کښې ضرور د شکست سره مخامخ شي. يا په بل عبارت د دوی شکست او هزيمت يقيني دی او ضرور واقع کېدونکی دی، لکه چې همدا اوس واقع شوی وي.

## توضيحات

۱_ که څه هم په دې مقام کښې د "ص" توری علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسير کړی دی چې تقريباً اته معناوو ته رسېږي[۱]، مګر کومه معنی چې مونږ ته بهتره برېښېدلې ده هغه دا ده چې ذکر شوی توری د هغو نورو تورو د جملې څخه يو توری دی کوم چې د نورو څينو سورتونو په سرونو کښې نازل شوي دي، لکه "الم، ق" او داسې نور.

يا په بل عبارت: زمونږ په نزد دغه توری د مقطعاتو او متشابهاتو څخه دی، چې په اصلي معنی باندې يې يوازې الله ﷻ پوهېږي او بس.

او کوم شی چې مونږ د نومورې توري په شرحه کښې ليکلي دي هغه يې اصلي معنی نه ده بلکې د اشاري معنی نوم وربانديې اېښودلی شو.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِی ٱلذِّكۡرِ ﴾ جمله خو قسميه جمله ده، نو پوښتنه دا ده چې

---

(۱) زاد المسير ج۶ ص۳۱۶؛ البحر المحيط ج۹ ص۱۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دغه قَسَم یا سوګند جواب کومه جمله واقع کېدلی شي؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې قَسَمیه جملې په جوابیه جمله کښې مفسرینو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي(۱)، کوم احتمال چې مونږ ته په زړه پورې برېښي هغه په لاندې تکو کښې ـ الله ﷻ په توفیق ـ شرحه کېږي:

الف: په ﴿ يسٓ ۝ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ۝ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴾ [یس: ۱ ـ ۳] کښې د ﴿ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴾ جمله د قسمیه جملې جواب دی.

ب: په ﴿ وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ۝ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ۝ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ۝ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ﴾ [الصافات: ۱ ـ ۴] ایتونو کښې د ﴿ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ﴾ جمله د قسم جواب دی.

ج: څرنګه چې د ذکرو شوو ایتونو په مجموعه کښې توحید او رسالت دواړه مطرح دي نو څرګنده شوه چې ذکر شوي دواړه جوابونه په دلته مقدر وي چې مونږ ترې داسې عبارت ترکیبولی شو: "وَالْقُرآنِ ذِي الذِّكْرِ إنَّ إلٰهَكَ لَوَاحِدٌ وَإنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ".

د: په همدې تقدیر باندې په ﴿ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ﴾ کښې د "بَلْ" کلمه دلالت کوي.

هـ: د ﴿ عِزَّةٖ ﴾ کلمه په قرآن کریم کښې په دوه وو معناوو استعماله شوې ده(۲):

اول: دائمي او حقیقي عزت چې زوال نه لري، لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ [المنافقون: ۸] یعنې او خاص الله ﷻ ته عزت دی او د ده ﷺ پیغمبر ته او مؤمنانو ته، مګر منافقان نه پوهېږي.

دوهم: ظاهري او موقت عزت چې په حقیقت او نتیجه کښې ذلت دی، چې مفسرینو کرامو په تکبر سره معنی کړی دی(۳)، په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: په داسې قرآن کریم باندې سوګند دی چې د پند او شرف خښتن دی، چې یقیناً (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ واحد او لا شریک دی او یقیناً ته د پیغمبرانو د جملې څخه یې، او کفارو ته د کفري عقیدې د خپلولو دپاره هیڅ دلیل نشته بلکې دوی په تکبر او بلا دلیله مخالفت کښې اخته دي.

## یو تحلیل

۲ـ په ﴿ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ﴾ کښې د "وَلَاتَ" په کلمه کښې علماوو کرامو زښت ډېر تحلیلونه کړي دي(۴)، خو کوم تحلیل چې مونږ ته واضحه او لنډ ښکاره شوی دی هغه په لاندې تکو کښې وړاندې کېږي:

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۳۶۴؛ روح المعاني ج۲۳ ص۱۶۲
(۲) مفردات الراغب ص۳۴۵
(۳) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۱۴۴
(۴) البحر المحيط ج۹ ص۱۳۸؛ زاد المسير ج۶ ص۲۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په دغې کلمه کښې د "لا" توری هغه "لا" دی کوم چې د "لَيْسَ" سره په معنی او عمل کښې مشابهت لري، او د "ت" توری ورسره د معنی (نفې) د تاکید او قوت دپاره اضافه شوی دی لکه چې کله-کله د "ثُمَّ" سره "ت" اضافه کېږي او "ثمت" لوستل کېږي.

ب: د "لات" کلمه د "لَيْسَ" غوندې اسم او خبر غواړي چې دلته یې اسم مقدر دی، چې مونږ ترې په "الحين" سره تعبیر کوو، او د ﴿ حِينَ مَنَاصٍ ﴾ کلمات یې خبر واقع شوی دی.

ج: دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مَنَاصٍ ﴾ کلمه د "نَاصَ، يَنُوْصُ" _لکه "قَالَ، يَقُوْلُ"_ څخه میمي مصدر دی، چې د "نَوْص" _لکه "ضَرْب"_ سره مرادف دی، او د فرار (تښتېدلو) معنی ورکوي[۱].

نو د معنې حاصل یې داسې راځېږي چې: مونږ په پخوانیو زمانو کښې څومره د هر کافر قومونه او پېړۍ هلاکې کړې دي چې د هلاکت په وخت کښې به یې چیغې او کوکارې وهلې چې وتښتي او نجات ومومي، خو دغه وخت به د تښتېدلو وخت نه وه او هیڅا به نجات نه شو موندلی.

نو په کار دي چې د دې زمانې کفار وډار شي چې د هغوی غوندې وخت ورباندې ورنه شي چې د خلاصون دروازې ورباندې وتړلی شي.

## "هذا" توحید ته اشاره ده

۳_ په دې مقام کښې الله ﷻ د کفار (مشرکانو) د خولو څخه متعددې جملې راحکایت کړې دي چې په اکثرو کښې د "هَـٰذَا" کلمه نازله شوې ده چې هغه توحید ته اشاره ده په کوم باندې چې وړاندینۍ جمله ﴿ أَجَعَلَ ٱلْـَٔالِهَةَ إِلَـٰهًا وَٰحِدًا ﴾ دلالت کوي. جملې دا دي:

الف: په ﴿ إِنَّ هَـٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴾ کښې د ﴿ عُجَاب ﴾ کلمه د "عَجِيب" دپاره مبالغه ده لکه چې د "كَبِير" دپاره د "كُبَار" کلمه مبالغه ده[۲]. یعنې مشرکان وایي چې: یقینًا دغه توحید "چې الله ﷻ هیڅ شریک نه لري" د هر زیات عجیبه خبره او نادر شی دی.

ب: په ﴿ إِنَّ هَـٰذَا لَشَىْءٌ يُرَادُ ﴾ کښې د "شَيْءٌ يُرَادُ" کلمات علماوو کرامو په متعددو تفسیرونو سره معنی کړی دی[۳]، خو کومه معنی چې بهتره برېښي او د شان نزول سره ښه مطابق لري هغه دا ده چې: یقینًا دغه توحید هرومرو داسې یو شی دی چې د محمد ﷺ د پلوه ورته اراده کړی شوې ده، او کلک نیت یې کړی دی چې دعوت ورته وچلوي، نو د مصالحې تمه کول ورته عبث دي، نوموړی ﷺ د خپلې ارادې بدلوونکی نه دی.

ج: په ﴿ مَا سَمِعْنَا بِهَـٰذَا فِى ٱلْمِلَّةِ ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْمِلَّةِ ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ کلمات مفسرینو کرامو په لاندې دوه وو معناوو سره تفسیر کړي دي:

---

(۱) لسان العرب ج۷ ص۱۰۲
(۲) القاموس المحيط ج۳ ص۱۵۷
(۳) روح المعاني ج۲۳ ص۱۶۸، تفسير الكشاف ج۴ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


اول: د ﴿ ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ ﴾ څخه د نصرانیت دین مطلب دی، چې په اهل الکتابو کښې وروستنی دین دی[۱]. یعنې دغه د توحید عقیده مونږ د آهل الکتابو په وروستني دین کښې هم نه ده اوریدلې، د دغه دین (نصرانیت) اهل هم په تثلیث قائل دي.

دوهم: د دغو کلمو څخه د قریشو خپل دین ته اشاره ده[۲]. یعنې دغه د توحید عقیده مونږ د خپلو نژدې پلرونو په دین کښې نه ده اوریدلې، نو باور وریاندې نه شو کولی.

د: په ﴿ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ ﴾ کښې د ﴿ ٱخۡتِلَٰقٌ ﴾ کلمه دلته د کذب او دروغو معنی ورکوي[۳]. یعنې دغه د توحید خبره نه ده، مگر دروغه ده چې نه د آهل الکتابو په وروستني دین کښې شته او نه زمونږ د نژدې پلرونو په دین کښې.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ أَءُنزِلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَا ﴾ مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ﴾ [الزخرف:۳۱] یعنې او مشرکان وایي چې دغه قرآن د دغو دواړو ښارونو (مکه، طائف) څخه په یوه لوی (بډای) سړي باندې ولې نازل نه کړی شو؟

## یو نحوي تحلیل

۴ـ د ﴿ جُندٞ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُومٞ مِّنَ ٱلۡأَحۡزَابِ ﴾ په نحوي تحلیل کښې مفسرینو کرامو متعدد صورتونه لیکلي دي[۴]، خو کوم صورت چې مونږ ته بهتر بریښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي.

الف: د ﴿ جُندٞ ﴾ کلمه د مقدرې مبتدا (هُمْ) دپاره خبره ده، دغه ضمیر (هُمْ) د توحید او رسالت څخه انکار کوونکو کفارو ته راجع دی.

ب: د "مَا" توری ورسره د تحقیر او تقلیل دپاره اضافه شوی دی.

ج: د ﴿ هُنَالِكَ ﴾ کلمه ظرف مکان دی، چې راتلونکي ﴿ مَهۡزُومٞ ﴾ پورې ارتباط نیسي او مکې معظمې ته پکښې اشاره ده.

د: د ﴿ مَهۡزُومٞ ﴾ کلمه د ذکرې شوې مقدرې مبتدا (هُمْ) دپاره دوهم خبر دی.

هـ: د ﴿ مِّنَ ٱلۡأَحۡزَابِ ﴾ کلمه د ﴿ جُندٞ ﴾ پورې ارتباط لري.

نو د ذکرو شوو ټکو په ملحوظ یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: دا ډلگی چې د توحید او رسالت څخه انکاري ده د ډلو د جملې څخه یوه وړوکې او حقیره ډلگی ده او همدا ډلگی په همدغې مکه معظمه کښې ماتې ورکړی شوې ده، او په خپلو کړو وړو پښېمانه کړی شوې ډلگی ده.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۸؛ الدر المنثور ج۷ ص۱۴۶؛ المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۱
(۲) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۱۵
(۳) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۲۸
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۱۴۹؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۳۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څو کاله وروسته د ایت شریف مضمون مصداق وموند چې مشرکان د مکې معظمې د فتحې په ورځ په خپل کور کښې د هزیمت او ذلت سره مخامخ شوه، والحمد لله ﷻ.

﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ
لْئَيْكَةِ أُولَٰئِكَ الْأَحْزَابُ ﴿١٣﴾ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾ وَمَا يَنظُرُ
هَٰؤُلَاءِ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿١٥﴾﴾

[۱۲] د دوی (د دې زمانې د عنادي کفارو) څخه وړاندې د نوح ﷺ قوم (خپل پیغمبر ته) د دروغو نسبت کړی وه، او عادیانو (ورته هم)، او د موږیو (میخونو) خاوند فرعون (ورته هم دغه نسبت کړی وه).

[۱۳] او ثمودیانو او د لوط ﷺ قوم او د ځنګله ملګرو (هم دا کارکړی وه)، دغه (ذکر شوي قومونه داسې) حزبونه (ډلې) دي (چې الله ﷻ هلاک کړي دي).

[۱۴] (دغه ټولګی) یو هم نه وه مګر پیغمبرانو ته یې د دروغو نسبت کړی وه نو زما عذاب وربانديې متحقق (او واقع) شو.

[۱۵] او دغه کفار انتظار نه کوي مګر داسې یوې کړیکې ته چې هغې ته هیڅ ډیل نشته.

## ارتباط او توضیحات

۱ـ وړاندېني ایتونه د ﴿مِّنَ الْأَحْزَابِ﴾ په کلماتو سره ختم شوي وه او هلاکو شوو کافرو قومونو ته په اجمالي توګه اشاره شوې وه، په دې ایتونو کښې د همدغو هلاکو شوو کافرو قومونو څو مثالونو ته اشاره کېږي چې توضیحات یې په لاندې ډول وړاندې کېږي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ﴾ کښې د "أَوْتَاد" کلمه د "وَتَد" ـ لکه "شَرَف" ـ جمعه ده چې د موږي معنی ورکوي[۱]، نو په څه مناسبت فرعون ته د ذُو الأوتاد (د موږیو خاوند) لقب ورکړی شوی دی؟

مونږ وایو چې: په دې مناسبت کښې مفسرینو کرامو ډېرې وجې لیکلې دي[۲]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دا لقب د زیات قوت څخه کنایه دی، چې په موږیو سره خیمې درېږي او وحشي شیان وربانديې اداره کېږي.

ب: دا لقب د ډېر زیات ظلم څخه نمایندګي کوي. او دا ځکه چې فرعون به د تعذیب په وخت

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۴۴۴
(۲) زاد المسیر ج۶ ص۳۲؛ روح المعاني ج۲۳ ص۱۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د يو مظلوم پښې او لاسونه په څلورو موړيو پوري موړي کول او مېخ کول، او بيا به يې ورباندې منګوران او لړمان ورخوشې کول او يا به يې ورته په سينه باندې ډېره غټه ډبره اېښودله، ترڅو به چې په همدغه حال کښې مړ شو.

## يادونه

۳ـ د الله ﷻ په توفيق د [الشعراء: ۱۷۶] ايت لاندې د ﴿وَأَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِ﴾ کلمه ښه پوره شرحه شوې ده چې د شعيب ﷺ د قوم څخه عبارت ده، نو په دې مقام کښې داسې مضمون لاس ته راځي چې:

اى پيغمبره! د دې زمانې د کفارو څخه وړاندې د نوح ﷺ قوم، عاديانو، لوی ظالم او لوی پاچا (فرعون)، ثموديانو، د لوط ﷺ قوم او د ځنګله ملګرو هر يوه خپل-خپل پيغمبر ته د دروغو نسبت کړی وه؛ نو ته مه خپه کېږه چې تاته خپل قوم د دروغژن نسبت کوي.

دغه دې د کفري هلاکو شوو ډلو مثالونه، د دغو د هلاکولو وجه بله نه وه مګر فقط همدا وجه وه چې دوی پيغمبران دروغژن وګڼل، نو زمونږ د عذاب خبره ورباندې په اثبات ورسېده او ورباندې تطبيق شوه، نو ستا قوم ته په کار دي چې د هغوی څخه د عبرت درس واخلي.

## فُواق څه معنی؟

۴ـ په ﴿إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٖ﴾ کښې د "فُوَاق" کلمه د هغه لږ وخت دپاره وضعه شوې ده په کوم کښې چې د شوده درلودونکي څاروي تی راوزېږېدلی شي او د خوشې کولو څخه وروسته بيا د دوهم ځل دپاره راوزېږېدلی شي[۱]. يا په بل عبارت: د دوه وو زېږېدلو ترمنځ وقفه (خوشې کول) د "فُوَاق" په نامه يادېږي.

همدې لږ وخت وقفې ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللّهِ فُوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ»[۲] يعني هرڅوک چې د الله ﷻ په لاره کښې د لنګې اوښې د فواق په اندازه وخت جنګ (جهاد) وکړي نو جنت ورته واجب شو.

نو د ايت شريف حاصل داسې راځېږي چې: د دې زمانې عنادي کفار (چې په کفري عقيده کلک دي) انتظار نه باسي مګر يوې داسې کړيکې ته چې د پيل په حال کښې د "فُوَاق" په اندازه هم وقفه نه لري.

پاتې شوه دا خبره چې دغه کړيکه د کومې کړيکې څخه عبارت ده؟، نو دا لاندې درې احتماله لري[۳]:

الف: دا کړيکه د دنياوي عذاب څخه کنايي ده، لکه چې په پخوانيو هلاکو شوو قومونو باندې ورنازله شوې وه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۰۲

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۴۳

(۳) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۴؛ روح المعاني ج۲۳ ص۱۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دا کړیکه د لومړۍ شپېلۍ اواز ته اشاره ده د کوم سره چې ټول ساکنبان مړه کېږي.
ج: په دې کښې د دوهمې شپېلۍ اواز مراد دی، چې خلک بېرته راژوندي شي او حساب کتاب پیل شي.

## تبصره

۵_ که څه هم ذکر شوي درې واړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري، د بدلیت په لحاظ ټول اراده کېدلی شي؛ مګر د راتلونکي ایت شریف سره درېم تفسیر ډېر ښه تړاو لري لکه چې وروسته به ـ ان شاء الله ﷻ ـ واضحه شي.

﴿وَقَالُوا۟ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْحِسَابِ ۝١٦ ٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلْأَيْدِ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ۝١٧ إِنَّا سَخَّرْنَا ٱلْجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحْنَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِشْرَاقِ ۝١٨ وَٱلطَّيْرَ مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُۥٓ أَوَّابٌ ۝١٩ وَشَدَدْنَا مُلْكَهُۥ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحِكْمَةَ وَفَصْلَ ٱلْخِطَابِ ۝٢٠﴾

[۱۶] او مشرکان (د مسخرو په توګه) وايي چې: ای زموږ ربه! موږ ته د حساب د ورځې (قیامت) څخه وړاندې (د تعذیب) خپله برخه (په دنیا کښې) په‌هم‌دې سره راکړه.
[۱۷] (ای پیغمبره!) ته د هغو خبرو (په اورېدلو) باندې صبر وکړه کومې چې مشرکان یې وايي او (د خپلې حوصلې او استقامت د خپلولو دپاره) زموږ مخلص بنده داوُد ﷺ یاد کړه چې (په عبادت کښې) د ښه قوت خاوند وه، یقیناً داوُد ﷺ (خپل رب ﷻ ته) ډېر رجوع کوونکی وه.
[۱۸] (د صبر د کبله) یقیناً موږ د داوُد ﷺ سره غرونه مسخر کړي وه په داسې حال چې د ورځې په آخره برخه او (هم) په اوله برخه کښې به یې ورسره تسبیحات زمزمه کول.
[۱۹] او مرغان (مو هم ورته) په داسې حال کښې (مسخر کړي وه) چې وړغونډ کړی شوي به وه (او په خواو شا کښې به ورټول شوي وه).
(غرونه او مرغان) هر یو (په دوامداره توګه) داوُد ﷺ ته (په تسبیحاتو ویلو کښې) رجوع کوونکې وه (او د همده ﷺ پیروي کوونکی وه).
[۲۰] او موږ د داوُد ﷺ پاچايي ښه قوي کړې وه، او نبوت او (هم) د شخړو د فیصله کولو بصیرت مو ورکړی وه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یو پلوه هغه غبرګون ته اشاره شوې ده کوم چې مشرکانو د وړاندېني متصل ایت په مقابل کښې د استهزاء او ملندو په توګه خپل کړی وه، او د بل پلوه پکښې نبي کریم ﷺ ته د هغوی د غبرګون په وړاندې د صبر او استقامت توصیه شوې ده، چې حوصله د لاسه ورنه کړي نو حاصل یې داسې راځېږي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د خپلې حوصلې د قوي کولو دپاره دغه ارشادات په نظر کښې ونیسه:

۱ـ کفار خو د ملنډو او مسخرو په توګه ستا د بې حوصلې کولو په غرض ستا د غوږه وایي او تاته یې دراوروي چې: ای زمونږ ربه! مونږ ته د عذاب هغه برخه په توندۍ سره راکړه او د حساب کتاب څخه وړاندې مو ورباندې مبتلاء کړه، د کومې چې ته مونږ ته د حساب کتاب څخه وروسته د قیامت په روځ راکوونکی یې.

۲ـ خو ای پیغمبره! ته د کفارو په دغو استهزاء آمیزه خبرو باندې مه بې حوصلې کېږه او د زغم څخه کار واخله ترڅو ستا درجات او مراتب نور هم د الله ﷻ په وړاندې لوړ او اوچت شي.

۳ـ نو د همدغه مطلب ترلاسه کولو دپاره زمونږ د یوه مخلص بنده (داوُد ﷺ) حالات در په زړه کړه چې د زغم او صبر د کبله ورته مونږ څومره عالي شان ورکړی وه. هغه دا چې:

الف: داوُد ﷺ په عبادت کښې د ډېر قوت خاوند وه او خپل رب ﷻ ته ډېر رجوع کوونکی وه.

ب: په دې باندې علاوه چې مونږ ورته په جالوت ظالم پاچا باندې نصرت ورکړی وه، غرونه مو هم ورته تابع ګرځولي وه، چې سبا او بېګاه به یې ورسره په تسبیحاتو کښې اشتراک کاوه او په خپلو اوازونو سره به یې د هغه اواز بدرګه کاوه.

ج: همدارنګه به مرغان هم ورټولېده او د تسبیحاتو په مجلس کښې به یې ورسره ګډون کاوه. لنډه دا چې د غرونو او مرغانو څخه هر یو داوُد ﷺ ته رجوع کوونکی وه او د همده ﷺ د تسبیحاتو په مجلس کښې ورسره اشتراک کوونکی وه.

د: مونږ داوُد ﷺ ته ډېر قوي او محکم حکومت او پاچاهي ورکړې وه.

ه: همدارنګه مو ورته ـ برسېره پر پاچاهۍ ـ حکمت او نبوت هم ورکړی وه او د خبرو او منازعاتو د فیصله کولو توان مو هم وربښلی وه.

دا ځکه چې داوُد ﷺ د ډېر زغم او صبر خاوند وه (صبر که څه هم تریخ دی خو مېوه او نتائج یې ډېر خواږه دي).

## توضیحات

۱ـ په ﴿رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا﴾ کښې د "قِطّ" کلمه په لغت کښې په متعددو معناوو سره معنی شوې ده، چې یوه معنی یې نصیب (برخه) ده[۱]. په دې مقام کښې همدغه معنی په زړه پورې برېښي: پاتې شوه دا خبره چې دلته د څه شي برخه مطلب ده، یا په بل عبارت: مشرکانو د څه شي برخه په عجله سره غوښتله؟ نو د دې جواب دا دی چې:

ځینو مفسرینو کرامو دلته د "قِطّ" کلمه په مطلقې برخې سره تفسیره کړې ده[۲]. یعنې مشرکانو به د استهزاء په توګه ویلې چې: ای ربه! مونږ ته خپله برخه عذاب او یا مونږ ته خپله برخه ثواب د

(۱) لسان العرب ج۷ ص۳۸۲
(۲) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



آخرت څخه وراندې په دنیا کښې راکړه.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به د هغوی د عذاب برخه مطلب وه، او دا څکه چې په وراندې ایتونو کښې په عذاب سره د تهدید خبره راروانه ده.

او همدې مطلب ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ مَا عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ ﴾ [الأنعام:۵۷] یعنې اې پیغمبره! کفار مخاطب کړه چې هغه عذاب زما په نزد نشته په کوم باندې چې تاسو عجله او توندي کوئ، هرڅه د الله ﷻ په اختیار کښې دي او بس.

## أید څه معنی؟

۲ـ په ﴿ ذَا ٱلْأَيْدِ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴾ کښې د "أيد" کلمه د "آدَ يَئِيْدُ" ـلکه "بَاعَ يَبِيْعُ"ـ څخه مصدر ده، چې د ډېر قوت معنی ورکوي[1]، خو دلته په عبادت کښې قوت مطلب دی چې د ﴿ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴾ جمله وربانديې دلالت کوي. یعنې داوُد ﷺ په عبادت کښې د ډېر قوت خاوند وه، او دا څکه چې یقینًا هغه ﷺ الله ﷻ ته ډېر رجوع کوونکی وه.

همدې مضمون ته د اشارې په توګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ صَلَاةُ دَاوُدَ وَأَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ وَكَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ وَيَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا»[2] یعنې الله ﷻ ته په لمونځونو کښې د داوُد ﷺ لمونځ ډېر محبوب دی او الله ﷻ ته د روژو څخه د داوُد ﷺ روژه ډېره محبوبه ده (هغه دا چې:) داوُد ﷺ به نیمه شپه ویده کېده، او د شپې په درېمه برخه کښې به درېده (عبادت به یې کاوه)، بیا به د شپې شپږمه برخه ویده کېده (د شپې په څلورو برخو کښې به یې خوب کاوه او دوه برخې به یې په عبادت سره رڼې کولې)، همدارنګه د داوُد ﷺ عادت دا وه چې یوه ورځ به یې روژه نیوله او یوه ورځ به یې نه نیوله (یوه ورځ به روژه وه او یوه ورځ به بوزه، نو په هره میاشت کښې به یې پنځلس روژې نیولې).

## یادونه

۳ـ د ﴿ إِنَّا سَخَّرْنَا ٱلْجِبَالَ مَعَهُۥ ﴾ جملې مضمون مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنبياء:۷۹] ایت لاندې لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## څو نکات

۴ـ په دې مقام کښې باید لاندې نکات په ذهن کښې وساتلی شي:

الف: د ﴿ يُسَبِّحْنَ ﴾ کلمه د "تسبيح" څخه اشتقاقه شوې ده، دلته تسبیح عامه ده، چې په ذکر سره وي او که په لمانځه سره.

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۷۶

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په ﴿ بِٱلْعَشِيِّ ﴾ کښې د "عشي" کلمه هغه وخت ته وضعه شوې ده کوم چې د لمر د زوال څخه پيل کېږي او په سهار باندې ختمېږي[۱].

ج: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ وَٱلْإِشْرَاقِ ﴾ په عوض "وَالشَّرْق" يا "وَالشُّرُوق" نازل نه شو، حال دا چې د "إِشْرَاق" معنی د دغو دواړو سره مرادفه ده چې د لمر ختلو څخه عبارت ده؟

مونږ وايو چې: "شَرْق" يا "شُرُوق" هره يوه کلمه د اُفُق څخه د لمر راپورته کېدلو (طلوع) دپاره وضعه شوې ده[۲]، په کوم کښې چې د يوه اوږده حديث په مقتضی لمونځ کول ممنوع دي[۳].

اما د "إِشْرَاق" کلمه د لمر د پوره روښانه کېدلو معنی ورکوي چې د طلوع څخه وروسته ورباندې څه وخت تېر شي[۴]، په کوم کښې چې د نفلي لمونځ کول مستحب دي، کوم ته چې په شريعت کښې درې لقبونه ورکړی شوي دي. هغه دا چې:

## د إشراق د لمانځه درې لقبونه

اول: "صَلَاةُ الإِشْرَاق"، لکه چې په ايت شريف کښې ورباندې صراحت شوی دی.

دوهم: "صَلَاةُ الأَوَّبِيْن"، چې دا د داوُد ﷺ لمونځ دی او داوُد ﷺ د "أَوَّاب" لقب درلود لکه چې په ﴿ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴾ کښې په څرګنده توګه نازل شوی دی.

دريم: "صَلَاةُ الضُّحی"، چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي: «صَلَاةُ الْإِشْرَاقِ صَلَاةُ الضُّحی»[۵] يعنې د إشراق لمونځ د څاښت لمونځ دی. أبو هريره ﷺ او أنس ﷺ وايي چې: «صَلَاةُ الْأَوَّابِيْنَ صَلَاةُ الْأَضْحی»[۶] يعنې د اوابينو لمونځ د څاښت لمونځ دی.

د: که څوک وايي چې إشراق د کوم وخت څخه پيل کېږي؟

مونږ وايو چې: د دغه وخت تعين ته په لاندې احاديثو کښې اشاره شوې ده:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ إِذَا رَمِضَتِ الْفِصَالُ مِنَ الضُّحَی»[۷] يعنې د اوابينو د لمانځه وخت هغه وخت شروع کېږي چې کله د څاښت د وخت څخه د وړو جونګيانو پښې (په خمکه باندې د ګرمی د کبله) وسوزي. يا په بل عبارت، چې لمر څه پورته شوی وي او خمکه يې توده کړې وي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۴۷
(۲) القاموس المحيط ج۲ ص۷۰۲
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۹
(۴) لسان العرب ج۱۰ ص۱۷۴
(۵) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۱۶۰
(۶) الدر المنثور ج۷ ص۱۵۲
(۷) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «...فَإِذَا طَلَعَتْ قَارَنَهَا فَإِذَا ارْتَفَعَتْ فَارَقَهَا...»[1] يعنې کله چې لمر راوخېژي نو شيطان ورسره خپل ځان ضميمه کړي ترڅو د لمر پرستانو په عبادت کښې معبود وګرځي او سجده ورته وکړی شي، نو تاسو په دغه وخت کښې نفلي لمونځونه مه کوئ چې د هغوی سره مو مشابهت صورت ونه نيسي. نو کله چې لمر د خپل اُفق څخه پورته شي نو شيطان ترې جدا شي (نو تاسو په دغه وخت کښې نفلي لمونځونه کوئ چې د هغوی سره پکښې مشابهت صورت نه نيسي).

هـ: خو څرنګه چې ذکر شوی اولنی حديث يوازې په ګرمو سيمو کښې او يوازې په اوږې کښې د اشراق د پېژاندلو نښه ګرځېدلی شي، او په دوهم حديث کښې د «ارْتَفَعَتْ» کلمه مجمله ده چې د ارتفاع اندازه پکښې نه ده ټاکلې شوې، نو فقهاوو کرامو په ټولو مناطقو او په ټولو موسمونو کښې د إشراق د پېژاندلو دپاره او هم د ذکر شوي دوهم حديث د اجمال د اوچتولو دپاره ذکر شوی وخت اندازه کړی دی او ويلي يې دي چې: "هَذَا الْوَقْتُ قَدْرُ رُمْحٍ بَعْدَ طُلُوعِهَا بِمِقْدَارِ ثُلُثِ سَاعَةٍ"[2] يعنې دغه د إشراق وخت هغه وخت دی په کوم کښې چې لمر د يوې نېزې په اندازه د اُفق څخه پورته شي، چې د يوه سات د دريمې برخې اندازه ده. يا په بل عبارت: د لمر د طلوع څخه شل دقيقې وروسته د اشراق وخت داخلېږي.

و: که څوک وايي چې د إشراق لمونځ څو رکعته دی؟

مونږ وايو چې: په لاندې دوه وو احاديثو کښې د ذکر شوي لمانځه د رکعتونو أقل عدد او اکثر عدد (دواړو) ته اشاره شوې ده:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ حَافَظَ عَلَى شُفْعَةِ الضُّحَى غُفِرَ لَهُ ذُنُوبُهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ»[3] يعنې هرڅوک چې د څاښتې لمانځه په يوه جوړه (دوه رکعته) باندې همېشوالی وکړي، نو ګناهونه به يې ورته (د الله ﷻ د پلوه) وبښلی شي اګر که د درياب د ځګ په اندازه ډېرې وي.

دوهم: أم هانئ رضي الله عنها وايي چې: « أَتَى بَعْدَ مَا ارْتَفَعَ النَّهَارُ يَوْمَ الْفَتْحِ فَأُتِيَ بِثَوْبٍ فَسُتِرَ عَلَيْهِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ»[4] يعنې د مکې معظمې د فتحې په ورځ نبي کريم ﷺ زما کور ته په داسې وخت کښې راغی چې ورځ پورته شوې وه (د څاښت وخت وه) نو غسل يې وکړ او بيا يې اته رکعته لمونځ اداء کړه.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ كُلٌّ لَهُ أَوَّابٌ ﴾ کښې د ﴿ لَهُ ﴾ ضمير چاته راجع دی؟

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۸؛ سنن ابن ماجه ص۸۸
(۲) الفقه الإسلامي وادلته ج۱ ص۵۲۰
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۱۰۸
(۴) صحيح مسلم ج۱ ص۲۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې مفسرین کرام لاندې دوه ډلې شوي دي[۱]. ص(۲۸)

الف. جمهور علماء کرام وايي چې دغه ضمیر داوُد ﷺ ته راجع دی، خو أوابیت د إطاعت په معنی سره أخلي. يعنې هر يو د غرونو او مرغانو څخه په تسبيحاتو کښې داوُد ﷺ ته إطاعت کوونکی وه.

ب: خینې نور وايي چې ذکر شوی ضمیر الله ﷻ ته راجع دی. يعنې هر يو (داوُد ﷺ، غرونه، مرغان) الله ﷻ ته رجوع کوونکي وه.

ذکر شوي دواړه تفسیرونه د بدلیت په لحاظ اراده کېدلی شي خو مونږ ته د مقام په لحاظ اولنی تفسیر غوره برېښي چې خبره د داوُد ﷺ په حالاتو کښې راروانه ده.

## یادونه

۶_ په [البقرة: ۲۵۱] ایت کښې هم داوُد ﷺ ته د حکمت د ورکړې ذکر نازل شوی دی او هلته مونږ د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي چې د حکمت څخه نبوت مراد دی، نو په ﴿ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحِكۡمَةَ ﴾ کښې هم باید د ﴿ ٱلۡحِكۡمَةَ ﴾ کلمه په نبوت سره تفسیره شي.

## فَصل الخطاب څه معنی؟

۷_ په دې مقام کښې علماوو کرامو د ﴿ وَفَصۡلَ ٱلۡخِطَابِ ﴾ کلمات په متعددو معناوو سره تفسیر کړې دی[۲]، کوم تفسیر چې مونږ ته په زړه پورې برېښېدلی دی او د راتلونکو ایتونو سره ډېر ښه سلښت نیسي هغه دا دی چې دلته د "فَصْلَ الْخِطَاب" څخه د قضاء او فیصلې بصیرت مراد کړی شي. يعنې مونږ داوُد ﷺ ته برسېره په نبوت د جګړمارانو ترمنځ د فیصلو بصیرت هم ورکړی وه، چې د ضرورت په وخت کښې به يې ترې کار اخست.

لنډه دا چې پیغمبري علم (وحې) ورته یو نعمت وه او د قضاء بصیرت (اجتهادي علم) یې بل نعمت وه. د ښه وضاحت دپاره لاندې أثر ولولئ:

أمير المؤمنين عمر ﷺ ویلي دي چې: «عَلِيٌّ أَقْضَانَا وَأُبَيٌّ أَقْرَؤُنَا»[۳] يعنې علي ﷺ په مونږ کښې ښه قاضي دی (او د قضاء د ښه بصیرت خاوند دی)، او أُبي بن کعب ﷺ په مونږ کښې ښه قاري (ښه علم درلودونکی) دی.

## ترهیب او ترغیب

۸_ الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته د کفارو د زورونې او ایذاء په مقابل کښې په دوه ډوله توصیه کړې وه، یوه په ترهیب (ډارولو) سره او بله په ترغیب (هڅولو) سره، چې لږ څه شرحه يې دا ده:

الف: د ترهیب لاندې مثالونه ولولئ:

(۱) زاد المسير ج۶ ص۳۲۴: روح المعاني ج۲۳ ص۱۷۶
(۲) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۲۶۲: زاد المسير ج۶ ص۳۲۵
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: ﴿ لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴾ [الشعراء:۳] یعني ای پیغمبره! شاید چې ته د دې غمه د خپل ځان هلاکوونکی وګرځې چې کفار مؤمنان جوړ نه شوه (او دلایلو ته یې غوږ کېښنود).

دوهم: ﴿ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ ﴾ [القلم ۴۸] یعني ای پیغمبره! ته د خپل رب ﷻ حکم او فیصلې ته صبر وکړه (او ورته منتظر اوسه) او د ماهي د ملګري (یونس ﷺ) غوندې مه کېږه (چې بې صبري یې وکړه او د خپل رب ﷻ د عتاب لاندې واقع شو).

ب: د ترغیب توصیه په همدې ایتونو کښې منعکسه شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي: داوُد ﷺ د جالوت (غټ کافر) او نورو کفارو په مقابل کښې صبر او استقامت خپل کړی وه چې الله ﷻ ورته عالي مراتب او لوړ فضائل وربښلي وه.

نو ای پیغمبره! ته هم د خپلې زمانې د کفارو د ایذاء په مقابل کښې د داوُد ﷺ غوندې استقامت او صبر ته ادامه ورکړه چې ترڅو ته هم په یوه بل شکل کښې د همغه ﷺ غوندې د فضائلو خاوند وګرځې، د مثال په توګه:

اول: مونږ به تاته د کفارو همغه زړونه نرم وګرځوو کوم چې د غرونو څخه سخت او د اوسپنو څخه کلک دي، نو داسې وخت به راوان دی چې ستا په دین کښې به په ډلنیزه توګه داخلېږي.

دوهم: مونږ به همغه کفار تاته ایل کړو کوم چې د سارانیو مرغانو غوندې ستا څخه نفرت کوونکي دي، دوی به ستا په شاوخوا راتاو کړو او په لمونځونو او تسبیحاتو کښې به دوسره اشتراک کوونکي جوړ شي، لکه څنګه چې مونږ داود ﷺ ته سارانې مرغان ایل کړي وه.

دریم: مونږ به تاته د داوُد ﷺ په شان دوامداره او قوي حکومت درکړو چې په خمکه کښې به هرې خوا ته نیلې وزغلوې.

څلورم: مونږ به تاته ترهغې ورځې پورې جلې وحې جاري وساتو ترڅو چې قرآن کریم تکمیل شي.

پنځم: بالآخره تاته او ستا اُمت ته به د قضاء او فیصلې بصیرت دربېرزو کړو، چې د قیامت تر ورځې به ترې په غیر منصوصي قضایاوو کښې کار اخلي.

لنډه دا چې ستا په زړونه او خپه کېدلو ستا مراتب لوړېږي او اجرونه دې زیاتېږي.

﴿ وَهَلْ أَتَىٰكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ۖ
قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ خَصْمَانِ بَغَىٰ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ فَاحْكُم بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ
وَاهْدِنَا إِلَىٰ سَوَاءِ الصِّرَاطِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ هَٰذَا أَخِي لَهُۥ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ
فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦ ۖ
وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسْتَغْفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرْنَا لَهُۥ ذَٰلِكَ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴿٢٥﴾ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلْنَٰكَ خَلِيفَةً فِى ٱلْأَرْضِ فَٱحْكُم بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌۢ بِمَا نَسُوا۟ يَوْمَ ٱلْحِسَابِ ﴿٢٦﴾

**[۲۱]** او (ای پیغمبره!) ایا تاته د جګړه کوونکو خبر درغلی دی چې کله دوی په دېوال باندې په پورته کېدلو سره (د داود ﷺ) عبادتخانې ته وروختل

**[۲۲]** کله چې جګړه کوونکي په داود ﷺ باندې (عبادتخانې ته) ورننوتل، نو داوُد ﷺ ترې وډار شو (چې ناآشنا خلک وه او په ناآشنا طریقه ورغله).

نو دوی (داوُد ﷺ ته) وویلې چې: ډارېږه مه! (مونږ غله نه یاستو. مونږ) دوه جګړه کوونکي ډلې یاستو چې ځینو مو په ځینو نورو باندې بغاوت (او تېری) کړی دی، (مونږ غواړو چې ته د بغاوت مخه ونیسي) نو زمونږ ترمنځ په حقه حکم (او فیصله) وکړه او (شرعي حکم) لرې مه غورزوه، او (هم) سمې لارې ته زمونږ لارښوونه وکړه (متجاوز ته نصیحت وکړه).

**[۲۳]** (زمونږ لانجه دا ده): دغه (چې ستا په وړاندې موجود دی) زما داسې ورور دی چې ده ته نهه نوي (۹۹) ګډې دي او ماته (فقط) یوه ګډه ده، نو (په دغه حال کښې ماته) وایي چې: د دغې یوې ګډې هم ما ضامن وګرځوه (زما په ملکیت کښې یې شامله کړه).

او (دا هم وا وره چې) زما دغه ورور په ماباندې په خطابه (خبرو کولو) کښې غلبه درلودونکی دی (او په قوت کښې راباندې زورور دی).

**[۲۴]** داوُد ﷺ وویلې چې: یقینًا په تاباندې خپل ورور ستا د یوې ګډې په غوښتلو سره ظلم کړی دی چې د خپلو ګډو سره یې (یوځای) کړي. او د مالي او حقوقي شریکانو ځخه ډېر کسان هرو مرو ځینې په ځینو نورو باندې بغاوت (او تېری) کوي، مګر هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه کوي، او دا (ډله) ډېر لږ (کسان) دي (نو اکثریت ظلم کوونکي دي).

او (په دغه وخت کښې) داوُد ﷺ ګومان وکړ (او بیا متیقن شو) چې یقینًا هغه مونږ په امتحان کښې واچاوه (او ذکره شوې قضیه امتحاني قضیه وه)، نو د خپل رب ﷻ ځخه یې مغفرت وغوښت او په داسې حال په سجده پرېووت چې لمونځ کوونکی (او عاجزي کوونکی) وه، او (خپل رب ﷻ ته) یې رجوع وکړه.

**[۲۵]** نو مونږ ورته دغه (خلاف الأولی کار) وباښه (او د نیونې ځخه ورتېر شوو). او (دا ځکه چې) یقیناً زمونږ په نزد د داوُد ﷺ دپاره ډېره نژدې مرتبه او د بېرته ورتلو ښایسته (او ښه) ځای دی.

**[۲۶]** (مونږ داوُد ﷺ مخاطب کړ چې) ای داوُده! یقینًا مونږ ته په ځمکه کښې (د شریعت د نفاذ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره، خلیفه گرځولی یې؛ نو ته د خلکو ترمنځ په حقه سره حکم (او فیصله) کوه (او د ډېر دقت څخه کار اخله)، او (هم) د خواهشاتو پېروي مه کوه (عدم پیروی ته یې ادامه ورکړه، که نه) نو د الله ﷻ د لارې څخه به دې بې لارې کړي.

یقیناً هغه کسان چې د الله ﷻ د لارې څخه بې لارې شي، دوی لره په دې سبب سخت عذاب دی چې د حساب ورځ یې هېره کړې ده.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې وه، چې د کفارو په ایذاء باندې صبر وکړه او د جالوت په مقابل کښې د داوُد ؑ صبر درپه زړه کړه. په دې ایتونو کښې ورته اشارتًا توصیه کېږي چې امتحان ته خپل ځان چمتو کړه چې مراتب دې لا لوړ شي، او د داوُد ؑ امتحان درپه یاد کړه.

۲ـ د وړاندېنیو ایتونو د وروستني ایت په مضمون کښې دا هم شامله وه، چې مونږ داوُد ؑ ته قوي حکومت او د فیصلو بصیرت ورکړی وه. په دې ایتونو کښې په همدغه مطلب باندې د استدلال په توګه یوې قیصې ته اشاره شوې ده، چې کله د هغه ؑ څخه د لږ وخت دپاره زمونږ إمداد پرې کړی شو نو نه یې د حکومت قوت بقاء وکړه او نه ورته د قضاء (فیصلو) بصیرت پاتې شو. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د خپل ژوند په اوږدو کښې به ته زمونږ د پلوه د مراتبو د لوړولو دپاره د امتحاناتو سره هم مخامخ شې، نو تاته په کار دي چې خپل ځان ورته چمتو کړې او خپله حوصله ورته کمزورې نه کړې، دا زمونږ سنت او قانون دی، زمونږ په قانون او سنت کښې بدلون نشته.

نو ته د خپل استقامت او خپل مورال د پیاوړي ساتلو دپاره د داوُد ؑ د امتحان یوه قیصه درپه زړه کړه، هغه دا چې: ایا تاته د هغو جګړمارانو څه قیصه او څه مهم خبر رسېدلی دی په کومو باندې چې داوُد ؑ د امتحان لاندې واقع شوی وه؟

۱ـ امتحان په هغه وخت کښې پیل شو چې داوُد ؑ په خپل عبادتځای کښې په عبادت بوخت وه، او په ناڅاپي توګه جګړماران (بې لارې) په دېوال وروختل او عبادتځای ته ورننوتل.

۲ـ په ناڅاپي توګه د ناآشنا کسانو ورننوتلو داوُد ؑ په ډار کښې واچاوه او د حیرت سره مخامخ شو چې دا څوک دي؟ د څه دپاره دلته راغله؟

۳ـ ناپېژاندو کسانو داوُد ؑ ته ډاډ ورکړ او د ناڅاپه ورننوتلو وجه یې هم ورته څرګنده کړه چې:

الف: ای داوُده! ته ډارېږه مه، مونږ ستا د قتل دپاره نه یاستو راغلي، مونږ څه اړتیا او احتیاج لرو چې احتیاج مو پوره کړې هغه دا چې: مونږ تاته یوه شخړه او یوه لانجه راوړې ده، چې په دې لانجه کښې به ضرور زمونږ یو لوری په حقه وی او بل لوری به په ناحقه ورباندې ظلم او بغاوت کوي. نو:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ص(۳۸)
وما لي (۲۳) په یوه جانب هم ظلم او تېری مه کوه، بلکې موږ

ب: لطفًا زموږ ترمنځ په حقه فیصله وکړه او په یوه جانب هم ظلم او تېری مه کوه، بلکې موږ تولو ته سمه لاره راوښایه، ترڅو زموږ خپلمنځي اختلاف د منځه لاړ شي او دواړه جانبه د ورورۍ په فضا کښې ژوند وکړو.

ج: په دغو جګړمارانو کښې یوه جانب د اختلاف او جګړې موضوع داسې بیانه کړه او د جګړې صورت حال یې داسې مطرح کړ چې: دغه (بل جانب) زما ورور دی، خو د ورورۍ په لاره نه ځي او دا څکه چې:

د: موږ دواړه جانبه سل (۱۰۰) ګډې لرو چې صرف یوه ګډه پکښې زما ده، او نورې تولې (۹۹) ګډې زما د دغه ورور دي، زما خبرې پخپله اوري. خو:

هـ: زما همدغه ورور په همدغه حال کښې غواړي چې زما یوه ګډه هم خپله کړي ترڅو د هغه سل ګډې پوره شي او زه بې ګډو پاتې شم، همدغه ورور په ماباندې امر کوي چې هله ژر شه خپله یوه ګډه دې ماته راوسپاره.

و: ای د الله ﷺ پیغمبره! کوم صورت حال چې ما تاته وړاندې کړ دا تکي په تکي رښتیا دي، هیڅ دروغ پکښې نشته، که بالفرض څه کوز او پاس پکښې وي نو زما ورور دغه دی ناست دی، غلی دې نه پاتې کېږي او غلط تکي ته دې ګوته ونیسي.

ز: ای د الله پیغمبره! دا خبره هم واوره چې زما دغه ورور ډېر فصیح (ډېر خولور) سړی دی او په ماباندې په خطابه کښې زورور دی، بهانې یې ډېرې زده دي، نو څه لرې نه ده چې په سوال جواب کښې ما سکوت ته مجبور کړي، په دغه وخت کښې به زما سکوت زما په پړکېدلو دلالت ونه کړي.

۴ـ داوُد ﷺ د همدغه یوه جانب په بیان باندې حکم وکړ، او د خلاف الأولی مرتکب شو، ده ﷺ ته په کار وه چې د بل جانب څخه یې هم پوښتنه کړې وی، که څه هم موضوع ډېره واضحه وه خو د فیصلې قواعد دا نه دي چې د یوه جانب په قول فیصله وکړی شي.

د داوُد ﷺ حکم دا وه چې همغه جانب یې مخاطب کړ کوم چې د دعوې صورت وړاندې کړی وه، چې یقینًا په تاباندې خپل ورور ظلم کړی دی چې دا یوه ګډه درڅخه غواړي، ترڅو ورباندې د خپلو ګډو شمېر سلو ته ورسوي او تا خالي لاس پرېږدي، نو هغه ته په کار دي چې په تا ظلم ونه کړي.

۵ـ داوُد ﷺ په ذکر شوي ظلم باندې ډېر تاسف وکړ. نو:

الف: مظلوم ته یې ډاډ ورکړ چې ته خپه کېږه مه، ته په دغه ظلم کښې یوازې نه یې بلکې د شریکانو اکثریت یو تربله بغاوت کوي او په خپل حق باندې نه درېږي، چې ستا شریک هم د همدې قبیلې څخه دی.

ب: هو! یوازې هغه شریکان ظلم نه کوي کومو چې په درستو معناوو کښې ایمان راوړی وي او نېک عمل یې ورسره هم ضمیمه کړی وي.

ج: ظالم جانب ته یې د اشارې په توګه توصیه وکړه، چې خپل ځان اصلاح کړي او د ایمان په مقتضی صالح عمل ته ملا وتړي، ترڅو د ظلم کولو څخه بچ پاتې شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د بالاخره دا خبره يې هم وکړه چې دغسې خلک ډېر لږ دي چې د خپل ايمان په غوښتنه عمل کوي او د ظلم څخه خپل ځانونه ساتي (نو اى ظالمه! تاته په کار دي چې خپل ځان د همدغو لږو خلکو د ډلې څخه وګرځوې او په خپل ورور باندې ظلم ونه کړې)

۶- اى پيغمبره! د ذکر شوې صورت حال څخه وروسته داود ﷺ په اول کښې ګومان وکړ او بيا سمدستي پوه شو چې:

الف: يقيناً زمونږ د جانبه نوموړى ﷺ په امتحان کښې واچولى شو، او باور يې راغى چې دا قضيه يوه امتحاني قضيه وه، چې دى پکښې د خلاف الأولى مرتکب شو.

ب: نو سمدستي يې د خپل رب ﷻ څخه مغفرت وغوښت او په سجده ورته پرېووت او هم يې په تمامه معنى همده ﷻ ته رجوع وکړه او خپل ځان يې قاصر وباله.

ج: مونږ ورته مغفرت وکړ او د خلاف الأولى د ارتکاب څخه ورتېر شوو.

که څه هم داوُد ﷺ زمونږ په نزد ډېره نژدې رتبه درلوده، او زمونږ په نزد هغه ته د بېرته ورګرځېدلو ډېر ښه مکان تيار کړى شوى وه، خو په ذکرې شوې ازموينه کښې يې مراتب لا لوړ شوه او نژديکت يې لا زيات شو. نو:

۷- بيا مونږ داوُد ﷺ مخاطب کړ چې:

الف: اى داوُده! مونږ ته په ځمکه کښې د شريعت د انفاذ دپاره د خپل خليفه په حيث ټاکلى يې، نو ته د خلکو په منځکښې په حقه او عدل سره حکم او فيصله کوه، او د عدل او حکم د ټولو حقوقو مراعات کوه،^او د خپلې نفسي غوښتنې پيروي مه کوه، که نه نو همدغه نفسي غوښتنې به دې د الله ﷻ د لارې څخه بې لارې کړي. يا په بل عبارت: لکه څنګه چې په ذکره شوې قضيه کښې د خلاف الأولى مرتکب شوې، همدارنګه خطر شته چې د نفسي پيروۍ په صورت کښې د ګناه مرتکب وګرځې او حقه لاره بالکل خطاء کړې.

ب: اى داوُده! يقيناً هغه کسان کوم چې د الله ﷻ د لارې څخه بې لارې شي او د حساب کتاب ورځ هېره کړي، نو همدغو کسانو ته په دې سبب شديد عذاب دى چې د حساب کتاب ورځ يې هېره کړې ده او په غلطه لاره روان دي.

## توضيحات

۱- په ﴿وَهَلْ أَتَىٰكَ نَبَؤُا۟ ٱلْخَصْمِ﴾ الآية- کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: د "خَصْم" کلمه اصلاً د مصدر صيغه ده، چې دلته د فاعل (مخاصم) معنى ورکوي، خو نظر مصدريت ته پکښې مفرد او مثنى او هم جمعه درېواړه يو برابر دي[1]؛ د همدې کبله ورته په ﴿تَسَوَّرُوا۟﴾، ﴿دَخَلُوا۟﴾ کښې د جمعي ضميرونه واقع شوي دي.

ب: د ﴿تَسَوَّرُوا۟﴾ کلمه د مجردو په لحاظ د "سَوْر" -لکه "قَوْل"- څخه اشتقاقه شوې ده، چې يوه

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۱۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لوړ ځای ته د ټوپ وهلو دپاره وضعه شوې ده[۱]

ځ د "محراب" کلمه په یوه الګر کښي د اوچت ځای لپاره دی[۲]. مګر په دې مقام کښې مفسرینو کړامو د عبادت د خونې څخه عبارت ګڼلې ده[۳].

نو حاصل یې داسې راځي چې ایا تا د جګړه مارانو قیصه اوریدلې ده، چې د ګړ په احاطه باندې یې ورټوپ کړه او په داود علیه السلام باندې د عبادت خونې ته په غیر عادي توګه ورداخل شول او پرې ورورخاته. نو ځکه علیه السلام دومره وارخطا شو چې ورڅخه یې دار ځرګند شو.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې د ﴿فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوا لَا تَخَفْ﴾ څخه څرګندیږي چې داود علیه السلام عبادتځای ته د ورداوچت شوو کسانو څخه ویرار شو. نو پوښتنه دا ده چې د دغه ډار وجه څه وه؟

موږ وایو چې ځینو مفسرینو کرامو د داود علیه السلام د ډار وجه دا ښودلې ده چې ورداخل شوي کسان بدون د اجازې او بدون د لارې، د غلو شوندي په دیوال ورختلي وه[۴] او د یوه قول په بنیاد دغه کار د شپې د پلوه صورت نیولی وه چې عادتاً د ډار وخت دی.

خو موږ وربانديې اضافه کوو چې ډار د دې کبله هم زیات شو چې هغوی ناآشنا کسان وه، او طبعي ده چې د نابلدو خلکو ملاقات په ناڅاپه توګه د ډار سبب ګرځي.

د داود علیه السلام ډار د ابراهیم علیه السلام ډار ته ورته وه چې الله جل جلاله موږ ته راحکایت کړی دی: ﴿قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ﴾ [هود: ۷۰] یعني ابراهیم علیه السلام ته د ورغلو پرښتو څخه ډار پیدا شو، نو هغوی ورته وویلې چې ډاریږه مه، یقیناً موږ د لوط علیه السلام د قوم د هلاکولو دپاره را استولي شوي یاستو. تاته زموږ د پلوه څه خطر متوجه نه دی.

نو دلته یې حاصل داسې راځي چې ای داوده! نه ډاریږه مه. زموږ د پلوه تاته څه خطر نشته، موږ د جګړه کوونکو دوه ډلې یاستو چې یوې ډلې په بلې ظلم کړی دی.

## د شطط معنی

۳ـ په ﴿وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَا﴾ کښې د "تُشْطِطْ" کلمه اصلاً د "شطط" ـ لکه "شرف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. موږ د الله جل جلاله په توفیق د [الکهف: ۱۴] ایت لاندې لیکلي دي چې "شطط" افراطي لرېوالي ته ویل کیږي. خو په دې مقام کښې د شرعي حکم څخه تجاوز ته د "شطط" لقب ورکړی شوی دی. یعني زموږ ترمنځ حقه فیصله وکړه او د شریعت څخه تجاوز مه کوه.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۵۳
(۲) لسان العرب ج۱ ص ۳۰۵
(۳) التحریر والتنویر ج۲۳ ص ۱۹
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص ۱۶۹ - البحر المحیط ج۹ ص ۱۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوالونه او جوابونه

۴ـ په دې مقام کښې د سرې په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي: د ﴿ إِنَّ هَـٰذَآ أَخِى ﴾ څخه څرګندېږي چې د جګړه کوونکو تعداد دوه کسان وه چې یوه خبرې وکړې او بل ته یې په ﴿ هَـٰذَا ﴾ سره اشاره وکړه، حال دا چې وړاندې د ﴿ تَسَوَّرُواْ ﴾، ﴿ دَخَلُواْ ﴾ دوه جملې یې په جمعیت باندې دلالت کوي؛ نو اصلي تعداد به یې څو کسان وه؟

مونږ وايو ـوالله ﷻ أعلمـ: داسې معلومېږي چې هغوی به په هر جانب کښې اقلاً درې درې کسان وه، چې مجموعه یې شپږ تنه کېږي او په ذکرو شوو دواړو جملو کښې ورته د جمعیت ضمیرونه راجع شوي دي، چې یو تن پکښې اصلي جګړمار او نور به یې ملګري وه.

او په ﴿ خَصْمَانِ ﴾ کښې به دوه وو درې کسېزو ډلو ته اشاره وي، او بالآخره په ﴿ إِنَّ هَـٰذَآ أَخِى ﴾ کښې به دوه اصلي مدعیان مراد وي چې یو خبرې کوونکی وه او بل ته یې په ﴿ هَـٰذَا ﴾ سره اشاره وکړه.

ب: که څوک وايي چې: په ﴿ لَهُۥ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِىَ نَعْجَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴾ کښې د ﴿ نَعْجَةً ﴾، ﴿ نَعْجَةٌ ﴾ هره یوه کلمه د ګډې معنی ورکوي[1]. نو پوښتنه دا ده چې دغه کسان څوک وه چې د ګډو لانجه یې داوُد ﷺ ته وړاندې کړه؟

مونږ وايو چې: دغه کسان پرښتې وې چې د امتحان په توګه یې خپله دعوه د ګډو په صورت کښې عرض کړه[2].

ج: که څوک وايي چې: پرښتې خو دروغ نه وايي او نه ګډې لري، نو ایا دا خبره صحت موندلی شي چې دغه کسان (د سرېو په څېره) پرښتې وې؟

مونږ وايو چې: د پرښتو مطلب یو تمثیل وه، چې بالفرض دا زما ورور دی او نهه نوي ګډې لري او زه فقط یوه ګډه لرم... تر آخره پورې.

د: که څوک وايي: ایا داسې واقعه چرته پېښه شوې ده، چې پرښتو خپل ځانونه د سړیو په څېره اړولي وي او مخاطب ته یې په ذهن کښې وراچولي وي چې مونږ بنیادمان یاستو؛ یا په بل عبارت: ایا د دغسې واقعې دپاره کوم نظیر روایت شوی دی؟

مونږ وايو: د دغې واقعې یو نظیر په یوه اوږده حدیث کښې په تفصیل سره روایت شوی دی[3] چې یوه پرښته درېوو هغه کسانو ته ورغلې وه کوم چې یو یې پخوا پېس وه، بل یې ګنجی وه او درېم یې ړوند وه.

دغه پرښته پخواني پېس ته د پېس په څېره کښې او پخواني ګنجي ته د ګنجي په څېره کښې او بالآخره ړانده ته د ړانده په څېره کښې ورغلې وه، او درېواړه یې د امتحان لاندې نیولي وه، چې

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۲۰
(۲) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۹
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۴۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اولني دواړه ناکام او دریم کامیاب ګرځېدلی وه

ه: که څوک وايي چې: د ﴿ أَكْفِلْنِيهَا ﴾ کلمه څنګه تحلیلېږي؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې کلمه د "إِكْفَال" _لکه "إِكْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "إِكْفَال" دې ته وايي چې څوک يو سړی د څه مال دپاره ضامن او کافل وګرځوي[1] چې ټول مسئولیت یې په همغه پورې تعلق ولري. يعني نوموړی ماته وايي چې هله ژر شه! چې ما د دغې يوې ګډې مسئول او ضامن وګرځوه، چې زما په ملکیت کښې داخله شي او خوراک او څښاک یې خاص زما په غاړه پرېوځي.

و: که څوک وايي چې. مدعیانو خو د داوُد ﷺ څخه يوازې فیصله غوښتې وه نو د دې جملې ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْخُلَطَآءِ ﴾ الآیة په وراورولو کښې څه مطلب دی؟

مونږ وایو چې: دواړو د فیصلې څخه علاوه د نصیحت غوښتنه هم کړې وه چې: ﴿ وَٱهْدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ﴾ او مونږ ته سمه لاره وښایه، نو دغه جمله د همدغې دوهمې غوښتنې جواب دی.

ز: که څوک وايي: په ﴿ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې داوُد ﷺ پوه شو چې ذکره شوې قضیه یوه امتحاني قضیه وه، نو پوښتنه دا ده چې په څه وجه هغه ﷺ ته ذکر شوی علم حاصل شو؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د فیصلې څخه وروسته دواړو مدعیانو تبسم وکړ[2]، او یا دواړه ځای په ځای د سترګو څخه غائب شوه[3] او یا د ده ﷺ د نظر لاندې اسمان ته والوته[4] نو ورته څرګنده شوه چې دا پرښتې وې، بنیادمان نه وه، او د امتحان دپاره راغلې وې.

ح: که څوک وايي چې: داوُد ﷺ ته قضیه وړاندې شوه او شرعي فیصله یې ورکړه، نو پوښتنه دا ده چې په څه وجه یې د خپل رب ﷻ څخه په ﴿ فَٱسْتَغْفَرَ رَبَّهُۥ ﴾ کښې د مغفرت غوښتنه وکړه، او هم په ﴿ فَغَفَرْنَا لَهُۥ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د الله ﷻ مغفرت څه معنی لري؟

مونږ وایو چې: داوُد ﷺ په ذکره شوې فیصله کښې د لاندې خلاف الأولی کارونو مرتکب شوی وه:

اول: داوُد ﷺ د مقابل جانب څخه پوښتنه ونه کړه چې ته په دغې موضوع کښې څه وايې، بلکې په عجلې سره یې فیصله صادره کړه او د هغه سکوت یې په اقرار باندې حمل کړ.

دوهم: په خپلې فیصلې سره یې نطاق مخاطب وګرځاوه چې ته مظلوم یې، په کار وه چې مقابل جانب یې مخاطب ګرځولی وی چې ته ظالم یې.

دریم: نطاق په ضمني توګه په مقابل جانب باندې د نهه څلوېښتو (۴۹) ګډو دعوه وکړه خو داوُد ﷺ د دغې ضمني دعوې څخه بالکل ساکت پاتې شو.

---

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۵۹۰؛ القاموس المحیط ج۴ ص۶۸

(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۱۸۱

(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۴

(۴) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۱۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض د نومورې د ۴۹۰ ګډو د دعوه کولو مطلب نه وی، نو د ګډو د مجموعه تعداد ذکر به يې نه وی کړی بلکې په دې صورت کښې به يې په لنډو ټکو کښې ويلې وی چې دغه مقابل جانب زما په يوه ګډه دعوه کړې ده، مونږ ته په همدې هکله حقه فيصله راکړه.

## د ايتونو د تفسير نور ډولونه

ط: که څوک وايي: په دې مقام کښې مفسرينو کرامو متعدد تفسيرونه کړي دي چې په ځينو کتابونو[1] کښې راغونډ کړی شوي دي، نو تاسو په څه بنياد په دغو تفسيرونو باندې ډېره کېښودله؟

مونږ وايو چې: د دغې قيصې په ارتباط په صحيحو احاديثو کښې څه تفسير نه دی روايت شوی[2]، چې په سر او سترګو يې ومنو، نو په کار دي چې مونږ هغه تفسير ته ترجيح ورکړو کوم چې پخپله د قرآن کريم څخه څرګندېږي او د شريعت د چوکاټ سره ښه پوره تړاو لري.

نو کوم تفسير چې مونږ وړاندې شرحه کړی دی، هغه د يو پلوه د پيغمبر (داوٗد ﷺ) د عالي شان سره مناسب دی، او د بله پلوه د ايتونو سره ډېر نژدې تړاو لري لکه چې بيان يې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

اما نور تفسيرونه د پيغمبر (داوٗد ﷺ) د عالي شان سره مناسبت نه لري، او يا د ايتونو د تړاو سره منافي برېښي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

ي: ځينې مفسرينو کرامو د ذکرې شوې قيصې په ارتباط ليکلي دي چې:

داوٗد ﷺ د يوه مجاهد په مېرمن باندې عاشق شوی وه، نو دغه مجاهد يې جهاد ته واستاوه او د جبهې قومندان ته يې توصيه ورولېږله چې د خطر په موقع کښې يې وګوماره ترڅو شهيد شي[3]. د همدغې نقشې د عملي کېدو په نتيجه کښې نومورې مجاهد شهيد شو، نو داوٗد ﷺ يې کونډه په نکاح کړه، حال دا چې مجاهد همدا يوه مېرمن درلوده او داوٗد ﷺ نهه نوي (۹۹) مېرمنې درلودې، نو الله ﷻ ورته د مېږو (ګډو) په صورت کښې غلطي ورڅرګنده کړه.

دا تفسير د لاندې وجوهو د کبله صحت نه لري:

اول: داوٗد ﷺ خپله فيصله په ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْخُلَطَآءِ ﴾ الآية- سره تعقيبه کړې ده، چې "خُلَطَاء" د "خليط" جمعه ده، "خليط" د هغه چا لقب دی کوم چې د بل چا سره د خپل ملکيت په حقوقو کښې اشتراک لري، لکه چې لاره يې ورسره يوه وي او يا يې د اوبو وياله متحده وي او داسې نور[4]، يا هغه څوک دی چې د بل چا سره يې خپل مال ګډ کړی وي[5].

نو که بالفرض المحال ذکره شوې قيصه رښتيا وی نو ضرور به داوٗد ﷺ د ذکر شوي تعقيب په

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۳۹۸؛ تفسير القاسمي ج۱۴ ص۱۵۶؛ تفسير الطبري ج۲۳ ص۱۴۳
(۲) اضواء البيان ج۶ ص۲۴
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۱۵۸
(۴) لسان العرب ج۷ ص۲۹۱؛ القاموس المحيط ج۲ ص۹۲
(۵) تفسير الكشاف ج۴ ص۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عوض خپله فيصله په "وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ" سره تعقيبه کړې دی، چې په مالونو پورې اختصاص نه لري او ناموسونو ته هم شاملېږي.

يا په بل عبارت په دې تفسير سره مثال د ممثل سره تطبيق نه خوري، او دا ځکه چې خلطيت په مالونو کښې تحقق موندلی شي او په ناموسونو (منکوحو ښځو) کښې يې تصور هم نه شي کېدلی.

دوهم: الله ﷻ د دغې ښځه وروسته داوُد ﷺ د ﴿ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴾ په کلماتو سره ستايلی دی، يعني يقينًا داوُد ﷺ ته زمونږ د پلوه ډېر نژدېوالی او د بېرته ورستنېدلو بهتر ځای ورکړی شوی دی.

که بالفرض المحال داوُد ﷺ د مجاهد د قتل په دسيسه کښې لاس درلودی نو ذکره شوې رتبه به نه وی ورکړی شوې. يا په بل عبارت، دغسې بد نيت د يوه عادي مسلمان سره مناسبت نه لري پاتې لا د يوه پيغمبر سره، نو معلومه شوه چې ذکره شوې قيصه بالکل دروغ ده او د اسرائيلياتو ځخه ده[1].

يا: که څوک وايي چې: که ذکرې شوې قيصې واقعيت نه درلودی او د اسرائيلياتو څخه وی نو الله ﷻ به د ﴿ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ ﴾ په جمله باندې مخاطب نه وی ګرځولی. يعنې ای داوُده! ته مونږ په ځمکه کښې د شرعي احکامو د نفاذ دپاره خليفه ګرځولی يې، نو ته د خپلو خواهشاتو پيروي مه کوه (لکه چې په عشق کښې دې مجاهد شهيد کړ)، که نه نو د حقې لارې څخه به دې دغه پيروي واړوي؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د منعه کولو معنی دا نه ده چې ته په دغه کار اخته يې او لاس ترې واخله، بلکې مطلب يې دا دی چې د عدم متابعت حال ته ادامه ورکړه.

همدې مضمون ته په ورته مضمون باندې يو ايت نبي کريم ﷺ ته هم نازل شوی دی چې: ﴿ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ [الأنعام ۱۵۰] يعنې ای پيغمبره! د هغو کسانو د خواهشاتو پيروي مه کوه کوم چې زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت کوي (عدم پيروۍ ته يې ادامه ورکړه).

يب: ځينې نورو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې:

داوُد ﷺ ډېر عبادت کوونکی بنده وه، او د عبادت د پاره يې مهال وېش ټاکلی وه چې په هغه کښې به يې د عبادت څخه په غير بل څه نه کول چې يا جګړې فيصله کړې او يا نور څه ترسره کړي.

نو يوه ورځې خپل عبادت په تعجب کښې واچاوه[2] چې زه څومره په زيات فراغت سره عبادت کوم، نو الله ﷻ په ايت شريف کښې لانجه (د عبادت په مهال) ورمخې ته کړه او د عبادت څخه ورباندې مشغول وګرځېد.

يج: ذکره شوې قيصه که څه هم د پيغمبر (داوُد ﷺ) د شان سره څه منافات نه لري مګر د ايت شريف څخه لرې ده. او دا ځکه چې:

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۱
(۲) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ﴿ وَظَنَّ دَاوُدُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ ﴾ الآية- غوښتنه دا ده چې داوُد ﷺ دې په یو کار باندې مکلف گرځولی شوی وي او د هغه کار په انجامولو کښې دې پاتې راغلی وي او په فتنه (امتحان) کښې دې لوېدلی وي.

د ذکرې شوې قیصې په صورت کښې د داوُد ﷺ څخه فقط فراغت فوتېږي، حال دا چې نه داوُد ﷺ په فراغت باندې مکلف وه او نه وریاندې د فتنې (امتحان) اطلاق کولی شو. فراغت خو بل شی نه وه بلکې د الله ﷻ یو فضل وه چې د لږ وخت دپاره د داوُد ﷺ څخه واخستلی شو چې د گډو د لانجې په فیصله باندې مشغول شو.

لنډه دا چې په شرعي فیصله باندې داوُد ﷺ مکلف وه چې خپل مکلفیت یې انجام کړ، او عبادت ته په فراغت باندې مکلف نه وه په کوم کښې چې پاتې راغی. نو که بالفرض دلته ذکره شوې قیصه مراده وی نو مناسب دا وه چې الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نه وی نازل کړی. والله ﷻ اعلم.

یډ: که څوک وایي په ﴿ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ﴾ کښې د "خرّ" کلمه د "خرور_ لکه "عبور" _ څخه اشتقاقه شوې ده. چې په خمکه باندې په شدت سره د پرېوتلو معنی ورکوي[1]. او دلته ترې سجده کول مطلب دي. دا د یو پلوه. او د بله پلوه د ﴿ رَاكِعًا ﴾ کلمه د "خرّ" د کلمې د ضمیر څخه حال واقع شوې ده.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا په یوه وخت کښې سړی سجده کوونکی او رکوع کوونکی گرځېدلی شي؟

مونږ وایو د ذکر شوي سوال جوابونه ډېر دي[2]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول دلته د ﴿ رَاكِعًا ﴾ معنی د "خاشعًا، متواضعًا" سره مرادفه ده[3]. یعنې داوُد ﷺ په داسې حال کښې په سجده پرېووت چې عاجزي کوونکی او ذلت درلودونکی وه.

دوهم دلته ﴿ رَاكِعًا ﴾ څخه "مُصَلِّيًا" مطلب دی[4]. یعنې داوُد ﷺ په داسې حال کښې خپل سر په خمکه کېښود چې لمونځ کوونکی وه.

درېم دغه کلمه د "ساجدًا" معنی ورکوي[5]. یعنې په داسې حال یې خپل سر په خمکه ولګاوه چې سجده کوونکی وه.

## د تلاوت لسمه سجده

۵_ ددې سورت په [۲۴] ایت کښې د قرآن کریم د تلاوت لسمه سجده ده. لکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې: نبي کریم ﷺ د "ص" په سورت کښې د تلاوت سجده وکړه او بیا یې وفرمایل چې «سَجَدَهَا دَاوُدُ تَوْبَةً وَنَسْجُدُهَا شُكْرًا»[6] یعنې داوُد ﷺ د توبې د قبول دپاره سجده کړې

---

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۳۵
(۲) البحر المحیط ج۹ ص۱۵۰، زاد المسیر ج۶ ص۳۳۱
(۳) لسان العرب ج۸ ص۱۳۳
(۴) تفسیر الکشاف ج۴ ص۸۸
(۵) روح المعاني ج۲۳ ص۱۸۳، تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۲۲
(۶) سنن النسائي ج۱ ص۱۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وه او مونږ یې د الله ﷻ (د نعمتونو) د شکرگزارۍ دپاره کوو.

د تلاوت د سجدې ځینې ضروري احکام د [الأعراف ۲۰۶] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکل شوي دي چې بیا تکرارولو ته یې اړتیا نه گورو.

﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَٰطِلًا ۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمْ نَجْعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلْمُفْسِدِينَ فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ ٱلْمُتَّقِينَ كَٱلْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢٩﴾ ﴾

[۲۷] او مونږ اسمان او ځمکه او (هم) هغه شیان کوم چې د دواړو ترمنځ (موجود) دي، باطل (عبث) نه دي پیدا کړي (چې په پای کښې تصفیه ونه لري).

دغه د هغو کسانو گومان دی کومو چې کفر غوره کړی دی، نو هغو کسانو ته وَیل (افسوس) دی کومو چې کفر غوره کړی دی (دغه وَیل) د اُور څخه عبارت دی.

[۲۸] ایا مونږ هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او صالح عملونه یې کړي دي، په ځمکه کښې د مفسدانو غوندې وگرځوو؟ یا مونږ به متقیان کسان د سختو فاجرانو غوندې وگرځوو؟ (که بالفرض د قیامت ورځ قائمه نه شي نو په دواړو صورتونو کښې به مساوات راشي).

[۲۹] (ای پیغمبره! دا قرآن کریم یو) داسې کتاب دی چې تاته (بل چا نه بلکې) مونږ درنازل کړی دی (دا په دنیا او آخرت کښې ډېر) برکتناک (کتاب) دی، (البته دا) د دې دپاره چې خلک یې په ایتونو کښې تدبر (او تفکر) وکړي (او خپل مشکلات ورباندې حل کړي) او (هم) د دې دپاره چې د عقلونو خاوندان ترې پند واخلي (او په سمه سیده لاره باندې روان شي).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ وړاندېنې ایتونه د ﴿ يَوْمَ ٱلْحِسَابِ ﴾ په ذکر باندې ختم شوي وه، او په دې ایتونو کښې د همدغې ورځې په واقعیت او ضرورت باندې رڼا اچولې شوې ده چې په لاندې ډول د الله ﷻ په توفیق توضیح کېږي:

۲ـ په ﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَٰطِلًا ﴾ کښې د "بَاطِل" کلمه د "حَق" د کلمې نقیضه ده. او د ضیاع (عبث) معنی ورکوي[۱]. یعنې مونږ دنیا بې حکمته نه ده پیدا کړې چې عبثه وي او په نتیجه کښې حساب کتاب ونه لري.

په همدې مضمون باندې بل ایت هم دلالت کوي چې: ﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ

---

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۵۶؛ القاموس المحیط ج۱ ص۲۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴾ [المؤمنون: ۱۱۵] يعني ايا تاسو ګومان کوئ چې يقيناً مونږ تاسو عبث (بې حکمته) پيدا کړي ياست او يقيناً تاسو به مونږ ته راجع نه کړی شئ؟ (دا ګومان مه کوئ).

۳ـ د ﴿ أَمْ نَجْعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ الآية- په مضمون باندې نور ايتونه هم نازل شوي دي چې د قيامت د قيام په ضرورت باندې دلالت کوي لکه [الجاثية: ۲۱] ايت.

۴ـ مونږ په ﴿ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ ﴾ کښې د ﴿ مُبَٰرَكٌ ﴾ کلمه د [الأنعام: ۹۲] ايت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بيا شرحه کولو ته يې اړتيا نه ګورو، هيله ده چې د قرآن کريم د برکاتو د پېژاندلو دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

﴿ وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيْمَٰنَ ۚ نِعْمَ ٱلْعَبْدُ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾ إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِٱلْعَشِيِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلْجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ إِنِّىٓ أَحْبَبْتُ حُبَّ ٱلْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّى حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِٱلْحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا عَلَىَّ ۖ فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلْأَعْنَاقِ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَٰنَ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَهَبْ لِى مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِى لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجْرِى بِأَمْرِهِۦ رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٣٨﴾ هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۰] او مونږ داوُد ﷺ ته سليمان ﷺ (زوی) وربښلی وه، چې (زمونږ) ډېر ښه بنده وه، يقيناً سليمان ﷺ (خپل رب ﷻ ته) ډېر رجوع کوونکی وه.

[۳۱] (ته هغه) وخت (ياد کړه) چې په سليمان ﷺ باندې په ماښام مهال کښې کره (او) ګړندي آسونه وړاندې کړی شو (ترڅو يې معاينه کړي).

[۳۲] نو سليمان ﷺ وويلې چې: يقيناً زه د خير (آسونو) محبت د خپل رب ﷻ د ذکر (او جهاد) د کبله خوښوم.
(د آسونو وړاندې کولو ترهغه وخته ادامه وکړه) ترڅو چې د لمر ټيکلی په حجاب (أفق) کښې شو (او غروب يې وکړ).

[۳۳] (سليمان ﷺ خپل عساکر مخاطب کړه چې) تېر شوي آسونه په ما باندې بېرته راناو کړئ، (کله چې درباندې بېرته راستانه کړی شو) شروع يې وکړه چې د آسونو پښې او غاړې يې (په خپلو لاسونو سره مسه او خرخره کړې) مسه کول (خرخره کول).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۴] او یقیناً مونږ سلیمان ﷺ په امتحان (ازمویښه) کښې واقع کړ او د ده ﷺ په تخت باندې مو یو جسد (د غوښې بوټی) ورواچاوله (چې سدستې سلیمان ﷺ پوه شو او) بیا یې (خپل رب ﷻ ته) رجوع وکړه.

[۳۵] (او) ویې ویلې چې ای زما ربه! ماته (د خلاف الأولی د ارتکاب) مغفرت وکړې او داسې پاچاهي راوبښې (راکړې) چې زما څخه په غیر بل هیچا ته مناسبه نه وي، بې شکه ته هم دا ته ډېر بښونکی یې.

[۳۶] نو مونږ سلیمان ﷺ ته باد (هوا) مسخره کړه چې د ده ﷺ په امر به هغه ځای ته نرم چلېده کوم ته به چې هغه ﷺ اراده کړې وه (چې لاړ شي).

[۳۷] او (مونږ سلیمان ﷺ ته) شیطانان هر تعمیر جوړونکی او په دریاب کښې هر غوپه وهونکی (هم مسخر کړي وه).

[۳۸] او (مونږ سلیمان ﷺ ته) نور سرکشه شیطانان (هم) په داسې حال کښې (مسخر کړځولي وه) چې په زنځیرونو (او ولچکونو) کښې پیوسته کړی شوي (تړلي شوي) وه (ترڅو تادیب شي او خلک یې د ضررونو څخه بچ شي).

[۳۹] (ای سلیمانه!) دغه زمونږ بدون د حسابه ورکړه (عطیه) ده، نو ته (یکښې) احسان کوه، یا یې سپموه (په تاباندې هیڅ نیونه نشته).

[۴۰] او یقیناً زمونږ په نزد د سلیمان ﷺ دپاره نژدې رتبه او د بېرته ورتګ ښایسته ځای دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندې څخه په دې کښې خبره را روانه ده چې نبي کریم ﷺ ته د داوُد ﷺ د حالاتو په ذکر باندې تسلي او داډ ورکړی شي ترڅو د کفارو په مقابل کښې صبر او استقامت ته ادامه ورکړي. خو د څه مناسباتو د کبله په وړاندېنیو نژدې ایتونو کښې د قیامت د ورځې د راتللو په ضرورت باندې هم رڼا واچولی شوه.

په دې ایتونو کښې یو ځل بیا د کلام مخ د نبي کریم ﷺ د ډاډ او تسلي لور ته اړولی شوی دی، او دا ځل د همدغه مطلب دپاره د سلیمان ﷺ د حالاتو ذکر صورت نیولی دی، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د خپل ځان د ډاډینې دپاره او صبر ته د ادامې ورکولو دپاره لاندې مطالب په ذهن کښې ونیسه.

۱ـ کوم فضائل چې مونږ داوُد ﷺ ته ورکړي وه د هغو څخه یو فضیلت دا وه چې مونږ ورته د سلیمان ﷺ غوندې زوی وربښلی وه، چې لاندې صفات یې درلوده:

الف: سلیمان ﷺ زمونږ ډېر ښه بنده وه او په بندګۍ کښې ډېر مخلص وه.

ب: سلیمان ﷺ د خپل پلار (داوُد ﷺ) غوندې مونږ ته ډېر رجوع کوونکی وه. او د خلاف الأولی په ارتکاب باندې ډېر زر پښېمانه کېدونکی وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: سليمان ﷺ لوی مجاهد وه او جهادي وسائل يې ډېر خوښېده. د مثال په توګه:
د: ته هغه وخت ياد کړه چې د جهادي آسونو معاينه او کتنه يې سبا ته ټال نه کړه او خپلو نوکرانو ته يې امر وکړ چې د بېګا د پلوه يې وربانديې وړاندې کړي چې ليدنه يې وکړي او مزه ترې واخلي.
هـ: ته هغه وخت ياد کړه کله چې په سليمان ﷺ باندې کره (صافن) اسونه ورووړاندې کړی شوه، چې په تللو کښې ډېر ګړندي (يېرغه) وه او د درېدلو په وخت کښې به په درېوو پښو درېده او د ځلورمې پښې فقط د سوم نوک به يې په ځمکه لګاوه.
و: نو سليمان ﷺ وويلې چې: زه د جهادي اسونو مينه او محبت د خپل رب ﷻ د ذکر د کبله خوښوم چې دا د جهاد وسائل دي او د الله ﷻ د توحيد کلمه وربانديې لوړېږي.
ز: ذکر شوي اسونه د سليمان ﷺ د کتنې ځخه تېرېدل، آن تردې چې د لمر ټيکلي غروب وکړ او د اُفق ځخه بښکته شو.
ح: په دغه وخت کښې يې نوکرانو ته امر وکړ چې ذکر شوي جهادي اسونه يو ځل بيا په ماباندې راتاو کړئ چې د ليدلو ځخه يې يو ځل بيا خوند او لذت واخلم او يو ځل يې بيا وګورم.
ط: کله چې نوکرانو وربانديې اسونه بېرته وروګرځول نو دا ځل يې يوازې په ليدنه او کتنه باندې اکتفاء ونه کړه بلکې په پښو او غاړو سره يې خرخره کړه او په خپلو مبارکو لاسونو باندې يې يالونه وربرابر کړه او د جهاد محبت يې ټولو ته ډېر ښه ورڅرګند کړ.
۲ـ ای پيغمبره! سليمان ﷺ د عالي شان سره-سره مونږ د امتحان لاندې ونيوه او د امتحان په نتيجه کښې مو د هغه په تخت باندې يو بنيادم ورواچاوه چې خلقت يې ناقص وه، نو سمدستي سليمان ﷺ په خپله ناکامۍ باندې پوه شو او خپل رب ﷻ ته يې رجوع وکړه او سوال يې وکړ چې:
الف: ای زما ربه! ماته مغفرت وکړې او د عتاب ځخه راتېر شې چې په امتحان کښې پاتې راغلم.
ب: ای زما ربه! ماته برسېره په مغفرت داسې پاچاهي راوبښې چې زما ځخه وروسته بل چاته مناسبه نه وي.
ترڅو ترې په جهاد کښې کار واخلم او ستا د توحيد کلمه په ډېر قوت سره خوره کړم او د دنيا هرې څنډې ته يې ورسوم.
ج: ای ربه! بې شکه يوازې همدا ته ډېر ښښونکی او مهربان يې چې هرڅه دې د وسې پوره دي او هر څه کولی شې.
۳ـ ای پيغمبره! مونږ د سليمان ﷺ سوال قبول کړ او برسېره په مغفرت مو ورته داسې مثالي پاچاهي ورکړه چې مميزات يې دا دي:
الف: مونږ سليمان ﷺ ته باد مسخر کړ چې د ده ﷺ په امر سره به ډېر پوست او نرم چليده او هرځای ته به چې سليمان ﷺ نيت او اراده وکړه همغلته به په ډېرې اسانۍ سره ورالوت.
ب: مونږ سليمان ﷺ ته پيريان (دېوان) او قوي شيطانان هم تابع ګرځولي وه او د همدوی د جملې ځخه د تعميراتو هر يو جوړونکی ورته منقاد وه، او په درياب کښې هر يو غوټه وهونکی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته غاړه اېښودونکې وه چې ملغلرې او نور جواهر ورته راوباسي.

ج: په دې باندې علاوه څينې نور شرير پېريان مو هم ورته مسخر ګرځولي وه چې د سليمان ﷺ په امر باندې به په زولنو او غرابونو کښې تړلي شوي او بنديان کړی شوي وه.

د: مونږ سليمان ﷺ مخاطب کړی وه چې ذکره شوي قوي پاچاهي يوازې زمونږ ورکړه ده چې تاته مو په امتيازي توګه دربښلې ده، نور نو ستا اختيار دی چې په چا باندې احسان کوې او که تري نيسي يې، او هم ستا خوښه چې د بنديانو څخه څوک خوشې کوې او که په بند کښې يې ساتې، په تاباندې زمونږ د پلوه هيڅ محاسبه نشته، او د قيامت په ورځ به يې درڅخه پوښتنه ونه کړه شي چې دا دې ولې کړي دي او هغه دې ولې نه دی کړی؟

۴_ ای پیغمبره! يقيناً زمونږ په نزد د سليمان ﷺ دپاره ډېره نژدې رتبه ده او هم ورته زمونږ په نزد د بېرته ورګرځېدلو ډېر ښه او ښايسته ځای دی.

## توضيحات

۱_ په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ ﴾ کښې د "عَشِي" کلمه _لکه چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [ص:۱۸] ايت لاندې ليکلي دي_ د هغه وخت دپاره وضعه شوې ده کوم چې د لمر د زوال څخه پيل کېږي او په سهار باندې ختمېږي. خو ذکره شوي کلمه کله-کله يوازې د ورځې په آخر (مازيګر) باندې هم دلالت کوي او بس[۱].

مونږ ته په دې مقام کښې همدغه معنی په زړه پورې برېښي چې د ﴿ تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴾ د جملې سره ډېر ښه تړاو لري چې تحقيق يې راروان دی، ان شاء الله ﷻ.

ب: په ﴿ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ ﴾ کښې د "صَافِنَات" کلمه د "صافن" جمعه ده چې د هغه آس او يا اسپې دپاره وضعه شوې ده کوم چې د دربدلو په وخت کښې خپلې درې پښې په څمکه باندې کلکې کېږدي او د څلورمې پښې د سوم څوکه د ځمکې سره وصل کوي[۲].

ج: او د ﴿ الْجِيَادُ ﴾ کلمه پکښې د "جَوَاد" _لکه "سَرَاب"_ جمعه ده، "جَوَاد" د هغه آس يا اسپې دپاره وضعه شوی دی کوم چې په خپل ټول قوت سره ځغلې او لټې او سستي نه کوي[۳].

د: څرنګه چې د آسونو صفات (مذکر او مؤنث) دواړه په سالمه مؤنثه جمعه باندې جمعه کېدی شي[۴]، نو د ﴿ الصَّافِنَاتُ ﴾ کلمه دلالت نه کوي چې په ذکرو شوو آسونو کښې نر آس موجوديت نه درلود او ټولې به ښځې اسپې وې.

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۲۳۵
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۲۴۸
(۳) مفردات الراغب ص۱۰۱
(۴) روح المعاني ج۱۳ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: د دغو آسونو په تعداد کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۱] لکه: شل زره، یو زر، دیارلس زره او فقط شل، خو مونږ ته بهتره برېښي چې د دغو آسونو تعداد به هغې اندازې ته رسېده د کومو چې د مازیګر په لنډ وخت کښې معاینه کول ممکن وه، نو پوره واضحه ده چې شمېر به یې زرو یا زرونو ته نه رسېده، بلکې د شلو څخه نیولې تر شپېتو شاوخوا به وه، والله ﷻ اعلم.

و: د ذکرو شوو آسونو په معاینه باندې څکه سلیمان ﷺ ناوخته (مازیګر) پیل کړې وه ـ والله ﷻ اعلم ـ چې هغه ډېر عجیبه وه چې[۲]:

اول: د یو پلوه د دریاب څخه په خارق العاده توګه ورویستلي شوي وه.

دوهم: او د بله پلوه یې دوه دوه وزرې درلودې، د دغه ډول آسونو ورکړې د الله ﷻ د پلوه په سلیمان ﷺ پورې اختصاص درلود.

ز: همدې مضمون ته عائشه رضی الله عنها په یوه اورېده حدیث کښې اشاره کوي او وایي چې: زه کوچنۍ ماشومه وم په نانزکو (ګوډیو) مې ساتیرې کوله په دغو نانزکو کښې داسې یو آس هم شامل وه چې د کپړې دوه وزرې یې درلودې، نو نبي کریم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چې ایا آس هم وزرې لري؟ نو ما جواب ورکړ چې: «أَمَا سَمِعْتَ أَنَّ لِسُلَيْمَانَ خَيْلًا لَهَا أَجْنِحَةٌ» ایا تا نه دي اورېدلي چې یقینًا د سلیمان ﷺ په ملکیت کښې داسې آسونه هم شامل وه چې وزرې یې درلودې؟، «فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ حَتَّى رَأَيْتُ نَوَاجِذَهُ»[۳] یعنې نو نبي کریم ﷺ (زما د حاضر جوابۍ د امله) وخندل آن تردې چې ما یې دواړه انیاب غاښونه ولېدل (کوم چې د نورو غاښونو څخه لږ څه لوړ دي).

ح: په ﴿إِنِّىٓ أَحْبَبْتُ حُبَّ ٱلْخَيْرِ﴾ کښې د "خَيْر" د کلمې څخه په دې مقام کښې آسونه مطلب دي[۴]، چې خیر ورسره تړلی دی. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْأَجْرُ وَالْغَنِيمَةُ»[۵] یعنې آسونه چې دي په اوچولو کښې یې خیر غوټه کړی شوی دی چې تر قیامته به دوام وکړي، خیر د اجرونو او غنیمتونو څخه عبارت دی.

ط: په ﴿عَن ذِكْرِ رَبِّى﴾ کښې د "عَنْ" توری په ﴿أَحْبَبْتُ﴾ پورې تعلق نیسي، دا د یو پلوه، او د بله پلوه دغه توری تقریبًا د لسو معناوو دپاره استعمالېږي[۶]، چې یوه معنی یې تعلیل ده، او په دې مقام کښې همدغه معنی بهتره برېښي. یعنې زه د جهادي آسونو محبت د خپل رب ﷻ د ذکر د کبله خوښوم ترڅو ورباندې جهاد وکړو.

ي: په ﴿حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِٱلْحِجَابِ﴾ کښې د ﴿حَتَّىٰ﴾ توری د ﴿إِذْ عُرِضَ﴾ سره ارتباط لري.

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۳۳۴، تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۳
(۲) الدر المنثور ج۷ ص۱۷۷
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۳۱۹
(۴) تفسیر الکشاف ج۴ ص۹۲
(۵) سنن النسائي ج۲ ص۱۲۳
(۶) القاموس المحیط ج۳ ص۳۳۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا: ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ تَوَارَتْ ﴾ ضمیر ﴿ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلْجِيَادُ ﴾ ته راجع ګڼلی دی[۱]، یعني آن تردې چې آسونه د سلیمان ﷺ د نظره په حجاب او پرده کښې پرېوتل.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکر شوی ضمیر به د "الشَّمْس" کلمې ته راجع وي، په کومې باندې چې د ﴿ بِٱلْعَشِيِّ ﴾ کلمه د اشارې په توګه دلالت کوي؛ یو ځل وړاندې د "الف" نکتې ته مراجعه وکړئ. مونږ ځکه ذکره شوې مرجع غوره کړه چې د لمر د ټیکلي ځنډې ته "حَاجِب" وایي[۲] چې د ﴿ بِٱلْحِجَابِ ﴾ سره ډېر ښه تناسب لري. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ فَأَخِّرُوا الصَّلَاةَ حَتَّى تَبْرُزَ وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَأَخِّرُوا الصَّلَاةَ حَتَّى تَغِيبَ»[۳] یعنې کله چې د لمر د ټیکلي ځنډه د اُفق څخه څرګنده شي نو تاسو لمونځ وروسته کړئ آن تردې چې ښه څرګنده شي (او د اُفق څخه را اوچته شي)، او کله چې د لمر د ټیکلي ځنډه په اُفق کښې غائبه شي نو (دلته هم) لمونځ تر هغه وخته پورې وروسته کړئ ترڅو چې ټول ټیکلی غائب شي او د اُفق څخه بنکته شي.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: د آسونو معاینې تر هغه وخته دوام وکړ ترڅو چې د لمر ټیکلی د اُفق څخه ښکته شو او مابنام شو. یا په بل عبارت: سلیمان ﷺ د آسونو معاینه په رڼا کښې په سترګو وکړه او په تیاره کښې یې په مبارکو لاسونو معاینه کړه چې خرخره یې کړه.

یب: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ رُدُّوهَا عَلَيَّ ﴾ په ضمیرونو کښې څه غیر متبادر احتمال لیکلي دي[۴]، خو کوم احتمال چې متبادر دی هغه دا دی چې:

د ﴿ إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ ﴾ څخه څرګندېږي چې په ﴿ رُدُّوهَا عَلَيَّ ﴾ کښې به په مرفوع ضمیر سره خدمتګاران (د آسونو وړاندې کوونکي) مخاطب ګرځولی شوي وي او منصوب ضمیر به پکښې آسونو ته راجع وي، چې بحث پکښې روان دی.

یج: ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ مَسْحًۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلْأَعْنَاقِ ﴾ کښې د ﴿ مَسْحًا ﴾ کلمه د "ضَرْبًا" په معنی سره اخستې ده او د مجبوریت د کبله یې د "بِالسَّيْف" کلمه دلته مقدره ګڼلې ده[۵]. یعنې سلیمان ﷺ شروع وکړه او د جهادي آسونو پښې او غاړې یې په توري سره ووهلې.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې د ﴿ مَسْحًا ﴾ کلمه په خپله متبادره معنی سره پاتې شي لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوې ده[۶]، چې د مقام په لحاظ سره ترې په خرخره کولو سره تعبیر کولی شو.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۳۱
(۲) لسان العرب ج۱ ص۲۹۹
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۲۷۵، مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۲۶
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۱۹۶
(۵) تفسیر الکشاف ج۴ ص۹۳
(۶) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۵۶، الدر المنثور ج۶ ص۱۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې کله چې آسونه د دوهم ځل دپاره د سليمان ﷺ په وړاندې راتاو کړی شوه نو سليمان ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو سره د تواضع په توګه او د جهاد په خاطر د هغو پښې او غاړې خرخره کړې، او مبارک لاسونه يې ورپورې وموښل.

همدې مضمون ته په لاندې احاديثو کښې اشاره شوې ده:

اول: «نهى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ نَتْفِ أَذْنَابِ الْخَيْلِ وَأَعْرَافِهَا وَنَوَاصِيهَا»[۱] يعنې نبي کريم ﷺ د آسونو د لکيو د ويښتانو او د آسونو د يالونو او هم د تنديو د ويښتانو د ويستلو څخه منعه کړې ده.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَارْتَبِطُوا الْخَيْلَ وَامْسَحُوا بِنَوَاصِيهَا وَأَعْجَازِهَا»[۲] يعنې او تاسو د جهاد دپاره آسونه وتړئ (وساتئ) او تندي او کوناټي يې مسه کړئ (خرخره کړئ).

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي: چې په ﴿ وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَـٰنَ ﴾ کښې د ﴿ فَتَنَّا ﴾ د کلمې په بنياد سليمان ﷺ د الله ﷻ د پلوه د څه امتحان سره مخامخ شوی وه؛ نو دغه امتحان په څه ډول صورت نيولی وه؟

مونږ وايو چې: د دغه امتحان په هکله ځينو مفسرينو کرامو زښتې ډېرې قيصې ليکلې دي چې ځينې تکې بالکل د نبوت د منصب سره منافي دي[۳]. غالبه دا ده چې دغه قيصې به د اسرائيلياتو څخه وي[۴]. که څوک يې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

خو کوم شی چې مونږ ته غوره برېښي او د ايت شريف سره نژدې ارتباط درلودلی شي هغه ته په يوه حديث شريف کښې اشاره شوې ده:

ابو هريره ﷺ وايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ دَاوُدَ ﷺ قَالَ لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى سَبْعِينَ امْرَأَةً تَلِدُ كُلُّ امْرَأَةٍ غُلَامًا فَطَافَ عَلَيْهِنَّ فَلَمْ تَلِدْ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ نِصْفَ غُلَامٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ لَكَانَ كَمَا قَالَ»[۵].

دغه حديث شريف په لږ تفاوت سره نورو محدثينو کرامو هم روايت کړی دی[۶] چې مونږ يې ـ د الله ﷻ په توفيق ـ په لاندې ټکو کښې په لږ څه شرحې سره خلاصه کوو:

الف: يوه ورځې سليمان ﷺ په سوګند سره وويلې چې: زه به بېګاه شپې ته په خپلو اويا (۷۰) مېرمنو باندې د جنسي ارتباط په ملحوظ دوره ووهم، او په همدغې دوره کښې به ټولې اُميدوارې شي او هره يوه به يو-يو هلک وزېږوي (چې د الله ﷻ په لاره کښې به جهاد وکړي).

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۲۰۰
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۹
(۳) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۳۳؛ تفسير البغوي ج۴ ص۶۱؛ زاد المسير ج۶ ص۳۳۸؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۲۰۲؛ الدر المنثور ج۷ ص۱۷۸
(۴) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۵
(۵) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۰
(۶) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۷؛ صحيح مسلم ج۲ ص۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: سليمان ﷺ د خپلې ذکرې شوې وينا سره د "ان شاء الله" کلمات ضميمه نه کړه، نو څه د خلاف الأولى مرتکب شو.

ج: په نتيجه کښې فقط يوه مېرمن اُميدواره شوه او بس، او همدغې يوې مېرمنې هم داسې ماشوم ونه زېږاوه چې د جهاد قابل وي، بلکې يو ناقص الخلقت ماشوم يې وزېږاوه.

د: د همدغه ناقص الخلقت هلک څخه الله ﷻ په ﴿ جَسَدًا ﴾ سره تعبير کړى دى[۱] او همدغه هلک ته د بوټي، غوښې لقب ورکړى شوى دى چې په جهاد کښې ترې کار نه اخستلى کېږي.

ه: د ذکر شوي نيمګله هلک د ورېښلو څخه الله ﷻ په ﴿ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا ﴾ کښې په "إلقاء" (وراچولو) سره تعبير کړى دى، چې د عتاب ورمه ترې پورته کېږي.

دا هم څه لرې نه ده چې د کومې خدمتګارې (وينځې) په لاس ذکر شوى ماشوم سليمان ﷺ ته په داسې حال وړاندې کړى شوى وي چې سليمان ﷺ په سلطنتي تخت باندې قرار درلود.

و: کله چې سليمان ﷺ خپل ناقص الخلقت ماشوم وليد نو پوه شو چې په امتحان کښې اچولى شوى دى چې د خپل پخواني سوګند سره يې د "إن شاء الله ﷻ" کلمات نه دي ضميمه کړي او په همدې سبب د خلاف الاولى مرتکب شوى دى، چې د ده ﷺ د عالي شان سره مناسب نه وه.

ز: همدغه مطلب ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې که سليمان ﷺ د خپل سوګند سره ذکر شوي کلمات ضميمه کړي وى نو همغسې به شوي وى لکه څنګه چې د سليمان ﷺ نيت وه، يا په بل عبارت: الله ﷻ به ورته په همدغې يوې شپې کښې اويا (۷۰) تنه مجاهدين زامن وربښلي وى.

ح: کله چې د سليمان ﷺ ذکر شوې فرضيه ناکامه شوه، نو برسېره په مغفرت غوښتلو باندې يې د خپل رب ﷻ څخه دا هم وغوښتل چې: اى زما ربه! ماته بې مثله قوي پاچاهي راوبښې چې ستا په لاره کښې جهاد وکړم او په هر ګوټ کښې د توحيد کلمه خوره کړم.

## څو مطالب

۳ـ په دې مقام کښې بايد لاندې څو مطالب په ذهن کښې وساتلى شي:

الف: که څوک وايي چې الله ﷻ د سليمان ﷺ د خولې څخه د سوالونو په لړۍ کښې د ﴿ وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِيٓ ﴾ کلمات راحکايت کړي دي چې لږ څه د بخل ورمه ترې پورته کېږي، دا څکه چې د ﴿ مِّنۢ بَعْدِيٓ ﴾ کلمات مفسرينو کرامو په "مِنْ غَيْرِي" سره تفسير کړى دى[۲]، يعنې اى ربه! ماته داسې پاچاهي راوبښې چې زما څخه په غير بل چاته مناسبه نه وي.

مونږ وايو چې: د بخل ورمه به ترې په هغه وخت کښې پورته شوې وى چې د ﴿ لَا يَنۢبَغِي لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِيٓ ﴾ په عوض "لَا تُعْطِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي" کلمات راحکايت شوي وى، يعنې اى ربه! ماته داسې پاچاهي راکړې چې زما څخه په غير يې بل هيچا ته نه ورکوې (نه داسې پاچاهي چې زما څخه

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۹۸

(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۲۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په غیر بل ځا ته مناسبه نه وي).
ب: د کومې پاچاهۍ سوال چې سلیمان ﷺ کړی وه، هغه ورته الله ﷻ قبول کړ، او مناسبه پاچاهي یې ورکړه چې څه امتیازاتو ته یې په ﴿ فَسَخَّرْنَا لَهُ ٱلرِّيحَ ﴾ الآيات- کښې اشاره شوې ده، چې تفصیل یې په [الأنبياء:۸۲] او [سبأ:۱۲، ۱۳] ایتونو کښې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ.
ج: دا ډول پاچاهي ځکه د سلیمان ﷺ سره مناسبه وه چې په هغې زمانه کښې په پاچاهیو کښې منافسه او مفاخره روانه وه، نو د وخت پیغمبر ته داسې پاچاهي مناسبه وه چې هیڅوک ورسره پکښې سیالي ونه کړی شي او د نبوت دپاره یې معجزه وګرځي.
د: الله ﷻ هر پیغمبر ته د هغه وخت او د هغه د حال سره مناسب او مطابق معجزات ورکړي دي.
د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:
اول: د موسی ﷺ په زمانه کښې جادو ډېر پرمختګ کړی وه نو الله ﷻ هغه ﷺ ته د اژدها معجزه ورکړه چې د جادو بنیاد یې ورباندې وویست.
دوهم: عیسی ﷺ ته الله ﷻ د احياء الأموات (د مړو د ژوندي کولو) معجزه ورکړه چې د وخت پرمختللي ډله (طبیبیان) ورته هک پک پاتې شوه.
دریم: ځرنګه چې د محمد ﷺ د نبوت زمانه د قیامت تر ورځې پورې غزېدلې ده، چې وخت په وخت پکښې مختلف شیان اوج ته رسېږي او ترقي کوي، نو الله ﷻ خپل آخر الزمان پیغمبر ﷺ ته د قرآن کریم دائمي لویه معجزه ورکړه چې په هره زمانه کښې مترقي ډله په تحیر کښې اچوي او د معجزې په شکل ورځرګندېږي.
یا په بل عبارت: لکه ځنګه چې قرآن کریم د نزول په ابتداء کښې فصیحان او بلیغان حیران کړي وه همدارنګه په هره زمانه کښې مترقي ډله حیرانوي او د معجزې په شکل خپل ځان ورځرګندوي.
ه: د ذکر شوي مناسبت د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث شریف ولولئ:
یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِي فَأَمْكَنَنِي اللهُ مِنْهُ فَأَخَذْتُهُ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبُطَهُ عَلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِي سُلَيْمَانَ ﴿رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي﴾ فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا»[1] یعني یقینًا د پېریانو ځخه یو توي پیری په ماباندې تېره شپه ناڅاپه راخوشي شو، ترڅو راباندې لمونځ پرې کړي، خو الله ﷻ ماته ورباندې توان راکړ، نو کلک مې ونیوه، نو اراده مې وکړه چې د جوماټ د ستنو ځخه یې په یوې ستنې پورې وتړم چې تاسو ټول یې وګورئ. خو په دغه وخت کښې د خپل ورور سلیمان ﷺ غوښتنه راپه زړه شوه چې: ای زما ربه! ماته مغفرت وکړې او داسې پاچاهي راوبښې چې زما ځخه پرته بل هیچا ته مناسبه نه وي، نو د همدې کبله مې نوموړی د ذلت درلودلو په حال کښې بېرته وشاړه.
و: د ﴿ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلْأَصْفَادِ ﴾ غوندې کلمات د [إبراهيم:۴۹] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه

---
[1] صحیح البخاري ج۱ ص۴۸۷

Scanned by CamScanner

پوره تحلیل شوي دي چې تکراري تحلیلولو ته اړتیا نه ګورو.

ز: بالآخره سلیمان ﷺ خلوبښت کاله پاچاهي کړې وه، چې شل کاله عادي پاچاهي وه او وروستني شل کاله معجزانه پاچاهي وه^(۱)، د بلقیسې قیصه په وروستنیو شلو کالو کښې پېښه شوې وه لکه چې د الله ﷻ په توفیق د [النمل ۴۴] ایت لاندې ورته اشاره شوې ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ هَـٰذَا عَطَآؤُنَا ﴾ کښې په "هذا" سره څه شي ته اشاره ده؟

مونږ وایو چې: د دغې اشارې په ارتباط مفسرینو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي^(۲)، مو بهتره دا ده چې په "هذا" سره د مذکور په تاویل سره وړاندې ټولو مضامینو ته اشاره وکړه شي

یعنې: ای سلیمانه! مونږ تاته بې مثله پاچاهي درکړې ده او زښت ډېر امکانیات مو درته په لاس کښې اچولي دي، خو د دې سره-سره په تاباندې هیڅ ډول مواخذه او نیونه نشته، ته په تصرف کښې ازاد یې، چې چاته څه ورکوې او که ترې یې ایساروې، همدارنګه پېریان هم ستا په اختیار کښې دي چې بندیان یې ساتې او که احسان ورسره کوې او د بندیتوب څخه یې خوشې کوې

﴿ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ وَعَذَابٍ ٤١ ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ٤٢ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٤٣ وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡۗ إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ٤٤ ﴾

[۴۱] او (ای پیغمبره!) زمونږ بنده ایوب ﷺ (هم د ذاړینې دپاره) یاد کړه، کله یې چې خپل رب ﷻ ته اواز (سوال) وکړ، چې: (ای زما ربه!) یقیناً زه په سختۍ او عذاب سره شیطان مسه کړی یم (نو ماته ترې نجات راکړې).

[۴۲] (مونږ یې سوال قبول کړ او ورته مو وویلي چې:) په خپلې پښې سره (ځمکه) ووهه (او ورکړه چې د لغتې سره سم چینه روانه شوه، نو مونږ ورته توصیه وکړه چې) دغه (چینه ستا) د غسل کولو یخ ځای دی او د څښلو اوبه دي (هم ورباندې غسل وکړه او هم پرې خپل ځان خړوب کړه).

[۴۳] او مونږ د خپله جانبه د لوی رحمت د کبله او د سوچه عقلونو خاوندانو ته د پند او عبرت) د کبله ایوب ﷺ ته (هلاکه شوې) کورنۍ او د دوی سره د دوی مثل (هم وروبانده (دوه چنده) عوضونه مو ورکړه).

[۴۴] او (ارشاد مو ورته وکړه چې:) په خپل لاس سره د خاشاکو یوه موټۍ واخله، او ...

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۲۸

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۰۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مېرمن) ورباندې ووهه (چې د سوګند څخه خلاص شي) او (خپل خان) مه حانث کوه (چې خپل سوګند ترسره نه کړې).

یقیناً مونږ ایوب ﷺ (په مصائبو کښې) صبر کوونکی مونده کړ، (ایوب ﷺ زمونږ) ډېر ښه بنده وه، یقیناً ایوب ﷺ (مونږ ته) ډېر رجوع کوونکی وه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو غوندې د نبي کریم ﷺ ډاډینه او تسلي په نظر کښې نیولې شوې ده او د ایوب ﷺ څه حالات پکښې نازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

اې پیغمبره! د خپل ډاډ او تسلی دپاره زمونږ د مخلص بنده ایوب ﷺ څه حالات درپه زړه کړه چې څومره صبر کوونکی وه او مونږ ته څومره ښه راجع کېدونکی وه، هغه دا چې:

۱ـ ایوب ﷺ د خپل رب ﷻ د پلوه د امتحان او د درجاتو اوچتولو دپاره په څه مرض باندې اخته شو، چې څه وخت وروسته یې د سوال لاسونه پورته کړه او خپل رب ﷻ ته یې په اوچت اواز سره داسې سوال وکړ چې:

۲ـ اې زما ربه! یقینا ماته شیطان مشقت او زحمت را رسولی دی او په عذاب باندې یې اخته کړې یم، یا په بل عبارت: که بالفرض زه د شیطان د وسوسې د امله د څه خلاف الاولی مرتکب شوی نه وی، نو په دغو مشکلاتو باندې به نه وی اخته شوی په کومو باندې چې اوس اخته یم.

نو اې زما ربه! ماته د دغو مشکلاتو څخه نجات راکړې.

۳ـ مونږ د ایوب ﷺ سوال قبول کړ او ارشاد مو ورته وکړ چې:

الف: اې ایوبه! دغه یخه او سړه چینه ده، چې ستا د غسل ځای دی او هم پکښې سیېځلې اوبه بهېږي چې ستا د څښلو دپاره ډېرې مناسبې دي.

نو نه په دغې چینې کښې غسل وکړه چې ظاهري بدن دې روغ رمټ شي او هم د همدغې چینې د اوبو څخه څه نوش جان کړه چې د باطني مرض څخه خلاص شې.

ب: ایوب ﷺ ذکر شوی ارشاد عملي کړه نو د ظاهري (جلدي) ناروغیو او هم د باطني (داخلي) ناروغیو څخه سمدستي خلاص شو او ظاهراً او باطناً روغ رمټ وګرځېد.

۴ـ ایوب ﷺ د بدني مصیبت څخه علاوه په نورو مصیبتونو باندې هم مبتلا شوی وه چې په خپل کور کښې یې یوازې مېرمن ژوندۍ پاتې وه او نور ټول اهل یې پوپنا شوي وه او مالونه یې هم د هلاک سره مخامخ شوي وه.

نو کله چې د امتحان دوره پوره شوه د هلاکې شوې کورنۍ په تعداد مو ټول غړي ورونبېل بلکې زمونږ د رحمت د کبله مو د کورنۍ تعداد دوه چنده وروبانبه، او همدارنګه د هلاکو شوو مالونو تعداد مو هم په چندونو سره ورکړ.

۵ـ اې پیغمبره! په ایوب ﷺ باندې ذکر شوي انعام د دې دپاره صورت ونیوه ترڅو د قیامت تر ورځې پورې د عقلونو د خاوندانو دپاره د عبرت درس شي چې موقع په موقع ترې پند واخلي، او پوه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي چې صبر تريخ دی خو ډېره خوږه او پرېمانه مېوه لري. 

۶ـ برسېره په دې مونږ په ايوب ﷺ باندې يو بل رحمت هم ورعنايت کړه چې شرحه يې دا ده:

الف: ايوب ﷺ د خپل مرض په دوره کښې خپله مېرمن مخاطبه ګرځولې وه چې که زه روغ شوم او د وهلو توان مې وموند، نو په الله ﷻ سوګند دی چې هرو مرو به دې سل لرګي ووهم.

ب: نو کله چې مونږ ايوب ﷺ روغ رمټ وګرځاوه نو په سوګند کښې مو د عدم حنث طريقه هم وروښودله چې:

ج: ای ايوبه! ته په خپل لاس سره د وښو يوه داسې موټی واخله چې د ډکو شمېر يې سلو ته رسېږي، او بيا ورباندې خپله مېرمن په يو ځل ووهه، ترڅو ته د حنث څخه بچ شې او مېرمنې ته دې هم څه اذيت او ضرر ونه رسېږي، همدا عمليه زمونږ په نزد مقبوله ده.

د: ايوب ﷺ سمدستي ذکره شوې عمليه ترسره کړه او د حنث څخه ورباندې بچ شو.

هـ: مونږ ځکه ايوب ﷺ ته دغه عمليه وروښودله او د ټولو بدني او مالي مصيبتونو عوضونه مو ورکړه چې نوموړی مونږ په مصائبو کښې صبر کوونکی موندلی کړ، چې ثبات او استقامت يې هيڅ خراب نه شو.

و: ايوب ﷺ زمونږ ډېر ښه مخلص بنده وه او يقيناً مونږ ته ډېر رجوع کوونکی وه.

## توضيحات

۱ـ د ايوب ﷺ قيصه په ضروري تفصيل سره د [الأنبياء:۸۳، ۸۴] ايتونو څخه لاندې د الله ﷻ په توفيق تېره شوې ده چې بيا تفصيلولو ته يې اړتيا نه ګورو، خو د مقام په ارتباط ورباندې څو مطالب وراضافه کوو. هغه دا چې:

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ﴿ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ وَعَذَابٍ ﴾ کښې الله ﷻ مونږ ته حکايت وکړ، چې ايوب ﷺ خپله سختي او درد او رنځ شيطان ته نسبت کړ، حال دا چې د هر شي خالق يوازې الله ﷻ دی؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو ذکر شوی سوال په متعددو لارو سره جواب کړی دی[1]، خو کوم شی چې په جواب کښې بهتر برېښي هغه دا دی چې:

الف: ايوب ﷺ ته څه وخت په ذهن کښې تېره شوې وه چې نن ورځ زه د الله ﷻ په نعمتونو باندې شاکر يم خوکه بالفرض الله ﷻ زما څخه نعمتونه واخلي نو زه به په هغه وخت کښې پوره صابر جوړ شم[2] (شايد چې "إن شاء الله" به ترې هم هېره شوې وي).

کله چې ترې الله ﷻ خپل نعمتونه واخستل نو ايوب ﷺ ته خپله پخوانۍ فکريه وريه زره شوه او

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۱۸۴؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۴۲۸
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۲۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سمدستي يې د سوال لاسونه پورته کړه چې: ای زما ربه! ذکره شوې فکريه يوه شيطاني وسوسه وه او د همدغې وسوسې په سبب زه په مصائبو مبتلا شوم او د خلاف الاولی مرتکب شوم (چې إن شاء الله وبل مې هم هېر کړه)، ماته عفوه وکړه او د خلاف الاولی د ارتکاب څخه راتېر شه.

د دغه جواب يوه نظير ته په [الکهف:۶۳] ايت کښې اشاره شوې ده او همدلته وړاندې د الله ﷻ په توفيق ښه رڼا اچولې شوې ده.

ب: د هر شي خالق (بې شکه) الله ﷻ دی او بس، خو د حسن ادب دپاره بايد ورته مصائب او شرور نسبت نه کړی شي، چې د بې ادبۍ بوی ترې پورته کېږي. يا په بل عبارت: الله ﷻ د هر شي خالق دی چې بېزوګان او خنزيران او پليت شيان هم پکښې ټول شامل دي، خو هيڅ‌چا ته جواز نه لري چې روايي: "يا خالق القردة والخنازير والقاذورات"، ای د بيزوګانو او خنزيرانو او د پليتو شيانو خالقه![1]. د همدې مطلب لاندې وضاحتونه ولولئ:

اول: ابراهيم ﷺ خپله مريضتيا الله ﷻ ته نسب نه کړه، بلکې خپله روغتيا يې ورته منسوبه کړه. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ﴾ [الشعراء: ۸۰] يعنې او ابراهيم ﷺ کفارو ته د خپل رب ﷻ په وړېږندنه کښې وويلې، چې کله زه مريض شم نو ما رب العالمين روغوي (شفا راکوي).

دوهم: نبي کريم ﷺ په خپله يوه اوږده دعاء کښې فرمايلي دي چې: «وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ»[2] يعنې ای الله! ټول خير ستا په بلا کيفه لاسونو کښې دی، او ټول شرونه تاته (أدبًا) نه نسبت کېږي. دغه حديث شريف څينو شارحينو عليهم الرحمة ډېر ښه شرحه کړی دی[3].

دريم: که څوک د حسن ادب مراعات ونه کړي او يو دنياوي پاچا مخاطب کړي، چې ای د غلو او سودخورو پاچا! نو څومره بد به ښکاره شي، حال دا چې د هرې زمانې خصوصاً د دې زمانې رعيت او وګړي په غلو او سود خورو باندې اشتمال لري او د واقع سره برابره خبره ده، څه دروغ پکښې نشته.

## يادونه

۳_ په ﴿ارْكُضْ بِرِجْلِكَ﴾ کښې د ﴿ارْكُضْ﴾ کلمه د "رَكْض" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنبياء:۱۲] ايت لاندې ليکلي دي چې "ارْكُضْ" د لغتې دپاره وضعه شوی دی. يعنې ای ايوبه! ته په خپلې پښې سره ځمکه په لغته ووهه چې چينه ترې جاري شي، نو په همدغې چينې کښې غسل وکړه، او ترې د څښکلو کار واخله چې ظاهراً او باطنًا روغ رمټ شي.

## څو مطالب

لاندې مطالب په ذهن کښې ساتل په کار دي:

۴_ په ﴿وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا﴾ الآية، کښې لاندې ايت لاندې شرحه کړې ده، چې د [يوسف:۴۴] ايت لاندې شرحه کړې ده، چې

الف: د ﴿ضِغْثًا﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د

(۱) شرح المقاصد في العقائد ج۲ ص۱۴۵
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۲۶۳؛ سنن النسائي ج۱ ص۱۴۲
(۳) شرح النووي على صحيح مسلم ج۱ ص۲۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ص(۲۸)
هغې موتې یا ورې ګېډۍ ځخه عبارت ده کومې چې د مختلفو (ورو او غټو) ډکو څخه تشکیل موندلی وی، که بالفرض مونږ ترې په دې مقام کښې په "جارو" سره تعبیر وکړو نو هم بده به نه وي.

ب د ﴿ فَٱضۡرِب بِّهِۦ ﴾ دپاره مفعول ذکر نه دی، خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ـ د نورو علماوو په شمول ـ وایي چې دلته ورسره د "امْرَأتك" کلمه مقدره ده[۱]. یعنې بیا وربانديې خپله مېرمنه ووهه.

ج: د ﴿ وَلَا تَحۡنَثۡ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې ایوب علیه السلام خپلې مېرمنې ته سوګند یاد کړی وه چې د روغتیا په صورت کښې به یې یو سل لرګي ووهي[۲].

د: پاتې شوه دا خبره چې ایوب علیه السلام په خپله مېرمنه باندې په څه وجه په غُصه شوې وه چې ذکر شوی سوګند یې ورته یاد کړی وه؟ نو د دغې وجې په تعین کښې مفسرینو کرامو زښت ډېر وچ او لامده لیکلي دي[۳]، حتی ځینې وجهې خو بالکل د ایوب علیه السلام د نبوت د عالي شان سره منافي دي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ دومره لیکو چې:

ذکر شوي سوګند په هغه کار باندې صورت نیولی دی کوم چې د مېړه او مېرمن ترمنځ واقع شوی وه، او د یوه راز حیثیت یې درلود، که بالفرض په ذکر کښې یې څه ګټه نغښتې وي نو ضرور به په ایت شریف کښې وربانديې صراحت شوی وی او یا به ورته اشاره شوې وی.

نو زمونږ په فکر دلته سکوت بهتر دی او که څه وایو نو باید فقط همدومره وایو چې: ایوب علیه السلام مریض وه او مریض ډېر ژر په غُصه کېږي، نو څه لږې نه ده چې د خدمت په اجراء کښې به یې خپله بی بی قاصره ګڼلې وي او سوګند به یې ورته یاد کړی وي، والله جل جلاله اعلم.

هـ: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې ایوب علیه السلام ته الله جل جلاله د عدم حنث توصیه وکړه او د کَفارې په ارشاد باندې یې مخاطب نه کړ؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو د مفسرینو کرامو لیکلي دي[۴] چې د ایوب علیه السلام په شریعت کښې کَفاره مشروعه نه وه، خو دا یو عقلي احتمال برېښي، شاید چې د کَفارې توصیه به یې ورته ځکه نه وي کړې چې پخپله د "کَفارة" د کلمې څخه د عصیان وړمه پورته کېږي، اګر که د خلاف الاولی په ارتکاب سره وي. نو الله جل جلاله خپل مخلص بنده د دغې وړمې څخه هم بچ وساته، او هم یې د ده علیه السلام په خدمتګارې مېرمنې باندې رحمت عنایت کړ چې د وهلو څخه یې بچه کړه.

و: که څوک وایي چې ایا ذکر شوی حکم زمونږ په شریعت کښې معمول ګرځېدلی شي او هغه سړی د حنث څخه بچ پاتې کېدلی شي کوم چې د ایوب علیه السلام غوندې سوګند خپلې مېرمنې ته یاد کړي او بیا د همده علیه السلام غوندې عملیه اجراء کړي؟

مونږ وایو چې: که څه هم څه اختلاف پکښې شته مګر د حنفي مذهب په بنیاد ذکر شوی حکم د

---

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۱۹۶
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۰
(۳) زاد المسیر ج۶ ص۳۴۱، تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۱۲، حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۱۸۵
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۱۷۷

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



آخر الزمان پیغمبر ﷺ په شریعت کښې هم شرعي حکم دی[١].

ز: که څوک وايي چې: ایا ذکر شوی حکم په حدودو کښې هم د اجراء قابل دی، یا په بل عبارت: ایا په هغې جارو باندې وهل د سلو دُرو ځای نیولی شي کومه چې سل ډکي ولري او غیر محصن زناکار درباندې ووهلی شي؟

مونږ وايو چې: د حدودو په ارتباط په همدې هکله لاندې دوه احادیث روایت شوي دي.

اول: د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یو داسې غیر محصن مریض د زنا مرتکب شوی وه چې ډېر کمزوری وه او په هډوکو باندې یې فقط پوستکی خور وه او غوښه یې نه درلوده.

کله چې د نوموړي مریض د حد د اجراء موضوع نبي کریم ﷺ ته وړاندې شوه نو امر یې وکړ چې: «أَنْ يَأْخُذُوا لَهُ مِائَةَ شِمْرَاخٍ فَيَضْرِبُوهُ بِهَا ضَرْبَةً وَاحِدَةً»[٢] یعني حد اجراء کوونکی دې وړته سل ډکي واخلي (او جارو دې ورته جوړه کړي) نو په همدغو سلو ډکو باندې دې په یو ځل وهلو سره ووهي (او خوشې دې کړي).

دوهم: علي ﷺ وايي چې: زه نبي کریم ﷺ ولېږلم، چې په یوې زناکارې وینځې باندې د زنا حد اجراء کړم، نو څرنګه چې دغه وینځه په نفاس کښې وه او تازه یې بچی زېږولی وه، ما درباندې حد اجراء نه کړ چې ونه وژله شي.

نو نبي کریم ﷺ راته وفرمایل چې: «أَحْسَنْتَ»[٣] یعني ډېر ښه کار دې وکړ، پرېږده چې روغه شي او نفاس یې تېر شي بیا درباندې حد اجراء کړه.

## تبصره

ح: ځینو مفسرینو کرامو د ذکرو شوو دواړو احادیثو په هکله داسې تبصره کړې ده[٤] چې:
که د حد مستحق بنیادم داسې مریض وه چې د روغېدلو اُمید ورته نه وه لکه زوړ بوډا یا زړه بوډۍ، نو په کار دي چې په اولني حدیث باندې عمل وکړی شي، او که روغېدلو ته یې اُمید وه نو په کار دي چې حد یې وځنډول شي او دوهم حدیث معمول وګرځولی شي.

﴿وَٱذْكُرْ عِبَـٰدَنَآ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ أُو۟لِى ٱلْأَيْدِى وَٱلْأَبْصَـٰرِ ﴿٤٥﴾ إِنَّآ أَخْلَصْنَـٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى ٱلدَّارِ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ ٱلْمُصْطَفَيْنَ ٱلْأَخْيَارِ ﴿٤٧﴾ وَٱذْكُرْ إِسْمَـٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَذَا ٱلْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ ٱلْأَخْيَارِ ﴿٤٨﴾﴾

**[٤٥]** او (ای پیغمبره!) ته زمونږ (مخلصان) بندګان ابراهیم ﷺ او اسحق ﷺ او (هم) یعقوب ﷺ

---

(١) احکام القرآن للجصاص ج٣ ص٣٨٢
(٢) سنن ابي داود ج٢ ص٢٥٨؛ سنن ابن ماجه ص١٨٥؛ مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٢١٧
(٣) صحیح مسلم ج٢ ص٧١
(٤) تفسیر القاسمي ج١٤ ص١٧٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(د خپلې ډاډینې دپاره) یاد کړه چې (په طاعت او عبادت کښې) د لویو لاسونو (قوتونو) او (د الله ﷻ په پېژاندنه کښې) د لویو بصیرتونو خاوندان وه.

[۴۶] یقینًا مونږ دا (پیغمبران) په سوچه (خوی) سره سوچه کړخولي وه، (د دوی خوی) د کور (آخرت) د یادولو څخه عبارت وه (چې همېشه به یې په نظر کښې ساته او همېشه به یې ورته دعوت چلاوه).

[۴۷] او یقینًا دوی (پیغمبران) زمونږ په نزد د غوره کړی شوو (او) بهترو (بندګانو) څخه وه.

[۴۸] او (ای پیغمبره! د خپل خان د تسلی دپاره) اسماعیل ﷺ او الیسع ﷺ او (هم) ذو الکفل ﷺ یاد کړه، او (دا ځکه چې د دوی) هر یو د بهترو (بندګانو) څخه وه (چې په دعوت کښې یې زیات مشکلات ګاللي دي).

## ارتباط او د توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو غوندې د نبي کریم ﷺ د تسلی او ډاډینې دپاره د شپږو پیغمبرانو نومونه نازل شوي دي چې د کفارو د ضررونو په مقابل کښې بې حوصلې شوي نه وه، او هم د ازمېښتونو څخه کامیاب وتلي وه. د مثال په توګه:

الف: ابراهیم ﷺ د نمرود په مقابل کښې مقاومت وکړ او په اور کښې د غورزول کېدو دوره یې تېره کړه.

ب: یعقوب ﷺ د یوسف ﷺ تریتم کېدلو سره د سخت امتحان څخه کامیاب راووت.

ج: اسماعیل ﷺ په ډېرې خوښۍ سره خپل خان ذبحې ته تسلیم کړ.

د: څه لرې نه ده چې الله ﷻ به د اسحاق ﷺ او الیسع ﷺ او هم د ذا الکفل ﷺ د امتحانونو صورتونه هم نبي کریم ﷺ ته په خفي وحې سره ښودلي وي.

## د "أيدي" او "أبصار" معناوې

۲ـ په ﴿ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴾ کښې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په شمول د ځینو علماوو کرامو تفسیر دا دی[۱] چې:

الف: د "أَيْدِي" کلمه د "يَدٌ" جمعه ده چې د لاس معنی ورکوي، خو دلته ترې په عبادت او اطاعت کښې قوت مطلب دی.

ب: د "أَبْصَار" کلمه د "بَصَر" ـ لکه "نَظَر" ـ جمعه ده چې د سر په سترګو د لیدلو معنی ورکوي، خو دلته د کنایې په توګه هغه لیدل مطلب دي کوم چې د زړه په سترګو صورت نیسي چې په بصیرت ترې تعبیر کېږي.

نو د معنی حاصل به داسې راخېژي چې: ذکر شوي پیغمبران هر یو په اطاعت او عملي عبادت کښې د لوی قوت درلودونکی وه، او هم د الله ﷻ په پېژاندنه کښې د قوي بصیرت خاوندان وه، یا

(۱) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۴۱؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۰؛ تفسير الطبري ج۲۳ ص۱۷۰

Scanned by CamScanner

په بل عبارت: عملاً او عقیدةً د الله ﷻ مخلص بندګان وه، چې حوصلې یې لوړې او موړالونه یې
ښه قوي وه

## یو نحوي تحلیل

۳ـ په ﴿إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ﴾ کښې علماوو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[1]،
خو کوم شی چې موږ ته بهتر او لنډ برېښېدلی دی هغه په لاندې ډول شرحه کېږي.

الف: د "خالصة" کلمه د اسم فاعل صیغه ده، او موصوف یې مقدر دی چې په "خصلة" سره ترې
تعبیر کولی شو.

ب: د ﴿ذِكۡرَى﴾ کلمه تقدیراً مرفوعه ده چې د مقدري مبتدا دپاره خبر واقع شوې ده، چې په
"هي" سره ترې تعبیر کوو.

ج: د ﴿ٱلدَّارِ﴾ څخه د آخرت دار مطلب دی.

نو د ذکرو شوو ټکو په مراعات سره یې مضمون داسې راځېږي چې: یقیناً دغه پیغمبران موږ په
یوه عالي خصلت او خوی سره سوچه ګرځولي وه، چې دا عالي خوی د آخرت د یادښت څخه عبارت
دی چې په دوامداره توګه به یې په نظر کښې وه او په دوامداره توګه به یې ورته دعوت چلاوه، او په
حوصله او استقامتونو کښې به یې هیڅ سستي نه واقع کېدله او صبر او ثبات به یې نه خرابېده.

## یادونه

۴ـ په ﴿وَٱلۡيَسَعَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِ﴾ کښې د "الیسع" پیغمبر په هکله ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي
چې دا د الیاس ﵇ د خادم نوم دی، چې په بني اسرائیلو باندې یې د ځېل ځان د پلوه خلیفه
ګرځولی وه او په پای کښې الله ﷻ د نبوت تاج وربه سر کړ[2]، او د ذو الکفل ﵇ څه سوانح د
[الأنبیاء: ۸۵] لاندې لیکلي شوي دي ـ والحمد لله ﷻ، چې بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نه ګورو

﴿هَٰذَا ذِكۡرٞۚ وَإِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ لَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٩﴾ جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ﴿٥٠﴾
مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴿٥١﴾ ۞وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ
أَتۡرَابٌ ﴿٥٢﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾
هَٰذَاۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٖ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَا فَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هَٰذَا فَلۡيَذُوقُوهُ
حَمِيمٞ وَغَسَّاقٞ ﴿٥٧﴾ وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ ﴿٥٨﴾ هَٰذَا فَوۡجٞ مُّقۡتَحِمٞ مَّعَكُمۡۖ لَا مَرۡحَبَۢا

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص ۲۱۰؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۴۳۴؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۶۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۱۸۰؛ تفسیر البیضاوي في هذا المقام

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِهِمْ إِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوا بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا فَبِئْسَ
الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُوا رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿٦١﴾ وَقَالُوا مَا لَنَا لَا
نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ
﴿٦٣﴾ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾

[۴۹] دغه (ذکر شوی بیان) پند (او عبرت) دی، او (په دې باندې علاوه) یقیناً پرهېزګارانو ته ضرور د بېرته ورګرځېدلو ښایسته ځای دی (چې په آخرت کښې به ورداخل شي).

[۵۰] (دا ښایسته ځای) د اقامت د جنتونو څخه په داسې حال کښې عبارت دی چې دروازې به یې متقیانو ته (د ورلیدلو څخه وړاندې) بېرته کړی شوې وي.

[۵۱] په جنتونو کښې به (متقیان) تکیه وهونکي (ارام ناست) وي (او) دوی به هلته ډېر میوجات او (ډېر) د څښکلو څیزونه (جوسونه) ورغواړي.

[۵۲] او متقیانو ته به د نظر بندونکې همزولې مېرمنې وي (چې د خپل خاوند څخه په غیر به بل چاته نه ګوري).

[۵۳] (ای متقیانو!) دغه (چې وړاندې بیان شوه) هغه شی دی چې تاسو ته یې د حساب د ورځې (د آخرت) دپاره وعده درکوله کېږي.

[۵۴] (هلته به درته وویلی شي چې) یقیناً دغه (نعمتونه) هرو مرو زمونږ (درکړه شوې) روزي ده چې هیڅ فنا (او ختم) نه لري.

[۵۵] دغه (د متقیانو نعمتونه په ذهن کښې ونیسئ) او (په دې باندې علاوه) یقیناً خاص سرکشانو ته ضرور د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

[۵۶] چې د جهنم څخه عبارت دی (او) سرکشان به دغه ته ورداخلېږي، نو (دغه جهنم) ډېره بده ارامګاه ده.

[۵۷] (سرکشانو ته به وویلی شي چې) دغه خوټېدونکې اوبه او زوې دي نو مزه یې وڅکئ.

[۵۸] او (دغه) بل داسې عذاب دی چې په څېر یې (د عذاب نور) ډېر ډولونه دي (نو خوند یې واخلئ).

[۵۹] (مشران کفار به یو تر بله وایي او د کشرانو ډلې ته به اشاره کوي) چې دغه ډله ستاسو سره (دوزخ ته) داخلېدونکې (ډله) ده، دغې ډلې ته دې خوشالي (او هر کلی) نه وي، (او نه ورته شته چې) یقیناً دوی (هم ستاسو غوندې) اور ته داخلېدونکي دي.

[۶۰] کشران به (ورته په جواب کښې) ووایي چې: بلکې تاسو چې یاست تاسو ته دې خوشالي (او هر کلی) نه وي، (او دا ځکه چې) یقیناً همدا تاسو دا (عذاب) مونږ ته راوړاندې کړی دی، نو (دا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوزخ) ډېر بد قرارخای دی (چې دواړه جانبه په یکښې دوامداره اوسېږو)

[۶۱] (بیا به) کشران کافران ووايي چې ای زموږ ربه! هر چا چې موږ ته دغه (عذاب) رامخې نه کړی دی (او پرې اخته کړي يې یاستو) نو هغوی ته په اور کښې غبرگ عذاب ورزیات کړه

[۶۲] او (ټول) دوزخیان به ووايي چې: موږ لره څه دي چې موږ داسې سړي (دلته په دوزخ کښې) نه گورو چې موږ به هغوی د اشرارو (بدانو) څخه شمېرل (د اشرارو لقب به مو ورکاوه)؟

[۶۳] ایا موږ هغوی (په دنیا کښې) په ملنډو سره نیولي وه (خطا شوي وو) او که (هغوی دلته په دوزخ کښې شته خو) زموږ سترگې ترې کږې شوې دي (او په نظر مو نه راځي)؟

[۶۴] (ای پیغمبره!) یقینًا دغه د اهل النار (ټولو دوزخیانو) جگړه ضرور حق ده (هرومرو پېښېدونکې ده).

## ارتباطونه

۱_ په [ص:۲۸] ایت کښې الله ﷻ اشاره کړې وه چې متقیان او فاجران سره يو برابر نه دي، په دې ایتونو کښې په عدم برابرۍ باندې لږ رڼا اچولی شوې ده چې د قیامت په ورځ به صورت ونیسي.

۲_ د دې سورت "ص" په لومړنیو ایتونو کښې توحیدي عقیدې ته مشرکان د دلایلو په رڼا کښې هڅولی شوي وه، او بیا په هغو سپکو او سپورو خبرو باندې د صبر خپلولو دپاره نبي کریم ﷺ ته د نهو پیغمبرانو ذکر نازل شو چې هغوی پسې اقتداء وکړي او بې صبره او بې حوصلې نه شي.

په دې ایتونو کښې په دلایلو باندې علاوه، د ترغیب او ترهیب په توگه مشرکان هڅولی شوي دي چې د شرکي عقیدې څخه لاس واخلي او د توحید عقیده خپله کړي، نو حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! دغه د پیغمبرانو یادونه خو ستا دپاره يو ذکر او پند وه چې ته هم د هغوی په شان خپل استقامت او ثبات ته ادامه ورکړې او حوصله خرابه نه کړې، خو يو ځل بیا مشرکان د توحیدي عقیدې د خپلولو دپاره په ترغیب (هڅولو) او ترهیب (ډارولو) سره دعوت کړه او د متقیانو او مشرکانو اُخروي حال ورته بیان کړه چې:

۱_ یقینًا د متقیانو او موحدینو دپاره په آخرت کښې ډېر عالي شان دی، لاندې څه مثالونه يې ولولئ:

الف: دوی ته هلته د بېرته ورگرځېدلو ډېر ښایسته ځای تیار کړی شوی دی چې ښایست يې د لیدلو پورې اړه لري.

ب: متقیانو ته داسې جنت د الله ﷻ د پلوه ورکولی کېږي چې د همېشه دپاره د اقامت ځای دی او دوی به ترې هیڅکله بهر نه کړی شي.

ج: ذکر شوی جنت به د متقیانو ورتگ ته منتظر وي حتی چې دروازې به يې ورته پرانستلې وي، ته به وايې چې د خپلو خاوندانو په انتظار کښې دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: جنتیان به همځته بالکل ارام وي او تکیا وهونکي به ناست وي، هسې نه چې خوراک او څښاک پسې تالاش وکړي.

ه: جنتیان به هلته د خپل خوراک او څښاک دپاره فقط بلل کوي چې دا راوړه او هغه راوڅښوه، نو د خپلو غوښتنو په مطابق به ورته ډېر میوجات د خوراک دپاره او ډېر جوسونه د څښلو دپاره وروړاندې کېږي.

و: د جنتیانو په نزد به هلته داسې مېرمنې موجودې وي چې د یو پلوه به یې نظر خپلو خاوندانو ته خانګړې وي، نه به پیري مسه کړې وي او نه بل بنیادم، او نه به د هغوی څخه په غیر بل چا ته ګوري؛ او د بله پلوه به د خپلو خاوندانو سره همزولې وي او هم به وربانديې عاشقانې وي.

ز: هلته به جنتیانو ته وویلی شي چې دغه نعمتونه هغه نعمتونه دي د کومو چې ستاسو سره د حساب کتاب د ورځې دپاره په دنیا کښې وعده کړی شوې وه، چې تاسو ته به درکولی کېږي.

یا دا چې: ای متقیانو! دا چې وړاندې ذکر شوه هغه نعمتونه دي د کومو چې نن ورځ تاسو ته د الله ﷻ د پلوه وعده درکوله کېږي چې د قیامت په ورځ به صورت ونیسي.

ح: ای متقیانو! دغه نعمتونه د بل چا د پلوه نه بلکې زمونږ د پلوه تاسو ته درکړی شوي دي چې په آینده کښې به هیڅ ډول زوال ونه لري، او همېشه به وي.

۲_ ای پیغمبره! دغه _چې وړاندې یې څه بیان نازل شو_ هغه نېکه جزا ده کومه چې متقیانو ته ټاکلې شوې ده، اوس د فاجرانو او سرکشانو څه أُخروي حال هم بیان کړه چې:

الف: سرکشانو او کفارو ته په آخرت کښې د بېرته ورګرځېدلو ډېر ناکاره او بدخای ټاکلی شوی دی چې د جهنم (دوزخ) څخه عبارت دی، هغوی به هلته ضرور ورداخلېږي او د نجات لاره به ترې مونده نه کړي، بلکې همدغه دوزخ به یې په دائمي توګه د ارام نیولو ځای وي چې د ارام نیولو دپاره ډېر شر ځای دی!.

ب: هلته به دوزخیانو ته زښت ډېر عذابونه وي چې کله به یوه او کله بل ته اشاره کېږي چې:

اول: دغه خوټېدلې اوبه دي، دوزخیان دې د دې څخه وڅکي.

دوهم: دغه د دوزخیانو زوي او نوونه دي، نو دا دي د عذاب په توګه وڅکي.

درېم: دغه بل عذاب دی _لکه مار او لړم او نور_ په دې باندې دې هم اخته کړی شي.

بلکې دوزخیانو ته به هلته د ذکرو شوو عذابونو په مثل او شکل ډېر ډولونه وي چې وار په وار به وربانديې مبتلا ګرځولی کېږي.

۳_ ای پیغمبره! د دوزخیانو دنیاوي مشران به د پیروانو څخه وړاندې دوزخ ته بوتللی شي، بیا نو چې کله د پیروانو ډله د ورداخلولو دپاره هلته وروستلی شي او د مشرانو وربانديې سترګې ولږېږي، نو دوی به یو تربله سره ووایي چې:

دغه دی بل تولګی راوستلی شو چې دوی هم ستاسو سره دوزخ ته داخلېدونکی دی، دغو لره دې خوشالي نه وي او دغه دې د ستومانۍ څخه خلاص نه شي، که بالفرض په دنیا کښې دغې ډلې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمونږ پیروي نه وی کړې نو زمونږ بغاوت به هم د حده تجاوز نه وی کړی.

۴_ کله چې پیروان د خپلو مشرانو خبرې واوري نو داسې جواب به ورکړي چې:

الف مونږ ته ښېرا مه کوئ بلکې تاسو د ښېراوو مستحق یاست، تاسو خوشالي ومه گورئ، او تاسو د ستومانۍ څخه خلاص مه شئ او دا څکه چې

ب ای دنیاوي مشرانو! دغه عذاب خو تاسو مونږ ته هلته راوړاندې کړی وه. او همدا تاسو وړاندې مونږ اخته کړي یاستو.

ج نو دغه دوزخ د قرار نیولو د پر بد ځای دی چې نه ترې ستاسو خلاصی شته او نه ترې زمونږ.

د کشران او پیروان به د خپلو دنیاوي مشرانو په هکله الله ﷻ ته هم سوال وکړي چې ای زمونږ ربه! دغه عذاب او دغه د کفر کلمه چې هر چا مونږ ته راوړاندې کړې وي همغوی ته په دوزخ کښې غبرگ عذاب ورکړه، او زمونږ عذاب هم وړاندې ورزیات کړه چې زمونږ د کافر پاتې کېدلو اصلي باعثین همدوی دي.

۵_ کفارو ته به د هغوی بو تربله ناندرۍ او سوال جواب هیڅ گټه ونه شي رسولی نو د همدې کبله به د بحث څخه مخ واړوي او خپله توله توجه به د مسلمانانو حال ته ورواړوي او تول به په یوه خوله، د پښیمانتیا او خجالت د کبله ووایې چې

الف په مونږ څه شوي دي چې مونږ هغه کسان په دوزخ کښې نه گورو کوم به چې مونږ په دنیا کښې د اشرارو په نامه یادول او د همدې ذلې څخه به مو شمېرل؟

ب ایا مونږ په دنیا کښې خطا شوي وه، چې ذکر شوی لقب مو د ملنډو په توگه ورکړی وه او په حقیقت کښې هغوی اشرار نه وه، ایا هغوی جنت ته بیولي شوي دي؟ ایا مونږ اشرار وو چې په دنیا کښې د شیطان په لاره روان وو او اوس د ابد دپاره په دوزخ کښې واچولی شوو؟

ج یا هغوی رښتیاني اشرار وه او هغوی هم زمونږ سره دلته په دوزخ کښې پرانه دي خو زمونږ سترگې بل لور کړي شوي دي او یلې خوا ترې اووښتې دي چې نظر مو وړاندې نه نښلي؟

۶_ ای پیغمبره! ذکر شوی بیان حق او ضرور پېښېدونکی دی، هیڅ دروغ پکښې نشته، چې دغه بیان د دوزخیانو بو تربله جگړې دي او هم د هغوی د مومنانو په هکله یو تربله پوښتنه او گویگنه ده.

## توضیحات

۱_ په ﴿ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴾ کښې د جنت د دروازو په هکله د الله ﷻ په توفیق د [الحجر ۴۴] ایت لاندې د احادیثو په رڼا کښې نه مفصل بحث تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې ارتیا نه گورو خو د مقام په لحاظ وړاندې لاندې یو حدیث شریف وراضافه کوو:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې «آتي باب الجنة يوم القيامة فأستفتح فيقول الخازن من أنت فأقول محمد فيقول بك أمرت لا أفتح لأحد قبلك»[۱] یعني زه به د قیامت په ورځ د جنت دروازې ته ورشم نو

---

[۱] صحیح مسلم ج۱ ص۱۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د پرانستلو غوښتنه به یې وکړم. نو د جنت خازن به پوښتنه وکړي چې ته څوک یې؟ زه به په ځواب کښې ووایم چې زه محمد یم نو د جنت خازن به راته ووایي چې زه (فقط) به همدا تا سره مامور شوی وم چې دروازه درته خلاصه کړم او چې ستا څخه وړاندې یې بل هیچا ته پیرته نه کړم.

## أتراب څه معنی؟

۲ـ په ﴿ قَـٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ﴾ کښې د ﴿ قَـٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق [الصافات:۴۸] ایت لاندې تحلیله شوې ده. او د ﴿ أَتۡرَاب ﴾ کلمه پکښې د "تِرْب" ـلکه "ذِهْن"ـ جمعه ده. "تِرْب" هغه چا ته ویل کېږي کوم چې د بل چا سره همزولی وي.

لکه چې دواړه د خپلو خپلو مورګانو څخه په یوه وخت کښې زېږېدلي وي او د "تُرَاب" خاورو سره یې تماس نیولی وي[1].

د جنت مېرمنو ته دغه لقب تشبیهاً ورکولی شوی دی. یعني جنتي ښځې به د یو پلوه په خپلو منځو کښې همزولې او په حسن کښې برابرې وي او د بله پلوه به د خپلو خاوندانو سره هم د عمرونو په لحاظ مساوات لري. که بالفرض دوی په دنیا کښې موجودیت درلودی نو د همزولو لقب به ورکړی شوی وی.

## نحوي تحلیلونه

۳ـ په دې مقام کښې باید لاندې نحوي تحلیلونه په ذهن کښې وساتل شي:

الف: په ﴿ هَـٰذَا فَلۡيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴾ کښې مفسرینو کرامو د اعراب په لحاظ متعدد تحلیلونه کړي دي[2]، خو کوم تحلیل چې مونږ غوره کړي دي هغه په لاندې ټکو کښې شرحه کېږي:

اول: د ﴿ هَـٰذَا ﴾ کلمه مبتدا ده او د عطف په لحاظ سره د ﴿ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴾ کلمې یې خبرونه دي.

دوهم: د ﴿ فَلۡيَذُوقُوهُ ﴾ جمله معترضه جمله ده، چې د مبتدا او خبرونو ترمنځ واقع شوې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ حَمِيمٌ ﴾ د کلمې څخه شرحه د الله ﷻ په توفیق د [إبراهيم: ۱۶] ایت لاندې تېره شوې ده، چې خوټېدونکو اوبو ته ویل کېږي.

او د "غَسَّاقٌ" کلمه په یوه حدیث کښې تفسیره شوې ده چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا»[3] یعني که بالفرض د غساق د مردارو اوبو او زوو څخه یوه بوقه په دنیا کښې تویه کړی شي نو په ټولو دنیاوالو باندې به معیشت بدبویه کړي (دا به دوزخیانو ته د څښکلو دپاره ورکولی کېږي).

غالبه دا ده چې په [إبراهيم: ۱۶] ایت کښې به ﴿ مَّآءٖ صَدِيدٖ ﴾ کلمه د همدغه "غَسَّاق" څخه عبارت وي، والله ﷻ اعلم

(۱) لسان العرب ج۱ ص۲۳۱، مفردات الراغب ص ۷۰
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۲۱۵، اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص ۴۴۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۸۶، مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د پاسنیو ټکو په ملحوظ یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې په دوزخ کښې به کله څوټېدونکو اوبو ته اشاره کېږي او کله غساق ته، چې دغه دې هغوی وڅکي او د دغه مزه دې واخلي، چې د همدغو دپاره یې په دنیا کښې زیار ویستلی وه.

ب. همدارنګه په ﴿ وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ ﴾ کښې هم مفسرینو کرامو زښت ډېر تحلیلونه لیکلي دي[۱]، خو مونږ خپل غوره کړی شوی تحلیل په لاندې نکاتو کښې لیکو:

اول: د ﴿ ءَاخَرُ ﴾ کلمه موصوفه ده.

دوهم: د ﴿ مِن شَكۡلِهِۦٓ ﴾ ضمیر همدغه "آخَرُ" ته راجع دی، چې د متعلق په لحاظ مقدم خبر دی.

دریم: د ﴿ أَزۡوَٰجٌ ﴾ کلمه د ﴿ مِن شَكۡلِهِۦٓ ﴾ دپاره مؤخره مبتدأ ده، چې د خپل خبر په ملحوظ د "آخَرُ" دپاره صفتیه جمله ده.

څلورم: د ﴿ ءَاخَرُ ﴾ کلمه د خپل صفت په لحاظ د مقدرې مبتدأ دپاره ـ چې په هذا سره تری تعبیر کوو ـ خبر واقع کېږي.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: او یوه بل عذاب ته به هم اشاره وکړی شي چې کفار دې دغه عذاب هم وڅکي، چې د دغه عذاب په مثل ورته نور ډېر ډولونه عذابونه هم ټاکلي شوي دي چې مزه به یې واخلي.

ج: په ﴿ لَا مَرۡحَبَۢا بِهِمۡ ﴾ کښې دغه تحلیل په نظر کښې نیول په کار دي[۲]:

اول: د ﴿ مَرۡحَبًا ﴾ کلمه اسم ظرف ده چې د "رَحُبَ" ـ لکه "ضَرُبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "رَحُبَ" د پراخی معنی ورکوي[۳].

دوهم: دغه کلمه په مقدر "آتوا" سره دلته منصوبه ده، چې نحویان یې تقدیر واجب ګڼي.

دریم: په ﴿ بِهِمۡ ﴾ کښې د "ب" توری د بیان دپاره دی چې د مقدر "آتوا" ضمیر یې څرګند کړی دی.

څلورم: ذکره شوې دعائیه جمله د اثبات په حال کښې د هر کلي په ځای استعمالېږي چې د خوشالی څخه نمایندګي کوي، خو چې کله ورباندې د نفي توری داخل شي ـ لکه چې دلته ورسره د "لا" توری نازل شوی دی ـ نو خوشالي او هرکلی منفي ګرځوي.

یعنې مشران کفار چې کله د کشرانو کافرانو ډله وګوري چې د همدوی په لور دوزخ ته وررروانه ده نو ځینې به ځینې نور مخاطب کړي چې دغې ډلې ته دې خوشالي او هرکلی نه وي، دوی هم ستاسو سره دوزخ ته ورداخلېدونکي دي.

د: په ﴿ لَا مَرۡحَبًۢا بِكُمۡ ﴾ کښې ذکر شوی تحلیل کټ مټ تطبیقېږي چې حاصل یې داسې راځېږي: کشران کفار به ذکره شوې دعائیه جمله بېرته ورغبرګه کړي چې هرکلی او خوشالي دې تاسو لره

(۱) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۴۴۰ البحر المحیط ج۹ ص۱۶۸
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۲۱۷
(۳) لسان العرب ج۱ ص۴۱۴؛ القاموس المحیط ج۲ ص۲۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه وي چې په دغه مصیبت باندې مو مونږ او خپل خانونه (دواړه) اخته کړي دي.

## اشرار یعني څوک؟

۴ـ که څه هم ځینو مفسرینو کراموْ لیکلي دي[1] چې دلته په ﴿ رِجَالاً كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلْأَشْرَارِ ﴾ کښې د ﴿ رِجَالاً ﴾ کلمه د صهیب ﷺ، بلال ﷺ، خباب ﷺ او سلمان ﷺ څخه عبارت ده، چې د مکې مشرکانو به ورته د "اشرار" لقب ورکاوه. مګر څرنګه چې په نصوصو کښې د مفهوم عموم ته اعتبار دی نو الله ﷻ ته اُمید دی چې افغان مجاهدین به هم په ایت شریف کښې شمولیت ولري، او دا ځکه چې د جهاد په اوږدو کښې به روسانو او کمونستانو مونږ ته د "اشرار" لقب راکاوه.

﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٌ وَمَا مِنْ إِلَـٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّـٰرُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا۟ عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِىَ مِنْ عِلْمٍۭ بِٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰٓ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰٓ إِلَىَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾ ﴾

[۶۵] (ای پیغمبره!) ووایه چې: یقیناً زه ډاروونکی (پیغمبر) یم، او (په حقه) هیڅ معبود نشته مګر یو قهرکوونکی الله ﷻ دی (په هر چا خپله اراده تحمیلولی شي).

[۶۶] چې (همدا الله ﷻ) د اسمانونو او ځمکو او د هغو شیانو چې د دغو دواړو ترمنځ دي د کلکې ارادې خاوند (او) بښونکی رب دی.

[۶۷] (ای پیغمبره!) ووایه چې: دا (قرآن کریم) ډېر لوی خبر دی (چې ما تاسو ته راوړی دی).

[۶۸] (خو) تاسو ترې اعراض کوونکي یاست (چې ایمان ورباندې نه راوړئ).

[۶۹] ماته په لوړ ټولګي (پرښتو) باندې هیڅ علم نشته کله چې هغوی (په څه موضوع کښې بحث کوي (مګر ماته په وحې سره معلومات راکولی کېږي).

[۷۰] ماته (د بل هیڅ وجې د کبله) وحي نه کېږي مګر (د دې کبله) چې یقیناً زه څرګند ډاروونکی (پیغمبر) یم، (نو ځکه ماته د نبوت د راکړې څخه وراندې هیڅ وحي صورت نه نیوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه پوښتنه جوابه شوې ده کومه به چې مشرکانو د وراندېنیو ایتونو په اوریدلو سره راپورته کوله چې: هغه ورځ په کومه کښې به چې مونږ (ستاسو په ګومان) د رنګارنګ عذابونو سره مخامخ شو، کله قیام کوي؟. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! مشرکان خو ستا څخه د قیامت د ورځې د قیام ټاکلی وخت غواړي.

۱ـ ته ورته په جواب کښې ووایه چې:

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یقیناً زه فقط ډاروونکی یم، ماته د قیامت د قیام علم نه دی راکړی شوی، زه تاسو ته فقط هغه څه در رسوم د کومو په رسولو او ابلاغ باندې چې زه مکلفیت لرم او بس.

ب: د الله ﷻ څخه په غیر هیڅ په حقه معبود هیڅ نشته، همدی ﷻ د هر حیثه واحد او لا شریک دی، همدی ﷻ د غلبې خاوند دی او هر چاته چې د ذلت اراده وکړي هغه ته ذلت ورکوونکی دی.

کله چې الله ﷻ د قیامت د قیام اراده وکړي، نو هیڅوک یې مخنیوی نه شي کولی او هم په دغه وخت کښې هیڅ کافر د ذلت او خوارۍ څخه خپل خان نه شي بچ کولی. او دا خکه چې

ج: یوازې الله ﷻ د اسمانونو، ځمکو او هغو شیانو رب دی کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موقعیت لري، بل هیچا ته پکښې واک او اختیار نشته، چې د همده ﷻ د ارادې په وړاندې ځنډ وکړخي.

د: همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی نو هر وخت یې چې اراده وشي قیامت به قائم کړي، او همدی ﷻ بښونکی هم دی، که څوک په دنیا کښې خپله کفري عقیده په توحیدي عقیدې باندې بدله کړي نو په پخوانیو کفریاتو به یې ونه نیسي.

۲ـ دا هم ورته ووایه چې:

الف: ای مشرکانو! ما خو تاسو ته د قیامت د قیام په هکله عظیم الشان خبر راوړی دی چې قرآن کریم راباندې نازل شوی دی، دا قرآن کریم بالکل حق دی او هیڅ کوزوپاس پکښې نشته، تاسو همدغه خبر په خپلو غوږونو کښې کلک ونیسئ او فرعي پوښتنې مه کوئ چې حساب کتاب به څه وخت پیل شي او قیامت به کله قائم شي او څو کاله ورته پاتې دي او داسې نور.

ب: په تاسو افسوس دی چې په فرعي پوښتنو مصروف شوئ او په اصلي مهم خبر باندې مو خپل غوږونه کانه کړه او لا ترې اعتراض کوونکی جوړ شوئ.

ج: بدون د وحې څخه ماته هیڅ علم او پوهه نشته چې د پرښتو لوړ ټولګی په څه شي کښې بحث کوي او څه موضوع یې د بحث دپاره مطرحه کړې ده، نو د قیامت د قیام علم به ماته د کومه شي حال دا چې لوړ ټولګی هم پکښې بحث نه کوي او نه وربانډې علم لري، بلکې دغه علم په هر اړخیزه توګه د الله ﷻ پورې مختص دی او بس.

د: لنډه دا چې ما ته د غیبي اُمورو په هکله د بل هیڅ شي د کبله وحې نه کېږي مګر د دې کبله چې زه ښکاره ډاروونکی او ربښتیانی پیغمبر یم، که بالفرض زه ربښتیانی پیغمبر نه وی نو تاسو ته به مې نه د جنت نعمتونه بیان کړي وی او نه به مې د دوزخ په عذابونو باندې خبر درکړی وی، لکه چې د نبوت څخه وړاندې مې په خپل څلوېښت کلنې عمر کښې دا کار نه شو کولی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ ﴾ کښې ﴿ هُوَ ﴾ څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: د دغه ضمیر د مرجع په تعین کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي[1] او

---

[1] تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۲۴؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۴۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مختلف مراجع يې ورته ټاکلي دي چې ټولې د وړاندېنۍ کلام څخه فهمېږي، لکه قرآن، بعث بعد الموت، د محمد ﷺ پیغمبر ګرځېدل او داسې نور. خو مونږ ته د مجاهد علیه الرحمة قول بهتر برېښي چې دغه ضمیر قرآن ته راجع دی، چې په نورو ټولو مراجعو باندې مشتمل دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وايي: په ﴿ بِٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰٓ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴾ کښې د لوړ ټولګي څخه څوک مراد دي او د دوی بحث په کومه موضوع کښې صورت نیسي؟

مونږ وايو چې: د جمهورو مفسرینو کرامو په نزد لوړ ټولګی د پرښتو د ټولګي څخه عبارت دی[۱]، اما د دوی د بحث په هکله لاندې دوه وضاحتونه ولولئ:

الف: ځينې مفسرين کرام وايي[۲] چې په ﴿ يَخْتَصِمُونَ ﴾ کښې هغه بحث ته اشاره ده کوم چې د پرښتو او الله ﷻ ترمنځ د آدم عليه السلام په پیداکولو او په ځمکه کښې د خلیفه ګرځولو په ارتباط صورت نیولی وه، چې په [البقرة: ۳۰] ایت کښې پرې صراحت شوی دی او په راتلونکو ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: ځينې نور مفسرين کرام وايي چې دلته هغه بحث مراد دی کوم چې په یوه اوږده قدسي حدیث شریف کښې روایت شوي دي[۳]، چې د څه برخې مضمون يې دا دی:

نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: ماته مې خپل رب ﷻ وویل چې د پرښتو لوړ ټولګی په څه شي کښې بحث کوي؟ نو زه نه پوهیدم، خو کله چې ورباندې الله ﷻ ماته علم راکړ نو پوه شوم او د الله ﷻ په حضور کښې مې عرض وکړ چې: «فِي الدَّرَجَاتِ وَالْكَفَّارَاتِ وَفِي نَقْلِ الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ وَإِسْبَاغِ الْوُضُوءِ فِي الْمَكْرُوهَاتِ وَانْتِظَارِ الصَّلَاةِ»[۴] یعني پرښتې په لاندې کارونو کښې بحث کوي:

اول: په کومو عبادتونو باندې درجات لوړېږي.

دوهم: په کومو کارونو باندې ګناهونه محوه کېږي.

دریم: د جمې لمونځونو ته پیاده تلل څومره ډېر اجرونه لري.

څلورم: د مشقاتو ګاللو سره-سره د اوداسه په تکمیل کښې هم ډېر اجرونه دي.

پنځم: د یوه لمانځه څخه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول هم د لوی اجر سبب دی.

## تبصره

۳_ زمونږ په نزد مفسرینو کرامو به د پرښتو د بحث محض یو-یو مثال ذکر کړی وی او حصر به يې مطلب نه وي، نو حاصل به يې داسې راوځېژي چې: زه بدون د وحې څخه د پرښتو په یوه بحث

---

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۲۰۲

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۹؛ المحرر الوجيز ج۱۴ ص۴۹

(۳) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۲؛ تفسير البغوي ج۴ ص۶۹

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې هم پوهه نه لرم، چې په څه موضوع کښې یې بحث کړی دی او یا به یې په راتلونکې کښې وکړي، دا د وحې برکت دی چې زه تاسو ته د پرښتو د بحث موضوع هم بیانولی شم.

﴿ إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ إِنِّى خَـٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ (٧١) فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن
رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَـٰجِدِينَ (٧٢) فَسَجَدَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ (٧٣) إِلَّآ إِبْلِيسَ
ٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ (٧٤) قَالَ يَـٰٓإِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَىَّ
أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْعَالِينَ (٧٥) قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِى مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ
(٧٦) قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ (٧٧) وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ (٧٨) قَالَ رَبِّ
فَأَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ (٧٩) قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ (٨٠) إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ
(٨١) قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ (٨٢) إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ (٨٣) قَالَ
فَٱلْحَقُّ وَٱلْحَقَّ أَقُولُ (٨٤) لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ (٨٥) ﴾

[٧١] (ای پیغمبره!) هغه وخت یاد کړه چې ستا رب ﷻ د پرښتو ټولګي ته وویلې (په دوی کښې ابلیس هم شامل وه) چې یقینًا زه د خټو څخه د یوه مخلوق پیدا کوونکی یم (چې ټول بدن به یې په ویښتانو پټ نه وي).

[٧٢] نو کله چې ما نوموړی بشر (د اندامونو د حیثه) برابر کړ او خپل روح مې پکښې پو کړ نو تاسو ورته (په ځمکه باندې) سجده کوونکي پرېوځئ.

[٧٣] نو ټولو پرښتو په اجتماعي توګه (نوموړي بشر آدم ؑ ته) سجده وکړه.

[٧۴] مګر (یوازې) ابلیس (د سجدې څخه منعه وکړه او) خپل ځان یې لوی وګاڼه او نوموړی (د الله ﷻ په ازلي علم کښې) د کفارو د ډلې څخه وه.

[٧۵] ستا رب ﷻ وویلې چې: ای ابلیسه! ته څه شي منعه کړې چې هغه بشر ته سجده وکړې کوم چې ما په خپلو (بلا کیفه) لاسونو سره پیدا کړی دی؟ ایا تا لویي (تکبر) وکړ، یا ته (رښتیا) د لوړو (لویانو) څخه یې.

[٧۶] ابلیس وویلې چې: زه د ده څخه بهتر یم، چې زه دې د اور څخه پیدا کړی یم او هغه دې د خټې څخه پیدا کړی دی (نو زما سجده هغه ته مناسب کار نه دی).

[٧٧] ستا رب (ورته) وویلې چې: (ای ابلیسه!) د پرښتو د ټولګي څخه ووځه، ځکه چې یقینًا ته رټلی شوی یې (او زما د طرفه مبغوض شوې).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۸] او یقیناً زما لعنت د جزا تر ورځې پورې په تا باندې (مخ په زیادت) دی، (او د عذاب سره به هلته مخامخ شې).

[۷۹] ابلیس وویلې چې: ای زما ربه! ماته تر هغې ورځې پورې مهلت راکړه په کومه کښې چې مړي (د قبرونو څخه) راپورته کړی شي.

[۸۰] ستا رب ﷻ وویلې چې: نو یقیناً ته د مهلت ورکړی شوو څخه یې. (خو):

[۸۱] د معلوم وخت تر ورځې پورې (چې د اولنۍ شپېلۍ د وخت څخه عبارت دی).

[۸۲] ابلیس وویلې چې: (ای ربه!) ستا په عزت مې دې سوګند وي چې زه به هرومرو او ضرور د (نوموړي) بشر ټول اولادونه بې لارې کړم (چې زما د ملعونیت سبب جوړ شوه).

[۸۳] مګر د دوی څخه ستاسو سوچه کړی شوي بندګان (به بې لارې نه کړی شم).

[۸۴] ستا رب ﷻ وویلې چې: نو (دا خبره) حقه ده (چې ته زما مخلص بندګان نه شې ګمراه کولی)، او (زه) حق (وایم)، زه وایم چې:

[۸۵] هرومرو او ضرور به زه ستا څخه او د هغه چا څخه کوم چې د بنیادمانو څخه ستا پیروي وکړي (ستاسو) ټولو څخه دوزخ ډک کړم.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د توحیدي عقیدې دلایل نازل شوي وه، او په دې ایتونو کښې د کفارو غبرګون ته اشاره شوې ده چې عناداً په کفري عقیده کلک شوه او د ابلیس لاره یې خپله کړه.

۲ـ په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو د ﴿إِذْ يَخْتَصِمُونَ﴾ د جملې دپاره یو مثال نازل شوی دی. چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې د پرښتو د بحث یو مثال قرائت کړه چې د یو پلوه ستا د نبوت دپاره غټ دلیل دی او د بله پلوه پکښې کفارو ته ارشاد نغښتی دی چې د عناد د کبله د ابلیس لاره خپله نه کړي او د کفري عقیدې څخه لاس واخلي. هغه دا چې:

۱ـ هغه وخت یاد کړه چې ستا رب ﷻ ټولې پرښتې په داسې حال کښې مخاطبې کړې، چې ابلیس هم پکښې شامل وه، او ورته یې وویلې چې:

الف: یقیناً زه د ختو او خاورو څخه د داسې یو مخلوق پیدا کوونکی یم کوم به چې لوڅه څېره ولري او ټول به په وینستو کښې پټ نه وي. همدغه مخلوق به آدم ﷺ نومېږي او زه به یې په ځمکه کښې د خلیفه په حیث ودروم، او ځمکه به د همده په اولاده اباده کړم.

ب: پرښتو د خپلو خانونو د پوه کولو دپاره ستا د رب ﷻ سره بحث پیل کړه، او پوښتنه یې وکړه چې: ای زمونږ ربه! ایا ته په ځمکه هغه څوک خلیفه ګرځوې چې هغه به پکښې فسادونه کوي او ناحقه وینې به پکښې تویه وي، حال دا چې مونږ ستا پاکي بیانوو او د تنزیه نسبت درته کوو؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ستا رب ﷻ جواب ورکړ چې: زه پوهېږم او تاسو نه پوهېږئ، او بیا یې په علمي توګه قناعت ورکړ.

۲_ ستا رب ﷻ د پرښتو ذکر شوي ټولګي ته دا هم وویلې او ارشاد یې ورته وکړ چې کله ما خاورین مخلوق د اندامونو د حیثه برابر کړ او هم مې پکښې د خپل باعزته روح څخه پو کړ او وربانديې ژوندی مې کړ، نو تاسو ټول ورته په سجده شئ او په څمکه کښې خلافت یې قبول کړئ.

۳_ ای پیغمبره! کله چې ستا رب ﷻ ذکر شوی تازه پیدا کړی شوی مخلوق (آدم ﷺ) په مشرف روح سره ژوندی کړ، نو ټولو پرښتو ورته په یو خل د عبادت نه، بلکې د انقیاد او تعظیم سجدې کېښودلې او خپل مکلفیت یې اداء کړ.

مګر یوازې ابلیس د خپل مکلفیت اداء کولو ته حاضر نه شو او خاورین مخلوق (آدم ﷺ) ته یې سجده ونه کړه، بلکې تکبر یې وکړ او په څرګنده توګه د کفارو په ډلې کښې داخل شو که څه هم ستا د رب ﷻ په علم کښې لا د پخوا څخه په همدغې کفري ډله کښې شامل وه، نو د همدې کبله ستا رب ﷻ ورسره داسې سوال جواب وکړ:

الف: ستا رب ﷻ ورته وویلې چې: ای ابلیسه! ته څه شي منعه کړې چې هغه مخلوق ته سجده وکړې کوم چې ما په خپلو بلاکیفه دوه وو لاسونو باندې پیدا کړی دی؟، چې د آدم ﷺ څخه عبارت دي. ایا تا تکبر وکړ او بدون د استحقاقه دې خپل ځان وربانديې عالي وګانه، او یا دا چې ته د لوړو کسانو د ډلې څخه وې او د لویې مستحق وې؟

ب: ابلیس _علیه اللعنة_ په دوهم شق سره جواب ورکړ چې: ای ربه! زه د لویانو او عالیانو څخه یم، زه د آدم ﷺ څخه بهتر یم، په کار دا دي چې هغه ماته سجده وکړي. او دا ځکه چې زه دې د اوره پیدا کړی یم او هغه دې د ختې څخه پیدا کړی دی، څرنګه چې زما اصل (اور) د هغه د اصل (خاورې) څخه بهتر دی چې زما اصل رڼا لري او د هغه اصل رڼا نه لري، نو زه د هغه څخه بهتر یم.

یا په بل عبارت: ای ربه! تا غیر مناسب کار وکړ چې زه دې د هغه په سجده کولو مکلف کړم.

۴_ د همدغه اعتراض د کبله د ابلیس کفري خبره برېنده شوه، نو ستا رب ﷻ مخاطب وګرځاوه چې:

الف: ای ابلیسه! سمدستي د پرښتو د عالي الشان ټولګي څخه بهر شه. او دا ځکه چې یقیناً ته د همدغه اعتراض په سبب رټلی شوی او د عالي رتبې څخه غورزولی شوی یې.

ب: او برسېره په دې په تاباندې زما لعنت دی چې د قیامت تر ورځې پورې به ورځ په ورځ زما د رحمت څخه ټېل وهلی کېږې، او ورځ په ورځ به ستا د لعنت په پیتې کښې زیادت صورت نیسي چې د ټولو ملعونانو په لعنت کښې به برخه درلودونکی وګرځې.

هـ: ای پیغمبره! ابلیس په خپل اعتراض باندې پښېمانه نه شو، او توبه تائب ونه ګرځېد. بلکې ستا د رب ﷻ لعنت یې قبول کړ، نو فقط دا سوال یې وړاندې کړ چې:

الف: ای ربه! ماته ترهغه وخته پورې مهلت راکړه او د مرګ څخه مې بچ کړه چې مخلوقات د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مرګ څخه وروسته بېرته راژوندي کړی شي او د قبرونو څخه را اوچت کړی شي.

ب: ستا رب ﷻ جواب ورکړ چې: ته د مهلت ورکړی شوو څخه یې تاته مهلت دی، خو د هغه وخت پورې نه کوم چې ته یې غواړې، بلکې تر ټاکلي او معلوم وخت پورې کوم چې ستا د مرګ دپاره ټاکلی شوی دی چې هغه د اولنۍ شپېلۍ د وخت څخه عبارت دی.

۶_ بیا ابلیس وویلې چې: ای ربه! نو زما دې ستا په عزت باندې سوګند وي، چې زه به د همدغه تازه مخلوق (اولاده) ټول بې لارې کړم، او د خپل ځان پېرو به یې جوړ کړم، مګر د دوی د جملې څخه به یوازې ستا مخلص بندګان بچ پاتې شي چې زما د ګمراه کولو د اثر لاندې به واقع نه شي.

۷_ خو ستا رب ﷻ ابلیس مخاطب کړ او ورته یې وویلې چې: همدا خبره حقه ده چې ته زما مخلص بندګان نه شې بې لارې کولی، او دا خبره هم په غوږ کښې ونیسه چې زه وایم حق، زه وایم چې هرو مرو او ضرور به په تا سره او ستا په اولادې سره او هم د بنیادمانو څخه په هغو کسانو سره دوزخ ډک کړم کوم چې ستا پیروي وکړي، او تاسو ټول به په اور کښې ورواچوم.

## توضیحات

۱_ د آدم ﷺ د پیدا کولو او مسجود ګرځولو دواړه قیصې په متعدد ایتونو کښې نازلې شوې دي، لکه په [البقرة: ۳۰_ ۳۸]، [الأعراف: ۱۱_ ۲۷]، [الأسراء: ۶۱]، [الكهف: ۵۰]، [طه: ۱۱۶_ ۱۲۳] ایتونو کښې؛ چې مونږ ورباندې په هر ځای کښې مناسب توضیحات لیکلي دي _والحمد لله ﷻ، نو که په دې مقام کښې د چا ذهن ته څه اشتباه ورپورته شي هیله ده چې هملته مراجعه وکړي، اُمید دی چې اشتباه به یې جوابه شي، خو دلتهورباندې د ایتونو د اړوند د کبله د الله ﷻ په توفیق څه توضیحات وراضافه کوو. هغه دا چې:

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ذکرو شوو پنځو واړو سورتونو کښې قیصه یوه ده، خو د کلماتو اختلاف پکښې د نظر لاندې راځي، لکه چې په دې سورت کښې د ابلیس سوګند داسې حکایت شوی دی چې: ﴿ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ ﴾، او په بل سورت کښې داسې لیدل کېږي چې: ﴿ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِي ﴾ [الحجر: ۳۹] او داسې نور. نو پوښتنه دا ده چې د دغه اختلاف څه وجه ده؟

مونږ وایو چې: که څه هم خینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې ذکر شوی سوال ډېر ښه جواب کړی دی[۱]، خو مونږ ته هغه جواب بهتر برېښي کوم چې د موسی ﷺ او د فرعون په قیصه کښې د [الشعراء: ۲۳] ایت لاندې تېر شوي دي چې د کلماتو اختلاف د تکلماتو په تعدد باندې صورت نیولی دی، چې په یوه سورت کښې د یوه تکلم کلمات حکایت شوي دي او په بل سورت کښې د بل تکلم کلماتو ته اشاره شوې ده، والله ﷻ أعلم.

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۲۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د بَشَر د کلمې توضیح

۳ـ په ﴿ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴾ کښې د "بَشَر" کلمه په لاندې ډول توضیح کېږي:

الف: دغه کلمه اصلاً د انسان ظاهر پوستکي ته ویل کېږي، چې ټول پوستکی یې په ښکلو او وړیو او نورو ویښتانو باندې پټ نه دی، زیاته برخه یې لوڅه ده[۱].

ب: الله ﷻ په دې مقام کښې د "آدم ؈" څخه په "بَشَر" سره تعبیر وکړ، خو د ده ؈ ټوله اولاده هم په همدغه لقب باندې یادېږي، او د همدې کبله آدم ؈ د "أبو البشر" لقب لري[۲].

ج: که څه هم د "بَشَر" کلمه په ځینو ځایونو کښې مثنی هم ګرځي خو په دې کلمه کښې مفرد او مثنی او جمعه او هم مذکر او مؤنث ټول یو برابر دي[۳].

## پوښتنې او جوابونه

۴ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: د ﴿ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ څخه معلومېږي چې ابلیس په عدم سجدې سره کافر شو، لکه چې الله ﷻ ته په آزل کښې معلوم وه. نو پوښتنه دا ده چې ایا په عدم عمل سره سړی کافر کېږي لکه چې څوک فرضي لمونځ قصداً فوت کړي؟

مونږ وایو چې: د ﴿ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ ﴾ څخه څرګندېږي چې ذکر شوی عدم عمل د اعتراض څخه نمایندګي کوله، چې دغه امر غیر مناسب دی، او په الله ﷻ باندې اعتراض کول خو کفر دی.

ب: که څوک وایي چې: د څه غرض دپاره ابلیس د الله ﷻ څخه په ﴿ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴾ کښې د بیا راژوندي کولو پورې مهلت وغوښت حال دا چې د نومړي د عملیاتو ساحه خو په لومړۍ شپېلۍ باندې ختمېږي؟

مونږ وایو چې: د ابلیس غرض دا وه چې په دغه سوال سره خپل ځانْ د مرګ څخه بچ کړي او دا ځکه چې د بیا راژوندي کولو څخه وروسته مرګ نشته.

## یو نحوي تحلیل

۵ـ په ﴿ فَٱلۡحَقُّ وَٱلۡحَقَّ أَقُولُ ۝ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ ﴾ کښې مفسرینو کرامو د اعراب په لحاظ متعدد تحلیلونه کړي دي[۴]، کوم تحلیل چې مونږ ته غوره برېښېدلی دی نو هغه په لاندې ځلورو ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: د ﴿ فَٱلۡحَقُّ ﴾ کلمه د مقدرې مبتدأ (هُوَ) دپاره خبر ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۵
(۲) القاموس المحیط ج۱ ص۲۷۸
(۳) لسان العرب ج۴ ص۶۰
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۴۶۱؛ تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دغه ضمیر (هُوَ) د وړاندېنۍ جملې مضمون ته راجع دی، چې ابلیس د الله ﷻ مخلصان بندګان نه شي بې لارې کولی.

ج: د ﴿ وَٱلْحَقَّ ﴾ کلمه په مقدر "أقولُ" سره منصوبه ده چې مذکور ﴿ أَقُولُ ﴾ يې تفسیر واقع شوی دی، د همدې ډول اعراب یو نظیر د [الإسراء: ١٢] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوی دی، والحمد لله ﷻ

د: د ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ ﴾ جمله د ﴿ وَٱلْحَقَّ ﴾ دپاره تفسیر واقع شوی دی.

یعنې ای ابلیسه! نو دا خبره حقه ده چې ته زما مخلصان بندګان نه شې اغواء کولی، او زه حق وایم چې هرومرو به زه ستا او ستا د پیروانو، ستاسو د ټولو څخه دوزخ ډک کړم.

﴿ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعْدَ حِينٍۭ ﴿٨٨﴾ ﴾

[٨٦] (ای پیغمبره! کفارو ته) ووایه چې: زه ستاسو څخه په دې قرآن کریم باندې هیڅ أجرت (او مزدوري) نه غواړم، او نه زه (په همدې ارتباط) د خپله خانه د جوړوونکو د ډلې څخه یم (چې په الله ﷻ مې دروغ تړلي وي).

[٨٧] دا (قرآن کریم) نه دی مګر د ټولو عالمونو (پیریانو او بنیادمانو) دپاره پند (او عبرت) دی.

[٨٨] او هرومرو او ضرور به تاسو څه وخت وروسته د قرآن کریم (د حقانیت) په خبر پوه شئ.

## ارتباط او توضیحات

١_ په دې ایتونو کښې په هغه مضمون باندې یو ځل بیا صراحت شوی دی د کوم د اثبات په هکله چې د ٦-ص: [٧٥] ایت څخه را په دېخوا خبره را روانه وه. هغه دا چې:

زه (محمد ﷺ) په حقه یم، که نه نو ما به تاسو ته د غیبي أمورو یوه کوچنۍ خبره هم نه وی حکایت کړې او نه به مې درته د آدم ﷺ او ابلیس د قیصې کومه کړۍ دراورولی وی.

٢_ په ﴿ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ﴾ کښې د نبي کریم ﷺ د نبوت یوه بل دلیل ته اشاره ده چې: که بالفرض زه د الله ﷻ د پلوه په حقه نه وی رالیږلی شوی، نو ما به ضرور ستاسو څخه په خپل دعوت باندې څه رتبه او څه أجرت غوښتی وی، لکه چې دا د دنیا پرستانو عادت دی، حال دا چې زه ورباندې ستاسو څخه هیڅ شی نه غواړم.

## تکلف څه معنی؟

٣_ په ﴿ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ ﴾ کښې د "مُتَكَلِّفِين" کلمه د "تَكَلُّف" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَكَلُّف" دېته ویل کېږي چې څوک خپل خان خلکو ته په داسې صفت باندې ور وپېژني چې په واقع کښې د هغه درلودونکی نه وي[١]. یعنې ای پیغمبره! خلکو ته دا هم ووایه چې زه د متکلفینو څخه نه یم چې

---

(١) المحرر الوجيز ج١٤ ص٥٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل خان درته په دروغو پیغمبر وتراشم، او هغه څه تاسو ته ابلاغ کړم د کومو په ابلاغ باندې چې زه نه یم مکلف شوی. د دې معنی د ښه وضاحت دپاره لاندې اثار ولولئ:

الف: أمیر المؤمنین عمر ﷺ وایي چې: «نُهِينَا عَنِ التَّكَلُّفِ»[1] یعنې مونږ د نبي کریم ﷺ د پلوه د تکلف څخه منعه کړی شوي یاستو چې خلکو ته خپل ځانونه د حقیقت په خلاف وروپېژنو.

ب: عبد الله بن مسعود ﷺ په یوه حدیث کښې ویلي دي چې: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عَلِمَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلْ اللهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ يَقُولَ لِمَا لَا يَعْلَمُ اللهُ أَعْلَمُ»[2] یعنې ای خلکو! څوک چې په څه شي باندې پوهېږي نو خبره دې وزباندې وکړي (د سوال په صورت کښې دې بیان کړي)، او څوک چې نه پوهېږي نو ودې وایي چې الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي، ځکه دا هم پوه ده چې د هغه شي په هکله په کوم باندې چې نه پوهېږي ووایي چې: الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي، زه نه پوهېږم.

## سوال جواب

۴_ په ﴿ نَبَأَهُۥ بَعْدَ حِينٍۭ ﴾ کښې د ﴿ حِينٍۭ ﴾ کلمه د کوم وخت څخه عبارت ده؟

مونږ وایو چې: دغه کلمه په مبهم وخت باندې دلالت کوي[3] خو په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په لاندې معناوو سره تفسیره کړې ده[4]:

الف: دلته د ﴿ بَعْدَ حِينٍۭ ﴾ څخه هغه وخت مراد دی کله چې اسلام ظهور وکړي او کمزوري یې ختمه شي.

یعنې هغه وخت ډېر ژر راتلونکی دی چې اسلامي حکومت قائم شي او د کفر جرړې وباسي، هلته به تاسو د قرآن کریم په حقانیت پوه شئ چې خلک به پکښې په ډلنیزه توګه داخلېږي.

ب: دلته ترې د مرګ څخه وروسته وخت او یا د قیامت ورځ مطلب ده، چې په دغه وخت کښې به کفارو ته د قرآن کریم حقانیت څرګند شي خو د ایمان راوړلو فرصت به یې د لاسه وتلی وي.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې شوې معناوې سره څه منافات نه لري، ځکه چې کفارو ته په دنیا کښې هم د اسلام حقانیت څرګند شو چې په معجزانه توګه خور شو، او د قیامت په ورځ بلکې د مرګ څخه وروسته به هم د قرآن کریم په حقانیت پوه شي خو څه ګټه به ورته ونه شي رسولی.

د الله ﷻ په توفیق د "ص" سورت په پښتو ژبه ترجمه او تفسیر ختم شو.

د الله ﷻ څخه نور زیات توفیق هم غواړو.

وصَلَّى اللهُ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ. اللَّهُمَّ أَجِرْنَا مِنَ النَّارِ وَمِنْ شَرِّ الْكُفَّارِ وَمِنْ غَضَبِ الْجَبَّارِ.

۱۱/رمضان/۱۴۲۲ هـ ق = ۱۳۸۰/۹/۵ هـ ش.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۸۳

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص ۷۱

(۳) مفردات الراغب ص۳۹۱، تفسیر الطبري ج۲۳ ص۱۸۹

(۴) الدر المنثور ج۷ ص۲۰۹، تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۱۹۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۴

Scanned by CamScanner

# الزمر (۳۹)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الزُمر) په [۷۱، ۷۳] ایتونو کښې نازل شوی دی او دا سورت په همدغه نامه باندې د قاریانو د اسانی دپاره ونومولی شو، ترڅو د نورو سورتونو څخه جدا شي

۲_ که څه هم د دې سورت په ځینو ایتونو کښې اختلاف شته مگر ټول ایتونه یې په عمومي توگه مکي دي او د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي[۱]

۳_ د دې سورت (الزمر) اعداد په لاندې ډول دي[۲]

الف: د ایتونو تعداد یې پنځه اویا (۷۵) دی

ب: د کلماتو شمېر یې یو زر یو سلو دوه اویا وو (۱۱۷۲) ته رسېږي

ج: بالآخره د تورو شمېر یې څلور زرو نهو سوو او اتو (۴۹۰۸) تورو ته پورته شوی دی

### د دې سورت محتویات

۴_ د دې سورت محتویات هم د نورو سورتونو غوندې د احاطې لاندې نه راځي خو اکثره بحثونه یې د عقیدوي احکامو په محور باندې څرخېږي، لکه مبدأ، معاد، د قیامت د ورځې څه حالات او داسې نور، خو ډېر زور پکښې د توحید په اثبات اچولی شوی دی

### د دواړو سورتونو تناسب

۵_ د "ص" او د "الزمر" دواړو سورتونو ترمنځ په اکثرو مضامینو کښې ورته والی موجود دی، چې دواړه په عقیدوي احکامو پورې زیات تړاو لري، او په دې باندې علاوه

الف: په دواړو کښې د قرآن کریم حقانیت ته اشاره شوې ده

ب: په "ص" کښې د آدم ﷺ د پیدا کولو قیصه نازله شوې ده او په "الزمر" کښې د ده ﷺ د مېرمنې (حواء رضي الله عنها) او د اولادونو په پیدا کولو رڼا اچولې شوې ده، او داسې نور

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ تَنزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ۝ إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ
اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ۝ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ
مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ

(۱) التحریر والتنویر ج۱۴ ص۵۷
(۲) تفسیر الخازن ج۵ ص۱۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اَللّٰهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴿۳﴾ لَّوْ أَرَادَ اللّٰهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ سُبْحَٰنَهُ ۖ هُوَ اللّٰهُ الْوَٰحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۴﴾

د ډیر مهربان (او) ډیر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱] د دې کتاب (قرآن) نازلول د کلکې ارادې (او) د حکمت د څښتن الله ﷻ د پلوه (متحقق شوي) دي

[۲] (ای پیغمبر !) یقیناً مونږ همدا تاته (ذکر شوی) کتاب په حقه درنازل کړی دی، نو ته د الله ﷻ عبادت ته په داسې حال کښې ادامه ورکړه چې خپل دین (انقیاد) ورته سوچه ګرځوونکی یې (چې نه پکښې عقیدوي شرک موجودیت ولري او نه عملي شرک).

[۳] (خلکو ته ووایه چې) اګاه اوسئ چې خاص الله ﷻ ته (مقبول دین د) سوچه دین (څخه عبارت) دی. او هغه کسان چې د الله ﷻ څخه په غیر یې نور دوستان (معبودان) نیولي دي (وایي چې) مونږ د خپلو معبودانو عبادت د بل هیڅ وجې د کبله نه کوو مګر د دې کبله چې دوی مونږ الله ﷻ ته ورنژدې کړي نژدېکت (او د دوزخ څخه نجات راکړي).

(د مشرکانو ګومان خکه غلط دی چې) یقیناً یوازې الله ﷻ به (د قیامت په ورځ) د دوی (اهل الآدیانو) ترمنځ په هغه شي کښې حقه فیصله وکړي په کوم کښې چې دوی (په دنیا کښې لګیا دي) اختلاف کوي (د هغوی معبودان په فیصله کښې هیڅ مداخله نه شي کولی).

الله ﷻ هغه چاته هدایت نه کوي (چې مطلب ته ورسېږي) کوم چې ډېر دروغژن ډېر ناشکره دي.

[۴] که (بالفرض المحال) الله ﷻ اراده کړې وی چې (د خپل خان دپاره) ولد ونیسي (لکه چې مشرکان ګومان کوي) نو هرومرو به یې د هغه مخلوقه چې همدی یې پیدا کوي هغه څوک (په همدې حیث) نیولی وي چې اراده یې ورته شوې وي (حال دا چې نظر الله ﷻ ته ولدیت د مخلوقیت سره متناقض او منافي دی).

الله ﷻ ته (د ولدیت او نورو نواقصو څخه) پاکي ده، همدی ﷻ ډېر قهر کوونکی یو الله دی (شریک نه لري او خپله اراده په هر شي باندې تحمیلولی شي، هیچا ته اړ او محتاج نه دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د هغه سورت (ص) د وروستنیو ایتونو مضمون دا وه چې قرآن کریم د ټولو عالمونو دپاره پند او نصیحت دی چې څه وخت وروسته به یې هر چاته حالات څرګند شي. په دې ایتونو کښې د همدغه مضمون دلیل ته اشاره کېږي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته خپل أمت ته دا مطالب بیان کړه:

۱ _ دا قرآن کریم خکه د ټولو عالمونو دپاره پند او نصیحت دی چې دا د هغه الله ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی چې د لاندې صفاتو درلودونکی دی:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، چې هيڅوک او هيڅ شی يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی چې د اجراء مخه يې بنده کړي.

ب: الله ﷻ د حکمت څښتن دی، چې مناسب احکام يې په مناسب وخت کښې نازل کړي دي چې ټول عالمونه ورته اړ او احتياج دي.

۲_ دا قرآن کريم _چې د عزت او حکمت نښې نښانې پکښې د ورايه برېښي_ مونږ په تاباندې په حقه نازل کړی دی، چې ته د همدې کتاب دپاره مناسب پيغمبر يې او تا پکښې هيڅ تغير نه واقع کړی دی او نه پکښې تغير واقع کولی شي.

۳_ نو په همدې بنياد د هر څا څخه وړاندې پخپله ته _ای پيغمبره!_ الله ﷻ ته د غاړې اېښودل سوچه کړه (د خپل دين سوچه توب او خلوص ته ادامه ورکړه).

۴_ په دې باندې علاوه د الله ﷻ د پلوه په ډاګه اعلان وکړه او خلک خبر کړه چې: ای خلکو! اګاه اوسئ چې خاص الله ﷻ ته مقبول دين او مقبول انقياد سوچه دين او سوچه انقياد دی، چې د شرک څخه بالکل پاک وي، نه پکښې عقيدوي شرک وي او نه عملي.

۵_ ای پيغمبره! يقينًا کومو کسانو چې د الله ﷻ څخه پرته نور دوستان او معبودان نيولي دي د هغوی بهانه دا ده چې دغه دوستان به مو الله ﷻ ته ورنږدې کړي (او د عذاب څخه به نجات راکړي).

خو ته خلکو ته اعلان کړه چې: يقينًا الله ﷻ به د دغو مشرکينو او د موحدينو مخلصينو ترمنځ د قيامت په ورځ په هغه دين کښې په حقه فيصله وکړي په کوم کښې چې دغه دواړه ډلې نن ورځ اختلاف لري، نو مخلصين به جنت ته داخل کړي او مشرکين به په دوزخ کښې ور واچوي او معبودان (بوتان) به ورته هيڅ ګټه ونه شي رسولی.

۶_ بې شکه الله ﷻ هغه چا ته هدايت نه کوي او مطلب ته يې نه رسوي کوم چې ډېر دروغژن او هم ډېر ناشکره وي، چې دروغ او ناشکري يې عادت ګرځېدلي وي او يا ورباندې عناد کلک کړي وي.

۷_ ای پيغمبره! دا هم خلکو ته اعلان کړه چې: الله ﷻ به د قيامت په ورځ د موحدينو او د هغو مشرکينو ترمنځ هم ذکره شوې فيصله عملي کړي کوم چې الله ﷻ ته په ولديت قائل او معتقد دي، حال دا چې ولديت د الوهيت سره سل په سلو کښې مناقض دی.

۸_ الله ﷻ نه ولد نيسي او نه ورته اراده کوي، که بالفرض المحال الله ﷻ ورته اراده وکړي نو ضرور به د خپل مخلوق څخه کوم يو په ولديت سره ونيسي، چې ټول حادث دي او ازلي نه دي (د ده ﷻ څخه په غير خو نور ټول موجودات حادث دي يو هم ازلي نه دی).

حال دا چې په ذکر شوې فرضي صورت کښې بايد په ولديت سره نيولی شوی مخلوق ازلي وي چې د ازلي جزء به وي، دا نه دی مګر تناقض دی.

۹_ نو په همدې بنياد الله ﷻ د ولديت او نورو ټولو نواقصو څخه پاک او منزه دی چې:

الف: الله ﷻ د هر حيثه واحد دی او ولديت د تجزيه کولو څخه نمايندګي کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: الله ﷻ قهار دی، خپله اراده په زور تحمیلولی شي او هر شي ته موجودیت ورکولی شي، نو د ولدیت څخه بې پروا او بې نیاز دی.

## توضیحات

۱ــ په ﴿ تَنزِيلُ ٱلْكِتَـٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ کښې د ﴿ تَنزِيلُ ٱلْكِتَـٰبِ ﴾ کلمات مبتدأ ده او د متعلق په اعتبار د ﴿ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ کلمات یې خبر دی، یعنې هغه کتاب (قرآن کریم) چې د ټولو عالمونو دپاره د قیامت تر ورځې پورې پند دی د الله ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی چې هم عزیز او هم حکیم دی، نو د همدې کبله په دې کتاب کښې د عزت او حکمت اثار څرګند دي چې نه یې څوک مخنیوی کولی شي، او نه پکښې څوک څه نواقص موندلی شي.

## سوال جواب

۲ــ که څوک وایي چې: ذکر شوی مضمون خو په ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ ﴾ بیا تکرار شوی دی، نو په دغه تکرار کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: د دواړو ایتونو په مضامینو کښې تکرار نشته ترڅو جواب ته اړتیا پېښه شي، او دا ځکه چې په اول ایت کښې د قرآن کریم عالي شان نازل شوی دی او په دوهم ایت کښې د نبي کریم ﷺ عالي شان ته اشاره شوې ده، چې همدغه کتاب په تاباندې مونږ نازل کړی دی تا د خپله خانه نه جوړ کړی دی او نه یې د جوړولو توان لرې.

## یو نحوي تحلیل

۳ــ د ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ﴾ په نحوي تحلیل کښې مفسرینو کرامو ډېرې وجې لیکلي دي[۱]، کوم تحلیل چې مونږ ته بهتر بریښېدلی دی هغه په لاندې پنځو ټکو کښې توضیح کېږي:

الف: د ﴿ وَٱلَّذِينَ ﴾ موصول د خپلې صلې سره مبتدأ ده.

ب: په ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ ﴾ کښې د ﴿ زُلْفَىٰٓ ﴾ کلمه اسم دی خو د مصدر (قُرْبَة) په ځای باندې ولاړ دی[۲]، او د ﴿ لِيُقَرِّبُونَآ ﴾ دپاره من غیر اللفظ مطلق مفعول دی.

ج: دغه جمله د "يَقُولُونَ" په تقدیر سره د ذکرې شوې مبتدأ خبر ده.

د: په ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِى مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ جمله کښې د مشرکانو د ذکرې شوې وینا او خبر رد ته اشاره شوې ده.

ه: په ﴿ بَيْنَهُمْ ﴾، ﴿ هُمْ ﴾، ﴿ يَخْتَلِفُونَ ﴾ کښې درېواړه د جمعې ضمیرونه اهل الادیان ته راجع دي په کوم باندې چې وړاندېنی کلام دلالت کوي، چې سوچه دینه او غیر سوچه دینه کسان دي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۳ ص۲۳۵؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۴۶۹

(۲) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۲۳۳؛ زاد المسير ج۷ ص۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د پاسنيو ټکو په نظر کښې نيولو سره يې د معنى حاصل داسې راځيږي چې: هغه کسان کومو چې د الله ﷻ څخه په غير نور دوستان او معبودان نيولي دي، د بهانې په توګه وايي چې: مونږ د دغو معبودانو او دوستانو عبادت د بل هيڅ غرض دپاره نه کوو مګر فقط د همدې دپاره چې مونږ الله ﷻ ته په رتبه کښې نژدې کړي نژدېکت، چې د دوزخه نجات راکړي.

خو د دغو مشرکانو بهانه واقعيت نه شي موندلی او دا څکه چې د قيامت په ورځ به يوازې الله ﷻ د ټولو اهل الاديانو ترمنځ په هغه شي کښې په حقه فيصله وکړي په کوم کښې چې دوی نن ورځ اختلاف کوي. هملته به مشرکانو ته ورڅرګنده شي چې ذکره شوې بهانه او وينا بالکل بې اثره ده، نو باطل معبودان نه خپل عابدين الله ﷻ ته ورنژدې کولی شي او نه ترې د دوزخ د عذاب څخه نجات ورکولی شي.

﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيْلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيْلِ ۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ أَلَا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّـٰرُ ﴿٥﴾ خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْأَنْعَـٰمِ ثَمَـٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ۚ يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَـٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمَـٰتٍ ثَلَـٰثٍ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٦﴾ إِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنكُمْ ۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ ۖ وَإِن تَشْكُرُوا۟ يَرْضَهُ لَكُمْ ۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٧﴾ ﴾

[۵] الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په حقه پيدا کړي دي (عبث نه دي، او هم) شپه په ورځې باندې ورڅرخوي او ورځ په شپې باندې ورڅرخوي (يوه په بلې کښې ننباسي)، او هم يې لمر او سپوږمۍ (د خلکو دپاره) مسخر کړي دي، چې هر يو تر ټاکلي نبټې پورې روان دي (خپله دوره په مستمره توګه پوره کوي).

(ای خلکو!) اګاه اوسئ چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) ډېر ښېونکی دی.

[۶] الله ﷻ تاسو د يوه نفس (آدم ﷺ) څخه پيدا کړي ياست، بيا يې د همدغه يوه نفس څخه د ده جوړه (حواء رضي الله عنها) هم ګرځولې (پيدا کړې) ده.

او تاسو ته يې د څارويو څخه (لکه اوښان، غوايان، ګډې او اوزې) اته جوړې (نر او ښځه) نازل کړي (پيدا کړي) دي.

الله ﷻ تاسو د خپلو مورګانو په ګېډو کښې د يو ډول پيدايښت څخه وروسته په بل ډول پيدا ښت

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره په درښوو تیارو کښې پیدا کوي (چې د ګېډې، رحم او د پیروانو د تیارو څخه عبارت دي)
(ای خلکو!) دغه الله ﷻ ستاسو پالونکی دی (او) همده ﷻ ته واکداري (مختصه) ده، (په حقه) معبود نه دی مګر همدی ﷻ دی، نو تاسو کومې خواته اړولی کېږئ (چې د غیر الله ﷻ عبادت کوئ).
[۷] (ای خلکو!) که تاسو ناشکري (کفر) غوره کړئ نو (دا تاسو ته ضرر دی ځکه چې) یقیناً الله ﷻ ستاسو (د عبادت) څخه بې پروا (او بې نیاز) دی، او د خپلو بندګانو دپاره کفر نه خوښوي (که څه هم اراده یې پکښې شته).
او که تاسو شکرګزاري وکړئ (او د کفر څخه ځانونه بچ وساتئ) نو الله ﷻ دا (شکرګزاري د خپل ځان دپاره نه بلکې) ستاسو دپاره خوښوي.
او هیڅ بار اوچتوونکی نفس د بل نفس بار نه اوچتوي (د هر چا ګناه په خپله غاړه ده.
ای خلکو!) بیا (د مرګ څخه وروسته) ستاسو ورتاوېدل (فقط) خپل رب ﷻ ته دي نو په هغو اعمالو باندې به مو خبر کړي کوم چې تاسو یاست چې کوئ یې (نتائج به یې درڅرګند کړي).
یقیناً ستاسو رب ﷻ په داسې حالاتو هم پوه دی چې د سینو خاوندان دي (او ستاسو په زړونو کښې پټ دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې په توحیدي عقیدې باندې توصیه شوې وه او شرکي عقیده رده شوې وه، په دې ایتونو کښې په همدغو مطالبو باندې څه دلایل نازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د وحدانیت په ارتباط په خپل اُمت باندې څه دلایل قرائت کړه ترڅو توحیدي عقیده خپله کړي او د کفري او شرکي عقیدې څخه لاس واخلي:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې یې په حقه سره پیدا کړي دي چې هیچا ورسره پکښې اشتراک نه دی کړی او نه یې پکښې کولی شو.

۲ـ په پیدا کولو باندې علاوه د اسمانونو او ځمکو په روزمره کیفیاتو کښې یې هم هیچا ته برخه نه ده ورکړې او فقط د همده ﷻ په اراده باندې څرڅېږي او بس. مثلاً:

الف: شپه په ورځې باندې ورتاوه وي، چې رڼا ترې پورته کوي او توره تیاره ورباندې ورخوروي.

ب: بالعکس ورځ په شپه باندې ورتاوه وي، چې د تیارې په عوض رڼا ته وده ورکوي.

ج: الله ﷻ لمر او سپوږمی د مخلوقاتو دپاره مسخر کړي دي چې د همدوی په ګټه په مستمره توګه راځېږي او پرېوځي.

د: دغو دواړو ته یې په دورو کښې نېټې ټاکلي دي چې د ټاکلو شوو نېټو څخه بالکل تخلف نه کوي، او همدارنګه الله ﷻ د دواړو دپاره نهایي وخت هم ټاکلی دی چې د هغه په رسېدلو سره به دواړه د حرکته لوېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای خلکو! اګاه اوسئ چې الله ﷻ د ګڼکي ارادي خاوند دی، د ده ﷻ په روزمره اجرااتو کښې هیڅوک ګوتې نه شي وهلی.

خو د دې سره‌سره، بښونکی هم دی که مشرکان د خپلو کفریاتو او شرکیاتو څخه توبه تائب شي نو په تېرو شوو جنایتونو باندې به سزا ورنه کړي.

۳ـ ای خلکو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې یو نفس (آدم ﷺ) یې د خاورو څخه پیدا کړی دی او بیا یې د همدغه یوه نفس څخه تاسو ټول پیدا کړي یاست، او ځمکه یې درباندې آباده کړې ده او هرې خټې ته یې ورخواره کړي یاست.

البته چې ستاسو پیدا کول د هغه وخت څخه وروسته صورت ونیوه چې د همغه یوه نفس څخه یې هغه ته جوړه هم پیدا کړه، چې ستاسو د مور (حواء رضی الله عنها) څخه عبارت ده.

۴ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو د ګټو او استفادو دپاره یې نور ساکښان خلق کړي دي او خاصتاً اته ډوله څاروي یې درته پیدا کړي دي چې هغه د اوښانو، غوایانو، ګډو او اوزو څخه عبارت دي، چې هره یوه جوړه د نر او ښځې څخه جوړښت مومي چې اته نوعې ترې جوړېږي.

۵ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو په مستمره توګه د میندو په ګېډو کښې په مراحلو سره پیدا کوي او د یوې مرحلې څخه مو بلې مرحلې ته وراتنقالوي.

دغه مرحلوي پیدایښت په درېوو تیارو (خایونو) کښې صورت نیسي، چې د میندو ګېډې، رحمونه او پیروانونه دي.

۶ـ ای بنیادمانو! تاسو خپل رب ﷻ وپېژنئ، دغه الله ﷻ (چې ذکر شوي کارونه کوي او هیڅوک ورسره پکښې اشتراک نه شي درلودلی) ستاسو رب ﷻ دی چې ټول واک او اختیار همده ﷻ پورې اختصاص لري.

همدغه الله ﷻ د عبادت مستحق دی، بلکې په حقه معبود نه دی مګر همدی ﷻ دی او بس، نو تاسو کوم طرف ته اړولی کېږئ چې ذکر شوو اعجازي کارونو ته نه ګورئ او بوتان مو په الوهیت سره نیولي دي، حال دا چې د هر حیثه ناتوانه دي.

۷ـ ای بنیادمانو! الله ﷻ ستاسو عبادت ته څه اړتیا نه لري.

الف: نو که تاسو ټول کفر غوره کړئ فقط خپلو ځانونو ته به ضرر ورسوئ، الله ﷻ ستاسو څخه بې پروا او بې نیاز دی، خو د دې سره‌سره د خپلو بندګانو دپاره کفر نه خوښوي چې عاقبت یې ابدي دوزخ دی.

ب: او که تاسو شکرګزاري وکړئ او خپل رب ﷻ وپېژنئ چې هیڅوک او هیڅ شی ورسره په عبادت کښې برخوال نه دئ، نو دا شکرګزاري ستاسو دپاره ستاسو رب ﷻ خوښوي او رضامندي یې درباندې حاصلېږي چې عاقبت یې ابدي جنت دی.

۸ـ ای بنیادمانو! تاسو لاندې ارشادات هم په اذهانو کښې وساتئ:

الف: د الله ﷻ په نزد هیڅ بار اوچتوونکی نفس د خپل پېټي څخه پرته د بل چا پېټی نه اوچتوي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د هر چا گناه په خپله غاړه ده، نو که تاسو ته څوک د گناهونو د اوچتولو وعده درکړي، هغه دروغ وايي، چې ورباندې ونه غولېږئ.

ب. د دغه دنياوي ژوند څخه وروسته ستاسو رجوع خپل رب ﷻ ته حتمي ده چې په دغه وخت کښې به مو هرومرو په هغو ټولو کړو وړو باندې خبر کړي کوم چې تاسو په دنيا کښې لگيا باست چې کوئ يې او بيا يې هېروئ.

ج. په دې باندې علاوه الله ﷻ په هغو حالاتو باندې هم پوه دی کوم چې ستاسو زړونو او سينو سره ارتباط لري، نو د قيامت په ورځ به مو په دغو قلبي حالاتو باندې هم خبر کړي چې ستا دا عقيده وه او تا په دنيا کښې دا عقيده خپله کړې وه.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ يُكَوِّرُ ٱلَّيْلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيْلِ ﴾ کښې د "يُكَوِّرُ، يُكَوِّرُ" دواړه کلمې د "تَكْوِير" څخه اشتقاقي شوې دي، "تَكْوِير" د تاوولو معنى ورکوي لکه د پگړۍ ولونه چې يو په بل تاوو کېږي[1]، خو په دې مقام کښې لاندې معناوې درلودلى شي:

الف. الله ﷻ په مستمره توگه شپه او ورځ يو د بل په تعقيب داسې چورلوي چې نه دواړه سره اجتماع موندلى شي او نه د دواړو ترمنځ فاصله صورت نيسي.

همدې معنى ته الله ﷻ په بل ايت کښې اشاره کړې ده چې: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ خِلْفَةً ﴾ [الفرقان: ۶۲] يعني الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې شپه او ورځ يې يوه د بلې خليفه او نائبه گرځولې ده چې يوه د بلې خای نيسي او يوه د بلې په تعقيب چورلېږي.

ب. الله ﷻ شپه په ورځ باندې ورتاووي، چې د ورځې ځينې برخې په شپه کښې ننباسي او بالعکس د شپې ځينې برخې د ورځې برخې گرځوي او په ورځ کښې يې رانغاړي.

همدا مضمون د يو تفسير په بنياد په دې ايت کښې په نظر کښې نيولى شوى دى چې: ﴿ تُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ﴾ [آل عمران: ۲۷] يعني اى الله! ته شپه په ورځ کښې ننباسې او ورځ په شپه کښې ننباسې (يوه د بلې په برخو باندې اوږدوې).

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د ﴿ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا ﴾ جمله د ﴿ خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ﴾ په جمله باندې عطفه ده، خو د ﴿ ثُمَّ ﴾ د توري څخه څرگندېږي چې د بنيادمانو پيدايښت د خپلې مور (حواء رضي الله عنها) څخه وړاندې صورت نيولى دى، حال دا چې دا معنى د واقع مخالفه ده، لکه چې پوره بيان يې د [البقرة: ۳۵] ايت لاندې تېر شوى دى، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) مفردات الراغب، ص ۴۴۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د دغه سوال دپاره مفسرینو کرامو متعدد جوابونه لیکلي دي[۱]، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د ﴿ خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ﴾ څخه د عالم الذر پیدا کول مطلب دي چې د حواء رضي الله عنها د پیدایښت څخه وړاندې يې صورت نیولی وه[۲]، د عالم الذر د پیداکولو مفصل بیان د [الأعراف: ۱۷۲] ایت لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

ب: د ﴿ ثُمَّ ﴾ توری دلته د زماني تاخیر دپاره نه دی[۳] ترڅو اعتراض وارد شي بلکې د ذکري تاخیر دپاره دی، لکه چې یو نظیر يې په [البقرة: ۲۹] ایت کښې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ. یعنې الله ﷻ تاسو د یوه نفس څخه پیدا کړي یاست بیا لا دا خبره هم په یاد کښې وساتئ چې الله ﷻ د همدغه یوه نفس جوړه د همده څخه پیدا کړې ده.

## یادونې

۳ـ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب په یاد وساتل شي:

الف: په ﴿ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْأَنْعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ﴾ کښې د ﴿ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ﴾ کلمه په [الأنعام: ۱۴۳] ایت کښې واضحه شوې ده ـ والحمد لله ﷻ، چې دلته لیکلو ته يې اړتیا نه ګورو.

ب: په ﴿ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ ﴾ کښې د بنیادم د پیدایښت مراحلو ته اشاره ده چې د الله ﷻ په توفیق د [الحج: ۵] ایت لاندې يې شرحه تېره شوې ده، او د المؤمنون د سورت تقریبًا په اولنیو ایتونو کښې هم ورته اشاره شوې ده، هیله ده چې د زیات تفصیل دپاره همغلته مراجعه وکړی شي.

ج: دا د یو پلوه، او د بله پلوه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په ﴿ فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ ﴾ کښې د ﴿ ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ ﴾ کلمات داسې تفسیر کړي دي چې: درې تیارې د مور د ګېډې او د مور د رحم او هم د پیروان څخه عبارت دي[۴]، چې جنین پکښې رانغښتی وي او د الله ﷻ څخه په غیر پکښې هیڅوک تصرف نه شي کولی.

## د اهل السنت والجماعت عقیده

۴ـ په ﴿ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ ﴾ کښې د اهل السنت والجماعت عقیده منعکسه شوې ده[۵]، هغه دا چې:

الف: لکه څنګه چې نیک کارونه د الله ﷻ په اراده موجودېږي همدارنګه د بدو کارونو ـ لکه ظلم او کفر ـ موجودیت هم د همده ﷻ په اراده صورت نیسي.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۴۷۴؛ روح المعاني ج۲۳ ص۲۴۰

(۲) تفسير الطبري ج۲۳ ص۱۹۴

(۳) تفسير الكشاف ج۴ ص۱۱۴

(۴) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۶؛ الدر المنثور ج۷ ص۲۱۲

(۵) شرح العقائد ج۲ ص۱۴۵؛ تفسير البغوي ج۴ ص۷۲؛ تفسير المظهري ج۷ ص۱۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مطلب ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُۥ يَجْعَلْ صَدْرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجًا﴾ [الأنعام ۱۲۵] یعني او هر چاته چې الله ﷻ د ګمراه کولو اراده وکړي نو د هغه سینه تنګه وګرځوي ډیره تنګه (مسلماني ورته سخته شي).

ب: الله ﷻ بدو کارونو ته په خپلې ارادې سره موجودیت ورکوي خو ورباندې خوښ نه دی، د همدې کبله ترې منعه کوي. او ناخوښي یې د دې کبله نه ده چې ده ﷻ ته څه نقصان دی بلکې د دې کبله ده چې بد کارونه د ده ﷻ بندګانو ته په ضرر تمامیږي.

ج: اما نیک کارونه یې خوښیږي هم، د همدې کبله ورباندې امر کوي، خو د خپل اقدس ذات دپاره نه، بلکې د خپلو بندګانو دپاره چې همدوی ترې ګټه پورته کوي

د: نو په همدې بنیاد رضامندي د ارادې څخه مغایره ده او ورسره مرادفه نه ده. لکه څنګه چې اهل الاعتزال خیال کوي

لنډه دا چې په اراده باندې د یوه کار کول توقف لري چې باید ترې وړاندې وي، او رضامندي د کار د کولو په تعقیب صورت نیسي[۱]

هـ: په همدې موضوع کښې د [الأنعام ۱۴۸] ایت لاندې څه نور تفصیل هم تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ والمنة والشکر ـ نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِىَ مَا كَانَ يَدْعُوٓا۟ إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ۝ أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُوا۟ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ۝﴾

[۸] او کله چې (کافر) انسان ته څه ډول ضرر ورسیږي نو خپل (حقیقي) رب ﷻ په داسې حال کښې بلي چې ورته رجوع کوونکی (او زاری کوونکی) وي.

بیا چې کله ورته خپل رب ﷻ د خپله جانبه نعمت ورکړي نو (سمدستي) خپل هغه حال هېر کړي کوم ته به یې چې وړاندې (د خپل رب ﷻ په حضور کښې) بلنه کوله (او سوالونه به یې کول)، او (په دې باندې علاوه) الله ﷻ ته د دې دپاره سیالان (او شریکان) ګرځوي چې (نور خلک هم د خپل ځان په شان) بې لارې کړي

(ای پیغمبره! ته ورته) ووایه چې به خپل کفر سره لږ وخت (په دنیا کښې) ګټه واخله (او په آخرت کښې) یقینًا ته د اور (دوزخ) د (دائمي) ملګرو څخه یې

(۱) التحریر الوجیز ج۴ ص۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹] (ایا دغه ذکر شوی کافر بهتر دی او) که هغه څوک (بهتر دی) کوم چې د شپې په برخو کښې په داسې حال اطاعت کوونکی وي چې سجده کوونکی او درېدونکی (لمونځ کوونکی هم) وي. (او په همدغه حال کښې) د وروستنۍ ورځې (د عذاب) څخه ډارېږي او (په هر حال) د خپل رب ﷻ د رحمت اُمید کوي (ورته په تمه وي).

(ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه چې: ایا هغه کسان کوم چې پوهېږي او هغه کسان کوم چې نه پوهېږي سره یو برابر دي؟ (هیڅکله نه).

یقیناً د سوچه عقلونو خاوندان (د الله ﷻ د ارشاداتو څخه) پند اخلي (او بس).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د الله ﷻ د وحدانیت دلایل او د همده ﷻ د کامل قدرت څه مثالونه نازل شوي وه، په دې ایتونو کښې د دلایلو په وړاندې د انسان عکس العمل بیان شوی دی او هم یې د عکس العمل نتیجې ته اشاره کېږي. هغه دا چې:

الف: کله چې یوه کافر ناشکره انسان ته څه مصیبت او مشقت ورسېږي نو سمدستي خپل باطل معبودان هېروي او یوازې خپل حقیقي رب ﷻ ته په داسې حال کښې سوالونه کوي چې په ډېر اخلاص سره ورته رجوع کوونکی وي، ته به وایې چې هیڅکله یې د بوتانو عبادت نه دی کړی.

ب: بیا چې کله ورته خپل رب ﷻ په خپل فضل سره نعمت ورکړي او د مصیبت په عوض ورته عافیت په نصیب کړي نو سمدستي خپل پخوانی حال هیروي چې خپل حقیقي رب ﷻ ته به یې سوالونه کول او عافیت به یې ترې غوښت. په دغه وخت کښې خپل ځان داسې بې پروا نیسي لکه چې هیڅکله یې خپل رب ﷻ ته سوال نه وي کړی او په هیڅ شي کښې ورته نه وي اړ شوی.

ج: په دغه وخت کښې یوازې په هېرولو اکتفاء نه کوي بلکې د خپل رب ﷻ سره په عبادت کښې شریکان او سیالان هم دروي، ترڅو ورباندې د خپل ځان په څېر نور جهال هم بې لارې کړي.

د: ای پیغمبره! ذکر شوی کافر انسان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

ای ناشکره! د څه لنډ او لږ وخت دپاره په خپل کفر او کفریاتو باندې مزې او چړچې وکړه کوم چې ستا د ژوند دپاره ټاکلې شوې دي، خو په دې پوه شه چې ته به د دغه لږ وخت د پوره کولو څخه وروسته د اور او دوزخ د انډیوالانو څخه وګرځې چې هیڅکله به دې ورسره انډیوالي قطعه نه شي.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ په ﴿أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ﴾ الآیة کښې لاندې تحلیلونه په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: دلته یوه متعادله جمله مقدره ده[۱]، چې مونږ ترې په "أَهَٰذَا الْكَافِرُ خَيْرٌ" سره تعبیر کوو.

ب: د دغې جملې په تقدیر باندې لاندې دوه دلیلونه دلالت کوي:

(۱) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۶۸؛ الدر المنثور ج۷ ص۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: وړاندېنی کلام ﴿ وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَـٰنَ ضُرٌّ ﴾ الآية.

دوهم: وروستنی کلام ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ ﴾ الآية.

ج: د ﴿ أَمَّنْ ﴾ کلمه په اصل کښې "أَمْ مَنْ" وه چې د استفهامي "أَمْ" د "م" توری د موصولي "مَنْ" د "م" په توري کښې ادغام شوی دی.

د: موصولي "مَنْ" د خپلې صلې په ملحوظ مبتدا ده او د "خَيْرٌ" مقدره کلمه يې خبر دی.

نو د ذکر شوو تحليلونو په نظر کښې نيولو سره يې د معنی حاصل داسې راځېژي چې: ای پيغمبره! ايا دغه کافر ـ چې وړاندې يې حال ذکر شو ـ بهتر دی او که هغه څوک چې لاندې صفات ولري؟:

اول: چې د شپې په برخو کښې خپل رب ﷻ ته په عبادت مشغول وي او د قيام او سجدې په حالونو کښې ورته اطاعت کوي (او شپه په لمونځونو سبا کوي).

دوهم: چې عقيده يې د دنياوي نعمتونو په موجوديت او زوال پورې موقوفه نه وي بلکې د مشقت او خوشالۍ په دواړو حالونو کښې د وروستنۍ ورځې د محاسبې څخه ډارېږي.

دريم: همدارنګه په هر حال د خپل رب ﷻ د رحمت اُميد کوي او ورته په تمه وي.

## څوک قانت جوړېدلی شي؟

۳ـ په ياد ولرئ چې نبي کريم ﷺ د ذکر شوي ايت په ارتباط د ﴿ قَـٰنِتٌ ﴾ د کلمې دپاره په يوه حديث کښې هغه څوک هم مصداق ګرځولی دی چې په يوه شپه کښې د قرآن کريم سل ايتونه په لمانځه کښې قرائت کړي. هغه دا چې:

«مَنْ قَرَأَ بِمِائَةِ آيَةٍ فِي لَيْلَةٍ كُتِبَ لَهُ قُنُوتُ لَيْلَةٍ»[۱] يعنې هغه څو چې په يوه شپه کښې سل ايتونه قرائت کړي نو هغه ته به د يوې شپې قنوت وليکل شي (او د همدغې شپې دپاره به ورباندې قانت صادق شي).

﴿ قُلْ يَـٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ فِى هَـٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ وَأَرْضُ
ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّـٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾ قُلْ إِنِّىٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ
مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلْ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى
عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾ قُلِ ٱللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُۥ دِينِى ﴿١٤﴾ فَٱعْبُدُوا۟ مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِۦ ۗ
قُلْ إِنَّ ٱلْخَـٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلْمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥ ۚ
يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِينَ ٱجْتَنَبُوا۟ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ ۚ
فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُ ۖ
وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمْ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۰] (ای پیغمبره! زما د پلوه) ووایه چې: ای زما هغو بندګانو کومو چې ایمان راوړی دی تاسو د خپل رب ﷻ (د عذاب) څخه وډار شئ (او نعمتونو ته یې په تمه شئ او دا خکه چې:)

خاص هغو کسانو ته چې په دغې نژدې حقیرې دنیا کښې یې نېکی کړې دي (په دنیا او آخرت کښې) نېکی دي.

او د الله ﷻ ځمکه پراخه ده (که په یوه ځای کښې تقوی نه شئ کولی بل ځای ته هجرت وکړئ).

یقیناً (په هجرت او نورو مشقتونو باندې) صبر کوونکو ته (د الله ﷻ دپلوه) بې حسابه اجرونه ورکولی کېږي.

[۱۱] (دا هم ورته) ووایه چې: یقیناً ماته امر کړی شوی دی چې په داسې حال کښې یوازې د الله ﷻ عبادت وکړم چې د خپل انقیاد (بندګی) ورته سوچه جوړونکی یم.

[۱۲] او ماته امر کړی شوی دی چې: زه د (ټولو) غاړې ایښودونکو لومړی غاړه ایښودونکی شم.

[۱۳] (ورته) ووایه چې: یقیناً که زه (بالفرض المحال) د خپل رب ﷻ څخه عصیان وکړم، نو د لویې ورځې (قیامت) د عذابه ډارېږم.

[۱۴] (ورته) ووایه چې: زه خاص الله ﷻ ته په داسې حال عبادت کوم چې د خپل دین (انقیاد) لره ورته سوچه جوړوونکی یم.

[۱۵] نو (چې تاسو زما دعوت نه قبلوئ) د الله ﷻ څخه په غیر د هغه شي عبادت وکړئ کوم چې ستاسو خوښ وي (نتیجه به یې وګورئ).

(ورته) ووایه چې: یقیناً (کامل) زیانکاران هغه کسان دي چې خپل ځانونه او خپل اهل (پیروان) یې د قیامت په ورځ په تاوان کښې اچولي وي. اګاه اوسئ! چې: دغه (ذکر شوی زیان) همدا ځرګند زیان (او تاوان) دی (چې هیڅ جبیره نه لري، او دا خکه چې):

[۱۶] دوی لره (په دوزخ کښې) د دوی د پاسه هم د اور څخه سوري دي او د لاندې څخه یې هم (د اور) سوري دي (د هرې خوا ورباندې اور احاطه کړې ده).

(ای پیغمبره!) دغه عذاب چې دی په دې سره الله ﷻ خپل بندګان ډاروي، (نو) ای زما بندګانو! زما څخه وډار شئ (او د جنایتونو څخه اجتناب وکړئ).

[۱۷] او هغه کسان کوم چې د طاغوتانو (بوتانو) څخه ځان په څنګ کوي چې عبادت یې وکړئ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او الله ﷻ ته رجوع کوي د همدوی دپاره (په جنتونو سره) زیری دی.

نو (ای پیغمبره!) زما بندګانو ته زیری ورکړه.

[۱۸] (البته) هغو بندګانو ته کوم چې خبره (قرآن کریم) اوري، نو د ډېرې ښې خبرې یې پیروي کوي (چې تولې ښې خبرې دي).

دغه (چې وړاندې ذکر شوه) هغه کسان دي کومو ته چې الله ﷻ هدایت کړی دی (مطلب ته یې رسولي دي) او دغه کسان چې دي همدوی د سوچه عقلونو خاوندان دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې تمام شوی وه چې پوه کسان هوښیاران دي، چې د خپلو عقلونو په ذریعه د دلایلو څخه پند اخلي، خو ناپوه کسان دا کار نه کوي چې د همدې کبله د جهالت په خوب ویده پراته دي.

په دې ایتونو کښې د ترغیب او ترهیب په شمول څو نصائحو ته اشاره کېږي ترڅو غافلان د غفلت د خوبه راویښ شي او د خپلو عقلونو څخه د خپلو ځانونو په ګټه استفاده وکړي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د نصائحو په لړ کښې دا مطالب قرائت کړه:

۱ـ زما د پلوه زما بندګانو ته ووایه چې:

الف: ای زما هغو بندګانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د خپل رب ﷻ څخه وډار شئ، او په ډېر اخلاص خپله توحیدي عقیده کلکه وساتئ، او خپلو نیکو اعمالو ته ادامه ورکړئ، او دا خکه چې:

ب: ستاسو د رب ﷻ په نزد د هغو کسانو دپاره کوم چې په دې دنیا کښې عقیدةً او عملاً نیکي کوي، په دنیا او آخرت کښې ښه ښایسته او لوړه رتبه او عوضونه دي، تاسو زیار وباسئ چې دغه دنیاوي او اُخروي عوضونه درڅخه فوت نه شي.

ج: ای زما بندګانو! که تاسو د معاندینو جاهلانو د فشار لاندې واقع شوئ چې خپله عملي تقوی مو نه شوه پیاده کولی او عقیدوي تقوی مو نه شوه څرګندولی، نو د خپل استوګنځای څخه بل وطن ته هجرت وکړئ، او د هغوی د فشار څخه ځانونه خلاص کړئ، د الله ﷻ ځمکه خو پراخه ده، او د ده ﷻ بندګي د ځمکې په یوه ګوټ پورې ځانګړې نه ده، تاسو چې هر ځای ته لاړ شئ هغه د الله ﷻ په واکدارۍ کښې شامل دی.

د: څه لرې نه ده چې تاسو ته په هجرت کښې مشقتونه او زحمتونه ورسېږي، خو تاسو ورباندې صبر وکړئ. ځکه چې یقینًا د الله ﷻ د پلوه صبر کوونکو ته د دوی اَجرونه په دنیا او آخرت کښې بې حسابه ورکولی کېږي چې د بندګانو علم ورباندې احاطه نه شي کولی.

نو تاسو هیله وکړئ چې په دنیا کښې د نعمتونو هغه پراخي درکړي د کومې به چې تاسو ګومان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم نه کوئ او په کومې باندې به چې ستاسو دښمنان د سخت خفګان سره مخامخ شي.

۲_ ای پیغمبره! د دې دپاره چې ستا اُمت په تا پسې اقتداء وکړي، یو ځل بیا ورته خپله تګلاره بیان کړه:

الف: ورته ووایه چې: زه د الله ﷻ د پلوه مامور کړی شوی یم چې په اخلاص سره ورته عبادت وکړم او خپل انقیاد ورته د عقیدوي او عملي شرکونو څخه بچ وساتم.

ب: زه په دې مامور یم چې په ټولو غاړې ایښودونکو کښې اول نمره جوړ شم، یا په بل عبارت: که بالفرض هیڅوک الله ﷻ ته غاړه کښېنږدي هم زه به ورته غاړه ایښودونکی یم.

ج: ای زما اُمته! یقینًا زه هم د لویې ورځې (قیامت) د عذابه ډارېږم که بالفرض زه د خپل رب ﷻ عصیان وکړم، نو تاسو هم ترې وډار شئ چې شرکي عقیده هیچا ته نه عفوه کېږي.

د: نو په همدې بنیاد ورته ووایه چې: ای زما امته! زما دریځ خو دا دی چې زه خاص د الله ﷻ عبادت په داسې حال کوم چې خپل دین او عقیده مې ورته سوچه ګرځولې ده او په هیڅ ډول سره شرک پکښې نشته.

هـ: دا زما دریځ دی نو تاسو ته دعوت درکوم چې په ما پسې اقتداء وکړئ او د شرکیاتو څخه خانونه بچ وساتئ او یا ترې لاس واخلئ: که تاسو ما پسې اقتداء نه کوئ نو ستاسو خوښه چې د الله ﷻ څخه په غیر د هر شي عبادت کوئ ویې کړئ، خو د ډېر تاوان سره به مخامخ شئ.

و: ای پیغمبره! بالآخره دا هم ورته ووایه چې: یقینًا کوم کسان چې په تاوان کښې کامل دي او پوره تاوانیان دي هغوی هغه کسان دي کومو چې خپل خانونه او خپل کور کهول (خپل پیروان) ټول د قیامت په ورځ د زیان سره مخامخ کړي دي، نو په هغې ورځ کښې به یې په سر کښې روان وي. او دوزخ ته به یې ورداخل کړي.

۳_ ای پیغمبره! دغه زیان _چې انتهاء یې ابدي دوزخ دی_ څرګند زیان دی، ځکه چې په دوزخیانو باندې به د پاسه هم د اور لمبو احاطه کړې وي، او لکه غرونه غرونه به ورباندې راتاوې شوې وي او د لاندې خوا څخه به یې هم د اور لمبې وي (توشک او برستن دواړه به یې د اور څخه جوړ وي).

۴_ ای پیغمبره! دغه عذاب _چې وړاندې ورته څه اشاره وشوه_ هغه سخت عذاب دی په کوم سره چې الله ﷻ خپل بندګان ډاروي چې پکښې واقع نه شي. نو یو ځل بیا ورته زما د پلوه اُبلاغ کړه چې: ای زما بندګانو! زما څخه وډار شي او د کفریاتو څخه خانونه بچ وساتئ او یا یې ترې بچ کړئ، چې د دوزخ څخه نجات مونده کړئ.

۵_ ای پیغمبره! بالمقابل هغو کسانو ته په جنت سره زیری دی کوم چې لاندې صفات لري:

الف: هغه کسان کوم چې د بوتانو او سرکشانو څخه اجتناب کوي او خپل خانونه د دې څخه په څنګ ساتي چې عبادت یې وکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هغه کسان کوم چې په هر شي کښې الله ﷻ ته رجوع کوي، په خوشالۍ کښې يې شکرګزاري کوي او په زحمتونو او مشقتونو کښې صبر کوي او يوازې د همده ﷻ څخه عافيت غواړي.

۶ـ ای پیغمبره! زما هغو بندګانو ته زما په رضامندۍ او په جنتونو سره زېرى ورکړه کوم چې زما خبرې (قرآن کریم) د زړه په غوږونو اوري، نو سمدستي يې پيروي کوي څکه چې زما خبرې ټولې ډېرې ښايسته او ډېرې ګټورې دي.

۷ـ ای پیغمبره! په پای کښې ابلاغ کړه چې: دغه د قرآن کريم پيروان هغه کسان دي کومو ته چې الله ﷻ هدايت کړی دی او مطلب ته يې رسولي دي، او هغه کسان دي کوم چې د سوچه عقلونو خاوندان دي او د خپلې پوهې او خپل عقل څخه ګټه پورته کوي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ په مطابق نبي کريم ﷺ مامور وه چې د خپل أمت په ټولو مسلمانانو کښې په لاندې لحاظونو اول لمبر شي[۱]:

الف: چې د هر چا څخه وړاندې په خپل نبوت باندې عقيده خپله کړي او په همدې هکله د خپل رب ﷻ امر ته غاړه کېږدي، دغه مضمون ته په [الأعراف:۱۵۸] ايت کښې اشاره شوې ده.

ب: چې په اخلاص او د ايمان په سوچه والي کښې د هر چا څخه مخکښې وي، پوره واضحه ده چې د پيغمبر ﷺ اخلاص ته د هيچا اخلاص نه شي رسېدلی.

## ظل څه معنی؟

۲ـ په ﴿ مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾ کښې د ﴿ ظُلَلٌ ﴾، ﴿ ظُلَلٌ ﴾ دواړه کلمې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [لقمان: ۳۲] ايت لاندې شرحه کړې دي، چې هره يوه د "ظُلَّة" جمعه ده او "ظُلَّة" هغه شي ته ويل کېږي کوم چې د چا په سر باندې سورى جوړوي لکه وريځ او نور.

خو په دې مقام کښې ذکر شوې دواړه کلمې د احاطې څخه کنايه دي[۲] د همدې کبله په ﴿ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾ کښې هم د ﴿ ظُلَلٌ ﴾ کلمه نازله شوې ده، حال دا چې سورى د سر دپاسه صورت نيسي نه د پښو د لاندې.

نو حاصل يې داسې راځېژي چې: د دوزخيانو دپاره به د هره طرفه د اور احاطې وي او يوه خوا به يې هم خالي نه وي.

همدغه مضمون ته په [الأعراف: ۴۱] او [العنكبوت:۵۵] ايتونو کښې په نورو کلماتو سره اشاره شوې ده.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۲۰۱، تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۸
(۲) روح المعاني ج۲۳ ص۲۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## متعدد تفسیرونه

۳_ علماوو کرامو د ﴿ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ ﴾ کلمات په متعددو ډولونو سره تفسیر کړي دي[1]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ ٱلْقَوْلَ ﴾ کلمه ټولو اقوالو ته شامله ده، برابره خبره ده چې وحې وي او که نه. او د ﴿ أَحْسَنَهُۥٓ ﴾ څخه أحسن الأقوال مطلب دي، چې قرآن کریم دی، یا مطلقې وحې ده او یا نورې د خیر خبرې دي. یعنې هغوی هر ډول خبرې اوري خو یوازې د شرعي احکامو پیروي کوي او د خیر د خبرو پسې تاند وهي.

ب: د ﴿ ٱلْقَوْلَ ﴾ څخه قرآن کریم مراد دی، نو "أَحْسَنَ الْقَوْلِ" د هغو ایتونو څخه عبارت دی کوم چې محکمات وي، یعنې هغوی د قرآن کریم ټولو ایتونو ته غوږ ږدي خو پیروۍ دپاره محکمات غوره کوي او د متشابهاتو څخه خانونه ساتي.

### تبصره

۴_ زمونږ په نظر دلته لاندې ټکي په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: په ذکرو شوو دواړو تفسیرونو سره باید د "أَحْسَن" کلمه د تفضیلي معنی په لحاظ وانخستله شي. او دا ځکه چې:

ب: ترڅو د لومړي تفسیر په بنیاد ذکر شوی بشارت هغه چاته هم شامل شي کوم چې هر ډول خبرې اوري خو د شرونو څخه یې خان ساتي او د حَسَن او احسن (ښه او ډېر ښه) دواړو پیروي کوي هسې نه چې یوازې د "أحسن" په پیروۍ اکتفاء کوي.

ج: ترڅو د دوهم تفسیر په بنیاد اعتراض وارد نه شي، ځکه چې د قرآن کریم ټول ایتونه د متشابهاتو په شمول أحسن (ډېر ښایسته) دی، لکه چې په راتلونکي [الزمر:۲۳] ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی چې ﴿ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا ﴾ الآية- هسې نه چې ځینې د احسن (ډېر ښه) د درجې څخه ټیټ دي.

د: د "أَحْسَن" د کلمې (په ذکر شوي لحاظ سره) یو نظیر د "خَيْر" کلمه ده، چې بیان یې د [البقرة:۲۷۱] ایت لاندې تېر شوي او بل نظیر یې په "اللهُ أكْبَر" کښې د "أكْبَر" کلمه ده چې پوره بیان یې د [الأعراف:۱۴۵] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

﴿ أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِى ٱلنَّارِ ۝١٩ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَعْدَ ٱللَّهِ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ ٱلْمِيعَادَ

10
32

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۴۴؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۰۷۵؛ المحرر الوجیز ج۱۴ ص۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿٢٠﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا
مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى
ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢١﴾ أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ
قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾

[۱۹] (ای پیغمبره!) نو ایا هغه څوک چې د الله ﷻ د عذاب خبره وربانذې ثابته شوې وي (چې ضرور به معذبیږي، نه هغه ته هدایت کولی شې)؟، ایا نو ته هغه څوک خلاصولی شې کوم چې (د الله ﷻ د ازلي علم مطابق) په اور کښې وي؟

[۲۰] مګر هغه کسان کوم چې د خپل رب ﷻ څخه ډاریږي، خاص همدوی ته داسې ماڼۍ دي چې د پاسه یې نورې ماڼۍ دي (دا تولې ماڼۍ لا پخوا) جوړې کړی شوي دي، چې لاندې ترې (خلور) ویالې بهیږي. (الله ﷻ وعده کړې ده) د الله ﷻ وعده کول، الله ﷻ په وعده کښې خلف (پې لوظي) نه کوي.

[۲۱] ایا ته نه ګورې چې یقیناً الله ﷻ د اسمان څخه اوبه رانښکته کوي، نو په ځمکه کښې موجودو چینو کښې یې ننباسي، بیا په دې اوبو سره (د ځمکې څخه) په داسې حال کښې کښتونه راوباسي چې رنګونه (او ډولونه) یې مختلف وي، بیا دغه (کښتونه) وچ کلک شي چې ته یې (د شین رنګ څخه وروسته) په زیړ رنګ کښې ګورې، بیا الله ﷻ همدا (کښتونه د ډېر وچوالي د کبله میده میده) (مات مات) ګرځوي (چې بادونه یې یوه خوا او بله خوا الوزوي).
یقیناً په دغې (ذکره شوې عملیه) کښې د سوچه عقلونو خاوندانو دپاره لوی پند (او عبرت) دی.

[۲۲] نو ایا هغه څوک چې سینه یې الله ﷻ د اسلام دپاره پرانستې وي (د هغه چا په شان دی چې زړه یې ډېر کلک وي)؟ نو دا (چې سینه پرانستې وي) د خپل رب ﷻ د پلوه (د هدایت) په رڼا باندې دی (په روښانه لاره روان دی).

نو د هغو کسانو دپاره هلاک (او افسوس) دی کومو چې د الله ﷻ د ذکر څخه زړونه سخت وي (ترې غافل وي)، دغه (کسان) په ښکاره ګمراهۍ کښې (واقع) دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندینې ایتونه د ﴿ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ په کلماتو باندې ختم شوي وه، په دې ایتونو کښې د یوه پلوه په همدغو کلماتو باندې یوه تبصره نازله شوې ده او د بله پلوه پکښې نبي کریم ﷺ ته د جهالو په کړنلاره تسلي ورکړه شوې ده چې حاصل یې داسې راخېژي:
ای پیغمبره! په خپل امت باندې د عاقلانو او بې عقلانو په حالاتو باندې لاندې تبصره قرائت کړه:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ بې عقلان او جهال (كفار) د هوښيارانو د حالاتو سره متناقض حالات لري هغه دا چې:

الف: كفار (چې خپل عقلونه په كار نه اچوي) د هوښيارانو غوندې نه دي بلكې دوى خيرې اوري خو د خير څنډه يې نه خوښوي بلكې شر پسې تاند وهي.

ب: د همدې كبله هغوى په لوى لاس خپل خانونه په اور كښې اچوي او د الله ﷻ د تعذيب خبره ورباندې په اثبات رسوي.

ج: اى پيغمبره! ته د جهالو په ايمان نه راوړلو باندې ډېر مه غمژن كېږه، او دا خكه چې: ايا ته هغه چا ته د اور څخه نجات وركولى شي كوم چې په خپل كفر باندې كلک وي او د الله ﷻ د تعذيب خبره ورباندې ثابته شوې وي؟

۲ـ اى پيغمبره! كه څه هم ستا دعوت او ارشادات جهالو او عنادي كفارو ته څه گټه نه رسوي مگر هغو كسانو ته گټه رسوي كوم چې د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي او خپل عقلونه په كار اچوي. نو:

الف: همدغو هوښيارانو ته د خپل رب ﷻ په نزد په جنت كښې داسې ماڼۍ تيارې شوې دي چې د هغو د پاسه به نورې ماڼۍ وي، او چت په چت به اوچتې شوې وي.

ب: دغه ماڼۍ به د هغوى د ورتگ څخه لا وړاندې جوړې كړى شوې وي او د سرو زرو او سپينو زرو خښتې به پكښې كارولى شوې وي.

ج: ذكر شوې ماڼۍ به د دنيا د ماڼيو په شان نه وي چې يوازې په لاندېنى چت كښې يې اوبه بهېږي، بلكې د هغو ماڼيو په هر يو چت كښې به څلور ډوله ويالې روانې وي، چې د شودو، شاتو، اوبو او شرابو د ويالو څخه عبارت دي.

د: دغه وعده د بل چا وعده نه ده بلكې د الله ﷻ وعده ده، او يقيناً الله ﷻ هيڅكله به خپله وعده كښې خلاف نه كوي چې وعده كړى شوى شى ورنه كړي، نو د الله ﷻ څخه زيات هيڅوک په خپل لوظ باندې كلک نه دى.

۳ـ اى پيغمبره! هوښياران څكه په حقيرې دنيا باندې زړه نه تړي چې دلته هر شى د زوال سره مخامخ كېدونكى دى، ايا ته نه گورې چې:

الف: يقيناً الله ﷻ د اسمانه اوبه (باران) را اوروي، نو دغه باراني اوبه په هغو چينو كښې ننباسي كومې چې د ځمكې په داخل كښې خورې ورې دي، او ځاى په ځاى د سيندونو او كاريزونو او هم په نورو شكلونو كښې د ځمكې څخه راوځي او رابهېږي.

ب: په همدغه اوبو سره الله ﷻ د ځمكې څخه مختلف كښتونه او رنگارنگ نباتات راوباسي، او ځمكه ورباندې سنگاروي.

ج: څه وخت وروسته همدغه كښتونه او نباتات مراوي كېږي او وچېږي چې تاته ـبلكې هر چا تهـ زېړ رنگې په نظر درځي چې تازگي يې د منځه تللې وي.

د: بيا الله ﷻ همدغه زېړ رنگى او وچ شوي نباتات ميده-ميده گرځوي چې د خپله ځايه يې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بادونه یو پلو او بل پلو ته الوزوي او د ځمکې مخ ترې خالي کوي، ته به وایې چې دلته به هیڅ نبات موجودیت نه وی درلودلی.

هـ: یقیناً د نباتاتو په ابتداء او انتهاء کښې د هوښیارانو دپاره ډېر لوی پند او د عبرت درس نغښتی دی، د همدې کبله دوی په دنیا زړونه نه تړي او په هر شي کښې اصلي هدف آخرت ګرځوي چې دائمي دی او زوال نه لري.

۴_ ای پیغمبره! د ذکر شوي بیان په ملحوظ ایا هوښیاران او غیر هوښیاران (جهال) یو برابر دي؟. پوره څرګنده ده چې جواب منفي دی نو:

الف: الله ﷻ چې د چا سینه د اسلام د قبول دپاره پراخه کړې وي هغه د خپل رب ﷻ د پلوه په لویه رڼا باندې دی او په پوره بصیرت سره په روښانه لاره باندې روان دی.

ب: او څوک چې الله ﷻ یې سینه تنګه کړې وي او د توبې توفیق یې نه وي ورکړی، د هغوی زړونه د حق د قبول څخه د ډېرې په شان کلک دی چې د توحید کلمه یې په زړونو کښې ځای نه نیسي، نو د همدې کبله هغوی ته افسوس او د دوزخ کنده ده، او همدغه کسان په څرګنده ګمراهی کښې دي چې د څارویو غوندې د خوراک او څښاک څخه په غیر په بل شي نه پوهېږي او بل شی نه پېژني.

## توضیحات

۱_ د ﴿أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ﴾ کښې د اعراب په لحاظ مفسرینو کرامو دوه وجې لیکلي دي[۱] چې په دواړو وجو سره په مضمون باندې چندان اثر نه پرېوځي خو کومه وجه چې مونږ ته بهتره برېښېدلې ده هغه په لاندې ټکو کښې شرحه کېږي:

الف: د "ف" توری په وړاندېني کلام باندې د تفریع دپاره دی خو څرنګه چې د استفهام همزه (ء) د صدارت غوښتونکې ده، نو صرف په تکلم کښې په "ف" باندې وړاندې ده، او په معنی کښې ترې وروسته ده[۲].

ب: د "من" کلمه موصوله ده چې د خپلې صلې سره مبتدا ده، او خبر یې مقدر دی چې په "تهدي" سره ترې تعبیر کولی شو.

ج: د ﴿أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِى ٱلنَّارِ﴾ جمله د وړاندېنۍ جملې تاکید دی.

یعنې: نو د وړاندېني بیان په بنیاد تاته دا پوښتنه راجع کېږي چې: ایا ته هغه چا ته هدایت کولی شي او مطلب ته یې رسولی شي په کومو باندې چې د الله ﷻ په نزد د عذاب خبره ثابته شوې وي چې ضرور به معذبېږي؟ یا په بل عبارت: ای پیغمبره! ایا ته هغه چا ته نجات ورکولی شي کوم چې د الله ﷻ په ازلي علم کښې د اهل النار (دوزخیانو) څخه وي؟

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۲۱؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۴۹۴؛ المحرر الوجیز ج۱۴ ص۷۳
(۲) البحر المحیط ج۹ ص۱۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په ﴿ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ ﴾ کښې د "لَٰكِنْ" توری د استدراک دپاره دی او په هغه ځای کښې استعمالیږي په کوم کښې چې د وړاندېني کلام څخه څه توهم صورت ونیسي، نو پوښتنه دا ده چې دغه توهم په دې مقام کښې څه شی دی؟

مونږ وايو چې: د وړاندېني کلام مضمون دا وه چې نبي کریم ﷺ دوزخیانو ته نجات نه شي ورکولی، نو د دې دپاره چې د نبي کریم ﷺ په ارشاداتو باندې څوک مطلقًا ګومان ونه کړي چې ګټه به نه شي رسولی، نو د متقیانو د حال سره ذکر شوی توری نازل کړی شو، او د ذکر شوي توهم مخه ونیوله شوه، والله ﷻ أعلم.

## څو نکات

۳_ په ﴿ لَهُمۡ غُرَفٞ مِّن فَوۡقِهَا غُرَفٞ مَّبۡنِيَّةٞ تَجۡرِي ﴾ الآیة- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ غُرَف ، غُرَف﴾ دواړه کلمې د "غُرْفَة" _لکه "قُدْرَة"_ جمعې دي، که څه هم "غُرْفَة" د هغې بنګلې نوم دی کومه چې د بلې بنګلې یا کوټې دپاسه جوړه شوې وي، مګر د جنت ټولې کوټې او بنګلې په همدغه نامه یادیږي[۱].

ب: مونږ د الله ﷻ په توفیق د جنتي بنګلو د تفسیر په هکله د [الفرقان:۷۵] ایت لاندې یو حدیث لیکلی دی خو په دې مقام کښې وړباندې لاندې یو بل حدیث هم وراضافه کوو:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَغُرَفًا يُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا»[۲] یعنې یقینًا په جنت کښې هرومرو داسې بنګلې دي چې ظاهر یې د باطن څخه او باطن یې د ظاهر څخه د ډېرې صفایۍ د کبله لیده کېدلی شي.

ج: د ﴿ مَّبۡنِيَّةٞ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې جنتي ماڼۍ او بنګلې لا د پخوا څخه جوړې کړی شوي دي، هسې نه چې وروسته به جوړېږي، خو جوړښت یې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې داسې تشریح کړی دی چې: «لَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ»[۳] یعنې د جنت د ساختمان یوه خښته د سپینو زرو ده او بله خښته یې د سرو زرو ده، او کوم شی چې د خښتو په منځکښې کارولی کېږي هغه خوشبویه مشک دي، او همدارنګه د جنت شګې ملغلرې او یاقوت دي او خاوره یې زعفران ده.

## د څو لغاتو معناوې

۴_ په ﴿ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ الآیة- کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۲

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۷۹

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ﴿ فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د ﴿ يَنَٰبِيعَ ﴾ کلمه د "يَنْبُوع" جمعه ده، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء: ۹۰] ايت لاندې ليکلي دي چې "يَنْبُوع" د اوبو د چينې معنی ورکوي. يعنې الله ﷻ ذکر شوي باراني اوبه په هغو چينو کښې ورننباسي او ورباندې اضافه کوي يې کومې چې د ځمکې په داخل کښې خورې ورې دي او خای په خای پکښې راځرګندېږي.

ب: په ﴿ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ ﴾ کښې د ﴿ يَهِيجُ ﴾ کلمه د "هِيَاج" ـ لکه "قِتَال" ـ ځخه اشتقاقه شوې ده، "هِيَاج" د تازه بوټي د زياتو وچېدلو معنی ورکوي[1]. يعنې کوم نباتات چې په اسماني اوبو سره د ځمکې ځخه ښه تازه راوټوکېږي هغه د وخت په تېرېدلو سره ډېر زيات وچ شي، لکه چې هیڅکله يې تازګي نه وي ليدلې.

ج: په ﴿ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا ﴾ کښې د "حُطَام" کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې د ډېر وچوالي د کبله ميده ميده وګرځي[2]. يعنې بيا الله ﷻ ذکر شوي نباتات د ډېر وچوالي د کبله ميده ميده کړي او بالکل يې د منځه يوسي، همدغه د ټولې دنيا حال دی.

## يو نحوي تحليل

۵ـ په ﴿ أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ کښې بايد د اولنۍ توضيح نحوي تحليل تطبيق شي چې ښه وضاحت يې لاندې لوستلی شي:

الف: په ﴿ أَفَمَن ﴾ کښې د "ف" توري په استفهاميه همزه "أ" باندې معناً مخکښې دی.

ب: د "مَنْ" کلمه پکښې د خپلې صلې سره مبتدا ده او خبر يې مقدر دی چې په "كَمَنْ قَسِيَ قَلْبُهُ" سره ترې تعبير کولی شو، چې ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم ﴾ جمله ورباندې دلالت کوي.

ج: د ﴿ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ جمله د ذکرې شوې جملې مضمون تاکيدوي.

يعنې اى پيغمبره! د وړاندې بيان په بنياد تاته يوه پوښتنه راجع کېږي هغه دا چې: ايا هغه ځوک د کوم سينه چې الله ﷻ د اسلام دپاره پراخه کړې وي نو د خپل رب ﷻ د پلوه په روښنانه رڼا باندې وي، د هغه چا غوندې دي چې زړه يې کلک وي او په توره تياره کښې تيندکونه خوري؟.

﴿ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا مُّتَشَٰبِهًا مَّثَانِىَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾ أَفَمَن يَتَّقِى بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظَّٰلِمِينَ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۳۹۵
(۲) مفردات الراغب ص۱۲۲، اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۴۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ ٱلْخِزْيَ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾﴾

[۲۳] الله ﷻ ډېر ښایسته (او خوږ) کلام کتاب (قرآن کریم) نازل کړی دی (البته) په داسې حال کښې چې (مضامین یې په اعجاز او نورو صفاتو کښې) متشابه دي (او) بیا-بیا نازل کړی شوي دي.

د دې کتاب (د هیبت) څخه د هغو کسانو پوستکي څکه کېږي (او زړونه یې رپېږي) کوم چې د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي، بیا یې پوستکي او زړونه د الله ﷻ ذکر ته ارامېږي (او اطمنان مونده کوي).

دغه کتاب (چې څه صفات یې ذکر شوه) د الله ﷻ هدایت دی چې هغه چا ته وربانديې لارښوونه کوي کوم ته یې چې (د هدایت) اراده وشي، او الله ﷻ چې هر چا لره ګمراه کړي (هدایت ورته ونه کړي) نو هغه ته هیڅ لارښودونکی نشته (او نه به ورته مونده شي).

[۲۴] نو ایا هغه څوک چې د قیامت په ورځ د بد (او سخت) عذاب څخه د خپل مخ په ذریعه (د خپل ځان) ساتنه (او دفاع) کوي؟!

(یا په بل عبارت: ایا هغه څوک چې د قیامت په ورځ د عذاب دپاره هیڅ دفاع نه لري د هغه چا غوندې دی کوم چې په دغې ورځ کښې بالکل د عذابه په آمن کښې وي؟).

او ظالمانو ته به (په دغې ورځ کښې توبیخًا) وویلی شي چې: د هغو کړو وړو (سزا) وڅکئ کوم چې تاسو په دنیا کښې وئ چې کسب کول به مو.

[۲۵] (ای پیغمبره!) هغو کسانو هم (خپلو پیغمبرانو ته) د دروغو نسبت کړی وه کوم چې د دوی څخه پخوا تېر شوي دي، نو د داسې طرفه ورته عذاب ورغی چې شعور (لږ علم) یې (هم) وربانديې نه درلود.

[۲۶] نو هغوی ته الله ﷻ په حقیر ژوند کښې رسوایي وروڅکله او هرومرو د وروستنۍ ورځې عذاب خو ډېر لوی دی (چې د بېچ کېدلو او خلاصون توان ترې نشته)، که دوی (د دې زمانې کفار) پوهېدلی (نو د هغوی څخه به یې د عبرت درس اخستی وی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېني متصل ایت کښې الله ﷻ د کفارو سختو زړونو ته اشاره کړې وه چې د ډېرو غوندې سخت دي او شرعي دعوت پکښې نفوذ نه کوي. په دې ایتونو کښې بالمقابل د مؤمنانو د زړونو ذکر نازل شوی دی چې د پیغمبر ﷺ د دعوت په هکله په نرمۍ کښې د مومو مثال لري. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قرآن کریم د اثر په ارتباط څه نور مطالب هم قرائت کړه چې:

۱ـ الله ﷻ تاسو ته آحسن او ډېر ښایسته کلام درنازل کړی دی چې د هر یوه ایت د مقابلې څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې ټول مخلوقات عاجز دي او د ټولو دپاره رحمت دی. او دا صفات لري:

الف: قرآن کريم داسې کتاب دی چې ايتونه يې سره يو تربله په صدق او اعجاز او نورو صفاتو کښې متشابه دی او مضامين يې يو بل ته ورته دی.

ب: نو که څه هم يو مضمون پکښې مکرر نازل شوی وي خو په هر مقام کښې بېل-بېل امتيازات لري، چې د همدغو امتيازاتو د کبله اتحاد او عينيت باقي نه پاتې کېږي يوازې تشابه باقي پاتې کېږي، د همدې کبله يې په هر ځل نزول کښې جدا-جدا اثر دی.

ج: د قرآن کريم په اورېدلو او لوستلو سره د هغو کسانو په پوستکو کښې ځيګوالی پيدا کېږي کوم چې د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي.

يا په بل عبارت: د قرآن کريم د کلماتو څخه د الله ﷻ عالي شان د ورايه برېښي چې په اورېدونکو باندې د ډار اثر غورزوي.

د: په عين حال کښې د قرآن کريم په کلماتو کښې د الله ﷻ مهرباني او زيات رحمت هم په ډاګه ځرګندېږي. نو د همدې کبله د ډارېدونکو بندګانو پوستکي بېرته نرموالي او پوستوالي ته ورګرځي او زړونه يې هغه اطمنان ترلاسه کوي کوم چې د الله ﷻ د ذکر پورې تړاو لري.

لنډه دا چې د قرآن کريم ﷺ په اورېدلو سره په مؤمنانو باندې د خوف او رجاء (ډار، اُميد) دواړه حالونه ورعارضېږي، چې په بشري کلام کښې دغه دواړه حالتونه صورت نه شي نيولی.

هـ: ای پيغمبره! دا قرآن کريم د الله ﷻ هدايت دی چې هغه چاته ورباندې هدايت کوي او مطلب ته يې رسوي کوم ته يې چې اراده وشي. بالمقابل هر چاته چې الله ﷻ هدايت ونه کړي (توفيق ورنه کړي) او د ګمراهۍ په خوا يې روان کړي، نو هغه ته بيا د سمې لار هيڅ لاربنود نشته.

۲ـ ای پيغمبره! نو ايا هغه څوک چې د قيامت په ورځ د سخت او بد عذاب څخه فقط د خپل مخ په ذريعه ځان بچ کوي، يا په بل عبارت: چې سخت عذاب يې مستقيماً په مخ پورې تماس نيسي او د نجات ټولې لارې ورباندې بندې وي؛ د هغه چا غوندې کېدلی شي چې هلته د هر ډول عذاب څخه مامون وي او د جنت د بې شماره نعمتونو څخه ګټه پورته کوونکي وي؟

۳ـ په دغې ورځ کښې به د زيات تخجيل په غرض ذکرو شوو ظالمانو او ګمراهانو ته وويلی شي چې د خپلو هغو کړو وړو سزا وڅکئ کوم چې تاسو په دنيا کښې کسب کول.

۴ـ ای پيغمبره! د خپل اُمت د کفارو په تکذيب باندې ډېر مه متاثر کېږه. او دا ځکه چې:

الف: د دوی څخه پخوا هم ډېرو کفارو خپلو-خپلو پيغمبرانو ته د دروغژنانو نسبت کړی دی، خو په ناڅاپي توګه ورباندې عذاب ورنازل شوی دی، نو په دغه کفارو باندې به هم په ټاکلي وخت کښې عذاب ورنازل شي.

ب: الله ﷻ هغوی ته د رسوايۍ او شرمندګۍ عذاب په دغه حقير او نږدې ژوند کښې وروڅاکه او هرومرو د آخرت عذاب خو لا ورته په مخکښې دی چې هغه ډېر لوی عذاب او ډېر

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دروند عذاب دی، دا عذاب د دنیاوي عذاب غوندې پای نه لري.

ج: که بالفرض ذکر شوي ظالمان نن ورځ د نوموړي عذاب په سختوالي او اوږدوالي باندې پوهېدی نو کفري او شرکي عقیدې ته به یې ادامه نه وی ورکړې.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکي په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: په ﴿ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا ﴾ کښې ټول قرآن کریم ته د "مُتَشَابه" لقب ورکړی شوی دی، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران:۷] ایت لاندې لیکلي دي چې ټول قران کریم ته هم د "متشابه" لقب ورکولی کېږي، خو په دې معنی نه چې په مقابل کښې یې د "محکم، محکمات" کلمات استعمال وموږي، بلکې په دې معنی چې د قران کریم ټول ایتونه په اعجاز او نورو قرآني صفاتو کښې سره تشابه لري. په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

ب: د ﴿ مَّثَانِيَ ﴾ کلمه د [الحجر:۸۷] ایت لاندې ډېره ښه تحلیله شوې ده ـوالحمد لله ﷻـ، خو په دې مقام کښې دغه لقب ټول قرآن کریم ته د دې کبله ورکړی شوی دی چې: که څه هم په قرآن کریم کښې یو مضمون په تکراري ډول نازل شوی وي خو په هر ځل کښې بېل-بېل امتیازات لري چې لوستونکی او اورېدونکی یې حس کولی شي.

د مثال په توګه، د توحید دلایل په قرآن کریم کښې په مکرره توګه نازل شوی دی خو په هر ځل نزول کښې د جدا اثر درلودونکي دي. دا هم د قرآن کریم د حقانیت یو دلیل دی څکه چې بشري کلام په تکراري لوستلو یا اورېدلو سره نوی او تازه اثر نه غورزوي.

ج: د ﴿ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ ﴾ په ارتباط مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال:۲] ایت لاندې څه شرحه لیکلې ده او د [النساء:۴۱] ایت لاندې مو د تفسیر په حیث یو حدیث رانقل کړی دی، نو هلته یو ځل مراجعه کول به ـإن شاء اللهـ په ګټه تمام شي.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ په ﴿ أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجۡهِهِۦ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ ﴾ کښې د "مَن" کلمه د خپلې صلې سره مبتدا ده، او خبر یې مقدر دی چې مونږ ترې په "كَمَنْ هُوَ آمِنٌ مِنَ الْعَذَابِ" سره تعبیر کولی شو[1]، یعنې نو ایا هغه څوک چې د قیامت په ورځ د خپل مخ په ذریعه خپل ځان د عذابه ساتي (دفاع نه لري)، د هغه چا غوندې دی کوم چې هلته د عذابه په امن کښې وي او د نعمتونو درلودونکی وي؟

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ایا دوزخیان به د مخونو څخه د وقایو کار اخلي، حال دا چې دا کار خو

---

(۱) تفسیر البغوي ج۴ ص۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دنیا کښې د لاسونو څخه اخستل کېږي؟

مونږ وایو چې[1]:

الف: څرنګه چې د ورغورزولو په وخت کښې د کفارو لاسونه ولچک وي نو د مجبورۍ د کبله به دوی هلته د لاسونو په عوض خپل مخونه د وقایو په توګه استعمال کړي، خو څه ګټه به ورته ونه رسوي.

ب: د ﴿ بِوَجْهِهِۦ ﴾ کلمات د دې څخه کنایي دي چې کفار به د عذاب په مقابل کښې هیڅ وقایه ونه لري چې خپل ځانونه وربانديې بچ کړي، که بالفرض وقایه ولري نو هغه به د دوی مخونه وي.

ج: په مخونو سره وقایه په دې مقام کښې په مخونو باندې په دوزخ کښې د ورغورزولو څخه کنایه ده، الله ﷻ په بل ایت کښې همدې مضمون ته اشاره کړې ده چې: ﴿ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِى ٱلنَّارِ ﴾ [النمل: ۹۰] یعنې د بدوکارانو (کفارو) مخونه به په اور کښې وغورزولی شي (سر په څړې به پکښې ورواچولی شي).

﴿ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِى هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِى عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَـٰكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾ ﴾

[۲۷] او یقیناً مونږ د خلکو (د ګټې) دپاره په دغه قران کریم کښې د هر ډول مثال څخه (مثالونه) وهلي (بیان) کړي دي، شاید چې دوی ترې پند واخلي (او فائده ترې پوره کړي).

[۲۸] په داسې حال کښې چې (دغه قرآن کریم) په عربي (فصیحه) ژبه لوستلی کېږي (او په داسې حال کښې) چې د کوږوالي سره د مغایرت خاوند دی، ښایي چې خلک پرهېزګاري وکړي (او زمونږ څخه وډار شي).

[۲۹] الله ﷻ یو داسې (مملوک) سړی مثال ګرځوي چې داسې (مالکان) پکښې شریکان (برخوال) وي چې یو تربله تضاد لري (او یو د بل سره د اساني او نرمۍ نیت نه لري). او (بالمقابل د موحد کس دپاره یو) داسې (مملوک) سړی (مثال ګرځوي) چې د یوه سړي (مالک) دپاره سوچه وي (او هیڅوک ورسره پکښې اشتراک ونه لري).

ایا دغه دواړه (مملوکان) د مثال (او صفت) د حیثه یو برابر دي؟ خاص الله ﷻ ته حمد او ثناء ده (چې دغسې واضحه مثال یې نازل کړه).

---

[1] تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۲۵، اللباب في علوم الکتاب ج۱۶ ص۵۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(هغه دواړه برابر نه دي) بلکې د خلکو اکثریت نه پوهېږي (چې دواړه ورته برابر برېښي یا ورته لومړنی مملوک بهتر څرګندېږي).

[۳۰] (ای پیغمبره!) یقیناً ته مړکېدونکی یې، او یقیناً دوی (ستا دعوتي أمت "کفار" هم) مړه کېدونکي دي.

[۳۱] بیا به یقیناً تاسو ټول (دواړه جانبه) د قیامت په ورځ د خپل رب ﷻ په حضور کښې جګړې کوئ (یو به په بل پړه وراچوئ، نو هلته به ستاسو ترمنځ حقې فیصلې وکړی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې ختم شوی وه، چې که کفار پوهېدلی نو په کفري عقیده به کلک نه وی پاتې شوي چې په دنیا او آخرت کښې ورته په ضرر تمامېږي. په دې ایتونو کښې د قرآن کریم څه امتیازاتو ته اشاره شوې ده چې د پوهېدلو دپاره او د غفلت څخه د رابېداربدلو دپاره په ډېره ګټه تمامېږي، نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! مونږ د خلکو په پوه کولو کښې قصور نه دی کړی او د پوهې کافي وسائل مو ورنازل کړي دي. مثلاً:

۱ ـ مونږ قرآن کریم ورنازل کړی دی چې د لاندې صفاتو درلودونکی دی:

الف مونږ د خلکو د فهم او علم دپاره په قرآن کریم کښې په مختلفو موضوعاتو او په تېره بیا د توحید په عقیده کښې هر ډول مثالونه بیان کړي دي، ترڅو دوی پند او عبرت واخلي او د شرکي عقیدې په عوض توحیدي عقیده ونیسي.

ب دا قران کریم په خلکو باندې لوستل کېږي چې سمدستي لیکلی شوی نه دی، یا په بل عبارت لیکلی شوی مو نه دی نازل کړی چې د عربو اکثریت یې ونه شي لوستلی.

ج بلکې دا قرآن کریم په عربي فصیحه ژبه نازل شوی دی چې لومړني مخاطبین (عربان) ورباندې ډېر ښه پوهېږي او په فقط په اورېدلو سره ترې مطلب اخستی شي.

د په دې قرآن کریم کښې هیڅ کوږوالی او تناقض نشته او نه به پکښې مونده شي، که بالفرض په مضامینو کښې یې څه تضاد او اختلاف موجودیت درلودی نو د پوهېدلو په وړاندې به خنډ واقع شوی وی.

دا ټول د دې دپاره چې خلک پوه شي او د شرکیاتو او کفریاتو څخه پرهېزګاري وکړي او د الله ﷻ د عذابه ځانونه بچ کړي.

۲ ـ ای پیغمبره! د قرآن کریم د مثالونو څخه یو مثال په خپل أمت باندې قرائت کړه ترڅو ورسره د توحیدي عقیدې په خپلولو کښې کومک وکړي. هغه دا چې:

الف الله ﷻ د هغه یو سړي حال او صفت بیانوي چې غلام (مملوک) وي، خو مالکان یې متعدد وي او ټول بدخویه او بد اخلاقه وي چې په دوامداره توګه به اختلاف او جګړو اخته وي او هر یو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وړباندې د خپل خدمت دپاره زور اچوي.

نو ذکر شوی مملوک حیران وي چې د خپلو بدخویه مالکانو څخه کوم یو خوشاله کړي او د کوم یوه ډېر مراعات وکړي.

ب: د یو بل سړي حال هم د مثال په توګه بیانوي چې دا هم غلام او مملوک وي خو مالک یې فقط یو سړی وي او خاص همدغه یوه سړي ته تسلیم وي، چې د همدغه یوه خاوند د رضامند ګرځولو اندیښنه په نظر کښې لري.

ج: نو پوښتنه دا ده چې ایا ذکر شوي دواړه غلامان سره یو برابر دي؟ ایا د دواړو حال او صفت یو شان دی؟

د: پوره واضحه ده چې جواب منفي دی. نو ایا هغه څوک چې د متعددو باطلو معبودانو عبادت کوي او غواړي چې په خپل عبادت سره ټول راضي کړي او ټول ترې خوشاله وګرځي، د هغه چا د حال سره یو برابر دی چې فقط د الله ﷻ عبادت کوي او صرف د همده ﷻ په رضامندۍ حاصلولو کښې تاند وهي؟

هـ: الله ﷻ ته حمد او ثناء ده چې په خومره څرګند مثال کښې یې د کفر او شرک ابطال او د توحید احقاق او اثبات واضحه کړ چې هیڅ خفاء پکښې نشته! باید چې هرڅوک پوه شي خو د خلکو اکثریت وړباندې خپل خانونه ناپوه اچولي دي، بلکې نه پوهېږي او یا عناد نیولي دي.

۳_ ای پیغمبره! د قیامت ورځ راروانه ده، او ته او هم ستا دښمنان (کفار) ټاسو ټول مړه کېدونکي یاست بلکې داسې وګڼه لکه چې همدا اوس مړه یاست.

نو په همدغه ورځ کښې به د خپل رب ﷻ په حضور کښې یو تربله جګړې او بحثونه وکړئ، نو لکه چې نن ورځ ستا دښمنان د استدلال په میدان کښې مغلوبیان دي همدارنګه به هلته هم د مغلوبیت سره مخامخ شي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ ﴾ کلمات د ﴿ هَٰذَا الْقُرْءَانِ ﴾ څخه درې حالونه دي، دا د یو پلوه، او د بله پلوه دلته د ﴿ قُرْءَانًا ﴾ کلمه د "مَقْرُوءًا" په معنی سره ده، او د ﴿ عِوَجٍ ﴾ کلمه د کوږوالي څخه عبارت ده، چې دلته د اختلاف او تناقض معنی ورکوي.

یعنې: مونږ دغه قرآن کریم په داسې حال کښې نازل کړی دی چې د یو پلوه د مکتوب په شکل نه بلکې د تلاوت په شکل نازل شوی دی، او د بله پلوه به د قیامت تر ورځې پورې د مسلمانانو ترمنځ تلاوت کېږي. همدارنګه دا قرآن کریم په عربي فصیحه ژبه نازل شوی دی چې اولین مخاطبین یې وړباندې ډېر ښه پوهېږي، او بالآخره په داسې حال کښې مو نازل کړی دی چې هیڅ اختلاف او تناقض پکښې نشته. که بالفرض المحال دا قرآن کریم بشري کلام وی نو په دې کښې به ډېر اختلافات او تناقضونه موندلی شوي وی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# یو اعرابي تحلیل

۲_ په ﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ﴾ کښې لاندې نحوي تحلیل ولولئ[۱]:

الف: د ﴿ ضَرَبَ ﴾ کلمه د "بَيَّنَ" په معنی سره ده، او د "جَعَلَ" معنی ته متضمنه ده.

ب: د ﴿ مَثَلًا ﴾ کلمه د ﴿ ضَرَبَ ﴾ دپاره دوهم مفعول ده، چې "جَعَلَ" ته متضمنه ده.

ج: د ﴿ رَّجُلًا ﴾ کلمه د ﴿ ضَرَبَ ﴾ لومړی مفعول ده، او په متصلې جملې سره موصوفه ده، کومه چې لاندې تحلیلېږي:

د: د ﴿ فِيهِ ﴾ کلمه د متعلق په لحاظ مقدم خبر دی.

هـ: د ﴿ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ ﴾ کلمات (موصوف او صفت) مؤخره مبتدا ده.

دا جمله (مبتدا او خبر) د ﴿ رَجُلًا ﴾ دپاره صفت دی.

و: د "و" توری په وړاندېنې ﴿ رَجُلًا ﴾ باندې د عطف دپاره دی چې د عطف په غوښتنه یې عبارت داسې جوړېدلی شي چې: "ضَرَبَ مَثَلًا رَجُلًا".

ز: نو دغه ﴿ رَجُلًا ﴾ موصوف دی او ﴿ سَلَمًا لِّرَجُلٍ ﴾ یې صفت دی، چې موصوف د خپل صفت سره د مقدر "ضَرَبَ" دپاره لومړی مفعول دی، او مقدر "مَثَلًا" یې دوهم مفعول دی.

دا د یو پلوه او د بله پلوه د ځینو لغاتو معناوې یې دا دي چې:

ح: د ﴿ مُتَشَٰكِسُونَ ﴾ کلمه د "تَشَاكَسَ" _لکه "تَضَارَبَ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "تَشَاكَسَ" د تضاد او یو تربله په تنګولو باندې دلالت کوي[۲].

ط: په ﴿ سَلَمًا لِّرَجُلٍ ﴾ کښې د ﴿ سَلَمًا ﴾ کلمه مصدر ده[۳]، خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په "خَالِصًا" سره معنی کړې ده[۴].

نو د ذکرو شوو ټکو په پام کښې نیولو سره یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې:

د دې دپاره چې الله ﷻ خلکو ته د موحد او مشرک حال ښه څرګند کړي، د دوه وو مملوکانو (غلامانو) سرېو مثالونه په لاندې ډول بیانوي:

د مشرک دپاره هغه مملوک مثال ګرځوي کوم چې د متعددو مالکانو ترمنځ شریک وي، په داسې حال چې ټول مالکان یې یو تربله تضاد لري او یوه د بل سره د رقابت لاره خپله کړې وي ترڅو په مقابل جانب باندې تنګسه راولي. په دې باندې علاوه هر یو د مملوک څخه یوازې د خپل

---

(۱) البحر المحیط ج۹ ص۱۹۷؛ روح المعاني ج۲۳ ص۲۶۱
(۲) لسان العرب ج۶ ص۱۱۲
(۳) مفردات الراغب ص۲۴۶
(۴) روح المعاني ج۲۳ ص۲۶۲؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خان اطاعت غواړي خو د مملوک د احتیاج څخه اوړې خالي کوي چې د بل شریک څخه یې غوښتنه وکړي.

او د موحد دپاره الله ﷻ هغه مملوک سرې مثال جوړوي کوم چې فقط یو مالک ولري، یوازې د همدغه مالک اطاعت کوي او یوازې د همده ﷻ څخه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو غوښتنه کوي او بس.

نو پوښتنه دا ده چې ایا ذکر شوي دواړه مملوکان سره په فراغت او اطمنان کښې یو برابر دي؟ پوره واضحه ده چې جواب منفي دی، نو همدارنګه موحد او مشرک هم سره نه شي برابرېدلی.

## سوالونه او جوابونه

۳ـ د ﴿ فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ ﴾ په ارتباط د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي:

الف: که څوک وایي: مشرکانو خو خاص خاص بوتان درلوده او هر چا د بېل-بېل بوت عبادت کاوه، نو په هغوی باندې د ذکر شوي مملوک مثال تطبیق نه شي موندلی چې د بوتانو په تعدد باندې دلالت کوي؟

مونږ وایو چې: ټولو مشرکانو په خپل-خپل بوت باندې علاوه د الله ﷻ عبادت هم کاوه، نو دلته د ﴿ شُرَكَآءُ ﴾ د جمعې څخه ما فوق الواحد (د یو څخه وړیورته عدد) مطلب دی، نو په ذکر شوي مثال باندې تطبیق کېدلی شي چې یو معبود یې الله ﷻ او بل معبود یې خپل بوت وه.

ب: که څوک وایي: بوتان خو جمادات وه نو په مثال کښې د ﴿ مُتَشَٰكِسُونَ ﴾ کلمهورباندې نه شي تطبیق کېدی، چې تضاد او تخالف نه شي کولی او یو په بل باندې د تنګسې وروستلو توان نه لري؟

مونږ وایو چې: بوتان جمادات دي خو د ﴿ مُتَشَٰكِسُونَ ﴾ کلمه ورباندې نظر د مشرکانو فاسدې عقیدې ته تطبیق موندلی شي، ځکه چې هغوی ورته د الوهیت عقیده درلوده او د الوهیت غوښتنه دا ده چې د خپلو عابدینو څخه په عبادت کښې د یوازېتوب غوښتنه وکړي او د نورو معبودانو سره مزاحم واقع شي.

## څو نکات

۴ـ په ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴾ کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په وړاندېنې ایت کښې یوازې نبي کریم ﷺ مخاطب ګرځولی شوی وه چې ﴿ إِنَّكَ ﴾، او کفارو ته د غائب ضمیر راجع کړی شوی وه چې ﴿ وَإِنَّهُم ﴾، خو په دې ایت کښې د تغلیب په توګه نبي کریم ﷺ او د ده ﷺ کفار أمت ټول مخاطب ګرځولی شوي دي چې ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ ﴾ الآية- یعني ای پیغمبره! ته او ستا کافران دعوتي امتیان به د قیامت په ورځ د خپل رب ﷻ په حضور کښې جګړې وکړې چې هغوی به ستا د دعوت څخه انکار وکړي او ته به ورباندې د اندامونو شاهدان تېر کړې

ب- څرنګه چې په خصوص کښي د مفهوم عموم ته اعتبار دی، نو په روایت شریف کښي مقصود هغه جګړي او مطلبي کیسي دي چې د قیامت په ورځ صورت ونیسي او را ښکاره شي.

ج- کله چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو، زبیر رضي الله عنه د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! ایا هغه کیسي جګړي چې زموږ ترمنځ په دنیا کښي شوي دي، هغه به د قیامت په ورځ په موږ باندي تکراراً راپیدا کړی شي؟ نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې «نعم»[1] هو.

بیا نو موږ صحابي ته ووئیلي چې یقیناً په دغه وخت کښي ډېره سخته ده.

د نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ فِي الدِّمَاءِ»[2] یعني د قیامت په ورځ به د هر څه څخه وړاندي د خلکو ترمنځ په وینو کښي فیصلي وکړی شي چې یو د بل وینه تویه کړي وي.

د نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې «لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ تَنْطَحُهَا»[3] یعني د قیامت په ورځ به ټول حقوق خپل اهل ته ورکړی شي، آن تر دې د کلي اوزي میږه به د ښکرورې اوزې څخه بدله واخسته شي چې په دنیا کښي یې په ښکرو باندي وهلې وه (هغه به یې بالمقابل په ښکرو باندي ووهي).

اللَّهُمَّ حَاسِبْنَا حِسَابًا يَسِيرًا

د زمر سورت مبارکه په پښتو ترجمې او تفسیر سره د الله ﷻ په توفیق ختم شو

د الله ﷻ څخه د نور توفیق غوښتنه لرو

۱۴۲۲/۹/۲۵ هـ ق = ۱۳۸۰/۹/۱۹ هـ ش

---

(۱) جامع الترمذي ج ۲ ص ۱۵۹
(۲) صحیح البخاري ج ۲ ص ۱۰۹۴
(۳) مسند احمد بن حنبل ج ۲ ص ۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو
Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى ٱللَّهِ وَكَذَّبَ بِٱلصِّدْقِ إِذْ جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّذِى جَآءَ بِٱلصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٣٤﴾ لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ أَسْوَأَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ وَيَجْزِيَهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾

[۳۲] نو د هغه چا څخه سخت ظالم بل څوک دی چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او یا رښتیاوو ته د دروغو نسبت کوي (البته) کله چې ورته ورشي (سمدستي ورباندې بې فکره حکم کوي).
ایا په جهنم کښې د کافرانو دپاره دائمي استوګنځای نشته؟ (بلکې ورته شته).

[۳۳] او هغه څوک چې په رښتیا خبرې (قرآن کریم) سره راغلی او هم یې په همدې (رښتیا خبره) باندې تصدیق وکړ (او پیروانو یې هم خپلې اتباع ته ادامه ورکړه) دغه ډله (پیغمبر او پیروان یې) همدوی متقیان (پرهېزګاران) دي.

[۳۴] دوی لره د خپل رب ﷻ په نزد هغه نعمتونه دي کوم چې دوی یې غواړي (او ورته شوقمند دي. (ای پیغمبره!) دغه د محسنانو (نېکو کارانو) جزا ده.

[۳۵] (البته) دا د دې دپاره چې الله ﷻ ترې هغه سخت بد (او بد) ګناهونه (تول) ورژوي (او په خپل فضل سره یې پټ کړي) کوم چې دوی (په دنیا کښې) کړي وي، او چې الله ﷻ ورته خپل اجرونه د هغو ډېرو ښو (او ښو) کارونو په سبب ورکړي کوم چې دوی (په دنیا کښې) وه چې کول به یې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې تمام شوی وه چې د قیامت په ورځ به د فیصلو دپاره خصومتونه صورت ونیسي، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه د فیصلو معیار او بنیاد ښودلی شوی دی چې د صدق څخه عبارت دی، او د بله پلوه د فیصلو نتائجو ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د قیامت په ورځ به منازعات او جګړې د حق او باطل او هم د صدق او کذب په معیار او بنیاد فیصله کېږي د مثال په توګه:

۱ ـ هغه چا چې په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وي لکه چې څوک خپل خان په دروغو پیغمبر وتراشي، او یا یې رښتیاوو ته د دروغو نسبت کړی وي لکه مشرکان او کفار. نو دغو دواړو ډلو نه په دوامداره توګه دوزخ استوګنځای ګرځولی شوی دی. او دا ځکه چې
د هغه چا څخه بل غټ ظالم بل څوک دی چې په الله ﷻ باندې دروغ وتړي او په دروغو د نبوت دعوه وکړي؟ همدارنګه د هغه چا څخه غټ ظالم بل څوک دی چې رښتیاوو ته د دروغو نسبت وکړي او د حقاني پیغمبر څخه انکاري وکړخي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په همدې بنیاد ایا په دوزخ کښې د کفارو دپاره په دائمي توګه استوګنځای نه دی ګرځولی شوی؟ بلکې ورته ګرځولی شوی دی.

۲ـ بالمقابل هغه څا چې رښتیاني پیغام راوړی وي او په حقه پیغمبر وي او یا هغه څوک چې په همدغه رښتیاني پیغام باندې یې ایمان راوړی وي او باور یې ورباندې کړی وي، نو همدغه دواړه ولې د مراتبو په تفاوت سره همدوی متقیان دي او د الله ﷻ د عذابونو څخه په وقایه کښې دي چې:

الف: همدغو متقیانو ته د خپل رب ﷻ په نزد په جنتونو کښې هغه نعمتونه ورکړی شوي دي کوم چې د دوی خوښېږي او کوم یې چې زړونه غواړي، کوم چې په دنیا کښې نه سترګو لیدلي دي، نه غوږونو اورېدلي دي او نه د بنیادمانو په زړونو کښې تېر شوي دي.

ب: ای پیغمبره! ذکر شوي نعمتونه د دغو متقیانو (نیکو کارانو) ته د دې کبله د دنیاوي کړو وړو جزا او عوض ټاکلی شوی دی ترڅو الله ﷻ د دوی څخه بد عملونه لا څه چې د دوی ډېر بد عملونه هم محوه کړي کوم چې په دنیا کښې تري بالفرض یا په حقیقت سره صادر شوي وي.

او ترڅو الله ﷻ دوی ته خپل اجرونه د هغو کړو وړو موافق ورکړي کوم به چې دوی په دنیا کښې ډېر ښه او ښایسته عملونه کول. یا په بل عبارت: ترڅو د دوی ټول نېک اعمال په ډېره ښه درجه کښې وټاکلی شي او په څندونو اجرونه ورکړی شي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَٱلَّذِى جَآءَ بِٱلصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ ﴾ کښې د "الَّذِي" کلمه مفسرینو کرامو په متعددو مصداقاتو سره تفسیره کړې ده. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دغه موصول (الَّذِي) د مقدر (فَوج) دپاره صفت دی[۱]، نو په دې تقدیر نبي کریم ﷺ او ټول مؤمنان په دغه موصول کښې مستقیمًا شاملېږي. یعني هغه ډله کومې چې د قیامت په ورځ باندې رښتیا ایمان راوړی وي او په رښتیاوو باندې یې تصدیق کړی وي نو همدوی متقیان او د راتلونکو اجرونو درلودونکي دي.

ب: ذکر شوی موصول (الَّذِي) د نبي کریم ﷺ څخه عبارت دی، او نور مؤمنان پیروان ورسره یکښې په طفیلي توګه شمولیت لري[۲]، نو د همدغو پیروانو په ملحوظ ورته په راتلونکو جملو کښې د جمعیت په نظر کتلی شوي دي. یعني نبي کریم ﷺ او د ده ﷺ پیروان چې دي همدوی متقیان او د نعمتونو خاوندان دي.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: په ﴿ لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ ﴾ کښې د ﴿ عَنْهُمْ ﴾ ضمير هغه "الَّذِي" ته راجع دی په کوم کښې چې

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۸۵
(۲) روح المعاني ج۲۴ ص۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ شامل دی او یا پخپله د نبي كريم ﷺ څخه عبارت دی، نو پوښتنه دا ده چې ایا ذکره شوې جمله د پیغمبرانو د عصمت سره منافي نه برېښي؟

مونږ وایو چې: په اولنې صورت کښې ذکر شوی ضمیر ورته د نبي کریم ﷺ څخه په غیر فقط د نورو مؤمنانو په لحاظ راجع ګرځولی کېږي او بس، او په دوهم صورت کښې ورته دغه ضمیر د اتباعو او پیروانو په ملحوظ راجع کېږي.

ب: که څوک وايي چې: په دغه ایت کښې د ﴿أَسْوَأَ الَّذِي﴾ او ﴿بِأَحْسَنِ الَّذِي﴾ د دواړو کلمو څخه ظاهراً داسې برېښي چې نېکوکارانو ته صرف د ډېرو بدو ګناهونو د محوه کولو او په ډېرو ښو عملونو باندې د اجرونو ورکولو وعدې ورکړی شوې دې او بس، او دا څکه چې د "أسوأ، أحسن" دواړه کلمې د تفضیل صیغې دي، نو ایا دا معنی صحت لري؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې دغه دواړه کلمې د تفضیل په حیث نه دي استعمالې شوې ترڅو اعتراض وارد شي، د همدې جواب د تائید په غرض لاندې وضاحتونه ولولئ:

اول: په بل ایت کښې د "أحسن" په مقابل کښې د "أسوأ" کلمه نه ده نازله شوې، بلکې د "سیئات" کلمې نزول موندلی دی چې: ﴿أُوْلَـٰٓئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ﴾ [الأحقاف:١٦] یعنې دغه توبه کوونکې ډله هغه کسان دي د کومو څخه چې مونږ ډېر ښه هغه عملونه قبلوو کوم چې دوی کړي دي او د بدیو (ګناهونو) څخه ورتېرېږو.

دوهم: عرب وايي چې "يُوسُفُ أَحْسَنُ إِخْوَتِهِ" یعنې یوسف ﷺ په خپلو ورونو کښې ډېر ښایسته وه، هسې نه چې ورونو یې هم ښایست درلود.

درېیم: د همدې موضوع په ارتباط د [الزمر:١٨] ایت لاندې څه نور وضاحتونه هم تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُۥ ۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِنْ هَادٍ ﴿٣٦﴾ وَمَن يَهْدِ اللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّ ۗ أَلَيْسَ اللَّهُ بِعَزِيزٍ ذِي انتِقَامٍ ﴿٣٧﴾ وَلَئِن
سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَـٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ
اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَـٰشِفَـٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَـٰتُ
رَحْمَتِهِۦ ۚ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ ۖ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ يَـٰقَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ
مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَـٰمِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ
عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾ إِنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَـٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۖ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾

[۳۶] ایا الله ﷻ خپل بنده ته کافي (بس کېدونکی) نه دی؟ حال دا چې مشرکان تا په هغو بوتانو سره ډاروي کوم چې (دوی يې) د الله ﷻ څخه په غیر (عبادت کوي)، او هر چا لره چې الله ﷻ گمراه کړي نو هغه ته هیڅ لاربنودونکی نشته.

[۳۷] او هر چاته چې الله ﷻ هدایت وکړي نو هغه ته هیڅ گمراه کوونکی نشته، ایا الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د انتقام اخستلو خاوند نه دی؟

[۳۸] او که چرته ته د مشرکانو څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړي دي، نو هرومرو او ضرور به دوی (په جواب کښې) ووايي چې (دا ټول) الله ﷻ (پیدا کړي دي).

(ته ورته) ووایه چې: نو ما ته د هغو بوتانو (په هکله) خبر راکړئ کوم چې تاسو يې د الله ﷻ څخه په غیر بلئ (داسې خبر چې) که چرته الله ﷻ ماته په ضرر (سختئ) رسولو سره اراده وکړي نو ایا دا (بوتان) د الله ﷻ د ضرر لرې کوونکی دی؟ (چې ما ترې خلاص کړي)، او که الله ﷻ ما ته په رحمت سره اراده وکړي نو دوی (بوتان) يې د رحمت بندوونکی دی؟ (چې مخه يې ونیسي).

(ای پیغمبره! ورته) ووایه چې: الله ﷻ ماته بس کېدونکی دی (چې هر څه يې په اختیار کښې دي ما ورباندې توکل کړی دی) او خاص په همده ﷻ باندې باید توکل کوونکی توکل وکړي (او بس).

[۳۹] (دا هم ورته) ووایه چې: ای زما قومه! (د دعوت د عدم قبول په صورت کښې) تاسو په خپل (شرکي) حالت باندې عمل وکړئ، زه هم (په خپل توحیدي حالت باندې) عمل کوونکی یم، نو زر به (په آینده کښې) پوه شئ چې:

[۴۰] هغه څوک دی کوم چې داسې عذاب ورځي (ور روان دی) چې وبه يې شرموي، او (هغه څوک دی) چې دائمي عذاب به ورباندې ورښکته شي. (معلوم به شي چې په دنیا او آخرت کښې څوک د عذاب سره مخامخ کېږي).

[۴۱] (ای پیغمبره!) یقینًا مونږ په تاباندې د خلکو (د هدایت) دپاره کتاب (قرآن کریم) په حقه درنازل کړی دی. نو څوک چې (پرې) لاره مونده کړي نو د خپل ځان دپاره يې (گټه) ده او هرڅوک چې بې لارې شي (هدایت ورباندې قبول نه کړي) نو یقینًا هغه په خپل ځان باندې (د گمراهئ ضرر) ورواچاوه، او ته خو په خلکو باندې وکیل (ساتونکی او مراقب) نه یې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندې څخه د شرک په ابطال او د توحید په اثبات کښې د دلایلو لړی راروانه ده خو د څه مناسباتو د امله د هغو فیصلو په بنیاد باندې هم څه رڼا واچوله شوه کومې چې د قیامت په ورځ صورت نیسي. په دې ایتونو کښې یو ځل بیا د کلام مخ ذکرو شوو دلایلو ته اړولی شوی دی او هغه ترهیب جوابېږي کوم به چې د دلایلو په نتیجه کښې د مشرکانو د پلوه نبي کریم ﷺ ته ورکول کېده. نو حاصل يې داسې راځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د مشرکانو د ترهیب جواب ورکړه او ورته ووایه چې:

۱_ ایا الله ﷻ د خپل بنده (محمد ﷺ) دپاره بس نه دي او ورته کفایت نه کوي چې د هر ډول آفتونو او مصیبتونو څخه یې وساتي؟ یقیناً الله ﷻ ورته د هر حیثه کفایت کوي خو مشرکان یا نه پوهېږي او یا یې خپل خانونه ناپوهان اچولي دي چې تا په هغو باطلو (ناتوانه معبودانو) سره ډاروي کوم چې دوی یې د الله ﷻ څخه په غیر په عبادت مشغول دي.

نو د همدې کبله تاته وایي چې زمونږ د معبودانو د ابطال څخه لاس واخله که نه نو څه ضرر به در ورسوي او په څه مصیبت به دې اخته کړي.

۲_ ای پیغمبره! مشرکان څکه غواړي چې تا په بوتانو سره وډار کړي چې الله ﷻ دوی د حقې لارې څخه بې لارې کړي دي او هر څوک چې الله ﷻ یې بې لارې کړي نو هغه ته هیڅ لاره ښودونکی نه شي موندل کېدلی. یا په بل عبارت: حقه لاره همدغه یوه لاره ده په کومې باندې چې ته روان یې، د همدغې لارې څخه په غیر هیڅوک مطلب ته نه شي رسېدلی.

بالمقابل هر چاته چې الله ﷻ هدایت وکړي نو هغه هیڅوک نه شي گمراه کولی او هیڅوک دوکه نه شي ورکولی.

۳_ نو د مشرکانو په مذبوحانه هلو خلو او سپکو سپورو خبرو مه غمژن کېږه، او دا څکه چې: ایا الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی نه دی او هم د انتقام خاوند نه دی؟ نو ضرور به مشرکان د مصیبت سره مخامخ شي او د الله ﷻ د ارادې په وړاندې به څنډ جوړ نه شي.

۴_ ای پیغمبره! مشرکان د خپلو معبودانو په ناتوانی باندې پخپله اعتراف کوي او دا څکه چې: که ته ترې پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړې دي ایا ستاسو معبودان پکښې څه اشتراک او برخه لري؟ نو هرومرو او ضرور به هغوی جواب درکړي چې اسمانونه او ځمکې یوازې الله ﷻ پیدا کړي دي او زمونږ معبودان پکښې هیڅ اشتراک نه لري او نه پکښې برخوال دي.

۵_ خو د ذکر شوي اعتراف سره‌ـسره بیا مشرکان تاته اخطار درکوي چې د بوتانو څخه وډار شه چې په کوم مشکل کښې دې واقع نه کړي. نو د هغوی د تخجیل په غرض ورته ووایه چې:

ای مشرکانو! تاسو ماته خبر راکړئ او دغو پوښتنو ته جواب ورکړئ:

الف: که بالفرض الله ﷻ اراده وکړي چې ما په څه سختۍ باندې مبتلا کړي او څه مصیبت راورسوي، نو ایا ستاسو معبودان کولی شي چې ما د سختۍ او مصیبت څخه خلاص کړي؟

ب: او که الله ﷻ اراده وکړي چې په ماباندې خپل لا زیات رحمتونه او مهربانۍ راووروي، نو ایا ستاسو باطل معبودان یې د ارادې په وړاندې څه خنډ واقع کېدلی شي چې د رحمتونو مخه یې بنده کړي؟

پوره واضحه ده چې په دواړو پوښتنو کښې جواب منفي دی، نو ورته ووایه چې: ای مشرکانو! تاسو څومره غټه سپین سترگي کوئ چې ما په خپلو باطلو معبودانو سره ترهیبوئ او ډاروئ.

دا هم ورته ووایه او خبر ورکړه چې: زما دپاره یوازې الله ﷻ بس دی چې د هر آفت څخه نجات

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راکړي او د رحمتونو باران راباندې وکړي، په همده ﷻ باندې زما اعتماد او توکل دی بلکې باید تول توکل کوونکي په بل چا نه بلکې یوازې په الله ﷻ باندې توکل وکړي، چې په هرڅه باندې کامل قدرت لري او هر کار یې پخپله قبضه او واک کښې ساتلی دی.

۶ـ ای پیغمبره! د ذکر شوي بیان په نتیجه کښې مشرکان په ښه خوږه لهجه مخاطب کړه چې:
ای زما قومه! کله چې تاسو زما د ارشاداتو څخه انکاري یاست او د خپل انکار دپاره کوم دلیل هم په لاس کښې نه لرئ چې اعتماد ورباندې وکړئ، نو تاسو په خپل کفري حال عمل ته ادامه ورکړئ او خپله تګلاره تعقیب کړئ او زه په خپلې تګلارې باندې تلونکی یم، نو څه موده وروسته به ضرور پوه شئ، چې:
الف: په مونږ او تاسو کښې هغه څوک دی چې په دنیاوي رسوا کوونکی عذاب باندې اخته کېږي، او ورباندې شرمنده جوړېږي.
ب: د آخرت دائمي عذاب په چا باندې وربښکته کېږي، په ما او زما په ملګرو او یا په تاسو باندې؟
خو د ذکرو شوو وختونو پوهه او ندامت به تاسو ته په ګټه تمام نه شي.

۷ـ ای پیغمبره! د مشرکانو او کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې ډېر مه غمژن کېږه او دا خکه چې یقینًا مونږ د خلکو د هدایت دپاره په تاباندې قرآن په حقه نازل کړی دی چې خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي، نو:
الف: هرڅوک چې په دغه قرآن کریم سره هدایت مونده کړي او په ارشاداتو باندې یې عقیده او عمل وکړي نو ګټه یې فقط د خپل ځان دپاره ده، چې د ابدي دوزخ څخه یې خپل ځان بچ کړ.
ب: او هرڅوک چې ورباندې لاره ونه مومي او ارشادات یې د پښو لاندې کړي نو د ګمراهی ضرر یوازې د همدغه ګمراه په اوږو بار دی، بل هیچا ته یې ضرر نه رسېږي.
ج: په دې باندې علاوه د قیامت په ورځ د خلکو د ګمراهی پوښتنه تاته نه راجع کېږي چې ولې دې په سمه لاره باندې نه دي روان کړي، ځکه چې ستا په غاړه خو فقط ابلاغ او دعوت دی او بس، ته خو په خلکو باندې د وکیل او مراقب په صفت نه یې استولی شوی چې پوښتنه یې درڅخه وشي.

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ په ﴿ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ﴾ کښې اشاره کړې ده چې مشرکانو به نبي کریم ﷺ د خپلو بوتانو څخه ـ د دوی په ګومان ـ ډاراوه چې د عبادت په ضد یې دعوت مه چلوه که نه نو څه ضرر به درته ورسوي.
همدغه ډول دركې نورو پیغمبرانو ته هم د خپلو-خپلو قومونو د پلوه شوې دې لکه چې الله ﷻ د هود ﷺ د قوم د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿ إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعْتَرَىٰكَ بَعْضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٍ ﴾ [هود: ۵۴] یعني مشرکانو هود ﷺ مخاطب کړ چې ستا په هکله مونږ بله هیڅ خبره نه کوو مګر همدا یوه چې ته زمونږ معبودانو په بدۍ سره لوګ کړی یې او لیونی یې درڅخه جوړ کړی دی چې اوتې بوتې وایې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: وړاندې په ﴿ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ﴾ کښې الله ﷻ د بوتانو څخه د "الَّذِيْ" په کلمې سره تعبير کړی دی چې د مذکر دپاره وضعه شوې ده، نو د څه حکمت په بنياد الله ﷻ په ﴿ هَلْ هُنَّ كَـٰشِفَـٰتُ ضُرِّهِۦٓ ﴾ کښې او په ﴿ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَـٰتُ رَحْمَتِهِۦ ﴾ کښې د همدغو بوتانو څخه په مونثو کلمو سره تعبير وکړ، او هم يې ورته مونث ضمائر راجع کړه؟

مونږ وايو: دا د دې دپاره ـوالله ﷻ أعلمـ چې د مشرکانو په زيات حماقت باندې دلالت وکړي چې د يو پلوه ورته په نفعې او ضرر قول کوي او د بله پلوه يې په "مؤنثو" نومونو سره يادوي لکه "لات، مَنَات، عُزیٰ" او داسې نور.

په کار دا وه چې د خپلو خيالونو مطابق يې ورباندې د نارينه وو نومونه ايښي وی چې د نفعې او ضرر توان پکښې ظاهراً د ښځينه وو په نسبت زيات وی، او همدارنګه مشرکانو ته نارينه د ښځينه وو په پرتله ډېر قدر او عزت لري، د همدې کبله لورګانې ژوندی ښخوي او زامن ژوندي پرېږدي.

### مَکَانَة څه معنی؟

۳ـ په ﴿ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ ﴾ کښې د "مَكَانَة" کلمه د منزلة او رتبې دپاره وضعه شوې ده[1]، خو په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په حالت سره تفسيره کړې ده[2]. يعنې ای مشرکانو! څرنګه چې تاسو زما دعوت ته غاړې نه ږدئ نو تاسو خپل شرکي حالت تعقيب کړئ او زه د خپل توحيدي حالت تعقيبوونکی يم، نو په راتلونکي کښې به ګورو چې د چا حالت وړه دار دی.

﴿ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِى لَمْ تَمُتْ فِى مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ ٱلَّتِى قَضَىٰ عَلَيْهَا
ٱلْمَوْتَ وَيُرْسِلُ ٱلْأُخْرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾
أَمِ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَ ۚ قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَمْلِكُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٣﴾
قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَـٰعَةُ جَمِيعًا ۖ لَّهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾

[۴۲] الله ﷻ روحونه (ارواګانې) د دوی د مرګ په وخت کښې اخلي، او هغه روحونه د دوی د خوب په وخت کښې (اخلي) کوم چې مړه شوي نه وي (د بدنونو څخه بالکل نه وي جدا شوي)، نو (بيا) الله ﷻ هغه روحونه ايساروي په کومو باندې يې چې د مرګ فيصله کړې وي، او نور روحونه (چې د خوب په وخت کښې يې قبض کړي وي) تر ټاکلې نيټې پورې راخوشې کوي (د مرګ تر وخته پورې همدغه عمليه ادامه لري).

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۳۶۵؛ القاموس المحيط ج۴ ص۱۰۲
(۲) روح المعاني ج۲۴ ص۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یقیناً په دغه (ذکر شوي بیان او ذکرو شوو عملیاتو) کښې د داسې قوم دپاره (د کامل قدرت) زښت ډېر دلایل (نغښتي) دي کوم چې (په دلایلو کښې) سوچ کوي.

[۴۳] ایا مشرکان د الله ﷻ څخه په غیر (خپل بوتان) د شفاعت کوونکو په حیث نیسي؟

(ای پیغمبره! ورته) ووایه چې: ایا تاسو دغه کار کوئ اګر که ستاسو بوتان د هیڅ شي ملکیت (او وسه) نه لري، او نه (عقل لري چې) د خپلو هوښیاریو څخه کار واخلي؟

[۴۴] (همدارنګه د هغوی د خبرې په رد کښې) ووایه چې: ټول (او هر ډول) شفاعت په الله ﷻ پورې خاص دی (د همده ﷻ په اختیار کښې دي، او دا ځکه چې) خاص همده ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واکداري ده (او) بیا به خاص همده ﷻ ته تاسو ورتاو کړی شئ (چې د تښتېدلو دپاره به هیڅ لاره موندہ نه کړئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې مطلب باندې هم مشتمل وه چې الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت څښتن دی او بوتان (باطل معبودان) په هیڅ شي باندې وسه او توان نه لري، په دې ایتونو کښې همدغه مطلب په مثالونو کښې واضحه شوی دی، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د وړاندېني بیان په تعقیب خپل امت ته د الله ﷻ کامل قدرت او د بوتانو (باطلو معبودانو) ناتواني په مثالونو کښې شرحه کړه چې:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د ساکښانو ارواګانې په دوه ډوله اخلي:

الف: د ساکښانو څخه د هغوی ارواګانې (روحونه) د مرګ په وخت کښې اخلي، چې ساکښان د حس او حرکت او هم د پوهې شعور څخه لوېږي او بدنونه یې د انحلال سره مخامخ کېږي.

ب: هغه ارواګانې (روحونه) هم اخلي کوم چې د مرګ وخت ته نه وي رسېدلي بلکې د خوب حالونه وربانديې ورشي او ویده شي.

۲ـ په لومړي ډول اخستلو کښې الله ﷻ اخستلې شوې او قبض کړی شوې ارواګانې په خپلو غیبي خزانو کښې ساتي ترڅو چې د قیامت ورځ قائمه شي او دوهمه شپېلۍ ووهلی شي، نو په دغه وخت کښې به قبض کړی شوي ارواګانې د دوهم ځل دپاره د خپلو ابدانو سره وصل کړي او د دوهم ځل دپاره به یې وربانديې ژوندي وګرځوي.

اما په دوهم صورت کښې یې تر څه وختنه د ایسارولو څخه وروسته بېرته خپلو بدنونو ته ورخوشې کوي چې ترڅو وربانديې راویښ شي او په تازه توګه کاروبار ته جوړ شي. البته چې ذکر شوې ایسارول او بیا ورخوشې کول تر ټاکلې نېټې (مرګه) پورې په مسلسله توګه ادامه لري او فقط په مرګ سره پای ته رسېږي.

۳ـ ای پیغمبره! یقیناً د ارواګانو په هکله په دغې ذکرې شوې عملیه کښې هرومرو د الله ﷻ د کامل قدرت زښت ډېر دلایل نغښتي دي خو د داسې قوم دپاره کوم چې فکر کوي او د سوچ او تدبر څخه کار اخلي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ لکه څنګه چې باطل معبودان نه څوک مړ کولی شي، نه یې ویده کولی شي او نه یې راویښولی شي، همدارنګه هغوی د شفاعت کولو توان هم نه لري. ایا د دغې ناتوانی سره-سره مشرکان ورته په تمه دي او شفاعت کولو ته یې سترګې په لار دي؟

۵_ ای پیغمبره! ته مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ایا تاسو خپلو باطلو معبودانو ته د شفاعت په تمه یاست؟ اګر که هغوی نه د کوم شي ملکیت لري او نه د عقلونو درلودونکي دي چې ستاسو اړتیاوې وڅېړي او سنجش یې وکړي.

ب: دا هم ورته ووایه چې: ټول شفاعت او هر ډول شفاعت د الله ﷻ په اختیار کښې دي چې د اسمانونو او ځمکو واکداري وربورې اختصاص لري. یا په بل عبارت: د شفاعت کولو اجازه او هم د شفاعت قبول په الله ﷻ پورې اختصاص لري او ستاسو په هکله نه چا ته د شفاعت اجازه کوي او نه شفاعت قبلوي.

ج: ای مشرکانو! ستاسو ټولو رجوع خاص الله ﷻ ته ده او بس، تاسو د هیڅ تېښتېدلو لاره نه لرئ چې د رجوع څخه خانونه بچ کړئ.

## توضیحات

۱_ په ﴿ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکو ته غور پکار دی:

الف: د ﴿ يَتَوَفَّى ﴾ کلمه د "تَوَفِّي" څخه اشتقاقه شوې ده چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران: ۵۵] ایت لاندې ښه شرحه کړې ده چې متعددې معناوې لري، خو په دې مقام کښې ترې د روح د قبض کولو معنی مراده ده[۱].

ب: په ایت شریف کښې د روح د قبض کولو لاندې دوه وو ډولونو ته اشاره شوې ده[۲]:

اول: یو کامل قبض دی چې د مرګ څخه عبارت دی او هر ساکښ مخلوق ورسره یو ځل مخامخ کېدونکی دی چې د قیامت تر ورځې پورې دوام کوي، او هلته به یو ځل بیا هر یو روح د خپل خپل بدن سره پیوسته شي او وربانده ژوندی به شي. د دغه قبض سره د بدن انحلال منافي نه دی بلکې د همدغه قبض په نتیجه کښې بدن د خاورو سره خاورې کېږي خو د خپل روح سره یې علاقه بالکل د منځه نه ځي، که څه هم په ځمکه کښې تیت پرک شي.

دوهم: بل ناقص قبض دی چې د خوب په وخت کښې تحقق مومي، او د بېدارۍ تر وخته پورې ادامه پیدا کوي.

ج: په ایت شریف کښې د روحونو د قبضولو پورتنیو دواړو ډولونو ته اشاره شوې ده چې دواړه په الله ﷻ پورې خانګړي دي او د ده ﷻ څخه پرته پکښې هیڅوک او هیڅ شی مداخله نه شي کولی.

د: همدارنګه ناقص قبض په کامل قبض بانده غټ دلیل دی چې بیا-بیا د هر انسان په خپل بدن

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۴۰۰؛ القاموس المحیط ج۴ ص۶۳۸؛ البحر المحیط ج۹ ص۲۰۷
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې صورت نیسي او بیا ژوندي کېدل وربه یادوي خو د تفکر خاوندان ترې ګټه پورته کوي او بس.

هـ: لنډه دا لکه څنګه چې د [الإسراء: ٨٥] ایت مطابق د روح حقیقت پېژاندل یوازې په الله ﷻ پورې اختصاص لري همدارنګه د قبض کولو په ډولونو او کیفیتونو باندې یې هم د همده ﷻ څخه په غیر نه څوک په بشپړه توګه پوهېدلی شي او نه وربانديې قدرت لري.

و: د ایت شریف څخه د سړي ذهن ته په تبادر سره ورځي او اکثرو علماوو کرامو هم څرګنده ګڼلې ده چې هر ساکښ یو-یو روح لري او بس، خو د هر یوه تعلقات د خپل بدن (جسد) سره په متعددو صورتونو کښې تحقق مومي[1]، نه دا چې د ژوند یو روح دی او د بیداري بل روح[2].

ز: د دې مقام د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

اول: کله به چې نبي کریم ﷺ د ویده کېدلو دپاره اړخ ولګاوه نو ویلې به یې چې: «بِاسْمِكَ نَمُوتُ وَنَحْيَا». ای الله! ستا په نامه سره مونږ مره کېږو (اوديږو) او ستا په نامه سره مونږ ژوندي کېږو. نو کله به چې د خوب څخه رابېدار (ویښ) شو، نو ویل به یې چې: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ»[3] هغه الله ﷻ ته حمد او ثنا ده چې مونږ یې زمونږ د مرګ څخه وروسته راژوندي (راویښ) کړو او خاص همده ﷻ ته ورخورېدل (ورتولېدل) دي.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ قَبَضَ أَرْوَاحَكُمْ حِينَ شَاءَ وَرَدَّهَا عَلَيْكُمْ حِينَ شَاءَ»[4] یعني یقینًا الله ﷻ ستاسو ارواګانې (روحونه) هغه وخت قبض کوي چې اراده یې وشي او بېرته یې په تاسو باندې درتاووي چې په کوم وخت کښې یې اراده وشي.

درېیم: نبي کریم ﷺ مونږ ته یوه بله دعاء هم راښودلې ده چې باید د ویده کېدلو په وخت کښې یې ووایو هغه دا: «بِاسْمِكَ رَبِّ وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَاغْفِرْ لَهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ»[5] یعني ای زما ربه! ستا په نامه مې خپل اړخ کېښود (ولګاوه) او ستا په کومک یې پورته کوم، که چرته زما روح د خپل اقدس ذات سره ټینګ کړې (او راخوشې یې نه کړې چې وربانديې راویښ شم) نو ته ورته مغفرت وکړې او که چرته یې راخوشې کړې نو ته یې (د جنایتونو څخه) په هغه شي سره وساتې په کوم سره چې ته خپل صالح بندګان ساتې.

## یو نحوي تحلیل

٢ـ په ﴿ أَوَلَوْ كَانُوا لَا يَمْلِكُونَ شَيْئًا وَلَا يَعْقِلُونَ ﴾ کښې مفسرینو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[6]، خو کوم تحلیل چې مونږ ته لنډ او بهتر برېښېدلی دی هغه دا دی چې د "أ" توری د

---

(١) البحر المحيط ج٩ ص٢٠٧؛ تفسير القرطبي ج١٥ ص٢٦١
(٢) اللباب في علوم الكتاب ج١٦ ص٥٢٠
(٣) صحيح البخاري ج٢ ص١١٠٠
(٤) صحيح البخاري ج١ ص٨٣
(٥) صحيح البخاري ج٢ ص١١٠٠؛ صحيح مسلم ج٢ ص٣٤٩؛ جامع الترمذي ج٢ ص١٧٧
(٦) تفسير ابي السعود ج٧ ص٢٥٧؛ تفسير البغوي ج٤ ص٨١؛ تفسير الكشاف ج٤ ص١٣١؛ المحرر الوجيز ج١٤ ص٨٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انکاري استفهام دپاره دی چې مدخول یې مقدر دی او وړاندېنۍ جمله وړاندې دلالت کوي خو مونږ ترې په "أَتَتَّخِذُونَ الْأَوْثَانَ مِنْ دُونِ اللهِ شُفَعَاءَ" سره تعبیر کوو.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای مشرکانو! ایا تاسو خپل بوتان د الله ﷻ څخه په غیر د شفاعت کوونکو په حیث نیسئ؛ اګر که هغوی نه د څه شي واکداري لري او نه د عقل درلودونکي دي چې کار ترې واخلې؟!

﴿وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحْدَهُ ٱشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْآخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٥﴾ قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ عَٰلِمَ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِى مَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا۟ يَحْتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤٨﴾﴾

[۴۵] او په هغه وخت کښې چې الله ﷻ (بې د بوتانو څخه) یوازې یاد کړی شي نو د هغو کسانو زړونه نفرت (او کرکه) کوي کوم چې په وروستنۍ ورځې سره ایمان نه راوړي. او کله چې هغه بوتان یاد کړی شي چې (دوی یې) د الله ﷻ څخه په غیر (عبادت کوي) نو ناڅاپه دوی خوښېږي (چې خوښي او خوشالي یې د ورایه په څېرو کښې څرګندېږي).

[۴۶] (ای پیغمبره!) ووایه چې: ای الله! د اسمانو او ځمکو پیداکوونکیه!، ای د پټو او ښکاره وو عالمه! (بل څوک نه، بلکې یوازې همدا) ته د خپلو بندګانو په منځو کښې د هغو (مسائلو) په هکله حکم (او فیصله) کوې په کومو کښې چې دوی دي چې په مستمره توګه پکښې اختلاف کوي (نو زما او د مشرکانو فیصله ستا په اختیار کښې ده).

[۴۷] او که چرته (بالفرض د قیامت په ورځ) هغو کسانو ته چې ظلم (او کفر) یې اختیار کړی دی هغه ټول شیان (ملکیت) شي کوم چې په ځمکه کښې موجود دي او د هغو مثل هم ورسره (د دوی په ملکیت کښې یو ځای) شي، نو دا (ټول) به د قیامت په ورځ د بد عذاب څخه فدیه کړي (ترڅو ترې نجات ومومي).

او (په دې باندې علاوه) همدغو (ظالمانو) ته به د الله ﷻ د پلوه هغه څه ورڅرګند شي کوم چې دوی (په دنیا کښې) نه وه چې ګومان یې کاوه.

[۴۸] او هم به کفارو ته د خپلو هغو کړو وړو بدۍ ورڅرګندې شي کوم چې دوی کسب کړې دي، او هم به ترې هغه شی (د عذاب په حیث) راچاپېر شي کوم چې دوی (په دنیا کښې) وه چې په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مستمره توګه به يې وربانديې خندنې کولې (او ملنډې به يې وربانديې وهلې).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د مشرکانو يوه جهالت ته اشاره شوې وه چې د بې عقله جماداتو (بوتانو) څخه د شفاعت کولو تمه لري، او په دې ايتونو کښې د يو پلوه د هغوی يو بل جهالت ته اشاره کېږي چې د الله ﷻ د نامه څخه نفرت کوي او د بله پلوه نبي کريم ﷺ ته پکښې په ذکرو شوو جهالتونو باندې تسلی او ډاډينې توصيه شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د مشرکانو د يو بل جهالت بيان هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ کله چې يوازې الله ﷻ ياد کړی شي چې هر څه د همده ﷻ په اختيار کښې دي او هيڅوک يې په کارونو کښې مداخله نه شي کولی، نو د هغو کسانو زړونه په نفرت کښې واقع کېږي او کرکه ترې کوي کوم چې په وروستنۍ ورځ (قيامت) باندې عقيده نه خپلوي او وربانديې کافر پاتې دی.

او که د الله ﷻ څخه په غير د هغو بوتانو نومونه ياد کړی شي کوم چې مشرکان يې عبادت کوي نو ناڅاپه وربانديې خوشالېږي، حتّی خوشالی يې په څېرو کښې د ورايه ښکاري.

۲ـ نو ای پيغمبره! د دغو جهالتونو په لېدلو او اورېدلو سره خپله حوصله مه خرابوه او د ډاډينې (اطمنان) حاصلولو دپاره الله ﷻ ته رجوع کوه او وايه چې:

الف: ای الله! چې ته د اسمانونو او ځمکو د نشت څخه پيدا کوونکی يې، او هر څه ستا په واک او اختيار کښې دي.

ب: ای الله! چې ته د پټو او ښکاره وو په حال باندې پوه يې، ستا علم ته پټ او ښکاره يو نسبت لري، زما زړه هم درته معلوم دی چې څومره غمژن يم او د مشرکانو جهالتونه هم درته څرګند دي چې څومره وربانديې کلک دي.

ج: ای الله! چې ته د ذکرو شوو عالي صفاتو درلودونکی يې، نو ته د خپلو بندګانو ترمنځ په هغه شي کښې فيصله وکړه په کوم کښې چې دوی اختلاف کوي.

يا په بل عبارت: زما او د مشرکانو اختلاف ته پخپله فيصله کړه او حق د حق په صفت او باطل د باطل په صفت څرګند کړه چې هر چا ته معلوم شي.

۳ـ ای پيغمبره! ته خپله حوصله لوړه وساته، د فيصلې ورځ در روانه ده چې همغه فيصله به پکښې صورت ونيسي چې ته يې غوښتونکی يې، په دغې ورځ کښې به د مشرکانو حال داسې دی چې:

الف: که بالفرض د قيامت په ورځ دوی ته (چې په خپلو ځانونو باندې يې د کفر او شرک په غوره کولو سره ظلم کړی دی) هغه شيان ټول د ملکيت په حيث وی کوم چې په ځمکه کښې موجوديت لري، او د دغو شيانو مثل هم ورسره ضميمه وی، چې ټول يې په اختيار کښې وی، او بالفرض بيا د ذکرو شوو ظالمانو څخه وغوښتل شي چې د دغې ورځې د سخت عذاب څخه د نجات دپاره خپل ټول ملکيت فديه کړئ. نو مشرکان به هرومرو دغه کار وکړي، خو افسوس چې هلته به هغوی نه ملکيت ولري، نه به ترې د فديې ورکولو غوښتنه وکړی شي او بالآخره نه به هلته فديه قبلېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دغې ورخ کښې به مشرکانو (کفارو) ته د الله ﷻ دپاره هغه څه ورڅرګند شي په کوم چې دوی دنیا کښې ګومان نه کاوه. یا په بل عبارت: نن ورخ د هغوی ګومان نه دی چې بوتان او باطل معبودان به یې د شفاعت کولو څخه عاجز او ناتوانه وي خو هلته به ورڅرګند شي او په خپلو سترګو به یې وګوري چې هیڅ شی یې د لاسه پوره نه دی.

ج: په دغې ورخ کښې به هغوی ته د خپلو کړو وړو بدی، ورڅرګندې شي او پوه به شي چې بالکل په غلطه لاره باندې روان وه.

د: بالآخره هلته به وربانډې هغه عذابونه احاطه وکړي او ترې راچاپېر به شي کوم چې هغوی وربانډې نن ورخ ملنډې وهې او ورته دروغ برېښي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ ﴾ کښې د ﴿ ٱشۡمَأَزَّتۡ ﴾ کلمه د "اشمئزاز" ـلکه "اقشعرار"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "اشمئزاز" د نفرت او تکبر معنی ورکوي[1]. یعنې کله چې الله ﷻ په وحدانیت سره یاد شي، چې هیڅ شریک نه لري او هرڅه یې په اختیار کښې دي، نو مشرکان د همدغې خبرې څخه نفرت او کرکه کوي، او د قبول څخه یې په تکبر کښې واقع کېږي. خو بالمقابل کله چې بوتان په دروغینو صفاتو سره وستایل شي چې شفاعت کوونکي دي نو هغوی وربانډې خوشالېږي او د همدغې دروغینې خبرې قائل ته آفرین وایي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَإِذَا ذَكَرۡتَ رَبَّكَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِ وَحۡدَهُۥ وَلَّوۡاْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِمۡ نُفُورٗا ﴾ [الإسراء:۴۶] یعنې ای پیغمبره! کله چې ته خپل رب ﷻ په قرآن کریم کښې په وحدانیت سره یاد کړې، نو مشرکان د نفرت (کرکې) د کبله په خپلو پوندو باندې بېرته تاوېږي.

## یادونه

۲ـ د ﴿ وَلَوۡ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ الآیة- په مضمون باندې یو بل ایت هم وړاندې په [المائدة:۳۶] ایت کښې تېر شوی دی او مونږ د الله ﷻ په توفیق په یوه حدیث شریف سره تفسیر کړی دی، هیله ده چې هلته یو خل مراجعه وکړی شي.

﴿ فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمِۭۚ بَلۡ هِيَ فِتۡنَةٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٩﴾ قَدۡ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٥٠﴾ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْۚ وَٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيبُهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٥١﴾ أَوَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ

(۱) لسان العرب ج۵ ص۳۶۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾

[۴۹] نو كله چې انسان ته څه ډول ضرر ورسېږي (د خپل طبيعت په مقتضى فقط) مونږ بلي چې د ضرر مخ ترې واړوو)، بيا چې كله ورته مونږ د خپله جانبه (وړيا) څه نعمت وركړو نو وايي چې: يقيناً دا (نعمت) ماته د پوهې (او لياقت) په بنياد راكړى شوى دى (يا دا چې الله ﷻ ته زما فضيلت معلوم دى).

(دغسې نه ده لكه چې نوموړى خيال كوي) بلكې (د) نعمت (وركړه يو) امتحان (او ازمېښت) دى مګر اكثره خلك نه پوهېږي (چې د اعزاز ګومان ورباندې كوي).

[۵۰] يقيناً همدا خبره هغو كسانو هم ويلې (كړې) ده، كوم چې د دوى څخه وړاندې تېر شوي دي (او د عذاب سره مخامخ شوي دي) نو هغه شي ترې (د عذاب) مخه وانه ړوله كوم چې دوى وه چې په مهارت سره به يې كسب كول (او راغونډول).

[۵۱] نو دوى ته د هغو بديو (سزا) ورسېده كومې چې دوى كسب كړې وې (او مرتكب شوي يې وه)، او د دغو (د دې زمانې د كفارو) څخه هغه كسان چې دي كومو چې ظلم (كفر) غوره كړى دى، دوى ته به هم د هغو بديو (سزا) ورسېږي كومې چې دوى كسب كړي دي، او دوى (هم د هغوى غوندې د الله ﷻ) عاجز كړخوونكي نه دي (چې ورباندې زورور شي او د ارادې مخه يې بنده كړي).

[۵۲] او ايا (ذكر شوي) انسانان نه پوهېږي چې: يقيناً الله ﷻ هغه چا ته روزي پراخوي (ډېر نعمتونه وركوي) كوم ته يې چې اراده وشي او (هغه چا ته يې) تنګوي (كوم ته يې چې اراده وشي. پراخول او تنګول د اعزاز او توهين نښه نه ده).

(اى پيغمبره! يقيناً په دې (ذكر شوي بيان او يا د روزۍ په وركړه) كښې د داسې قوم دپاره (د الله ﷻ د كامل قدرت) زښت ډېر دلايل نغښتي دي كوم چې په الله ﷻ باندې ايمان راوړي (او په كامل علم او كامل قدرت يې عقيده لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د مشركانو د هغه جهالت په تعقيب كوم ته چې په وړاندېنيو ايتونو كښې اشاره شوې وه، په دې ايتونو كښې د هغوى يوه بل جهالت ته اشاره كېږي چې حاصل يې داسې راځېږي:

اى پيغمبره! خپل اُمت ته د كفارو يو بل خوى او خصلت ذكر كړه هغه دا چې:

۱ـ كله چې كافر انسان ته څه ضرر او سختي ورسېږي نو سمدستي يوازې مونږ بلي او خپل باطل معبودان هېروي، د همدغه حال سره په ټېريو كښې سواره كفار ډېر خله مخ كېږي.

دغه كافر انسان يا كفار انسانان خو نور څوك نه دي بلكې همغه خلك دي چې كله ورته زمونږ نوم (الله ﷻ) ياد كړى شي نو نفرت ترې كوي، او چې د باطلو معبودانو ذكر وشي نو ورته خوشالېږي.

۲ـ بيا چې كله مونږ د ذكر شوي كافر بنيادم څخه د ضرر مخه ونيسو او د خپله جانبه ورته نعمت وركړو (خوشالي ورباندې ورولو) نو سمدستي مونږ هېروي او د نعمت وركړه علم ته نسبتوي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې زه د دغه نعمت لیاقت لرم او زما د مهارت او پوهې د کبله مې ته راکړې شوې ده.

۳ـ دغسې نه ده لکه چې ذکر شوي کافر انسان ګومان کړی دی بلکې د نعمت ورکړه یو امتحان دی او د نعمت زوال بل امتحان دی، مګر اکثره خلک نه پوهیږي چې د نعمت ورکړه ورته د الله ﷻ له لوري د اعزاز نښه ښکاري او زوال یې ورته توهین ښکاریږي.

۴ـ ای پیغمبره! ذکره شوې خبره بخوانیو کفارو هم کړې وه چې موږ ته د نعمتونو راکړه زموږ په لیاقت او د الله ﷻ په علم صورت نیولی دی او زموږ د کړو وړو څخه الله ﷻ راضي دی څکه یې راکړي دي د نعمتونو باران راورېدلی دی.

خو د دغې خبرې سره سره الله ﷻ ورباندې عذاب ورنازل کړ نو هغو مالونو ترې د عذاب مخه وانه نیوله کوم چې دوی راغونډ کړي او کسب کړي وه.

یا په بل عبارت که د نعمتونو ورکړه د الهي اعزاز نښه وي، لکه چې دوی خیال کاوه، نو دوی به د عذاب سره نه وو مخامخ شوي.

۵ـ لیدو دا چې بخوانیو کفارو ته د خپلو هغو ګناهونو سزا ورسېده کوم چې هغوی کسب کړي وه او په شرمونکي عذاب باندې اخته کړی شوه.

۶ـ نو ای پیغمبره! د دغو کفارو څخه به هم ـ چې ته ورته د پیغمبر په حیث استولی شوی یې ـ هغو کسانو ته د خپلو جنایتونو او کسبونو سزا ورورو ورسیږي کوم چې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی او په کفر باندې علاوه د ذکر شوي ناشکره خبرې قائلین هم دي. او دا څکه چې لکه څنګه چې بخواني کفار په الله ﷻ باندې تشدد ونه کړای شو او د عذابه یې ځانونه بچ نه کړی شو، همدارنګه د دې زمانې کفار هم توان نه لري چې الله ﷻ عاجز کړي او د قدرت مخه یې ونیسي او د عذابه یې ځانونه بچ کړي، نو ډېر ژر به د خپلې کفري ویناء مزه وڅکي.

۷ـ ای پیغمبره! ایا کفار نه پوهیږي چې د نعمتونو ورکړه د الله ﷻ په وړاندې د اعزاز نښه نه ده او د نعمتونو زوال په توهین باندې دلالت نه کوي؟

بلکې الله ﷻ په خپله خوښه د ارزاقو ویش کوي، نو د خپلې ارادې په مطابق یې په چا پراخوي او په چا یې تنګوي، او په دواړو صورتونو کښې یې امتحان او ازمیښت د نظر لاندې دي.

۸ـ ای پیغمبره! په ذکر شوي بیان کښې د داسې قوم دپاره د عبرت ډېر لوی درسونه دي کوم چې د الله ﷻ په کامل قدرت عقیده لري او ایمان یې ورباندې راوړی دی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ﴾ کښې د "ه" ضمیر مذکر دی او د «نِعْمَةً» کلمې ته راجع دی چې مؤنثه ده. نو د څه حکمت په بنیاد "ها" نازل نه کړی شو؟

موږ وایو چې دغې ارجاع د معنی په لحاظ صورت نیولی دی[1] چې مونږ ترې په «شَيْئًا مِنَ النِّعْمَةِ»

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره تعبیر کوو. یعني: کله چې مونږ ناشکره انسان ته د خپلو نعمتونو څخه لږ څه ورکړو هم خپل خان ته یې نسبتوي او مونږ هېروي.

## دوه ډوله تفسیر

۲ـ د ﴿ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ ﴾ جملې ته ورته جمله الله ﷻ په [القصص:۷۸] ایت کښې د قارون د خولې څخه راحکایته کړې ده، چې مونږ هلته ـ د الله ﷻ په توفیق ـ په دوه ډوله تفسیره کړې ده، نو په کار دي چې همغه دواړه تفسیرونه دلته هم په نظر کښې ونیولی شي هغه دا چې:

الف: د ﴿ عِلْمٍ ﴾ څخه د الله ﷻ علم مراد دی، یعنې کوم مال چې ماته راکړی شوی دی هغه د الله ﷻ په علم سره راکړی شوی دی چې زه یې لیاقت لرم او زه ورته معزز یم.

ب: د ﴿ عِلْمٍ ﴾ څخه د مالدارۍ علم مطلب دی، یعنې زما مال او ثروت د هغې پوهې او مهارت په بنیاد صورت نیولی دی د کوم چې زه درلودونکی یم چې په راغونډولو باندې یې د بر بنه پوهېږم.

نو هیله ده چې د تفصیل دپاره هلته مراجعه وکړی شي چې بیا تفصیلولو ته یې ارتیا نه ګورو، یوازې همدومره لیکو چې:

په ذکرو شوو دواړو تفسیرونو کښې مونږ ته دوهم تفسیر په زړه پورې او بهتر برېښي ځکه چې په بل ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَرِحُوا۟ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ ﴾ [المؤمن:۸۳] یعنې نو کله چې پخوانیو کفارو ته د هغوی پیغمبران په معجزاتو (او دلایلو) سره ورغله نو هغوی په هغه شي باندې خوشاله شوه کوم چې د هغوی په نزد موجود وه چې د مادي علومو څخه عبارت وه (او د پیغمبرانو علومو ته یې شا کړه بلکې ملنډې یې ورباندې خپلې کړې).

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ قَدْ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ کښې د "ها" ضمیر څه شي ته راجع دی؟ مونږ وایو چې: دغه ضمیر د "جُمْلَة" یا "كَلِمَة" په تاویل سره د ﴿ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ ﴾ کلام ته راجع دی[1]. دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې ذکره شوې جمله یوازې قارون نه وه ویلې بلکې ډېرو کفارو ورباندې خولې بنورولې وې، خو په قرآن کریم کښې یوازې د "قارون" په نامه صراحت شوی دی او نورو ته دلته په ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ کلمې سره اشاره شوې ده.

﴿ قُلْ يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾ وَأَنِيبُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا۟ لَهُۥ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾ وَٱتَّبِعُوٓا۟ أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۶۶؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿٥٥﴾ أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ﴿٥٦﴾ أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِى لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾ أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِى كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ بَلَىٰ قَدْ جَآءَتْكَ ءَايَٰتِى فَكَذَّبْتَ بِهَا وَٱسْتَكْبَرْتَ وَكُنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٩﴾

[۵۳] (ای پیغمبره! زما د پلوه) ووایه چې: ای زما هغو بندګانو کومو چې په خپلو خانونو باندې (په ګناهونو کښې) د اندازې څخه تیری کړی دی! تاسو د الله ﷻ د لوی رحمت څخه مه نااُمیده کیږئ (او دا څکه چې) یقیناً الله ﷻ ټول ګناهونه ښښي (چې د کفر په حال کښې یې صورت نیولی وی او بیا په ایمان سره مشرف شي)، بې شکه الله ﷻ همدی ډېر ښښونکی (او) ډېر مهربان دی (نو باید چې تاسو د نااُمیدۍ د کبله په کفر کښې پاتې نه شئ).

[۵۴] او تاسو خپل رب ﷻ ته (په توبې سره) رجوع وکړئ او د هغه څخه وړاندې ورته غاړې کېږدئ چې تاسو ته عذاب درشي (چې) بیا به درسره کومک ونه کړی شي.

[۵۵] تاسو د هغو ډېرو ښایسته وو احکامو پیروي وکړئ کوم چې تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل کړی شوی دی، (البته) د هغه څخه وړاندې چې تاسو ته ناڅاپه په داسې حال کښې عذاب درشي چې تاسو وربانديې شعور نه لرئ (او بالکل مو ورته فکر هم نه وي).

[۵۶] (د هغه څخه وړاندې د ما أنزل الله پیروي وکړئ) چې ځینې نفسونه (کافران) ووایي چې: ای زما حسرته! (البته) په هغه تقصیر باندې چې ما د الله ﷻ په طرف (حق) کښې کړی دی، او (دا څکه چې) یقیناً زه (په دنیا کښې د ما أنزل الله په هکله) د ملنډو وهونکو د ډلې څخه وم.

[۵۷] یا ځینې نفسونه ووایي چې: که چرته یقیناً ما ته الله ﷻ هدایت کړی وی (ما أنزل الله یې را استولی وی) نو هرو مرو به زه د متقیانو د ډلې څخه ګرځېدلی وی.

[۵۸] یا ځینې نفسونه په هغه وخت کښې ووایي کله چې عذاب وګوري چې: کاش چې ما ته یقیناً بېرته (دنیا ته) ګرځېدل وی، نو زه به د نېکو کارانو څخه جوړ شوی وی.

[۵۹] دغسې نه ده (لکه چې ته خیال کوې) یقیناً تا ته زما ایتونه درغلي وه خو تا ورته د دروغو نسبت وکړ او (د قبول څخه) دې تکبر وکړ او ته (وربانديې) د کافرانو د ډلې څخه ګرځېدلی وې.

## ارتباط او شان نزول

په دې ایتونو کښې هغه پوښتنه جوابه شوې ده کومه چې د وړاندېنیو ایتونو څخه د مشرکانو اذهانو ته وریورته شوې وه هغه دا چې کله د جنایتونو په ارتکاب باندې سزا ورکول حتمي کار دی نو مونږ ته به ایمان راوړل څه ګټه ورسوي؟ ایا مونږ ته به د عذاب څخه نجات راکړي؟ مونږ خو د ډول-ډول جنایتونو مرتکب شوي یاستو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما د دې ایتونو د شان نزول په هکله متعدد صورتونه روایت شوي دي[١]، چې ان شاء الله ﷻ په توضیحاتو کښې به ورباندې رڼا واچوله شي، خو مونږ دلته د لاندې یوه روایت په خلاصه باندې اکتفاء کوو:

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما (رئیس المفسرین) وایي چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته د مشرکانو یوه ډله ورغله او ورته یې وویلې چې: ته چې څه وایې هغه ډېر ښه دي او کوم دین ته چې ته دعوت چلوې هغه ډېر ښه دین دی، خو ای کاش چې مونږ ته خبر راکړئ چې: «أَنَّ لِمَا عَمِلْنَا كَفَّارَةً»[٢] یقینًا د هغو جنایتونو دپاره کفاره شته کوم چې مونږ کړي دي او مونږ یې مرتکب شوي یاستو؟. نو الله ﷻ د [الفرقان: ٧٠] ایت او هم دغه ایت چې بحث پکښې روان دی نازل کړه، نو حاصل یې داسې راځېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! زما د پلوه زما بندګانو ته ابلاغ کړه او ورته ووایه چې:

١ــ ای زما هغو بندګانو! کومو چې په خپلو ځانونو باندې د حده تجاوز کړی دی او کفر یې غوره کړی دی، تاسو د الله ﷻ د رحمت څخه نااُمیدي مه کوئ چې که ایمان راوړئ نو پخوانی ګناوې به درته ونه ښښلی شي او ورباندې به معذب کړی شئ: او دا ځکه چې:

الف: یقینًا الله ﷻ ستاسو د ایمان راوړلو په صورت کښې د پخواني کفر په شمول پخواني ټول ګناهونه ښښي، لکه چې د موره تازه تولد شوی یاست.

ب: یقینًا الله ﷻ همدی ﷻ ډېر ښښونکی او ډېر مهربان دی چې د ګناهونو په مغفرت باندې علاوه د نېکیو توفیق ورکوونکی هم دی.

٢ــ ای زما مسرفانو بندګانو! تاسو خپل رب ﷻ ته رجوع وکړئ او د غیر الله د عبادت څخه راوګرځئ او خاص همده ﷻ ته په اخلاص سره د هغې ورځې څخه پخوا غاړه اېښودونکي جوړ شئ چې تاسو ته دنیاوي عذاب درشي او بیا د هیڅ طرف څخه ستاسو سره کومک او نصرت صورت ونه شي نیولی او نه به څوک نجات درکړی شي.

٣ــ ای زما مسرفانو بندګانو! تاسو د کفریاتو د پیروی څخه لاس واخلئ او د هغه ډېر ښایسته قرآني احکامو پیروي وکړئ کوم چې تاسو ته د بل چا د پلوه نه بلکې د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل کړی شوي دي او ستاسو د دنیا او آخرت ښېګنې پکښې نغښتې دي.

البته د هغې ورځې څخه وړاندې ذکره شوي پیروي خپله کړئ چې تاسو ته اُخروي عذاب درشي او د قیامت د قیام شپېلی په ناڅاپي توګه پوکړی شي حال دا چې تاسو ورباندې شعور ونه لرئ او ورباندې خبر نه اوسئ.

٤ــ ای زما بندګانو! تاسو زما ذکر شوي ارشادات وړاندې د هغه په عمل کښې پیاده کړئ چې:

(١) تفسیر البغوي ج۴ ص۸۳؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۴۸؛ تفسیر المراغي ج۲۴ ص۲۲

(٢) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۱؛ صحیح مسلم ج۱ ص۷۶



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: خپلې نفسونه به خپل حسرت او ندامت ته اواز وکړي چې وائسه هغه ډېر وخت دی چې ما د الله ﷻ په طرف کښې قصور کړی دی چې د ده ﷻ احکام مې په عمل کښې نه دي پیاده کړي او په مې پېغلې سره مې د ښو لاندې کړي دي. او همدارنګه یقیناً زه د الله ﷻ په احکامو باندې د مسخره کوونکو د ډلې څخه وم. ماته د مرګ څخه وروسته بیا دا ژوندي کیدل دروغ او توکي ښکارېدلې.

ب: یا به خپلې کسان هلته په افسوس سره ووایي چې: که ماته الله ﷻ هدایت کړی وی او د خپل پیغمبر په لاس یې شریعت رالیږلی وی نو ضرور به نن ورځ زه د متقیانو د ډلې څخه ګرځیدلی وی زه ځکه کافر پاتې شوم چې ماته هدایت نه وو راغلی.

ج: یا به خپلې کسان او خپلې نفسونه په هغه وخت کښې ووایي کله چې د دوزخ عذاب وګوري ای کاش! چې نن ورځ زه بیرته دنیا ته د دوهم ځل دپاره ورستون شوی وی. که دغه کار صورت نیولی وی نو زه به ضرور د نیکو کارانو د ډلې څخه ګرځیدلی وی او د خپلو پخوانیو ګناهانو څخه به مې خپل ځان بېغ ساتلی وی.

هـ: ای پیغمبره! دغو کسانو ته به د قیامت په ورځ په جواب کښې وویلی شي چې: دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ. بلکې تاسو ته زما ایتونه درغلي وه خو تاسو ورته د دروغو نسبت وکړ او ملنډې مو وروباندې پیلې کړې او هم وروباندې د کافرانو او منکرانو د ډلې څخه وګرځیدلئ.

نو نن ورځ ستاسو حسرت بې وخته دی او د هدایت انکار درته څه ګټه نه شي رسولی او بالاخره بیرته دنیا ته هم نه شئ تاویدلی. که بالفرض تاسو بیرته ورتاو کړی شئ نو بیا به خپل پخواني تکذیب ته د دوهم ځل دپاره وروا وړئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿قُلْ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا﴾ الآیه کښې ځینو مفسرینو کرامو د "عِبَاد" کلمه په مؤمنانو سره معنی کړې ده[۱] یعني ای زما هغو مؤمنو بندګانو کومو چې د ګناهونو په ارتکاب سره په خپلو ځانونو باندې د شرعي حد څخه تجاوز کړی دی! تاسو د الله ﷻ د رحمت څخه مه ناامیده کیږئ.

دغه تفسیر په لاندې پوښتنو او جوابونو کښې واضحه کیږي:

الف: که څوک وایي چې: په ﴿يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا﴾ کښې د "ذُنُوب" کلمه خو کفر ته هم شامله ده نو ایا مؤمنانو ته کفر او شرک هم بښلی کیږي؟ دا د یو پلوه. او د بله پلوه بله پوښتنه دا ده چې ایا په ذکر شوي تفسیر سره د آیت شریف څخه نه څرګندیږي چې هلې زړ شئ ګناهونه وکړئ؟

مونږ وایو چې: دغه دواړه پوښتنې الله ﷻ په بل ایت کښې په ډېر صراحت سره جوابې کړې دي چې: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ﴾ [النساء:۴۸] یعني یقیناً الله ﷻ

---

(۱) تفسیر المراغي ج۲۴ ص۲۲؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۲۸؛ روح المعاني ج۲۴ ص۱۲؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا نه ښيي چې شرک او کفر وربوري وتړلی شي او د کفر او شرک څخه په غير نور گناهونه د هغه چا دپاره ښيي کوم ته يې چې اراده وشي.

نو په ايت شريف کښې مطلب دا دی چې نااُميده کېږئ مه، نه دا چې هرومرو به درته گناهونه ښنلي کېږي هلئ ژر شئ گناهونه وکړئ.

ب: که څوک وايي چې: ايا د هغه عاصي مؤمن په هکله د گناه مغفرت په الله ﷻ باندې واجب نه دی کوم چې د گناهونو څخه توبه تائب جوړ شي؟

مونږ وايو چې: په الله ﷻ باندې د هيڅ طرفه څه شی واجب او ضرور نه شي گرځېدلی[١]، هو! دا بېله خبره ده چې په خپل اقدس ذات باندې يې پخپله ضرور کړي.

لنډه دا چې توبه د الله ﷻ خوښه ده او قبول يې د ده ﷻ د ارادې څخه وتلی نه دی، په همدې ارتباط ځينو مفسرينو کرامو ډېر احاديث راغونډ کړي دي چې د توبې په قبول باندې دلالت کوي[٢].

٢ـ خو اکثره مفسرين کرام د "عِبَاد" کلمه په دې مقام کښې په عامه معنی سره تفسيروي چې کافر او مؤمن دواړو ته د قيامت تر ورځې پورې شموليت لري[٣].

## تبصره

٣ـ الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي، زمونږ په نظر که څه هم په اشارة النص سره د "عِبَادِيَ" کلمه مؤمنانو ته شامله بريښي مگر په عبارة النص سره ـ په دې مقام کښې ـ په کفارو او مشرکانو پورې اختصاص لري. د ښه وضاحت دپاره لاندې نکات ولولئ:

الف: سباق او سياق (وړاندې او ورپسې) ايتونه د کفارو په هکله نازل شوي دي نو ظاهره دا ده چې په ذکرو شوو ايتونو کښې به هم همدوی ته اشاره وي او په منځکښې به مؤمنان نه وي مطرح شوي.

ب: په ﴿ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ ﴾ کښې د "أَنِيبُوا" او "أَسْلِمُوا لَهُ" دواړه جملې د کفارو سره ښه تناسب لري چې نه يې خپل رب ﷻ ته رجوع کړې ده او نه ورته منقاد گرځېدلي دي.

ج: د ﴿ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ﴾ جمله هم په کفارو پورې اختصاص لري چې په پيغمبر ﷺ پورې همدوی ملنډې وهي او په غير مناسب لقبونو باندې يې يادوي.

د: د ﴿ لَوۡ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ جمله هم د کفر څخه نمايندگي کوي چې د قيامت په ورځ به د هدايت د ورتگ څخه انکار وکړي او د تقوی ارماني به وگرځي.

او دا خکه چې د قيامت په ورځ خو يوازې کفار د هدايت د ورتگ څخه انکار کوي، لکه چې نبي کريم ﷺ د نوح ﷺ د قوم په ارتباط په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې کله د هغوی څخه پوښتنه وکړی شي چې ايا تاسو ته نوح ﷺ د الله ﷻ هدايات ابلاغ کړي وه؟ نو دوی به ترې

---

(١) شرح المقاصد ج٢ ص٢٤٣

(٢) الدر المنثور ج٧ ص٢٣٨؛ تفسير البغوي ج٤ ص٨٤

(٣) البحر المحيط ج٩ ص٢١١؛ تفسير ابن كثير ج٤ ص٥٨؛ تفسير الطبري ج٢٤ ص١٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سمدستي انکاري وګرځي چې: "لَا مَا جَاءَنَا مِنْ نَبِيٍّ"(۱) يعنې نه! مونږ ته هيڅ پيغمبر نه دی راغلی (نو ځکه په جهالت کښې پاتې شوو).

هـ: د ﴿ لَوْ أَنَّ لِي كَرَّةً ﴾ په جمله کښې خو کفري حال د ورايه برېښي چې د قيامت په ورځ به يوازې کفار دنيا ته د ورستنېدلو په ارمان وي چې خپل خان د متقيانو څخه جوړ کړي.

و: په ﴿ بَلَىٰ قَدْ جَاءَتْكَ ﴾ الآية- کښې د ﴿ فَكَذَّبْتَ ﴾، ﴿ وَاسْتَكْبَرْتَ ﴾، ﴿ وَكُنتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴾ درېواړه جملې بالکل په ډاګه دلالت کوي چې په دې مقام کښې د "عِبَادِيَ" د کلمې څخه کفار مطلب دي، چې تکذيب او استکبار همدوی کوي او همدوی د همدغې مردودې ډلې څخه شمېرل کېږي.

ز: که څوک وايي د "عِبَادِيَ" د اضافت څخه معلومېږي چې دلته به د "عِبَاد" کلمه د کفارو څخه نه بلکې د مؤمنانو څخه عبارت وي، او دا ځکه چې اضافت په تشريف باندې دلالت کوي(۲) چې د مؤمنانو سره ښه تناسب لري، لکه چې په [العنکبوت: ۵۶] ايت کښې ذکره شوې کلمه د تشريف دپاره الله ﷻ خپل اقدس ذات ته مضافه نازله کړې ده؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې اضافت د تشريف دپاره نه بلکې د ترغيب دپاره دی ترڅو د کفارو هغه نااُميدي د منځه يوسي کومه چې د هغوی په اذهانو کښې ګرځېده.

دغه نااُميدي د شان نزول په روايت کښې په ډېر وضاحت سره څرګندېږي، لکه چې لږ وړاندې تېر شو، والحمد لله ﷻ.

ح: که څوک وايي چې: د ځينو روايتونو څخه څرګندېږي چې ذکره شوې د "عِبَادِيَ" کلمه کفارو ته شامله نه ده بلکې په مؤمنانو پورې اختصاص لري، هغه دا چې:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ ذکر شوی ايت شريف قرائت کړ او ډېره خوښې يې ورباندې څرګنده کړه، خو يوه سړي ترې پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! ايا څوک چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شريک دروي هغه هم په ايت شريف کښې شامل دی؟ نو نبي کريم ﷺ د لږ سکوت څخه وروسته جواب ورکړ چې: «إِلَّا مَنْ أَشْرَكَ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ»(۳) يعنې هغه څوک پکښې شامل نه دی کوم چې د شرکي عقيدې درلودونکی وي، دغه خبره يې درې ځله تکراره کړه؟

مونږ وايو چې: په ايت شريف کښې د هغو مشرکانو او کفارو په هکله بحث راروان دی کوم چې ژوندي وي او د ﴿ وَأَنِيبُوا ﴾ او ﴿ وَأَسْلِمُوا لَهُ ﴾ دواړو جملو ارشادات په عمل کښې پياده کړي. نو کوم کفار چې د شرکي او کفري عقيدې په درلودلو سره مړه شوي وي، او يا ژوندي وي خو ذکر شوي دواړه ارشادات يې په خپلو ځانونو باندې نه وي تطبيق کړي، هغوی ته مغفرت نشته.

لنډه دا چې د کافر د مغفرت دپاره توبه تائب ګرځېدل ضرور دي اما د مؤمن مغفرت په توبه تائب

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۰

(۲) تفسير ابي السعود ج۷ ص۱۵۹

(۳) مسند أحمد بن حنبل ج۸ ص۳۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



گرځېدلو پورې توقف نه لري(۱)، بلکې توبه حسنه او نېک عمل دی چې مؤمن وربانديې موفق شي اما د ګناهو د محوه کېدلو په هکله نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كَفَّارَةُ الذَّنْبِ النَّدَامَةُ»(۲) يعنې د ګناه کفاره او د منځه تلل پښېماني ده.

نو شايد چې په ذکر شوي حديث شريف کښې به هغه مشرک ته اشاره وي کوم چې د شرک په حال کښې مړ شوی وي، او يا ژوندی وي خو ذکر شوو دواړو ارشاداتو ته تن نه ورکوي. نو د ايت او حديث ترمنځ منافات موجوديت نه شي درلودلی.

ط: په ذکر شوي جواب باندې لاندې احاديث هم دلالت کوي:

اول: په يوه اوږده حديث کښې يوه ورځې نبي کريم ﷺ عمرو بن العاص د بيعت کولو په وخت کښې مخاطب کړ چې: «يَا عَمْرُو! بَايِعْ فَإِنَّ الْإِسْلَامَ يَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهُ»(۳) او په بل روايت کښې د «يَهْدِمُ» کلمه روايت شوې ده(۴) چې د «يَجُبُّ» سره مرادفه ده. يعنې ای عَمره! په ډاډه زړه بيعت وکړه (ايمان راوړه) ځکه چې اسلام هغه ټول ګناهونه محوه کوي (ساقطوي) کومو چې د اسلام څخه وړاندې صورت نيولی وی، او بيعت کوونکی يې مرتکب شوی وی.

دوهم: يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: الله ﷻ د خپل بنده توبه قبلوي (او مغفرت ورته کوي) خو ترڅو يې چې د قبول ترمنځ حجاب نه وي واقع شوی، چا ترې پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! حجاب يې څه شی دی؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَنْ تَمُوتَ النَّفْسُ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ»(۵) يعنې د توبې د عدم قبول حجاب دا دی چې يو نفس په داسې حال کښې ومري چې د شرکي عقيدې درلودونکی وي.

دريم: يوه ورځې د نبي کريم ﷺ سره يوه بوډا سړي (چې لکړه يې درلوده) داسې سوال جواب وکړ:

بوډا: ای د الله رسوله! زه ډېر غدرونه او ډېر ګناهونه لرم، ايا ماته به مغفرت وکړی شي؟

نبي کريم ﷺ: ايا ته د توحيد شهادت ورکوې (ايا ته مؤمن يې)؟

بوډا: هو، زه مؤمن يم.

نبي کريم ﷺ: «قَدْ غُفِرَ لَكَ غَدَرَاتُكَ وَفَجَرَاتُكَ»(۶) يعنې يقيناً الله ﷻ تاته ستا غدرونه او فجورونه (ګناهونه) وبښل.

څلورم: يوه ورځې نبي کريم ﷺ ذکر شوی ايت شريف قرائت کړ او بيا يې وفرمايل چې: «وَلَا يُبَالِي»(۷) يعنې الله ﷻ ټول ګناهونه بښي، او هيڅ پروا نه لري.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۲۶۸
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۶۲۰
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۲۳۲
(۴) صحيح مسلم ج۱ ص۷۶
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۲۲
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۱۱
(۷) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۴_ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو د عدم قنوط په هکله ګڼ شمېر احاديث راغونډ کړي دي[۱] الله ﷻ دې نېکه بدله ورکړي، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## څو نکات

۵_ په ﴿ أَن تَقُولَ نَفۡسٌ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ أَن تَقُولَ ﴾ جملې په محلي اعراب کښې مفسرينو کرامو ګڼ شمېر احتمالات ليکلي دي[۲]، خو مونږ ته بهتره بريښي چې يا د ﴿ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ﴾ څخه بدل واقع شي او يا ورته د عطف بيان په توګه ومنلی شي.

ب: د ﴿ نَفۡس ﴾ کلمې څخه ځينې نفسونه مراد دي[۳] په همدې مطلب باندې يې نکارة دلالت کوي.

ج: په ﴿ يَـٰحَسۡرَتَىٰ ﴾ کښې د "الف" توری د متکلم د "ي" څخه بدل دی[۴]، او د "ي" په صورت ليکلی شوی دی، که نه نو خپل صورت يې داسې دی چې: "يَاحَسْرَتَا".

د: په ﴿ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ ﴾ کښې د "عَلیٰ" توری د تعليل دپاره دی، او د "مَا" توری پکښې مصدري دی[۵].

ه: په ﴿ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "جَنْبِ" د کلمې معنی خو معلومه ده چې څنګ او جانب ته ويله کېږي، خو په دې مقام کښې د "حَق" څخه کنايي ده[۶].

نو پورتنيو نکاتو ته په پام سره يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: ای کفارو! تاسو د هغې ورځې څخه وډاندې د ما انزل الله پيروي وکړئ په کومه کښې به چې ځينې نفسونه چې کفر او شرک يې غوره کړی وي ووايي چې: ای زما حسرته! راشه چې همدا دې وخت دی، زه په خپل هغه تفريط او قصور باندې حسرت کوم د کوم چې زه د الله ﷻ په حق کښې مرتکب شوی وم، د ده ﷻ ارشادات مې د پښو لاندې کړي وه او بالآخره ملنډې او خندنی مې ورپورې کړې وې.

ای کفارو! که تاسو نن ورځ خپل رب ﷻ ته رجوع ونه کړئ نو تاسو به هم د قيامت په ورځ په ذکره شوې حسرت کوونکې ډله کښې شموليت ولرئ.

﴿ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَـٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ ۝٦٠ وَيُنَجِّي ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ بِمَفَازَتِهِمۡ لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمۡ

---

(۱) تفسير الخازن ج۵ ص۳۲۵
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۵۳۱؛ المحرر الوجيز ج۱۴ ص۹۶
(۳) تفسير الكشاف ج۴ ص۱۲۶
(۴) تفسير المظهري ج۷ ص۲۲۸
(۵) روح المعاني ج۲۴ ص۱۷
(۶) تفسير ابي السعود ج۷ ص۲۶۰؛ تفسير البغوي ج۴ ص۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تَحْزَنُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿٦٢﴾ لَّهُۥ مَقَالِيدُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٦٣﴾

[۶۰] او (ای پیغمبره!) د قیامت په ورځ به ته هغه کسان وګورې کومو چې (په دنیا کښې) په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وي، چې مخونه به یې تک تور وي
ایا په دوزخ کښې د تکبر کوونکو بندګانو دپاره دائمي استوګنځای نه دی (تیار کړی شوی)؟!

[۶۱] او الله ﷻ به (په همدغې ورځ) هغو کسانو ته د دوی د کامیابۍ د کبله نجات ورکړي کومو چې (د کفر څخه خپل) خانونه په زقایه کښې ساتلي وي، (او د الله ﷻ څخه په دنیا کښې ډارېدلي وي. نو) نه به څه بدي (او زحمت) دوی مسه کړي (چې ورته ورسېږي) او نه به دوی غمژن شي (چې جنت ته داخل نه شي).

[۶۲] الله ﷻ د هر شي خالق (پیدا کوونکی) دی، او همدی ﷻ په هر شي باندې وکیل دی (چې خارنه یې کوي او کارونه یې ورجوړوي).

[۶۳] خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو کونجیګانې (یا خزانې) دي (ټول اختیار د همده ﷻ سره دی).

او هغه کسان کومو چې د الله ﷻ په ایتونو (او دلایلو) سره کفر غوره کړی دی، همدغه کسان چې دي همدوی زیانکاران (او تاوانیان) دی (چې تاوان او زیان یې نه جبیره کېږي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د قیامت د ورځې په ځینو حالاتو باندې څه رڼا اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل أمت باندې د قیامت د ورځې څه نور حالات هم قرائت کړه چې:

۱ ـ په دغې ورځ کښې به ته هغه کسان وګورې کومو چې په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وي چې په عبادت کښې شریک لري او نور، چې مخونه به یې د ډېر حسرت او افسوس د کبله تک تور اوښتي وي او په همدغه حال کښې به دوزخ ته ورتېل وهلی شي، چې په دائمي توګه به پکښې پراته وي.

ایا په دوزخ کښې د متکبرینو او سرکشانو دپاره دائمي استوګنځای نه دی تیار کړی شوی؟

۲ ـ بالمقابل به الله ﷻ هغو کسانو ته د دوزخ څخه نجات ورکړي او ترې بچ به یې پرېږدي، کوم چې متقیان دي او د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي او په توحید باندې کلک دي

الله ﷻ به همدغه کسان په دائمي جنت باندې فائز او کامیاب کړي، چې نه به ورته پکښې څه بدي او خفګان ورسېږي او نه به دوی هلته غمژن کېږي، بلکې د تل دپاره به پکښې خوشاله اوسېږي. او دا ځکه چې

۳ ـ الله ﷻ د جنت په شمول د هر شي خالق او پیداکوونکی دی، او د جنتیانو په شمول په هر شي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې وکیل دی چې، هر چاته مناسب کاروبار ورجوړوي او چاره سازي یې کوي.

۴ـ په دې باندې علاوه خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو خزانې دي او د همده ﷻ په اختیار کښې د ټولو خزانو کونجیګانې دي، چې د ده ﷻ څخه په غیر پکښې هیڅوک تصرف نه شي کولی.

۵ـ ای پیغمبره! هغه کسان د جنت څخه بې برخې دي او دائمي استوګنځای یې دوزخ دی کوم چې د الله ﷻ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي، نو په حقیقت کښې همدغه کسان همدوی ښه پاخه زیانکاران دي چې زیان او خساره یې بالکل نه شي جبیره کېدلی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِينَ ﴾ کښې د تکبر کوونکو په اړه نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي صُوَرِ النَّاسِ يَعْلُوهُمْ كُلُّ شَيْءٍ مِنْ الصَّغَارِ حَتَّى يَدْخُلُوا سِجْنًا فِي جَهَنَّمَ يُقَالُ لَهُ بُولَسُ فَتَعْلُوَهُمْ نَارُ الْأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ»[۱] یعنې د قیامت په ورځ به متکبران د سرو کوچنیو مېږتنو په مثلونو د انسانانو په څېرو کښې حشر کړی شي چې د ذلت د کبله به ورباندې هرشی دپاسه وي (چې د ټولو خلکو د پښو لاندې به وي او د ذلت سره به مخامخ کړی شي)، حتی چې په دوزخ کښې به یوې بندیخانې ته ورداخل کړی شي چې "بُولَسُ" ورته ویل کېږي، نو په دوی باندې به د اورونو اور د پاسه وي چې د زوو د ختو څخه اوبه به ورڅښولی کېږي چې د أهل النار د زېښبلو څېرو څخه عبارت دي.

۲ـ په ﴿ بِمَفَازَتِهِمْ ﴾ کښې د "ب" توری د سببیت دپاره دی، چې په "یُنَجِّي" پورې تعلق نیسي[۲]، او د "مَفَازَة" کلمه مصدر ده چې د فلاح او کامیابۍ معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې په متصلې جملې ﴿ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ سره تفسیره شوې ده[۳].

یعنې متقیانو ته به الله ﷻ د کامیابۍ په سبب د دوزخ او د ذلت څخه نجات ورکړي، کامیابي یې د دې څخه عبارت ده چې نه به ورته څه بدي (سختي) ورسېږي او نه به غمژن شي (په دائمي توګه به په جنت کښې خوشاله اوسېږي).

## مقالید څه معنی؟

۳ـ په ﴿ لَّهُۥ مَقَالِيدُ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ ﴾ کښې د ﴿ مَقَالِيد ﴾ کلمه جمعه ده، خو مفرد نه لري[۴]، اما ځینې مفسرین کرام وایي چې مفرد یې "مِقْلاد" دی، لکه "مِفْتَاح" او "مَفَاتِيح"، او یا یې مفرد "مَقْلِيد" دی لکه "مَنْدِيل" او "مَنَادِيل".

په هر صورت دغه کلمه په دوه وو معناوو سره استعمالېږي، چې یوه د کونجیګانو معنی ده، او

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۹۶
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۶۱
(۳) البحر المحیط ج۹ ص۲۱۶
(۴) لسان العرب ج۲ ص۳۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بله د خزانو معنی ده[1] نو څه لرې نه ده چې په دې مقام کښې د بدلیت په لحاظ سره دواړه معناوې مرادې کړی شي، خو دواړه معناوې یې دلته د کاملې واکدارۍ او کامل ملکیت څخه کنایه دي

یعنې خاص الله ﷻ ته د ځمکو او اسمانونو خزانې یا کونجیګانې دي، چې یوازې د همده ﷻ واکدارۍ او اختیار پکښې چلېږي او بس.

﴿ قُلْ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ تَأْمُرُوٓنِّىٓ أَعْبُدُ أَيُّهَا ٱلْجَـٰهِلُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ أُوحِىَ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعْبُدْ وَكُن مِّنَ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿٦٦﴾ وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦ وَٱلْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ وَٱلسَّمَـٰوَٰتُ مَطْوِيَّـٰتٌۢ بِيَمِينِهِۦ ۚ سُبْحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٧﴾ ﴾

[۶۴] (ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووایه چې: ایا نو زه د الله ﷻ څخه په غیر د بل شي (بوتانو) عبادت وکړم؟ تاسو ماته (په همدې کار) امر کوئ ای ناپوهانو!

[۶۵] او یقینًا تاته او هغو (پیغمبرانو) ته کوم چې ستا څخه وړاندې تېر شوي دي (ستاسو هر یوه ته داسې) وحې کړه شوې وه چې که (بالفرض المحال) ته په شرک باندې معتقد شې نو هرو مرو او ضرور به دې (نیک) عمل ضائع شي او هرومرو ضرور به ته د زیانکارانو څخه وګرځې

[۶۶] بلکې نو ته یوازې د الله ﷻ عبادت کوه، او (په همدې باندې) د شکر ګزارانو د ډلې څخه جوړ شه (چې په توحید یې مشرف کړی یې).

[۶۷] او مشرکانو د الله ﷻ د تعظیم د حق په اندازه تعظیم نه دی کړی، حال دا چې ټولې ځمکې به د قیامت په ورځ د الله ﷻ په بلا کیفه موټې کښې وي او ټول اسمانونه به د ده ﷻ په بلا کیفه ښي لاس سره راتاو کړی شوي وي.

(نو) الله ﷻ ته (د هر نقص څخه) پاکي ده، او همدی ﷻ د هغو (شریکانو) څخه اوچت دی کوم چې کفار یې ورسره شریکان ګڼي.

## ارتباط او شان نزول

وړاندې په [الزمر ۳۶] ایت کښې الله ﷻ د مشرکانو یوه جهالت ته اشاره کړې وه، او په [الزمر ۴۵] ایت کښې یې د هغوی د بل جهالت بیان نازل کړی وه، خو د ایتونو په منځو کښې یې د خپلو ارتباطاتو د کبله څه نور مطالب هم عنایت فرمایلي وه.

په دې ایتونو کښې د هغوی د جهالتونو لړۍ د دریم جهالت په ذکر سره اوږده شوې ده چې د وړاندېنیو دواړو جهالتونو څخه لوی جهالت دی، چې په شان نزول کښې د ېر ښه واضحه کېږي

[1] مفردات الراغب ص۴۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مکې مشرکانو د نبي کريم ﷺ څخه وغوښتل چې خپل توحيدي دين پرېږده او زمونږ شرکي دين ته راواوړه او د بوتانو په عبادت مشغول شه[١]، نو الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه او نبي کريم ﷺ ته يې د هغوی د دعوت رد وروښود چې دغسې جواب ورکړه. نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

اې پيغمبره! مشرکان خو د ډېر عناد د کبله ستا دعوت نه قبلوي بلکې بالمقابل بل چاته نه بلکې تاته دعوت درکوي چې د دوی غونډې په بوت پرستۍ باندې اخته شې. نو ته ورته په جواب کښې ووايه چې: اې مشرکانو! ستاسو دين عقلاً او نقلاً په لاندې تفصيل سره باطل دی:

۱_ د الله ﷻ څخه پرته د غير الله (بوتانو) عبادت هغه کسان کوي کوم چې د خپلو عقلونو څخه کار نه اخلي او نه ګوري چې پيداکوونکی او روزي ورکوونکی يې څوک دی؟ که ذکر شوي کسان لږ غور وکړي نو يوه به شي چې د الله ﷻ څخه په غير هيڅ شی د عبادت وړ نه شي جوړېدلی.

نو اې ناپوهو مشرکانو! ايا تاسو بل چاته نه بلکې ماته امر کوئ چې د غير الله (بوتانو) عبادت وکړم، حال دا چې ما خپل عقل په کار اچولی دی او زه پوهېږم چې د عبادت مستحق يوازې الله ﷻ دی او بس.

۲_ د توحيد د حقانيت او د غير الله د معبوديت د بطلان د نقلي دليل تفصيل دا دی چې:

الف: اې پيغمبره! يقيناً ستا په شمول د الله ﷻ د پلوه هغو ټولو پيغمبرانو ته کوم چې ستا څخه پخوا تېر شوي دي، وحې کړه شوې ده او هر يو په خپل خپل وخت کښې مخاطب ګرځولی شوی دی چې: که بالفرض المحال ته د الله ﷻ سره په عبادت کښې شريک ودروې نو هرو مرو به ستا نيک عملونه ضائع شي او ضرور به ته د تاوانيانو د ډلې څخه وګرځولی شې.

يا په بل عبارت: په ايمان راوړلو سره پخواني ټول ګناهونه ساقطېږي او تازه مؤمنورباندې نه نيولی کېږي، بالمقابل په مرتد ګرځېدلو سره پخواني ټول حسنات د منځه ځي او تازه مرتد (کافر) ته څه ګټه نه شي رسولې.

ب: بلکې د الله ﷻ د پلوه هر يوه پيغمبر ته په خپل-خپل وخت کښې ويلی شوي وه، او امر ورته کړی شوی وه چې: ته يوازې د الله ﷻ عبادت کوه او د همدغه عبادت دپاره دعوت چلوه چې نور خلک هم ستا تګلاره تعقيبه کړي.

ج: هر يو په دې مخاطب ګرځولی شوی وه چې د توحيد عقيده خپلول فقط همدا تاته په ګټه تمامېږي، الله ﷻ ستا د عبادت څخه بې نيازه او بې پروا دی.

د: په دې باندې علاوه دا هم ورته ويل شوي وه چې ته د شکرګزارانو څخه جوړ شه چې الله ﷻ د توحيدي عقيدې درلودونکی وګرځولې، او ستا مسلمان اُمت دې هم د الله ﷻ شکر اداء کړي.

۳_ اې پيغمبره! که څه هم مشرکان په خپلو ګومانونو سره د الله ﷻ تعظيم کوي خو کوم تعظيم

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د الله ﷻ د شان سره مناسب دی او د بنیادمانو د توانه پوره دي په هغې اندازې سره يې ورته تعظیم نه دی کړی بلکې په عبادت کښې ورته په شریک یا شریکانو باندې قائل شوي دي، حال دا چې د الله ﷻ عالي شان د شرک څخه ډېر لوړ دی، د مثال په توګه:

الف: د قیامت په ورځ به ټولې ځمکې د الله ﷻ په بلا کیفه یوه موټي کښې وي او د دنیا پاچایان او تصرف کوونکی به هلته د ظاهري تصرف دعوه هم ونه کړی شي.

ب: همدارنګه به هلته ټول اسمانونه د الله ﷻ په بلا کیفه ښي لاس کښې قرار ولري او د همده ﷻ په کامل قدرت سره به تاو کړی شوی جوړ شي.

ج: نو الله ﷻ ته د هر نقص څخه پاکي ده او همدی ﷻ د هغو ټولو باطلو خیالاتو څخه اوچت دی د کومو چې مشرکان مرتکب کېږي او په اشتراک ورته قول کوي.

## توضیحات

١_ د ﴿ قُلْ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ تَأْمُرُوٓنِّىٓ أَعْبُدُ ﴾ کلمات مفسرینو کرامو د نحویت په لحاظ په متعددو وجوهو سره تحلیل کړي دي[١]، کوم تحلیل چې مونږ ته غوره برېښي هغه په لاندې ټکو کښې واضحه کوو:

الف: د همزې "أ" توری په حقیقت کښې په یوه مقدره جمله باندې داخل دی چې د عاطفه "ف" توری ورباندې دلالت کوي.

ب: د "ف" توری د عطف دپاره دی او د ﴿ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه په ﴿ أَعْبُدُ ﴾ سره منصوبه ده.

ج: د ﴿ تَأْمُرُوٓنِّىٓ ﴾ جمله د معترضې جملې په حیث د ناصب او منصوب ترمنځ واقع ده چې مونږ ترې داسې تعبیر کولی شو چې: "ءَأَكْفُرُ فَغَيْرَ اللهِ أَعْبُدُ تَأْمُرُونِي بِذَلِكَ".

یعنې ای مشرکانو جاهلانو! ایا زه د توحید دلایل د ښنو لاندې کړم او ورباندې کافر شم نو د غیر الله (بوتانو) عبادت وکړم؟! تاسو په دغې جاهلانه خبره زور اچوئ او ماته ورباندې امر کوئ او بالآخره تاسو غواړئ چې ما هم د خپلو ځانونو غوندې په جهل اخته کړئ.

## هېر مو نه شي!

٢_ هېر مو نه شي چې په ﴿ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ ﴾ کښې د "و" توری د عطف دپاره دی، چې مفسرینو کرامو پکښې ډېر څه لیکلي دي[٢]، خو کوم شی چې زمونږ په ذهن کښې ناست دی هغه دا دی چې دلته عطف په لاندې دوه ډوله صورت نیولی شي:

الف: عطف د مفرد په مفرد، چې د تغلیب په لحاظ ټول پیغمبران د "كُلُّ وَاحِدٍ" په ملحوظ سره مخاطب وګرځولی شي، او د ﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ ﴾ کلمات آن تر ﴿ وَكُن مِّنَ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴾ پورې د "هَذَا الْكَلَامُ" په تاویل سره د ﴿ وَلَقَدْ أُوحِىَ ﴾ دپاره د فاعل نائب وګڼل شي، نو حاصل به يې هغسې

(١) اللباب في علوم الكتاب ج١٦ ص٥٣٩؛ المحرر الوجيز ج١٤ ص١٠٠؛ تفسير المظهري ج٧ ص٢٣١

(٢) روح المعاني ج٢٤ ص٢٣؛ المحرر الوجيز ج١٤ ص١٠١؛ نظم الدرر ج٦ ص٤٦٨؛ تفسير الطبري ج٢٤ ص٢٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راوخېژي کوم ته چې په خلاصه مطلب کښې اشاره شوې ده.

ب: عطف د جملې په جملې باندې، چې د ﴿ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ ﴾ دپاره بل "وَلَقَدْ أُوحِيَ" مقدر وګڼو او نائب فاعل يې هم ذکر شوي کلمات د "هَٰذَا ٱلْكَلَامُ" په تاويل سره مقدر فرض کړو چې مذکور نائب فاعل ورباندې دلالت کوي.

نو څه لرې نه ده چې داسې تعبير ترې وکړو: "وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتُمْ" آن تر "وَكُونُوا مِنَ الشَّاكِرِينَ"، نو دغه جمله به په ﴿ وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ ﴾ په جمله باندې عطفه شي، او حاصل به يې داسې راوخېژي چې: يقيناً ټولو پيغمبرانو ته په خپلو-خپلو وختونو کښې د الله ﷻ د پلوه وحي کړه شوې وه چې که بالفرض المحال تاسو په شرکي عقيده معتقد شئ نو ضرور به ستاسو اعمال ضايع شي او ضرور به د زيانکارانو څخه وګرځئ: په وحې کښې دا خبره هم شامله وه چې بلکې تاسو يوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ، او د همدې توحيدي عقيدې په خپلولو سره د شکرګزارانو څخه وګرځئ چې الله ﷻ د همدغې عقيدې د خپلولو دپاره توفيق درکړ.

څرنګه چې ذکر شوي دواړه ډوله عطفونه په اصلي مطلب کښې څه تفاوت نه لري او په دوهم ډول کښې ډېرو تقديراتو ته اړتيا پېښېږي، نو مونږ ته لومړی ډول بهتر برېښي. والله ﷻ أعلم.

## څو نکات

۳ـ په ﴿ وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦ ﴾ الآية- کښې لاندې نکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: دې جملې ته ورته جمله په [الأنعام: ۹۱] ايت کښې هم نازله شوې ده، خو دواړه سره دومره توپير لري چې هغه د اهل الکتابو په هکله نازله شوې وه او دلته د مشرکانو حال ته اشاره شوې ده.

ب: د "قَدَرَ" کلمه د مقدار معنى ورکوي[۱]، چې مونږ ترې په اندازې سره تعبير کوو، خو دلته د تعظيم اندازه مطلب ده، يعني: نه أهل الکتابو او نه مشرکانو د الله ﷻ په هغې اندازې سره تعظيم کړی دی څومره چې د ده ﷻ د تعظيم حق دی[۲].

ج: حق تعظيم هغه تعظيم دی په کوم باندې چې بنيادم مکلف ګرځولی شوی دی چې شرکي او کفري عقيده ونه لري او شرعي ارشادات قبول کړي، او انکار ترې ونه کړي. يا په بل عبارت: حق تعظيم د ايت شريف په آخر کښې تفسير شوی دی چې: ﴿ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ يعني: الله ﷻ ته پاکي ده او د هغو څيزونو څخه اوچت دی چې مشرکان يې ورسره شريکان ګني.

که بالفرض د حق تعظيم څخه هغه تعظيم مراد شي کوم چې د الله ﷻ د عالي شان سره په نهايي توګه مناسب دی نو دا ډول تعظيم خو نه د چا د توانه پوره دی او نه پرې څوک مکلف شوی دی.

د: په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو[۳] په ايت شريف پورې تړلي ډېر احاديث راغونډ کړي

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۷۶
(۲) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۲۷۷؛ القاموس المحيط ج۳ ص۵۷۰
(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۶۳؛ الدر المنثور ج۷ ص۲۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي الله ﷻ دې نېکه بدله ورکړي، خو موږ فقط د لاندې يوه حديث په ذکر باندې اکتفاء کوو.

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې «يَقْبِضُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى الْأَرْضَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَطْوِي السَّمَاءَ بِيَمِينِهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ مُلُوكُ الْأَرْضِ»[1] يعني د قيامت په روځ به الله ﷻ ټولې ځمکې په خپل بلا کيفه موټې کښې واخلي (ونيسي) او اسمانونه به هم د دۀ ﷻ په بلا کيفه ښي لاس سره راتاو کړی شوي وي بيا به ووايي چې: زه (د هر شي) واکدار يم، د ځمکې واکداران او پاچايان نن ورځ چرته دي (چې د واکدارۍ دعوې به يې کولې)؟

خو په ياد ولرئ چې په ذکر شوي حديث شريف کښې د «بيمينه» څخه د بندګانو غوندې ښی لاس مطلب نه دی، الله ﷻ فرمايلي دي چې ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌ﴾ [الشورى: ١١] يعني د الله ﷻ غوندې هيڅ شی نشته: بلکې دلته ترې هغه ښی لاس مراد دی کوم چې د الله ﷻ د شان سره مناسب وي. يا په بل عبارت: دلته د "يمين" کلمه د الله ﷻ د صفاتو څخه ده چې موږ ترې په بلا کيفه "يمين" سره تعبير کولی شو او بس.

نو د همدې کبله چې په حديث شريف کښې د "يمين" د کلمې څخه د بندګانو غوندې يمين مطلب نه دی، نبي کريم ﷺ په يوه حديث شريف کښې فرمايلي دي چې «وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ»[2] يعني د الله ﷻ دواړه بلا کيفه لاسونه ښي دي، حال دا چې د بندګانو دواړه لاسونه ښي نه شي ګرځېدلی.

﴿وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ ۝٦٨ وَأَشْرَقَتِ ٱلْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ وَجِاْىٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝٦٩ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ ۝٧٠﴾

[٦٨] او په شپېلۍ کښې به پوکی وکړی شي، نو هغه کسان به بې خوده او مړه شي کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي (هيڅوک به ژوندي پاتې نه شي) مګر هغه کسان کومو ته چې الله ﷻ (تر څه وخته پورې د ژوندي پاتې کېدلو) اراده کړې وي.
بيا به په شپېلۍ کښې بل ځل پوکی وکړی شي، نو ناڅاپه به (ټول مړه شوي کسان (د قبرونو څخه) راودرېدونکي (راپورته کېدونکي) وي (او) انتظار به کوي (چې اوس به څه کېږي).

[٦٩] او ځمکه به د خپل رب ﷻ په (قدرتي) نور سره روښانه کړی شوې وي. او د عملونو جنس کتاب به کېښودل شي، او هم به پيغمبران او شهادت ورکوونکي (د فيصلې مقام ته) راوستلی شي.

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص: ٣٧٠
(٢) صحيح مسلم ج٢ ص: ١٢١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (بالآخره) د خلکو په منځکښې به په حقه (عدل) سره په داسې حال فیصله وکړی شي چې په دوی به (هیڅ ډول) تېرى ونه کړی شي.

[۷۰] او هر نفس (هرچا) ته به د هغو کړو وړو پوره (جزا یا سزا) ورکړی شي کوم چې هغه (په دنیا کښې) کړې وه. او (په شاهدانو باندې علاوه) الله ﷻ په هغو کارونو باندې ډېر ښه پوه دى کوم چې خلک لګیا دي کوي یې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېني متصل ایت مضمون تعقیب شوی دی چې د قیامت د ورځې په څه نورو حالاتو باندې رڼا اچولې شوې ده، نو حاصل یې داسې راځېږي:

اى پیغمبره! په خپل اُمت باندې د محشر د ورځې څه حالات هم قرائت کړه:

۱ـ د قیامت د ورځې د قیام په وخت کښې به په قدرتي شپېلۍ کښې پوکى وکړی شي چې اواز به یې ټولو ساکښانو ته ورسېږي. نو د دغه اواز په اورېدلو سره به ټول هغه کسان کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه کسان یا هغه شیان کوم چې په ځمکو کښې دي بې هوښه وګرځي او د بې هوښۍ په تعقیب به مړه شي چې هیڅوک او هیڅ شى به ژوندى پاتې نه شي، مګر فقط هغه څوک به تر څه وخته پورې ژوندى پاتې شي د کومو ژوند ته چې د الله ﷻ اراده وي.

په دغه وخت کښې چې د چا اراواګانې نه وي قبض کړی شوې نو څه وخت وروسته به د هغوى روحونه هم قبض کړی شي، کله چې دوى هم مړه شي نو یوازې الله ﷻ به پاتې وي چې أزلي او أبدي دى، او د هر ډول نواقصو او عیوبو څخه پاک او منزه دی.

۲ـ بیا به په شپېلۍ کښې بل ځل پوکى وکړی شي، نو په دغه ځل سره به د لومړي ځل په خلاف ټول مړه شوي کسان او شیان بېرته راژوندي کړی شي او په ناڅاپي توګه به په یوه لحظه کښې راپورته شي او اخوا دا خوا به ګوري چې اوس به څه کېږي.

۳ـ اى پیغمبره! په دغه وخت کښې به لاندې کیفیات رامنځته شي:

الف: ټوله ځمکه به په غیبي رڼا سره رڼا شي، هغه رڼا چې د لمر او سپوږمۍ څخه به یې منشا نه وي نیولې بلکې د ځمکې رب ﷻ به په قدرتي توګه ځمکه رڼا کړي ترڅو حساب کتاب صورت ونیسي.

ب: په دغه وخت کښې به د عملونو کتابونه د فیصلو دپاره کېښودل شي البته هغه کتابونه چې د هر چا دنیاوي کړه وړه به پکښې په دقیقه توګه ثبت وي.

ج: ټول پیغمبران به همدغه مقام ته راوستلى شي ترڅو هر یو پیغمبر په خپل اُمت باندې شاهدي ورکړي چې ښه یې کړي دي او یا یې بد کړي دي.

د: بالآخره نور شهادت ورکوونکي به هم د شهادت ورکولو دپاره حاضر کړی شي.

هـ: نو د خلکو ترمنځ به په حقه او په کامل عدل سره فیصلې صورت ونیسي چې په هیچا به تېرى او تجاوز ونه کړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د او هر چا ته او هر نفس ته به د خپلو هغو کړو وړو پوره جزا یا سزا ورکړی شي کوم چې هغه په دنیا کښې کړې وي.

۴_ د قیامت په ورځ د محاکمو ذکر شوی صورتحال به د خلکو د قناعت دپاره تحقق ومومي که نه نو الله ﷻ خو په هغو ټولو کارونو باندې ښه پوره عالم دی کوم چې په دنیا کښې خلک لګیا دي کوي يې، بلکې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی او هیڅ شی ترې پټ نه دی.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ﴾ الآية- په ارتباط لاندې مضامین وړاندې لیکلي دي چې بیا لیکلو ته يې اړتیا نه ګورو:

الف: د "صُور" د کلمې صرفي تحلیل او د احادیثو په رڼا کښې يې څه وضاحت، او دا چې د شپېلۍ وهونکې پرښته د مشهور قول په بنیاد اسرافیل ﷺ دی [الأنعام ۷۳] ایت.

ب: په ﴿ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ سره څوک څوک مستثنی شوي دي خو دا او هغه دومره فرق لري چې هلته د ﴿ فَفَزِعَ مَن ﴾ الآية- څخه استثناء صورت نیولی وه، او دلته د ﴿ فَصَعِقَ مَن ﴾ الآية- څخه صورت نیسي [النمل:۸۷] ایت.

## د نفخاتو شمېر

۲_ د نفخاتو (شپېلۍ وهلو) په تعداد کښې علماء کرام په لاندې درېوو ډلو ویشلی شوي دي:

الف: جمهور علماء کرام وايي چې د قیامت د قیام دپاره به دوه کرته شپېلۍ ووهلی شي، چې په لومړي ځل به ټول ژوندي ساکنان مړه شي او په دوهم ځل به ټول بېرته راژوندي کړی شي[۱].

ب: ځینې علماء کرام وايي چې د شپېلۍ نفخات درې دي، دوه هغه چې وړاندې ذکر شوه او درېیمه نفخه د نفخة الفزع (د ډار د نفخې) څخه عبارت ده چې د ذکرو شوو دواړو نفخو څخه وړاندې به په دنیا کښې صورت ونیسي[۲].

یو شمېر علماء کرام لا وايي چې د ډار شپېلۍ به د ذکرو شوو دواړو شپېلیو څخه وروسته د محشر په میدان کښې پو کړی شي[۳].

ج: ځینې نور وايي چې: د شپېلۍ نفخات څلور دي[۴]، دوه هغه دي په کومو باندې چې جمهور علماء کرام قائل دي، درېیمه نفخه د بې خودۍ ده او څلورمه به د بې خودۍ څخه وروسته په خود کېدلو دپاره صورت ونیسي چې دغه دواړه به د قیامت په ورځ د خلکو د بیا راژوندي کېدلو څخه وروسته متحققې شي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۳۱؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۴۰؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۵۰۳
(۲) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۳۵
(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۲۱۵
(۴) نظم الدرر ج۶ ص۴۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



**د لومړي قول تفصيل:**

۳_ د جمهورو علماوو كرامو د قول تفصيل په لاندې ډول وړاندې كېږي:

الف: په اول ځل شپېلۍ وهلو باندې دېر نصوص دلالت كوي لاندې يو مثال يې ولولئ:

الله ﷻ فرمايي: ﴿ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ۝ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَآ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴾ [يس: ۴۹، ۵۰] يعنې كفار انتظار نه كوي مگر يوه داسې اواز ته چې دوى په داسې حال كښې ونيسي چې يو تربله به سره جګړې كوي (په معاملاتو به اخته وي) نو دوى به د وصيت كولو توان ونه لري او نه به خپل أهل ته بېرته ورستانه شي.

او د دوهم ځل شپېلۍ وهلو په ارتباط الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴾ [يس: ۵۱] يعنې او په شپېلۍ كښې به (بل ځل) پوكى وكړى شي نو ناڅاپه به ټول مړه شوي د خپلو قبرونو څخه خپل رب ﷻ ته وروخغلي (او د حشر ميدان ته به ورغونډ شي).

او بالآخره همدغه ايت [الزمر: ۶۸] په دواړو شپېليو باندې دلالت كوي.

ب: دوى وايي چې: په ايت شريف كښې د "صَعِقَ" كلمه د "صَعْق" _لكه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې دوه معناوې لري[١]، يوه مړه كېدل او بله بې هوښه (بې خوده) كېدل دي.

خو په دې مقام كښې د "ما يطلق عليه الصعق" (هر هغه شى چې د صعق اطلاق پرې كېږي) په اعتبار سره دواړه معناوې مرادې دي[٢]، چې په همدغې لومړۍ شپېلۍ سره به د ﴿ مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ څخه په غير ټول ژوندي مړه شي او هم به ورباندې د ټولو مړو ارواګانې بې هوښه (بې خوده) شي، خو په دوهمې شپېلۍ سره به ټول مړي راژوندي شي او ټول بې هوښه (بې خوده) مړي به را په هوښ كړى شي. لكه چې په لاندې احاديثو كښې ورته اشاره شوې ده:

د: نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې يوه ورځې دغه ايت شريف ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ ﴾ الآية- قرائت كړ، او بيا يې وفرمايل چې: «فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ رَفَعَ رَأْسَهُ فَإِذَا مُوسَى آخِذٌ بِقَائِمَةٍ مِنْ قَوَائِمِ الْعَرْشِ فَلَا أَدْرِي أَرَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلِي أَمْ كَانَ مِمَّنْ اسْتَثْنَى اللهُ»[٣] يعنې نو زه به هغه لومړى كس يم چې خپل سر به راپورته كړي (او را په خود به شي) خو زه به په دغه وخت كښې ناڅاپه وګورم چې موسى ﷺ به د عرش العظيم د ستنو څخه د يوې ستنې نيوونكى وي (او زما څخه وړاندې به راپه خود شوى وي)، نو زه به پوه نه شم چې موسى ﷺ به زما څخه وړاندې خپل سر راپورته كړى وي (را په خود شوى به وي) او كه هغه به په ﴿ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ كښې شامل وي او د بې هوښۍ (بې خودۍ) څخه به الله ﷻ مستثنى كړى وي.

---

(١) لسان العرب ج١٠ ص١٩٨

(٢) روح المعاني ج٢۴ ص٢٩؛ تفسير القرطبي ج١۵ ص٢٨١

(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١۶٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: نبي كريم ﷺ همدغه مضمون ته په يوه بل اورده حديث كښې هم اشاره كړې ده چې: «فَأَكُونُ فِيْ أَوَّلِ مَنْ يُفِيقُ فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ بِجَانِبِ الْعَرْشِ فَلَا أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي أَوْكَانَ مِمَّنْ اسْتَثْنَى اللهُ»[١] يعنې د قيامت په ورځ به ټول خلک بې هوښه (بې خوده) شي نو زه به د هغې ډلې په اول سر كښې يم كوم چې را په خود شي نو ناڅاپه (به وګورم) چې موسى ﷺ د عرش العظيم د يوې څنډې نيوونكى وي، نو زه به پوه نه شم چې ايا موسى ﷺ په هغو خلكو كښې شامل وه چې بې خوده شوى وه خو زما څخه وړاندې راپه خود شوى دى، او يا موسى ﷺ د هغو كسانو څخه وه كوم چې الله ﷻ د بې خودۍ څخه استثناء كړي دي.

و: دوى (جمهور علماء كرام) وايي چې: په ﴿وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ﴾ [النمل: ٨٧] ايت كښې د "فَزِعَ" كلمه د "فَزِعَ" ـ لكه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ډار معنى وركوي، خو دلته هغه ډار مطلب دى د كوم سره چې مرګ ملګرى وي[٢]، او يا د بې خودۍ سره اندېوال وي.

نو د دې ايت مضمون چې بحث پكښې روان دى د هغه ايت د مضمون سره كوم چې وړاندې په "النمل" سورت كښې تېر شوى دى په مصداق كښې متحد دى، كه بالفرض دا د هغه څخه غير وي نو د شپېلۍ وهلو څلونه به د دوه وو څلونو څخه درېوو څلونو ته ورپورته شوي وي.

ز: د لاندې دوه وو احاديثو څخه هم د جمهورو علماوو كرامو د قول تائيد معلومېږي:

اول: نبي كريم ﷺ په ډېر اورده حديث كښې فرمايلي دي چې: «ثُمَّ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ ... وَيَصْعَقُ النَّاسُ ثُمَّ يُنْزِلُ اللَّهُ مَطَرًا... ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ»[٣] يعنې كله چې لومړى شپېلۍ ووهلى شي نو ټول خلک به صعق (مړه) شي، بيا به الله ﷻ په څمكه باندې باران ووروي، بيا به په شپېلۍ كښې بل ځل پوكى وكړى شي نو ناڅاپه به ټول مړه شوي د قبرونو څخه راولاړ (را اوچت) شي، او انتظار به كوي چې څه به ورپېښېږي.

دوهم: أبو هريره ﷺ په يوه حديث كښې د نبي كريم ﷺ څخه روايت كړى دى چې: «مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ»[٤] يعنې د دوارو شپېليو ترمنځ به څلوېښت وي.

نوموړي صحابي ﷺ په خپل روايت كښې د «أَرْبَعُونَ» كلمه شرحه نه كړه چې څلوېښت ورځې يا څلوېښت مياشتې او بالآخره يا څلوېښت كاله به وي، والله أعلم بحقيقة الحال.

## د دوهم قول تفصيل:

۴ ـ دوهم قول په لاندې ټكو كښې راخلاصه كېږي:

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٦٥
(٢) تفسير البغوي ج٣ ص٤٣١
(٣) صحيح مسلم ج٢ ص٤٠٣
(٤) صحيح البخاري ج٢ ص٧١١؛ صحيح مسلم ج٢ ص٤٠٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: لومړۍ شپېلۍ په [يس: ۴۹، ۵۰] ايتونو سره په اثبات رسېږي او په دوهمه شپېلۍ باندې [يس: ۵۱] ايت دلالت کوي، لکه چې وړاندې تېر شو. او همدارنګه دغه ايت [الزمر ۶۸] چې بحث پکښې روان دی. په ذکرو شوو دواړو شپېلیو باندې صراحت کوي.

ب: په [الزمر ۶۸] ايت کښې د "صَعِقَ" کلمه د هغه "صَعِقَ" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، کوم چې د هلاک معنی ورکوي او د بې خودۍ (بې هوښۍ) معنی پکښې شموليت نه لري.

بالمقابل همدغه د "صَعِقَ" کلمه د دريمې توضيح په "د" حديث کښې د بې هوښه (بې خوده) کېدلو په معنی سره ده.

ج: او په [النمل ۸۷] ايت کښې چې کومې شپېلۍ ته اشاره شوې ده، چې د ﴿ مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ څخه په غير به ټول خلک وربانديې د ډار سره مخامخ شي، نو دا دريمه شپېلۍ ده چې د قيامت په ورځ به د ټولو خلکو د ژوندي کېدلو څخه وروسته د حشر په ميدان کښې صورت ونيسي او ذکر شوی ډار به تر څه وخت پورې ادامه ولري او بيا به بدون د بلې شپېلۍ وهلو څخه د منځه لاړ شي.

ځينې علماء کرام لا دغه دريمه شپېلۍ په موجوديت کښې د ټولو څخه وړاندې ګڼي چې په دنيا کښې به صورت ونيسي، لکه چې وړاندې په اجمال کښې ورته اشاره شوې ده.

د دريم قول تفصيل:

۵ـ د دريم قول څه تفصيل لاندې لوستلی شئ:

الف: لومړۍ شپېلۍ ته په [يس ۴۹، ۵۰] ايتونو اشاره شوې ده، او په دوهمه شپېلۍ باندې په [يس: ۵۱] ايت کښې صراحت شوی دی. په دغو دواړو شپېليو باندې به ټول ژوندي مړه شي او هم په وربانديې بيا ټول مړي راژوندي شي او د حشر په ميدان کښې به د حساب کتاب دپاره ودرېږي.

ب: دريمې او څلورمې دواړو شپېليو ته په همدغه ايت [الزمر ۶۸] کښې اشاره شوې ده چې بحث پکښې روان دی.

ج: دلته د "صَعِقَ" معنی هلاک نه دی، بلکې بې خودي او بې هوښي ده.

د: کوم ډار ته چې په [النمل ۸۷] ايت کښې اشاره شوې ده، هغه به هم د محشر په ميدان کښې صورت ونيسي او دريمې شپېلۍ سره به ملګري وي چې د ډېر شدت څخه به يې خلک د بې خودۍ سره مخامخ شي.

هـ: خو په څلورمې شپېلۍ سره به ډار او بې خودي دواړه د منځه لاړ شي لکه چې هغه احاديث وربانديې دلالت کوي کوم چې د جمهورو د قول په شرحه کښې لږ وړاندې راحکايت شوه.

## تبصره

۶ـ که څه هم ځينو علماوو کرامو د نصوصو د ښه انتظام دپاره دوهم قول ته ترجيح ورکړې ده(۱).

---

(۱) شرح صحيح مسلم للامام النووي ج۲ ص۲۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر څرنګه چې د نفخاتو په تعدد پورې زمونږ کوم عمل څه توقف نه لري، ترڅو پکښې ضرور یوه قول ته د عمل دپاره ترجیح ورکړو، نو بهتره دا ده چې د "وربه شي خبر به شي" په بنیاد پکښې توقف خپل کړو او الله ﷻ ته یې وسپارو، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال وبحقیقة المآل.

## څو نکات

۷_ په ﴿ وَأَشْرَقَتِ ٱلْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا ﴾ الآیة- کښې باید لاندې نکاتو ته توجه وکړو:

الف: په ﴿بِنُورِ رَبِّهَا﴾ کښې د "نُور" کلمه د "نَاقَةُ الله" غوندې د تشریف دپاره مضافه شوې ده. په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ذکره شوې کلمه د عدل څخه کنایې اخستې ده[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښې چې پخپله معنی باندې پرېښودله شي. یعني په دغه وخت کښې به ټوله ځمکه په غیبي او قدرتي نور (رڼا) سره روښانه وګرځي چې د لمر یا سپوږمۍ او یا بل کوم روښانه جسم څخه به یې روښانتیا نه وي استفاده کړې شوې.

ب: په ﴿ وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ ﴾ کښې د "كِتَاب" څخه د اعمالو جنس کتاب مطلب دی، یعنې: په دغې ورځ کښې به د هر چا د اعمالو کتاب د محاسبې دپاره په میدان کښې حاضر کړی شي. همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ ﴾ [الکهف:۴۹] یعنې د اعمالو کتاب به د فیصلې دپاره کېښودلی شي نو ته به مجرمان ګورې چې د هغو جنایتونو څخه به ډارېدونکی وي کوم چې په کتاب کښې ثبت وي.

ج: په ﴿ وَجِاْىٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې د محاسبې په وخت کښې به پیغمبران هم وپوښتلی شي، الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [الأعراف:۶] یعنې او هرومرو ضرور به مونږ د پیغمبرانو څخه هم (په کفارو باندې د حجت د اتمام دپاره) پوښتنې وکړو چې: ایا تاسو زمونږ ارشادات خپلو- خپلو اُمتونو ته رسولي دي؟

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د "الشُّهَدَاء" کلمه د "شَاهِد" جمعه ده چې ځینو مفسرینو کرامو دلته د [البقرة:۱۴۳] ایت په مطابق په آخر الزمان اُمت سره تفسیره کړې ده، چې دوی به د پیغمبرانو په ابلاغ باندې شهادت ورکړي[۲].

خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه په عموم سره پرېښودله شي ترڅو هغو ټولو شاهدانو ته شمولیت ولري کوم چې د محشر په ورځ شهادت اداء کوي، لکه دغه اُمت، د هر چا اندامونه، د اعمالنانو لیکونکې پرښتې کومو ته چې په [ق:۲۱] ایت کښې اشاره شوې ده او داسې نور.

﴿ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۴۵
(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُوا۟
بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ٱدْخُلُوٓا۟ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ
فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ إِلَى ٱلْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ
حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَٱدْخُلُوهَا
خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى صَدَقَنَا وَعْدَهُۥ وَأَوْرَثَنَا ٱلْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ
ٱلْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ۖ فَنِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنْ حَوْلِ
ٱلْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۖ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَقِيلَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾

[۷۱] او هغه کسان به دوزخ ته ډلې ډلې ورشړلی کېږي کومو چې کفر غوره کړی دی (او ورتېل وهلی کېږي به) آن تردې چې دوی دوزخ ته ورشي (ور ورسېږي) نو دروازې به يې (ورته) پرانستلی شي او د دوزخ خازنان به ورته (د تخجيل دپاره) ووايي چې:

(ای دوزخيانو!) ايا تاسو ته همدا ستاسو (د جنس) څخه داسې پيغمبران نه وه درغلي چې په تاسو باندې يې ستاسو د رب ﷻ ايتونه لوستل او ستاسو د دغې (سختې) ورځې د ملاقات (پيوستون) څخه يې ډارولئ؟

هغوی به (په جواب کښې) ووايي چې ولې نه، (مونږ ته راغلي وه) مګر (د الله ﷻ د پلوه) د عذاب خبره (زمونږ په شمول) په ټولو کفارو باندې ثبوت ته رسېدلې ده (د خپلې بدبختۍ د کبله مو د هغوی دعوت قبول نه کړ).

[۷۲] (بيا به کفارو ته) وويلی شي چې: دوزخ ته په داسې حال ورننوځئ چې پکښې به همېشه ياست، نو د تکبر کوونکو استوګنځای ډېر بد ځای دی (چې همدغه د دوزخ څخه عبارت دی).

[۷۳] او هغه کسان به جنت ته ډلې ډلې ور روان کړی شي (وروبللی شي) کوم چې د خپل رب ﷻ څخه (په دنيا کښې) ډارېدلي وي (او د کفر څخه بچ پاتې وي).

آن تردې چې کله دوی جنت ته په داسې حال ورشي (وروررسېږي) چې (د يو پلوه ورته) د جنت دروازې پرانستلې شوې وي او (د بله پلوه) ورته د جنت خازنان ووايي چې: په تاسو باندې دې سلام وي تاسو ډېر پاکېزه ياست د همدې کبله تاسو جنت ته په داسې صفت ورننوځئ چې تاسو به (دلته) همېشه ياست (نو جنتيان به په دومره اندازه خوشاله شي چې په دنيا کښې يې څوک اټکل نه شي کولی).

[۷۴] او وبه وايي چې: هغه الله ﷻ ته حمد (او ثناء) ده چې مونږ ته يې خپله وعده رښتيا کړه او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د جنت خمکه (استوګنځای) یې وربا راکړه چې مونږ د (خپل خپل) جنت څخه په هغو ځایونو کښې اوسېدلی شو کوم چې زمونږ خوښ شي.

نو (د نیک) عمل کوونکو اجر ډېر ښه دی (چې د جنت څخه عبارت دی).

[۷۵] او (ای پیغمبره!) ته به پرښتې په داسې حال کښې وګورې چې د عرش عظیم څخه به کړې کېدونکې (طواف کوونکې) وي (او) د خپل رب ﷻ د حمد سره به تسبیحات وايي.

(نو) د خلکو په منځکښې به په حقه فیصلې وکړی شي او (د هره طرفه) به ویلی کېږي چې جنس حمد (او ثناء) خاص الله ﷻ لره ده چې د ټولو عالمونو رب دی (نو په همدې حمد باندې به د دنیا پروژه اختتام ومومي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د حقوّ فیصلو نتائجو ته په اجمال سره اشاره شوې وه چې هر چاته به د خپلو کړو وړو پوره سزا یا جزا ورکړی شي، او په دې ایتونو کښې د همدغو نتانجو څه تفصیل نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې د فیصلو نتائج په تفصیل سره قرائت کړه چې:

۱ـ د هغو کسانو د محاسبې د نتیجې تفصیل دا دی کومو چې کفر غوره کړی دی:

الف: د هرڅه څخه وړاندې به کفار د خپلو کفریاتو د قوت او ضعف په لحاظ ګروپ بندي کړی شي او مختلفې ډلې به ترې جوړې کړی شي.

ب: بیا به هره یوه ډله په خپل خپل وار سره دوزخ ته ورټېلوهلی شي نو د ټولو څخه وړاندې به هغه کفار په دوزخ کښې ورواچولی شي کوم چې د ټولو څخه په کفر کښې سخت وه، او وروستنۍ به هغه ډله پکښې ورټېلوهلی شي کوم چې د ټولو څخه په کفریاتو کښې کمزورې وه.

ج: کفار به د دوزخ په لور ترهغه ټېلوهلی کېږي ترڅو چې دوزخ ته وررسولی شي چې تردې وخته پورې به یې دروازې تړلې او بندې وي.

د: خو کله چې کفار هلته ورشي نو د دوزخ تړلې ډَروازې به ورته پرانستلې شي، او سر په ځړې به پکښې ورواچولی شي، العیاذ بالله ﷻ.

ه: خو په دغه وخت کښې به د دوزخ خازنان د دوزخیانو سره داسې سوال جواب وکړي:

خازنان: ای دوزخیانو! ایا تاسو ته همدا ستاسو د جنس څخه پیغمبران نه وه درغلي چې په تاسو باندې یې ستاسو د رب ﷻ ایتونه تلاوت کول؟، ایا تاسو د همدغو پیغمبرانو څخه د خپل رب ﷻ ارشادات زده نه کړه؟ که بالفرض تاسو دغه کار کړی وی نو نن ورځ به د دغه کړاو سره مخامخ نه وی.

ایا تاسو خپلو پیغمبرانو د دغې سختې ورځې څخه نه وئ دار کړي چې تیاری مو ورته نیولی وی او د بچ کېدلو لارې مو تعقیب کړې وي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوزخیان: ولې نه، مونږ ته خپلو پیغمبرانو د خپل رب ﷻ ارشادات راوړي وه او مونږ يې د همدغې سختې ورځې څخه ډارولي وو، خو مونږ ورباندې عقیده ونه کړه او د تکذیب لاره مو غوره کړه، مونږ په خپل قصور اعتراف کوو.

مونږ ته سمه لاره ښه پوره واضحه کړی شوې وه مګر په مونږ بدبختو باندې زمونږ د کفر د امله د عذاب خبره ثابته شوې وه، چې دا دی ورباندې اخته شوو او هیڅ د نجات وجه نه لرو او نه اعتذار وړاندې کولی شو.

و: د ذکر شوې سوال جواب څخه وروسته به کفار مخاطب کړی شي او ورته به وویلی شي چې: ای کفارو! د دوزخ په دروازو کښې په داسې حال ورادخل شئ چې تاسو به دلته همېشه یاست او هیڅکله به ترې بهرته رابهر نه شئ، تاسو د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې تکبر کړی دی نو د متکبرانو د اوسېدانې ځای ډېر بد او ناکاره ځای دی چې د همدغه دوزخ څخه عبارت دی.

۲_ بالمقابل د مؤمنانو او متقیانو د محاسبې نتائج به په لاندې ډول صورت ونیسي:

الف: په دغې ورځ به هغه کسان هم د تقوی په معیار په مختلفو مراتبو سره ګروپ بندي کړی شي کومو چې په دنیا کښې تقوی غوره کړې وه.

ب: بیا به همدغه کسان په ډېر اعزاز سره جنت ته روان کړی شي کوم چې په دنیا کښې د خپل رب ﷻ څخه ډارېدلي وي او د کفریاتو څخه يې ځانونه بچ کړي وي. یا په بل عبارت: ټولې ډلې به د مراتبو په تفاوت سره لمبر په لمبر د جنت په لور وخوځولی شي.

ج: آن تردې چې کله متقیان جنت ته په داسې حال وروړسېږي چې د جنت دروازې به د دوی د وررسېدلو څخه وړاندې د همدوی د احترام دپاره پرانستې وي، نو دوی به هلته د هغې خوشالۍ سره مخامخ شي کوم چې لیدلو پورې اړه لري او اندازه يې په دنیا کښې د خلکو د اذهانو څخه اوچته ده.

د: په دغه وخت کښې به د جنت خازنان جنتیانو ته وایي چې:

ای جنتیانو! په تاسو باندې سلامتیا ده او زمونږ د پلوه سلام قبول کړئ، تاسو په جنت کښې خوشاله اوسئ. نو بسم الله کړئ او جنت ته په داسې حال ورداخل شئ چې تاسو به دلته همېشه یاست او هیڅکله به ترې رابهر نه کړی شئ.

هـ: په دغه وخت کښې به جنتیان (متقیان) د الله ﷻ شکر اداء کړی او وبه وايي چې:

اول: هغه الله ﷻ ته حمد او ثناء ده چې زمونږ سره يې خپله هغه وعده رښتیا کړه کومه یې چې مونږ ته د پیغمبرانو په ذریعه په دنیا کښې راکړې وه.

دوهم: همدغه اقدس ذات ﷻ ته حمد او ثناء ده چې مونږ ته يې د جنت ځمکه وریا (په خپل فضل او رحمت سره) راکړه او مونږ ته يې اختیار راکړ چې مونږ د جنت څخه په هر ځای کښې اوسېدانه کولی شو کوم ځای چې زمونږ خوښ شي او زمونږ زړه يې وغواړي.

دریم: نو دغه جنت د عمل کوونکو دپاره ډېر ښه او ډېر لوی اجر دی چې مونږ ته د خپل رب ﷻ د پلوه عنایت شوی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٣_ ای پیغمبره! ته به پرښتې ګورې چې د عرش العظیم څخه به راګرې شوې وي. چې د خپل رب ﷻ د تحمیداتو سره به یې تسبیحات ضمیمه کړي وي او "سبحان الله والحمد لله والله اکبر" به وایي.

یا په بل عبارت: لکه څنګه چې جنتیان د الله ﷻ په حمد او ثناء باندې مشغول وي همدارنګه به پرښتې هم د خپل رب ﷻ تسبیحات او تحمیدات وایي.

۴_ لنډه دا چې د مخلوقاتو ترمنځ به په حقه فیصلې وکړی شي او هر حقدار ته به حق ورسولی شي، او په پای کښې به د "الحمد لله رب العالمین" کلمات ولوستلی شي، او په دې سره به دغه حشر او د فیصلو محفل ختم شي چې: الله ﷻ ته چې د ټولو عالمونو رب دی حمدونه دي.

## توضیحات

١_ په ﴿ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ﴾ کښې د ﴿ زُمَرًا ﴾ کلمه د "زُمْرَة" _لکه "غُرْفَة"_ جمعه ده، "زُمْرَة" د خلکو ټولګي ته وضعه شوې ده. یعنې کفار به دوزخ ته د ټولګیو او ډلو په صورت کښې ورټېل وهلی شي.

او دا څکه چې:

د یو پلوه کفر په ډېرو ډولونو باندې وېشلی شوی دی نو هر یو کافر به په هغې ډله کښې شامل کړی شي کومه چې ورسره په کفر کښې سیاله وي لکه دهریت او نور، او د بله پلوه ځینې کفار په کفر باندې علاوه د نورو جنایتونو هم مرتکب شوي دي، لکه چې د موسی ﷺ د زمانې فرعون به د بني اسرائیلو زامن ذبحه کول او داسې نور.

## د دې زمانې فرعون څوک دی؟

۲_ زمونږ د زمانې فرعون د امریکا جمهور رئیس (بوش) دی چې په کفر باندې دپاسه یې زښتو ډېرو جنایتونو ته لاس اچولی دی. د مثال په توګه:

دغه فرعون او د ده متحدینو تقریبًا درې میاشتې کېږي[١] چې په افغانستان باندې بې رحمه بمبار او د توغندیو توغول پیل کړي دي.

د ایران رادیو د نشریاتو په مطابق[٢] نوموړي فرعون تراوسه پورې دوه لکه او څلور څلویښت زره (٢۴۴٠٠٠) بمونه او مزایل (توغندي) په افغانستان باندې ورولي دي، حتی چې ځینو بمونو یې د افغانستان په وزني مقدار دیارلس خرواره وزن درلود، چې تقریبًا د اوه نیم زره (٧۵٠٠) کیلو ګرامه سره سمون خوري.

په دې باندې علاوه، نوموړي فرعون د زهرجنو بمونو په استعمال باندې هم صرفه نه ده کړې بلکې داسې بمونه یې هم استعمال کړي دي چې په ټوله نړۍ کښې یې دا لومړی ځل استعمال وه، او د دغو بمونو څخه وروسته فقط اتوم بم دی چې پخوا امریکایانو په جاپان باندې استعمال کړی وه.

---

(١) ١۴٢٢/٧/١٩ هـ ق - ١٣٨٠/٧/١۴ هـ ش

(٢) ١۴٢٢/١٠/٨ هـ ق - ١٣٨٠/١٠/١ هـ ش.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکرې شوې راډيو د وینا په مطابق تر اوسه پورې په بمبارد سره څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) بې ګناه مسلمانان شهیدان شوي دي، او همدارنګه اوه زره (۷۰۰۰) مسلمانان د نوموړي فرعون او د ده د متحدینو د لښکریانو دپلوه اسیران شوي دي چې څینې يې د افغانستان په داخل کښې بندیان دي او څینې يې بهرنیو زندانونو ته لېږدولي دي.

د دې زمانې د فرعون بمبار او اسیرول اوس هم جاري دي[1] الله ﷻ دې پر بنه پوهېږي چې ترڅه وخته پورې به ادامه وکړي. دغه فرعون ذکره شوې ټوله کاروايي د څینو بې عقله او بې مروته افغانانو په همکارۍ ترسره کړه او لا ترسره کوي يې.

اللَّهُمَّ النَّجَاةَ اللَّهُمَّ النَّجَاة. اللَّهُمَّ اهْزِمْ الْأَحْزَابَ وَزَلْزِلْهُمْ، وَأَرْسِلْ عَلَيْهِمْ طَيرا أَبَابِيْلَ تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيْلٍ، فَجَعَلْهُمْ كَعَصْفٍ مَّأكُول، اللَّهُمَّ قَطِعْهُمْ تَقْطِيعًا كَمَا قَطَّعْتَ الرُوسَ الْمُتَجَاوِزَةِ، آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالِمِيْنَ.

## شرط او جزا

۳ـ په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا ﴾ کښې د ﴿ إِذَا ﴾ کلمه شرط ده او د ﴿ فُتِحَتۡ ﴾ کلمه ورته جزا واقع شوې ده، د همدې کبله ورسره د "و" توری نه دی نازل شوی چې د جزاتوب سره منافي دی. یعنې د دوزخ دروازې به ترهغه بندې وي ترڅو چې هلته دوزخیان وروستلی شي، نو بیا به دوزخیانو ته ببرته کړی شي او د دوی د ورننویستلو څخه وروسته به سمدستي دوهم وار بندې کړی شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د الله ﷻ په توفیق د "أَبۡوَاب" کلمه د [الحجر:۴۴] ایت لاندې ډېره بنه تحلیله شوې ده چې د "بَاب" جمعه ده او دوه معناوې درلودلی شي. همدارنګه هلته د جنت د اتو دروازو او د دوزخ د اوو دروازو په باب د احادیثو په رڼا کښې څه بیان لیکلی شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

په دې مقام کښې څینو مفسرینو کرامو په همدې موضوع کښې زښت ډېر احادیث راغونډ کړي دي[2]؛ چې یو ځل لوستل یې په ګټه تمامېږي، مونږ دلته د اوږدوالي د غمه را انتقال نه کړه.

## دا اعتراف دی اعتذار نه دی

۴ـ د دوزخ د خازنانو په جواب کښې د کفارو دا جمله چې: ﴿ بَلَىٰ وَلَٰكِنۡ حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ اعتذار نه دی، که نه نو همدا اعتذار به یې د فیصلې او استنطاق په وخت کښې وړاندې کړی وی، بلکې په خپلو کفریاتو باندې اعتراف دی چې: په کفارو (مونږ) باندې د الله ﷻ د عذاب خبره په اثبات رسېدلې ده چې دوزخ راباندې ډک کړي، مونږ د همدغه عذاب لیاقت لرو.

په همدې مضمون باندې په بل ایت کښې د کفارو دوزخیانو د خولو څخه په صراحت سره حکایت شوی دی چې: ﴿ قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٍ ﴾ [الملک:۹]

---

(۱) ۱۴۲۲/۱۰/۲۰ هـ ق = ۱۳۸۰/۱۰/۲۰ هـ ش

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني كفار (دوزخيان) به د دوزخ د خازنانو په جواب كښې ووايي چې ولې نه. يقيناً مونږ ته ډاروونكى (پيغمبر) راغلى وه، خو مونږ يې تكذيب وكړ او ومو ويلې چې الله ﷻ هيڅ شى نه دى نازل كړى (ستا د نبوت دعوه دروغ ده).

## سوال جواب

۵_ كه څوك وايي چې: په ﴿ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ ﴾ كښې د "سيق" كلمه د "سَوْق" _لكه "قَوْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "سَوْق" د دې دپاره وضعه شوى دى چې يو شى په سپكاوي او شدت سره هغه ځاى ته ورټېلوهلى شي كوم ته يې چې خوښه نه وي[1] او رضايت ورباندې نه لري.

نو پوښتنه دا ده چې د څه حكمت په بنياد دلته د "سِيقَ" كلمه نازله شوه، حال دا چې جنتيان خو په جنت ته د ورداخلېدلو رغبت لري، نه دا چې رضايت به ورباندې نه لري؟

مونږ وايو چې: دغې پوښتنې ته مفسرينو كرامو[2] په ګڼ شمېر كښې جوابونه كړي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: وړاندې د دوزخيانو په هكله د "سِيقَ" كلمه نازله شوې وه، نو ذكره شوې كلمه د جنتيانو په ارتباط د مشاكلت د امله نازله شوه[3].

ب: د "سَوْق" معنى فقط د تلونكي تېزول دي چې مطلب ته ژر ورسېږي، او سپكاوى يې په مفهوم كښې شامل نه دى[4]. يعنې جنتيان به په تېزۍ سره جنت ته ورسولى شي.

## د جنتيانو ډلې

۶_ په ﴿ إِلَى ٱلْجَنَّةِ زُمَرًا ﴾ كښې د ﴿ زُمَرًا ﴾ كلمه _چې په اوله توضيح كښې د لغت د حيثه معنى شوې ده_ دې ته اشاره ده چې: جنتيان به هم د تقوى د مراتبو په اعتبار او د مختلفو عبادتونو په ملحوظ په متعددو ټولګيو باندې ووېشلى شي او د مراتبو په تفاوت سره به جنت ته داخل كړى شي، چې په همدې ارتباط ځينو مفسرينو كرامو[5] د نبي كريم ﷺ زښت ډېر احاديث راغوند كړي دي، خو مونږ فقط د لاندې نبوي احاديثو په ليكلو سره اكتفاء كوو چې ځينې يې د اوږدو احاديثو څه برخې دي:

الف: «يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ»[6] يعنې زما د اُمت څخه به اويا زره كسان بدون د محاسبې جنت ته داخل شي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۵۵؛ تفسير المراغي ج۲۴ ص۳۵
(۲) التفسير الكبير ج۲۷ ص۲۲؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۵۵۳؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۱۴۷
(۳) روح المعاني ج۲۴ ص۳۳
(۴) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۲۱۷
(۵) تفسير ابن كثير ج۴ ص۶۶
(۶) صحيح البخاري ج۲ ص۹۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: «أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَالَّذِينَ عَلَى إِثْرِهِمْ كَأَشَدِّ كَوْكَبٍ إِضَاءَةً»[۱]
یعنې اولنی ټولګی چې جنت ته ورداخلېږي (صورتونه به یې) د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په صورت سره وي او هغه کسان کوم چې همدوی پسې وروسته وي (دوهم لمبر وي، نو د هغوی مخونه) به د ړڼا د حیثه د قوي رڼه ستوري غوندې وي.

ج: «وَالزُّمْرَةُ الثَّانِيَةُ عَلَى لَوْنِ أَحْسَنَ مِنْ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ»[۲] یعنې او دوهم ټولګی به په داسې رنګ سره وي چې په اسمان کښې به د روښانه ستوري څخه ډېر ښایسته وي.

د: «...ثُمَّ هُمْ بَعْدَ ذَلِكَ مَنَازِلُ»[۳] یعنې بیا به د دغه وروسته جنتیان د مراتبو خاوندان وي (او هرڅوک به په ټاکلې رتبه جنته ته ورداخل شي).

هـ: «إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا»[۴]
یعنې زه د دوزخیانو په یو کس علم لرم چې د دوزخ څخه د وتلو د حیثه وروستنی کس دی او د جنتیانو په یو کس هم علم لرم چې جنت ته د ورداخلېدلو د حیثه وروستنی کس دی.

نو دغه کس (په دواړو صورتونو کښې) یو داسې سړی دی چې د دوزخي دورې د پوره کولو څخه وروسته به د دوزخ څخه په خاپوړو رابهر شي (او جنت ته به ورداخل شي).

و: او «...آخِرُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ رَجُلٌ فَهُوَ يَمْشِي مَرَّةً وَيَكْبُو مَرَّةً وَتَسْفَعُهُ النَّارُ مَرَّةً»[۵] یعنې وروستنی هغه څوک چې (بدون د دوزخي دورې د تېرولو) جنت ته داخل شي داسې یو سړی دی چې نوموړی به یو ځل په پښو روان وي او بل ځل به په مخ پرېوتلی وي (په سینه به ښویېږي) او (بالآخره) یو ځل به یې مخ اور سوزوي.

## څو نکات

۷ـ په دې مقام کښې باید لاندې نکات په ذهن کښې وساتلی شي:

الف: په ﴿ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا ﴾ کښې د "إِذَا" کلمه د شرط دپاره ده، چې جزا او جواب غواړي، نو مفسرینو کرامو یې په تعین کښې متعدد صورتونه ښودلي دي[۶] کوم صورت چې مونږ ته بهتر او د مقام سره مناسب برېښي هغه په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

اول: د ﴿ جَاءُوهَا ﴾ څخه نیولې آن تر ﴿ خَالِدِينَ ﴾ پورې ټول کلمات د ذکر شوي شرط ﴿ إِذَا ﴾ مربوطات دي.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص ۴۶۰
(۲) مسند أحمد بن حنبل ج۴ ص۳۵
(۳) مسند أحمد بن حنبل ج۳ ص۵۸
(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۱۰۵
(۵) مسند أحمد بن حنبل ج۲ ص۸۱
(۶) زاد المسیر ج۷ ص۲۹: تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: د دغو مربوطاتو څخه وروسته د "إذا" دپاره جزا او جواب مقدر دي چې مونږ ترې په "سروا كثيرًا" سره تعبير كولى شو، يعنې ډېر به خوشحاله شي.

دريم: په همدغې مقدرې جزا او جواب باندې په ﴿ وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ﴾ كښې د "و" توری دلالت كوي چې د عطف دپاره دی او د همدغې مقدرې جملې څخه په غير ورته بله مذكوره جمله د عطف دپاره مناسبه نه برېښي.

څلورم: شايد چې د جزا او جواب په عدم ذكر كښې به حكمت دا وي ترڅو چې د جنتيانو په ډېر زيات سرور او خوشالۍ باندې دلالت وكړي.

يعنې: كله چې جنتيان جنت په داسې حال ورشي چې د يو پلوه يې ورته دروازې پرانستې وي او د بله پلوه ورته د جنت خازنان تبريكات هم تقديم كړي نو دوی به دومره خوشاله شي چې په دنيا كښې يې څوک تصور نه شي كولی، نو د همدې كبله به د الله ﷻ په حمد او ثناء باندې شروع وكړي چې: ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى ﴾ الآية.

ب: كوم كيفيت چې وړاندې نازل شوی دی چې د جنت دروازې به ورته خلاصې پرتې وي، دا د نبي كريم ﷺ څخه په غير د نورو جنتيانو حال دی، اما نبي كريم ﷺ خپل حال داسې شرحه كړی دی چې: «أَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يَقْرَعُ بَابَ الْجَنَّةِ»[١] يعنې زه به د قيامت په ورځ د پيروانو د حيثه د ټولو پيغمبرانو څخه زيات يم او هم به زه په دغې ورځ كښې هغه اولنی كس يم كوم چې د جنت دروازه وټكوي (چې پرانستلی شي).

يا په بل عبارت: كله چې د نبي كريم ﷺ دپاره د جنت دروازې خلاصې كړی شي نو د نورو جنتيانو دپاره به پرانستې پرتې وي.

همدغه مضمون په هغه حديث كښې هم روايت شوی دی كوم چې مونږ ان شاء الله په توفيق د [ص: ٥٠] ايت لاندې رانقل كړی دی.

ج: په ﴿ وَأَوْرَثَنَا ٱلْأَرْضَ ﴾ كښې د ﴿ ٱلْأَرْضَ ﴾ د كلمې څخه دغه ځمكه مراده نه ده كومه چې د اسمان په مقابل كښې پرته ده بلكې دا كلمه د كنايې په توګه د هغه استوګنځای څخه عبارت ده كوم به چې جنتيانو ته ټاكلې شوې وي.

د: همدارنګه په ﴿ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلْجَنَّةِ ﴾ كښې د ﴿ ٱلْجَنَّةِ ﴾ د كلمې څخه د هر جنتي خپل خپل معهود جنت مراد دی، يعنې مونږ كولی شو چې د خپل خپل جنت څخه په هر ځای كښې استوګنه غوره كړو، او ټول جنت مراد نه دی.

ه: نبي كريم ﷺ د سوګند د يادولو څخه وروسته په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ فِي الدُّنْيَا»[٢] يعنې هرومرو به هر يو جنتي خپل جنتي كور ته د

---

(١) صحيح مسلم ج١ ص١١٢
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٩٦٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه څخه ډېر ښه لاره موندونکی وي چې نومورې به په دنیا کښې خپل دنیاوي کور ته لاره موندونکی وه.

و: که څوک وايي چې: په ﴿ وَقُضِىَ بَيْنَهُم ﴾ کښې د "هُم" ضمير د محشر خلکو ته راجع دی حال دا چې د ﴿ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ﴾ ضمائر پرښتو ته راجع دي. نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه (د ضمائرو تفکيک او انتشار) د بلاغت سره منافي کار نه دی او د قرآن کريم د شان سره غير مناسب نه دی؟

مونږ وايو چې: د ضمائرو تفکيک او انتشار په هغه وخت کښې د بلاغت سره منافي ګرځي چې کله تري التباس او خلاف المقصود (د اصلي مطلب څخه بدله معنی) رامنځته کېږي[1]، او په دې مقام کښې التباس صورت نه نيسي او دا څکه چې د پرښتو ترمنځ مظالم نشته ترڅو فيصلو ته ارتيا پيښه شي، بلکې فيصلې د محشر په خلکو پورې اختصاص لري.

ز: هېر مو نه شي چې په ﴿ وَقِيلَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې دا دنيا به د الله ﷻ په حمد او ثناء سره پای ته ورسېږي، لکه څنګه چې د الله ﷻ په حمد او ثناء سره شروع شوې ده.

الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ [الأنعام: ۱] يعنې هغه الله ﷻ ته حمد او ثناء ده چې اسمانونه او ځمکې يې پيدا کړي دي.

اللَّهُمَّ نَسْأَلُكَ جَنَّةَ الْفِرْدَوسِ وَنَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ آمِين.

د "الزمر" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق بشپړ شو، والحمد لله ﷻ وله الشکر.

۱۴۲۲/۱۰/۳۰ هـ ق - ۱۳۸۰/۱۰/۲۳ هـ ش.

---

(۱) روح المعاني ج ۲۴ ص ۳۷

Scanned by CamScanner

# المؤمن (٤٠)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت په لاندې درېوو نومونو سره نومولی شوی دی(۱):

الف: د "المؤمن" سورت، چې دغه نوم یې د همدې سورت د [۲۸] ایت څخه اخستل شوی دی، او په همدې نامه سره زیات شهرت لري(۲).

ب: د "غافر" سورت یې دوهم نوم دی.

ج: د "الطول" سورت یې دریم نوم دی.

دغه وروستني دواړه نومونه یې د همدې سورت د دریم ایت څخه اخستلي شوي دي.

۲_ د دې سورت د ایتونو تعداد پنځه اتیاوو (۸۵) ته پورته شوی دی(۳) چې ټول ایتونه یې په اجماع سره مکي دي او د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي(۴)، بلکې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت دغه اوه سورتونه چې په ﴿ حمٓ ﴾ سره پیل شوي دي اوه واړه په مکه کښې نازل شوی دی(۵).

۳_ د دې سورت د کلماتو او حروفو تعداد په لاندې ډول دی(۶):

الف: د کلماتو شمېر یې یو زر یو سلو نهه نوي (۱۱۹۹) دی.

ب: د حروفو شمېر یې څلور زره نهه سوو او شپېتو (۴۹۶۰) ته رسېږي.

۴_ که څه هم د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو غوندې د اکثریت په لحاظ په عقیدې پورې تعلق نیسي، لکه د الله ﷻ توحید، د نبي کریم ﷺ نبوت، د قیامت د ورځې حالات، د جنت او دوزخ پورې مربوط کیفیات او داسې نور، مګر د ناحقه جګړه مارانو د اقناع دپاره په دې سورت کښې زښت ډېر دلایل نازل شوي دي، او په رنګارنګ اسالیبو سره د ناروا جګړو مخنیوی پکښې شوی دی. ترڅو هغوی په توحید او په بعث بعد الموت او په نورو عقیدوي اُمورو کښې جګړې پرېږدي 'و مقبوله شرعي عقیده خپله کړي.

۵_ څرنګه چې وړاندې سورت (الزمر) هم مکي سورت وه نو د دې سورت او د هغه سورت تناسب په وضاحت سره څرګندېږي، چې دواړه په عقیدوي احکامو پورې زیات تماس نیسي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ۝٢ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ۝٣ مَا يُجَٰدِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۲۲۲
(۲) زاد المسیر ج۷ ص۳۱
(۳) تفسیر الطبري ج۲۴ ص۳۹
(۴) البحر المحیط ج۹ ص۲۳۱؛ المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۱۱
(۵) الدر المنثور ج۷ ص۲۶۸
(۶) تفسیر الخازن ج۵ ص۳۲۶؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ﴿٤﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَالْأَحْزَابُ مِن بَعْدِهِمْ وَهَمَّتْ
كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ وَجَادَلُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ
كَانَ عِقَابِ ﴿٥﴾ وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٦﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱]

[۲] د قرآن کریم نازلول د الله ﷻ د پلوه دي چې د کلکې ارادې خاوند (او په هر شي باندې) پوه دی.

[۳] (همدا الله ﷻ) د ګناه مغفرت کوونکی او د توبې قبلوونکی دی (او هم کفارو ته) سخت عذابه دی (او مؤمنانو ته) د پراخه نعمت خاوند دی، (په حقه) د عبادت لایق نشته مګر همدې ﷻ دی، همده ﷻ ته بېرته ورګرځېدل (ورستنېدل) دي.

[۴] د الله ﷻ د ایتونو (قرآن کریم) په هکله هیڅوک جګړې نه کوي مګر هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی، نو تا دې د کفارو په ښارونو کښې (په خوشالی سره) ګرځېدل راګرځېدل تېر نه باسي (چې فقط څو ورځې دوام کوي او په عاقبت کښې ورته دوزخ تیاکلی شوی دی).

[۵] (ستا د زمانې) د کفارو څخه وړاندې د نوح ﷺ قوم (خپل پیغمبر ته) د دروغو نسبت کړی وه، او د دغه قوم څخه وروسته ډېرو کفري ډلو هم، او (همدارنګه) هر کفري ټولګي خپل پیغمبر ته قصد کړی وه چې ویې نیسي (او د مرګ په شمول ډول-ډول ضرورونه ور ورسوي)، او هرې کفري ډلې په باطله (ناجائزه طریقه) د دې دپاره جګړه کوله چې حق ورباندې د منځه یوسي. نو (ما په عذاب سره ونیول وګوره چې) زما عذاب څنګه وه (ایا د دوی بنیاد یې ونه ویست؟).

[۶] (ای پیغمبره!) همدغه ډول ستا د رب ﷻ خبره په هغو کسانو باندې ثابته شوې ده کومو چې (په دې زمانه کښې) کفر غوره کړی دی (او وړباندې کلک دی. ستا د رب ﷻ خبره دا ده) چې یقیناً دوی د اور ملګري دي (چې هیڅکله به یې ورسره اندېوالي پرې نه شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې په هغه مضمون باندې دلایل اقامه کړی شوي دي په کوم باندې چې وړاندېني سورت (الزمر) تمام شوی وه، چې د قیامت په ورځ به خلک په دوه وو ګروپونو ووېشلی شي، څوک به په دوزخ کښې اچولی کېږي او څوک به جنت ته ننوځي، نو حاصل یې داسې راځېږي: ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته دا مطالب قرائت کړه:

۱ ـ د قیامت په ورځ به څکه ټول خلک د حقو فیصلو په بنیاد په جنت او دوزخ باندې توزیع کړی شي چې الله ﷻ د دغو صفاتو درلودونکی دی:

الف: الله ﷻ د هغه کتاب نازلوونکی دی کوم چې خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دا څکه چې دا کتاب د هغو تورو څخه جوړ دی د کومو څخه چې د خلکو کلامونه جوړېږي او روزمره ورباندې محاورې او بحثونه کوي، لکه ح، م او داسې نور، خو د دې سره-سره ټول وړاندېني او ېېرتني خلک د دې کتاب د یوه ایت سره سیالي نه شي کولی چې په شریکه د دې کتاب د یوه ایت غوندې یو ایت جوړ کړي، او نه یې توان لري. که بالفرض د دې کتاب توري د خلکو د کلامونو د تورو څخه مغایر وی نو بیا به خلکو په خپل عجز او ناتوانی باندې څه پرده اچولې وی چې مونږ څکه د دې کتاب سره سیالي نه شوه کولی چې د هغه حروف زمونږ د حروفو څخه جدا دي.

نو دا کتاب په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی او ټولې وعدې او ټول وعیدات یې حق دي، چې هیڅکله به پکښې تخلف واقع نه شي.

ب: الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی.

ج: د کاملې پوهې درلودونکی دی او د مؤمنانو او کفارو دنیاوي کړه وړه ورته هوبهو معلوم دي.

د: د هغو ګناهونو بښونکی دی کوم چې د کفر څخه په غیر وي، البته د هغه چا دپاره کومو ته یې چې اراده وشي.

هـ: بالمقابل د توبې قبلوونکی هم دی، نو کوم کفار چې په دنیا کښې د خپلو کفریاتو څخه توبه تائب شي هغوی په پخوانیو کفریاتو باندې نه نیسي.

و: خو د دې سره-سره د سخت عذاب درلودونکی هم دی، نو کوم کفار چې د مرګ د وخته پورې خپلو کفریاتو ته ادامه ورکړي هغوی به ضرور په دوزخ کښې د سخت عذاب سره مخامخ کړي.

ز: د کامل قدرت او د پراخه نعمتونو څښتن هم دی، د همدې کبله جنتیانو ته په جنت کښې د بې حسابه نعمتونو ورکوونکی دی.

ح: په دې باندې علاوه، د الله ﷻ څخه پرته په حقه بل معبود نشته. نو څکه مؤمنانو ته په حق عبادت باندې جزا ورکوي او کفار په باطل عبادت باندې د سزا سره مخامخ کوي.

ط: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خاص همده ﷻ ته ېېرته ورتلل دي چې نه به ترې څوک خپل خان په څنګ کړي او نه به د په څنګ کېدلو توان ولري.

۲_ ای پیغمبره! خو کله چې د قرآن کریم اعجاز بالکل څرګند دی او هرڅوک پوهېږي چې دا د الله ﷻ د پلوه په حقه نازل شوی دی، نو د دې کتاب په حقانیت کښې یوازې هغه کسان مجادله او جګړه کوي کومو چې کفر غوره کړی دی او عناد نیولي دي.

نو د دغو عنادي کافرانو په ښارونو کښې ګرځېدل راګرځېدل او د دغو د نعمتونو پراخي دې تا تېر نه باسي چې د کفر سره-سره په خوشالیو کښې ژوند کوي، او دا څکه چې دا فقط څو ورځې ژوند دی دا به ډېر ژر ختم شي او بیا به په دوزخ کښې د دردناک عذاب سره مخامخ شي.

۳_ همدارنګه ستا د زماني د کفارو غوندې الله ﷻ د کفارو ډېرو ډلو ته ښه پوره فرصت ورکړی وه چې په ښارونو کښې وګرځي راوګرځي خو بیا یې په ټاکلي وخت کښې په یوپنا کوونکي عذاب سره نیولي دي. د مثال په توګه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د نوح ؑ قوم د خپل پیغمبر تکذیب کړی وه او همدارنګه د دوی څخه وروسته د کفارو ډېرو ډلو همدغه کړنلاره غوره کړې وه.

ب: بلکې هرې یوې ډلې خپل پیغمبر ته قصد کړی وه چې د اسیر په حیث یې ونیسي او د دعوت مخه یې بنده کړي، ترڅو په نتیجه کښې حق د پښو لاندې کړي او باطل ته وربانديې غلبه ورکړي، او حتی په څینو پیغمبرانو باندې یې د وژلو صرفه هم نه ده کړې.

ج: خو په عین حال کښې ما دغه سرکشان او جګړماران کفار په خپل عذاب سره ونیول او خپلو پیغمبرانو ته او هغه چاته مو نجات ورکړ کوم چې په ایمان باندې مشرف شوی وه.

د: نو ته وګوره چې زما عذاب ورته څنګه بنیاد ویستونکی وګرځید او څنګه یې پوښتنا کړه.

ه: همدارنګه ستا د رب ﷻ خبره په هغو کسانو باندې هم ثابته شوې ده کومو چې په دې زمانه کښې کفر غوره کړی دی او ستا تکذیب ته ادامه ورکوي. هغه دا چې یقیناً دوی د همېشه دپاره د اور (دوزخ) اندیوالان دي چې هېڅکله به یې ورسره اندیوالي ونه شکېږي. برابره خبره ده چې په دنیاوي عذاب اخته شوي وي او که نه.

## توضیحات

۱ـ که څه هم څینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ حمٓ ﴾ کلمات په ډېرو معناوو سره تفسیر کړي دي[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا کلمات هم د هغو کلماتو او تورو غوندې مقطعات وګڼلی شي کوم چې د څینو سورتونو په شروع کښې نازل شوي دي لکه ﴿ الٓمٓ، صٓ ﴾ او نور.

## په جهاد کښې د شپې نوم

۲ـ نبي کریم ﷺ په یوه غزا کښې مجاهدین مخاطب کړه او ورته یې وویلې چې «إِنْ بُيِّتُمْ الْعَدُوَّ فَقُولُوا حم لَا يُنْصَرُونَ»[۲] یعنې که د شپې په تیاره کښې په تاسو باندې دښمن (کفارو) حمله وکړه نو د «حم لا يُنْصَرُونَ» کلمات ووایاست، ترڅو د یو پلوه تاسو ته د خپلو ملګرو د پېژندلو دپاره د شپې نوم وګرځي او د بله پلوه د همدغو کلماتو په برکت هغوی د شکست سره مخامخ شي.

## د "توب" او "طول" معناوې

۳ـ د ﴿ وَقَابِلِ ٱلتَّوْبِ ﴾ کښې د "توب" کلمه د "تابَ يَتُوبُ" مصدر دی چې د رجوع معنی ورکوي او یا د مصدر "تَوْبَة" ـ لکه "رَحْمَة" ـ جمعه ده[۳]. یعنې الله ﷻ د جنس توبې او یا د توبو قبلوونکی دی. او په ﴿ ذِی ٱلطَّوْلِ ﴾ کښې د "طَوْل" کلمه په خپلو ډېرو معناوو کښې د پراخی او غنا (عدم احتیاج) په معناوو هم استعمالېږي[۴] چې په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنه په همدغې

(۱) زاد المسیر ج۷ ص۳۲، تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۸۹
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۹۷
(۳) لسان العرب ج۱ ص۲۳۳، روح المعاني ج۲۴ ص۴۲
(۴) لسان العرب ج۱۱ ص۴۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی سره تفسیره کړې ده[١]. یعنې الله ﷻ د پراخه نعمتونو خاوند دی او د کاملې غنا درلودونکی دی چې هیڅا ته څه اړتیا نه لري.

## آخذ څه معنی؟

۴_ په ﴿ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ ﴾ کښې د ﴿ لِيَأْخُذُوهُ ﴾ کلمه د "أَخذ" _لکه "ضَرْب" _ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د اخستلو او رانیولو معنی ورکوي[٢]، خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په قتل (وژلو) سره تفسیره کړې ده[٣].

اما مونږ ته داسې برېښي _والله ﷻ أعلم_ چې دلته به د "أخذ" څخه عامه معنی مراده وي، ترڅو وژلو او هر ډول ضرر رسولو ته شامله شي. او دا ځکه چې کفارو د خپلو پیغمبرانو په هکله په هیڅ ډول ضرر باندې صرفه نه ده کړې. نو شاید چې په همدې بنیاد به د رئیس المفسرین ﷺ حصر مطلب نه وي او محض د نیولو یوه مثال ته به یې اشاره کړې وي.

## د "إدحاض" معنی

۵_ په ﴿وَجَٰدَلُواْ بِٱلْبَٰطِلِ لِيُدْحِضُواْ بِهِ ٱلْحَقَّ﴾ کښې د ﴿ لِيُدْحِضُوا ﴾ کلمه د "إِدْحَاض" _لکه "إِكْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الکهف:۵۶] ایت لاندې لیکلي دي چې د یو شي زائل کولو او د له منځه وړلو ته "إدحَاض" ویل کېږي.

او پوره واضحه ده چې د حق د له منځه وړلو دپاره جګړه او بحث کول د کفر څخه په غیر بل شی نه دی. همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «الْمِرَاءُ فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ»[۴] یعنې د قرآن کریم په هکله په دې غرض جګړه کول کفر دی چې خلکو ته پکښې شکونه ورواچوي.

﴿ ٱلَّذِينَ يَحْمِلُونَ ٱلْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَٱغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٧﴾ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّٰتِ عَدْنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمْ وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٨﴾ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُۥ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٩﴾ ﴾

[٧] هغه پرښتې کومې چې عرش اوچتوي او هغه پرښتې کومې چې د عرش په شاوخوا کښې

---

(١) الدر المنثور ج٧ ص٢٧١
(٢) لسان العرب ج٣ ص٤٧٢
(٣) تفسیر البغوي ج۴ ص٩١
(۴) سنن ابي داود ج٢ ص٢٧۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



موجودیت لري (دوی تولې) د خپل رب ﷻ د حمد (ثناء) سره تسبیحات وایي او په خپل رب ﷻ باندې ایمان راوړي (او په توحید ورته معتقدې دي) او هغو کسانو ته (د خپل رب ﷻ څخه) د مغفرت غوښتنه کوي کومو چې (په خپل رب ﷻ باندې) ایمان راوړی دی (او د توحید د عقیدې درلودونکي دي. نو پرښتې وایي چې): ای زمونږ ربه! تا هر شی د رحمت او علم د حیثه خای کړی دی (ستا رحمت او علم ورته رسېدلی دی)، نو ته هغو کسانو ته مغفرت وکړې کومو چې (تاته) رجوع کړې ده او ستا د لارې پیروي کوي، او هم یې د دوزخ (د اور) څخه وساتې.

[۸] ای زمونږ ربه! ته دوی (مؤمنان) د دائمي اقامت هغه جنت ته ورداخل کړې کوم چې تا ورسره وعده کړې ده، او هم د دوی د پلرونو او د دوی د مېرمنو او د دوی د اولادونو څخه چې چا صلاح خپله کړې ده (او صالحان دي، هغه هم ورداخل کړې).

(ای ربه!) یقیناً ته د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن یې.

[۹] او (ای ربه!) دوی د ګناهونو (د سزا) څخه وساتې، او هرڅوک چې ته یې په دغې ورځ (قیامت) کښې د ګناهونو (د سزا) څخه وساتې نو یقیناً تا وریاندې رحم (او مهرباني) کړې ده.

او (ای پیغمبره!) دغه (چې څوک جنت ته داخل کړی شي پرښتې ورته مغفرت غواړي) همدا لویه کامیابي ده.

## ارتباطونه

۱ ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې دېته اشاره وه چې اوسنی کفري تولنې د پخوانیو کفري تولنو غونډې غواړي چې خپل پیغمبر (محمد ﷺ) او مؤمنانو ته په ضرر رسولو باندې هیڅ صرفه ونه کړي؛ په دې ایتونو کښې دوی ته تسلي ورکړه شوې ده چې تاسو د کفارو د ایذاء څخه هیڅ تشویش مه کوئ، چې د عرش عظیم د حاملینو پرښتو په شمول تولې پرښتې ستاسو دوستانې دي او د مغفرت غوښتنه درته کوي، نو تاسو ډاډه اوسئ چې په دنیا او آخرت کښې کامیابي همدا ستاسو په برخه ده او بس.

۲ ـ وړاندېني ایتونه په دې تمام شوي وه چې کفار د اور اندېوالان دي او په دې ایتونو کښې مونږ ته د اشارې په توګه د مغفرت د غوښتلو طریقه رابنودله شوې ده، چې د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو ښښنه وغواړئ ترڅو د اور د اندېوالانو څخه ونه ګرځئ او لویه کامیابي مو په برخه شي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د خپل ځان د تسلی او د مؤمنانو د اطمنان دپاره په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه، ترڅو ترې تر قیامته پورې دوی ګټه پورته کړي:

۱ ـ مؤمنان د توحیدي عقیدې په درلودلو کښې یوازې نه دي بلکې هغه پرښتې کومې چې عظیم الشان (الهي) عرش پورته کوي، او هم هغه پرښتې کومې چې د عرش العظیم په چارچاپېر کښې موجودیت لري چې په تعداد او اندازې باندې یې د الله ﷻ څخه پرته بل هیڅوک نه پوهېږي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه ټولې د خپل رب ﷻ د حمد سره د همده ﷻ تسبيحات وايي او عقيده لري چې الله ﷻ د هر حيثه واحد او لا شريک دی. يا په بل عبارت، دوی ټولې د مؤمنانو سره همعقيده دي.

۲ــ دغه ټولې پرښتې خپلو همعقيده ملګرو (مؤمنانو) ته د الله ﷻ څخه د ګناهونو مغفرت غواړي چې:

الف: ای زمونږ ربه! ته د علم او رحمت د حيثه هر شي ته رسيدلی يې، ستا علم او رحمت هر شي ته شموليت لري، نه دې په علم کښې قصور شته او نه دې په رحمت کښې.

ب: ای زمونږ ربه! نو ته هغو کسانو ته مغفرت وکړې کوم چې د کفر څخه توبه تائب شي او ستا د لارې پيروي خپله کړي.

ج: ای زمونږ ربه! دغه کسان د دوزخ د ګرم اور څخه بچ کړې کوم چې تا د کفارو دپاره تيار کړی دی او د همدوی سره دې انديوال ګرځولی دی.

د: ای زمونږ ربه! دغه ذکر شوی مؤمنان (چې زمونږ سره په عقيده کښې متحد دي) هغه جنت ته داخل کړې کوم چې د همېشه اوسېدانې ځای دی د کوم وعده چې تا ورکړې ده. نو په خپل فضل سره ورته وعده پوره کړه.

هـ: ای زمونږ ربه! د هغو کسانو درجات هم اوچت کړې کومو چې د ايمان سره صالح اعمال ملګري کړي دي او د خپلو ځانونو په اصلاح بوخت دي، البته چې دغه کسان د مؤمنانو د پلرونو او مېرمنو او هم د دوی د اولادونو څخه عبارت دی، ترڅو ورباندې دوی خوښ او خوشاله شي او بې غمي يې لا اضافه شي.

و: ای زمونږ ربه! يقينًا ته د کلکې ارادې درلودونکی يې او هر کار دې د حکمت څخه ډک دی نو د مؤمنانو ذکرو شوو خپلوانو ته د درجاتو اوچتول ستا د شان سره ډېر مناسب کار دی.

ح: ای زمونږ ربه! ته ذکر شوي مؤمنان او د دوی خپلوان د قيامت په ورځ د عذابونو څخه وساتې او په دغې ورځ کښې چې ته هرڅوک د عذابونو څخه بچ کړې نو په هغوی باندې تا په يقين سره لويه مهرباني او رحم کړی دی، نو ته دوی هم په رحم کړی شوو کښې شامل کړې.

۳ــ ای پيغمبره! او دغه ډېره لويه کاميابي ده چې د مؤمنانو په برخه شوې ده، چې ګڼ شمېر پرښتې ورته د الله ﷻ څخه مغفرت او بښنه غواړي، نو دوی ته په کار دي چې د پرښتو مغفرت غوښتنې ته د قبول ډېر اُميد وکړي.

## توضيحات

۱ــ د ﴿ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ﴾ د وضاحتونو په ارتباط ځينو مفسرينو کرامو زښت ډېر احاديث او آثار راغونډ کړي دي[1] الله ﷻ دې اجرونه ورکړي، مونږ د لاندې وضاحتونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

(۱) تفسير البغوي ج۴ ص۹۲؛ الدر المنثور ج۷ ص۲۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د حملة العرش (د عرش عظيم د پورته كوونكو پرښتو) د عدد په هكله الله ﷻ فرمايلي دي چې د ﴿ وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَٰنِيَةٌ ﴾ [الحاقة:١٧] يعنې او اى پيغمبره! ستا د رب ﷻ عرش به په دغې ورځ (قيامت) كښې اته تنه پرښتې د خپلو ځانونو د پاسه اوچت كړي.

ب: نبي كريم ﷺ د همدې ډلې پرښتو په باره كښې فرمايلي دي چې: «أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ مِنْ مَلَائِكَةِ اللهِ تَعَالَى مِنْ حَمَلَةِ الْعَرْشِ إِنَّ مَا بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِهِ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةُ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ»[١] يعنې ماته اجازه راكړه شوې ده چې د الله تعالى د پرښتو ځخه چې د عرش العظيم پورته كوونكي دي، د يوې پرښتې په هكله بيان وكړم، هغه دا چې يقيناً د غوږ د نرمۍ او د اوږو ترمنځ په فاصله كښې يې اوه سوه كاله مزل دى! (او الله ﷻ پوهېږي د دغه مزل سرعت به په كومې اندازه وي).

ج: د ﴿ وَمَنْ حَوْلَهُۥ ﴾ په ارتباط مونږ فقط دا ايت شريف ليكو چې: ﴿ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ﴾ [المدثر:٣١] يعنې اى پيغمبره! ستا د رب ﷻ په لښكرو باندې هيڅوک نه پوهېږي چې څومره دي مګر همدى ﷻ او بس.

د: ځينې مفسرين كرام وايي چې: په ﴿ ٱلَّذِينَ يَحْمِلُونَ ٱلْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُۥ ﴾ كښې چې كومو پرښتو ته اشاره شوې ده، دوى د "كروبيون" په لقب هم يادېږي[٢].

ه: د "كَرُوْبِيُّون" كلمه د "كَرُوب" ـلكه "مَنُوع"ـ جمعه ده، چې د "كَرْب" ـلكه "ضَرْب"ـ ځخه اشتقاقه شوې ده چې د قرب (نژدېكت) معنى وركوي[٣]، بيا پكښې د مبالغې دپاره مشدده "ي" اضافه كړى شوې ده. او په روغه جمعه باندې يې جمعيت مونډلى دى[٤].

## څو نكات

٢ـ په دې مقام كښې په ذهن كښې د لاندې نكاتو ساتل په كار دي:

الف: كه څه هم د الله ﷻ په وحدانيت باندې د پرښتو ايمان د بديهياتو ځخه دى، صراحت ته ځه ارتيا نه لري، مګر په دې مقام كښې درباندې الله ﷻ د ﴿ وَيُؤْمِنُونَ بِهِۦ ﴾ د جملې په نازلولو سره د دې دپاره صراحت وكړ ـوالله ﷻ أعلم- چې:

اول: ترڅو كفارو ته د ايمان او توحيدي عقيدې تعظيم او اهميت ښه ځرګند شي. او دا خكه چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [المائدة:٤۴] ايت لاندې ليكلي دي چې د صفت ذكر كله-كله د موصوف د تقييد يا وضاحت دپاره نه بلكې پخپله د صفت د اهميت او تعظيم دپاره صورت نيسي، يعنې ايمان دومره عالي صفت دى چې مقربې پرښتې هم درباندې موصوفې دي.

همدې مطلب ته الله ﷻ په بل ځاى كښې داسې اشاره كړې ده چې: ﴿ لَّن يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ أَن

---

(١) سنن ابي داوٗد ج٢ ص٢٩۴

(٢) تفسير البغوي ج۴ ص٩٢

(٣) لسان العرب ج١ ص٧١۴

(۴) روح المعاني ج٢۴ ص۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ وَلَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ [النساء: ١٧٢] يعني هيڅكله المسيح (عيسى ﷺ) د دې څخه ډډه نه کوي چې خاص د الله ﷻ بنده دې وي، او نه تري مقربې پرښتې ډډه کوي (چې د بندګۍ څخه يې خانونه په څنګ کړي).

دوهم: ترڅو د مؤمنانو دپاره د پرښتو د طرفه د مغفرت د غوښتلو وجې ته اشاره وکړی شي. يعني د الله ﷻ څخه ورته ځکه پرښتې مغفرت غواړي چې دوی ورسره په توحيدي عقيده (ايمان) کښې همعقيده دي.

ب د ﴿ وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ ﴾ غوندې جمله په [الرعد: ٢٣] ايت کښې تېره شوې ده چې ښه خوندور بحث تري لاندې ليکلی شوی دی والحمد لله ﷻ، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

ج په ﴿ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوْمَئِذٍ ﴾ الآية- کښې د ﴿ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ﴾. ﴿ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ﴾ دواړه کلمې په دې مقام کښې مفسرينو کرامو [١] په لاندې دوه وو ډولو سره تفسيري کړې دي.

اول: دغه دواړه کلمې دلته خپلې متبادرې معناوې ورکوي چې ګناهونه دي. نو په دې تفسير سره د ﴿ يَوْمَئِذٍ ﴾ څخه دنيا مطلب ده، يعني: ای ربه! په دنيا کښې مؤمنان د ګناهونو د ارتکاب څخه وساته، او هرڅوک چې ته په دنيا کښې د ګناهونو د ارتکاب څخه وساتې نو يقيناً تا په هغوی باندې رحم او مهرباني کړې ده.

دوهم: د دغو دواړو کلمو څخه يا د مجاز په توګه د ګناهونو جزاوې مرادې دي او يا په دواړو خايونو کښې ورسره د "جزا" کلمه مقدره ده. نو په دې تفسير سره به په ﴿ يَوْمَئِذٍ ﴾ کښې د قيامت ورځې ته اشاره وي، يعني: ای زمونږ ربه! ټول مؤمنان د قيامت په ورځ د عذابونو يا د ګناهونو د جزاګانو څخه وساتې، او يقيناً هرڅوک چې ته يې په دغې (د قيامت په ورځ) کښې د عذابونو يا د ګناهونو د جزاګانو څخه وساتې نو په هغوی باندې تا خپل رحمت او مهرباني کړې ده، چې همدا ډېره لويه کاميابي ده.

د: که څه هم په ذکرو شوو دواړو تفسيرونو کښې د اولنې تفسير مضمون وړاندې په ﴿ وَقِهِمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴾ کښې تېر شوی دی. مګر څرنګه چې دا مقام د سوال او زاريو مقام دی نو دلته تکرار او بيا بيا غوښتل ښه مناسب دي چې په ډېرې عاجزۍ او لا زياتې بندګۍ باندې دلالت کوي، او د قبول پلو ته ترجيح ورکوي.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى ٱلْإِيمَٰنِ فَتَكْفُرُونَ ۝ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا ٱثْنَتَيْنِ فَٱعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا

---

(١) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص١٧؛ روح المعاني ج٢٤ ص٤٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ۝ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحْدَهُۥ كَفَرْتُمْ ۖ وَإِن يُشْرَكْ بِهِۦ تُؤْمِنُوا۟ ۚ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ۝ ﴾

[۱۰] يقيناً هغو کسانو ته به (د دوزخ په داخل کېدو) اواز وکړی شي کومو چې کفر غوره کړی دی، چې بې شکه ضرور (په تاسو باندې نن ورځ) د الله ﷻ غضب په خپلو خانونو باندې ستاسو د غضب څخه ډېر لوی (او سخت) دی، خکه چې تاسو (په دنیا کښې) به مستمره توګه ایمان ته بلل کېدلئ خو تاسو په مستمره توګه کفر غوره کاوه.

[۱۱] کفار به ووایي چې: ای زمونږ ربه! تا خو مونږ دوه کرته مړه کړو او دوه کرته دې راژوندي کړو، نو مونږ په ګناهونو باندې اعتراف کوو، نو ایا (دنیا ته) د وتلو څه لاره شته؟ (هیله ده چې په مونږ باندې یو ځل مرګ او ژوند بیا تکرار کړې).

[۱۲] (په جواب کښې به ورته ووېلی شي چې:) دغه (د لارې عدم موجودیت) د دې کبله صورت نیولی دی چې کله به (په دنیا کښې) الله ﷻ یوازې وبلل شو، نو تاسو به (ورباندې) کفر غوره کاوه، او که (په عبادت کښې) به یې په اشتراک قول وکړی شو، نو تاسو به ورباندې باور کاوه (دا ستاسو عادت وه، نو که بالفرض تاسو ته د وتلو لاره درکړی شي نو تاسو به ضرور بیا خپل عادت ته ورتاو شئ).

دغه حکم (د لارې عدم موجودیت) خاص الله ﷻ لره دی چې (د هر شرک او هر نقص څخه) اوچت (او) لوی دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وراندېنیو ایتونو په وروستني جملې ﴿وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴾ باندې څه وضاحت وراضافه کړی شوی دی چې د کفارو حال ته پکښې اشاره شوې ده، خلک وایي چې: هر شی د خپل ضد په پېژاندلو سره ډېر ښه پېژاندل کېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

یعني ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د کفارو د هغه وخت څه حال قرائت کړه کوم چې په هغوی باندې د دوزخ په داخل کښې ورتلونکی دی، ترڅو ښه واضحه شي چې په دنیا کښې ایمان راوړل او په نتیجه کښې جنت ته داخلېدل څومره لویه کامیابي ده. هغه دا چې:

۱ـ کله کفار دوزخ ته داخل کړی شي او مؤمنان جنت ته بوتللی شي او هم کله چې په کفارو باندې د خلود فیصله تطبیق کړی شي او د هرې خوا څخه ورته د ملامتی ګوته ونیوله شي چې دا ستاسو خپل قصور دی او بس، نو دوی به په خپلو خانونو باندې زښت ډېر په غُصه او په غضب شي او لعنت به ورباندې وایي.

نو په عین حال کښې به ورته اواز وکړی شي چې: ای کفارو! نن ورځ چې تاسو په خپلو خانونو باندې په غضب یاست د دې غضب څخه په تاسو باندې د الله ﷻ د هغه وخت غضب ډېر لوی وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې کله به تاسو ایمان ته دعوت کېدلئ او تاسو به کفر غوره کاوه او دعوت به مو نه قبلاوه.
یا په بل عبارت: ستاسو غضب ستاسو د کفر نتیجه ده نو که بالفرض تاسو په دنیا کښې د کفر په غوره کولو سره د الله ﷻ غضب نه وی ګټلی نو نن ورځ به نه دوزخ ته داخل کړی شوی وی او نه به په خپلو خانونو باندې په غضب شوي وی.
یا دا چې نن ورځ تاسو خپلو خانونو ته دومره په غضب نه یاست لکه څومره چې تاسو ته الله ﷻ په غضب دی، او دا څکه چې تاسو په دنیا کښې د ایمان دعوت په مستمره توګه رد کړې وه او په عوض کښې مو کفر غوره کړی وَه.
۲ـ نو کفار به د ذکر شوي اواز په اورېدلو سره یو څل بیا د سوال لاسونه پورته کړي او په زاریو سره به ووایي چې:
الف: ای زمونږ ربه! مونږ ستا د کامل قدرت لاندې یاستو، چې دوه څله دې مړه کړو او دوه څله دې راژوندي کړو.
یا په بل عبارت: ای ربه! تا زمونږ بدنونه د بې روحه شیانو څخه جوړ کړه او بیا دې پکښې روحونه پو کړه او په دنیا کښې دې ورباندې ژوندي کړو، بیا دې زمونږ روحونه قبض کړه، چې په خاورو کښې خاورې شوو، نو بیا دې د قبرونو څخه راپورته کړو او زمونږ خاورې شوي بدنونه دې بېرته راژوندي کړه.
ب: ای زمونږ ربه! مونږ په خپلو ګناهونو باندې اعتراف کوو، مونږ ته ستا دعوت رارسېدلی وه خو مونږ نه وه قبول کړی، نوله ملامته همدا مونږ ته راجع ده.
ج: ای زمونږ ربه! ایا د دوزخ څخه د وتلو کومه لاره شته؟ ایا زمونږ ارزو به ستا د پلوه پوره کړی شي چې مونږ یو څل بیا دنیا ته بوتللی شو او د دریم څل دپاره مړه او بېرته راژوندي کړی شو؟
۳ـ د کفارو ذکره شوې غوښتنه به داسې جوابه کړی شي چې: ای کفارو! د کوم حالت سره چې نن ورځ تاسو مخامخ یاست دا ستاسو د خپلو کړو وړو نتیجه ده او ستاسو د مستمر عادت محصول دی. او دا څکه چې:
الف: په دنیا کښې ستاسو عادت وه، چې کله به یوازې الله ﷻ وبللی شو نو تاسو به ترې انکار کاوه چې دا عقیده باطله ده. او چې کله به ورسره په عبادت کښې شریک یا شریکان ودرولی شو، نو تاسو به ورباندې عقیده خپلوله چې دا عقیده حقه او رښتیا ده.
نو که بالفرض تاسو بېرته دنیا ته ورستانه کړی شئ نو ضرور به تاسو بېرته خپل پخواني عادت ته وروګرځئ او کفري (شرکي) عقیده به خپله کړئ.
ب: څرنګه چې بېرته دنیا ته ستاسو د ورګرځېدلو حکم په الله ﷻ پورې اختصاص لري چې د اوچتوالي او کبریاء (لویی) خاوند دی، نو دغه حکم هیڅکله د الغاء قابل نه دی، او تاسو به هیڅکله د دوزخ څخه بهر نه کړی شئ، دا ستاسو دائمي کور دی او تاسو یې دائمي اندېوالان یاست، همدا کور تاسو خپلو خانونو ته پخپله ګټلی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوْنَ ﴾ الآية- كښې بايد لاندې نكات په ذهن كښې وساتل شي:

الف: علماء كرام وايي چې: په ﴿ يُنَادَوْنَ ﴾ كښې هغه منادات (اوازكولو) ته اشاره ده كوم به چې د كفارو سره د پرښتو د پلوه د دوزخ په داخل كښې صورت ونيسي[١]. په همدې مطلب باندې لاندې ايتونه دلالت كوي:

اول: ﴿ فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴾ [المؤمن: ١١] يعني ايا نو د دوزخ څخه د وتلو دپاره كومه لاره شته؟

دوهم: ﴿ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ ﴾ [الشورى: ٤٤] يعني كله چې ظالمان (كفار بالفعل) عذاب وګوري نو وايي به چې ايا بېرته دنيا ته د ستنېدلو دپاره كومه لاره شته؟

ب: د ﴿ مَّقْتِكُمْ ﴾ كلمه د سخت غضب دپاره وضعه شوې ده[٢]، څه لرې نه ده چې مونږ ترې په لعنت سره تعبير وكړو.

ج: ځينو علماوو كرامو په دې مقام كښې د ﴿ أَنفُسَكُمْ ﴾ څخه حقيقي معنى مراده كړې ده[٣]، او په ﴿ إِذْ تُدْعَوْنَ ﴾ كښې يې د "إِذْ" توري ته په ﴿ لَمَقْتُ ٱللَّهِ ﴾ پورې ارتباط وركړى دى[٤].

يعني اى كفارو! نن ورځ چې تاسو هر يو خپل ځان ته په سخت غضب ياست او لعنت ورباندې واياست، ستاسو د غضب څخه په هغه وخت كښې د الله ﷻ غضب په تاسو باندې ډېر وه په كوم كښې به چې تاسو ايمان ته دعوت كېدلئ او تاسو به ترې انكار كاوه او نه به مو قبلاوه. تاسو ته په كار وه چې هلته په دنيا كښې په خپلو ځانونو باندې په غضب شوي وى او د دعوت قبول ته مو نه وى شا كړې ترڅو يې درته نن ورځ ګټه رسولې وى.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د ﴿ أَنفُسَكُمْ ﴾ څخه به دلته د كنايې په توګه نور كفار مطلب وي[٥] چې ټول كفار يو ملت دى.

دا ډول تعبير د قرآن كريم په نورو ايتونو كښې نظاير لري، مثلاً الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ [النساء: ٢٩] يعني اى مؤمنانو! تاسو خپل ځانونه (نور مؤمنان) مه وژنئ.

په ذكر شوي مضمون باندې په بل ايت كښې صراحت شوى دى چې: ﴿ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا ﴾ [العنكبوت: ٢٥] يعني اى كفارو! نن ورځ خو تاسو په

---

(١) تفسير ابن كثير ج٤ ص٧٢؛ تفسير البغوي ج٤ ص٩٣؛ الدر المنثور ج٧ ص٢٧٧

(٢) لسان العرب ج٢ ص٩٠؛ مفردات الراغب ص٤٩٠

(٣) تفسير ابي السعود ج٧ ص٢٦٩

(٤) التفسير الكبير ج٢٧ ص٣٨

(٥) المحرر الوجيز ج١٤ ص١١٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپلو منځو کښې کفر د دوستۍ وسیله ګرځولې ده، مګر بیا به د قیامت په ورځ ستاسو ځینې کسان د ځینو نورو کسانو د دوستۍ څخه انکار کوي او هم به ځینې په ځینو نورو باندې لعنت وایي او خپله بېزاري به ترې اعلانوي

نو په دې تفسیر سره به يې د معنی حاصل داسې راوځېږي چې: ای کفارو! تاسو خو یو تر بله په سخت غضب یاست، او یو تربله لعنت استوئ، خو نن ورځ ستاسو د غضب څخه به تاسو باندې د الله ﷻ غضب ډېر لوی دی.

یا په بل عبارت: تاسو یو تربله دومره په غضب نه یاست لکه چې الله ﷻ په تاسو ټولو باندې په غضب دی او لعنت درباندې وروي (د خپل رحمت څخه مو لرې کوي). او دا ځکه چې: په دنیا کښې تاسو ته د استمرار په توګه د پیغمبرانو د پلوه ایمان راوړلو ته دعوت درکول کېده خو تاسو دعوت نه قبلاوه او په مستمره توګه به مو کفر ته ادامه ورکوله.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثۡنَتَيۡنِ ﴾ الآية- کښې دوه کرته مړه کولو او دوه کرته ژوندي کولو ته اشاره شوې ده. څرنګه چې دوه کرته ژوندي کول څرګند دي، چې یو کرت دنیاوي ژوند دی او بل کرت أخروي ژوند، نو پوښتنه دا ده چې دوه کرته مړه کول کوم کوم دي؟

مونږ وایو چې: د ﴿ أَمَتَّنَا ﴾ کلمه د "إِمَاتَة" _لکه "إِضَافَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې لاندې دوه معناوې درلودلی شي[1]:

اول: د یوه بې روحه شي پیدا کول (لکه نطفه).

دوهم: د یوه ژوندي شي روح قبض کول.

په دې مقام کښې د ﴿ أَمَتَّنَا ﴾ کلمه د هغه "إِمَاتَة" څخه اشتقاقه ګڼله کېږي کوم چې د "ما يطلق عليه الإماتة" (هر هغه شی چې د إماتة اطلاق پرې کېږي) په اعتبار سره ذکرو شوو دواړو معناوو ته شمولیت لري. د دې ډول اطلاق یو نظیر دا دی چې څوک خیاط مخاطب کړي چې: "ضَيِّقْ لِيَ الثَّوْبَ" یعنې جامه راته تنګه کړه او یا يې راته تنګه وګنده.

یعنې دوزخیان به ووایي چې ای ربه! تا خو مونږ دوه کرته مړه کړي یاستو، چې په لومړي خل دې د بې روحه (مړې) نطفې په شکل پیدا کړو، بیا دې په لومړي خل د ژوند راکولو څخه وروسته د دوهم خل دپاره بې روحه او مړه وګرځولو، او دغه دی اوس دې د دوهم خل دپاره د حساب کتاب دپاره راژوندي کړو. نو هیله ده چې دغه عملیه یو خل بیا تکراره کړې او مونږ دنیا ته بېرته بوځې، ترڅو مړه کول او ژوندي کول هر یو درې خله صورت ونیسي

یا په بل عبارت: ای زمونږ ربه! مونږ یو خل بیا دنیا ته ورتاو کړه او د څه عمر څخه وروسته مو

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مړه کړه او د حساب کتاب دپاره مو بیا راژوندي کړه.

ذکر شوی مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی[۱] چې: ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ﴾ [البقرة:۲۸] یعنې ای کفارو! تاسو څنګه (په کوم دلیل) په الله ﷻ سره کفر غوره کوئ، حال دا چې تاسو مړه وئ (الله ﷻ بې روحه پیدا کړي وئ) نو په روح سره یې ژوندي کړئ، بیا تاسو مړه کوي بیا به مو (د قیامت په ورځ) بېرته ژوندي کوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ په ﴿ فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴾ کښې د کفارو د خولو څخه غوښتنه راحکایت کړې ده، نو په دې کښې څه حکمت دی چې د هغوی غوښتنې ته جواب ورنه کړی شو، لکه څنګه چې په نورو ایتونو کښې جواب ورکړی شوی دی. د مثال په توګه: ﴿ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴾ [المؤمنون:۱۰۸] یعنې ای کفارو! په دوزخ کښې چیغې شئ او زما سره خبرې مه کوئ.

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو دغه جمله استفهامیه جمله نه ده ګڼلې چې جواب ته اړه شي، بلکې په دغې جمله کښې د هغوی فقط تمنی (ارزو) راحکایت شوې ده چې د ډېرې ناأمیدۍ په حال کښې به یې د خولو څخه ووځي[۲].

مګر بهتره دا ده چې: ذکره شوې جمله استفهامیه جمله وګڼله شي نو جواب ته به یې په ﴿ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ ﴾ الآیة- کښې اشاره شوې وي.

یعنې ای کفارو! نن ورځ چې تاسو د کوم تعذیب سره مخامخ یاست د دې وجه دا ده چې په دنیا کښې د الله ﷻ سره په اشتراک باندې عقیده کول ستاسو عادت ګرځېدلی وه. که بالفرض تاسو بېرته دنیا ته ستانه کړی شئ نو ضرور به تاسو بېرته خپل پخواني عادت ته ورواوړئ. د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾ [الأنعام:۲۸] یعنې او بالفرض که کفار بېرته دنیا ته ورتاو کړی شي نو ضرور به دوی (د خپل عادت په مطابق) هغو جنایتونو ته بېرته وروګرځي د کومو څخه چې دوی منعه کړی شوي وه، او یقینًا دوی دروغژنان دي (چې دوی به صالح خلک جوړ شي او توحیدي عقیده به خپله کړي).

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا سَمِعْتُمْ بِجَبَلٍ زَالَ عَنْ مَكَانِهِ فَصَدِّقُوا وَإِذَا سَمِعْتُمْ بِرَجُلٍ تَغَيَّرَ عَنْ خُلُقِهِ فَلَا تُصَدِّقُوا بِهِ وَإِنَّهُ يَصِيرُ إِلَى مَا جُبِلَ عَلَيْهِ»[۳] یعنې کله چې تاسو واورېدل چې یو غر د خپله ځایه لرې شوی (ښورېدلی) دی نو باور ورباندې وکړئ، او کله چې تاسو واورئ چې کوم سړی د

(۱) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۱۹؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۷۳
(۲) روح المعاني ج۲۴ ص۵۴
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۴۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل خوی (عادت) څخه اوښتی دی (او تغییر یې خوړلی دی) نو تاسو یې تصدیق مه کوئ. او یقینًا دا سړی هغه خوی ته ورګرځي کوم چې ورباندې د غره غونډې تثبیت شوی دی (او ځای یې پکښې نیولی دی).

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًا ۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ فَٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلْعَرْشِ يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ ۖ لَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ ۚ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۚ لَا ظُلْمَ ٱلْيَوْمَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٧﴾ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْءَازِفَةِ إِذِ ٱلْقُلُوبُ لَدَى ٱلْحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَ ۚ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ ٱلْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِى ٱلصُّدُورُ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ يَقْضِى بِٱلْحَقِّ ۖ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقْضُونَ بِشَىْءٍ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٢٠﴾﴾

[۱۳] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې (په مستمره توګه) تاسو ته خپل (د وحدانیت) دلایل درلیده کوي (درښایي)، او هم ستاسو دپاره د اسمان څخه روزي (باران) رانښکته کوي.

او (په دغو دلایلو سره) پند نه اخلي مګر هغه څوک کوم چې (الله ﷻ ته) رجوع کوي.

[۱۴] نو (ای مؤمنانو!) تاسو الله ﷻ په داسې حال کښې وبلئ چې د خپل انقیاد ورته (د شرکیاتو څخه) سوچه ګرځوونکي یاست، او (تاسو په همدغې توحیدي عقیدې باندې کلک شئ) که څه هم (دا عقیده) کفار نه خوښوي.

[۱۵] (الله ﷻ خپلو مخلصو بندګانو ته) د مراتبو اوچتوونکی (او) د عرش العظیم خاوند دی (هر شی یې په واک او اختیار کښې دی).

الله ﷻ د خپل امر (فرمان) په بنیاد د خپلو بندګانو څخه په هغه چا باندې وحې وراچوي (ورنازلوي) کومو ته یې چې اراده وشي. (البته) د دې دپاره چې د پیوستون د ورځې څخه (خلک) ودار کړي.

[۱۶] (د پیوستون ورځ) هغه ورځ (ده په کومه کښې به) چې خلک (د قبرونو څخه) راڅرګندېدونکي (را اوچتېدونکي) وي.

د خلکو څخه به (په دغې ورځ کښې) هیڅ شي په الله ﷻ باندې نه پټېږي (چې په څمکه کښې ترې خپل ځان غلی کړي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(الله ﷻ به په دغې ورځ کښې ووايي چې) نن ورځ پوره واکداري خاص چا لره ده؟

(الله ﷻ به پخپله په جواب کښې ووايي چې: نن ورځ توله واکداري ظاهرًا او باطنًا) خاص الله ﷻ لره ده چې واحد (او لا شریک) دی (او هم په خلکو باندې) د خپلې ارادې تحمیلوونکی دی (هیڅوک ورته خنډ نه شي واقع کېدلی).

[۱۷] په دغې ورځ کښې به هر چاته په هغه کړو وړو سره جزا ورکړی شي کوم یې چې (په دنیا کښې) کسب کړي وي، په دغې ورځ کښې به په هیڅ ډول سره ظلم نه وي.

یقینًا الله ﷻ توند حسابي دی (په توندی سره حساب کوونکی دی).

[۱۸] او (ای پیغمبره!) د ډېرې نژدې راتلونکې ورځې څخه خلک وډار کړه، (البته) کله چې زړونه په داسې حال کښې ستونو (چنغړکونو) ته ورسېږي چې ډېر به غمژن (او د غمونو زغمونکي) وي. ظالمانو (کفارو) ته به (په دغې ورځ کښې) هیڅ دوست نه وي او نه به (ورته) داسې شفاعتګر وي چې شفاعت یې قبول کړی شي (بلکې هیڅ شفاعتګر به ورته ونه موندلی شي).

[۱۹] الله ﷻ په خیانتګرو سترګو باندې پوهېږي او په هغو شیانو باندې هم چې سینې (زړونه) یې پټوي.

[۲۰] او الله ﷻ په حقه فیصلې کوي، او هغه (بوتان) چې مشرکان یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه (او عبادت) کوي، په هیڅ شي کښې فیصله نه شي کولی (او نه یې توان لري).

یقینًا الله ﷻ (د ټولو اقوالو) اورېدونکی (او د ټولو کړو وړو) لیدونکی دی (خو بوتان نه څه اورېدلی شي او نه څه لیدلی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې دې ته هم اشاره شوې وه چې د قیامت په ورځ به د دوزخ په داخل کښې یو ځل بیا کفار خپله غوښتنه وړاندې کړي چې مونږ دنیا ته ورستانه کړه. په دې ایتونو کښې هغوی په غوږ وهلی شوي دي چې د توحید د دلایلو څخه ګټه پورته کړئ چې دنیا ته بېرته راګرځېدل نشته. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! خپل دعوتي اُمت مخاطب کړه او د توحید څه نور دلایل هم ورباندې قرائت کړه، ترڅو د قیامت په ورځ ونه شي کړی چې د څه دلیل په بنیاد دنیا ته د بېرته ورګرځېدلو غوښتنه وړاندې کړی شي. هغه دا چې:

۱ـ ای خلکو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته د خپل وحدانیت ډېر دلایل درښايي. د مثال په توګه:

الف: هر مخلوق په ډاګه دلالت کوي چې خالق یې یوازې الله ﷻ دی چې ازلي او ابدي دی او هیڅ شریک نه لري.

ب: الله ﷻ ستاسو دپاره د اسمانه روزي درنازلوي، چې باران درباندې د غیبو څخه ورو ي چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو ترې د خوراک او څښاک استفاده کوئ.

ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک یو څاڅکی باران وروِلی شي؟ همدا یو دلیل هم کفایت کوي چې د الله ﷻ وحدانیت وربانديې وپېژاندلی شي، خو د دې څخه صرف هغه څوک عبرت اخلي او ګټه ترې پورته کوي کوم چې عناد نه وي نیولي او خپل رب ﷻ ته رجوع کوي.

ج: نو ای الله ﷻ ته رجوع کوونکو مؤمنانو! تاسو الله ﷻ په داسې حال کښې بلئ او عبادت یې کوئ چې د خپل انقیاد ورته سوچه ګرځوونکي یاست. که څه هم کفار دغه ډول سوچه انقیاد نه خوښوي، خو تاسو همدغه ډول انقیاد خپل کړئ او اخلاص ښه پوره کامل کړئ. او دا ځکه چې:

د الله ﷻ د عبادت او اخلاص په معیار د مراتبو او درجاتو پورته کوونکی دی او خپل اقدس خان ته یې نژدې کوونکی دی.

ه. الله ﷻ د عرش العظیم خاوند دی چې ټول مخلوقات د همده ﷻ په ولکه کښې دي، او هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی.

و. الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې فقط د خپل امر په بنیاد د خپلو بندګانو څخه په هغه چا باندې وحې ورنازلوي کوم ته یې چې د پیغمبر جوړولو اراده وشي، البته دا د دې دپاره چې:

ز: ترڅو د هغې ورځې څخه خلک وډار کړي په کومه کښې به چې دوی د حساب کتاب دپاره د خپل رب ﷻ سره ملاقي شي، په کومه کښې به چې دوی ټول د خپلو قبرونو څخه راپاڅېدونکي او په ښکاره بهر راوتونکي وي.

ح: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د مخلوقاتو هیڅ شی ورباندې پټ نه دی او هرڅه یې ورته پوره ښکاره دي، که څه هم دوی په خاوره کښې میده-میده او لیت پیت شي.

ط: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ازلي، ابدي او همېشه باقي دی، د ده ﷻ څخه په غیر نور ټول مخلوقات هرومرو د مرګ سره پیوسته کېدونکي دي، او هیڅوک به ترې نجات موندلی نه کړي. حتی داسې وخت هم راتلونکی دی چې فقط یوازې الله ﷻ به باقي وي او نور ټول به هلاک کړی شوي او مړه شوي وي.

ي: نو په دغه وخت کښې به الله ﷻ ووایي چې: نن ورځ پاچاهي او واکداري د چا ده؟ (نن ورځ د دنیا فراعنه څه شوه چې د واکدارۍ دعوې به یې کولې)؟

یا: بیا به الله ﷻ پخپله وفرمایي چې: بې شکه ټوله واکداري په الله ﷻ پورې اختصاص لري چې په هر چاباندې په زور او قوت سره د خپلې ارادې تحمیلوونکی دی. د همدې کبله د دنیا ټول متکبران نن ورځ د مرګ سره مخامخ دي او هیڅوک خپل سر نه شي راپورته کولی.

٢ـ ای پیغمبره! بیا به الله ﷻ ټول هلاک شوي مخلوقات بېرته راژوندي کړي او د حساب کتاب دپاره به یې په میدان کښې ودروي، نو په دغې ورځ کښې به هر چاته د خپلو کړو وړو په مطابق سزا یا جزا ورکړی شي او په هیڅ چا باندې به په دغې ورځ کښې ظلم او تېری صورت ونه نیسي. او نه به په دغې ورځ کښې ټهل ماټهل وي چې څینو ته د محاسبې فرصت لاس ته ورنه شي او دا ځکه چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يقيناً الله ﷻ تېز حسابي دی هيڅوک ترې نه شي بچ کېدلی.

۳_ ای پيغمبره! ته هم د هغو کسانو د جملې څخه يې کومو ته چې د خلکو د ډارولو دپاره وحي ورنازله شوې ده، نو د قيامت د ورځې څخه خلک وډار کړه کومه ورځ چې د لاندې صفاتو درلودونکې ده:

الف: دا ورځ ډېره نژدې در روانه ده چې ډېر ژر به درسره پيوسته شي.

ب: دا داسې سخته ورځ ده چې د ډېر خفګان او وارخطايۍ د کبله به پکښې زړونه ستونو ته ورپورته شي او هرڅوک به ګومان کوي چې زړه يې د بدن څخه بهر شو.

ج: په دغې ورځ کښې به ظالمانو (کافرانو) ته هيڅ کرم (مخلص) دوست موجوديت ونه لري چې د دوستۍ څخه يې څه استفاده وکړي. او نه به هلته ورته کوم شفاعت کوونکی په لاس ورشي چې شفاعت يې د چا په هکله قبول وګرځي او خبره يې ومنله شي.

۴_ د الله ﷻ د توحيد د دلايلو څخه دا هم ده چې الله ﷻ د خاينو سترګو په اشارو باندې ډېر ښه پوهېږي د کومو څخه چې د اسلام د توهين په غرض مشرکان کار اخلي.

په دې باندې علاوه، الله ﷻ په هغو خبرو باندې هم پوه دی چې د مشرکانو په شمول د خلکو زړونه يې پټې ساتي او په خپلو سينو کښې ځای ورکوي. حال دا چې د مشرکانو باطل معبودان نه د سترګو په اشارو پوهېږي او نه په زړونو باندې څه پوهه درلودلی شي.

۵_ دا هم د توحيد د دلايلو څخه يو دليل دی چې الله ﷻ په حقه فيصلې کوي چې په دنيا او آخرت دواړو کښې صورت نيسي. حال دا چې کوم باطل معبودان چې مشرکان يې د الله ﷻ څخه په غير بلې او عبادت يې کوي، هغوی په هيڅ شي کښې فيصله نه شي کولی او نه د فيصلو توان لري.

او دا ځکه چې: الله ﷻ همدی اورېدونکی او لېدونکی دی، او باطل معبودان نه اورېدل کولی شي او نه د ليدلو توان لري بلکې سوچه بې روحه جمادات دي.

## توضيحات

۱_ په ﴿ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًا ﴾ کښې د "رزق" کلمه په دې مقام کښې د باران څخه کنايه ده، چې د "رزق" روزۍ سبب دی. په همدې مطلب باندې په بل ايت کښې ښه پوره وضاحت نازل شوی دی، چې: ﴿ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزْقٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ [الجاثية:۵] يعنې د مؤمنانو دپاره په هغه شي کښې هم د قدرت لوی دلايل پراته دي کوم چې الله ﷻ يې د اسمان څخه رالښکته کوي چې د رزق (روزۍ) څخه عبارت دی، نو په همدغه رزق (باران) سره ځمکه راژوندۍ کوي (البته) د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته.

## دوه تحليلونه

۲_ په ﴿ رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ﴾ کښې د ﴿ رَفِيعُ ﴾ کلمه په لاندې دوه وو ډولونو سره تحليله شوې ده[۱]:

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۲۲۵؛ اللباب في علوم الكتاب ج۳ ص۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دا کلمه د "رَفَعَ یَرفَعُ" ـ لکه "مَنَعَ یَمنَعُ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د هغه "رَافِع" مبالغه ده[۱] کوم چې د الله ﷻ د نومونو څخه یو نوم دی او د (اوچتوونکي) معنی ورکوي.

نو په دې تحلیل سره به د "دَرَجَات" کلمه د مراتبو معنی ورکړي.

یعنې الله ﷻ د خپلو پیغمبرانو او خپلو اولیاوو مراتب په دنیا او آخرت کښې لوړوي او همدارنګه د هغو کسانو علمي، اخلاقي او همدارنګه ارتزاقي او نورې مرتبې هم اوچتوي کومو ته یې چې اراده وشي.

په همدې مضمون باندې نور نصوص هم دلالت کوي لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: ﴿ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ ﴾ [البقرة:۲۵۳] یعنې الله ﷻ ځینو پیغمبرانو ته په ځینو نورو باندې فضیلت ورکړی دی چې د ځینو سره یې خبرې کړې دي او ځینو نورو ته یې مراتب اوچت کړي دي.

دوهم: ﴿ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ﴾ [یوسف:۷۶] یعنې مونږ هغو کسانو ته مراتب او رتبې اوچتوو کومو ته چې زمونږ اراده وشي.

دریم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده قدسي حدیث کښې د الله ﷻ څخه حکایت کوي چې: «وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِمِثْلِ أَدَاءِ الْفَرَائِضِ وَمَا يَزَالُ الْعَبْدُ يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ إِنْ سَأَلَنِي أَعْطَيْتُهُ وَإِنْ دَعَانِي أَجَبْتُهُ»[۲] یعنې او ماته زما بنده د فرائضو د اداء کولو غوندې په بل عبادت سره نه شي نژدې کېدی، او یو بنده همېشه وي چې ماته په نوافلو سره نژدې کېږي آن تردې چې زه یې خپل محبوب وګرځوم، چې که څه راڅخه وغواړي هغه ورکوم او که سوال راڅخه وکړي هغه ورنه قبلوم.

ب: د ﴿ رَفِيعُ ﴾ کلمه صفت مشبه ده، او د "رَفُعَ، یَرْفُعُ" ـ لکه "شَرُفَ، یَشْرُفُ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده[۳]، چې د (اوچتوالي درلودونکي) معنی ورکوي.

نو په دې تحلیل سره د "دَرَجَات" کلمه د عالي صفاتو معنی ورکوي، یعنې: الله ﷻ د لوړو صفاتو او عالي شان درلودونکی دی چې هیڅوک او هیڅ شی ورسره سیالي نه شي کولی.

همدې مضمون ته الله ﷻ په بل ایت کښې اشاره کړې ده چې: ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ [الشورى: ۱۱] یعنې د الله ﷻ په مثل هیڅ شی نشته.

### تبصره

۳ ـ څرنګه چې ذکر شوي دواړه تحلیلونه سره څه منافات نه لري او وړاندې بېرته اینونه د دواړو سره ډېر ښه پیوستون نیسي، نو که د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي هیڅ باک یې نشته.

---

(۱) البحر المحیط ج۹ ص۲۴۳

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۱۱۲

(۳) القاموس المحیط ج۲ ص۳۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دین تجدید

۴_ د ﴿ يُلْقِي ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ﴾ جملې ته ورته جمله په [النحل: ۲] ایت کښې تېره شوې ده _والحمد لله ﷻ_ نو هیله ده چې د ښه وضاحت دپاره هملته مراجعه وکړی شي، خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

الف: څرنګه چې په روح سره مړي ژوندي کېږي او په وحې (قرآن کریم) سره مړه زړونه ژوندي ګرځي، نو په دې مقام کښې وحې ته د "روح" لقب ورکړی شوی دی[۱].

ب: په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ يُلْقِي ﴾ کلمه مضارع ده چې په راتلونکې زمانه کښې د استمرار په توګه د وحې په تجدد او تحدث باندې دلالت کوي.

خو د ذکرې شوې کلمې په مفهوم کښې د وحې روښانه کول هم شمولیت لري، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا»[۲] یعنې یقینًا الله ﷻ د دغه (وروستني) اُمت دپاره د هرو سلو کالو په لومړي سر کښې یو داسې څوک یا یو داسې ډله مبعوثوي (پیدا کوي) کوم به چې ذکر شوي اُمت ته دین تجدید او تازه کړي (کوم بدعتونه چې ورپورې د تېرو سلو کالو په اوږدو کښې ننبلولی شوي وي هغه به ترې لرې کړي).

د مثال په توګه زمونږ په خیال د دغې پنځلسمې پېړۍ یو مجدد به اسامه بن لادن _حفظه الله_ وي چې د همدغې پېړۍ د سر څخه یې د کفارو او مبتدعانو سره په جهاد پیل کړی دی، نو د افغان مجاهدینو په همکارۍ سره یې روسیانو او کمونستانو ته ماتې ورکړه او اوس د افغانانو په شمول د ټولې دنیا د مجاهدینو په همکارۍ د صهیونستانو او امریکایانو (د دې زمانې د فراعنه وو) سره په جهاد بوخت دی. اللَّهُمَّ أَيِّدْهُمْ بِرُوحِ الْقُدُسِ وَانْصُرْهُمْ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ.

## د قیامت د ورځې دوه لقبونه

۵_ د قیامت ورځ د قرآن کریم په مختلفو ایتونو کښې په ډېرو لقبونو سره یاده شوې ده، خو په دې مقام کښې یې لاندې دوه وو لقبونو ته اشاره شوې ده:

الف: په ﴿ لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ﴾ کښې د "يَوْمَ التَّلَاق" په نامه یاده شوې ده. او دا ځکه چې:

د ﴿ ٱلتَّلَاقِ ﴾ کلمه د تفاعل د باب څخه مصدر دی او مجرد یې د "لِقَاء" کلمه ده چې د پیوستون معنی ورکوي او په دې ورځ کښې زښت ډېر پیوستونونه صورت نیسي. لاندې مثالونه یې ولولی[۳]:

اول: هرڅوک به د الله ﷻ د محاسبې سره پیوسته شي، لکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّكُمْ مُلَاقُو اللهِ حُفَاةً عُرَاةً مُشَاةً غُرْلاً»[۴] یعنې یقینًا تاسو به د الله ﷻ سره په داسې حال کښې ملاقي شئ

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۲۹۹
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۳۳
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۷۴
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۶؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې پښې ابله، ربند، پیاده او ناسته به یاست.

دوهم اروا ګانې به د خپلو بدنونو سره پیوستون ومومي، الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴾ [التکویر ۷] یعنې او کله چې اروا ګانې د خپلو بدنونو سره جوړه کړی شي.

دریم وړاندېني خلک او وروستني خلک به سره اتصال مونده کړي، الله ﷻ فرمايي: ﴿ قُلْ إِنَّ ٱلْأَوَّلِينَ وَٱلْآخِرِينَ ۝ لَمَجْمُوعُونَ ﴾ [الواقعة ۴۹، ۵۰] یعنې ای پیغمبره! ووایه چې یقیناً وړاندېني او وروستني خلک (د قیامت په ورځ) هرو مرو راغونډ کړی شوي دي.

څلورم هرڅوک به د خپلو کړو وړو (د اعمالنامو) سره پیوسته شي او ورته به وویلی شي چې: ﴿ ٱقْرَأْ كِتَٰبَكَ ﴾ [الإسراء ۱۴] یعنې خپل کتاب دې پخپله قرائت کړه، چې تا په دنیا کښې هر څه کړي وه هغه ټول پکښې ستا په وړاندې حاضر دي.

ب. د قیامت ورځ به ﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْـَٔازِفَةِ ﴾ کښې د "يَوْمَ ٱلْـَٔازِفَةِ" په لقب یاده شوې ده، د "آزِفَة" کلمه د "أزف" ـ لکه "شرف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د نژدېوالي معنی ورکوي، او دغه ورځ ډېره نژدې راروانه او راتلونکې ده چې د [الأحزاب ۶۳] ایت لاندې وړاندې به پوره رڼا اچولې شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## دوه ډوله تفسیر

۶ـ په دې خبره کښې ټول مفسرین کرام متفق دي چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ وفرمايي چې ﴿ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ﴾ یعنې نن ورځ کامله واکداري په چا پورې اختصاص لري؟ ایا نن ورځ څوک د واکدارۍ او پاچاهۍ دعوه کولی شي؟

مګر دوی د ﴿ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴾ په تفسیر کښې په لاندې ډول اختلاف لري[1]:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې: ذکره شوې پوښتنه به الله ﷻ په هغه وخت کښې مطرحه کړي چې د پرښتو په شمول د ټولو ساکنانو اروا ګانې قبض کړی شوې وي، او د الله ﷻ څخه په غیر ـ چې ازلي او ابدي دی ـ هیڅوک ژوندی پاتې نه وي.

نو الله ﷻ به پخپله وفرمايي چې: ﴿ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴾ یعنې نن ورځ هیڅوک د ظاهري واکدارۍ دعوه ګیر هم نشته، او ټوله واکداري په الله ﷻ پورې اختصاص لري چې د هر حیثه واحد دی او په هر چا باندې خپله اراده په زور تحمیلولی شي.

ب: ځینې علماء کرام وایي چې: الله ﷻ به ذکره شوې پوښتنه په هغه وخت کښې مطرحه کړي کله چې ټول مړه شوي ساکنان بېرته راژوندي کړی شي.

(۱) زاد المسير ج۷ ص۲۳۷؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۱۶؛ تفسير الطبري ج۲۴ ص۵۱؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۰۷۴؛ المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۲۳؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۳۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دغه وخت کښې به د کفارو په شمول ټول مخلوقات په يوه خوله ووايي چې بې شکه ټوله واکداري په الله ﷻ پورې اختصاص لري او ظاهري دعوه کوونکی هم موجودیت نه لري.

## تبصره

۷_ مونږ ته داسې برېښي _والله ﷻ أعلم_ چې ذکره شوې پوښتنه به دوه ګرته صورت ونیسي او د همدغې پوښتنې دپاره چې کوم جواب الله ﷻ ورکړی هغه جواب به په دوهم ځل کښې د ټولو مخلوقاتو د پلوه هم وويلی شي.

## حَناجِر څه معنی؟

۸_ مونږ د الله ﷻ په توفیق په ﴿ إِذِ ٱلْقُلُوبُ لَدَى ٱلْحَنَاجِرِ ﴾ کښې د "حَناجِر" کلمه د [الأحزاب ۱۰] ایت لاندې ډېره ښه تحلیله کړې ده او لیکلي مو دي چې ستونو ته د زړونو پورته کېدل د ډېر غم او ډېرې وارخطايي ښځه عبارت دی.

خو په دې مقام کښې د حقيقي معنی اراده کول هم څه مانع نه لري چې د کفارو زړونه حقيقتاً د خپلو ځايونو څخه پورته شي او ستونو ته ورسېږي[۱]، خو د دې سره_سره هغوی به مړه کېږي نه، چې هلته مړه کېدل نشته.

## هېر مو نه شي

۹_ هېر مو نه شي چې په ﴿ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴾ کښې د ﴿ يُطَاعُ ﴾ جمله د ﴿ شَفِيعٍ ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده، خو نفي صفت او موصوف دواړو ته متوجه ده. يعنې د قیامت په ورځ به ظالمانو (کفارو) ته داسې شفاعتګر موجودیت ونه لري چې شفاعت يې منل کېږي بلکې هلته به ورته هيڅ شفاعتګر موجود نه وي.

د ذکرې شوې نفي يو نظير وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلرُّعْبَ بِمَآ أَشْرَكُوا۟ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا ﴾ [آل عمران: ۱۵۱] يعنې ای مؤمنانو! ډېر ژر به مونږ د هغو کسانو په زړونو کښې کومو چې کفر غوره کړی دی د دې کبله رعب واچوو چې هغوی د الله ﷻ سره په عبادت کښې هغه شيان شريکان ګڼي د کومو په ثبوت باندې چې الله ﷻ کوم دليل نه دی نازل کړی. يا په بل عبارت، هغه شريکان چې نه ثبوت لري او نه يې په ثبوت باندې کوم دليل شته چې الله ﷻ نازل کړی وي.

## خائنة څه صیغه ده؟

۱۰_ په ﴿ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ ٱلْأَعْيُنِ ﴾ کښې د ﴿ خَآئِنَةَ ﴾ کلمه مفسرينو کرامو په لاندې دوه ډولونو سره تفسيره کړې ده[۲]، چه دواړه تفسيرونه تقريبا يوه مطلب ته راجع کېږي

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۵۸
(۲) البحر المحيط ج۹ ص۲۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د ﴿ خَآئِنَةَ ﴾ کلمه مصدر ده لکه څنګه چې "عَاقِبَة، عَافِيَة" مصدرونه دي. يعني الله ﷻ د سترګو په خيانت باندې پوهېږي چې په غير مشروعو کارونو کښې استعمال شي.

ب: دغه کلمه په حقيقت کښې د ﴿ ٱلْأَعْيُنِ ﴾ دپاره صفت ده او د اسم فاعل مؤنثه صيغه ده. يعني الله ﷻ په خيانتګرو سترګو باندې پوهېږي، نو د سترګو خيانت (د سترګکونو اشارې) ترې نه شي پټېدلی.

﴿ أَوَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُواْ هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي ٱلْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَكَفَرُواْ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ قَوِيٌّ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٢﴾ ﴾

[٢١] ايا (کفار په خپل کفر باندې کلک دي) او په ځمکې کښې نه ګرځي راګرځي، ترڅو وګوري چې د هغو (کفارو) عاقبت څنګه شو کوم چې د دوی څخه وړاندې (په کفر باندې کلک) وه؟

حال دا چې هغوی د دوی څخه د قوت د حیثه سخت (کلک) وه، او په ځمکه کښې (ترې) د نښو نښانو د حیثه (هم پیاوړي وه)، نو الله ﷻ هغوی په خپلو ګناهونو (کفرياتو) سره ونيول او هغوی لره د الله ﷻ څخه هيڅ ساتونکی (بچ کوونکی) نه وه.

[٢٢] دغه (هلاکول) په دې سبب (پېښ شوه) چې يقيناً هغوی ته خپل پيغمبران په معجزاتو (او دلايلو) سره ورغلي وه، خو هغوی (ترې) انکار وکړ (او کفر ته يې ادامه ورکړه).

نو الله ﷻ (په بنياد ويستونکي عذاب سره) ونيول، يقيناً الله ﷻ ډېر زورور سخت عذابي دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د اُخروي عذاب څخه د دې زماني کفار ډارولی شوي وه او په دې ايتونو کښې هغوی د دنياوي عذاب څخه ډارولی کېږي، چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! خپل دعوتي اُمت دې په لاندې ډول سره د دنياوي عذاب څخه وډار کړه ترڅو د کفرياتو څخه لاس واخلي او په ايمان باندې مشرف شي:

١ـ خپل دعوتي اُمت ته ووايه چې: تاسو لاړ شئ او په ځمکه کښې د عبرت دپاره وګرځئ راوګرځئ چې د کفارو انجام څه شي ته رسېږي؟

نو ايا دوی عبرتي سير نه کوي ترڅو وګوري چې د هغو کسانو عاقبت څنګه شو کومو چې د دوی څخه پخوا کفر غوره کړی وه او ورباندې کلک ولاړ وه لکه عاديان، ثموديان، فرعونيان، نمروديان او داسې نور په داسې حال کښې چې هغوی د دې زماني د کفارو څخه د قوت د حيثه ډېر

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیاوړي وه او ډېر اوږده عمرونه يې درلوده، او همدارنګه په ځمکه کښې هغوی ډېر اثار او نښانې هم پرېښې دي چې په زیات قوت باندې يې دلالت کوي حتی تر نن ورځې پورې يې ځينې اثار او نښانې باقي پاتې دي؟

٢_ خو کله چې هغوی په خپلو کفرياتو باندې کلک شوه او خپلو جنايتونو ته يې ادامه ورکړه، نو الله ﷻ په ډول-ډول عذابونو سره ونيول، چې ځينې يې په يو ډول عذاب سره هلاک کړه او ځينې يې په بل ډول، نو ټول يې پوپنا کړه، او د الله ﷻ د عذابه ورته هيڅ ساتونکی او بچکوونکی موندلی نه شو.

٣_ د ذکرو شوو دنياوي عذابونو د نزول وجه دا وه چې هغوی ته خپل خپل پيغمبران د معجزاتو سره ورغلي وه، خو هغوی قبول نه کړه او خپلو کفرياتو ته يې ادامه ورکړه.

يا په بل عبارت: هغوی په هغه عادت باندې کلک پاتې شوه په کوم باندې چې د دې زمانې کفار کلک ولاړ دي، نو بايد چې دوی د هغوی د حالاتو څخه عبرتي درس واخلي.

٤_ نو الله ﷻ په عذابونو سره ونيول او بنيادونه يې ور ووېستل. او دا ځکه چې الله ﷻ په يقيني توګه د قدرت خاوند دی او عذاب يې ډېر سخت دی چې هيڅوک يې مخه نه شي نيولی.

## توضيح

د ذکرو شوو ايتونو مضمون د قرآن کريم په نورو ډېرو ايتونو کښې هم نازل شوی دی، د مثال په توګه په [الروم: ٩] ايت کښې وړاندې تېر شوی دی، او په [محمد: ١٣] ايت کښې وروسته راروان دی.

**د الله ﷻ په مرسته او توفيق په همدې ځای باندې لسم جلد پای ته ورسيد.**

**اللهم آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار**

**اللهم وفقنا لما تحب وترضى، آمين يا رب العالمين.**

Scanned by CamScanner

# د لسم ټوک

# محتویات



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## الأحزاب (۳۳)


سریزه ..... ۵
سوال جواب ..... ۹
هېڅوک دوه زړونه نه شي درلودی ..... ۹
ظِهار څه ته وايي؟ ..... ۱۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۱۱
عبدالله بن عمر رضي‌الله‌عنهما څه ویلي دي؟ ..... ۱۱
مَولی څه معنی؟ ..... ۱۲
سوال جواب ..... ۱۲
یوه ډېره ضروري خبره ..... ۱۳
څو نکات ..... ۱۶
د مؤمنانو میندې ..... ۱۷
تبصره ..... ۱۸
یو ډېر غټ دروغ ..... ۱۹
سوال جواب ..... ۱۹
د پیغمبرانو میثاق ..... ۲۰
أولو العزم پیغمبران څوک‌څوک دي؟ ..... ۲۰
د خندق یا د احزابو غزا ..... ۲۲
د دواړو لورو د لښکرو شمېره ..... ۲۳
د خندق د غزا نېټه ..... ۲۳
د خندق په باب معلومات ..... ۲۳
مونږ لاشونه نه پلورو ..... ۲۴
کفري لښکر ناکام شو ..... ۲۵
یادونه ..... ۲۵
نبي کریم ﷺ څه وویل؟ ..... ۲۶
د زَیْغ او حَنْجَرَة معناوي ..... ۲۶
ظَن څه معنی؟ ..... ۲۶
مؤمنان یعني څوک؟ ..... ۲۷
دوه پوښتني او د هغو جوابونه ..... ۳۱
سوال جواب ..... ۳۲
عَوْرَة څه معنی؟ ..... ۳۳
څو نکات ..... ۳۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۳۴
یادونه ..... ۳۵
تَعْوِیق څه معنی؟ ..... ۳۸
د شُح معنی ..... ۳۸
د سَلْق معنی ..... ۳۹
سوال جواب ..... ۳۹
څو نکات ..... ۴۲
سوال جواب ..... ۴۲
د انس بن النضر ؓ د شهادت قیصه ..... ۴۳
نَحْب څه معنی؟ ..... ۴۳
سوال جواب ..... ۴۴
یادونه ..... ۴۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۴۴
د بني قریظه وو د غزا په هکله څه معلومات ..... ۴۶
سوال جواب ..... ۴۹
تبصره ..... ۴۹
د سعد بن معاذ ؓ فیصله ..... ۴۹
صَیَاصِي څه معنی؟ ..... ۵۱
یو لوی بشارت ..... ۵۱
د نبي کریم ﷺ د نهو بیبیانو نومونه ..... ۵۵
فَاحِشَة څه معنی؟ ..... ۵۵
سوال جواب ..... ۵۶
د قُنُوت معنی ..... ۵۹
سوال جواب ..... ۵۹
د اَحَد کلمه عامه ده ..... ۶۰
پوښتني او جوابونه ..... ۶۰
څو نکات ..... ۶۱
سوال جواب ..... ۶۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۶۲
اهل التشیع څه وايي؟ ..... ۶۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"تَبرُّج" څه معنی؟ ۶۵
د "الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى" تفسير ۶۵
دغه ارشاد عام دی ۶۶
اهل البيت څوک‌څوک دي؟ ۶۶
سوال جواب ۶۷
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۶۸
د يوې غلطۍ د کبله بله غلطي ۶۸
د نارينه خطاب د تغليب په توګه ۷۰
زنانه وو ته هم شامل دی ۷۰
د ذکر په هکله څو احاديث ۷۰
سوال جواب ۷۵
زيد بن حارثه ﷺ څوک وه؟ ۷۵
سوالونه او جوابونه ۷۷
غوره تفسير ۸۳
څو مهم ټکي ۸۳
د نبي کريم ﷺ اولادونه ۸۴
يادونه ۸۴
سوال جواب ۸۴
"خَاتَم" څه معنی؟ ۸۵
دوه پوښتنې او د هغو جوابونه ۸۵
د الله ﷻ ذکر محدوديت نه لري ۸۸
"صَلوة" څه معنی؟ ۸۹
"تَحِيَّة" څه معنی؟ ۹۰
د نبي کريم ﷺ شهادت ۹۰
يادونه ۹۱
سوال جواب ۹۱
يو نحوي تحليل ۹۱
يوه خاطره ۹۱
نبي کريم ﷺ پورې څه اختصاصي احکام ۹۶
لومړی اختصاصي حکم ۹۷
سوال جواب ۹۷
دوهم اختصاصي حکم ۹۸
سوال جواب ۹۸
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۹۸
دريم اختصاصي حکم ۹۸
څلورم اختصاصي حکم ۹۹
يو نحوي تحليل ۱۰۰
د أمهات المؤمنين د تعدد حکمتونه ۱۰۱
يادونه ۱۰۳
تبصره ۱۰۳
پنځم اختصاصي حکم ۱۰۵
دوه ډوله تفسير ۱۰۵
تبصره ۱۰۶
سوال جواب ۱۰۶
شپږم اختصاصي حکم ۱۰۷
ډېر اختصاصي احکام ۱۰۷
څو نکات ۱۱۱
د ايت شريف يو ارشاد ۱۱۲
سوال جواب ۱۱۳
"استيناس" څه معنی؟ ۱۱۳
"مَتَاع" څه معنی؟ ۱۱۳
د "حِجَاب" معنی ۱۱۴
عمر ﷺ دواړه ډوله حجاب خوښاوه ۱۱۴
حجاب په ټولو فرض دی ۱۱۵
د ايت د نزول نېټه ۱۱۵
سوال جواب ۱۱۵
يوه مسئله ۱۱۶
څو ټکي ۱۱۶
څو تفسيري نکات ۱۱۸
سوال جواب ۱۱۹
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۱۹
سوال جواب ۱۲۰
د تفسيري احاديثو مجموعه ۱۲۰
"إِيْذَاء" څه معنی؟ ۱۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




سوال جواب ۱۲۱
د "طيبات" د اغوستلو څرګندوالی ۱۲۴
بیا هم د مخ پټول ۱۲۵
سوال جواب ۱۲۶
د "ارجاف" او "اغراء" معناوي ۱۲۷
دلته د "الناس" مصداق ۱۳۰
هېر مو نه شي ۱۳۱
ګټوري مشران یعني څوک؟ ۱۳۱
یادونه ۱۳۱
نبي کریم ﷺ ته د اذیت رسونې مثالونه ۱۳۴
"سدید قول" څه معنی؟ ۱۳۵
د درې ډوله تفسیرونو څخه لومړی تفسیر ۱۳۷
سوال جواب ۱۳۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۳۸
دوهم تفسیر ۱۳۹
درېیم تفسیر ۱۴۰
"امانة" د احادیثو په رڼا کښې ۱۴۰

سبأ (۳٤)

سریزه ۱۴۳
په یاد ولرئ ۱۴۷
ستاینه د تلذذ دپاره ۱۴۷
یادونه ۱۴۷
درېګوني سوګندونه ۱۴۸
یو نحوي تحلیل ۱۴۸
دلته د "فَضْل" معنی ۱۵۵
یو نحوي تحلیل ۱۵۶
د زغرو نوی ساخت ۱۵۶
د ارشاد د تعمیل یو مثال ۱۵۷
کابل ته د سلیمان ؑ الوتنه ۱۵۷
"عَيْنَ الْقِطْرِ" څه معنی؟ ۱۵۸
سوال جواب ۱۵۸
دوه ډوله تفسیر ۱۵۹
د پیریانو صنعت ۱۵۹
یو نحوي تحلیل ۱۶۱
خارق العاده مرګ ۱۶۱
سوالونه او جوابونه ۱۶۳
د سلیمان ؑ ټول عمر ۱۶۴
سوال جواب ۱۶۹
بیا هم د "سبأ" کلمه ۱۶۹
یو اعرابي تحلیل ۱۷۰
سوال جواب ۱۷۱
"طَيِّبَةٌ" څه معنی؟ ۱۷۱
"سَيْلَ الْعَرِمِ" وپیژنئ ۱۷۲
یو صرفي تحلیل ۱۷۲
سوال جواب ۱۷۳
د څو لغاتو معناوي ۱۷۳
یو مهم مضمون ۱۷۴
سوال جواب ۱۷۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۷۴
د "أَحَادِيثَ" معنی ۱۷۵
ابلیس خپل ګومان رښتیا کړ ۱۷۵
بوتان د شفاعت کولو جوګه نه دي ۱۷۷
دوه ډوله تفسیر ۱۷۸
تبصره ۱۷۸
سوال جواب ۱۷۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۷۹
د احسنې مجادلې یو مثال ۱۸۲
سوال جواب ۱۸۳
یو اعرابي تحلیل ۱۸۳
د نبي کریم ﷺ رسالت عام دی ۱۸۳
دلته د "وقوف" معنی ۱۸۷
یو نحوي تحلیل ۱۸۷
څو نکات ۱۹۱


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یادونې ۱۹۲
سوال جواب ۱۹۲
"اختلاف" څه معنی؟ ۱۹۳
سوال جواب ۱۹۴
د دې ایت نظائر ۱۹۶
دلته شیطانان مطلب دي ۱۹۶
سوال جواب ۱۹۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۹۷
"منشار" څه معنی؟ ۲۰۰
دلته د "قیام" معنی ۲۰۳
یادونې ۱۰۳
"قذف" څه معنی؟ ۲۰۳
"إبداء" او "إعادة" څه‌څه معناوې لري؟ ۲۰۴
"فوت" څه معنی؟ ۲۰۶
سوال جواب ۲۰۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۲۰۷
بیا هم د "قذف" معنی ۲۰۸
څو نکات ۲۰۸
سوال جواب ۲۰۹


## فاطر (۳۵)


سریزه ۲۱۱
د پرښتو په موجودیت عقیده ۲۱۳
یو اعرابي تحلیل ۲۱۷
شیطان جلباز دی ۲۱۷
یو نحوي تحلیل ۲۱۸
ماثور تفسیر ۲۲۱
یو نحوي تقدیر ۲۲۲
څو نکات ۲۲۲
تبصره ۲۲۳
څو مهم ټکي ۲۲۴
سوال جواب ۲۲۴
څو ټکي ۲۲۸
"قِطْمِیر" څه معنی؟ ۲۲۸
د "اسْتِجَابَة" معنی ۲۲۹
دوه ډوله تفسیر ۲۳۱
څو نکات ۲۳۱
څو ټکي ۲۳۴
سوال جواب ۲۳۶
د "أَلْوَان" معنی ۲۳۷
څو نکات ۲۳۷
سوال جواب ۲۳۷
سوال جواب ۲۳۹
یو نحوي تحلیل ۲۳۹
علماء څوک‌څوک دي ۲۴۰
"بَوَار" څه معنی؟ ۲۴۳
څو نکات ۲۴۳
سوال جواب ۲۴۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۲۴۵
څو نکات ۲۴۹
د "دَارُ الْمُقَامَة" معنی ۲۴۹
د "نَصَبٌ" او "لُغُوبٌ" ترمنځ فرق ۲۵۰
د تذکر عمر څومره عمر دی؟ ۲۵۰
"نَذِیر" یعنې څوک؟ ۲۵۰
یادونه ۲۵۱
څو ټکي ۲۵۳
سوال جواب ۲۵۴
هېر مو نه شي ۲۵۸
سوال جواب ۲۵۹
یادونې ۲۵۹


## یس (۳۶)


سریزه ۲۶۲
یو نحوي تحلیل ۲۶۶


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یو تفسیري تحلیل ........ ۲۶۷
څو پوښتنې او د هغو ځوابونه ........ ۲۶۷
سوال ځواب ........ ۲۶۸
څو نکات ........ ۲۶۸
سوال ځواب ........ ۲۶۹
سوال ځواب ........ ۲۷۰
یو نحوي تحلیل ........ ۲۷۵
پوښتنې او ځوابونه ........ ۲۷۵
دغه ښاریان د ثبوت څخه انکاري وه ........ ۲۷۶
یو نحوي تحلیل ........ ۲۷۶
درې تنه تاریخي سړي ........ ۲۷۶
سوال ځواب ........ ۲۸۱
څو نکات ........ ۲۸۱
سوال ځواب ........ ۲۸۳
سوال ځواب ........ ۲۸۴
څو ټکي ........ ۲۸۴
سوال ځواب ........ ۲۸۹
"سلخ" څه معنی؟ ........ ۲۹۰
سوال ځواب ........ ۲۹۱
"مُستقَرّ" څه معنی؟ ........ ۲۹۱
تبصره ........ ۲۹۲
سوالونه او ځوابونه ........ ۲۹۲
څو نکات ........ ۲۹۳
"اِدراک" څه معنی؟ ........ ۲۹۴
یادونې ........ ۲۹۴
سوال ځواب ........ ۲۹۵
"صَریخ" څه معنی؟ ........ ۲۹۵
سوال ځواب ........ ۳۰۰
یوه پوښتنه او د هغې ځواب ........ ۳۰۰
تبصره ........ ۳۰۰
سوالونه او ځوابونه ........ ۳۰۱
"اختصام" څه معنی؟ ........ ۳۰۳
"اَجْداث" څه معنی؟ ........ ۳۰۴
یوه پوښتنه او د هغې ځواب ........ ۳۰۴
تبصره ........ ۳۰۵
یادونې ........ ۳۰۵
د "شُغُل" او "فَکِاهَة" معناوې ........ ۳۰۹
یو صرفي تحلیل ........ ۳۰۹
سوال ځواب ........ ۳۱۰
یو نحوي تحلیل ........ ۳۱۰
یادونې ........ ۳۱۱
څو نکات ........ ۳۱۱
د "طَمَس" معنی ........ ۳۱۶
"مَسَخ" څه معنی؟ ........ ۳۱۶
د "تَنکیس" معنی ........ ۳۱۷
د شعر په هکله څو ټکې ........ ۳۱۷
ژوند یعنې څه؟ ........ ۳۲۰
د څو لغاتو معناوې ........ ۳۲۱
بهتر تفسیر ........ ۳۲۵
سوال ځواب ........ ۳۲۵
ښکاره جګړمار څوک وه؟ ........ ۳۲۶
یوه پوښتنه او د هغې ځواب ........ ۳۲۶
اور او شنې لښتې ........ ۳۲۶
سوال ځواب ........ ۳۲۷
ماثور تفسیر ........ ۳۲۸


## الصافات (۳۷)


سریزه ........ ۳۳۱
څو ټکي ........ ۳۲۵
لږ څه معلومات ........ ۳۳۶
یادونه ........ ۳۳۸
"لَزِب" یا "لَزُوب" څه معنی؟ ........ ۲۴۰
سوال ځواب ........ ۳۴۲
تبصره ........ ۳۴۲


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




نحوي تحلیل ...... ۳۴۲
یادونه ...... ۳۴۳
د "أَزْوَاج" معنی ...... ۳۴۷
"اِسْتِسْلَام" څه معنی؟ ...... ۳۴۷
د "یَمِین" معنی ...... ۳۴۸
تبصره ...... ۳۴۸
سوال جواب ...... ۳۴۹
دوه ډوله تفسیر ...... ۳۵۱
د "سُرُور" معنی ...... ۳۵۲
جنتي شراب ...... ۳۵۲
د "کَأْس" معنی ...... ۳۵۲
یو صرفي تحلیل ...... ۳۵۳
د "بَیْضَاء" تفسیر ...... ۳۵۳
"غَوْل" څه معنی؟ ...... ۳۵۴
تبصره ...... ۳۵۴
د "نَزْف" معنی ...... ۳۵۴
جنتي ښځې یا حورې ...... ۳۵۴
د "بیض" او "مکنون" معناوې ...... ۳۵۵
سوال جواب ...... ۳۵۶
"دین" څه معنی؟ ...... ۳۵۹
یادونې ...... ۳۶۰
څو ټکي ...... ۳۶۲
"شَوْب" څه معنی؟ ...... ۳۶۴
سوال جواب ...... ۳۶۵
د "اِهْرَاع" معنی ...... ۳۶۵
د ایت نظائر ...... ۳۶۷
"أَهْل" څه معنی؟ ...... ۳۶۷
دا حقیقي قصر دی که اضافي؟ ...... ۳۶۷
یو نحوي تحلیل ...... ۳۶۹
د "شِیعَة" معنی ...... ۳۷۳
یوه مقدمه ...... ۳۷۴
اصلي مطلب ...... ۳۷۶
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ...... ۳۷۷
"رَوْغ" او "رَوَغَان" څه معنی؟ ...... ۳۷۸
سوال جواب ...... ۳۷۸
ایا دلته د "مَا" کلمه مصدریه ده؟ ...... ۳۷۹
ذبیح څوک وه؟ ...... ۳۸۳
اکثریت څه وایي؟ ...... ۳۸۴
اقلیت څه وایي؟ ...... ۳۸۶
تبصره ...... ۳۸۶
دوه پوښتنې او د هغو جوابونه ...... ۳۸۷
څو نکات ...... ۳۸۷
څو ټکي ...... ۳۸۸
سوال جواب ...... ۳۹۰
"اِسْتِبَانَة" څه معنی؟ ...... ۳۹۱
"بَعْل" څه معنی؟ ...... ۳۹۲
تبصره ...... ۳۹۳
یو نحوي تحلیل ...... ۳۹۴
هېر مو نه شي ...... ۳۹۴
یو اعرابي تحلیل ...... ۳۹۶
"اِبَاق" څه معنی؟ ...... ۳۹۹
د "اِدْحَاض" معنی ...... ۳۹۹
سوال جواب ...... ۴۰۰
یو صرفي تحلیل ...... ۴۰۰
څو نکات ...... ۴۰۱
"عَرَاء" څه معنی؟ ...... ۴۰۲
سوالونه او جوابونه ...... ۴۰۲
د پرښتو په هکله د مشرکانو جنایات ...... ۴۰۷
څو نظائر ...... ۴۰۸
متعدد تفسیرونه ...... ۴۰۸
څو تحلیلونه ...... ۴۰۹
سوال جواب ...... ۴۱۰
د ایت یو نظیر ...... ۴۱۳


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ..... ۴۱۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۴۱۵
"ساخة" څه معنی؟ ..... ۴۱۵
سوال جواب ..... ۴۱۶

## ص (۳۸)

سریزه ..... ۴۱۸
سوال جواب ..... ۴۲۳
د یوې کلمې تحلیل ..... ۴۲۴
"هذا" توحید ته اشاره ده ..... ۴۲۵
یو نحوي تحلیل ..... ۴۲۶
سوال جواب ..... ۴۲۷
"فُوَاق" څه معنی؟ ..... ۴۲۸
د "قِطّ" معنی ..... ۴۳۰
"أيد" څه معنی؟ ..... ۴۳۱
څو نکات ..... ۴۳۱
د إشراق د لمانځه درې لقبونه ..... ۴۳۲
سوال جواب ..... ۴۳۳
"فصل الخطاب" څه معنی؟ ..... ۴۳۴
د ترهیب او ترغیب معناوې ..... ۴۳۴
د څو لغاتو معناوې ..... ۴۳۹
سوال جواب ..... ۴۴۰
د "شَطَط" معنی ..... ۴۴۰
سوالونه او جوابونه ..... ۴۴۱
د ایتونو د تفسیر نور ډولونه ..... ۴۴۳
د تلاوت لسمه سجده ..... ۴۴۵
"بَاطِل" څه معنی؟ ..... ۴۴۶
څو نکات ..... ۴۵۰
سوال جواب ..... ۴۵۳
څو مطالب ..... ۴۵۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۴۵۶
سوال جواب ..... ۴۵۸
څو مطالب ..... ۴۵۹
تبصره ..... ۴۶۱
د "أَيْدِي" او "أَبْصَار" معناوې ..... ۴۶۲
یو نحوي تحلیل ..... ۴۶۳
یادونه ..... ۴۶۳
د جنت دروازې ..... ۴۶۷
"أتراب" څه معنی؟ ..... ۴۶۸
نحوي تحلیلونه ..... ۴۶۸
اشرار یعني څوک؟ ..... ۴۷۰
سوال جواب ..... ۴۷۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۴۷۲
تبصره ..... ۴۷۲
سوال جواب ..... ۴۷۶
د "بَشَر" د کلمې توضیح ..... ۴۷۷
پوښتنې او جوابونه ..... ۴۷۷
یو نحوي تحلیل ..... ۴۷۷
"تَكَلُّف" څه معنی؟ ..... ۴۷۸
سوال جواب ..... ۴۷۹

## الزمر (۳۹)

سریزه ..... ۴۸۱
سوال جواب ..... ۴۸۴
یو نحوي تحلیل ..... ۴۸۴
"تَكْوِير" څه معنی؟ ..... ۴۸۸
سوال جواب ..... ۴۸۸
یادونې ..... ۴۸۹
د اهل السنت والجماعت عقیده ..... ۴۸۹
انسان مضطرب الحال دی ..... ۴۹۱
یو نحوي تحلیل ..... ۴۹۱
څوک قانت جوړېدلی شي؟ ..... ۴۹۲
"ظُلَل" څه معنی؟ ..... ۴۹۶
متعدد تفسیرونه ..... ۴۹۷
تبصره ..... ۴۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يو نحوي تحليل ........ ۵۰۰
سوال جواب ........ ۵۰۱
څو نکات ........ ۵۰۱
د څو لغاتو معناوي ........ ۵۰۱
يو نحوي تحليل ........ ۵۰۲
څو نکات ........ ۵۰۵
يو نحوي تحليل ........ ۵۰۵
سوال جواب ........ ۵۰۵
يو إعرابي تحليل ........ ۵۰۹
سوالونه او جوابونه ........ ۵۱۰
څو نکات ........ ۵۱۰
متعدد تفسيرونه ........ ۵۱۳
سوالونه او جوابونه ........ ۵۱۳
سوال جواب ........ ۵۱۸
"مَكَانَة" څه معنی؟ ........ ۵۱۸
څو ټکي ........ ۵۲۰
يو نحوي تحليل ........ ۵۲۱
"اشْمَأَزَّ" څه معنی؟ ........ ۵۲۴
سوال جواب ........ ۵۲۶
دوه ډوله تفسير ........ ۵۲۷
سوال جواب ........ ۵۲۷
مسرفان بندګان يعني څوک؟ ........ ۵۳۰
تبصره ........ ۵۳۱
څو نکات ........ ۵۳۴
ماثور تفسير ........ ۵۳۶
"مَقَالِيد" څه معنی؟ ........ ۵۳۶
يو نحوي تحليل ........ ۵۳۹
هېر مو نه شي ........ ۵۳۹
څو نکات ........ ۵۴۰
د نفخاتو شمېر ........ ۵۴۳
څو نکات ........ ۵۴۸
د "زُمَرَة" معنی ........ ۵۵۱
د دې زمانې فرعون څوک دی؟ ........ ۵۵۱
شرط او جزا ........ ۵۵۲
دا اعتراف دی اعتزار نه دی ........ ۵۵۲
سوال جواب ........ ۵۵۳
د جنتيانو ډلې ........ ۵۵۳
څو نکات ........ ۵۵۴

## المؤمن (۴۰)

سريزه ........ ۵۵۸
په جهاد کښې د شپې نوم ........ ۵۶۱
د "تَوب" او "طَوْل" معناوي ........ ۵۶۱
"أخذ" څه معنی؟ ........ ۵۶۲
د "إدحاض" معنی ........ ۵۶۲
څو وضاحتونه ........ ۵۶۴
څو نکات ........ ۵۶۵
څو نکات ........ ۵۶۹
سوال جواب ........ ۵۷۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۵۷۱
د "رزق" معنی ........ ۵۷۵
دوه تحليلونه ........ ۵۷۵
تبصره ........ ۵۷۶
د دين تجديد ........ ۵۷۷
د قيامت د ورځې دوه لقبونه ........ ۵۷۷
دوه ډوله تفسير ........ ۵۷۸
تبصره ........ ۵۷۹
"خَنَاجِر" څه معنی؟ ........ ۵۷۹
هېر مو نه شي ........ ۵۷۹
"خائنة" څه صيغه ده؟ ........ ۵۷۹

Scanned by CamScanner